

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما ژوند
او
جد وجهد

عبدالغفار

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتساب

قاعدہ دادہ چہ څک کتاب ولیکی نو دچاپہ نامہ پې منسوب کوي، د مخفي صاحب دا نظم زما د ژوند فکر، عمل او جدوجهد د پښتونی ملګری دی نو ځکه زه غواړم چه زه داخپل کتاب، زما ژوند او جدوجهد، تاسو ته ددې نظم د یادګیرنې سره وړاندې کړم.

(۱)

خاونده ته و دانه کړې — زمونږ د یو والی حجره
یو ځای پکښې ځانه کړې — د پښتو د له خوره
یو زړه یو سا یو مانی کړې — دې ټبل او ټبل پښتون لره

(۲)

کشمیر نه تر هرات هوړې — بلوچستان نه تر دوړې
د اتول پښتون د یم چیړې — څه رنګې پروت زړې زړې
دیو وجود په مانی کړې — یا خدایه دا زړه زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳)

لویو تپو دپښتنو — په غږه په سم پوتو [illegible]
نمسو دلویو پلرګنو — راځی چه یو شو لپو [illegible]
یالویه خدایه ودانه کړې — سپیره ببلتون لره [illegible]

(۴)

پښتو زمونږه چرته یې — ولې له مونږه بېرته یې
زمونږه زړه ځیګر ته یې — زمونږ دقام وزړ ته یې
په مونږه لار آسانه کړې — چه مونږه یو شو کل سره [illegible]

(۵)

دپښتنو اول نیکه — خواره نمسی دي یو کړه [illegible]
داشانی تیت دي دوي پښه — خبر له یوله بل ته [illegible]
یالویه خدایه ودانه کړې — سپیره ببلون لره [illegible]

(۶)

زمونږ له ملک نه دښمنان — یاخدایه لرکړې دا [illegible]
په مونږه کړې زمونږه خان — زمونږ دقام زمونږ دځا [illegible]
رښا زمونږ له ځانه کړې — دپښتنو تور ه تیا [illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست

عنوان	مخونه
مشروع کوم په نامه دخدای چه ببنو نکی او مهربان دی :	۱ - ۴
کورنۍ	۴ - ۵
تاریخی پس منظر	۵ - ۱۲
د پښتنو خوږونه او دودونه	۱۲ - ۱۳
د پیرنکی اثرات	۱۳ - ۱۶
زمانیانه بین توب	۱۶ - ۲۰
سکول ته تک اوهغه وخت :	۲۱
ابتدائی تعلیم - د پښتو سکول	۲۲ - ۲۵
دکلی ماحول	۲۵ - ۲۹
مشن سکول	۲۹ - ۳۰
زما استاذ	۳۰ - ۳۱
کلیوالی لوبې	۳۱ - ۳۴
اخترونه اومیلې	۳۴ - ۳۶
دامامانو میاشت	۳۶ - ۳۸
کلی کلونکی	۳۸ - ۴۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان	صفحہ نمبر
سخات خیرات	۴۵ - ۱۴۰
یوہ لطیفہ	۴۸ - ۱۴۳
وادہ منادی	۵۲ - ۱۴۸
دیوبی مغلی قصہ	۱۵۲
فوج کښی کمیشن	۵۸ - ۱۵۲
بیا تعلیم پسی	۶۲ - ۱۵۸
نوی میدان، تازہ افکار:	۱۶۳
دعالمانو سرہ تعلق	۶۵ - ۱۶۴
مدرسې جوړول	۷۰ - ۱۶۸
دیوبند سرہ تعلق	۷۳ - ۱۷۰
شیخ الہند صاحب او سندھی صاحب	۷۴ - ۱۷۳
قوم پرستی	۷۸ - ۱۷۶
وروسبی وادہ	۸۴ - ۱۸۱
آګرہ کښی د مسلم لیګ جلسہ	۸۸ - ۱۸۴
کلی وطن کښی تعلیم او تبلیغ	۹۲ - ۱۸۸
د شیخ الہند صاحب سرہ:	۹۳
د شیخ الہند صاحب خط	۹۴ - ۱۹۵
آزادہ علاقہ کښی د مرکز تلاش	۹۷ - ۱۹۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان	مخونه
چمرکنډ	۱۰۱ - ۱۰۴
سالارزی، مامرند	۱۰۴ - ۱۰۷
اولنی جنګ عظیم	۱۰۷ - ۱۰۹
د حاجی صاحب هجرت	۱۰۹ - ۱۱۰
زما بونیرته تګ	۱۱۰ - ۱۱۳
بونیرکښی د پیرګی نوسازش	۱۱۳ - ۱۱۴
مدرسې بند شوې	۱۱۴ - ۱۱۹
مومندوته د حاجی صاحب هجرت	۱۱۹ - ۱۲۲۰
د سوات د باچاهی کشاله	۱۲۲ - ۱۲۶
د پیرنګیانو مظالم	۱۲۶ - ۱۳۰
د ولټ ایکټ او مونز :	۱۳۱
د یورپ جنګ	۱۳۲ - ۱۳۳
وبا - د رومبی ټد مرګ	۱۳۳ - ۱۳۵
د ولټ ایکټ	۱۳۵ - ۱۳۷
زمونږ جلسې	۱۳۷ - ۱۴۳
زما کرفتاری	۱۴۳ - ۱۴۹
زما د بابا او نورو کیالو کرفتاری	۱۵۰ - ۱۵۴
د جیلخانی حالت	۱۵۴ - ۱۶۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان	مخونه
د قید نه خلاصیدل	۱۶۱-۱۶۴
د دوهم واده تیاری او بیا گرفتاری	۱۶۵-۱۶۷
رهایی او دوهم واده	۱۶۸-۱۶۹
خلافت، تحریک او هجرت:	۱۷۱
د هلی کښی د خلافت کمیټی جلسه	۱۷۰-۱۷۱
هجرت	۱۷۱-۱۷۳
مونږ کابل کښی	۱۷۴-۱۷۷
باجوړته واپسی	۱۷۷-۱۷۸
دیر کښی د خالونو مدرسه	۱۷۸۱-۱۸۰
ذهنی انقلاب:	۱۸۱
تعلیمی او اصلاحی جدوجهد	۱۸۲-۱۸۳
د اتمانزو آزاد سکول	۱۸۳-۱۸۶
د خلافت کمیټی صدارت	۱۸۶-۱۸۸
جیل او د جیلخانې قصه:	۱۸۹
دفعهٔ ۱۴۴ کښی گرفتاری	۱۹۰-۱۹۳
د چمرکنډ مجاهدین	۱۹۳-۱۹۵
د پیرۂ اسماعیل خان جیل ته بدلی	۱۹۶
د جیلخانی قصه	۱۹۶-۲۰۰
د جیل بد معاشی	۲۰۲-۲۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان	مخونه
زما مشقت	۲۰۵ - ۲۰۶
جیل کښی پرې جنبی	۲۰۶ - ۲۱۳
جیل کښی زما کناه	۲۱۳ - ۲۱۶
دپیرۇ غازی خان جیل	۲۱۶ - ۲۲۳
دجیل ژوند	۲۲۳ - ۲۲۸
دپښتو په هکله غلطه پراپیکنده	۲۲۸ - ۲۳۲
زما دغابنو نومرض	۲۳۲ - ۲۵۷
مذهبی تعصب	۲۵۷ - ۲۶۵
لاهور جیل ته دوباره تک	۲۶۵ - ۲۶۹
مطالعه	۲۶۹ - ۲۷۵
دلاهور جیل نه بیا دپیرۇ غازی خان ته	۲۷۵ - ۲۷۸
دمورنوک	۲۷۸ - ۲۷۹
دسیاسی قیدیانو جنگونه	۲۸۰ - ۲۸۹
میانوالی جیل ته	۲۸۹ - ۳۰۰
رهایی	۳۰۰ - ۳۰۴
سیاسی سمرکرمی اوپښتون اخبار:	۳۰۵
کلی کوردکښی	۳۰۶ - ۳۰۸
دفخرافغان لقب	۳۰۸ - ۳۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان	مخزونه
انجمن او مدرسی	۱۳۱۴ - ۳۲۰
دحج سفر	۱۳۳۲ - ۳۳۳
پښتون (اخبار - مجله)	۱۳۳۳ - ۳۳۹
امان الله خان	۱۳۳۹ - ۳۴۷
نادرخان	۱۳۴۷ - ۳۵۲
منظم سیاسی جدوجهد .... :	۳۵۳
لاهور کښې د کانګرس جلسه	۳۵۴
خدایي خدمتګاری	۳۵۴ - ۳۵۹
دوری	۳۵۹ - ۳۶۶
مرغز کښې جلسه او یوه قامی پریکړه	۳۶۶ - ۳۶۸
اتمانزو کښې لویه جلسه او مشاعره	۳۶۸ - ۳۷۰
ګجرات جېل او کانګرس سره تړون :	۳۷۱ -
ګرفتاری سنه ۱۹۳۰ع	۳۷۲ - ۳۷۴
ګجرات جېل	۳۷۴ - ۳۷۶
د قصه خانې واقعه	۳۷۶
ګجرات جېل کښې	۳۷۶ -
د پیرنګی جبر او د پښتنو عزم	۳۸۰ -
کانګرس او مونږ	۳۸۶ -

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان	مخونه
پتیل کمیتی رپورټ	۳۸۹-۳۹۰
دکجرات جیل ملګری	۳۹۰-۴۰۷
رهائی	۴۰۷-۴۰۸
لاهور کښی زما استقبال	۴۰۸-۴۱۴
کاندهی اروِن پیکټ	۴۱۵
دوهمه	۴۱۶-۴۱۸
دکانګرس جلسه کراچی کښی	۴۱۸-۴۱۹
دخدائی خدمتګارو (سرخپوشو) بنه اثر	۴۱۹-۴۲۰
کراچی کښی مصروفیت	۴۲۰-۴۲۵
دهندوستان دوره	۴۲۵-۴۳۰
وطن ته واپسی	۴۳۰-۴۳۵
دپنجاب دپښتنی علاقو دوره	۴۳۶-۴۳۹
زمونږ کار او دپیرنګی سازشونه	۴۳۹-۴۴۱
دکانګرس کمیتئ په ځای دسرحد جرګه	۴۴۱-۴۴۲
دکاندهی جی په بلنه باردولی ته تګ	۴۴۳-۴۴۵
دیویداس سره دوره	۴۴۵-۴۵۱
بابره کښی درامه او زمونږ کمزورۍ ملګری	۴۵۱-۴۵۸
دپیرنګانو دجبر وتشدد زیاتوالی	۴۵۸-۴۶۴
ددیویداس کاندهی دسرحد دوره	۴۶۴-۴۷۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان	مخنونه
دراوند ټیبل کانفرانس ورځو کښې :	۲۴۷۱
په بمبئ کښې د	۲۴۷۲-۲۴۷۳
دجرګې مشرانو کښې اختلاف	۲۴۷۳-۲۴۷۵
شملې ته زمانګ	۲۴۷۵-۲۴۸۷
شمله کښې زمونږ مصروفیت	۲۴۸۷-۲۴۸۱
دفارن سکرټر او هوم سکرټر سره لیدل	۲۴۸۱-۲۴۸۶
	۲۴۸۶-۲۴۸۷
خپله صوبه کښې کار :	
دهرۀ اسماعیل خان ته تګ	۲۴۸۷-۲۴۹۰
اتمانزو ته واپسی د احمد شاه معامله	۲۴۹۰-۲۴۹۳
دډیرو دوره	۲۴۹۳-۲۴۹۹
دسرحد لویه جرګه	۲۴۹۹-۵۰۰۱
دهزاري دوره	۵۰۰۱-۵۰۲۲
دهزاري نه واپسی	۵۰۲۲-۵۰۲۶
دترنګزو حاجی صاحب او خدایی خدمتګاری	۵۰۲۶-۵۰۲۷
دخلیلو مومندو دوره	۵۰۲۷-۵۰۲۹
مانږګانو باندې، اورمړ، خالصه	۵۰۲۹-۵۰۳۲
لاټ سره لیدل	۵۰۳۲-۵۰۳۵
دنوښار په تحصیل کښې جلسې	۵۰۳۵-

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان	مخونه
صوابی تحصیل کنبی جلسی	۵۴۵-۵۳۷
دلوی جرګی اجلاس	۵۴۸ -۵۴۵
زره هزاری باغ جیل کنبی باهر عامه ګرفتاری :	۵۴۹
په دې کنبی ..... زمونږ ګرفتاری	۵۵۲ -۵۵۰
عامه ګرفتاری اوتشدد	۵۵۴-۵۵۲
هزاری باغ جیل کنبی	۵۵۹ -۵۵۴
بهادره ښځه	۵۶۲ -۵۵۹
زما په صوبه سرحد اوپنجاب بندیز :	۵۶۵
په سرحد زما بندیز۔ آل انډیا کانګرس	۵۷۰ -۵۶۶
سابرمتی جیل	۵۷۳ -۵۷۰
بریلی جیل	۵۷۷-۵۷۳
دالموډي جیل	۵۷۸ -۵۷۷
رهایی	۵۷۹-۵۷۸
واردی ته تګ	۵۸۰-۵۷۹
دخپل اولاد سره ملاقات	۵۸۱-۵۸۰
انتخابات اوکانګرس ورکنګ کمیټی	۵۸۲ -۵۸۱
زره بمبی کنبی	۵۸۴-۵۸۲
دفیض پور کانګرس	۵۸۶ -۵۸۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان	مخفونه
دپښتنو په هکله غلط فهمی	۵۸۸-۵۵/۸۶
وزارتونه	۵۹۰-۵۱/۸۹
مونږ واردا او سیوا کرام کښی	۵۹۳-۵۵۹۰
دکانګرس وزارتونه	۵۹۷-۵۵۹۳
بنارس، دېلی، ګجرات، کاتیاواړ	۵۹۹-۵۱۹۷
دهندوستان دمسلمانانو دپاره فکر	۶۰۳-۵۱۹۹
دبلوچستان دوره	۶۱۰-۶۱۰۳
دخدایی خدمتګارو په وړمبی وزارت:	۶۱۱۱۱
زه اوه کاله	۶۱۵-۶۱۱۲
دخدایی خدمتګارو وزارت	۶۱۹-۶۱۶۱
زمونږ وزیران او پیرنګیان	۶۲۰-۶۱۹۱
دجواهرلال دوره	۱۲۵-۶۲۰
دګاندهی جی دوره	۱۳۰-۶۲۵
وزارتونه او خدایی خدمتګار	۴۲-۶۳۰
وزارتونه مات شول	۴۴-۶۴۲
دخدایی خدمتګارو غرزی پرزی	۶۴۵
اخوږد ۱۹۴۲ کال	۷-۶۴۶
قبایلوته دخدایی خدمتګارو وفدونه	-۶۵۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

ک

عنوان	مخزنه
دهندوستان پریس دئ تحریک	۶۶۶ - ۶۶۷
چپاوونه	۶۶۷ - ۶۸۴
دبمبئ تک	۶۸۴ - ۶۸۷
زلمی پښتون	۶۸۷ - ۶۸۸
الیکشن، کیبنټ مشن، عبوری حکومت:	۶۸۹
الیکشن	۶۹۰ - ۶۹۵
دآئین ساز اسمبلی ممبران	۶۹۵ - ۶۹۶
کرپس مشن	۶۹۶ - ۶۹۸
شمله کنفرانس	۶۹۸ - ۷۰۰
کیبنټ مشن	۷۰۰ - ۷۰۳
دکانګرس صدارت	۷۰۳ - ۷۰۴
دجواهرلال بیان	۷۰۴ - ۷۰۵
دجواهرلال په بیان عکس العمل	۷۰۵ - ۷۰۶
انټرم حکومت	۷۰۶ - ۷۰۹
قبایلی علاقی او جواهرلال	۷۰۹ - ۷۱۱
تورخم	۷۱۱ -
دملکنډ ایجنسی	۷۱۱ - ۷۱۵
سروریاب	۷۱۵ - ۷۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

عنوان	مخوته
بجٹ پیش کول	۷۱۹- ۷۲۰
دمونٹ بیتن مشن	۷۲۰- ۷۲۳
ډایرکٹ اکشن اومساوات	۷۲۳- ۷۲۵
زه بهار کښې	۷۲۵- ۷۳۲
دتقسیم اعلان	۷۳۲
دورکنګ کمیټی اجلاس	۷۳۲- ۷۳۶
دکانګرس اومونټ بیتن سازش	۷۳۶- ۷۳۷
دکانګرس بې وفایی	۷۳۷- ۷۴۰
لوستونکو وروڼو	۷۴۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

شروع کوم په نامه د خدای چه ډیر مهربان دی

زه د هشنغر په اتمانزو نومی کلی کښی په کال ۱۸۹۰ع کښی پیدا شوی یم . هغه وخت د پیدایش د نېټې دلیکلو رواج نه و اونه څوک په لیک اولوست پوهیدل . نو زما د پیدا کېدو نېټه چا لیکلې نه وه خو دا چه زه وایم چه په کال ۱۸۹۰ع کښی پیدا شوی یم د دې نه وایم چه خدای دې زما مور و ښځینی مانه ویل چه « ستاد ورور ډاکټر خانصاحب وا ده چه ؤ ته د یوولسو کالو وې » او د ډاکټر صاحب وا ده په دسمبر ۱۹۰۱ع کښی شوی و نو ځکه زه وایم چه زه په ۱۸۹۰ع کښی پیدا شوی یم . زه د مور او پلار د کشر زوی وم د تولونه مشره زمونږ خور وه ، ورپسې ډاکټر خانصاحب ؤ بیا می بله خور وه ، بیا زه وم . د کشر اولاد سره قدرتی د مور او پلار مینه زیاته وي او ورته د پر خوږ او نیاز بین وي . زه مور او پلار ته د پر ګران وم د خدای قدرت راسی وچه د تولونه مخکی زما مشره خور مړه شوه بیا ډاکټر خانصاحب شهید شو ، بیا می بله خور مړه شوه . زه د تولونه وروستو وم او روستو پاتې شوم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اتمانزو کلی دپښتونو نه شل میله لیرې شمال ختیزته دهشنغر
مینځ کښې دسوات اوباجور دسیند په غاړه نور خانته ټپروت دی .
زما تعلق محمدزی قبیلی سره دی او هشنغر چې دا باز ونه را او اخلی
نوښار ه پورې دی ، په دې کښې محمدزي آباد دي . دا د پښکالی سره سې
او آباد ملک دی او دا د پښتنو د دور ولی نه تقسیم کښې نور و رونو
له پخپله خوښه راکړی ؤ . زما نیا یوسف زی وه ، د صوابی نه د مرغز کلي
او نیکه مې محمدزی وچې د هشنغر د اتمانزو کلی و . نیکه می لوی خان و
قدرتی خبره ده چې د محمد زو او یوسف زو شریک اولاد د دې لایق
قابل وي . جنکې یې د هلکانو نه زیاتی ذهینې وي . زما د ډېرې نمس
ډاکټرانې دي ، نورې نمسې می څوک ایم . اې ، څوک بی . اې دي ا
لور می ده هغه بی . اې . بی . تی . ده . یو کشر زوی می عبدالعا
(زه ورته لالی وایم) د اکسفورډ ایم . اې ، دی . دوه مې نور زامن
مشر عبدالغنی دی چې هغه می دترو ، کمستری د تعلیم د پاره امریکې
لېږلی و خو چې زه فیرنګیانو ته ۱۹۳۱ع کال کښې جیل ته ولېږلم او زما جا
هم کډوډ کړو نو هغه د پیسو د نشت په وجه تعلیم سرته ونه رسولو او
راغی . بل عبدالولی دی چې سینیر کیمبرج یې پاس کړو . دی د ډې
لایق او قابل دی ، دی یوروپ له تعلیم له لاړ نه شو ولې چې زه جیل
لاړم نو دی هم د تعلیم نه پاتی شو . عجیبه خبره دا ده چې زه هم شا
(STATE PRISONER) وم ، ډاکټر خانصاحب او قاضی صاح

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغوی بچولرلی د تعلیم د پاره وظیفه او دکور د پاره خرچ ورکولو او دا د شاهی قیدی (STATE PRISONER) سره رعایت نه دی دهغه قانونی حق دی خو زما اتراضونه نه ورکولو. زما یوزوی یوسف زی کړی دی، بل مومند کړی دی او دریم پارسی (پارسنه) کړی دی. زما لور په کشمیری وادی. زما څلور نمسی، په یوسفزو کښی وادی دی. دوه په ختکو کښی او یوه په پنجاب کښی په پنجابی وادی. مونږ خپل اولاد په دولت پسی نه ورکوو، په شرافت، قابلیت، او لیاقت پسی لی ورکوو. مونږ خپل اولاد لغیر دهغوی دخوښی چاله نه ورکوو

اتول هشنغر بنکلی او ښیرازه سیمه ده د خړو او اتمانزو نه د سینډ په بله غاړه چه د زور بنار نښې نښانې راخرګندې شوې دی د غه د زړو سره د سینډ نه پورې غاړه د شیخانو ډیره سره د کندهار اتهذیب. او دورنه څخه کښی آثار دی دغه بنار ته لی پشکلاوتی وی. دانوم د برسنډ و دکمر او کلونو پورې تړلی دی. لوی تجارتی او ثقافتی مرکز و. دا موجوده سینډ چه اوس دهغه او شیخانو ډیری ترمینځه بهیږی دا په هغه زمانه کښې د ډیری نه قبلی غاړې نه بهیدلو او دا اتول زور بنار تر دی زړو پورې غزیدلی او.

د دې ځای اوسیدونکی پښتانه و وخو بودیست وو. بودایی مذهب د دې ځایه د سوات او کلکت په لاره تبت او چین ته تللی او خورشوی دی او د بده مت خو ډیره مذهبی غونډه هم په دې ځای کښی شوې وه.

د بنکاره شوو آثارو دفن او صنعت نه معلومیږی چه په دې علاقه کښی

(c) ketabton.com: The Digital Library

صنعت، تجارت، زراعت او علم دېره ترقی کړې وه . داسې ویلای شي چې کنده
سیاسی مرکز نه بلکې د ایشیا د زیاتو برخو تجارتی، صنعتی او علمی مرکز و
د اتک او مارکلی په لاره یې هندوستان سره، د سوات او کلکت
په لاره یې د کشمیر او تبت او چین سره، د دیر او چترال او بدخشا
په لاره د مرکزی ایشیا او له هغه ځایه یورپ سره، د کابل، کندهار او سیس
په لاره یې د ایران، عراق، ترکیې او شام سره تعلق لرلو. د تجارتی مالونو
منډۍ وه، د علوم و زانګو وه .

زما مور د ډېره زړه سواندۍ، پوهه، نیک سیرته او خوش خلقه ښځه
زمونږ د زمینداری له لوی کور څخه، زمونږ د ډېری غوا، میښې وې، هره ورځ
به د خوا او شاغږیانان خلک په شوملو مستو لپسې مونږ کړه راټولل او مو
به مې په رون تندی دهغوی سره ستړی مه شی کول شوملې او ماسته به
د رکول او هر مانبام به یې د دوی د پاره بیله کتوی ډکوله .

کورنۍ :

زما د پلار بهرام خان نوم و، د کلی خان و او په مشر خان مشهور
د نورو خانانو په شان نه و په کلی کښې د ده هومره جایداد د چا نه وخو
نه ښکاریده لکه خان، پوه او زیرک پښتون و، په چا یې زیاتی نه کولو
مظلومان د بل چا زور زیاتی ته پرېښودل . که د ده سره به چا زیاتی وکړه
به یې په صبر برداشت کولو او د بدل جذبه یې په زړه کښې ته ساتله . د
ترور انو و د سره د ډېر زیاتی کړی و د ده وس کیده چې بدل ورنه واخلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خاسی بهرلی وبخښل بلکه احسان اوښیګړه بهرلی وربسره کوله . مونږ ګذار،
پرهیزګار اوسوله دوست سړی و ، د صبر اوزغم خاوند و . کله چې به حجري
له نابلده مسافر راغلل چې هیڅوک بهرلی نه پاڅیدل پلار بهمی ورله پخپله دودۍ
وړ ورله ، نوکران به ووخوده به پخپله د دودۍ شکور را خستی و اودانګولي
لونبی بهرلی په لاس کښی را خستی و اوویل بهرلی دا دخدای میلمانه دي
په کار دی چې نه بی پخپله خدمت وکړم اکثر به داسی وشوچې میلمانه
به ژمی کښی شپې له راغلل نوچې سحر به ورله نوکر چای ورنه نوخبر بهرلی
را وړو چې میلمانه نشسته - تللي دي او برستن یی هم دخان سره وړی ده د
نورو خانانو په شان حاکم پرست نه و ، د حاکمانو سره یی تعلق نه ساته
اونه یی د دوی خدمتونه کول . زما د نیکه هم دغه حال و . زما د نیکه
سیف الله خان نوم و ، کله چې فرنګیانو د بونیر دنیولو په غرض په بونیر حمله
وکړه اود سورکاړی غزاوه نورخانان د فرنګی ملګري وو اوسیف الله خان
بابا د قام مرستی له درغی د فرنګی زما غور نیکه عبید الله خان بابا
آزاد خیال پیاوړی او منلی مشر وچې دهغه وخت د درانو حاکم سلطان محمد خان طلائی د لاسه
پهانسی شو . د درانو حکومت د عیاشی په چپل قام د زور زیاتی ، د کورنی اختلافونو اوجنګونو
په وجه ختم شو اود دی نه وروسته د سکهانو حکومت راغی . د درانو چې واورېدل سکهان
راروان دي شپه په شپه کابل ته وتښتیدل اوپښتانه یی سکهانو ته پریښودل .

تاریخی پس منظر :

یاهغه وخت وُچه کله بابر د پښتنو د بی وقوفی اوخودغرضی اود ایرانیانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دامداد اولمسون په وجه دابراهیم لودی نه دهند بادشاهی تخت او
تاج واخستو، شیرشاه سوری راپاخیدو او دبابر دزوی همایون نه
دپښتنو حکومت بېرته واخستو. دیلی ونیو همایون وتښتید و او
دایران د بارته یی پناه یوړه او هلته ایرانیانو دپښتنو دکمزوری کیدو
موقع له ساتلی و.

شیرشاه دپښتنو جنډه په کلکته ودرولله اوشیرشاه چه دملک
دابادی له پاره دصنعت، تجارت او زراعت کومی منصوبی جوړی کړی
په هغی دمغلو داکبر پاچانوم وشو. دا داکبر دماغ نه و دشیرشاه دماغ
یا هغه وخت وچه کله په پښتنو دایرانیانو حکومت وپښتانه ببه یی سپک
اوسپک ببه یی کنټل. په کندهارکښی میرویس خان نیکه راپورته شو پښتانه
دایران دغلامی نه آزادکړل او دپښتنو بیرغ یی په اصفهان ودرولو.
هغه وخت وچه پښتانه نادرافشار دیزم ریزکړی و. چه نادرافشار مړ
شو نو دپښتنو لویه جرګه په کندهارکښی راغونډه شوه او دې غونډه وروسته
یی احمدشاه بابا په مشرۍ دعاء خیروکړه.

احمدشاه بابا راپورته شو ایرانیانو ته یی شکست ورکړو او دپښتنو
بنیادیی کښېښود. یوازی پښتونخوا نه بلکه تول هندوستان یی دهغه
دمغلی حکومت دظلمونو نه خلاص کړو. دې وخت کښی انګلریزان هند
له نوي راغلي ووچه احمدشاه بابا دیلی واخست نو دانګریزانو دتګ و دې
خبرشو او اراده یی وکړه چه انګریزان هم دهندوستان نه وباسي. انګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه په دې پوه شول دایران د بارته یې سفیر ولیږلو او ایرانیان یې راپورته
کړل چه په افغانستان حمله وکړی . احمد شاه بابا چه ددی سازش نه خبر
شو دانکلریزانو دخنیوي کار یې پرلپښود او په مخه افغانستان ته راروان شو
چه جیلم ته راورسید دجیلم دسیند په غاړه ودریدو او دپښتنو تول خپلوني
او قبیلې چه وبیړه یې هغوئ ته یې ووېل چه له دې ځایه تر امودیا به پورې ستاسو
ملک پښتنخواه دی او یا دغه وخت وچه د درانو دعیاشۍ ، بې تدبیرۍ په
خلکو دنه ورزیاتی ، کورنی اختلافونو او جنګونو په سبب پښتانه دومره پریوتل
چه خپل کلی کښی دسکهانو دمقابلې نه وو . هغه دپلار نیکه کتهې خو پریږده خپله
خاوره ترې سکهانو لاندې کړه او په دوی کښی دومره خوک نه وچه خپلې خاورې
اوناموس یې ننګ او غیرت کړی وی . دسکهانو دزور او ظلم په مقابله کښی
یې سر اوچت کړی وی او دپښتنو عزت او عظمت یې ددی ظلم نه بچ کړی
وی دسکهانو دبې رحمانه حکومت و زمانه دمورداړخه نیکه محمد دین خان
به مونږ ته داخبره کوله چه یوه ورځ زه دشولکړې نه راتلم او په سیند راپورې
وتم چه په دې کښی یوسکه راغی ماته یې اشارت وکړو چه راوګرځه اوما په شا
پورې باسه . محمد دین نیکه ورته ووې چه زه ناباری یم خو سکه مجبورکړی
دی اوچه سکهان په شا راسورکړی دی او دا او بو مینځ ته رسیدلی نو توپونه
کړي دي او سکه یې د او بو په مینځ کښی غورځولی دی او دی ترې تلی دی .

دهند وسنان دهغه سره نه سید احمد بریلوی او اسمعیل شهید
په دوی یعنی په پښتنو باندی ننګ او غیرت کوی او دسکهانو دمقابلی دپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپښتنو خاوري ته راځي . دهغه وخت د حکومت افغانستا ان له طر
د ده سره مرسته ونه شوه بلکه یار محمد خان له خوا ورسره جګړه وشو
لکه څنګه چه دپښتو دد ې زړې چاربیتې نه څرګندیږي :

روان شو یار محمد سید او باسۍ پنجتاره
سید له بڼۍ ورکړی الهی پرورد ګاره

د دې علاقو دپښتنو همدرد ی د سید صاحب سره وه . د ده غوښ
چه ملک کښې شریعت نافذ کړي او د شرعی قانون سره سم د خور ا او لور و لو
کړی او په میراث کښې ښځو له هم شرعی برخه ورکړی او خپلې غلط رسم
رواج اصلاح کړی . په خانانو او ملایانو د دی خبرو بد اثر وشو شور
یې جوړ کړو چه یوسکه لاړو او بل سکه راغی . دپښتنو او مسلمانانو
هم د ردانو یې د وهابی فتوا وګڼله . په پښتنو کښې قومی او سیاسی ش
نه ؤ نو د بریلوی صاحب او د ده د ډلې په ضد راپورته شول ، څړیې و
او څړیې په اباسین د هزاره پې ته پورې ویستل . د هزاری خپلې مسلما
په ځای د دې چه د بریلوی صاحب مرسته وکړي سکها نو ته یې مخ
وکړه سکهان راغلل او باقیمانده هلته د سکهانو له لاسه تالاتر غ
سید صاحب او اسمعیل صاحب بالاکوټ کښې شهید ان ش
څومره د افسوس خبره ده چه سید صاحب دپښتنو په ښځو
وکړو او بې ننګه پښتنو دوی سره ننګ ونه کړو . چه سید
سکهان دپښتنو د خاورې نه وایستل نو د افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

سید صاحب ته وویل چه اوس دا ملک مونږ ته پریږده .

قصه داسی وه چه د تهکال ارباب بهرام خان چه د سید صاحب مریدان وو هغه به کال په کال د روڼې په میاشت کښی بولیلی ته تللو د قرآن پاک ختم اوتراویح به یې هلته د سید صاحب سره کولې . پخوا د حمل ونقل ذریعې هم نه وې ، په اسونو روان وو چه کوجرانوالی له راغلی دی نو تږی شوې دی په لاره کښی کوهی وُ ښځی ورله اوبو له راغلې وې دی چه کوهی ته ورنږدې شو نو دلاس په اشاره یې د ښځو نه اوبه وغوښتې چه دې ښځو منکی ډک کړل نو دې تولې لاړې او دوه ښځی پاتی شوې نو ده له یې اوبه یو ړلې ، چه ده له یې اوبه وڅکړې نو په ژړا شوې او ورته یې وویل چه مونږ پښتنی یو او سکهانو په زوره را وسیتی یو او دوه دوه ېچی موهم پیدا اشوې دي . ارباب چه بریلی ته ورسید و نو هغه د پرزهیر وو . سید صاحب ترنه پښتنه وکړه - چه داته ولې زهیرې - هغه ورته د کوجرانوالی داتوله واقعه بیان کړه . نو سید صاحب د جمعې په ورځ په منبر وخوت داقصه یې بیان کړه او دجهاد اعلان یې وکړو . زه دلته تاریخ نه بیانوم صرف داخبره بنکاره کوم چه د دې څه وجه وه چه پښتنو لوی لوی حکومتونه جوړ ولی شول خو تینګولی یې نه شوال د دې وجه داوه چه په پښتنو کښی اجتماعی ژوند ، قومیت او اتفاق نه و ، که څه هم پښتنو کښی به داسی وخت په وخت لوی لوی او قابل سیاستدانان پیدا شول لوی لوی سلطنتونو به یې قایم کړل . خو کله به چه ده سر په کفن کښی وغښتو په پای کسانو کښی به یې دقاموليه مینه او اتفاق او داهلیت جذبه نه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دولت او اقتدار کتلو د پاره به یو بل ته ارم شول . په عوامو کښې به هم دقاموالی
احساس نه وو چه مشران یې غلطي لاری ته نه پرېښودلی یا یې خو د غرضه او نا پوهه
مشرانو له موقع نه ورکولی . په پوهو ، لایقو . بې غرضو او خدمتکارو مشرانو راغونډیدلی
او خپل حکومت یې تینګ ساتلی . په عوامو کښې دقاموالی او ملیت دجذبې د
دنشتوالي له کبله به په دوی د خود غرضو مشرانو اثر وشو او بې اتفاقی او خانه جنګی
به عامه شوه خپل طاقت به یې پخپلو کښې یو په بل ختم کړو . دښمنان خو به دموقع
په طمع ناست وو موقع به یې وموندله بادشاهی او حکومت به یې ورنه واخسته
دوی به یې غرونو ته وشړل . دښمنانو به د دوی په اباد و مزې چرچې شروع
کړې او دوی به غرونو راغونو کښې سره وهلی د . په دې کړ خیدل څوچې به یې به
توبه قبوله شوه او د خدای رحم به پرې وشو لایق اوپوه سړي به یې کښې پیدا شو
بیا به یې دښمنان له وطنه وشړل اوله نوي سره به یې په آبادی ګوتې پورې کړې
دسکھانو نه پس د پیرنکیانو دور راغی - پیرنکی پخپله خو د سمندر دغا
راغلی وو . ولی داوړته معلومه وه چه دهندوستان د تاریخ تولې حملې د قطب
شوی دی ، او د خپل برطانوی هندوستان سلطنت د ساتلو د پاره هغه د
خاورې ته راپورې وتلو چه په هغه دره لاره اوسیند ونو قبضه وکړی
کومو دیښمنانو حملې شوی دی .

دفوجی حکمت عملی نه علاوه هغه د دی سیمې سیاسی حالاتو ته هم توجه
هغه ولیدل چه دلته هم هغه پالیسی روانه وه کومه چه د هغه نه مخکښې مغل
حاکمانو آزمایلی وه . حقیقت دادی چه کله مغلو د پښتنو سره جنګلونو کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله شهنشاه اکبر د پښتنو د لاسه اول په خیبر بیا به په کرپه او په آخره چه یې کله
د بنیر په کرا کړ کښې د خپل پوځ سره سره خپل لوی وزیر بیربل هم مړ شو نو بیا
اکبر د اغې پښتنو ته د اباسین نه پورې یې د اتک قلاع جوړه کړه - سره د خپلو وزیرانو
کښینا است چه په دې خبره سوچ وکړي چه پښتون خو یې په جنګ ونه وهلی شو
اوس بیې په کومه وسله وهي . چنانچه د دې غور او فکر نه پس په دې نتیجه ورسیدو
چه پښتون دوه خاصیته لري . یو پښتون من حیث القوم مسلمان دی او د اسلام
سره لوی عقیدت لري . دوهم انساني کمزوري یعنې د دولت سره مینه لري . نو د دې
په رڼا کښې هغه یوه داسې پالیسي وضع کړه چه د اسې عالمان ، ملایان او پیران پیدا
کړي چه د هغوی په ذریعه د اسلام د څادر لاندې خپل سیاسي غرضونه سرته کړي
او دویمه لاره چه د پښتنو دنیاوي مشران . ملکان او خانان د دولت او نوکرو په زوز په بیعه
واخلي .. هم په دې سلسله کښې مونږ وکتل چه د اخون درویزه او هغه په شان نورو
د پیرو دیني مشرانو د مغلو په وینا او ښودنه د پښتنو د قامي او ولسي تحریک د مخ نیوي
د پاره د پیر روښان غوندې باعمله عالم او سوچه مسلمان باندې د مغلو د پاره د کفر
فتوې ورکولې

پیر بابا د اولیدل چه هد غه پالیسي د مغلو نه پس د رانیانو خپله کړه او
د هغوی نه په وراثت کښې سکهانو ته پاتې شوه . پیر بابا چونکه د شلمې صدۍ د تعلیم
یافته او سایني دور پیدا وار وو نو ده هم د شهنشاه اکبر هغه مجربه نسخه خپله کړه
او کوښښ یې د اوو چه یو خوا د پښتنو دیني مشران د خپل سیاسي غرض د پاره
استعمال کړي او بل خوا د هغوی دنیاوي مشران په دولت او منصبونو واخلي . ولې د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تعجب خبره داده چه هغه اسلام چه کوم مغل مسلمان دخپل مسلمان وروردغلامولو
د پاره استعمالولو هم هغه اسلام نن دی ایمان خرڅوملایانو، عالمانو او پیرانو د کافر
پیرنکی د سیاسی اغراضو او مقاصدو د پاره استعمالوو.

د پښتنو خویونه او دودونه:

سره د دې کلمه چه فرنکی راغی زمایادشی چه په پښتنو کښی د هر ښه ښه
خویونه او خصلتونه لاموجود وو په دروغو به ځان ورته بد ښکاریده. وروروله
عزیزولی به یې ښه پالله. یو په بل اعتماد و په یوه بل به یې ننګ کولو، راشه دښمنی
وه مینه محبت وکه دیو بل سره یې څه اختلاف هم ؤ په سپکه بیه یې نه یادولو
داسی نه ولکه دا اوس په خولهٔ یوه او په زړه بله ژوند بالکل ساده او بې تکلفه
په ناسته ولاړه کښی د پټې تیټه پیته نه وه، جامې ساده او د وطن جوړې
د خپل وطن شاله خامتایی د بل په اتلس نه ورکوله د خامتالویی لویی خلکی
کمیسونه او پرتوکونه به یې اغوستل، د وطن جوړی پنې او څپیلی به یې
پښو کولی، توپۍ او د خامتا پګړی به یې په سر ولې. ښځو به د رنګینه خامتا
او مشروبی (*) پرتوکونه یې اغوستل. خوراک هم ساده و د ساده خوراک په وجه د
صحتونه ښه وو د دومره کمزوری نه وو. مسالې نه وې، چایی نه وې، سود کول
شراب څښل او زنایی د هر بد کښل که به په شول چه څوک دا کار د ونه کوی نو د
سره به چا خپلولی نه کوله، خور، لور به چا نه ورکوله. اخلاقاً د دومره پریوتی نه و
اوس چه دی. د چا چه به زور د مبلمه راغی نو چرک به یې د ورله حلال کړود

(*) مشروبی، د خپل کلی کور جوړولو چه هغی ته به یې مشرو وئیل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکه ښښورواېږی جوړه کړه ، دغواوو، مېښو زېرغوری به وو . سړی سړی پښتی
پرسېدلی خمېره دودی به وې . مازیکر به په بت دجوارو نینې کېدلی کوړه
به ورسره خلکو خوړله ، په دودی کښی به دامیر اوغریب فرق نه و . تولو به په
یو تالی اویوځای کښی دودی خوړله . څرنګه چه پوښاک اوخوراک ساده وو
دغسی دناستی ځایونه اوکورونه هم ساده وو . یوه لویه کوټه به وه ټول کور بانه
به یوځای وېده کېدل اوچه میلمه به راغی نو دکلي په شریکه حجره کښی به
څملاستود اکثر و خلکو کورونه په دغه شان وو اوچه کوم سړی په دوی کښی لوی
سړی و یا به خان و نو دهغه په کور کښی به دکوټې سره یوځای یو منډو اودیوډی
وه او دمېلمنو پاره به ېښله حجره هم وه . دااوچتې اوچتې ماڼۍ اوسپینی
سپېښتی بنګلی نه وې خوهغه خوشحالی اوآسودګی چه په هغه ساده ژوند کښی
وه نن په دې بنګلو بنګلو کښی اوپه دې خوندورو خوراکونو کښی او دولې جامو
کښی نشته مرضونه دېر نه وو ، نراوښځی په بدن سالم اوتکړه وو . جنیکو اوهلکانو
به یوځای لوبې کولې لوی لوی به وو دشپې ترناوخته به یې لوبې کولې ، یوبل ته
به یې ډډ خور اوورور په نظر کتل ، اخلاق ډېر اوچت وو . دلوبو ډېر رواج وُ ، قسم
قسم لوبې به وې . دلښتنو په لوبو کښی دهر قسم پزګټس (سپورټ) خیال ساتلی
شوی او . دمنډو خیال پکښی وُ . دبار اوچتولو او ورلو خیال پکښی و ، دسا اخستلو
خیال پکښی و ، دشپې کرځېدلو په شپه کښی دځان پټولو دمخالف فریق
دلټولو خیال پکښی و . اوهمدا وجه وه چه ددوی صحتونه ښه اوډېر ښایسته
وو . اګرچه پولو کښی به دریم کړی نه وو ، مګر بیا هم لوبغاړو به یوبل سره ټکی نه کوله .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پیرنکی اثرات :

د پیرنکی د اتلونه وراندې د پښتنو د تعلیم څه خاص انتظام نه و هغ
به تعلیم نه کاوه صرف د ملا یانو زامنو به د لمانځه، اوداسه، روژې سره ښ
حج او قربانی، زکات او صدقاتو او د دغه شان مسئلو تعلیم کولو دا هم دامامت
له پاره لوستل به یې زده و. لیکل به یې نه وزده او د دغه تعلیم طریقه هم دغسې
وه چه ملا صاحب به په جماعت کښې ناست و دامامتی سره به یې هلکانو ت
د ښ هم زرکاوه. مور او پلار به چه وغواښتل چه ښځیل اولاد تعلیم وکړي ن
جماعت له به یې بوتلو او د ملا صاحب سره به یې په سبق کښینا وه. ملا صاح
به ورته سیپاره شروع کړه مور او پلار به یې د ښځیل وس سره سمه شیرینې
وویشله او چه یوه سیپاره به خلاصه شوه نو ملا صاحب له به یې شکرانه و
او د بلې په شروع کښې نه بیا شیرینی وویشلی شوه. د ملا صاحب د تعلیم و
په بدل کښې څه خاصه تنخواه نه وه، د استاذانو به د خپلو شاګردانو سره د
وه د خپلو بچو په شان به یې ګڼل. شاګردانو به هم استاذ د پلار ته کم نه ګڼل
استاذ به د سبق معنا شاګردانو ته نه بنودله هغوی غریبان څه صلامت و
هغوی یې پخپله هم په معنی نه پوهیدل نو شاګردانو ته به یې څه بنودلی
زمونږ د جماعت اخون هلکانو ته سبق بنودلو. یو هلک ته یې چه سبق
نو ورته په غصه شو ورته وویل « ان الذین کفروا خربیشویه » نو شاګرد هم
« ان الذین کفروا خربیشویه » دا چه مونږ واورېدل نو پرمو وخندل
هغه شاګرد ته په غصه شو، مونږ ورته وویې چه دا دې هلک څه قصور دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه وایي هغه یې هم وایي .

پیرنکیانو دهندوستان دخلکو د تعلیم د پاره په نوې طریقه سکولونه جوړ کړي وو خو د پښتنو د پاره یې تش په نامه دکمی درجی سکولونه جوړ کړي وو.

چې نه به په یونیم لوی کلی کښې پرائمری (ابتدائی) سکول و، په هغې کښې هم څه دوه درې هلکان نه داخلیدل . نو رهندوستان لپاره ابتدائی تعلیم په مورنۍ ژبه کښې یې ورکولو خو پښتون بدقسمته قام له یې تعلیم په پردۍ ژبه کښې ورکولو . ددې د پاسه یې ملایان ورپسې لمسولي وو چې که دا قام تعلیم وکړي ستا سو قدر به کم شي او بازار به موسو رشي بیدا رشي چې د پښتنو بچي دې نه علم ته نه کړي . ملایانو به پرا پیګنده کوله چې پښتو دوزخي ژبه ده او دوزخ کښې به پښتو ویلی شي . د ملا صاحب نه هیچا دا پوښتنه نه کوله چې هلکه ته د دوزخ نه کله راغلی یې او کوم دوزخي دا خبرې تا ته رسولي دي . ملایانو به دا م ویل چې څوک د مدرسې سبق ووایي نو اووه پیړۍ یې په دوزخ کښې اوډا ستنده ؟ به یې ویله :

سبق د مدرسې وئ د پاره د پیسې وئ
جنت کښې به یې ځای نه وی په دوزخ کښې به کیسې وهی

ملایانو خو خلک دا نګریز په سکولونو کښې د تعلیم نه منع کول خو پخپله یې هم هیڅ انتظام نه کولو او عجیبه خبره خو داده چې ملایانو د دین په نامه خلک له علمه پاتې کول ، حالانکه اسلام داسې دین دی چې علم یې په نرو او ښځو فرض کړی دی خو مونږ داسې بدقسمته قوم یو چې د اسلام په نامه د علم نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاتی شو همدا وجوهات وو چه پښتانه دتولې دنیا دقومونونه په علم کښې وروسته پاتی شول اونتیجه یې داشوه چه یوازې علم څه چه هرخیز کښې ددنیا نه وروسته پاتی شوو او څومره د افسوس خبره ده چه یو وخت د پښتنوخاوره د دنیا دخلکو دپاره د علم مرکز و. دلته په هغه وخت کښې چه یوروپ د انسانیت دتور دورنه ټپریده د پښتنو په دی خاوره لوی لوی درسګاهی او یونیورسټۍ وې چه چاپیره ملکونه یې د علم په رڼا روښانه کول.

دلیرې لیرې وطنونه به خلک د علم دزده کړې دپاره زمونږ وطن ته راتلل او د اسلام په نوم نن د دنیا دتولو قومونونه په علم کښې وروسته پاتی کړی شول.

زما د مور او پلار اولاد نه پاتې نو دوي په دې روز یاد تونو، بابا کانو ملایانو باندې کړ خپلې وو. هغوی ورته ویلي وو چه خدای پاک به زوی درکړی او چه زوی مو وشی نو غوږ به یې سوری کوئ او د سر وزرو الی به پکښې اچوئ او بل به تر اوږو کالو پورې کال په کال د سپینو زرو اوږې ورته په غاړه کښې اچوئ او چه د اوږو کالو پوره شی نو بیا به تر پې دا اوږې د اوالی و باسئ او د خدای په رضا به یې ورکوئ.

زمانیاز بین توب:

زه د مور پلار کشری زوی وم او کشری اولاد په مور پلار ډیر کړکه وي او ورسره یې ډیره مینه او محبت وي او ناز بین وي، زه هم مور پلار ته ډیر ناز بین وم او زما دې ناز بین توب ما ته هم ډیر نقصان ر

(c) ketabton.com: The Digital Library

و او ته مامور له یی دپر تکلیف ورکړی و . ماچه به ویل که دوی به منل خوښه
اوکه به یی نه منل او دمنلو به نه و نوزه به بیا په خکه دغږ پدم اوپه چغوچغوبه
می ژړل اوترډغی پوري به می ژړل اودغږ پدم چه تر څوبه زمامور زما خبره
منلی نه وه . دغه شان توله ورځی به می پدغږ وسنې وهلې دا راته چا نه ویل
چه په څرمه مه کوخه اوکه به یی راته وویل نو مامنله کله . اکثر به په دې غږمو
کړ خید لو زما ستړکی خوب شوې ، دشپې او ورځی به نا ارامه وم ، مور
به می هم دځانه سره نا ارامه کړی وه . شپه او ورځی به می پری خپله زانګو
زنګوله اوچه مور به می دپره ستړې اوتنګه شوه او خدمتګاره به یی راته
زانګوته کښینوله نو مابه چغې کړې نو هغه به راغله . شپه او ورځ می هغه
نا ارامه کړې وه اوزما زانګو به یی زنګوله . هغې به راته وویې چه یه نجیه
دا زه دې په څه مصیبت کښې اچولی یم چه لږه شیبه دې نه اخواشم
نوته بیا چغې کړې ارام ته مانه پریږدې . نومابه ورته وویل چه زه څه وکړم
زه خو نه پریږدم .

زمونږ به دپره غله کیدله کند وان به ډک ووچه نوې غله به راوګیدله
نوبیا به موهغه زړه غله خرڅوله . زمونږ دکور سره یو دراهم اوکیو سنګ هتی
وه دا دواړه وروڼه وو مابه توله ورځ ددې کند وانونه غله دې هتی ته
زغلوله . په هغه وخت کښې به په هتو کښې ددې قسم څیزونه نه وو لکه نن یی
چه موټر ویښو . زیات نه زیات به یکښې املوک ، غوزان ، چنې او منچې
وې او ما سپینې نه پس به یی باتینګن اوپلوړې تلولې مور به راله دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپي خله په ورځ کښې په جولۍ کښې غله راکوله لیکن په هغې به زما تسلی
چې رته وه اکثر به مې دهغې نه په پته دانې دکندوانو نه هم وړلې او کتل به مې
چې مور به مې اخوا دې خواشوه نو ما به په یوه منډه هغې رته ځان ورساوه
کله نا کله چې به دمور راته فکر شو نو آواز به یې را باندې وکړ چې "ته به ځې"
او ما پښتو نه زور ورکړ لیکن ددې نه زیاتی به یې راته څه ویل نه. زه خو
مور ته د پرګران او ناز بین وم. زه خو چې سود او زیان نه پوهیدم او بلد و نه
پوهیدم او داخو ما سره مور نه کول څکه دې کار په ما کښې دغلا عادت
پیدا کاوه. زما مور له په کار وچه زه یې ددې عمل نه منع کولی او زه یې
پوهولی چې بچیه دا کار خو بد دی او ته باید دا بد کار و نه کړې نو ته چې څه
غواړې هغه خو زه درکوم. زه یې باید په یوه کړې وای او ددې بلد عمل نه
توبه کار کړی وای ځکه دمور غږ خو د انسان اوله او د پرده مهمه ملګرې
ولی راته کیسه کوله چې زه په لندن کښې سهار د خپله مکانه راووتم
چې کورم نو یوه د پرده بنکلې منډه دونی نه را پریوتې ده یو ما شوم هلته ولاړه
دی ما ورته اشاره وکړه چې واخله (Take it) نو هغه راته کوته. وخو خو
نه دا زما نه ده (No, it is not mine) هغه خو ما شوم و د اورته چا سنو
و ؟ د اورته مور.

په ما شوم والي کښې چې څه عادتونه په بچو کښې پیدا شی نو چې بیا غټ
نو هم پکښې وي او په د پرده مشکله دهغو بد و عادتونو نه خلاصیدل ډیر ښې
زه چې به د شپې د مور سره او ده وم نو په شپه کښې به چې را ویښ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لویه مې وژړل اوچه نه به چپ کېدم نو مور به راته ویل چه هغه دی (بَوَ)
راغئ هغه دی (پیړی) راغی نو دا زما په ذهن کښی تر اوسه پوری د (بَوَ)
او (پیړی) داوېره پرته ده حالانکه چه زه په دې خبره پوه یم چه نه (بَوَ) شته
او نه بلا شته. زمونږ یوه لویه کوته وه، مونږ تول به په هغې کښی څملاستو
زه سپا یسته لوی وم خو یوازې څملاستی نه شوم د مور سره به څملاستم ځکه
چه زه به یواړې وم نو په ماښام راته زه چه بیا بنارته د سبق له پاره لاړم نو چه بابا به مې بنارته
راغی په ما به اختر وخکه بیا د هغه سره څملاستم.

د قصو د پرشو قمن وم او د اسی ذهن مې وچه هر قسم اوږده اولنډه
قصه به مې د چا نه واورېده بیا به هغه زما زده وه. ماته اوس هم دماشوم
توب قصی یاد دي.

زمونږ په کوته کښی یوه دوکانچه (څوټره) وه د دې دوکانچې په
مینځ کښی به نغرې وو په هغه به هم پخلی کېده اوهم به یې کوته تودوله د دې
نغرو یوې خواته به پوزکي غوړ بدلي وو لیمځي به پرې د پاڅه پراته وو. یوې خواته
به زنانه ناستې وې اوبلې خواته به نارینه کښیناستل. چه د دوډۍ وخت
به شو نو زنانه ؤ به مونږ ته دوډۍ واچوله اوچه مونږ به خوړله نو بیا به
هغوی خوړه. په هغه وخت کښی نارینه ؤ د زنانه دوسره دوډۍ نه خوړه
او داوه ته معیوب کار ښکارېده اوښځوهم د نارینه وسره دوډۍ نه خوړه
په ژمي کښی به مونږ اکثر غنمی وریجې خوړلې. هغه زمانه کښی چاپې نه وې
سحر وختی به چه پاڅېدو نو وریجې به تیارې وې هغه به موخوړې. دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وریجو سره به موسوچه غوری، اچار، شربت او کله قورت خوړل .. په اوری
کښی به چه سهار پاخیدو نو اکثر به مو په مستو شکره واچوله . دجوارو
سره دودی به مو په مستو کښی ماته کړه وبه موخوړه . اوچه کله به سبق ته
تلم نو مور به راله دغنمو په دودی کوچ اوشکره پوری کړل اوهغه به موبیا
خوړل ، لیکن داخوراک دعامو پښتنونه و داد هغو خلکو وچه خانان وو .
غریبانانو به سره دودی اوشلو مبې خوړلې .

زما د مور سره دمښنو سانلو د پرشوق و اکثر به یې پخپله دهغې خسمانه کوله او اکثر به ې
وته پخپل لاس واښه اچول اوبوتاوه به یې ولړه جوړوله . دما سپینې به یې ماته پیرودی اوشود
راکول . بنجې په پیروي باندې د پرۍ مینې وي چاله یې نه ورکوي او پرې خپه کیږي ، ولې چه به
په کوچ کښی نقصان راځي خوزه وته نازښین وم اومالـه به یې راکول اونا د مور چه به هرشی په خوله خو
ولګیدنو مالـه به یې راکاوه اوکه زه به نه وم راله به یې ساته . چه کله به می د پلار سره دودی خوړلې اوچرک به
پوخ کړی ونو هرچاله به یو هلو کی ورکاوه خو بابا به می مالـه خپله برخه هم راکړه .

زمونږ د دې کوټې سره زمونږ یو بنکلی منډوم واو د سره یوه د یوې چه په هغې کښی دبستو بیتک هم
زمونږ په دې کوټه کښی لوی لوی کندوان هم و وچه په یو کښی به جوار او په بل کښی به غنم وو په هلې کوټه کښی به خو مالـ
چه په یو کښی وریجې په بل کښی مې او په بل کښی شکره اوکوړه ، اوزه ، مرچکی به پرآو واوهمدې خو مانوسره به د غو ګو تیما
چه د وړی میاشت به راغله نو زمونږ د پره مالداره وه او د پرۍ به د و مور به می اکثر پښتمنی کښی اکلیر اشیر به ږ
هغه به د پرخوند ناوه او د پښتمنی به یې یو غټ پیرو نیولی و هغه پیرو زما د پرخوښ واو د پرمزه دا ر به د نوزه خ
وم د وړې په مانه او د پلې خو د پې پیرو د خاطره به می هره شپه ویل چه ما به پښتمنی ته پاخوړی زه به پښتمنی
نه پاخیدم مور به می ویل چه مونږ تاکښینو واو ته نه راویښیږ ې بیرته خملی او ویده شی . زه به یې پ
پاخولم او چکله به یې پانه خولم نوچه سحر به راویښ شوم نو د پره لوبه ژړا او انکولا به می جوړه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سکول نه تک او
هغه وخت

ابتدائی تعلیم ، د پښتو سکول - دکلی ماحول ، مشن های سکول
زما استاد و کرم صیب ، اختر ونه او میلې ، د امامانو میاشت
کلی کلویغی ، سخات خیرات ، یوه
لطیفه ، واده بنا دی
دیوې پیغلې
قصه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابتدائی تعلیم :

د خوش قسمتی نه زما پلار سره ددې چه متقی مسلمان و خو اوشفکره سړی و هغه دملا یانو د پراپیګنډې هیڅ پروا ونه کړه او مونږ دواړه وروونه یې په سکول کښې داخل کړو . پلار می زه او محبت خان چه زما د کشر تره زوی و او زما هم ولی و او پلار دی مړ شوی و دکلی په جماعت کښې د اسماعیل استاذ سره سبق ته کښېښولو . زما د سبق په ناسته زما مور، او پلار د پرخوشحاله شول او د پری شیرینی یې وویشلې . د اسماعیل استاذ نه می قرآن ختم کړو ،، مور او پلار می د پره خوشحالی وکړه شیرینی یې وویشله او استاذ له یې د پره شکرانه ورکړه خو زه په قرآن پوه نه شوم زمونږ کلی کښې یو پرائمري سکول و خو زما مشر وروره خان صاحب دغه وخت کښې د پښور په سکول کښې سیمونق ویلو. زه هغه د سبق د پاره پښور ته بوتلم او په هغه سکول کښې یې زه هم داخل کړم خو ده یکښې سبق ویلو ولې چه په دغه وخت کښې دکلو حالت د پر خراب و. پرې جنبې، د ښمنی او تر ګنې وې، جنګونه او قتلونه وو د دې وغو دعوې او مقدمې وې .

د پښور سکول :

دغه وروره خو کښې پیرنګیانو د (جرګه سیستم) په نامه د پښتنو په کور

(c) ketabton.com: The Digital Library

چارې وکښې لاس وهلو د پاره یو مخصوص نظام جاري کړی وچه د پښتنو
د ودایتی قامی جرګو سره سمون نه خوري . اکثر به بې ګناه خلق قید شوا وګنهګار
به خلاص شو اونارینه خو پریږده چه زمونږ ښځې لې هم قحږونه راوښکلی
په ملاک ګښې د پرګړې و اوداتول دې جرګې سیستم (نظام) پیدا
کړی و . انصاف نه و . یو شریف سړي د پاره دلته ژوند د پرګران و
کړه په داسې ماحول ګښې کلی ګښې پاتې شوی وای نو د مالکی په کار
ګښې به ره هم مالکه شوی وای . ماته په دې تلو ګښې که یو طرف ته فایده
ورسیده نو بل خوا می تعلیمی تاوان وکړلو . د پرایمری پورې تعلیم می
په دې سکول ګښې وکړو ماته د پښور د سکول نه دخپل کلی سکول ښه
وځکه چه د تعلیم ذریعه خو په دواړو ګښې اردو وه خو په اتمانږ و ګښې به
د سکول استاذ پښتون و مونږه به یې په پښتو باندې پوهولی شوا و
په پښور ګښې د سکول استاذ د پنجاب و . هغه له پښتونه ورته اویو
شپږ کلن اووه کلن ماشوم ته داډیره ګرانه شی چه په یو وخت هم پردی ژبه
زده کړي اوهم په هغه ژبه ګښې علم زده کړي . بله داوه چه په پښور ګښې زه د
ډاکټر صاحب سره وم او د ډاکټر صاحب پخپله هم د لوبوسره شوق و اوزه به
یې هم د لوبونه نه منع کولم او د ماشومانو خو تعلیم او سبق ته ډډه نه لګیږی د لوبوسره
شوق لري . زما هم سبق ته ډیره ډډه نه لګیده او د لوبوسره می شوق و په سکول
ګښې به د فټبال او کوکټ لوبې کیدې ډاکټر صاحب د کرکټ د ټیم کپتان و .
زه به لوبو ګښې د نورو نه ورانده وم ، زما په ورزښ ګښې د لامبوسره هم ډیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوق و . په کلي کښې چه به وم مور به مې په څوکۍ ساتلم چه سين له لاړه نه شم
هسې نه چه سينډ مې يوسي ما به مې د مور ستر کې خارلې چه موقع به مې بيا
مونده نو په منډه به سينډ ته لاړم . د مور اند لښته مې بې ځايه نه وه زه
دوه کرته سينډ وړی وم او دواړه کرته به دسينډ په غاړه څوک ولاړ و زه به
يې وکښلم . زه چه په ميونيسيپل بورډ سکول کښې وم زما په مدرسه کښې دهغو
خلقو د بچو سره تعلق پيدا شو او لوبې به مې ورسره کولې چا چه به د مدرسې صفا
کوله او خلکو به ورته بنکيان او چوريان وئيل او خلکو به زه د دوی سره د لوبو نه منع
کولم خو زه نه منع کيدم نو په دې وجه به يې ما ته هم ښه نه کتل خو ما د دې پروا
نه کوله . د ډاکټر صاحب د خلکو سره راشه درشه هم ډېره وه ما ته به يې التوجه نه و
چه امتحان ته به مياشت دوه پاتې شوې نو هله به د ډاکټر صاحب پخپله هم
کوشش شروع کړو او په ما به يې هم زور و لګولو . د دغې مياشتې دوو
کوشش خو به زه په امتحان کښې پاس شوم خو کمزورې به وم .

د ډاکټر صاحب ناسته ولاړه په دې وخت کښې د دوه سره د غلا
سرور خان، د تهکال ارباب جمعه خان ، د چارسدې پردل خان او د قاه
خپلو میا محمد زمان سره وه . دوی په ما ډېر مهربانی او شفقت لرلو او
د دوی ډېر قدر او عزت کولو . دغه شان د نبار شيخ صاحب او حافظ ج
زرګر او بشير زرګر سره يې هم ښه تعلقات وو . ثمين جان خان، زما د سکو
ملګری وخو دی زمانه يو جماعت مخکښې و او د دغه وخت نه زما او زده پ
ګلوی شوې ده . دی د غلام سرور خان په سر پرستی کښې و . زما او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعلق مینه او محبت دوړو کوالي نه تر مرګه پورې و . زما ورور خانصاحب چه کله لسم جماعت پاس کړو کلی ته راغی او زه یې دځان سره کلی ته راوستم او دچوتی (رخصتی) پورې خو کښې یې دکلی په مدرسه کښې داخل کړم سحر به مدرسې له تلم او مازیګر به کورته راتلم .

دکلی ماحول :

یوه ورځ دمدرسې نه راووتلم کورم چه یولوی جلوس راروان دی یوسړی مخکښې دی اوخانان اوملکان ورپسې دي . دخواوشا عوام هم ورپسې دي . دجلوس الـه مینځه زمایو تربور چه هغه زمونږ ملک ومانه اشاره کوي اولاس په تندي زدي خو زه یې په مطلب پوه نه شوم او دجلوس په تماشایم چه جلوس تېرشو او کورته راغللم څه شېبه وروسته زما هغه تربور مونږ کره راغی نو مانه یې دپرې خبرې وکړې چه سره دتعلیمه ته دومره نالایقه یې چه مادرته اشاره کوله چه صاحب ته سلام وکړه تازما په اشاره هم سلام ونه کړ . ماورته وویل چه داخوک ونوده راته وویل چه دا تانه دارصاحب و ماورته وویل چه ماخه پیژانده ده راته وویل چه دوس خودې وپیژانده آینده پام کوه . په دغه وخت کښې دپیرنګیانو دحکومت پرزیات رعب اودبدبه وه اوخلکو به تانه دارهم دملک لوی حاکم ګانه . یوه ورځ املک صاحب راغی زه یه کلی کښې وم مانه یې وویل چه اسستنټ کمشنر سره زه یې موقع لـه څم ته هم راسره لاړشه . زه هم ورسره لاړم . مونږ دواړه په اسونو سوار وچه دچا رسدې تحصیل ته ورغلو اسستنټ کمشنر هم راغی په اس سور . دوه غه موقع مولیده چه پیرته راغلو او دیوبل نه رخصتیدو نو ما په اس سور

(c) ketabton.com: The Digital Library

استستنت کمشنر ته دیوه بل نه درخصتید و په وخت لاس ورکړ انوچه مونږ
راروان شو دی ماته ډیر په غصه شو او ماته یې وویل چه تاله په کار دی چه
اس نه کوز شوی وای او هغه له دې لاس ورکړی وای .

زمونږ دتر ناوسره خواکښی د زراعتی تجرباتی فارم مشر یو انګریز و مسټ
براون یې نوم و . دغه وخت کښی زه د تعلیم نه خلاص شوی وم او ما سره د زراع
ډیر شوق و زه به هم کله ناکله فارم ته تللم او دی زما ډیر دوست شتو . یوه ش
زما میلمه شو چه دوه دی مو وخوړه د کپ شپ نه پس دی رخصتیدلو نا
و ما ورسره سړی کول چه وبې رسوي، ځایی دا تمانزو د نهر بنکله تقریباً ز
د ځایه یو میل لیرې وه نو ده ماته وویل چه ماته دسې وحاجت نشته بس
سړی دې ما سره لاتهین واخلی چه خلک زما تو پې ووینی نو ماته بیا څوک
ویلی نه شی .

زمونږ په کلي کښی یوه کونډه ښځه وه یوزوی یې و هغه پولیس سپاهی و د
لوی کپتان کلی ته راغلی وو خلک ورته ورتلل دا کونډه هم خبره شوه د خلکو
هم ورغله هغه وخت چه به پیرنګی کوم ځای ته تللو د لیرې لیرې ځایونو خلک
چه خبر پدل لیدو ته به یې راغونډ پدل . دې کونډې ورته د خپل زوی
کښی عرض کړی دی هغه تا نه دار راغوښتې دی پوښتنه یې ترې کړې د
ته یې ویلي دي چه زوی به دې خلاص شی بودی ورته په دعا لاس پورې
دی چه خدای دې تا نه دار کړه . نو هغه وخت تا نه دار خلکو ته د ډیر لوی ا
ښکار پدلې . کپتان سوت اچولی و بودی چه کتلی څادریې په اوږه نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویلي دي زمیه ته خوخا درهم نه لري ماکره دیره ښه خامتا پرته ده که دي خوښه وي
یوخا در ښه درلره راوړم . د پولیس اختیارات هم زیات دي که به یې وهل او که به یې ترل
او که به یې پرانسنل چاتري پوښتنه نه کوله کنا هکار به یې پریښود او بې ګناه به یې را ایسار
کړ چا ورته دومره نه شو ویلی چه په مخ دي خوستر کی دي د تانه دار په دوستی او اشنائی
به لویو لویو خانانو او ملکانو فخر کاوه او د تانه دار په دوستی به یې غریب خلک
خوړول او خورل . د سودم یولوی مخور یز خان و عجب خان نومیده د تانه دار سره
ډیره شی خبره اروپي وه تانه دار په نارواه مقدمه کښی ښکیل کړاو پهانسی شو .
دې ټکیانو د ظلم او زیاتی په مقابله کښی به کله نا کله د ځینو غیرتیانو غیرت په
جوش راغی او پرې ورو به یې دانګل . زمونږ د کلی یو خان و عبد الحمید خان
ویلي ده هغه مشر و رور عمر خان د پولیس سره راز باز لرو او د خپل کشر ورور
سپکولو پسی یې تانه دار راوستی و . خدای دي پښتون ته د بدی وس نه ورکړي
چه وس وصولی لکه د لرم د بچو خپله مور خوري . د عبد الحمید خان هسی هم
تانه دار سره چه رام داس نومیده او د پنجاب هندو او د پر ظالم او بدی
رسیږی او نه لګیده او نه یې پخپله د پولیس سره ناسته والاړه خو ښیده د عبد الحمید
خان او د ورور یې حجره شریکه وه . عبد الحمید خان دوی او ده دي چه ورور
ته دار پرې ورو خپړاوه ، تانه دار دروازه ورتکولی ده عبد الحمید خان د خوبه
پښې شوې دی غږ یې کړی دی چه څوک یې تانه دار ورته ویلي دي چه رام داس
مړ شه ورته وایه چه پرانیستی دی تانه دار دوه نور تو سره پرې چغه وښکلی ده چه رونه خوښ
شه ورته مړ شه پوره کړی دی چه تانه دار صاحب مونږ معاف کړه . دومره خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library

تانه دار خپله بی عزتی کنهلی ده اوپری غږ مبدلی دی دخان خوهسی هم ور
زره ډک وتوپک یی ورته راارولی دی او ویشتی یی دی دده او د پولیس
دزې شوې ، دی هم ولګیده ، رام داس مړ نه وزخمی وخوخپله ساه یی بنده ک
وه . هسی نه چه خلک ووایی چه ژوندی دی مړ یی کړی . ربنستیا خبره داد
ظالمان بهادران نه وي د پر بزدله او بیمانه وي . بهادر سړی هیڅوړی په چ
نه کوي . دشپې ریوت وشو مجسټریټ راغی ، سهار مونږ خبر شو د پیښې
ته ورغلو د پر خلک هلته راجمع شوي وو ځکه چه د تانه دار سره مقابله لوبه خبر
هر څوک راتلل چه پخپلو سترګو حالات وویني خان قید شو خو د تانه دار انو
هم عقل راغی . دغسی نور واقعات هم کیدل د تنګی اجون خان چه تحصی
ورته سپکی سپوری کړې وې تحصیلدار یی تبستولی و . دغه مقابلې انفرادی
کړنه هم دغه مقابلو قوم ژوندی ساتلی دی خو په دې طریقه کامیابی حاصلیدل
دکامیابۍ د پاره اجتماعی تحریک او قربانی په کار وي نو دچا په زړه کښی چه دا قو
او احساس پیدا کیږي هغوی له په کار دی چه په قام وګرځي او خان سره د
د احساس خاوندان ملګري پیدا کړي او په ګډه د ظلم ، زیاتی او بی عزتی م
چه په قام کښی داسی ډله پیدا شی او قوم تنظیم کړي نو کامیابی حاصلیدل
هغه قام بیا څوک غلام ساتلی نه شی . د انفرادی او اجتماعی حرکت یو فرق دا
حکومتونه انفرادی حرکتونه خاموش کولی او ختمولی شی . همدا وجه ده چه
کښی وبره او ترس هم د پروي او حکومت اجتماعی حرکتونه وژلی نه شی
پکښی نه وي . د پر انفرادی حرکتونه چه د پر وغښتلو پښتنو یی رهبری کوله

ظالم بزدل وی

راځئ انفرادی او اجتماعی

(c) ketabton.com: The Digital Library

انګریزانو او پاکستان خاموش اوختم کړل مګر خدایی خدمتګار تحریک چه اجتماعی
تحریک و نه دپه ټکیانو ظلمونو، وژلو، وهلو، تکولو، قید ولو، بی آبه کولو، فریبونو، دسیسو
ختم کړاونه دپاکستان د دوه دېرش کالو ظلمونو، شړمولو، وژلو، جایداد ضبطولو،
قید ولو، پیر مټوو اولاچونو ختم کړ. په پښتنو کښی دپرلوی لوی پاچاهان اومشران
پیدا شوي دي اوتپر شوي خو هیڅوا په پښتنو کښی اجتماعی ژوند اود اجتماعی
ژوند فکر نه دی پیدا کړی اولنی تحریک دخدایی خدمتګار تحریک دی چه اجتماعی
ژوند اوفکر یی پکښی پیدا کړو.

مشن سکول:

ماچه دپنځم جماعت امتحان ورکړو اوشپږم ته پاس شوم خانصاحب
لسم نه یوولسم ته پاس شو. زمونږ په تولـه صوبه کښی کالج نه وو په دغه کال په مشن
سکول کښی یوولسم پرانستل شوی و نو زما ورور خانصاحب په مشن سکول
کښی په یوولسم کښی داخل شو اوزه یی هم دمشن سکول په شپږم کښی داخل
شوم ترکومی پورې چه مونږ په بوډ ډسکول کښی وو په ښار کښی اوسیدو او چه په
مشن سکول کښی داخل شو نو دمشن سکول په بوډ ډنګ کښی چه په چونې کښی واوسیدو
دپی ځای هوا صافه اوپاکه وه دصحت دپاره ښه وه، دفټبال، کرکټ اوټینس
ډانونه یی الول ده بوډ ډنګونه یی لرل یو د مسلمانانو اوبل دهندوانو وخو مونږ ته
د بوډ ډنګونو نه پل خان ته ځای راکړو. زما دتره خوی اوزما هم خولی مهابت خان
هم په کلی کښی پنځم جماعت پاس کړی وُ اودسبق دپاره دلته راغلی و اومونږ سره
ځای و. په بوډ ډنګ کښی دپرهلکان وو پښتانه وو اودصوابه د تحصیل وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک لوی څوک واړه خو پرشریف هلکان وو زمونږ او ددوی دوروفو پیښه شان کوز
وه . زمونږ بور د ټنګ په چوفی کښی اوسکول موپه ښار کښی وُ. د دې سکول سبق نس
د بور د ټنګ سکول نه ښه وُ. د ښوونې طریقه یې هم ښه وه استاذان یې هم ښه و
د هلکانو سره یې د پر کوښښ کاوه .

زما استاذ :

زمونږ بور د ټنګ ته مخامخ د پرنسیپل چه مستر هور نومیده بنګله و
هغې کښی زمونږ هیډ ماسټر وګرم صاحب اوډهغه ورور ډاکټر وګرم صاحب
په مشن هسپتال کښی وو اوسیدل . دا دواړه ورونه د انګلستان د یولوی س
زامن وو . دواړه یې مشن ته بخښلی وو په کومه مینه اواخلاص چه دې دوا
ورونو د خلکو خدمت کاوه زه یې بیان نه شم کولی . زه هغه وخت وړوکی وم
نه څه په دې خبرو پوهیدم . مستر وګرم به چه کومه تنخواه اخیسته نه هغې
یې زمونږ بی وزلو پښتنو هلکانو ته وظیفې ورکولې . یوه ورځ زما پښه ګزک ش
ډاکټر وګرم خبر شو ، راغی زه یې خپلی بنګلی ته بوتللم او به یې کړمی کړې زما پ
وینځله اوبیا یې زما په پښه پټۍ وتکوله . ربنتیا خبره خو داده چه زمونږ
په قول « خیر الناس من ینفع الناس » باندې دوی عمل کړی دی . وا
چه ناس یعنی د خدای مخلوق خو پرېږده د خپل قام ، د ورور او عزیز خدم
تیار نه یو . خدمت خو لا پرېږده په اور کښی را نه ولاړ وي او ټکله خو
خوار او ذلیل کړي یو . ما کښی چه د انسانیت ، قوم پرستی ، د ورور د
ولی او وطن دوستی او د خدای د مخلوق د خدمت کومه جذبه پ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده په هغې کښې زما دې استاذ وکړم د پرلاس دی . ما به دا فکر کوده چه دې
د کوم ځای نه راغلي دي زمونږ د قامه نه دی زمونږ په مذهب نه دی دلته
راغلی دی او زمونږ د بچو خدمت کوي او غریبانو نه د خپلې کیډې برخه ورکوي
او زمونږ خپل وطن دی، زمونږ د خپل بچي دی، زمونږ د خپل قوم دی او
مونږ د هغوی د پاره هیڅ نه کوو بیا به می دی خپل قوم او ملک طرفته خیال لاړ
نو ما به لاړ ي ته د پر فکر کوه چه زمونږ خانان، نوابان، ملایان او تعلیم یافته خلک
سره د دې چه مونږ یو قوم، یو وطن او یو مذهب یو خو داجذبه را کښې نشته چه
د دې خپل غریب قوم د بچو سره امداد وکړو په مشن سکول کښې نیمه ګنټه
د انجیل د درس د پاره وه « وال دی کړیو » نومی یو پرنکی و هغه به راته د انجیل
درس وایه او وعظ به یې هم راته کاوه . زه ورته وم په دې خبرو دومره
نه پوهیدم خو ځمین جانخان زمانه یو جماعت مخکښې و هغه پرې پوهیده ماته
به یې ویل چه زه د « وال دې کړیو » وعظ ته غوږ نه نیسم په غوږ وکښې کوتې ږدم
ځکه چه بیه ما تأثیر کوی هسې نه چه بل څه چل را باندې وشي .

کلیوالی لوبې :

زه د ورځې کوالی نه کفایت شعاره وم او د خپل خرڅ د پیسو نه به می بچت
کاوه همدا وجه ده چه ما په خپل ټول عمر کښې د چا نه قرض نه دی غوښتی
او نه چا ته محتاج شوی یم . خلکو زمانه قرضونه اخیستي دي چه د پرې ورانه
غوږلي دي او زما د ورور خانصاحب مټ ښه ارت و . د ګرمۍ په چوټیانو
کښې به استاذانو د پرکار را کاوه خو چه زمونږ به کلی ته پښې ورسیدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا به مونږ وو او لوبې به وې . زمونږ به هم درس ته ډډه نه لګیده او
او نه هم راته چانه ویل . دلوبو سره دخلکو شوق هم ډېرو قسما قسم لوبې اوساء
تېرې وې حجرې به دخلکو نه ډکې وې په حجرو کښې به تښتی کیده پټ
کونجکه به دشپې په حجرو کښې کېده . لوند ان به دشپې په حجرو کښ
خلاستل او دواده خاوندان په کورو کښې ویده کېدل ، په حجرو کښې به تر ناو
ځوانان په لوبو او کپ شپ لګیاوو دومره کار نه او مصروفیت نه و . ژوند
پیچیده نه و ، خودغرضی نه وه ، صفا ، سوتره ژوند و . په اختر و نو کښې به لو
خوشحالی وه ، خلکو به دیوبل کوه دخوراک څیزونه لیږل . د زانګلو د پا
دبر کولوی لوی تالونه اوباړی چغونه وو . بنځو به په کورونو کښې تالونه اچولی و
یا به یې باڼې چغونه اینبی ووچه ډکورو کانې به خلاصې شوې اینډی او ک
به شروع شوې ځای په ځای به کېدې کېده ځوانانو به پکښې زور وړنه ازم
زمونږ په کلی کښې کال په کال زور ورځ کېدې کېده او دلیرې لیرې علاقو ځوا
به پکښې برخه اخیسته اوخپل زور او پهلوانی به یې ښودله . په زاړه کونو تماش
به ورته راټلل ، زمونږ دکلی خانان به دوه دلې شویو داسې سړی به یې
کرچه دچاپیره به یې نه کوله کیرچا پیر به خلک نانست وو او په ښیګڼ کښې
دکېدې میدان و دیوې پرې نه به یو ځوان راپورته شو په میدان کښې
دبلې پرې نه به چه چا ځان کښې دهغه دمقابلې طاقت لیده ورته به راپو
کشتی به دمنصف په اجازه شروع شوه دکومې پرې پهلوان چه به
شو دهغې پرې زلمیان به راغلل خپل پهلوان به یې په اوږه وکړ په میدان

(c) ketabton.com: The Digital Library

یې وکړ خاوند اوخپل خای ته بهٔ یې ورساوه او خانانو به ورله انعام ورکړ او ددې پرې خلکو به په هغه بله پره باندې « الا الا » چغې وویستې په دې سلسله کښې یوه واقعه زمایاده شی ، چه داسې یوی کښې له یوزلمی ډاتمانزو را پاڅېدو هغه لپسې دمقابلې دپاره د دواوی یوزلمی را پورته شو . لکه چه دهغه وخت قاعدهٔ وه هر یو کښه مار به خپل خپل پیر یا زیارت رایادوه ، دوی چه خپل خپل بابا کانوته مخ واړه وو اوسلا مونه یې اوکړل . نومنځه ګړی دواوه وال کښه مار ته وُیل چه ستا باباچه په دې سیند و راپوری ووځی . نو اتمانزو وال به دهرله کار خلاص کړی وی ولی چه دهغه بابا کان دکښې ډاک ته نژدې وو . او وشوه همدغسې دوواړو وال را اوپرزید . کله به یوهم ونه پرزېده اودواړه به ستړی شو منصف به ورغی اوخلاص به یې کړل . کله نا کله به په لوبو کښې جنګ هم وشو .

نورې لوبې هم وې لکه انګی ، شړنګی ، لنډی ماری ، پټ پټانی ، ښکرپواتی ګیتکه ، چیته کونجکه ، چیندرو اونور . په هجرو کښې تاشونه هم کښه دل دغوزانو لوبې هم کښه یې . ماسره ددې تولو لوبو شوق واوکولې می او نورو نه به می ګټلې . ډکوم شی سره چه به می شوق و په هغې کښې به ما هروم نو ځکه په لوبو کښې ما هروم او چه دسبق سره می شوق نه و په هغې کښې می خوند نه و او په سبق کښې می چه دحساب جومتری او تاریخ سره شوق و په هغې کښې تکړه وم او دنورو مضمونو سره می شوق نه و په هغو کښې کمزوری وم او د نه شوق وجه همداوه چه ددې مضمونونو ابتدائی زده کړه ما په بنار کښې د پنجابی استاذ نه په پرديه ژبه کښې کړې وه . ښه می نه وه زده کړې ځکه به می ورته ډډه هم نه لګیده په هجرو کښې به پوچ لوبه هم کیده او دلوبې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتلو به شرط هم لکیده کومه دله چه به پره شوه هغی به چای، دودی، میوه یا
کنی چه په خه شی به شرط اینبودل شوی و راوړل. اکثر به شرط په چا یو ترل کیده
لکه چه چای نوی څیزو دخلکو به خوښیده. بابا به می دچا یو یوه عجیبه قصه راته
کوله چه مدرسی ته یو افسر راغلی و شاه باز خان (زمونږ دکلی لوی خان و) چای
راوړه یوه پیاله یی ماته هم راکړه هغه وخت شنې چای رواج وې، په بلغمی پیالیو کښی
به څکل کیدې. ماسره میرافضل خان (زمونږ یو میرنی تره و) ناست و ماخپله پیاله
هغه له ورکړه ورته می وویل چه تو ده ده هغه زما په خبره پوه نه شو په یو ځل یی پ
سر واړوله توله خوله یی وسوزیده ولی چه هغه وخت چا چای نه پیژانده او رواج
دې پرلږو.

اختر ونه او میلې:

په اختر ونو کښی به لویې لویې میلې لګیدلې په زړګونو خلک به یکښی جمع کیدل
نیزه بازی به یکښی کیده، اتڼونه به اچول کیده، دمان به ګډ بلل، دجواری دیس
به کیده او خلک به په زانګو کانو کښی ځنګیدل، سازیان به وو دسورلی دپاره
دلوګو اسونه وو، څوک به په اوښانو سواره وو څوک به په اسونو، خانان به زور
ګنلی شو دپر خلک به ورپسی وو. اکثر وخانانو به په دغه ورځ دخپل چیم کاونکو خا
دخانه سره بیول، په کباپونو او قتلمو او میتایانو به یی مرول، دا په خانانو، دغریب
یو قلنګ غوندې و، کله نا کله به په میله کښی جنګ وشو او ځینی وخت به دافراد
نه جنګ اجتماعی شکل اختیارکړ نو بیا به دګنهګار او بی ګناه فرق نه کیده. یو ځل
وشو چه زه وړوکی وم او دنصرو میلی ته تلی وم په میله کښی زمونږ دکلی دخانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پرانګو دخانانو جنګ وشو د جنګ نه پس هغوی خو دمېلی نه پښی سپکی کړی او
وو تل مونږ یی خبر نه کړو، په داسی موقع خلک تل خپل کلیوال خبروي او دمېلی نه
یی وبا اسی. پرانګ کلی د مېلی ځای ته د پرنزدي و او په یوه چغه مېلی ته راوړسېدل
د راوړسېدو سره یی په مونږ برید وکړ زمونږ نوکرانو خوخه مقابله وړسره وکړه خو
مونږ لږ وو او هغوی ټول کلی وزه وړوکی وم په اسپه سوروم چه داخلک مونږ ته
را نزدي شو د ځړوعبادت کاکا زړ زړه په غږ کښی راواخیستم او د اسپي
نه یی راواوچت کړم خوچه څنګه یی زه راواوچت کړم د پرانګو یو سړی لوی پرانګ اسپی
له راخلاص کړو او په زین ولګېد که د عبادت کاکا همت نه وی او زه یی نه وی راپورته
کړی خدای زده که زه د هغی کوزاره ژوندی پاتی شوی وی. په دی جنګ کښی د پر
کسان ژخپان شول او زمونږ په نوکرانو کښی خو روغ نه و پاتی. دا مېله به د چارسدی
تحصیل سره داختر په درېمه ورځ لګېده او د نصرو مېله به یی ورته ویله په دې مېله
کښی به د پرو زورورو نیزه بازی کېدله. دلیری لیری ځایونو نه به شوقیان منډه ساتلی سوني
او نیزه بازان راټول. لوبه به په د پرجوش وخروش روانه شوه نیزه بازانو کښی یو تربله
د سیالی او رقابت مقابله وه او په تماشګیرو کښی هم جوش وخروش و. د داسی لوبو نه
په خلکو کښی د مېرانې، شجاعت او تینګار جذبات قوی کېدل.

د شوقدر (شعبان المعظم) میاشت چه به وخته خلکو به د پری خوشالی
کوله خصوصاً هلکان چې نکه به په کوڅو کښی اخوادی خوازغاستل خوشالی به یی کوله
د دې میاشتنی په ۱۵ به شوقدرو. د شوقدر په شپه به هم لوی مېله جوړه وه
منځو او جوګونو به په کورونو کښی توتکی، چور چوری، ماما تبی او پتاخی خلاصولی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلکانو او نارینه و بهیر دوه دلې جوړې کړې بنسونه اوښکړونه بهیې ډک کړې
وو یو په بل ویې خلاصول . کله بهیې یوه ډله په مخه کړه او کله بله ، کله بهیې شستې او
او اوږدې اسمان ته ویشتې . کومو خلکو چه به ښکړونه خلاصول هغوی به د
څرمنو جامې اغوستې وې چه اوږې ټاټیر ډیر نه کاوه . خندا به وه خوشالي به وه
مستي به وه او ځینو مذهبي خلکو به په دې شپه داکارونه ښه نه ګڼل په عبادت د
يې شپه ډونوله او نوروته بهیې هم داویل چه په دې شپه عبادت ډیر ثواب لري
خوچا به وړته ډیر غوږ نه اینبوده . دا د پښتنو د قوت ننبې ننبانې وې چه څومره
پرنګې د غلامۍ پرې مضبوط ښه وه هماغومره د پښتنو جذبې مړاوې کېدلې .

د امامانو میاشت :

لکه څنګه چه مونږ د خوشالۍ اختر ونه لرل د غسې مونږ د غم او خپګان
ورځې شپې هم لرلې د امامانو میاشت یعنې محرم د مسلمانانو ویشر یلیک یا د کا
دې زمونږ مسلمانانوته په دې کښې یولوی درس او سبق پروت دې . دا سلا
پیغمبر صلی الله علیه وسلم په مدینه کښې د جمهوریت یوه روښانه ډیوه بله کړې
زه دامنم چه د غه جمهوریت یوازې د مدینې دښارو او د مسلمانانو ویعنې
مسلمانانو مشر او د رسول الله صلی الله علیه وسلم خلفا او جانشینان به د صحا
په رایه ګیرۍ منتخب کېدل .

په ټوله دنیا کښې تیاره وه مګر په مدینه منوره کښې د دموکراسۍ ډیوه بله ښ
او دا ډیوه هم د حضرت عمر رضی الله عنه پورې بله وه او کله چه د هغه د مرګ نه
په مسلمانانو کښې د پیسې او اقتدار شوق پیدا شو د غه ډیوه مړه شوه او تر اوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مړه ده . یورپ چه په تیاره کښې پروت و هلته هغوی بله کړه . هغوی پرې روښانه شو او مسلمانانو چه هغه مړه کړې ده تر اوسه پورې بله نه کړې شوه اونن چه څومره د مسلمانانو ملکونه دی په هغې کښې د موکراسی (جمهوریت) نشته څه وخت چه اقتدار د بنی امیه خاندان نه په لاس ورغی معاویه را پاڅېد و د مسلمانانو هغه حالت یې هم ختم کړ . معاویه په خپل ژوند د اقتدار او پیسو په زور د خپل مړک نه وروسته خپل زوی یزید نه د مسلمانانو نه بیعت واخیست چه د مسلمانانو امیر به وی . د اسلامی خلافت د موکراسی او قومی حکومت د تاسیس دپاره پیغمبر صلی الله علیه وسلم او د هغه اصحابو دپرې هلې ځلې جدو جهد کړی و دپرې قربانی یې ورکړې وې ، دپرزحمتونه یې کمالي وو او هغه بنی امیه په دغسې چل ول له مینځه یوړل نو ځکه که نور هر څوک چپ پاتی کېدی شو ، حضرت حسین چپ نه شو پاتی کېدی د امونږ مسلمانانو ته د ظالم او مستبد حکمران د مقابلې درس درا کوي .

محرم ته پښتانه د امامانو میاشت وایی ، د امیاشت د غم او خپګان میاشت د خصوصاً په اولو لسو ورځو کښې به چا ښادی ، خوشالی ، خندا ، توکه ټکاله نه کوله . د حسینو په اروا او د حدای په نامه به خلکو شربتونه ویشل ، لوی لوی خیراتونه به یې کول ، بنځو به په کورونو کښې او نادینه وو به په حجرو کښې جنکنامی لوستی او خلکو به ورته ژړل او ښکی توسدل به یې د پر ثواب کښل ، د شپې به بنځو په کورونو کښې ویرکاوه هلکانو او جنکو به په دې لسو ورځو کښې خیراتی دانی غونډولې او په لسمه ورځ به یې د جمع شوې غلې نه خیرات کاوه . په لسمه ورځ به نر او بنځې هډیرونه تللل په قبرونو به یې د امام حسین د تندې دیادولو په نسبت او به اچولې ، ما ښام به هر چا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخپل حیثیت سره سم خیرات کاوه او دې ته به یې د حسنینو خیرات والایه او دشپې
په ویرونو کښې به یې د استاینې کولې « حسنه څوک به دې ژاړي وای ، وای حسنه
در زلالی ! » او بیا به یې سینې وهلې او ژړا نکولا به یې کوله .

مونږ پښتانه د حسین (ع) په قدر او عزت کوو او په مونږ په پرګران دي ځکه
چه دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم لمسي وو او په هغه په پرګران وو نو ځکه په
مونږ هم په پرګران دی بله داچه امام حسین (ع) هم د حق او جمهوریت د پاره راپاڅید
و او مونږ هم د خپل حق او جمهوریت د پاره راپاڅیدلی یو هغه هم مظلوم و مونږ هم
مظلومان یو، هغه هم د ظلم سره د مقابلې د پاره را اوچت شوی و او مونږ هم د ظلم
سره د مقابلې د پاره راپورته شوي یو. هغه هم مسلمانانو ته د جمهوریت حق کمانه او
مونږ هم مسلمانانو ته جمهوریت کتو هغه هم د امن د پاره کار کاوه او مونږ هم
امن د پاره کار کوو .

کلی کلونغی :

زمونږ روغ رنځور ، زمونږ غم ښادی او زمونږ مړی ژوندی د پرله اخلاص
د ک او مینې محبت مظهر و خو په رسمونو راجونو کښې د وب . چې څوک
رنځور شو خپلو خپلوانو او دوستانو به یې پوښتنه کوله یوازې خپلوانو او دوست
نه بلکه د کلی او ولس عامو خلکو به یې تپوس کاوه او که به مریض سخت شونو
خو به ورته نژدې کسان شپه او ورځ ناست وو د صحت د پاره به یې ورته
دعاګانې کولې ، خیراتونه به یې کول . د علاج د پاره څه خاص انتظام نه و د هغه
مرض د پاره بېل بېل باباو او د هر بابا د زیارت بېله بېله طریقه وه ان چې د بابا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دقبر ونوخاوري به خور ده کنهلی شوه او دمرضونو د پاره علاج کښل کیږي . دبابا کانو
او زیارتونونه علاوه دملا صاحب ، پاچا صاحب اومیا صاحب دم دعا او تعویذ
دعلاج طریقه وه . دیونانی طب حکیمان هم وو تجربه کاروه ، سپین سرو بنځو به
نظر صاتو . سپین زیرو به دمقامی بوټو او داروکانو په ذریعه علاج کوو . نایانو به
ددانو او ژمنو علاج اومرهم پټی کوله خو دپره مخه زیارتونو او بابا کانو ته وه . اوچه
څوک به مړشونو په هغه ورځ به دکندی خلک خپل کارته نه تلل اوکه مړی به مخ ویز
سړی ونه تول کلی به خپل کاروبار پریښود او دمړی ډکور اوکفن ، دخدمت اوغم
دپاره به دمړی ځای ته راغوندشول نارینه به په حجره یا جومات کښی ناست وو
اوبنځی به په کور کښی غونډی شوې مړی ته به چه څومره بنځی راتلې تولې به ویر او
ژړاکښی شریکیدلې اونارینه وکښی به یوازی دمړي نژدې کسان او دوستانو ژړل
مړی به کت کښی پروت وچه څه وخت به یې لمباوه نارینه به ورغلل اوکت به یې وا..
په دی وخت کښی به د بنځو د ژړا انګولا شوروزوږ پورته شو به زوره زوره به یې ویر
کاوه سخونه به یې وهل اوپه ویر کښی به یې مړی ستایه چه مړی به یې په تخته واچاوه
نوخپلوانو او دوستانو به یې په تخته روپۍ اچولې ، دغه روپۍ به دملا وې . دلمبولونه
ودوسته به یې کفن ودکر په کت کښی به یې اینبی وخپلوانو او دوستانو ته به یې مخ-
وښوده بیابه جنازه اوچته شوه خلک به جنازی پسی روان وو اوخلکو به دجنازی
کت په څلورو کسو په اوږه کړی و اووار په وار به خلکو یو دبل نه جنازه اخیسته
اودمه یې ورکوله هدیری ته به یې ورساوه په اوار میدان کښی به جنازه کښښودل
شوه اوازبه وشوچه جنازه تیاره ده دچاچه به اودس و اوجنازه به یې کوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

صفونه به یې جوړ کړل دجنازې مونځ به وشو دعا به وشوه خلک به ورانتلل
او دمړې مخ به یې کتلو. ملایانو به دسخات دپاره دوره جوړه کړه کښیناستل به

سخات خیرات:

سخات به دمړی دحیثیت په اندازه وکه به مور پشتمن خان او
مخوریز سړی وسخات به یې دپرو اومیله به پرې جوړه وه ملایان به دپرو
که غریب سړی وسخات به یې کم و ملایان به هم کم وو او که به سخات نه و
ملایان به هم نه وو. کوړه، صابون، پټکی، قرآن شریفونه او روپۍ به پینځ
کښې کښېښودل شوې مشر ملا صاحب به اول دمړی دوارث نه دمړی د
ګناهونو دکفارې دپاره داخیزونه دصدقې او سخات په توګه ځان ته قبول کړل
بیا به یې یوبل ته په همدی طریقه بخښل او یو به دبل نه قبلول. ملایانو به دغه
ټول مال یوځل ځانته قبول کړ او بیا به یې خوا کې ملا صاحب ته وبخښه چه دوره
به وشوه نو بیا به یې دسخات په وېشلو شروع وکړه ماته به دسخات کړځولو
مراسم شا دوله سنکاریده پردی مال یوبل ته بخښې خدای او قام ته دوکه
ورکوي. زه دعرب و په ټولو ملکونو کښې ګرځیدلی یم ما هلته حتی په مکه معظمه
مدینه منوره، نجف اوکربلا کښې هم چیرې دا دسخات او خیرات طریقه نه ده
لیدلی حال دا چه هلته دا طریقه ده، چه مړی اوشی، خلک خبر شی، بیا جنازه جومات ته
راوړی هلته یې جنازه اوشی ددعا نه پس وارثان خپل مړی دښخولو دپاره
مقبرې ته یوسی او نور مسلمانان خواره شی. دا اسلام خو مونږ ته له عربستان
نه راغلی دی خو خبره داده چه دا قسم عادتونه په مونږ کښې خود غرضو خلکو پیدا کړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اسلام کښې داخیزونه نشته بله داچه دا دومره مال بل ته څرنګې بخښې اوچه سړی نادار، اومحتاج هم وی . بله داچه سړی مړشی دهغه عملنامه خوبنده شی داخیرات اوسخات به څنګه دهغه په حسنا توکښې لیکل کیږی . یوسړی حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راځی عرض کوی چه یا رسول الله زما پلار مړ دی اوله هغه نه دوه کوتهې له کجورونه دکې پاتی دي هغه وړسپی خیرا توم رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وایی که ستا پلار پخپل ژوندانه ددې کجورونه دوه دانی دخدای په رضا ورکړی وی ددی دوه کوتهنونه یې ثواب زیات و . دګناه او ثواب په حقیقت دبې عمله علماوو په وجه څوک پوه نه شول . دخلکو په مغزو کښې ملایانو دا کښولی ده چه کوندی خدای هم ددنیا د پادشاهانو په شان دی چه څه ته دتکس او ډالۍ ضرورت دی . دوی په دې فکر نه کوي چه خدای بې نیازه دی هیڅ شی اوهیڅوا ته محتاج نه دی . که خیرا تونه دي که زکات دی که صدقات دی ، که لمونځ دی ، که روژه ده . که حج دی دا ټول زمونږ دښکلی پاره دي که ښه کوې هم دخان دپاره دي اوکه بد کوې هم دخان دپاره دي . ښه کوې دنیا به دې هم اباده وي اوپه اخرت کښې به دې هم په کار شی اوکه بد کوې په دنیا کښې به ذلیل ، حقیر اوخواري اوپه اخرت کښې به دسته عذاب وي .

زما د ملایانو سره دپرتعلق و مابه یې دپرقدر اوعزت کاوه اوهمیشه دی وړسره په دغسې خبرو بحث اوتبادل خیال کاوه او دا به می ورته ویل چه خیرا تونو او سخاتونو دا طریقه په اسلام کښې ښه نه ده . اسلام چه خیرا تونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذکا تونه واجب کړي اولازم کړي دي په هغی کښی لوی رازدی داچه تر مونږ خو
رسول ﷺ وایي چه « صدقه بلاء دکوی » دابلا تاسو پټوئ داخو دغریب او امیر
ترمینځ نفرت نه بلا ولاړ پرې نوچه شتمن خلک د بهوزلو پوښتنه وکړي دهغو
سره دمصیبت په وخت کښی مرسته وکړی نو دغریبانو دخپلو امیرانو سر
مینه محبت پیدا شی او دبلا مخه ونیول شی اوچه امیر دغریب هیڅ پوښتنه
نه کوی غریب په مصیبت کښی وي اوامیر په عشرت کښی وي نو دغریب پ
زړه کښی تېرېږي چه وطن خوخدای مونږ تولوته شریک راکړی دی
څنګه زه په مصیبت کښی ژوند تېروم اودابل چه زماودور عزیزدی زما
شان سړی دی، دی ولی په عیش عشرت کښی دی دده په زړه کښی غو
پیدا شی او ورو ورو یی زړه امیرانوته پرسېږی تر څوچه بلا ورنه جوړه شی
کوړئ د رسول الله (ص) په وخت کښی به دهرڅه نه مخکښی د قرض د
کولو غم خوړل کېده. رسول (ص) تر هغه وخته پورې دمړی جنازه نه کو
تر څو پورې به دمړی په ذمه قرض خلاص شوی نه و اوکه دمړی وارثان به نا
اوغریبان او دمړی قرض به یی نشوادا کولی نو بیا به رسول الله (ص) نور و مسلما
وویل چه چنده تولـه کړئ او دده دا قرض خلاص کړئ نوچه قرض به خلاص ش
هله به یی جنازه کوله، بیا به نور تکفین تجهیز کېده اونن بالکل ا ر ولی خبر
دکوم مړی دوارثانو دمخه نه کیږی نوهغوی لاجاید ادکاهنه کوی لا په سود رقم
خو مړی پسی سخات ضرور کوی اویوازی خو دمړی خیرات اوسخات نه
دپیرانو پیر صاحب یوولسمه ده، دکاکا صاحب شکرانه ده، دسید انو، میا

(c) ketabton.com: The Digital Library

او صاحبزاده کمانو نذرانی اوشکرانی دي که دا ټول خیراتونه په قومی ښسیکړو لکیدی
نن به مونږ هم ددنیا دترقی یافته قومونو په قطار کښی ولاړوی. دسخات اوخیرات
دپاره مونږ په سود اوکمانه (کړوی)، قرض اخلو چه زمونږ دارسم پوره شی. زه
یوکال، دا وړی دکړمو تهرولو دپاره کوه مري ته تللی وم هلته رابانديی یوځوکسه
ملایان چه زما دوستان وو راپښښ شول ما زیګرمی دسیل صفا دپاره لهځانه
سره راواپستل کرځیدو کرځیدو یوی بنګلي ته ودرښدو ما ملایانو ته مخ راواړوه
چه دا بنګله څنګه بنګله ده؟ دوی وې دپره بنګلي ده ماوې داشنه چمنونه اود
ګلونو یا باغچه یی څنګه ده؟ دوی وویل چه دپره ښایسته چمن اوښایسته ګلونه دی اودپره
مزه داره باغچه ده ماوې هغه ماشومان چه پکښی لوبی کوي داڅنګه دي دوی وویل
دپره پیمخی اوګلالی ماشومان دي ماورته وویل هغه موټر چه دریو ربي صفا کوی دا
وینئ وویل یی هو دپره ښه موټر دی ماوې هغه چه په کرسی ورته ناست دی جامونه
یی ډکوری څنګه دی دوی وې دپری دولي جامي یی اغوستی دي ماوې داسې
پښتنئ چه څوک دی؟ دوی وویل چه څوک دی؟ ماورته وویل چه دا دپرنګیانو ملا
دی، چه قوم یی په بنګله کښی اوسی ملایی هم په بنګله کښی اوسی چه قوم یی په کښده
موروی ملایی هم په کښده موروي چه قوم یی په جامه پټ دی ملایی هم په جامه
پټ دی، چه قوم یی په موټر کښی ګرځی ملایی هم په موټر کښی ګرځی اوزمونږ چه
قوم دهستو کښي کودله نشسته تاسو هم جوماتو کښی اوسیږئ اوچه په کښده ماده
ریو تاسو هم دروازه په دروازه ګرځئ چه «وظیفه راوړئ خدای مو وبښښه».

چه سخات به وویشل شو بیا به نو ملایانو پرې مسئلی کولی زمونږ په کلی کښی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مړی شوی ؤ یو ملا صاحب مسئلو ته و درښ او دا مسئله یې وکړه چه یو سړی د پر
بد عمله او بد چلند ه و، سود خور و، جوار کړو، خونی و، زانی و، غل و، داکه مار و،
او هیڅ ښه کار یې په عمر کښی نه وکړی صرف دهری جمعی په شپه به یې
او وه دوډی د خدای په نامه جومات ته لیږلې دا سړی مړ شو زامنو، ښځو
او پس ماند کانو یې ورپسی د پر ویر وکړ او دا به یې وویل چه دده به په قبر کښی څه
حال وي اخر یوه شپه خپل یو زوی ته په خوب کښی راغلی دی او ورته یې ویلي دي
چه تاسو زما غم مه کوئ زه د پر په ارام او مزو چړ چو کښی یم زوی تری پوښتنه
کړی ده چه پلار ته څو د پر بد عمله وې پلار یې ورته وویل چه ټیک ده خو مور ته
مو معلومه ده چه ما به د هر جمعی په شپه اوه دوډی خیرات ورکولې هغه
دوډی می دلته په کار شوې څه وخت موچه زه ښخ کړم او تاسو دانه لاړئ نکیر
منکر راغلل او زمانه یې پوښتنی شروع کړې چه: «من ربک وما دینک»
جواب نه شو ورکولی نو کور زونه یې راپسی را اوچت کړل چه راخلاصول یې را باندی
چه په دې کښی دوه دوډی راپیدا شوې او ورته مخی ته شوې اوزه یې بچ کړم
چه نکیر منکر لاړل زما د قبر په څلور و کونجونو کښی سوری و شول او د هر سوری څ
د دوزخ لمبه راننوته نو څلور دوډی راغلې او هره یوه یو یو سوري ته ډال شوا و د
مخه یې ونیوه او دا یوه زما خدمت کوی. بیایی ووې چه په خیرات کښی د پر د
ثواب نه دي او ما د دې مسئلی ثواب د دې مړی په اړوا بخښلی دی. ما ته دا
عجیبه ښکاره شوه ما وې د دې خو دا مطلب شو چه هره بد عملی کوه، زور ظ
کوه خو اوه دوډی خیرات ورکوه نو مزې کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسخات نه پس به بیا نور خیراتونه شروع شوه ها بنام به دمړي په اردا خیرات کیده ترجمې پورې به بیا هره جمعه خیرات کیده ترځلو پښت ورځو پورې . په ځلو پښتمه ورځ به بیالوی خیرات وشوا و بیا ورپسې دکال خیرات دی . په دغه طریقه به زمونږ دقام په کال کښې په لکونو روپۍ خرڅیدې چه دا په یوبیت المال کښې جمع کیدی او په قامی کارونو او غریبو لګیدی قام ته به یې څومره فایده رسیدله ؟

یوه لطیفه :

یوه ورځ زه په حجره کښې ناست وم چه زمونږ د امام صاحب زوی راغی ما ته یې ووې چه زه واده کوم ما سره څه امداد وکړه ما ورته ووې زه همیشه وینم چه دمړي په سخات کښې ته د ډیر مال مالک شې که تاته ضرورت وی نو بل ته یې ولې بخښې هغه راته په جواب کښې ووې چه دومره مال هیڅوک د زړه نه نه بخښې مونږ یې له وړې یو بل ته بخښو او بله دا چه زمونږ یقین وی چه مونږ ته یې څوک نه راکوي . راکول خو پرېږده وبه مووهی . ما ورته ووې چه وهل پکښې نه وي او مال هم ستا کیدی شی نو بیا ؟ ده راته وویل نو بیا خو به یې زه هیڅ ته ورنه کړم ما وې ربښتیا وایې ته تیار یې هغه ووې چه بالکل ربښتیا وایم او بالکل تیار یم نو ما ورته وویل چه نن زما د ترهه لور مره ده د ډیر سخات یې دی ستا واده پرې سبه کېږي په دایره کښې کښینه چه ستا وارثی او سخات دې خان ته قبول کړ بل ته یې مه بخښه ووایه چه زما ضرورت دی بل ته یې نه شم بخښلی . ده ووې دا خو به زه وکړم ما ته به یې څوک راکړي ؟ دشمو زوخان دی هسی نه چه بی عزته می کړي ما ورته ووې چه زه به دی شا ته ولاړیم څوک دې بی عزته کولی نه شی وې چه ستا امداد راسره وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو بیا خوزه دچا پروا نه کوم . زما او دده په همدی فیصله وشوه چه روانیده ما ورته
وویې چه پام کوه داخبره دی چا ته له خولې نه ونه وځي چه جنازه وشوه او سخات ته
ملایان په دایره کښې کښینا تل ده دې خوا آخوا وکتل چه زه یې ولیدم الا ر په دایره
کښې کښیناست کله چه دسخات بخښنه اخیسته شروع شوه زه ور وغوندې
راغلم دده په شاو ډ، پلدم چه څه وخت ده ته سخات وبخښل شوا ودې واخیست
دده رنګ تک زېړ شو او ما ته یې وروسته وکتل او وې ویل چه ما ته ددې مال
ضرورت دی زه یې بل چا ته نه بخښم . دملایانو دهلې کولې څه اراده وه خوزه و
مخکښې شوم او دهغوی نه می تپوس وکړو چه ملایانو صاحبانو شریعت په دې
باره کښې څه وایی ؟ دوی وویل چه شریعت ده ته حق ورکوی چه بل ته یې بخښه
او که پخپله یې اخلی نو ما هغه ته اشاره وکړه چه «مولانا اوچتوه یې» ډکور ودبوجه
دپاسه نغدې روپۍ پرتې وې هغه می راواخیستی او ورمې کړې او ما وې ډاکو
هم اوچته کړه . کوره یې هم اوچته کړه ، قرآن شریفونه اوپتکې پاتې شوې هغه
ملایانو تالاکړل . ملایان هک پک پاتې شو وروسته یې بیا دمړې خاوند
ویل چه دمړې سره احسان ونه شو . هغه ملا چه بله ورځ کوره منډې ته وړې
چه خرڅه یې کړي دشموزو خان صاحب وړسې ورغلی دی او کوره یې په زوره
ببر ته اخیستی ده .

دشریعت په وراندې خو دا پردي مال و دوی ته یې اخیستنه جا
نه وه خو ددوی په شریعت څه کار وو . زمونږ کلی کښې بوسهۍ و هغه به و
اسلام اسلام نشته هسې ګونګوسی دی چه دملایانو داعمل وی دمقتدیانو بخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه موده خو ملایان د سخات د دایرې نه لاس واخیست بیایې پخپلو کښې
جرګه کړې ده که مونږ دا کار پریږدو دا د دومره موده مودا کار کړی دی نو د عوامو
توجه به ډانه وګرځي وایي به چې دا ملایان نه پوهیدل او عبد الغفار پوهیږي نو بیا
یې د سخات طریقه د پخوا په شان شروع او په کوم ملا چې به یې لږ غوندې شک
راغی په دایره کښې به یې نه پرلښوده .

په دې کښې د ملا یانو . غږیانو څه قصور نشته مونږ قام پخپله کوم یو. چا ته چې
د دین او مذهب ټول واک او اختیار ورسپارو او د تعلیم او تربیې غم یې نه کوو
د دروازه په دروازه « وظیفه راوړئ خدای مو وبخښه » وایي . د دومره لوی ذمه دارۍ
د پاره په دې طریقه خپل دیني استاذ تربیه کوو . دا زمونږ خپله ګناه ده حقیقت
دا دی چې کله مونږ ډه مسلمانان شو، نو بعضې هغه دهنده وانو د وخت رسمونه، رواجونه
مونږ پرې نښودل او لکه څنګه چې هغوی دژوند د مختلفو شعبو د پاره بېلې بېلې دلې
جوړې کړې وې هغه هم په هغه شکل کښې مونږ جاري او ساتلې ، خکه چې دلته چې اسلام
راغی نو هغه د مذهب (تبلیغ) په لاره راغی د سیاست (توري) په لار راغی، نو مونږ
د مذهب د حقیقت نه چا خبر نه کړو او لا تر اوسه پورې خبر نه یو. دا د کاسټ سیستم
روایتي (عنعنوي) اثرات دي چې یوه دله به د مذهب د خدمت د پاره وي یوه دله
به د حکومت کوي، یوه دله به تجارت کوي او یوه دله به عام خدمتونه کوي. دا په اسلام
کښې نشته بلکه په اسلام کښې علم په هر مسلمان او مسلمانې باندې فرض دی. زمونږ د
ملایانو د دنیایي علومو او سیاست خوا ته توجه نشته او زمونږ د دولتمنو خلکو د دیني
علومو خوا ته توجه نشته نو خکه مونږ په دنیا هم خوار یو او اخرت به موهم خواروي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوازې خوداند د داسی ملا یانو دلاسه مونږ ته نور هم ډیر نقصانونه رسیدلی
دي . په مونږ کښی چه دکار او خدمت سړی پیدا شوی دی دوی پرې یا دوهاب
فتوه لګولی ده یا دهند ویا دکافر او په دې نومونو یې له خدمته پاتی کړی دی نه یې
پخپله دخلکو خدمت کړی دی اونه یې بل ورته پریښی دی . بی کاره او بی کسبه
لمونځ اداکوه او ډوډی خوره .

واده سنادي :

زمونږ سنادی ډیری خوندوري دخوشالی نه دکی وي چه هلک به زلمی
شو نو مور اوپلار به یې ورته دخپلی خوښی چنغله لټوله د هلک او جنی نه به چه
پوښتنه نه کوله اونه دهغوی خوښی ته چا کتل . خوینديې میندې به وکړ خپلې
کومه کورنۍ اوجینۍ چه به یې خوښ شول . دجینۍ دمور سره به خبرې وشوې
د مور په ذریعه به پلار هم خبر شو چه دواړه به راضی شو نو د هلک له کوره به څ
سبځې لاړې اوکوټ به یې وکړ بیا به دکوژدې ترتیب ونیول شو . په دې وخت کې
زمونږ خلکو که خانان که غریبانان وو تولو دخور اولور په سر هر چا دخپل حیثیت
اندازه ولور اخسته . دنابالغو جنکو کول اوورکول هم رواج وو تر دې چه تی پورې
ماشومانو کوژدنی به کیدې . کله ناکله به داسی هم وشوچه نه به هلک پیدا شوی
نه به جینۍ زړه بدلې وه چه میندو اوپلرونو به یې سره وعده وکړه چه دیو مور و
زوی وشواو ددې بلی خوا لور وشوه هغه به یې یوله بله سره ورکولې . داقسم جینۍ به
هیڅاکولی نه شوه هلک جینۍ که به په ورکوالی نامزد شوي وو چه کله به لوی شوک
هغوی به یو بل خوښ نه ونو هم دیوه بل نه خلاصیدلی نه شو خو چه دواړه بندو به

(c) ketabton.com: The Digital Library

شروع شونو د خپلو خپلوانو او کلی مالت جینکی به لا د وا ده نه خوشحورځی مخکښی
هلک کالله ته راغونډ ېږي تنګ تکور به یې کاوه . د شپې چه به دکاره وزکاړی
وي نورا جمع به شوې د منکی او مجمی سره به یې بنکلی بنکلی مسړی ویلې زما د
ښکو دا تنګ تکور د پرخو بسیده و دونه به دهر چا د خپل توان او طاقت سره سم
د خانانو په دونو کښی به ډنګ ډونګ او دوم دام زیات وو . د پرې ورځی به
دونه پخپلو خپلوخپلوانو او دوستانو به د پرې اچولې وې کوربه د بنځونه دک د
جرې به د سږ دونه دکې وې . جنجونه به وو د هر چا جنج به بهل وتوپک او غږ ښونه
ملا صیدل د می به هم پکښی کړ ېدې او خلکو به ورله روپۍ ورکولې اکثر به نیزه
ی هم کیدله . د نیزه بازی د پاره به خلکو سنبه سنبه اسونه ساتل او د نیزو پرکتس
ی کاوه د نیزه بازی د په موکی به ورته روپۍ اښودل کیدې چه چا به موکی یو -
و هغه روپۍ به د هغه شوې دواده ورځ به مقرره وه چه هغه ورځ به شوه
د سحر د وړی د به ډوخوړل شوه که د ناوې کور به لیږې وخلک به د د وړی د
د سره سم روان شوا وکه د ناوی کور به نزدې و نو خلک به مازپښین ورروانیدل
د به ځان ته بهل تنګ تکور جوړ کړی ډ سازیانو به ورته په کوڅه کښی ساز غږ اوه
ل سورتی به یې ورته وهل او بنځی به د دننه کورکې ورته کړ ېدې چه سبا به یې
د راوړله په دې شپه به بنځی په جمع روانې شوې نکریزې به یې په سر وې
ونه به ورسره وو شمع به پکښی بلېدې لوی لوی مشالونه به یې جوړ کړي وو
ین پرک سره و په لاره به یې سند ې ویلی د د وی د حفاظت د پاره به څوکسه
مخکښی او څوکسه د د وسته روان وو چه د ناوې کورته به ورسېدې . اول

(c) ketabton.com: The Digital Library

به یې نکړیزی وګډولی او بیا به یې هغه نکړیزی هغه جینۍ ته په لاسو اوپښو پ
کړې، ناوې به دخورد خونه په کوټ کښې ناسته وه همزولی به تړې چاپېره
ښځې به تړی واپس کلی ته راغلی سبا له به نو اوښځې په ورا اوجنج لاړل ښځې
ورغلې او نارینه به بهر په حجره کښې کښېناستل ملا به راغی نکاح به یې وتړله
به وشوه دم به ډول وواهه دم به ښادی والا وته آئینه ښودله اوپیسې به یې ت
چا به کلان ورکول اوپیسې به یې تولولې بل خواته به باټ په غوږ ونوکښې کوتی ا
مدح به یې ویله چا به سپیلنی لوکی کول روپۍ به یې اخیستی که دچا به خوښه وه ک
دشرمه به یې غږ غوږ نه کاوه اوروپۍ به یې ورکولې لنده داچه یولوټ به وملا ص
هم بې روپو نکاح نه تړله چه نکاح به وتړل شوه هلک به دخسر کورته ننووت پ
به وخوت جامی به یې بدلې کړی نوې ډولي جامې به یې واغوستې خپل خپلوا
دوستانو به پرې پټاسې، غوزان اوپیسې نوستلې اوماشومانو به تولولې
به دواده دپاره دتوان په اندازه ډېری قیمتی جامې جوړ ېدې داجامې ب
دواده په شپه اغوستی بیا به یې په تول عمر کښې نه اغوستی ځکه
وې چه مړه به شوه اکثر به یې جامی ملا صاحب ته ورکول کېدې، ناوی
کښې کښېنوله ډولی به بټیارانو په اوږه کړه ډولی به مخکښې وه دواده ز
ډولی سره و اونور خلک به وردپسې وو. بهر به هم دواده په زلمی خپلو
دوستانو پیسې اوشیرینی نوسته ډزی به کېدی، لویو، وړو به دخو
نه الا الاچغی وهلی لویه مېلمه به وه چه څه وخت به ډولی په کور دننه ش
به رخصت شوه دکلی خلک به هم لاړل ناوې به چه کورته ننوتله دښ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دستور یې وشوه ناوې یې پالنګ کښینولی شوه ترڅو درځو پورې یې خلک
راټول دناوې دمخ نه یې پلو پورته کاوه ناوې یې کتله، ناوې یې ستړی نه
غږولې دهلک خپلوانو یې چې ناوې کتله روپۍ یې ورکولې . په سبا له یې هلک د خپلو
همزولو سره دسخر کړه ورغی، دې ته یې سلامي ویله ښه ډوډی یې ورکړه
شوه ډوډی نه لپس یې هلک دسخر کوړته ننوت او دخوا ښې په پښو یې پریوت
هغی یې ورته له روپۍ ورکړې دښځی خپلو خپلوانو سره یې پټ ند کاوی وشوه بیا ترې
د خپل کالو نه ستون شو څو درځې وروسته یې دښځی خپلوانی راغلی دې ته یې
ل اوومه ویله دهلک خپلوانی یې هم راتولې شوې دجینی دپلار له کوره یې
جامې راوړل شوې وې هغه یې دې دهلک په خپلوانو وویشلې چې پاتې یې شوې
هغه یې دناوې وې . ناوې یې دپلار کره لاړه اوڅو درځی یې تیرې کړې . نن
خلکو ته دهغی زمانی و دونه څه عجیبه غوندې ښکاري چې جینی او هلک
بدلی نه وي دموز اوپلار په خوښه یې دوونه کېدل . په کار خو دا وچې هلک او
جینی سره خوښولی بیا و دبدی خو دنن زمانې په نسبت دهغې زمانې و دونه ډیره
ښه وه حکه چې دهغوی اخلاق ډیر اوچت اوسپېڅلی وو په هغوی کښی
ښتینی مینه اومحبت و په یورپ او امریکا کښی چې هلک اوجینی یو دبل په
دتونو اوخویونو ښه خبر شی نو دخپلی خوښې واده کوي مګر دهغوی په مینځ
ښی دومره مینه اومحبت نه وي لکه زمونږ دملک دښځو او مېړونو
مینځ چې وي . مونږ له دخپل ځینی دود او دستور اصلاح په کار ده .
ر خلک خپلی لونه دپیسو دپاره ورکوي په کار دی چې دسړیتوب په لحاظ

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلوی وشي دا نه چه ددولت دپاره خوا نه جینی بوډاته کښېنول شی .

دیوې پېغلې قصه :

زه دسکول نه په چوتی کلي ته تلم په تانګه کښی ناست وم نا کمان سب
راورسېدم ، کړمی وه سینه موجونه وهل هغه وخت کښی به په سـ
باندې پلوه نه دبهرو وو . دتانګې نه کوز شوم په پله پوری وځم چه ناڅاپه
پېغلی جینی ، دپل نه دسینه مینځ ته ورو دنګل چغی شوې چه جینی لا
شوه ما پکان ورپسی کشتی خوشی کړې دپله نه یې ښایسته لیرې د
سره وینوه غاړه ته یې راوښکله جینی مړه نه وه خوبی هوشه وه اوبه یې ت
شوې وې هلته یې واچوله مونږ دا غوندې شو چه اوبه ترې لاړې جینی ب
شوه چه په مونږ یې ستړکې ولګېدې په ژړا شوه ویل یې چه وای خد
زه ژوندی یم ؟ مونږ چه تحقیق وکړ چه داکم بخته ولې پخپل ژوند پکو د
معلومه شوه چه پلار یې یوبوډا ته ورکوله اوددې خوښه نه وه پلار ته یې و
چه پلاره زه مېړه نه کوم اوتول عمر ستا خدمت کوم خودې بوډاته می
ورکوه . پلار یې ستړکی روپوښتی کړې وې دلو ریې نه منله . چه جینی د
مایوسه شوه دخپل مرګ اراده یې وکړه . نو ددې داسی پېښوه خنیوی په کا
باید چه له جینی اوهلک نه پوښتنه کښی ځکه چه داخو ددوی د ژوند
ملګرتیا سوال دی .

فوج کښی کمیشن :

څه وخت چه زما وروره خانصاحب د پاکټری تعلیم دپاره بمبئ
عه نبی علیه السلام اجازت کړیده چه هلک ځوان نظر دغه جینی اوو ښی کړ
مدینه منوره کښی یهودا جڑاصحابی د انصارو یوے بی بی مړه کړلی نکاح بندوبست کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لار زه او مصابت په بوره ډنګ کښې یوازی پاتی شو څو درځی پس له بوره ډنګ
ه سنبارته راغلو او په لوی بازار کښې صوبیره بالاخانه ونیوه دلته به او سیدو او
سبق له به سکول ته تللو خو سبق ته مو پره نه لګیده. زمونږ یو زور لوکو
د بارانی » نومیده مونږ به ورته بارانی کاکا وې، هغه څه موده د مومن خان
ر پری د خانانو سره نوکری کړی وه د دې پری د زیات خانان په فوج کښې نوکران
ر. دی ورسره هم په فوج کښې پاتی شوی و نوده به ماته د فوج قصی کولې
چه د فوج دې نه او د عزت نوکري ده سهی چه داسی غاړې ته کوچ اچولی
ي او د فوج مخکښې روان وي د پرخوند کوي. زما خو هسې هم سبق ته نه
ر لګیده د بارانی کاکا خبری به را باندی نه لګیدلې او د دوو روپی را باندی
زوشو او د فوج نوکری ته تیار شوم. د هغه وخت زه په اتم جماعت کښې وم زه
و هلک وم نه پوهیدم چه بارانی کاکا به څه ویل هغسی به می کول هغه راته
ل چه څوک تعلیمیافته وی او د لوی خاندانه وي هغه ته فوج کښې د ایرکټ
یشن ورکول کیدی شی او نیغ په سرداری اخیستل کیږی. ده او د
ونکی په درجه کښې فرق نه وي د دې د پاره د هندوستان وایسرای ته درخواست
ږی د هغه په منظوری د ایرکټ کمیشن ورکول کیدی شی. نو ته یو درخواست
وایسرای ته نوم ولیکه چه په ډاک کښې ولیږو. د خانصاحب یو اشنا وچه فضل محمود
میده مونږ دواړه ورغلو په هغې مو درخواست ولیکه او د کمانډران چیف
نوم مو په ډاک کښې واستاوه. دا راز ما او بارانی کاکا خان سره پټ وساته
ی پرې پلار خبر که او نه مو د هغه سره مصلحت وکړ. د ډیرو موده تیره شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه په لسم جماعت کښې وم زمانه د اخبره هېره وه چه د مرکز نه زمونږ د پت
کمشنر ته یو حکم راغی چه زما متعلق تحقیق وکړي چه زما څه حیثیت دی؟ ا
زما د خاندان څه حیثیت دی؟ د پټې کمشنر تحصیلدار ته حکم ورکړی و او تحصیل
پټواریان مقرر کړی وو چه زمونږ جایداد معلوم کړی پټواریان چه زمونږ کا
ته تللي دي یوه عجیبه تهوقه وشوه . په دې وخت کښې زمونږ په کلی کښې یوسړ
چاوڑلی وجرګې په هغې کښې زما د تره زوی د شا صاحب خان مشر و
شمروزخان زمونږ د شپږ و نورو نوکرانو سره بې ګناه او خطا خوار لس کاله قب
کړی و . پرنګیانو جرګې د انصاف او امنیت برقرار ولو د پاره نه وې جوړې کړ
بلکه پرنګیانو جرګې په پوره تدبیر د دې غرض د پاره جوړې کړې وې چه په جر
کښې انصاف نه کېږي ، پرې وې ، جمې وې ، او اکثر چه به ګنهګار سړی په سف
یا په بلاو او رشوت خلاص شو ، نو مخالفې دلی به د بدل اخیستلو کو ښښ
کوو ، او په داشان به د ښمنئ پیړو په پیړو چلیدلی او داسلسله به روا
پښتانه به پخپلو کښې ارم وی او مونږ پرنګیانو ته به یې توجه نه وی . صاد یواستن
کمشنر سره د جرګو په باره کښې پخپله خبرې کړی وې چه په دې جرګو کښې انص
نه کېږي ، په جرګه کښې که د مجرم د دلی سړی مقرر شی هغه که هر څومر
ګناهګار وی هغه بری شي او که د هغه د پرې سړی پکښې نه وی ، بلای و
څوک د رسوخ خاوند یې سفارش ونه کړی که هر څومره ګناه وی هغه پکښې لا
نو د دې قسم جرګو نه د حق او عدالت څه امید کېدی شی ؟ یوازې استنت ک
نه هر پرنګی په دې خبره پوهیده او د همدې مطلب د پاره وی د جرګو سب

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړ کړی، اوښنګ کړی و. زمونږ ه قوله کتنه وته د دوی خوراک وه څه چه به مونږ کتل
هغه به پوليس، وکيلانو، جرګه والا او بيا جيل والا وو رانه واخيسته او زمونږ بچی به
په خالی سيدان پاتی شو. تاسو فرانتير کرايم ريګولېشن ايکټ (د سرحد جرايمو قانون)
وګورئ هيڅ چا به داسی ظالمانه شړناک قانون جوړ کړی نه وی لکه دا قانون چه
انګريزانو په مونږ چلاوه. په دغو ورځو کښی دا اوازه خوره شوې وه چه په دغه مرګ
کښی زمونږ جايداد هم ضبطيږی او داخو په سرحدی قانون کښی يوه معمولی خبره
وه نو چه څه وخت پښتوړيان زمونږ د جايداد معلومولو د پاره راغلل نو زمونږ يقين
د شوچه دا اوازه د بنسټيا ده زمونږ په خاندان يو ويجوړ شوچه هم موسمي
بی ګناه قيد شول او هم موجايداد ضبطوی. مونږ د هرګوښښ وکړو چه خپل قول
جايداد پښتوړيانو ته ونه ښيو څه ناڅه جايداد موو د نه پټ کړو خو هغوی پخپل ريډټ
ښکی ليکلی وو چه دوی د هر جايداد لوری قول يی مونږ ته ونه ښوده زمونږ په دې
راز پښتوړيا نو ځکه پرده وانه چوله چه زمونږ د کورنۍ د مشر انو، د حاکمانو سره لکه
د نورو خانانو په شان ناسته ولاړه نه وه کومو کسانو چه به د پوليس او حاکمانو سره
ډاډ ګ ساته د دوی کمانی به يی ورته کولې د دې د پاره چه قوم پرې وخوړی او
خپله يی هم وخوړی اکثر به د دوی د بلو دلالان وو. زمونږ پخپل جايداد قناعت
مونږ د ساته کول. دوی به هم ښه د جايداد خاوندان وو خو حرص په مخه
نه ښتی وو او د حاکمانو سره به يی راز باز ساته. بابامی پيښور ښار ته راغی مونږ
ښار کښی تعليم ته د پره وو، د پر غمجن و د اقوله قصه يی راته وکړه مونږ هم
په شوچه سبا له می بابا د پښتی کمشنر ته ورغی ورته يی ويلی چه زه يو عرض ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلی یم چه ته تحقیق وکړه که په دې قتل کښې مونږ ګناهګار یو نو چه څه سزا راکوی
مونږ ته منظوره ده او که مونږ کښې ګناه نه وي نو داخو انصاف نه دی چه هم مونږ
بې ګناه قید شو او هم موجاید اد ضبط شی نو هغه ورته ویلی دی چه خوک وایی
ستاسو جاید اد ضبط ښه دي ؟ بابامی ورته ویلی چه پټواریان راغلي وو او زمونږ
ټول جاید اد یی ولیکه . نو هغه ورته په خندلي دي او ورته یی ویلی دي چه داخو
زوی لاټ صاحب ته د ډایرکټ کمیشن د پاره درخواست ورکړی دی اولاټ
صاحب مونږ ته حکم کړی دی چه دده د جاید اد او حیثیت تحقیق وکړئ او
ته یی معلومات راکړئ . مونږ چه دسکول نه راغلو بابامی بالاخانه کښې ناست
خوشاله وچه مونږ یی ولیدو په خندا شو ماته یی وویل چه شاه تورپه (هغه به ما
مینی نه شاه توری وایه) داخو تولې ستاغومې دی بیایی راته تولې خبرې وسپړه
بیا زما د اکثری معاینه وشوه زما صحت د پرسنبه او سنبه ځوانی می وه .
څه موده پس د برتی د پرنکی حکم پسی راغی چه په فلانی تاریخ حاضر شه په دی
کښې خانصاحب پس د دری کالونه د بمبئی نه راغلی او د باقی تعلیم د پاره لندن
وهغه هم راسره د برتی پرنکی له لاړ . د اپرنکی سنبه سری و مونږ سره یی سنبه سلوک
زما و د ور خانصاحب ته یی د لندن د تللو په باره کښې د پرمعلومات ورکړل نصیحت
یی ورته وکړ د خپلو تجربو نه یی خبر کړ ، دغه وخت د خانصاحب هم د ایرلینډ
زه دې په فوج کښې داخل شم . خانصاحب څو ورځې و روسته لندن ته لاړ ،
د میټرک امتحان شروع وو دوه مضمونه پاتی و ما د خوشالی نه امتحان پریښود چه
برتی د پرنکی حکم راغی چه ته راشه چه زه و رغلم هغه راته وویل چه ستا د ایرکټ کمیشن

(c) ketabton.com: The Digital Library

منظور شوزه د پرخوشاله شوم په دې فکر کښې وم چه پلتن به ښه وی که رساله؟
زما د هم زولو دارایه وه چه تا د پاره پلتن ښه ده یو خو دې صحت ښه دی بلان
دې مزیت دی اوقد دې هم شپږ فوته او دری انچه دی. په دې وخت کښې
زمونږ د پردی زرداد خانان چه په کومه رساله کښې وو هغه د چیکب اباد نه پښور
ته رایلد لشوه هغه خانان زمونږ ه دوستان وو زه او بارانی کاکا یې لیدو ته لاړو
صافو جبان چپړی لیدلي نه وو کله چه په لوی افسر راغی او فوجونه به یې سلامی له
ورتللې دا می لیدلي وو چه ښې ښې وردی به یې اغوستې وې د کمپنۍ د وړاندی
به یوازې یو پرنګی او یو دیسی سردار دوان و، کریچونه به یې اچولی وو.

بارانی کاکا خو ماته ویلی وو چه د پرنګی او دیسی افسرانو فرق نه وخو چه ما د
دیسی سردارانو کورونه ولیدل او د پرنګیانو بنګلی می ولیدی نو په هغو کښې د ځمکی
او اسمان فرق و مونږ ولاړ وو چه یو لفټین راغی، زه د خان سره چه رسالدار
و ولاړ وم. دې خان خپل سر انګریزی جوړ کړی و نو انګریز دا برداشت نه کړی
شو نو په سپکه لهجه یې ورته وویل چه خانصاحب تم بھی انګریز بنتا چاهتا ہے؟
یعنی ته هم انګریز جوړ بدل غواړی دی غریب ورله جواب قدر ی ورکولی
نه شو ما چه د احال ولیده نو د دې نوکری نه می زړه تور شو او په زړه کښې می
ووې چه زه خو به د پرنګی د دی قسم خبرې برداشت نه کړی شم. څه موده پس
حکم راغی چه ته په فلانی تاریخ مردان ته حاضر شه ماته یې دکاید په پلتن
کښې کمیشن راکاوه. دکاید یو ه پلتن او بله رساله وه کمانډر به یې یوو.
دا به همیشه په مردان کښې وه د نورو فوجونو په شان به بدلیده نه او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هندوستان په فوجونو کښې د بړه یا ده ده په دې کښې به د پنجاب اود
سرحد د لویو لویو خانانو او جاګیر دارانو زامن په نایکی، لایسی او د فغه داری
برتي کېدل او زه یې پکښې په سر داری واخیستم خو زما زړه د فوج نه تورشوی
و د بابا می خواهش وچه زه د انوکری قبوله کړم ځکه چه په دغه وخت کښې
دا د بړه د عزت نوکری ګنهل کېده خو ماونه منله. بابا می خپه هم شو خو د مور ما سره
اتفاق و د هغې د پرنګیانو نوکری نه خوښېده

بیا تعلیم لپسی:

ما د نوکری په خوشالی کښې سبق میتوک کښې د امتحان دوران کښې
پریښې و د اکال خو زما په دې کش مکش کښې ضایع شو بل کال مې بیا د تعلیم
اراده وکړه. زمونږ د کلي د مولوی عبد العزیز صاحب د کشر و رور عبد الحلیم
سره می چه زما هم جماعتي و سلا مشوره وکړه چه بیا تعلیم شروع کوو مونږ
او د بدلي وو چه کیمل پور کښې چه کوم سکول دی په هغه کښې د تعلیم سنه انتظام
دی د استاذانو هلکانو ته د بړه توجه وی او سنه کوشش و رسره کوی
او عربي پکښې د بړه سنه ویل کېږی. زما عربي لا نهی مضمون و مونږ د دواړو
په هم دې خیال لاړو او په کیمل پور کښې په سکول کښې داخل شو. دلته
زمونږ د پښتنو نور هلکان هم و و خو رځی مو د رسونه و ویل خو خوندي و
نه کړ چا راته د قادیان د پر صفت وکړ نو د قادیان د تللو اراده مو وکړه
قادیان ته روان شو په دې وخت کښې چه مونږ قادیان ته ورغلو حکیم
نورالدین صاحب خلیفه و مونږ د هغه کتلو له ورغلو د هغه ساده بې تکا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند اوږدې محبت خبرو را باندې د هر اثر وکړو، هغه د هر لوی عالم او
با اخلاقه سړی و مونږ د هغه سره ناست وو چې د مرزا غلام احمد صاحب
ژوی چې دا اوس د دې جماعت امیر دی او هغه وخت یې په کالج کښې سبق
وایه را اغی او مونږ رخصت را واخیست. د سکول بورډنګ ته را غلو دلته چې
څومره هلکان وو دا کشر و په خولو کښې داخبره وه «ابن مریم کی بات کو چهوړو۔
اس سے بهتر غلام احمد ہے» یعنی ابن مریم (عیسیٰ)، مه یاد وئ د هغه نه
غلام احمد غوره دی. دا آواز مونږ ته د هر نا اشنا و بیا مونږ هغو هلکانو هغه
جنتی متصبری ته بوتلو څومره چې د دی ځای د حالاتو نه خبر یدو هما غومره زمونږ
تعجب زیاتیده فکر و اخیستو چې پاتی شو که لاړ شو بله شپه خوب وینم چې یو
لوی ژور کوهی دی زه ورپریوزم یو سپین ږیری سړی لاس را اوچوی او کوهی
د غور ځپلک ونه می بچ کړی او راته وایی چې پام کوه! چې سحر شو زه او عبدالحلیم
لمانځه ته پاڅیدو ما هغه ته خپل خوب وایه هغه هم څه خوب لیدلی و لمونځ
سو وکړو. او واپس خپل کلی ته را روان شو عبدالحلیم خولاړ او بیا په پیښور کښې
په هغه خپل سکول کښې داخل شو او زه علیګړ ته لاړم.

په علیګړ کښې می په بورډنګ کښې ځای ونه مونده او په بنار کښې په یو
هوټل کښې دېره شوم. په علیګړ کښې زمونږ د ملک نور د هر پیښنانه هلکان
و او ټول په بورډنګ کښې اوسیدل. په دې ورځو کښې نواب وقار الملک د
علیګړ کالج سکرټری و د هر ښه سړی و او ساده ژوند لی و یو معلوم مونږ د
لمانځه نه پس له جماعت نه را ټولو ما ورته پښې سمې کړی هغه زما ته پښې سمې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی اوزما شکریه یې ادا کړه اوراته یې ووې چه دامه کوه مونږ پښتنو کښی د
رواج وچه دمشرانو دادب دپاره به موږ رته پښی سمولې مونږ به کله نا کله دهغ
بنکلی ته ورتللو خبرې اترې به موږ رسره کولې دهغه په بنکله کښی یو ورځ کی غونډ
جماعت وپه هغې کښی به مو یوځای لمونځ کاوه دې ټول خوش اخلاقه سړی ولوبې او
تکبر پکښی نه وه ، دمسلمانانو په مشرانو کښی دده په شان ساده ژوند مادچا
ولیدلی دې په قوم مین سړی وو مونږ سره به یې د دوستانو په شان مجلسو
اوخبرې کولې اوهمدی خبرو به یې په زړه کښی لار کوله ځکه چه دده د زړه
راوتلې وې .

په دغو ورځو کښی په علیګړ کښی کومی کومی جلسی کیدی اومسلمانانو
حکومت نه دامطالبه کوله چه دعلیګړ کالج دې دعلیګړ مسلم یونیورسټی
نامه یونیورسټی شي ، په نورهندوستان کښی دا رنګه جلسې روانې وې ا
چنده یې هم غونډولې . ماله به دې جلسو د ټولو خلکو را کاوه په هره جلسه کښ
به مې دشرکت کوښښ کاوه او دهر سړی تقریر به مې په ډیر غور اوریدلو . دک
چوتې چه شروع شوې ماته ویل شوی ووچه په بورډنګ کښی به د رته ځای
درکړو خو په بورډنګ کښی ونه شو . دعلیګړ د بورډنګ اوښار په سوسایټی ک
ډیر فرق و دعلیګړ بورډنګ سوسایټی مهذب او عالمانه وه په ښار کښی هغ
ژوند نه و اوبله دا چه برسات شروع شوی و د ښار نه کالج ته ټک راتګ هم
ګران و . په دې وخت کښی زما د رور خانصاحب چه د لندن حالات یې لې
وو ، ماته یو خط راولیږه چه ته هم دلته انګلینډ ته د انجنیرۍ د تعلیم دپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به د اکتری وکړم او ته په انجنیری وکړی . نوزه د علیګړ دکړمو په چوتو کښی کلی ته
راغلم او اباته می د خپل ورور هغه خط وښوده خو هغه ورسره اتفاق نه ؤ آخر رضا شو .
دې زده روپۍ یی د خرڅ د پاره راکړی . پی ، ان ، او جهاز کښی یی راته ځای
ونیولو خو زما د مور زما د تلو سره اتفاق نه ؤ . د هغی په غوږ کښی چا داخبره کښینولی
وه چه یو ځل ولایت تللو څوک لا ریشی نو هغه بیا د املک څه کوی . یو زوی دی لا ر دی که
دابل هم لا ریشی او بهر ته رانه شی نو ته خو به میراته پاتی شی . ما چه هر څومره کوښښ
وکړو د هغی د زړه نه می داخبره ونه ویستلی شوه . په هغه وخت کښی زمونږ د ملک
په بد حالت ؤ . پر ې جنبې او تر بګنی ډې بد امنی وه د شپی به هر چا خپله څوکی کوله چه
څوک مسلمان پښتون رانه شی او مړی نه کړی او د ورځی به د درسره ویره وه چه
چا راباندې دعوه کړی نه وی ځکه چه اکثر دعوی به په پزی جنبی او د ښمنو کېدلی
او داسی به هم کېده چه په خپله به یو سړی قصه مصه جوړه کړه او په خپلو دښمنانو به یی
دعوه وکړه . دا تولی قصی می مورته وکړی چه کوره مورې ! یا به چاوژلی یم یا به یی د
شمروز دارا په شان قید کړی یم . د دی نه خو ا ښه ده چه د تعلیم د پاره د تللو اجازه
راکړی . هغی به ماته هیڅ جواب نه راکاوه او پټ پټ به یی ژړل . نو ما د لندن
د تللو اراده پریښوده او فیصله می وکړه چه نور سبقونه نه وایم او د قوم او ملک خدمت
کوم .

دو باره سبق شروع کولو او مختلفو بنا رونو او سکولونو لیدلو کتلو او د خلکو سره
باد ل خیالات ماته د ډیره فایده ورسوله او تجربه می زیاته شوه . زما پلار د کلی لوی
خان و او ډیره د خان زوی وم خو زما تعلقات د خانانو سره د پرنه و زما د پر تعلق

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه یا نوسره وو زمانا سته او دوستی د شاخیلا نو ، تر کا نانو او لوهارانو
جولا کانو او زمینداران و سره وه د خانانو او ملکانو خو یونه او عادتونه
هم راکښی لږ و ډهغه وخت د خان د اصفت وچه یره د پرلوی
خان دی د خپلی محکی پوله نه پیژنی د خپلی محکی انتظام او
پخپله کارکول خو د خانه د شان سره مناسب نه و ماله چه با با کوما
محکه راکړې وه په هغی کښی ما پخپل لاس کار کاوه ، زما یو نوکر و
شاخیل و قدیر نومیده ، مونږ دوارو به په غوایانو کښوته سره
چلولې او د سرو بوری به می پخپل لاس ډکولې ، قدیر زما د ډیر وکوالی
نوکر و ډیر وفادار و خو چرسی و ماته به یې هم د چرسو صفتونه کول
خوزه پوه شوم چه دی ما د د ې د پاره په چرسو را روي چه بیا زه و ما ته چرس
پیدا کوم دی به یې د تاوان خلاص وی بیا می منع کړ چه ماته د چرسو صفتونه
مه کوه زما نور آشنایان او دوستان څوک په چیلم او څوک د نسوار و ، څوک
سګرټ عادت و خو زه خدای د دی تولو څیزونو نه ساتلی یم . زه چه په کلی کښ
پاتی شوم په ډیره بده سوسایټی راو ړ بدم هغوی وران کاری وو زه یې
په وړانو سر کړم هغوی جنګیان وو زه یې هم د خلکو سره وجنګولم ، هغوی
بد عمله وو زه یې هم بد عمله کولم خو د خدای احسان و چه ډیر زر یې د
سوسایټی بدله کړه او ډیرو سنو خلکو سره می ناسته ولاړه شوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوی میدان، تازه افکار

روشنفکر وسره تعلق (مخفی صاحب، مولانا عبد العزیز، مولوی
فضل ربی، مولوی تاج محمد).

مدرسې جوړول: دار العلوم دیوبند سره تعلق

شیخ الهند مولانا محمود الحسن صاحب

او مولانا عبید الله سندهی

قوم پرستی، وروسبی واده

آګره کښی د مسلم لیګ جلسه، کلی وطن کښی

تعلیم وتبلیغ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عالمانو سره تعلق :

زما تعلق د فضل محمود مخفی صاحب ، مولوی عبد العزیز صاحب دیکلی
مولوی فضل ربی صاحب او مولوی تاج محمد صاحب دګدر د دار العلوم مهتمم سره
پیدا شو . مولوی تاج محمد صاحب د بغدادی و ، د بی . ای تعلیم یی و . مذهبی
تعلیم یی د پاسه و . په اسلامیه های سکول پیښور کښی سکند ماستر و . مولوی فضل ربی
صاحب دیکلی و د دیوبند سند یافته و . په ریښتینو معنو کښی عالم او قام پرست
سړی و . مولوی عبد العزیز صاحب زما د آشنا او د سبق د ملګری عبد الحلیم ورور و
په بونیر کښی یی تعلیم کړی و . د اتمانزو د لوی ملا صاحب د خاندان و . فضل محمود مخفی
صاحب د چارسدې و میتروک پاس او انقلابی شاعر و . څه وخت چه انګریز انو
د فارس په خلیج کښی ازاده بندر ګاه جوړه کړه چه هلته به یی عربو باندې د ترکو په
مقابله کښی توپک ، تمانچې ، کارتوس او نورې وسلې په ډیره ارزانه بیه خرڅولې
پښتنو قبایلو د دی وسلو سراغ پیدا کړی و تلل به اوله هغه ځایه به یی وسلې راوړلې
او د پښتنو قبایلو کښی به یی خرڅولې ، انګریز انو چه د پښتنو قبایلو سره د اوسلې ولیدی
حیران شول چه دوی د اوسلی د کومه راوړی ، چه تجسس یی ورپسی وکړو نو ته معلومه
شوه چه د اد خلیج فارس نه د ایران او بلوڅستان په لاره افغانستان او پښتنو قبایلو ته
راوړل کیږی . نو انګریز دی خواته د وسلو د مخنیوی د پاره په خلیج فارس او د هغه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

غاړو کښې د انګرکسن ، په مشري يوه څوکۍ مقرره کړه ددې څوکۍ يو داسې سړی
په کار وچې هغه په انګريزۍ . پښتو . عربي او فارسي پوهېږی . د مخفي صاحب خلور
واړه ژبې زده دي دی يې هلته د خان سره انټرپريټر (ترجمان) لګولی و . د دغې
نوکرۍ په وجه په ده کښې سياسي شعور او قامي جذبه پيدا شوې وه . د پښتنو
په شاعرۍ کښې انقلاب ده راوستی و د زلفو او کاکل او خط و خال بلبل
په عوض يې قام او وطن غريب او بيچاره ته د شاعرۍ مخه ورکړه خوله . زه د ته
د پښتو شکسپير وايم . دده په پښتنو په برخ دی خو افسوس چې پښتنو د ده
قدر لکه څنګله چې په کار و نه کړ . په دې وړ خوکښې د تنګزو د حاجی صاحب نوی نوی
بزرګۍ شهرت پيدا شوی و د دوی تولو د هغه سره د دين د خدمت د پاره
ملا تړلې وه . حاجی صاحب د پښتنو د نورو بزرګانو په شان نه و هغه د قلم مصلح
وتش په خوله نه بلکه په عمل او په ژبتيا سره په کومو غلطو رسمونو او د واجونو
کښې چې قام ښتی و او د دين او دنيا نقصان يې پکښې و هغه يې ليرې کړ او غوښتل
د جهالت نوړې لرګۍ چې په قام او وطن را خوړې وې د هغې د ليرې کړ ده پاره يې
وښښې کاوه . د مخفي صاحب دوې په ذريعه زما هم د حاجی صاحب سره تعلق
پيدا شو . حاجی صاحب اول يخپل کلی کښې او سيدۀ خو بيا ورته د عبدالاکبر خان ملا
د تنګزو او عمر زوی په مينځ کښې يو ځای ورکړ هلته يې ابادی وکړه او د کلی نه دې خوا ته راغی
هغې په وخ په دلته د ډيرو لويو جمع کيدۀ او د ليرې ځايه يې خلک لمانځه دلته راتلل زه به هم ورتلم .

مدرسې جوړول :

زه په مشن سکول کښې د خپل هيډ ماسټر وکړم او د هغه د ورور د اکټر وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه د پرمتاثر شوی وم د هغوی قربانیو را باندې د پراثر کړی و زما هم داخیال
پیدا شوی و چه زه دی قام او وطن خدمت می وکړی . په دغو ورځو کښې زمونږ
د قام جهالت په وجه د پر بد حالت و . نه د حکومت له خوا څه انتظام و او نه د قا
له خوا . د تعلیم کولو هیڅ انتظام نه و او که په کوم کلي کښې به پرایمری سکول و هم
نه هم ملا یا نوڅوک نه پریښودل نو ما غوښتل چه د پښتنو ډیجو د تعلیم د پاره
ملک کښې اسلامی مدرسې جوړ ولو کوښښ اوکړم او خپل ژوند به په دې خدمت
کښې تیر وم . په ۱۹۱۰ع کښې ما او مولوی عبدالعزیز صاحب یوه مدرسه په اتمانز
کښې جوړه کړه او دنورو مدرسو جوړولو د پاره مو په نورو علاقو کښې دوره شروع ک
د خلکو توجه می د علم طرف ته کړه او د پښتنو په زړونو کښې می د علم د ضرورت احس
پیدا کړ او دغه شان مو ورو ورو په مختلفو علاقو کښې د مدرسو جوړول شروع ک
او په لږ وخت کښې مو د پرې مدرسې جوړې کړې . زمونږ کلی ته نږدې د مفتی
نه خلک راغلل چه ته راشه مونږ دلته یوه مدرسه جوړوو زه لاړم خلک می راتو
کړل د علم د ښېګڼو په باره کښې می ورته خبرې کولې . په دې کښې یو ملا راغ
چترالی (چترال زمونږ د اتمانزو د کلی په میره کښې یوه باندې وه) ملا به یې و
ویل دده سره تو پک هم و او کتابونه هم درسره وو . مونږ سلا مشوره کوله خبر
کولې ملا صاحب پاڅېد او ویې ویل چه زه د اتعلیم چې عبدالغفار خان شروع ک
دی نه منم او نه د اتعلیم دی او هغه ویل چه په دې مدرسو کښې چه کوم کتابونه
کښې ي نو په هغه کښې دی چه : « ایک کتا بھونکتا ہے » یعنی یو سپی غاپی او به ل ک
کښې لیکلی چه : (A big fig) یعنی یو غټ انځر . د اخه دی ؟ د اعلم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوزه راغلی یم دده سره فیصله کول غواړم چه په کتاب راسره فیصله کوی که ټوپک؟
ما ورته وویل چه ته سنبه پوهیږی چه زه دتوپک کار نه کوم او دغلته چه ته اتمانزوته
څې زمایو تربور دی چه محمد خان یی نوم دی هغه ته دتوپک نوم واخله نو پخپل
خان به ییوه شي چه ته خومره سړی یی ملا صاحب علم خدای او رسول په مونږ
مسلمانانو فرض کړی دی او چه تاسو خلک ددې انګریزی مدرسونه منع کوئ نو
په کار دی چه هغوله پخپله خو دتعلیم انتظام وکړی نو چه تاسوهم ودله څه انتظام نه کوی
او مونږ هم ددوی دخدمت نه منع کوی نو ددی قام دې خدای مل شی .

پښتون یوژوندی قوم دی دقومیت او قربانی مادې هم پکښې شته خو
دپښتول غواړي . قومونه خوتش په کُف وچُف نه رابیدارږي دقومونو ژوندی
کولو او بیدارولو د پاره داسی کسان په کار دی چه بی غرضه وي دیانت داروی
دیانتدار وی او دخدای د پاره دخپل قام خدمت ته تیاروي چه داسی کسان
په کوم قام کښې پیدا شی نو دهغوی په کوښښونو هغه قام کښې مینه، محبت، همدردی
دردوی او غږیزولي پیدا شی هغه قام اباد شی مونږ بی همتو او خودغرضو خانانو،
ملایانو او بابا کانو تیاري ته کښېښولي یو ځکه خو زمونږ دقام داحال شو . که چیرې دا
کارونه په تلش کُف او چُف ، وظیفو او دعا کانو کیدلی شوی نو زمونږ ډخپل رسول ﷺ
په دومره کلواونه ولی کول دومره قربانی ورکولې ، تکلیفونه او مصیبتونه بدلی نه ول
خو دجماعت په کوټ کښې به ناست وای دعا به یی کوله دهغه په شان دعا دچا کیدی
شوه ؟ کار به کیده ، قام به اباد ډډه خوخبره داده چه بی عمله دعا دخدای په نزد
نه قبلیږی په دې کښې دپښتنو څه ګناه ده ؟ دوی ته چه هرچا جونګه جاړه اچولې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوي ورته راتول شوي دي شکرائي يې ورکړي دي دهغوی په مخ کښې يې منل
وهلی دي خدمتونه يې ورته کړي دي ملکانی اوسيرنی يې ورکړي دي تردې
خوښدې لونه يې هم ورکړي دي خوهغوی دا بدبختان په هغه دين هم نه
پوه کړي. هغوی داګمان کاوه دازمونږ دين او دنيا نجات دهغه دی خو
دوی سره نه دين غم و اونه دقام هغوی سره خپل غم وهغه څه يې چې خا
کړي دي قام. وطن او دين ته يې هيڅ نه دی کړی.

زمونږ دسکولونو مخالفت ملايانو شروع کړو اوويل به يې چه په ډ
کښې اردو ويل کيږی. اردو يوه بهانه وه کښې دجماعتونو نه زمونږ په سکول
کښې دينی تعليم هم زيات و اوهم په ښه طريقه و اوهم ورسره دينی تربيه وه.
دلمونځ معنی چاته نښودلې نه ده اومونږ په زړګونو نجونو ته دلمونځ معنی ورزده
ده. خبره داوه چه دازمونږ مخالفين چه وو دوی خو په اسلام څه کار نه
که نه اسلام خو علم په نړۍ اوښځه فرض کړی و اودايی ويلی دی چه په علم ښ
ان ترچينه لاړشی چين کښې خو منيه. خلاصه اودعربی علم نه و داسلا
دعلم دحاصلولو غوښتونکه داملايان دښځيا په علم مين وی نو دوی به زم
ملا تړلی وای. دوی خو دا فکر کاوه که پښتنو کښې علم اوپوهه راشی زم
دکان به سوړ شی اودې ته يې فکر نه کاوه که په پښتون قوم کښې علم راشی ق
به ترقی وکړی اوچه قام ترقی وکړی مونږ به هم ترقی وکړو. دوی خو دقوم نه
نه دي ددوی نه بيالاخانان ښه وو خکه که په قام کښې پوهه راتلله نوخانی
يې هم نقصان رسيده خو خانانو مخالفت خولا پرې نه ده چه وې نه کړ بلکه زم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر امدادي هم کړی دی . مونږ به ملا یانو ته ډېره تسلې ورکوله چې که دا قام
ترقي وکړي تاسو به هم ترقي وکړئ خو دهغوی په دماغ کښې دا نه راتله چې
موندي پېښتون قام او ورسره مونږ ترقي کولی شو . دوی دومره دتیارخوړې
او بیکاری عادت شوي وو چې دجد وجهد ماده پکښې پاتی شوې نه وه (زما
په یاد دی چې یوه ورځ په سیوا کرام کښې دکاندهی جی سره ډېر خلق راجمع
شوي وو ډېر ارتنې نه پس هغه خلکو ته داخبره وکړه دا نن چې مونږ غلامان
او ذلت ژوند تېروو داځکه چې مونږ ډېره لویه ناشکری کړې ده او د
خدای په نزد ناشکری ډېر لوی جرم دی مونږ ځکه په مصیبت مبتلا
چې خدای لاس اوپښې راکړی دی او مونږ ورنه کار نه اخلو او زمونږ
ځمکې ډېلې یعنی برهمنانان تیارخواره اوبیکاره شوي دي دې نعمت
کفران په وجه دخدای له طرفه په مونږ دالعنت نازل شوی دی په ګیتا
کې یې راوړی دی چې څوک کار نه کوی اوخوراک کوي هغه غل دی .)

په دغه وخت کښې قام دملا یانو او بابا کانو په جال کښې ګیر و او دهغوی
څرلاندی دبل چا اثر یې لانه ومنلی اویو قام هله دچا اثر قبلوی چې اثر والا
ځانې پیدا شی . کله چې ملا یانو زمونږ دمدرسو مخالفت شروع کړو نو د
ومدرسو دپاره مونږ دتړنګزو حاجی صاحب سرپرست وتاکه نو په دې
بقیه مونږ څه ناڅه دملا یانو دتخریب نه بچ شو . دحاجی صاحب په وجه
مونږ ته په دې کار کښې ډېره کامیابی حاصله شوه . حاجی صاحب میوصلح
پسند او د نورو بابا کانو غوندی نه و دایې لوی صفت وچې دنورو بابا کانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوندې چا د ایرکټ یا ان د ایرکټ په بیه نه شو اخیستلی، پرنګی په
کار کښې د پراستاذ و هغه د مسلمانانو د زاکیر ولود پاره مسلمانان سا
و هیڅ ملا او باباتری بچ کیدی نه شو د غه یو حاجی صاحب تری خدای
و. زمونږ د مدرسو په مخالفت کښې هم د پرنګیانو لاس وکه څه هم د ملا
پکښې خپل غرض نه هم وو.

دیوبند سره تعلق:

د حاجی صاحب او د هغه ملګرو، مخفی صاحب، مولوی فضل ربی او
تاج محمد دوی سره خو زما د اول نه تعلقات او تک راتک و خو د ډې م
د جور ولو په وجه زمونږ تعلقات نور هم مضبوط او زیات شوزه به کله کله
لیدو او تبادل خیال د پاره (کلدر) ته ورتلم او دوي به هم چې کله د حا
صاحب لیدو ته راغلل زما لیدو ته به هم اتمانزو ته راتلل، مولوی تاج مح
د کلدر د دارالعلوم مهتمم و او د انتظام نه علاوه درس به یې هم ور
نو د پر به له کلدر نه بل چیرته نه تلو. مخفی صاحب او مولوی فضل ربی صا
به د پر راتلل او د مولوی فضل ربی صاحب په واسطه و رو و رو زمونږ تعلق
د دیوبند سره پیدا شو. په دې شپږو ورځو کښې د دیوبند دارالعلوم پرنس
حضرت مولانا محمود الحسن صاحب د پر نیک، پاک، خدای پرست
عالم و او تش کتابی عالم نه و د علم سره یې عمل هم لرلو او په دې فکر کښې و چې
به څرنګه د پرنګی د غلامۍ نه ازاد کړی شو؟ زمونږ هم دا فکر و او د ملک
زمونږ مشترک مقصد و. مونږ چې به دیوبند ته لاړو نو د مولانا سر

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دیوبند کښې د پرپښتانه طالب العلمان وو ، مونږ د پښتنو طالبانو
دلیدلو په بهانه دیوبند ته تللو ، د مولانا یوشاکرد میا عُذیر کل به زمونږ د
خوب او خوراک انتظام کاوه . د مولانا صاحب په ذریعه ورو ورو دهغه د ملګرو
سلا یانو سره زمونږ پیژندګلوی پیدا شوه چه د هغوی نه مولوی عبید الله
سندهی او محمد میانو مونه راته یاد دي او دنورو د پرړانه اوس هیر شوی
دي . د خورجی یو مولانا صاحب زما د پرا شنا و ، د پرمحبتی سړی و زمانه چه
به خبر شو دیوبند ته به راغی د پر د خوراک څیزونه به یې د ځان سره مونږ ته
راوړل د خورجی اچار او کولچی د پرې مشهور پې دي افسوس چه زما د مولانا
نوم هیر دی شاید زما په هغو د کوشو د نوټ بکونو کښې وي . د ښتیا خبره دا ده
چه زمونږ پخپلو کښې د پره مینه محبت و د چا چه مقصد او نصب العین یو وي
هغوی کښې همیشه مینه وی ، محبت وی هغوی کښې به رأی اختلاف هم وی خو
دا اختلاف د هغې د لی د پاره رحمت وي : دا نن چه تاسو په ډلو کښې پرې جنبې
وینئ تاسو تحقیق وکړئ د هغوی مقصد او نصب العین یو نه وي ځکه خو اختلاف
رای د رحمت په ځای د هغوی د پاره زحمت شی ځکه چه دوی دا کار د خدای
او د خدای د مخلوق د پاره نه کوي د خپل ذاتی غرض د پاره یې کوی د نفس
لاړې نه پرې وي او د خدای لاره یوه وی نو د خدای د پاره خدمت او
پرې جنبې دوه متضاد څیزونه دي .

د مونږ زیاتې خبرې اترې ، سلا مشورې او مشورې به مولانا محمود الحسن
صاحب او مولوی عبید الله سندهی سره وی . په هغو د ځو کښې د پرنګیانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پرو عب و داب و او دخلکو په زړونو کښې دهغوی د پره وپره ناسته و
او دهغوی دمخبرانو هم یوه زوره وره سلسله وه نوچه مونږ به هرکله دیوبنا
ته تللو نو دهغوی دوړې به مو دیوبند نیغ تکټ نه اخیسته مونږ یوتیس
دی خوا یاهغه خوا ډکا دي نه کوزیدو وبیا به پیاده یا په بله ذریعه پټ دیوبند ته
ورتللو چه پرنګیان را باندې پوه نه شي. مولوی عبید الله سندهی په دیلی کښې
دفتحپوری لوی حومات سره یو ځای اخیستی و او هلته به یې هلکانو ته دقرآن
شریف درس ورکاوه او کوم هلکان چه به یې . ای پاس وهغوی له به یې
پنځوس روپۍ دمیاشتی وظیفه هم ورکوله او درس به یې هم مفت ورکا
اوهغه وخت پنځوس روپۍ ډیر شي و . دهغه داخیال وچه دمسلمانانو
تعلیمیافته زلمو کښې به زه دقرآن شریف درس په وجه دحریت اوخدمت
جذبه پیدا کړم لیکن سندهی صاحب پخپل مقصد کښې کامیاب نه شو
سندهی صاحب لوی عالم و دهغه په شان په قرآن کریم څوک نه پوهیږ
او نه یې دده په شان درس ورکولی شو خو په مسلمانانو کښې دجد وجهد ما
پاتې شوې نه وه کښې همدغه د پرنګیانو په ملاسو کښې هندوانو هم تعلیم کړ
و . په هندوانو ددې تعلیم یوقسم اثر شوی و او په مسلمانانو بل قسم اثر شوی
په هندوانو کښې یې دخپل قام مینه اودهغوی دخدمت جذبه پیدا کړې
او په مسلمانانو کښې خدمت اومینه خو پر یږ ده هغوی دقام او ملک نه خه
هم نه وو . دمولانا په شاګردانو کښې دهغه د پرنزدې شاګرد چه دسندهی و
پرې ډیر اعتماد و . بی . ای پاس وقرآن یې دمولانا په ترجمه ختم کړی و

(c) ketabton.com: The Digital Library

باوجود ددې تولو خبرو د پرنګیانو مخبر وخوت . دسندهی صاحب د دوستانو
او شاګردانو اوتو لو حالاتو د ایری به یې هره ورځ حکومت له ورکوله . دسندهی
صاحب د شاګرد رشید چه دغه حال وي د نورو به څه حال وي ؟ دقام مینه او
خدمت او د حریت جذبه یو ازی په تعلیم نه ده . مونږ چه دقام د خدمت او ازادۍ
تحریک شروع کولو زه په ښارونو کښې تعلیمیافته وپسې دیر وکر خپدم ما په
هغوی کښې داسې خلک پیدا نه کړی شول چه د خدای د پاره د قام خدمت ته
یارشی ، د بابا کانو او بزرګانو مې د پرخاطر ساتلی دی او خدمت مې کړی دی .
نه دې طمع چه دده خوزر ګونه مریدان دي که دی یوځل زمونږ ملګری شی
د پرخلک به زمونږ ملګرتیا اوملاتړ وکړي . دملایانو مې د پره خوشامنده کړې
ده او د پرې منډې مې ورپسې وهلی دی خو د پرولږو داسره ملګرتیا کړې
ده لکه په اوړو کښې مالګه . اوچه د دوی نه مایوسه شوم ښارونه مې پرپښودل
کلوبانډ وته ووتلم او عوامو ته ورغلم په څلورو میاشتو کښې دومره خلک داسره
پاخیدل چه پرنګی ورنه وو پریښده . زه دولس کاله په تعلیمیافته وپسې کوخپدلی
خو دوی نه مایوسه شوم او کلوته ووتم نو په زرګونو خلک داسره ملګری شول .

شیخ الهند صاحب او سندهی صاحب :

مونږ چه به دیوبند ته لاړو نو شیخ الهند صاحب به سندهی صاحب ته
هم خبرو ورکړ اکثر به ذی دیوبند ته راغی او کله نا کله به زه دده لیدو او سلامشورې
ته دیلی ته ورغلم . دسندهی صاحب ځای دفتحپوری جومات سره و
زه به نیغ دهغه ځای او درسګاه ته نه ورتللم ځکه چه دده په ځای کښې به

(c) ketabton.com: The Digital Library

سی. آی. ډی. همیشه حاضر و او دا داسی وخت و چه چاته به زمونږ علاقه کښی
مولانا ابوالکلام ازاد جاری کړی رساله الهلال راتله نو پولیس به ورپسی و
حکومت به په تور لست کښی لیکه او چه حکومت به لږ په چا باندی گمان شو چ
ده په زړه کښی د ازادی او قام او ملک مینه او خدمت جذبه پیدا شته نو
دې خدای مل شته . ځکه به زه دهغه د سکاته نبیغ نه تللم فتحپوری جو
ته به لاړم چه لمونځ به وشو په جومات کښی به موسره ولیدل که خبرې به مو
وی په جومات کښی به تمامی شوې . سندهی صاحب به خپل ځای ته لاړ او
به خپل نور کار پسی لاړم او که خبرې به خلاصی نه شوې نو سندهی صاحب به ز
چای څکلو د پاره دځان سره بوتلم چای به موهم وڅکلی او خبرې به موهم و
د سندهی صاحب دلیدلو نه پس به زه په دیلی کښی نه پاتی کیدم او دشپ
په کاډې کښی به کلي ته راروان شوم خو کله چه به مې نور کار پاتی و نو پاتې ب
زه چه به پاتی شوم د مولوی سیف الرحمن صاحب سره به پاتی کیدم ، مولوی سیف
زمونږ د دواوې و . دې عالم ، پوه او سیاستدان سړی و . مولوی سیف الر
د نورو ملایانو په شان د محمد و د و خیالا تو خاوند او تنګ نظره نه و ، په کوت
کښی به نه ډوبیده د او چتو خیالا تو خاوند او بلند نظره و ، د پردې د او ز
دل سړی و . فتحپوری د دهلی یو جامع مسجد و او په هغی کښی یوه عربی
وه او مولوی سیف الرحمن د دی مدرسی صدر مدرس و .

قوم پرستی :

کله چه زما سوسایټی بدله شوه او د قام پرستو سره مې مخه شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه د قلم پرستی کومه ماده وه هغه را وبښه شوه . د اخبره خومالا په وړوکوالي
کښې په طالب العلمی کښې محسوسه کړې وه خو د مخفی صاحب ، مولوی عبدالعزیز
صاحب او مهتمم صاحب په مجلسونو کښې وده وکړه خصوصاً د مخفی صاحب
د مجلس په ماډ پراثر و . په دې وخت کښې زما دوه څیزونو سره د پرشوق و ،
یو زمینداری سره او بل د مطالعې سره ، د زمینداری د پاره خومانه پلار په
مامنډ نامی (محمد نامی) کښې شپیته جریبه ځمکه راکړې وه په هغې کښې به ما
خپله زمینداری پخپله کوله او د مطالعې د پاره به می د مولانا ابوالکلام از اد الهلال
اخبار کلتو ، چه یو عالمانه اخبار و او هر مضمون به یې د علم نه ډک و او د ازادی
او حریت علمبردار و او د اسلام په حقیقت به یې خلک پوهول او بل می زمیندار
اخبار راغونښتل . زمیندار اخبار د مولانا ظفر علی خان اخبار او د پرقام پرست
اخبار و ، داسې کنده نه ولکه وروسته چه د اختر علی خان دهغه زوی په کومتو
د غی " بل می مدینه بجنور اخبار راغونښته چه د پرقومی اخبار ؤ . یومی انګریزی
اخبار چه (د سول اینډ میلټری کیزټ) نومیده راغونښته و درسره به می د
دینی او نورو کتابونو مطالعه هم کوله . چه طالب العلم وم د مطالعې سره می شوق
نه و خو چه د مدرسو کار می شروع کړد مطالعې شوق راسره پیدا شو . الهلال
او زمیندار چه به هغه وخت چاله راتلل نو هغه به د حکومت د ستر کو اغزی و
او د هغه نوم به بلیک لسټ کښې و . ولی چه دا دواړه اخبارونه قام پرست وو
قام یې راویښاوه او پوهاوه او قومیت او جرئت یې پکښې پیدا کاوه . بدیشی
حکومتونه خو پدې ولاړوي چه په خلکو کښې وېره پیدا کړي او د خلکو له زړونو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه وپره ورکه شی د بدلیشی (بهرنی پردی) حکومتونو بنیاد و نړیږی او د بدلیشی
حکومت مثال دغله وي چه د کور خاوند راوښې شی نو بیا غل کله تینګیدی شی نو
ځکه د انګریزی حکومت د دی قسم اخبارونه خوښ نه وو. څو ځله ما پسی پولیس
راغلل چه ته دا اخبارونه مه راغواړه بندیي کړه، د حکومت نه خوښیږی څوک
چه دا اخبارونه لولی حکومت یی خپل دښمن ګڼي، تاته به د پر نقصان ورسیږي
ما ورته لنډ جواب ورکړو چه د حکومت خوښ نه وي حکومت دې پخپله بند کړی
هغوی به وویل چه حکومت خو یی نه بندوي ما به ورته وویل چه زه یی هم نه بندوم.
مخفی صاحب به هم چه چیرته سنبه کتاب پیدا کړ هغه به د مطالعې د پاره ماته
راوړ. یوه ورځ یی راته د عبدالحلیم شرر یو ناول چه ډ زیاد او حلاوه، نومیده
راوړی و او راته یی وویل چه دا کتاب په سنبه شان مطالعه کړه هسې هم زما طبیعت
داسې وچه مطالعه می د نورو په شان د پره نه شوه کولې خو چه څه می کولی شوه نو
ځان به می پرې سنبه پوهاوه او سنبه غور به می پرې کاوه چه مطالب یی سنبه هضم
کړم. دا ناول د سپین (هسپانیه) په باره کښې لیکل شوی و او دا یی لیکلی
و چه د سپین عیسائیانو د مسلمانانو د اتو سو کالو تسلط نه څرنګې خاتمه ورکړه
د دې ناول په لوستو ماته په خپل کار کښې د پره کتنه ورسیده. مخفی صاحب
به چه پخپله نوي شعرونه جوړ کړل هغه به یی هم ماته راوړل او راته به یی اورول
ماته به د مخفی صاحب شعرونو د پر خوند راکولو خوند څه چه په ما به یی
د پر اثر کولو. د هغه د پر شعرونه ماته اوس هم یاد دی ما او مخفی صاحب
به الهلال یو ځای لوسته په مضمونونو به یی مونږ د پر بحث کاوه او څوځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

څله به مولوسته او چه څومره به وس کېږه نو ورته به موهم او ورلو . دښتيا
خبره دا ده چه مونږ الهلال د اسلام په حقيقت پوه کړي يو او دې اخبار زمونږ
مخه دې خواته کړه .

دا هغه وخت وچه د پرنګي د حکومت له وړې به چاپت په حجره کښې
د پرنګي خلاف خبره نه شوه کولی مونږ به چه دا قسم خبرې کولې چرته پت ځای ته
به لاړو . زمونږ کلی د پرګن کلی دی هلته به موپښتی خبرې هم نه شوی کولی
او د پره لږه به د پټو خبرو موقع راته پيدا کېږه کله به د حاجی صاحب ځای
حاجی اباد ته لاړو کله ټل خوا . يوه ورځ مولوی فضل ربی صاحب او مخفی صاحب
اوزه ماسنډ نارۍ ته چه په ميره کښې زمونږ يو کلی دی او د پرښه نهر پکښې
بهيږي او د پرښه کلی ځای دی لاړو د شپې د دوی انتظام راته وشو
د مابنام د لمانځه نه وروسته په سرک کوخوا خبرې کوو چه شا ته موو کتل يو
سړی راايسی دی په مونږ وار خطا يې راغله زمونږ د اخيال شو چه د اسړی
کوندی مونږ پسې لګيدلی دی د هغه خايه مودوه خيلی کړې او دوه پردی ،
يا ره دوه دی موپرلښوده او د کور خاوند ته موخبر قدرې هم ونه کړو په
سند و متله و زمونږ يو ټل کلی مړوندۍ ته ماسختن (ماز ختن) ورسېدو
زمينداران او دهقان دوه دی د وخته خوري هغوی دوه دی خو يې وه زمونږ
پاره يې په شپه کښې نوره دوه دی پخه کړه دوه دی موو خوړه او هم دلته
وده شوو . په داسی حالاتو ، واقعاتو او مشکلاتو کښې مونږ کار شروع
کړی وه سره د دی زمونږ کار ورځ په ورځ ترقی کوله خکه چه زمونږ کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خدای د مخلوق د پاره و زمونږ یکښې ذاتی غرض نه و بلکه ذاتی موږ یکښې
نقصان و . زخمان دا وو - چه ده ناڼ نخه ده پاره تجارت زمینه
مونښوه کوو ے . خر چونه به کیدل +
وړومبی وادہ :
د ۱۹۱۲ع کال په اخر کښې پلار ما له واده وکړ . زه لا هلک وم په سنګول کښې
می سبق ویلو . زمونږ کلی ته نزدې رځې (درزرو) نومی کلی کښې دکنان خپلو
خانانو په کورنی کښې یې راته کوژده کړې وه . زما په ګمان چه زما سخر (خسر)
یار محمد خان اولنی خان وچه په لوړې روپۍ وانه خیستې . هغه وخت ک
خان به وکه غریب د خور لور په سر به یې پیسی اخیستی . د ارواج خلکو ته با
نه سبکاریدو نن هم پښتانه د خور اولور په سر روپۍ اخلی خو خلک ورته بد
په اسلام کښې د خور اولور په سر پیسی اخیستل لویه ګناه ده بلکه اسلا
خوخیندو او لونوته د پلار ، مور او وروره په میراث کښې برخه ورکوي . زما
د پر سخی او میلمه دوست سړی و د پر دوستان او اشنایان یې لول د
کلی په غریبانو به یې خاص نظر ساته چه څه وخت مرشوما پخپله لیدلی
نرو ، ښځو ، خپلو ، پر دو وړیسی په زار زار ژړل پخپله یې تعلیم نه وکړی خو
سره یې د پر شوق و زما بابا ته به یې ویل چه هغه یوزوی دې تالندن ته تعلیم
لېږلی دی دابل به زه ولېږم دامی اوږدلی وچه سخت مریض شو نو یې و
زه وصیت کوم او خپلو زنانه وارثانو ته د شریعت په مطابق حق او حصه ورک
خپلو خپلوانو پرې نښوده . د پر خانان یې دوستان وو خو دده له مرګه وروسته
هم دده د ماشومانو پوښتنه ونه کړه ځکه چه دهغه نه قبول واړه ماشومان

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چار دارویش په قصه کښې دیوسوداګر دزوی قصه کوي چه ډیلارنه ورته
د هر مال اودولت پاتی شوی و اوده هغه تول په یارانو، دوستانو وخورلو
کله چه دمال اودولت نه کنګال شونو په ډیره بده وډیخ په لاره روان دی
یو لاروی وپیژانده ورته یې پوښتنه وکړه چه ته هغه دسوداګر زوی نه یې؟
ده ورته وویل چه ولې نه یم هغه ورته وویل چه ته په دې مصیبت اخته
شوی یې ستا خو په یاران او دوستان وو دوی نه به ځار بدل اوقربانیدل
هغوی دې هیڅ امداد ونه کړ هغه څه شو؟ ده ورته وویل چه نه هغه زما
دوستان نه وو هغه دسترخوان مچان وو چه دسترخوان یې غوړ بدلی
او دوی پرې بنډل اوچه دسترخوان تول شو مچان والوتل .

ماسړه دخپل قام دښځو په ډیر قدر اوعزت و او په ډیره همدردی
ی وزړه وه ولی چه زمونږ په قام کښې هم لکه دنورو مشرقی قومونو په شان
ښځو قدر نه و دوی به دسې ونه ښکته کنډلی شوی حالانکه چه پستی او
لندی په عمل ده که دچا عمل پست وی هغه نږدی که ښځه په کار دی
چه پست وکنډل شی او دچا عمل چه وچت وی نږدی که ښځه په کار دی چه
په ډیر انه نظر ورته وکتل شی ،خدای خو نړ او ښځه د دنیا دابادی دوه
ګډې پیدا کړي او دبشریت دکاډر دادوه پایې دي داکاډر په
دوه پایه ته شي چلیدی اویا زمونږ دپښتنو ښځې خو په ډیره پاک لمنې
حیا ناکې ،مینه ناکې اووفادارې دي او په ډیره خدمتګارې دي ،مونږ
چه به کله ناکله دخپلو خپلوانو کره میلمانه شو سره د دې چه نوکرانې به وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوزمونږ دخپلوانو ښځی به رانه چاپیره کړځیدې او دپر په اخلاص به ډ
زمونږ خدمت پخپله کولو کوم شنه څیز چه به یې پوخ کړی وهغه به یې زم
مخی ته راوړاندې کولو اوچه زمونږ نه به څه پاتی شو دوی به بیا هغی ت
کښیناستې اوهغه به یې خوړلو. په ابتدا کښی به سړو ددوی سره یو
دودی نه خوړه اوښځو به هم دنارینه وسره په یو دسترخوان دودی خو
عیب کنل دتولونه اول داخبره ما محسوسه کړه اوچه کله به میلمانه نه و
ددوی سره می په یو دسترخوان دودی خوړه اول دارسم مامات ک
او ورو ورو په تولو خلکو کښی ددې رواج اصلاح وشوه. ماچه واده و
زمانه ښه ترته به ماسره یوځای دودی خوړل دپر عجیبه ښکار یدل اول
به یې په اسانه راسره دودی نه خوړه. یوخو به ځکه ښځو دودی ورسه
خوړه چه د میلمنو اونارینه و نه څه پاتی شونو دوی به بیا پرې راغونډای ش
اوکه به کافی غذا پاتې نه وه هم دوی به پرې قناعت کولو اوبله داوه چه سپه
سړو ښځو به خوانو ښځو پسی خبری کولې چه خو ری ته ددې زمانې ښځو ته وک
خومره کلک ستر کې دي دخپلو مېرونو سره یوځای دودی خوري مونږ خدا
داسی زمانی ته پاتی کړو. خو اخر دوی هم ورسره بلد یې شوې او داکار بیا بلد نه
کېدو. دمیلمه وخت هم معلوم نه وهر وخت به چه میلمه راغی ښځی غریبانا
به مجبوري وې چه د دودی غم ورته وکړي. که نیمه شپه به وه او ک
دار پشکال تکنده غرمه به وه چه میلمه به راغی نوهغه به هم ښه دودی
غوښته اوکور به به هم ښه دودی وکړلو. زمونږ تحریک کښی بیا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرې هم اصلاح وشوه مونږ خلکوته وویل چه یا به ناوخته په چاپه مېلمانه
کېږئ اوکه ناوخته په چاپېښ شوئ چه څه تیاروی هغه به خوړئ اوکه څوک
در باندی ناوخته راپېښ شوهم تیاره به ورته مخکښی بل دئ او په دې
شان سود مونږ تکلیف لږ څه کم کړ .

په هغه وخت کښی هلکان چا تعلیم ته نه پرېښودل د جونو تعلیم خو بالکل
د کفر سره مترادف ګڼل کېده ملا یانو به تعلیم ته څوک نه پرېښودل زمایاد دی
ما چه لوړ په سکول کښی داخله کړه نو رخو پرېږده چه خپله سخر کښی هم رانه
خپه شوه حالانکه د اسکول دیوخان په کور کښی وخاص د جینکو د پاره و
یوقسم پرائیویټ (مخصوص) مدرسه وه . دخان تېر یخپله درس ورکولو .
اوس هم د پرخانان خپلې لونه په سکول کښی نه داخلوی ملا یانو دې ته نه کتل
چه اسلام خو علم په نرو اوښځو یوشان فرض کړی دی یوازې د مدرسو مخالفت
یې نه کولو د اخبارونو یې هم سخت مخالفت کولو اول خو به یې ویل چه په دې
کښی تول درواغ دي په چل ول دخلکونه پیسی اخلی بیا چه خلک لږ لږ
پوه شوال چه په اخبارونو کښی خو د خدای او رسول خبرې هم وي بیا به یې
دا پرانیستله کوله چه په اخبارونو کښی د آیاتونو بې حرمتی کېږي په اخبار کښی
آیاتونه لیکلی شی او بیا په لاړو کو څو او د پرانونو کښی پرانه وی .

ما له چه به کوم اخبارونه راتلل ما به په حجره کښی خلکوته لوستل خو چا به
ورته سنه غوږ نه اېښود یو الهلال ته به یې لږ غوږ کښېښو ځکه چه یو څوک کښی
د خدای او رسول خبرې وې او بل د ابوالکلام ازاد اخبارو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتانه اوس هم د اخبارلوستلو شوق نه لري په چتی څیز وتوپه بی خا
رواجونو په زړ کونو روپی خرڅ کوي خو په اخباریوه پیسه نه ورکوي اوهدا وجه
ده چه د دومره بهادر اولوی قوم پخپله ژبه کښی یو قومی اخبار نشته - زمونږ یو
لوی خان ویوه ورځ یی په بنار کښی یو هلک لیدلی دی چه اخبار رونه ورسره دی
اوچغې وهي چه اخبار واخلئ، خانصاحب گمان کړی دی چه دا کوندی ورپاندی
اخباري ورنه اخیستی دی خوچه هلک ورنه پیسی غوښتی دی ده اخبار بیرته
ورکړی دی او اخیستی یی نه دی چونکه زمونږ د اخبار سره مینه نشته نوځکه
زمونږ پخپله ژبه کښی اخبار هم نه و. څنګه چه یی د اخبار سره مینه نه وه دغسی
یی د خپلی ژبی سره هم مینه نه وه د تعلیمیافته کسانو سره به می چه د ژبی په بارهٔ کښ
خبرې وکړی راته به یی ویل چه پښتوڅه ژبه ده؟ په دې کښی علم نشته پښتو
کښی څه دی؟ ما به ورته ویل چه هلکه دانورې ژبی خو د اسمانه نه دي راکوزی
شوي دهری ژبی ویونکو خپلی ژبی نه ترقی ورکړې ده. پښتوچه خپلی ژبی
توجه نه دې کړې دې کښی د پښتو ژبی څه ګناه ده او د اخوزما او ستا ګناه ده

ماچه وا ده وکړه کله چه به می اخبار لوست نو به می راته ویل چه دا اخبا
څه لږلولی د اخوتول دروغ دی ما به ورته وویی چه نه د اخبار پرلپکینده ده اخبار لو
د پرضروری څیز دی بیا به غلی شوه ویل به یی زه څه خبره یم خوخلک دا
والی بیا به یی راته پوښتنه وکړه نو نه ده نوځه پکښی دی ما هم پرې پوه کړه
به می ورته ویل چه دې کښی د تولی دنیا حالات دي ما به بیا ورته ځینی مطالب
د پښتو ښکلی دنارینه ژوند هینې دي دهغې هم د اخبار او تعلیم سره ورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلچسپی پیدا شوه د قرآن او دین او نورو ضروری خبرو معلومات به می
ورته ورکول. هغه په پلار د پرګرانه وه په خپله پلار کښی ډیر اثر و دهغی په
وجه زما د سخر کښی به ښځو کښی هم ډیره تبدیلی راغله زما به همیشه داکو ښښ
وُچه د ښځو د مغزونه د کهتری احساس لیری کړم ځکه چه په دوی کښی
دا احساس خو د غرضو او ناپوهو سره پیدا کړی دی زما به خپل تهر سره په دی
خبره بحث کولو چه ښځه اونر د واړه د خدای په نزد یو شان دي د روند والی او
سپکوالی په عمل دی او دا به می هم ورته ویل چه د دې احساس په پیدا کولو
کښی تاسو ښځی پخپله هم ګرمې یئ ځکه چه زوی ته په یوه نظر کوړی او لور ته
په بل نظر او د ور وکوالي نه د جینکو په مغزو کښی دا خبره کښینوئ چه هلکان
او نارینه خدای د جوړ او ښځو نه بهتر اولوی پیدا کړی دی بیا به می ورته دا
هم ویل چه انسان د خدای په ټول مخلوق کښی اشرف ګڼلی شی نو په دې وجه
یی د نور مخلوق نه ذمه واری زیاته ده خو زه چه د دې خپل قوم ته ګورم ما ته
په دوی او ځناور و کښی فرق نه ښکاری د دوی سره هم د خپلی ګیډې غم دی
او د ځناور سره هم د خپلی ګیډې غم دی د دوی سره هم د خپل کور غم دی
او ځناور سره هم د خپلې جالې غم دی دوی هم بچي راوړي او د خپلو بچو غمه
خوري او ځناور هم بچي زیږوی اولویی یی نو دوی په څه اشرف المخلوقات
و بللی شی ؟ دوی هم لکه د ځناور و په شان یو بل وژنی دوی به هله اشرف
المخلوقات وګڼل شی چه دوی کښی اجتماعیت، د رورۍ عزیز ولی او
مینه محبت پیدا شی . تش په دی چه نور ځناور په خلور و پښو ګرځی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسان په دوه پښو. اشرف کیدی نه شی. یوه وړځ می په خبرو خبرو کښې ورته وویل
چه نارینه مړشی ښځه کونه تون کوې او چه ښځه مړه شی نارینه سمدستی
بله ښځه کوې. په کار خو دادی چه دښځې څښتن مړشی چه هغه هم بل مېره وکړي
ماوې زما په خبره پوه شوې؟ دې ویلې هو! ماوې معلومه نده چه څوک به
مخکښې مری خو که زه مړشم او ته خوانه وې دبل مېره به کولو کښې هیڅ شرم
ونه کړې دې راته وویل دادبی غیرتی خبرې راته مه کوه.

آګره کښې د مسلم لیګ جلسه:

په ۱۹۱۳ع کښې په آګره کښې د مسلم لیګ سالانه جلسه وه هغه وخت
به د مسلم لیګ جلسې به د دسمبر کښې دېرې دن په چوتیو کښې کیدې ما چه به
اخبارونو کښې ولوستل چه د آګرې په ښار کښې د مسلم لیګ جلسه ده نو
اراده می وکړه چه ضرور به په دې جلسه کښې شرکت کوم ولې چه دا سیاسی
جلسه وه او زمونږ په ملک کښې سیاسی جلسې نه وې اونه د دېرې خلک
بلد وو. که څوک پرې پوهیدل هم د پرنګیانو د دېرې چا د جلسې نوم قدر پرې
اخیستی نه شو د دېر خلک خو ترې خبر هم نه وو زمونږ په علاقه کښې هغه وخت
د ملایانو به په دا سې مسئلو بحثونه ووچه د قام او ملک او اسلام ته به تر ې
هیڅ فایده نه وه مثلاً چا به ویل «ضالین» دې او چا به ویل «ظالین» د
چا به ویل د سبا ئی تو به قبوله ده چا به ویل نه ده قبوله. دغه شان چا به کوته او چتوا
سنت کنیل چا به بد عیت. په دغسې خبرو به د ملایانو بحثونه وو په خو
او اونیانو به کتابونه باریو ځای ته وړه او بل ځای ته وړه او بحثونه کوه او خپ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مه فیصله کوه په دی توګه به یې د خلکو توجه د ژوندانه د مهمو مسایلو نه بل پلو
اړوله ماته په دې کښې د پرنګیانو لاس ښکاره ښکاره چه کله کله به داخبره هم
پکښې اوچته شوه چه که د انګریز او روس جنګ شي مونږ له دچا امداد کول په کار
دی د دې سوال په جواب کښې به بیا اختلاف نه و تو لو به ویل چه انګریزان اهل
کتاب دي او روس سور کافر دی مونږ ته د انګریز مرسته ضروری ده حال دا
چه انګلیزان هم عیسائیان دي او روسان هم عیسائیان وو.

یوه ورځ په مامند ناري کښې د جمعې د لمانځه نه ورو سته ناست یو چه
په دې خبره بحث شو چه د سابی تو به قبوله ده که نه ده؟ یو ملا ناست و د ده چې
ملا په نوم مشهور و هغه وویې که څوک وایي چه قبوله ده زه یې ثابتوم چه قبوله نه ده؟
او که څوک وایي چه قبوله نه ده زه یې ثابتوم چه قبوله ده مطلب یې دا و چه خلکو ته خان
وښیي چه زه ډومره لوی ملایم چه نا روا خبره روا ثابتولی شم او په خلکو یې هدا سې
اثر وکړي تا ستو خلکو یو بل ته وکتل او ویې ویل چه د پرلوی عالم دی خو مانه د ده
خبره عجیبه ښکاره شوه چه په مذهب کښې خو د وه خبرې نه وي یوه وی نو ما
و رته وویل چه ملا صاحب که خدای او رسول وایي چه قبوله ده نو ته به یې څنګه
نا قبوله کړې او که هغوی وایي چه نا قبوله ده نو ته به یې څنګه قبوله کړې د ملا صاحب
زما خبره خوښه نه شوه او خبره یې په بله واړوله. دوی به خپله ملایي خلکو ته
ښو ده او دغام یې مسته و ښکله. په خلکو کښې یې دومره نفرت پیدا کړی و چه
اکثر و د یو بل مړي ژوندي پریښي و د یوی ډلی مشر مانکی ملا صاحب و او د بلې
د هلې ځې ملا صاحب و یو په بل به یې د کفر حکمونه کول حال دا چه دواړه یو خدای منلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو رسول یې منلو، یو قرآن یې منلو او دیوحنفی مذهب پیروان وو حتی د یو
پیر مریدان وو. دسوات صاحب مریدان وو۔

زه اوزما دسبق ملګری عبدالحلیم دمسلم لیک په جلسه کښې دګډون
د پاره اګرې ښار ته روان شو. شپه مونږ ښار ته یوړه هلته دنوښار په تانه کښې
تامیل ارد دوه سړو غلام سرور خان وُ. دنوښار دتانی خواوشا آبادي نه وه
سپېره ډاګ وُ. غلام سرور خان په خټ کلي کښې اوسېده شپه مودهغه
سره شوه د ډاګ کاډی دشپې په یوولسو بجو راروانیدو او په یوه بجه نوښار
ته رارسېدو مونږ په دې کاډی کښې اګرې ته تللو نوچه دشپې دوه دی
په خټ کلي کښې وخوړه دشپې په ۱۲ بجو کاډی په پتلی باندې ښیخ ستیشن
ته راروان شو په لاره کښې دُخاو دوغ ارشو، دغراري اواز ورووردمونږ
ته رانژدې کېده مونږ په دې فکر کښې وو چه دا اواز به دڅه شی وي چه
په دې کښې خُاوورو راباندې حمله وکړه. مونږ هیبت واخیستو شو دموجود
کړو دخدای فضل و خوله یې راوانه چوله بیج شو معلومه شوه چه هغه شر مونږ
وو غلام سرورخان پرې دتمانچې دوه فیر وکړو. مونږ تپسن ته ودرسېدو
لږ ساعت پس ریل راغی اومونږ دواړه دغلام سرورخان نه رخصت شو
اګرې ته روان شو، چه اګرې ته ورسېدو په یوسرای کښې مویوه کوټه په
کرایه واخیسته پکښې دېره شوه. سبا له جلسه شروع کېدونکې وه مونږ
سهار وختی دجلسې ځای ته لاړو دجلسې دپاره لوی پنډال جوړ شوی
ستیج دپاسه اولاندې کرسۍ ګډې دلې وې مونږ تکټونه واخیستل

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کرسو کښېناستو. سر ابراهیم رحمة الله د دې جلسې صدر و مولانا ابوالکلام ازاد، سر آغاخان او هندوستان نور د پرغتان دستېج د پاسه په کرسو ناست وو. د صدارت د خطبې نه وروسته قسما قسم قرار دادونه وړاندې شوا و مختلفو کسانو تقریرونه وکړل. سر آغاخان هم په فارسي ژبه کښې د ډېر ښکلې تقریر په پاې کې فصیحه ژبه وکړه د دې د خوښۍ جلسه وه. د جلسې د ختمېدونه پس مونږ د تاج محل شاهي جومات او ښار ته رسېل وکړو او بیا د اګرې نه دېلي ته لاړو هلته د مولوي سیف الرحمان مېلمانه شو، دېلي کښې موږ هم د کتلو قابل ځایونه ولیدل. یوه ورځ په شاهي مسجد کښې ناست وو یوسپین ږیري وویل چه دېلي هیڅا سره وفا نه ده کړې معلومېږي چه انګریزانو هم زوال په برخه شوی دی چه دارالحکومت یې د کلکتې نه دېلي ته رابدل کړو. په دغو ورځو کښې دارالحکومت رابدل شوی و، خلور دیرش کاله پس دغې سپین ږیرۍ پېشګوئي رښتیا شوه.

په دې ورځو کښې به کانګرس او مسلم لیګ دواړو د لوډ پېرنګیانونه د عهدو او مراعاتو نو سوال کولو او قرار دادونو به یې پاس کول چه مونږ ته دا راکړئ او دا راکړئ. هندوستان د منورینو (اینتېلیجنسیا) اکثریت په کانګرس کښې وو، څه وخت چه ګاندهي جي دا فریقي نه راغی او په په کانګرس کښې شامل شو د کانګرس حالت بدل شو د تشو مطالبو او تشو خبرو په ځای د ملک د حقوقو د اخیستلو د پاره عمل او جد و جهد شروع شو. حقیقت دادی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه حق خوک چاله ورکوی نه بلکه حق اخیستل کیږی. کله چه دکانګرس پالیسی د
منتو نو اوزاریو په ځای عمل اوجد وجهد وشو هغه کسان چه د مصیبت کاللو
وو لکه جناح صاحب، کنزرو، جیکار اوسپرو اونور دکانګرس نه ووتل، جناح
صاحب مسلم لیګ تدلار اودې نورو لیبرل پارټی جوړه کړه. خبره داسی وه چه
څه وخت د رولیټ ایکټ مسئله پیښه شوه نوجناح صاحب اوسپرو وغیره یې
قول مخالف وو نو سوال دا پیدا شو چه حکومت زمونږ مطالبه ونه منی نو بیا
څه کوو؟ دی ذکر شو وکسانو وویل چه احتجاج به کوو ددی نه پس سوال داسی
پیدا شو چه که بیا حکومت هم مطالبه ونه منی نو بیا به څه کوو دی کسانو وویل «بیا
هم احتجاج کوو»، کاندهی جی وویل که زمونږ خبره حکومت ونه منی «د حد وجهد
به کوو» په دې خبره دوی جدا شول.

کلی وطن کښی تعلیم او تبلیغ:

خو درځې پس له دیلی نه کلی ته راغلو چه کلي ته راغلو خبر شوم زما زوی
غنی پیدا شوی دی. زما د تبر ورور نه ځو نو د زوی په پیدا کیدو د هره خوشالی
دجمعې په ورځ کښی به د حاجی صاحب په ځای کښی د هر خلک جمع کیدل. د
د پاره به له لیرې لیرې ځایونو نه راتلل. زه به هم که په دوره نه وم خامخا ورتلم
مهتمم صاحب، مخفی صاحب اومولوی فضل ربی صاحب به هم د سلامشو
د پاره کله ناکله راتلل. د جمعی د لمانځه نه پس به ما خلکو ته وعظ او نصیحت
کاوه خو د ملایانو نه خوښیده ځکه چه زمونږ ملایان د برهمنانو غوندې ځا
د مذهب ټیکیداران کښی. ما د خپل قام دا صلاح دا کار د خدای د پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغوی پروا می نه ساتله اخري رالپسی پته پته پراپیکنده شروع کړه چه زیره یې
خرپیلی ده اوو عظونه کوي اول خو دې خپل ځان په شریعت برابر کړی بیا دې
نورو خلکو ته نصیحت کوی. دوی خو په زیره او اسلام غرض نه وزما بدنامول یې
غرض وو قوم هم ناپوه او جاهل وُ چه ملا به ورته ووې چه دا مذهب دی ده به هم
منله. ملا یانو زیري له دومره اهمیت ورکړی وچه قول اسلام یې تش زیري
پوری تړلی وُ حال داچه مذهب خو بنه عمل دی، مذهب خو په بنیادی ډول
د اخلاقو او عمل سره تعلق لري زیره پرلپنبو دل او بریتونه خرپیل دا دعربو تهذیب
و. یوازې د صحابه (رض) نه بلکه دا اسلام د دښمنانو عربو لکه ابوجهل، ابولهب
وغیره وهم زیري وې. سره د دې هم د دې د پاره چه د ملا یانو د اعتراض نه خلاص
شم زیره می پرلپنبو دله خو بیا هم د ملا یانو نه خلاص نه شوم بیا به یې ویل چه د موتی نه
کمه ده. د دنیا تاریخ گواه دی چه په کوم قوم کښی د اسی اشخاص پیدا شوی دی چه
هغوی د خپل قوم د اصلاح د پاره پاخیدلي دي د اقتدار خاوندانو یې مخالفت
کړی دی ولی چه هغوی خپل اقتدار په خطر کښی لیدلی دی تاسو د خپل د
خدایی خدمتګار و تحریک ته وګورئ څومره چه قوم کښی پوهه راغلی ده هماغومره
د اقتدار د خاوندانو قدرت کم شوی دی او د خپل پیغمبر (ص) ژوند مطالعه
کړئ چه خپلو ترونو تر بورانو یې مخالفت وکړ د څه د پاره؟ د اقتدار د پاره.
د مدینې خلکو یې ملا تړلی وو ولې چه د هغوی سره نه مذهبی اقتدار و نه سیاسی
صو د وچه یې مخالفت وکړو هم د اقتدار د پاره و.

زمونږ مدرسی په ترقی کښی وې پښتون ژوندی قوم دی خو چه د

---

۱ زیره خرپیل ملا کار دے حصه عمل نه دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

دژوندی کولو خلک پکښی پیدا شی تر څوچه په یو قام کښی دژوندی کولو دپاره خلک
پیدا نه شی هغه قوم ژوندی کیدی نه شی . په لږه موده کښی خلکو ځای په ځای
مدرسی جوړې کړې او په دې شوق یې په کښی خپل بچی داخل کړل . خو مره چه
مدرسی زیاتیدې هما غومره زمونږ پیسو ته ضرورت دې پرلپاده خکه چه بی پیسو په
دنیا کښی هیڅ کار نه شی کیدی . پښتون قام شوم نه و مهمان نواز و . فیاض و
خیرو خیرات پکښی و . خو کومه طریقه چه ملایانو ورته د خیرات سنبودلې وه هغه په
دې وخت کښی کفایت نه وه . قام په پوخ خیرات اموخته ؤ حال داچه زمانه بدله
شوې وه د پوخ خیرات ضرورت نه و پاتی د نقد او خام خیرات ضرورت و . دزا
د بدلون سره که قام بدل شی ترقی وکړی که نه ورو سته پاتی شی . د زکوة په بار
کښی هم ملایانو قوم ته ویل چه په مدرسو زکوة نه کیږي . د ملایانو سره په دې
خبرو د پرېښودنه شوې و د خو ملایان دې ته تیار نه و چه د قام دابادی او تعلی
دپاره دیوې نمونې ورږیونه تیر شی . قام په رسم او رواج تنګ شوی ؤ خو داچه
پکښی نه ؤ چه پرې پې ږدی . رسم و رواج پرېښودل اسان کار نه دی ، په ډیر
د پرګران دی او اخلاقی جرئت غواړي . مونږ چه په دوړو قوم ته تللو په هر ځا
کښی به قوم راته راغونډ شو چه د قوم سره به مو خبرې وکړې نو خینی خلک به را
راچاپیره شول چا به ویل ما په شادۍ چا به کوره یا مالګه راوړه چه دا راله
که چا به ویل چه دم را باندې واچاوه ما به خلکو ته ویل چه زه د کف اوچف
نه یم زه خو ستاسو خدمتګار یم . ستاسو خدمت له راغلی یم تاسو باید په
او په هغه کف اوچف والا د کښی فرق وکړئ هغوی خو درنه په دغه طریقه شک

ځ من سبا مدرسې ته کوڅه اخلم - مصرعه د قدر ځ ینهائی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نذرانه اوملکانه غواړي زه خوتاسونه څه غواړم نه . محمد اکبر خادم صاحب
به راته ویل چه ته ولې دې خلکوته داسې وایي دوی په تاعقیده لري په دې چل به
زمونږ ملدرسوته دپرې چندې راغونډې شي اوته یې له خانه شې ما به خادم صاحب
ته ویل زه دوی اصلاح کول غواړم اودغلطو رسمونو ، رواجونونه یې خلاصول غواړم
یوځل مونږ دسودم په دوره تللونو دشاه بازګرۍ ، مولانا شاه رسول صاحب مونږ
سره ملګرۍ شو مونږ ته دسودوم خانانو دسودلې دپاره اسونه راکړل ، مونږ به
پرې وار په وار سودېدو .

سره باچه خان مرحوم خو او
د ترنګزو د حاجي صاحب هم د تعلیم راغلو وو . ده میاصاحب دې
سره ډېر شوق وو . دملدرسو علیه به مسجد کښې ورته عوام را
دامداد دپاره به مولاړې غونډیدل ، په دې حال کښې دوه
کودړي لمتولې . یوه ورځ باچه خان به محصومانو خپل کره
ورته ماوویل چه په سرونو به ټوپې راوړه لاس راخل
حاجي صاحب ستا ده پښتنو معاشره کښې داعمل ده
په لنګر کښې سرګندول دي ، څه ورته مخالف نا
ستا سو سنت وُم . مالاصاحب باچه خان
ډېر مرحوم ما ته اووېل چه دوی ته ګناه

شیخان او مریدان نشته ، باچه سرنګونوه ګرۍ
بې کاره پراته وي که ورته ووایي هوی رحوی په ما دې بارد ګ
چه میاشت یوه ورځ زمونږ دملدرسو سره ګمان ګړې ۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امداد د پاره مزدورې وکړې او ملګرو سوته يې راکړې ددې نه
به مونږ ته ډېره فايده راورسيږي. حاجي صاحب ډېر وخندل او
ويې ويل: که دوی کارکولی نو دلته يې بيا څه کول دا تيار خواره دي
دوي ته کارکول بد ښکاري حال دا چه رسول الله صلی الله علیه وسلم
فرمايي: ﴿ الکاسب حبيب الله ﴾ يعنی کسبګر د خدای دوست دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شیخ الهند صاحب سره

جنوری ۱۹۱۴ع . آزاده علاقه کښی د مرکز تلاش (دیر
باجور چمرکند . هدی ملا صاحب) سالارزی
اومامونډ . اولنی جنګ عظیم د شیخ الهند
صاحب پروګرام د ترنګزو د حاجی
صاحب هجرت
زما بېرته تګ بنیر کښی د پرنګیانو سازش مدرسې
بند شوې . د حاجی صاحب ترنګزو مومند و ته تګ . د
سوات د پاچاهی کشاله . د پرنګیانو مظالم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شیخ الهند صاحب خط :

مونږ به په کال کښې یوځل دوه دیوبند ته تللو او د مولانا محمود الحسن صا
او مولانا عبید الله سندهی صاحب سره به مولیدل کتل کیده او په دې به موتباد
خیال کولو چه څنګه به د پرنګیانو د غلامی نه خلاصیږو ؟

د جنوری ۱۹۱۴ع کال په سر کښې د حضرت مولانا شیخ الهند محمود الحس
صاحب خط راغی چه دیوبند ته راشه ، نوزه مخفی صاحب او مولوی فضل ربی صاح
دیوبند ته لاړو دستپشن نه نیغ مدرسی ته لاړو . له هغه ځایه مولانا عُذیر کړ
د مولانا صاحب کور ته بوتلو . مونږ د سی . ای . ډی له وړې بهر نه کرځید
شیخ الهند مولانا محمود الحسن صاحب د ډیلی نه مولانا عبید الله سندهی
راوغوښت ، د ډیر بحث اوغور نه وروسته مونږ په دې نتیجه ورسیدو
مونږ له دوه مرکزونه جوړول په کار دي یو په هندوستان کښې د نه او بل
هندوستان نه بهر په ازاد قبایلو کښې هلته چه خلک یې د انګریزانو تخواخو
نه وي او مجاهد قام وي چه هلته د هندوستان دا زادی د پاره یو فوج تیا
د دوی دا خیال وچه دا مرکز دي په بنیر کښې جوړشی کوم ځای کښې چه د هند
د مجاهدینو دله اوسیږي . دا هغه ټولی وچه د سید احمد بریلوي صاح
او اسماعیل شهید صاحب په بالاکوټ کښې د شهادت نه پس د هغوی پ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملکری دهزاری نه بنیرته تللی وو او په بنیر کښی په سیتانه کښی میشته شوی
وو او تر دی وخته پوری به ورته دهندوستان نه دسو او دوپو امداد ورکول کیدو
خو په دوی کښی هغه جذبه او روح پاتی نه و په کوم روح چه سید صاحب او شهید
صاحب راپورته شوی وو دوی دومره بی کاره کسان وو چه خپل د شاوخوا علاقی
خلک یی په خپل خیال نه ووپوهه کړی او نه یی پکښی هم خیال ملکری پیدا کړی وو. یوه
ورځ زما سره د مولانا ابوالکلام ازاد هم دوی خلکو په باره کښی تبادل خیال شوی و مولانا
صاحب هم دی خلکو په باره کښی خوش اعتقاده وچه دا کار تیک دی خو ما ورته وویل چه دا
بیکار خلک دی. د هندوستان حساب ته ناست دی او خوری یی د دوی
دا عقیده ده چه په توره او نیزه او لیندۍ او غشی جنګ کول په کار دی خکه چه د
رسول الله (ص) ملکرو په دې شیانو جنګ کړی دی او فتح یی کړې ده. داسنت ★
دی. دې ته یی نه کتلو چه د رسول الله (ص) ملکرو چه په توره. لیندۍ او غشی جنګ
کولو هغه وخت د کفارو سره هم داوسلی وی. نن خو دنیا ترقی کړې ده. د توپی او
توپک زمانه ده. توره. نیزه او لیندۍ د توپی او توپک مقابله نشی کولی خو هندوستان
خلک په دې حقایقو خبر نه وو او نه ورته د دې دلې ماهیت معلوم و. دافسوس
خبره دا وه چه د مسلمانانو لوی لوی لیډران او علما د دی حقیقته ناخبره و. مونږ ته
د دې تولی تول حالات معلوم وو. مخفی صاحب د دوی د حالاتو د تحقیق د پاره
خپله بنیرته ورغلی و. په سیخو کښی یی د ورسره شپی کړې وې مونږ د دیوبند ملکری په
دی خبره پوه کړل چه نه دا مجاهدین د کار خلک دی. او نه دا خای د
مرکز د پاره مناسب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

آزاده علاقه کښی د مرکز تلاش :

فیصله موپه دې وکړه چه زمونږ دیوو فد تلل په کار دی
چه په ازاده علاقه کښی د مرکز د پاره یو خای خوښ کړی . د دی کار د پاره زه او مخفی
صاحب وتاکلی شو چه اول مونږ به قبایلی علاقه کښی وګورو او خای خوښ کړو بیا به
دوی ته خبر ورکړو سنډهی صاحب به راشی او هغه خای به وګوری چه ډډه ولګوی
اتفاق راشی نو کار به پکښی شروع کوو . د فیصلی نه مخکښی د دې کار د پاره زه د پکښ
اوجوش کښی وم خو چه فیصله وشوه او ذمه واری را باندې پریوته غوني خیږ شو
اوخان می درولند شو لکه غر چه را باندې پریوتی وي چه جرګه ختم شوه او خپلو خپلو
کوتو ته لاړو په تنهایی کښی می د پرو وژړل او په دی ژړا می لږ زړه سپک شو
اوده شوم سحر چه را پاڅیدم زړه ته می داد ورکړ را رخصت شو او کلي ته راغلم
زمی و سنبه یخنی وه کافی ګرځیدې ما او مخفی صاحب د تللو د پاره سلا مشوره
وکړه نیټه مو مقرره کړه چه د تخت بایی دکا دې په سټیشن به یو خای
کیږو . تخت بایی زمونږ د کلی نه دولس میله لیرې ده ما د تللو خبره د پلار
پته وساتله یو د حکومت له وېرې بل له دې وېرې چه مور به اجازه را نکړی
ماهغی ته دا بهانه وکړه چه زه اجمیر شریف ته ځم چه تبرمی دا واورېده
زه اجمیر ته ځم د پرده خوشاله شوه ځکه چه زما سفر کښی د اجمیر شریف چمنی
وو او سفر به می کال په کال اجمیر شریف ته تلو او دده د اعقیده وه چه
دا اولاد اجمیر شریف را کړی دی او دا د هغه چمنی دی . د اجمیر فقیران
کال په کال را تلل او د پرې روپۍ به یې ورنه ورلې غنی چه وشو د اجمیر فقیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

رزه وته راغلي وو خبر شوي وو چه دخان لمسي شوی دی نو هلته راغلل په
دی خیال چه داهم غوره اسامی ده کیږول یی په کار دی خو په مایی دم ونه چلیده
اوبه دې اوبه دې قصی یی راته راوا خیستی چه کوندې غنی د اجمیر شریف چمنی
دی ما وړته ووې چه دا زما چمنی دی د اجمیر شریف چمنی نه دی . ددی خبرې
په اوریدو د هر حیران شول چه دالاکوم قسم سړی دی مایوسه بهر ته لاړل .
ما دخپل کلی نه شپږ مامنډ نادی ته راوړه سبا په اس سور تخت بایی ته
روان شوم . ما سپینین ستیشن ته ورسیدم مخفی صاحب مخکښی راسیدلی
و ما اس نوکرته ورکړ او رخصت می کړ . ریل به مازیګر درګی ته روانیده مونږ
ما بنام درګی ته په کاډي کښی ورسیدو . دستیشن نه بهر دکرایی تانګی ولاړې
دې مونږ دواړه په تانګه کښی بټ خپلی ته روان شو . د ملکنډ په غاښی د پولیسو
څوکی وه هره تانګه به یی لټوله زمونږ تانګه یی ولټوله او د تانګی نه راچا پیر شو
وښتنی یی راوکړی . زه وپریدم چه وی نه پیژنی او څه شک یی را باندې راښکه
شکه چه هغه وخت په ایجنسو کښی د هره زیاته نګرانی وه چه په چا به یی شک راغی
به یی نیوه او په کات کښی به یی واچولو . کات یو اوږد لوګی وهغه کښی به سوري
دسمې پښه به یی په هغه کښی اچوله او د پاسه به یی پری پانه تک وهله او هغه
یی به یی پری کوله چه هلا کوخان به هم په چاکړی نه وی او د ملکنډ پولیټیکل
ایجنټ پرتګی د فرعون نه هم دوه کوتی زیات و . خلک له خدایه دومره نه وپریدل
لکه نه چه به وپریدل . تیاره وه په مونږ د چاڅه شک رانغی او چه زمونږ تم تم
لا ته یی اجازه ورکړه نو ایله مولاډي تېری شوې ما سخته بټ خپلی ته ورسیدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ په بت خپله کښې څوک پېژندونه اوسړی او هوتل نه وخو د پښتنو حجري او جوړه
تونه د مېلمنو او مسافرو د پاره تل ښه ترې وي. مونږ حجري ته لاړو چې څوک مو
ونه پېژني او حکومت را باندې خبر نه شي جومات ته لاړو یخني وه مونږ سره د یخنۍ
څه جامې نه وې خو جومات کرم و اور یکښې بلېدو په یو څادر کښې مې سبه شپه
تېره کړه سهار وختي پاڅېدو، په چکدره کښې په سینډ پوخ پل دی په هغه پورې
وتو او نور تول پیاده مزل شروع شو حکه چې هغه وخت په دې لاړو دسورلی څ
انتظام نه و شپه مو املوک دریې ته ورسوله په یو جومات کښې موتېره کړه ملا بانډ
د املوک دریې نه روان شو توله ورځ مو مزل وکړو ما بنام تیاره دسینډ غاړې
ورسېدو او به لږی وی خوښی وی په چرپوړي وتو او ما سختن تېر ایله په خ
د مخفي صاحب دوی کلی ته ورسېدو ستړي ستومانه وو په یخو او بو کښې پوټ
وتلي وو یخنی مو شوې وه، سبه وزې وو خو د مخفي صاحب د خپلو خپلوانو کورو
وو زر زر یې راته اوړه نه بل کړل چې تاوده شو، دوه دیرې راوړه سبه په م
کپلۍ مو وخوړه کتو نه یې راته جوړ کړل پکښې پرې وتو. په جومات تو نو کښې خو
په ځمکه وی او حجرو کښې په کتو نو کښې وي. دې علاقې ته سینډ وایي ځکه
سینډ پکښې بهېدلی دی د مخفي صاحب دوی په کلي کښې چې سړی د
په غړه کښې ناست وی لاندې سینډ ته کوږی لکه چې مچه مار کوږ وو
د اکلی د پر ښکلی و. د سینډ علاقه ابادہ او ښکلې ده شولې پکښې کېږي
یې خوږې دي. د مخفي صاحب پلار په دې کلي کښې زېږېدلی و، خو په خپله
صاحب د هشنغر په چارسده کښې زېږېدلی و او پلار یې چارسد

(c) ketabton.com: The Digital Library

دشوی و. دره پلار لوی عالم و واده یی په چارسده کښی کړی و نو هملته اوسیده
هغه وخت کښی د دینی علم دزده کړې د پاره مدرسی نه وې هر ملا چه به د ملا
ی وتړله د خپل کلي یا د بل کلی جومات کښی به کښینا ست خلکو ته به یې
ای جاتی درس ورکولو. اکثر خلک به دغسې نو د علا قونه سمی ته د درس
ره راتلل د مخفی صاحب پلار هم په دې سلسله کښی راغلی او بیا هدلته
چارسده کښی پاتی شوی و دپرښه عالم او روشن فکره سړی وکه روشنفکره
ای نو هغه وخت به یې زوی علاوه په دینی، دنیایی علم څنګه کړی وای.
زه د پیاده کړځید وعادت نه وم نه ستړی شوی وم، څرورځې مو
ته نه ارام وکړ. مخفی صاحب راته ښه ته هندوستان ته د مولانا عبیدالله
سندهی دراوستو لپاره لاړ. زه او د مخفی صاحب یو دتره زوی چه نوم یې
هیر دی د مرکز خوښولو د پاره روان شو. مخفی صاحب پښور ته او
چمرکنډ ته روان شوم، چه سره جدا شو ما د مخفی صاحب جدایی د ډیره
وسوسه کړه، چمرکنډ د افغانستان په پوله دغره په سر یو وروکی غونډی ☆
ی دی د ډاډې ملا صاحب چه څه وخت په افغانستان کښی د بزرګی رواج
و او اثر رسوخ یې زیات شو او امیر عبدالرحمن خان له افغانستان نه
ی لوچمرکنډ ته راغلی و، د ډاډې ملا صاحب یو غازی سړی و د هغه په وجه
مرکنډ ډیر مشهور شوی و.

مونږ چه د مخفی صاحب له ځایه روان شو ما بنام «دجار»، ته ورسیدو
ر یو وروکی غونډی کلا بند کلی دی مونږ چه ورسیدو د کلا دروازه بنده

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه خواد شابل کلی نه واریان شو چه څه به کوو اخر می خپل ملکری ته وویل چ
دروازه وتکوه هغه چه دروازه وتکوله دننه نه اواز وشو چه څوک یی مون
میلمانه یو لږ شیبه پس یی دروازه خلاصه کړه مونږ ته یی ښکته پورته
چه یقین یی راغی چه مونږ خطرناک کسان نه یو کلاته یی ننه ایستو د نه
جومات ته لاړو دوی یی راله راوړه شپه مو په جومات کښی تیره ک
سهار وختی روان شو شپه مو بابری ملا صاحب څای ته ورسول
لاړه به چه دهغی سیمی راسره څوک ملکری شو ما به ورنه د بابری د ملا
پوښتنی کولې چه څنګه سړی دی ؟ دوی به وې چه : « غوله د پر
زبرک دی » ما به وې چه څنګه لوی زبرک دی ، دوی به راته وویل
« غوله لاړه به شی او چیله به یی وویني چه هری پینډې ته پخپل لاس یوه ک
غوری اروي » دهغه قام دې خدای مل شی چه دهغوی د زبرکی د
وي . بابری ملا صاحب یوسپین ږیری او ښه سړی و همیش چه به پ
د قبایلو سره جنګ کاوه بابری ملا صاحب به د قبایلو په مرسته په غزا ک
شامل و د پرنګی سخت مخالف و ، غازی سړی و ، په ناپیژندګلی کښی
د پر دارو ملدار وکړ د سهار چا یو ته یی خپل خلوت خانی ته وبللم او خپله
چای یی ماته راکړه . د چا یونه پس ورنه مونږ رخصت شو چمرکنډ ته ر
شو چمرکنډ له دې څایه نزدې و کله چه مونږ د غره لمنی ته ورسی
په غره ختونا څایه د پاسه را باندې غوښتو هلکانو مچو غنی راسمی کړی په
یی ویشتو د پر وار خطا شو اخر دې خوا مو وکتل چه دا څوک دی چه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه کاته مودغره دسره څوکسه هلکان دي په مونږ کافي وروي مونږ چغي
ري کړي هغوی چه زمونږ چغي اواشاري وليدي په خندا شول هغوی ته دا
تماشا ښکاره ده اوکه مونږ بچ شوی نه واى او په يو کافي لګيدلى واى فيصله به وو
مونږ په يوه نوى کوزه وزه لاره دغره سر ته خټلو . زه دغره دمزل نه يم زور به
ري کيدلم او دمه به موکوله په دمو دمو دغره سر ته وختو ما اوريدلى دى لکه
ه چه دسمى خلک دغره دمزل تکره نه دي دغسى دغره خلک دسمى او اواري
زل تکره نه دى .

چمرکنډ :

چمرکنډ د پرښتکلى اودمزو ځاى دى دغره په سر کښى د پاکو صافو اوبو
نه ده دځمى کرمه اوداوري يخه وي د چينى د پاسه يو سره چنار ولاړ دى
خواکښى لې دهډى ملا صاحب جومات دى د جومات خواکښى لنګر خانه او
وتهنى ، دي خوکو تهنى تشى وي څوک پکښى نه و . اخرا يو کودو خواکښى لې يو
سيوه دارى ونى وي دغنمو يو پټى هم و د کور مخکښى يو څو د کلونو کيارى د
کوتى پټى ، هم وي . زمونږ په کور ځيدو راکور ځيدو او خبرو د کور خاوند
وت دادي ملا صاحب شيخ و يوازى دلته اوسيده . راغى مونږ ته
ستړى مه شى وکړه په جومات کښى کښينا ستو ، شيخ صاحب مونږ ته د
ي ملا صاحب د زمانې تولې قصى وکړې چه دا ځاى هغه څرنګه اباد کړ
د هغه په وخت کښى دلته څومره کرمجوشى وه دلږى لږى ځايونو نه به خلک
ى لمانځه له راتلل . ملا صاحب يو غازى سړى و شيخان د خپلو پيرانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

عجیبه عجیبه کرامات بیانوی . ماخو پخپله علاقه کښی دمانکی صاحب
سوات صاحب دکراماتو قصی اوریدلی وی ماته می خپل پلار چه دسوا
مریدو قصه کوله چه ماته دسوات صاحب یوشیخ ویل چه یوه شپه را
سودا راپیدا شوه چه دا دلنگر خرچ به له کومه خایه پوره کیږي ؟ سهار چه
پاخیدم سوات صاحب پاخیدلی و او دا سه ته یی خان جوړ ولو چه او دسو
ته روان شوزه هم ورسره روان شوم ماته یی وویل دا ودس وچولو د پا
لوتهٔ راواخله ماچه لوتهٔ راواخیسته هغه « سنګ پارس » وبله می راواخ
هغه هم « سنګ پارس » وبله می راواخیسته هغه هم سنګ پارس را
شوم چه دازما دبیکانی خبرې جواب دی نود صاحب په پښو پرپوتم او ع
ورنه وغونښته زما دپلار هم په دې پوره باور وچه داخبره رښتیا ده ا
به یی ویل دا ولیاو کرامت حق دی . دغسی می دپیرانو پیر کرامات هم اور
وو چه د دولسو کالو په بیری یی راوښکی ده چه نه دخدای له قول سره س
خوری اونه د رسول الله (ص) دقول سره اوملا یانو کښی دومره جرئت نه و
خلک په دې پوه کړي چه داهسی خبری دي . زما دې قسم قصوسره اتف
وخپل پلار ته به می ویل سوات صاحب چه دومره کرامت لری بیا دخلکو نه
ولی اخلی اوملکانې ولې تولوي . دتړنګزو دحاجی صاحب په باره کښی به یی
شیخانو دغسی خبری کولې اوپه دی طریقه یی غریب اوناپوهه پښتون ق
اولوتلو اوخپل لویوالی به یی پرې منلو . زما په باره کښی به هم خلکو دغه رنګ
کولی . چا به ویل چه لاسونه یی اوږده دی ، بزرګ دی ، چا به ویل چه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

او به ترخي وي چه ده پکښې يو منګی او به وار ولی هغه خوږی شوی آو دليږی ليږی
ځايه به خلک راتلل ، ويل به يې چه دا دی کوهی او بو کښې شفا ده ، چه څوک يې او څښکی
مرضونه به پری ليږی کيږی ، او چه څوک پری کالی (جامی) وينځی صابن ته ضرورت
نه پيښيږی ، چا به ويل دده په ځای کښې دلسو کسانو د پاره دوه دی پخه شوی وه
سل ميلمانه پری راغلل تول پری ماره شول او دوه دی خلاصه نه شوه ، دغه شان
قسما قسم عجيبه خبرې او قصې کيدلی ، داخو خلکو ويل ، زما ملګری خدايی خدمتګار
وو ، شيخان نه وو ، اوما به هم هغوی ته داخبره کوله چه زه نه شيخان نيسم نه
مريدان ! زمونږ يو مقصد دی ، زمونږ دهغې د پاره شريک جد وجهد کوو .

شيخ صاحب هم د آدې صاحب د پر کرامات مونږ ته بيان کړل خو مونږ
سره د هدې صاحب قدر او عزت دهغه د دارنګه کراماتو په وجه نه و بلکه هغه د
پرنګی سره د مخالفت او غزا کانو په وجه مونږ منلی وُ . هدې صاحب د سوات
صاحب مريد و لکه مخکښې می چه وويل امير عبدالرحمن خان دهدې نه چمرکنده ته
شړلی و خو دلته يې و د سره د پرنګی خلاف په غزا کانو کښې پته مرسته کوله مونږ ته
دې شيخ وويل چه د غزا په موقع به امير عبدالرحمن خان توپک او کارتوس
د البرزل . شيخ صاحب پوه او معقول سړی و هغه د خپلی ګذارې د پاره د شاتو
مجی ساتلې وې او ويل يې چه زما د کور تول خرڅ له دې مچيو څخه لاس ته راځی مونږ
له يې چه دوه دی راوړه د غنمو دوه دی سره يې د خپلو مچيو شات راوړل هغه خوند
چه ما په دې دوه دی کښې ليدلی دی ما په سلو سلو دوه دی کښې نه دی ليدلی يو خو مونږ
وبه ې وو بل غږ و ، او دا بادی نه ليږي ځای وُ هلته د دوه دی د پيدا کيدلو اميد

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم نه و. داځای خوزمونږ د پرخوښ شوځکه چه داځای دې خو امومندو او
باجوړ ته نژدې و او هغه خواسرکانو اوکونړونوته لنډ و بله داچه په جنګی لحاظ د پر
محفوظ ؤ. هغه وخت هوایی جهاز ونه نه وو خو هغه ځای د پر وړوکی واو زمونږ
پلان پکښې عملی کیدلی نه شو.

سالارزی، ماموند:

د شیخ صاحب سره موشپه تېره کړه بیا سالارزو ته لاړو هلته موهم د پ
کلي وکتل. د سالارزو نه بیا مونږ مامونډو ته لاړو. سالارزي او مامونډ د باجوړ
دوه لویي لویي قبیلې دي بالکل ازادي دي. د باجوړ په نوره علاقه کښې وړې
وړې خانۍ او نوابۍ شته د مامونډ وعلاقه د پره اباده اوښه پرازه ده اوښه پکښې
د پرې دي خلک یې هم ښه خلک دي دا علاقه زما د پرخوښه شوه کلي یې هم
لوی لوی دی. کټ کوټ اوکبړی پکښې د نورو په نسبت د پر لوی کلي دي جوماتونه
یې هم ښکلی اومضبوط جوړ کړي دي، روغ روغ غوندان یې پکښې لګولي دي او
زمونږ د کلو غوندی پکښې جوماتونه د پر نه دي په هر کلی کښې یو جومات دی
متول کلی هغه یو جومات له لمانځه له راځي. په هر جومات کښې د اوداسه د پاره
د روانو اوبو انتظام شوی دی خلک یې د پر لمونځ کذار دي، او به یې د پرې
یخې دي او دس پکښې زمونږ غوندی خلکو ته ګران وي خو جوماتونه یې ګرم وي
د ژمی موسم ؤ او مونږ به په یوځای کښې شپه تېره وله. کونبښ به موکو وچه
ځوک موونه پېژنی ځکه چه د دې ځای د پر طالبان زمونږ علاقې ته د سبق ویلو
د پاره راځي په کټ کوټ اوکبړي کښې خو دیوکس دوه و شک راغی خو مونږ ځانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

جانه کړل خو هغوی په دې خیال کښې چه دپښتو کو خان او دلته راتلک نو زړه تنه به
راغلل چه مونږ غلط شوي یو یو خل ماته یو کس وویل چه ته دپښتو کو خان نه یې
ورته وویل چه نه . مونږ به په چوماتو نو کښې شپې کولی چاسره موخبره مبره نه
یله . چاچه ډخه راوړل هغه به مو وخوړل . یوه شپه په کټ کوټ کښې یو سپین
ږیري ملک مسلمانه کړو هغوی مسلمه کورته بیایي مونږ یې خپل کورته بوتللو ، نو بنځې
ته لاس په نامه ولاړ وو دک شکور دوه ډې یې راته مخکښې کښېښوده د پرښه کوریې
او د پرښه کوربانه وو . مونږ د ماموند ونور کلي هم وکتل په اخر کښې موخبرې خوښه
کړه . دا علاقه زما د مرکز د پاره د پره خوښه شوه یو خو د اخلک د پرستانه او د رانخلک
یله دا چه دا علاقه لکه د پښتنو د نورو علاقو په شان دانکریزانو نه متاثره نه وه او نه
انګریزانو ماجب خواره اونه یې په پیسو اخیستو اموخته کړې وو او د انګریزانو صحبت مخالف
د انګریزانو بد باجوړ قوم ته لکه د نورو قومونو په شان حساب نه ورکوه . دلته به یې ماجب *
مانو ته ورکولو . نو قوم د پرنګی د اثر نه ازاد وو . مونږ دلته د مخفی صاحب اوسنده
صاحب د را تللو په انتظار پاتې شو ، دلته لکه زمونږ د علاقې مخوانی رواج په شان دا *
ده ده چه شل کاله پس قوم راتول شی اوله سره د کلو او ځمکو ویش وکړي په هر
یې چه د چا خسنې وخبرې هغه کلي له به ځي . دا د پښتنو عامه زړه قاعده
خو کومې علاقې چه د ځمکو متونو د اثر لاندې د اغلې هغوی کښې د ځمکو د ویش سلسله
نه شوه . د پښتنو کوم قومونه چه ازاد دي هغوي لا هغه شان شل کاله پس له سره
ویشي .

ما فکر وکړ که مونږ مسې مسیح بې میخه دلته ناست یو نو د خلکو به را باندې شک

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشی راځه یوه قصه جوړه کړه چه د مخفی صاحب دوی تر راتګه پورې وخت و
په جومات کښې یوې کوټنۍ کښې چیله شوم تش لمانځه، او د اسه او قضای حل
ته به راوتلم هغه به می هم مخ پټ و نور به می په کوټنۍ کښې وظیفه کوله، تزکیه نف
به می کوله. ما د شیخ الهند محمود الحسن صاحب نه لاس نیوی هم کړی و
چیلی په دې خلکو د پرلوی اثر وشو دهغوی د اخیال وچه زه کوندې زبرګ یم
به دم، دعا او تعویذ ونه به یې راته غوښتل. یوه ورځې یوه ښځه راغله زوی ب
غیږ کښې وویل یې چه زما دې زوی ته دعا وکړه چه خدای یې دتي نه زړ صبر کو
د دې کالو شو اوتی نه پرپښ دی چه تی نه ورکوم ژاړی بلده ورځ جوړه کړی
ورته وویې چه سود مرچکی ښه میده ګه او دتي په غوټۍ ریې پوری کړه امید
چه زوی به دی تی پرپښ دي. ښځه لاړه او د اچل یې کړی و سبا له راغله د
خوشاله وه د شا تونه ډک کنډول یې په لاس کښې و راته یې وویې چه ستا
خدای قبوله کړه. زوی می تی پرپښوده زه اوس په زور تی ورکوم دی یې نه
هلک به څنګه تی اخیستی وای دتي پوری مرچکی و د هغه خوله یې ترخه کړی
دوی دا زما کرامت ګڼلو حال دا چه کرامت نه و خو پښتانه د پرخوش اعت
خلک دي او خلکو ورته دا څیزونه په ذهن کښې ښوولي دي. بس د خلکو تګ د
مانه زیات شو د غسی چه دوی ته هر چا خلکه یا جونګه جاړه په سر اچولې د
ورته راغوندشوي دي شکرانې یې ورکړي دی خدمتونه یې ورته کړي دي
یې ورته وهلي دي خو بابا کا نوخپل مطلب په دوی کړی دی دوی له یې څه ن
کړی د دوی غم یې نه دی خوړلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دچیلی نه وروسته هم مونږ د مخفی صاحب او مولانا عبید الله سندهی صاحب انتظار وکړو خو هغوی را نغلل زما سودا شوه چې دوی ولې را نغلل هلته چې مونږ خبر شو چې دیورپ جنګ شروع شو مونږ هم واپس را روان شو د مخفی صاحب دتره زوی تر ملکنده پوری راسره راغی له هغه ځایه می رخصت کړ او زه په درګی کښې په ریل کښې سور شوم په تخت بایي کښې کوز شوم او کلي ته لاړم څو ورځې پس می مخفی صاحب ولیده پوښتنه می تري وکړه چې تاسو ولې را نه غلئ هغه راته وویل چې کوم ځای او کوم وخت چې ما د مولانا سندهی صاحب سره مقرر کړی وو هغه تر اوسه هلته نه دی را غلی نه پوهیږم چې څه وجه ده ؟

مونږ ورته وې انتظار کښې وو چې یا به مولانا پخپله راشي یا به بل څوک راولیږي چې د مرکز ځای ورته وښیو بیا هندوستان ته لاړشو او دکار د شروع کولو بندوبست وکړو د هر وخت تیر شو او څوک را نغلل چې په دې کښې د دنیا اولنی لوی جنګ د نښت اوزمونږ د غه سکیم په ځای پاتی شو او مونږ ته بیا دیو ځای کېدو موقع په لاس را نغله .

اولنی جنګ عظیم :

کله چې ترکیه په جنګ کښې شامله شوه نو د هندوستان د مسلمانانو په جنګ کښې د لچسپی زیاته شوه یو خو ترکیه اسلامی ملک و او د مسلمانانو خلیفه او پیشوا کنل کیده او بله داچې دوی فکر کولو که ترکیه او جرمن انګریز ووهي نو زمونږ ملک به مونږ ته پاتی شی دوی دې ته نه کتل که انګریز د جرمن او ترک دلاسه ووهل شی خو دا ملک به هم جرمن یا ترک اخلی داځکه کېدی شی چې مره کېږی به جرمنیان

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوترکان اووطن به پریږدی هندوستانیانو ته خوپه کوم قوم کښې چه میرانه
او دقربانی ماده پاتی نه شی هغه به تل دبل توری ته کوری کله به دجرمن په تمه
وی اوکله به دترک په تمه وی اوکله به دامام صاحب په تمه ناست وي، دهندوستان
دمسلمانانو بله کمزوری داوه چه دوی به دخپل ملک اندرونی معاملوسره دومره
دلچسپی نه اخیسته دنورو بهرونی خلکو په غم کښې به وو، دوی په دی فکر کښې
ووچه مونږ ته دترکیی سره امداد پکار دی دوی سره دخپل ملک دومره غم نه وی
لکه چه دبل ملک وي. سړی چه خپل ځان دغلامی نه نه شی خلاصولی هغه به دبل سره
څه مرسته وکړی شی که مونږ ربنتیا د دنیا دنورو مسلمانانو سره مرسته کول غواړو
نو په کار دی چه دپرنګی نه هندوستان ازادکړو ځکه چه دهندوستان په وجه
هغه طاقتور دی اودهندوستان په زور هغه نورا سلامی ملکونه ووهل. دافغانستان
په جنګ کښې ټول سپاهیان هندونسایان ووصرف افسران یې انګریزان وو اوداترک
هم ورته دهندوستان پلټنو ووهل. دحضرت مولانا محمود الحسن شیخ الهند
صاحب اوحضرت مولا عبید الله سندهی صاحب په سلا اومشوره مولوی
سیف الرحمن صاحب دډیلی دفتحپوری عربی مدرسی پرینسیپل یې دترنګزو
حاجی صاحب له راولیږه چه هغه دې ازاد وقبایلو ته هجرت وکړی او قبایل دی
دانګریز په خلاف اوچت کړي دغسی دی دهندوستان په تولو سرحدونو کښې
دبغاوت اوروونه پل کړی شی اوافغانستان دې هم دې ته تیارکړی شی چه
دترکو اوجرمن په پره کښې داخل شی او دپرنګی برخلاف غزا شروع کړی د
هغوی مقصد داوچه که انګریز خپل فوځ دجرمن اوترک مقابلی ته بیایی دلته به زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مقابله کښې کمزوري پاتې شی مونږ به يې وو هو اوله هندوستانه به يې وشړو
او که خپل نوځونه زمونږ د مقابلې دپاره په هندوستان کښې پاتې کړي د ترکو
اوجرمن په مقابل کښې به کمزوری پاتې شی هغوی به يې ووهی او مونږ به له غلامۍ
نه خلاص شو. د جنګ نه وړاندې هم مونږ سره دافکر وچه يا په ازاد قبايلو کښې
دپرنګيا نو د مقابلې دپاره مرکز جوړ کړو يا دافغانستان سره تعلق پيدا کړو.
چه جنګ وښتو او جرمنيانو انګريزانو ته ځای ماتی ورکړه مونږ په دې
فکر کښې شو چه مونږ له هم څه کول په کار دي بايد ازاد قبايلو يا افغانستان ته
هجرت وکړو مونږ لا په څه فيصله رسيدلی نه ووچه مولوی سيف الرحمن
صاحب راورسيد او د شيخ الهند صاحب او دهغه د ملګرو پيغام يې راوړو
مونږ تول هجرت ته تيار شو حاجی صاحب خوشپه شپه بُنېر ته هجرت وکړو
او ووت. مخفی صاحب، مهتمم صاحب، مولوی عبدالعزيز صاحب او
مولوی فضل ربی صاحب دوی هم ورسره لاړل اوزه ددې دپاره پاتې شوم
چه د دوی او هندوستان د ملګرو تعلقات وساتم او دهغوی امداد دوی
ته ورسوم.

د حاجی صاحب هجرت:

د حاجی صاحب په تللو چه حکومت خبر شو په ملک کښې يې لوی غوبل جوړ
کړو محکمه چه په دې وخت کښې د حاجی صاحب تلل د دوی دپاره د پرخطرناک
و، حکومت د حاجی صاحب د تللو د علت معلومولو د پاره لوی لوی افسران
مقرر کړل. ما داخبره خوړه کړه چه حاجی صاحب ته د حکومت يو لوی افسر

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبر داری ورکړه چه حکومت تا د خلافت په وجه کړفتار وي نو حاجي صاحب
د دې کبله شپه په شپه ووتلو. د حکومت خو ریښتیا هم داسې اراده وه ما پسې
هم سې. آی. دې راغلل دا پوښتنه یې کوله چه دا افسر څوک وچه حاجي
صاحب یې د حکومت دا رادې نه خبر کړې دې؟ ما به ورته خه ویلی وای محکه چه
ما نه خو څوک معلوم نه و او نه چا افسر دا خبره کړې وه. دا خبره چه لږ ساړه
شوه زه د حاجي صاحب دوی د خبرا خیستلو د پاره بونیر ته لاړم زه خو
پټ لاړم خو په دې پوه نه شوم چه د حکومت نه پټ پاتې شوم که نه محکه چه د انګریز
د حکومت نه د دا سې خلکو پټ پاتې کېدل ګران کار دی. زه چه بونیر ته ورسېدلم
نو حاجي صاحب د نورو ملکرو سره په دوره وتلی وکوم ځای چه د بونیر پښتنو
حاجي صاحب ته د سیري په دول د اوسېدو د پاره ورکړی و د هغه مزه دار
ځای و، یوه لویه غونډۍ وه ورلاندې ښه آوی محکه وه. دا غونډۍ د دا بادۍ
د پاره د هغه موزونه وه او دا ځای د حاجي صاحب د پاره موزون و او د بونیر
خلکو د آبادۍ د پاره د هغه لرګي او سامان هم راجمع کړي وو. زما دا رایه وه چه
همدا ځای د حاجي صاحب د پاره جوړ شي

زما بونیر ته تلګ:

* حاجي صاحب په پاچا کلي کښې ډ د پیر بابا زیارت هم په پاچا کلي کښې
دی، د هغه خلک زیارت ته روان وو مونږ هم د سره روان شو چه پاچا کلي
ته ورسېدو حاجي صاحب مو ولیدو چه د هغه خلک د ده ته راجمع شوي دي
هغه زمونږ ملګري او د حاجي صاحب مشر زوی پاچا ګل صاحب هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

درسره و ، خلکو کښې د جهاد اوغزا خبرې کېدې باچاکل هم خلکو کښې لپس لپسې
کولو چې دوډی وخت شو حاجی صاحب خو د خلکو په هجوم کښې کیږو او زمونږ
ملګری باچاکل اوزه سره بهل شو په دې خیال چې دوډی به هم وخورو او خبرې
به هم وکړو . په توله علاقه کښې د مبلمنود پاره هرچا د خپلې وسې سره سم دوډی
پخه کړې وه مونږ د دوډی خوړلو د پاره د خورلو پورې غاړه کوروله وو هغو
ته ور پورې وتلو هلته ځانله په یوه حجره کښې کښینا ستو هغو خلکو راله د غنمو
خمیره پر سېدلې دوډی او کالوخانی تالی کښې د چرګ د غوړو د کې بنورو
راوړه د هره مزه داره دوډی وه ما پخپله سیمه کښې د هر تکلفی د عوتونه خوړلې
وو خو داسې خوندې پکښې نه ولیدلې بل د دې ځای او به او هوا هم د هره ښه
وه هر څومره دوډی چې به مو وخوړه لږ ساعت پس به هضم شوې وه . ما
خو به دوو ځې دری ځلې دوډی خوړلې بیا به هم وبې وم ، د دوډی نه ورو سته
د خلکو نه جدا شو او په حالا تو مو خبرې اترې شروع کړې په خبرو کښې راته
معلومه شوه چې د دې علاقې مذهبی مشران ، سیدان ، ملایان ، میاکان
او زبرکان بونیرته د حاجی صاحب په راتګ خوښ نه دي ځکه چې د حاجی صاحب
په راتللو د هغوی بازار سور شوی و ، خلکو حاجی صاحب ته مخه کړې وه نو دوی
غوښتل چې د اسې چل جوړ کړي چې حاجی صاحب نور دلته نه پکاوونه شی نو د دې
د پاره هغوی یو طرف ته په خلکو کښې د جهاد اوغزا تبلیغ شروع کړی و او بل
طرف ته یې په خلکو کښې غلی غلی دا پراپېکنده هم کوله چې د اخلک چې د اغلی دی که
جهاد له راغلي دي نو په کار دی چې جهاد وکړي او که سود اکړی له راغلي دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه دسمی جایداد موهم شو او دا جایداد به موهم شی نو دا بیله خبره ده . نو با
کل وویل چه په دې طریقه یې زمونږ پوزیشن د هر راخراب کړی دی او د با
جی هم دانظر یه ده چه مونږ له جهاد کول په کار دي ولی چه قام ناپوهه دی
زمونږ په خلاف په داسی طریقه تبلیغ شوی دی چه د قام په زړه کښې یې دا
کښینولی ده . که مونږ جهاد نه کوو د دې خلکو عقیدې له مونږ نه کرځی او د ک
مقصد د پاره چه مونږ راغلي یو د اخلک به سبا په هغه مونږ سره تعاون
ونه کړي نو مونږ به خپل مقصد ته ونه رسیږو . لیکن زما د دې خبرې س
اتفاق نه و او په موجوده حالا تو کښې د جهاد اعلان زمونږ د مقصد د پا
د هر زیات نقصان رسولو . ما د حاجی صاحب او نورو ملکرو په خدمت کښې عرض
وکړ چه د خلکو خبرو پسې مه ځئ داد خو د غرضو خلکو خبرې دي د دوی په جها
څه کار نشته . د دوی دا خیال دی چه د لویې وني لاندی واړه نیالګی و ده نه شی
کولی . نو تا په څه چل له دې ځایه لیږی کوی او میدان ځان ته خالی کوي نو د د
مقابله په کار ده او خلک باید پوه کړی شی او صاف صاف ورته وویل شی چه
انګریز مقابله یوازی تاسو کولی نه شئ او تاسو سره د انګریز د مقابلی سامان هم
نشته نو اول باید په تولوازاد و قبایلو وګرځو هغوی ځان سره کړو او وتول منظم کړ
او د انګریز په مقابله کښې دوی ته د سنه جنګی سامان بندوبست وکړو او دوی
د جنګ د پاره تیار کړو . نو په دې طریقه به زمونږ طاقت پیدا شی او چه طاقت
مو پیدا شو بیا به د انګریز سره جهاد کوو او خصوصاً د بونیر پښتانه د نور
ازاد و قبایلو غوندې سامان هم نه لري او هغسی تیاری هم نه لری نو که یوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی جنګ شروع کړو کامیاب به نه شو خو په حاجي صاحب د پروپاګنډې دومره شهرت وچه زمادی خبرو منلو ته تیار نه و.

بنیر کښې د پیرنګیانو سازش:

په دې پروپاګنډه کښې د پرنګیانو د پرلوی لاس و. هغوی غوښتل چه اول حاجي صاحب بېرته خپل ځای ته راشي او په دې غرض يې ورپسې دخانانو او ملکانو دمشرانو دوني درنې جرګې ورلېږلې وې او بل طرف ته يې ورپسې د پروپاګنډه چه حاجي صاحب مجبور شي چه بېرته وطن ته راشي او که نه راځي نو دې نه ووژل شي چه نور قبایل دځان ملګري کړي باید جنګ وشي. ما دوه درې ورځې سره تېرې کړې بیا واپس کلي ته راغلم لږې ورځې پس مې د حاجي صاحب د اعلان واورېدو. په دې قام کښې د پرنګي د مقابلې طاقت نه ؤ یوه ورځ يې څه معمولي مقابله کړې وه نور طاقت پکښې نه و. حاجي صاحب پسې پرنګیانو خوړې کړې وې چه ژوندی يې ونیسي. د دې کار د پاره يې خلک هم پیدا کړي وو اونیوه يې چه حاجي صاحب خبر شو شپه په شپه سوات ته اوله هغه ځایه ورته واورېده اوله هغه ځایه د مومندو (سره کمر) ته لاړ هلته د بړه اوباد. د حاجي صاحب خوزماد خبرې سره اتفاق وخو د هغه برخلاف د غلطي پاګنډې په وجه داسې رأی عامه جوړه شوې وه چه زما خبره يې منلې نه شوه د عامه مقابله د بړه مشکله وي. د غلطي پروپاګنډې مقابله کول په کار وي چه د پاخه ښه ملاوتړي او خلک په حقیقت پوه کړي او داهله کېدې شي چه د هغوی هم خیالو مضبوطه د له وي چه د خلکو اعتماد يې حاصل کړي وي وچت شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه ملک کښې وکړځی او خلکوته غلط خبره اوحقیقت سم ور ښکاره کړی . ولی
نه داسی دله وه اونه په دې طریقه کار شوی دی اونه دکار موقع په لاس
وه او داسی دله خو دکار کولو نه پس پیدا کیدی شی . حاجی صاحب چه څ
منډه بونیږته تللی و په دې وجه همداسی په منډه له بونیږه وتښتیده . م
بابا کان . میاکان اوپرنګیان پخپله پالیسی کښې کامیابه شول .

مدرسې بند شوې :

پرنګیانوته ددی کشمکش په وجه دنقصان په ځای فایده ورسیده
خوبی په بونیر قبضه وکړه اوبله داچه بهانه په لاس ورغله زمونږ په ملک ک
خومره قومی اسلامی مدرسی وې تولې یې یودم بند ې کړې ځکه چه دامد
پرنګیانو دخپل حکومت په لاره کښې اغزی ګڼل . دهغوی استاذان او کا
یې بندیان کړل . هغه کسان یې هم بندیان کړل چاچه به ددې مدرسو د
دخلکونه چندی تولولې او د مدرسو پالنه خدمت اوانتظام به یې کولو . حقی
خو داوچه دامدرسی دحاجی صاحب نه وې دقام وې اودقام په پیسو
انتظام چلیدې خو دملایانو دخولو بند ولو د پاره مونږ حاجی صاحب سره پرست مت
حکومت دمدرسو داستاذانو او چلوونکو سره ډیر زور، ظلم اوبد
وکړ . د دیرهٔ اسماعیل خان جبل ته یې ولیږل . دصوبه سرحد په تولوجیلو
دیره اسماعیل خان جبل د آب وهوا په لحاظ او د بد سلوکی په لحاظ دیرهٔ
جیلخانه ده . د دنی د دنی خولنې یې ورته واچولې ، مېچنی به یې پرې کړځولې
کولوکان « د تیلو کانی » به یې پرې کړځول اولکه د سنډاکانو به یې په ارت

* ملای مدرسی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پري پي تري وخر پيلي، وي وهل، وي تکول، وي شهمول. هغه وخت به
جيلخاني کښې داسې دودي ورکول کيده چه انسان خو پريږده چه خناور هم
خوره اوداسې جامې به يې ورکولې چه سړي به پکښې دسړي غوندې نه بنکاريده
ږيره دکلي پلار اوزوي بنديان شوي ووچه دجيل جامې يې ورا غوستې دې او
ودي ته يې را ايستلې دي، زوي يې چغې کړې چه بابامې څه شوحال دا چه
دې خوا کښې ولاړ دۀ خو داسې جامې يې ورا غوستې وې چه خپل زوي نه پيژندلو
ى نه شپږ اووه کاله پس زه پخپله دخلافت په سياسي تحريک کښې قيد
وم ماته يې چه کوم پرتوک راکړي وهغه زما د زنکانه دستر کې نه پورته و او
سې کميس يې راکړي وچه په سجده به پريږدم ملا به مې توله بنکاريده .
ى به بنديانو له جامې په يوناپ جوړولې وهغه قيدي دې خداى مل شي چه
پاڼه به جګ اوتن به يې غټ و او خوراک مې داسې وچه سپې خوښ کښې
ه مګر پيشوته مې خپله دودي سره دانګولې اينبې ده پيشو خورلې نه ده .
ددې نه علاوه يې دحاجي صاحب شيخان او تعلقداران هم ډير کرفتار
ب . پوليس ته دا اختيار وچه دحاجي صاحب درشته دار او تعلقدار او
يخ په نوم چه هر څوک کرفتارول وغواړي کرفتارولى يې شي . په خلکو کښې يې
ره وبره اوبزدلي پيدا کړه او دومره هيبت يې پرې راوستو چه چا ته به دې
ې شيخ صاحب هغه به درته ووې پلار به دې شيخ وي . دحاجي صاحب
لوى شيخان دحاجي صاحب د شيخي نه توبه کار شو او خپلې خوښې داسې
ردان ووچه حاجي صاحب پسې يې سپکې سپورې خبرې هم شروع کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې دپاره چه پرنګی به خبرشی اوزه به دقید نه بچ شم . دا دپره دافسو
خبره وه چه دپرنګی زور اوظلم په دې خلکو کښې وپره زیاتوله او دمقابلې
دجد وجهد جذبه یې پکښې نه راوینبوله . داتول مذهبی خلک وو اودا
په نزد بیره دمذهب لوی رکن و دوی کښې دبیروخرپیلوهم غیرت را
نه کړ په جیلخانو کښې یې اذان نه شو ویلی دجمع لمونځ یې نه شو کولی . دا
اصلاح هغه وخت وشوه چه مونږ خدایی خدمتګار جیلونوله لاړو . بیا دچا
نه شوه کلیدلی . اذانونه به کیدل ، دجمعې لمونځ به پنځه وخته باقاعده کیده
کیږی ، خوراک سپه شو میچنې ، کولوکان ، ارتونه کړحول بند شول جامه
شوه دیوې چکۍ کورې اوغوږو اجازت نه و په یوه چکۍ کوره به قیدی پ
کښې بند پاته دامونږ ازادکړل . زه په دې حقیقت پوه شوم چه مذهبی خ
سره به چه ظلم زیاتی کیده دوی به وپریدل اوبې جرأته کیدل اودسیاس
بند یانوسره چه به څومره ظلم زیاتی کیده هماغومره به دوی همت اوجرأ
زیاتیده . داتوله کتله دقام قید یانوله خدایی خدمتګارو وکړه او دخدایی خ
په قربانوشوی ده . پاس ذکرشوي اصلاحات هغه وخت وشول چه د
خدمتګارو حکومت راغی . په دې ودرځو کښې ماپسې هم ذکرفتادئ حکم
شوی وو خوزه خوش نصیبه وم چه څودرځې مخکښې زمونږ دعلاقې پولې
کپتان حافظ زین العابدین چه دامبرسر (امرتسر) ؤ زمونږ کلی ته را
ؤ اتفاقاً زما اودهغه زمونږ دملدرسی په باره کښې خبری شوې وې هغه
وویل چه مونږ هم په امبرسر کښې ستاسو غوندی قامی ملدرسه جوړه کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

* هغی مصارف مونږ دقربانیو دځرمنونه پوره کوو که تاسو هم دې قام ته وواياست
چه دقربانی ځرمن درکړی دچند وتولولوله کړاوه به خلاص شئ. ماورته
وې څه کوې په ملا یانومی وژنې ؟ دلته خو دقربانی په ځرمنو دملا یانو قبضه
ده ملا به خپلی ځرمنی ایستلوته تیارشی خو دقربانی ځرمنی چاته نه ورکوي. هغه
وې چه زه به په دې کښی ستاسو امداد وکړم ماورته ووې چه ستا په امداد
لپدی شی. که ته داخانان اوملکان پوه کړې چه دقربانی ځرمنی دملا یانو
په ځای قومی مدرسو ورکول دپر ثواب لري نو دوی به یې ومنی ځکه چه
مونږ په خانانو، ملکانو اوملا یانو دحاکمانو اوپولیس افسرانو دپرزیات
ترې دی. ددې خبرو په دوران کښی هغه ته داخبره هم معلومه شوه چه دا
مدرسی قامی مدرسی دي او دحاجی صاحب پکښی هیڅ نشته صرف د
ملا یانو دخولو بندولو او دپراپګنډې دمخنیوي په غرض پرې مونږ دحاجی
صاحب نوم اینبی دی نوځکه هغه زه گرفتار نه کړم خومدرسه یې راته بنده
کړه اودمولوی عبدالعزیز صاحب نه علاوه چه دحاجی صاحب سره تللی
و. نوراستاذان یې هم قید کړل. تقریباً یوکال پس پرنګیانو داکسان دها
کړل خو دوي غریبان دومره وپریدلي ووچه چا به ورته دشیخ، ملا، سی
اوحاجی صاحب نوم واخیستو دوی به ورسره جنګ کاوه.

خومودې پس چه بیا دحاجی صاحب اوپرنګیانو نښته دمومند و په علاقه
کښی وشوه داکسان یې بیاوښول اوتقریباً نهه میاشتی بند یان و. دغسی یو
چه هروخت دپرنګیانو اودحاجی صاحب کشمکش پیدا شو دوی به یې وښول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرتګیانو به دافکر کولو چه حاجی صاحب د دوی په ډاډ غواړي چه دامک
زمونږ د غلامی نه ازادکړی او د دې نه خبر نه وو چه دوی غریبانا
ازادی پیژندله چه دا د خدای یولوی نعمت اورحمت دی اونه یی غل
محسوسوله چه دا د خدای لوی لعنت اوغضب دی ان که د مسلمان و
هم وی . دوی خو ثوابیان خلک وو اوغوښتل یی چه د تسپو او ظل
په زور خانته په هغه بل جهان کښی جنت وګټی اوجنت څنګه جنت
پکښی به حوري وي ، غلمان وی ، د شاتو ، شراب او پیوو یالې به پکښی
بهیږی . قسما قسم میوې به وي چه د شوکولو تکلیف به یی هم نه وي تشو
خوله واز وه پکښی به راپریوزي . هغوی ته مذهبی لویو لویو پیشوایانو
ممبز د پاسه داویلی وو چه د دنیا د کافرو ده مسلمانان به د لته خوار وزا
وژي ، تږی ، لوڅ برښنه اوحقیر اوذلیل وی په هغه جهان کښی به بیا دو
مزې کوي د مسلمان خو هغه دنیا ده اوخلکوهم دامنلی وه . په دې خبره هیڅ غو
اوفکر نه ؤکړی چه دین د دې دنیا د پاره دی که د هغه جهان د پاره اوکه د دوا
د پاره دی مونږ خو په لمانځه کښی اول د دی دنیا بښنه لګنې له خدایه غواړ
او بیا د اچه د هغه جهان نه خوځوک راغلی نه دی مګر د دې دنیا تاریخ خوزم
په وراندی پروت دی چا ته چه مذهب راغلی اوهغوی منلی اوعمل
پرې کړی دی په دی دنیا اباد شوی دی د عزت خاوندان شوي دي
د خپل حکومت خاوندان شوي دي د خوشالۍ اوامن ژوند یی نصیب شوی
دی ، تاسو عربو ته ګورئ چه د اسلام نه مخکښی د هغوی څه حال و؟ او ح

(c) ketabton.com: The Digital Library

م راغی او عمل یی پری وکړو دهغوی څه حال شو ؟ داسلام په وجه دوی
ومت ، دولت اوعزت خاوندان شول . تاسو دهغه وخت د مسلمانانو د ژوند
ر تاریخ نظر واچوی غور اوفکر پری وکړی او داسلام ددی تیکه دارانو په خبرو
او سوچ وکړی چه دا دوی چه کوم اسلام بیانوی دا هغه د خدای او رسول
م دی که دسهایه دارو؟ او دوی چه څه وایی د خدای د پاره یی وایی که د
ایه دار د پاره وایی ؟

مومند وته د حاجی صاحب هجرت :

د بونیر نه مومند وته د حاجی صاحب په تللو او د پره کیدلو مونږ ته یوه فایده
ه چه مونږ ته رانږدی شو او د حاله یی زر زر خبریدلو څخه چه مومند اکثر
وره دی یوکور یی پاس په غره کښی اوبل یی دلته مونږ سره په هشنغر
ی . د وزانه خلک څی راځی د هغه ځای د ماتوکو د ونه مونږ خبروی او
ږ د ماتوکو د ونه هغوی خبروی . بونیر خو یولیږی و اوبل د خلکو تک
ورته لږ و .

د حاجی صاحب د هجرت او د اول عالمی جنګ د شروع کیدو په وجه
ستان ته زمونږ تګ راتګ بند شو . زما تولو ملګرو د حاجی صاحب
هجرت کړی و زه یوازی پاتی وم . پرنګیانو هم په ملک کښی د اسی حالات
ړی و وچه ما د هندوستان د تللو جرئت نه شو کولی . بله دا چه شیخ
مولانا محمود الحسن صاحب عربو ته هجرت کړی و د حج د فریضی
لو د پاره مکی معظمی ته تللی و . د هلته شریف مکه د ترکو په خلاف د پرنګیانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په سازش دکفر فتوا په ملا یانو لیکلی او دستخط کړی وه په شیخ ا
صاحب یی هم زور لګولی وچه ته یی هم دستخط کړه خو هغه انکار کړی
دی وچه شریف مکه شیخ الهند صاحب گرفتار کړی او پرنګیانو ته سپ
پرنګیانو شیخ الهند صاحب د خپلو ملګرو سره د مالتا په جزیره کښی
کړی و. مولانا عبید الله سندهی صاحب هم له هندوستانه هجرت
او افغانستان ته رسیدلی و. دده سره دهندوستان یو څو قوم
مسلمانانو او هندوانو هم هجرت کړي او په کابل کښی یی یو عارضی حک
راجا مهندر اپرتاب په صدارت قایم کړی و څوک چه پاتی وو معلومه
چه هغوی د پرنګیانو له وېرې مونږ سره رابطه نه شوه ساتلی صرف یو څ
د پرښ پوښته چه څلور نیم سوه روپۍ کېدی د ډاک په ذریعه زما په نو
دی چه هغه ما حاجی صاحب ته ولیږلی نو ړی د حاجی صاحب هیڅ قد
امداد ونکړ حال داوچه حاجی صاحب سره دوی د مکمل امداد وعد
او حاجی صاحب ته د دوی د امداد په ضرورت و. ماته می بابا د جبب
د پاره په ما مند نادی کښی شسپیته جریبه ځمکه راکړې وه په هغی کښی
زمینداری کوله دهغی به چه څومره امدن کېده هغه به می حاجی صاح
خپلو ملګرو د امداد د پاره لیږه خو هغه به د حاجی صاحب د مشر څوی با
لاس ورته لو زما ملګرو ته به یی نه ورکولو هغه غریبانان د خرڅ پورې ا
هیڅ کار یی نه و لکه د نورو شیخانو د لنګر پخی پوډی ته به ناست وو
تکلیف به یی ژوند تېرولو. په کار خو داوچه حاجی صاحب هلته دوی ا

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړولو انتظام کړی وی. دوی به پکښې کار کولی او بچو به هم پکښې علم زده کولی
او د تبلیغ دپاره به یې پکښې خلک روزلی وی چه بیا به ټولو قبایلی علاقو کښې خواره
شوی وی هم خیال کسان یې پیدا کړی وی او قبایل یې په یو مرکز کښې پیښلی
او منظم کړی وی. زمونږ ملګرو په رموز رموز کښې دا خبرې کړی وی خوچا
پرې غور نه وایښې اخر مهتمم تاج محمد صاحب د شیخانو په یوه غونډه کښې
پاڅېدلی او په ممبرو د پلالی دی دوی ته یې ویلی دی. تاسو شپه او ورځ د
خپل لښکر په فکر یئ د قام اصلاح او تعلیم خواته هم څه توجه په کار ده. ده غریب هم
دومره خبره کړې ده شیخانو نورو خبرو ته پریښې نه دی اوله ممبره یې راکوز کړی
دی. دا کسان خو د کار قابل اولایق کسان وو دوی چه خپل کور کلي پریښې وو قربانۍ
یې ورکړي وی او مومند وته تللی وو. کار پسې تللي وو دیو مقصد دپاره تللی وو.
د شیخانو په شان خوی د لښکر د ودې سود کړې نه وه اوله د شیخانو د جنت
په تمه ناست نه وو. د دوی په جنت او د شیخانو په جنت کښې او د دوی د جنت
په لار کښې او د شیخانو د جنت په لار کښې ډېر فرق و. معلومیده داسې چه
باچا کل د پرنګیانو سره سازش کړی و او د حاجی صاحب او دهغه د کار کوونکو
ملګرو ترمینځ یې غلط فهمی پیدا کولې او د دوی په لار کښې یې خنډونه اچول او
زمونږ ملګری یې دی کار ته نه پریښول. زمونږ ملګرو د بې کاری ژوند نه شو
تېرولی مایوسه شول او دا نګریزانو هم دا کوښښ وچه دوی د دې ځایه لاړه
شی. مخفی صاحب خو د خپلو خپلوانو ځای ته دیر ته لاړ مولوی سیف الرحمن
صاحب افغانستان ته لاړ او مولوی فضل ربی صاحب هم ورپسې لاړو، مولوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالعزیز صاحب سوات ته لاړ ، مولوی تاج محمد صاحب کانګړی ته لاړ اوهلته ځان له دیره شو بیا دهغه ځایه په هغه لشکر کښی چه دامیر امان الله خان په مرسته دپکتیا دمنګلو قبیلی دکور ملا دشورش خلاف جوړ کړی و، منګلو ته لاړ اوهلته بیا په خوست کښی وفات شو. مولوی عبدالعزیز صاحب سوات ته راغی .

دسوات دباچاهئ کشاله:

په دی وړځو کښی دکوهستان ملا صاحب ددیر دنواب دزور ظلم نه د سواتیانو دپاره سوات ته راغلی و ، دنواب نه یی دسوات دپره برخه نیولی وه او سیتانی یوسیدلی چه عبدالجبار شاه نومیده په سوات کښی باچاګړی و. کوهستان ملا صاحب دتورنګزو دحاجی صاحب ماذون ؤ ده ته په کار وچه د سوات یوسړی یی دسواتیانو مشر کړی وی ځکه چه سوات دسواتیانو واو دسواتیانو وینی پری توییی شوی وی اوښه خبره به داوی چه کوهستان ملا صاحب د مدینی په طرز اوطریقه دخلکو په رأیه یوجمهوری نظام قایم کړی وی خو معلومیږی داسی چه دپښتنو دکور دنوجنګونو، کوندیو، تورنګبنیو اوبی اتفاقیو او دښمنی له کبله کوهستان ملا صاحب دا کار کولی نه شو . دپښتنو تاریخ دداسی واقعاتو نه ډک دی چه کله داسی موقع په لاس ورغلی ده ، دوی دخپل ورور عزیز په ځای میا ملا په ځان مسلط کړی دی عزت یی پخپلو کښی په یوبل پیرزو شوی نه دی او په خپلو کښی بدنیته شوي دي او دغه شان چه څوک دوی دخپل ملک ، قام او مذهب مشران په ځان منلي دي هغوی بیا ښه منزلی او خوږلی دي اودوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا هم ورنه سبق نه دی اخیستی اودغه وجه ده چه دجنت په شان وطن
کښی په جوار و ماره نه دي وږي ، تږي ، خوار زار اوجاهلان پاتی دي د
قدرت دپتو خزانو نه چه د دوی په ملک کښی لی پیدا کړی محروم دی اوتر
هغی به لی دا حالت وی تر څو چه دوی قبیلوی ژوند په ملی اوقومی ژوند تبدیل
کړی نه دي اویو ملت شوی نه دي اوپخپلو کښی وروری ، عزیز ولی اوقامولی
مینه ، محبت اوپیر زوینه پیدا کړی نه دي . اوتر څو چه لی دقام عزت ، خپل عزت
اودقام بی عزتی لی خپله بی عزتی کنلی نه دي . دا دنیا قومونه چه اباد شوي دي
ترقی لی کړې ده اواسمانونو ته وختل اومونږ چه دهغوی دعزت ژوند او
اسودگی ته کورو ورته پسخه یږو . دا زمونږ په شان خلک دي دا زمونږ نه بهتر او
پیدا شوي نه دي خو په هغوی کښی ملیت ، قامولی اوعزت ولی ، علم او پوهه
مینه اومحبت پیدا شو ، ترقی لی وکړه او په مونږ کښی دا صفات نشته ، مونږ په
په خاورو کښی توغږ یږو په هغوی کښی ملیت اوقومولی راغلی ده ، دا په کف اوچپ
په تسپو ، دپرو وظیفو اونفلونو او په بی عمله دعاګانو نه ده راغلی . په هغوی کښی
ایمانداري ، دیانتداري ، بی غرضه او بی الایشه کسان پیدا شوي دي ، دقام تباهی
محسوسه کړې ده ، د ژوند خوابه لی په ځان حرام کړي دي قام پسی کرخلیدلی
دي ، قام لی پوه کړي او ویښ کړی دی ، قامولي لی پکښی پیدا کړې ده اباد
شوي دي .

سید عبدالجبار شاه څه موده حکومت وکړ ، څو ورځی وروسته ورپسی
مشهوره شوه چه قادیانی دی . زه په دی خبره بحث نه کوم چه دی قادیانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړنه که دی قادیانی و له ږومبی نه به قادیانی و هغه وخت یی چه باچا کولو ولی
د دی خبری تحقیق نه کولو. حقیقت داؤ چه هیڅوا د ګمان نه کولو. چه دسوات
دا ریاست به قایم پاتی شی او چه څه وخت خینو کسانو ته چه دی کار ته یی زړه
کښوده معلومه شوه چه داخو قایم پاتی کیدی شی نو د سید عبد الجبار شاه
پسی یی دا پروپیګنده شروع کړه. بله داچه د سید عبد الجبار شاه حکومت
کمزوری حکومت و د سوال یا دی وه واک و اختیار تول د کوهستان ملا
و او کوهستان ملا د پرنګیانو مخالف و نو پرنګیانو غوښتل د سید عبد الجبار
شاه په ځای د خپلی طبعی یو داسی سړی دلته کښینوی چه د کوهستان ملا
واک اختیار تول خپل کړی چه په دی علاقه کښی څوک د پرنګی برخلاف لاس
او پښی ونه خوزولی شی.

په خلکو کښی د سید عبد الجبار شاه د مخالفت د زیاتیدو په وجه
کوهستان ملا مجبور شو چه هغه لیږی کړی او بل څوک په دی ځای کښینوی
نو د باچاګل صاحب د ترنګزو د حاجی صاحب د مشر زوی داخواهش او کوښښ
وچه د سید الجبار شاه په ځای دی د سوات باچا شوی وای او د ده چانس
زیات و. کوهستان ملا صاحب د ده د پلار معتقد و. نو د ده ځان دی موقع ته ورسوی
و او د کوهستان ملا صاحب نږدی وعده اخیستی وه. دی ببر ته مومند و ته په
غرض لاړو چه څلور پنځه سوه ملاتړ د مومند ونه ځان سره راولی مولوی عبد الغ
چه د باچاګل نه د ډیر څیړه و او ښه ورته معلوم و او د هغه سلوک ورته یاد و د غ
وخت د کوهستان ملا صاحب سره مصاحب و او په کوهستان ملا صاحب

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پراتلو بلکه دهغه یو قسم سکرټر و اوکوهستان ملا صاحب به په هر کار کښی
دهغه نه مشوره اخیسته نو مولوی عبدالعزیز صاحب کوهستان ملا صاحب
په دې خبره رضا کړو چه د باچا کل د راسید ونه یې مخکښی د میانګل عبدالودود
د باچایی اعلان وکړو چه باچا کل د راورسید هر څه تالا والا د میانګل عبدالودود
باچا شوی و. په دې وختو کښی د ازاد و قبایلو په باره کښی د پرنګیانو پالیسی بدله
شوی وه، هغوی غوښتل چه په هره قبیله یا علاقه کښی واړه واړه خانان او نوابان
جوړ کړی چه هغوی د اقوم په قبضه کښی وساتی او د قبایلو د شورشونو، بغاوتونو
او جنګونو مخه د دې خانانو او نوابانو په ذریعه ونیسی ځکه چه د خانانو او نوابانو
قبضه کول پرنګیانو ته د پراسان و هریو به د بل د وپړې د پرنګی خوشامنده کوله
د دې کار د پاره پرنګیانو د سنبار خان ته د پړی روپۍ او وسلې ورکړې چه ناوه کی
باندې حمله وکړي ولې نیسی که ناوه کی د سنبار خان ونیسی نو پرنګی به دی
د دې سیمې نواب تسلیم کړی او د پرجا گیر به ورکړی. پرنګیان په دی پوهیدل
چه ناوه کی د دې علاقې د دروازې حیثیت لری د هرچا په لاس کښی چې قلم
ورنه ړپ وهلی نه شی قام هم په دې خبره پوهیده نو ځکه د قام او د سنبار خان
په ناوه کی د پړ جنګونه وشول خو د سنبار خان د ناوه کی په اخیستو کامیابه نه شو
د غه شان پرنګیان په اپریدو کښی، وزیرو کښی، مسعودو کښی او بیتنیو کښی
د پړې روپۍ خرڅې کړې خو د خانیو او نوابیو په جوړولو کامیاب نه شول.

میانګل ورور ورور ځان مضبوط کړو او کوهستان ملایې په مخه کړو مولوی
عبدالعزیز صاحب خو د ده سره د ده په پاچاګیدو کښی د پړ امداد او احسان

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړی واوس هم درسره هر قسم امداد ته تیار یو دی دده سره پاتی شوی
زه په دغو ورځو کښې د مولوی عبدالعزیز صاحب لید لوته سید وله ورغلم یو
دوه شپې می مولوی صاحب سره وکړې د میاکل صاحب په مجلس کښې شریک شوم
دسوات یوه جرګه هم په دې وخت کښې میاکل صاحب ته راغلی وه دهغوی په
مجلس کښې هم شریک شوم په خبرو خبرو کښې راته معلومه شوه چه داخلک
له خدایه دومره نه وېرېدل لکه څومره د پرنګی نه د پرنګی نوم به ما اخیستو وېره
به په دوی راتللو د دوی په خدای هم داعقیده نه وه چه کوندې مونږ به د پرنګی
دغلامۍ نه خلاص کړی شی. نن چه تاسو په سید وکښې کومې ابادۍ ګورئ هغه
وخت دا ابادۍ نه وې یوه دختو معمولی کلا ګی وه. میاکل صاحب، مولوی
صاحب اونور تول د دوی ملګري به یکښې اوسېدل اوداسی خاص میلمانه
چه به راغلل هغه به هم درسره پاتې کېدل. زه په هلکوالی کښې هم سید ته
تللی وم اویوه شپه می یکښې کړې وه هغه وخت زما علم کم ؤ اوداسلام
په حقیقت پوره نه پوهیدم ما به داګمان کولو چه زیارتونه دسړی سوالونه
قبلوي. زمونږ په خلکو کښې داعقیده وه چه پیر بابا ډیر ی یوسوال قبلوی
نوزه هم په همدې خیال د څو ملګرو سره اول د پیر بابا زیارت ته تللی وم اوبیاله هغه ځایه
دجواړې په کنډو (غاښې) سوات ته راوېښلی وو. دسوات د باباجی زیارت
موکړی واوشپه مودلته تېره کړې وه.

د پیرنګیانو مظالم:

دا د پورته ملک حال ؤ دکوز ملک حال داوچه پرنګی په خلکو دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library

وپره اوترهه راوستی وه چه چا ددوی له وپری حقه اوږښتیا خبره نه شوه
کولی اوحکومت خبره خو پرېږده چه دچا په خیال به پوه شوچه دده دخپل
قام، وطن اواسلام سره مینه ده، نود باوونه به یې پری شروع کړلو اوچه په
دې به کارونه شو نو بیا به یې منصبونه، پیسی اولقبونه ورورانډی کړل اوچه
په دې به هم کارونه شو نو بیا به یې دجبلخانو توروتمبوته واچولو مېچنی به یې
پری اوروپې کولو کان به یې پری کړ خول داسی ظلمونه به یې پرې کول چه
دهر وحشی قام به یې هم دیو حیوان سره ونه کړي پاتی خولا دتمدن مدعی
دیوانسان سره. دا پرانیکنده شوې ده چه انګریز انصاف دارو. منم چه انصاف
دارو خو په داسی مسئلو کښی چه کوم خای کښی به دده خپل مفاد نه وو، کله چه
به دده خپل سیاسی غرض وو نو بیا دانصاف سوال نه پیدا کیده. ولی په سیاسی
معاملو کښی یې بیا انصاف نه پیژندو، او بیا هر ظالم چه تاسو پیژنی دهغه نه زیات
ظالم و. دپرنګیانو مخبران به ملک کښی خواره وو. دکور، کلی، حجری، جومات
وره، غټه خبره به یې پولیس ته رسوله اوپولیس ته ټول اختیار اوپوره واک
حاصل وچه په هرچا به یې چه کوته کښېښوده چه داغل دی هغه به غل ویایې پوښتنه
نه وه اوپولیسان هم دهغه بلد یانته وو خصوصاً دپنجاب پولیس خو دپرنګی
دخوشالولو دپاره دخدای په مخلوق اومسلمانانو داسی شندی کړی
چه هیڅ پری به چاکړی نه وي.

خانانو، ملکانو اوملایانو به خای په خای جرګی کولی چا به له وپری
چا به دپیسو په تمه چا به دنوکری دپاره دپرنګیانو تعریفونه کول، ملاکانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

یې ترلی وی برتې به یې ورته کولی اوویل به یې چه خدای پاک ویلی دی چه
« د خدای اطاعت کوئ، د پیغمبر اطاعت کوئ اود اولوالامر اطاعت
کوئ »، اوپرنګی خوزمونږ اولوالامر دی اطاعت یې واجب دی. حالانکه
دقرآن ایات کښې د اولوالامر سره لفظ " مِنکُم " راغلی دی، یعنی چه اولوالامر
دی دستاسونه وی. نو دا به دی ملیانونه ویل، اوپه دی طریقه یې د پرنګی
د اطاعت د پاره قرآنی جواز پیدا کوو. خدای پاک په قرآن کښې د بنی اسرائیلو
د عالمانو ذکر کوي چه هغوی به د دلږ و پیسو د پاره او د خپلو خواهشاتو د پوره
کیدو د پاره د توراة اوزبور په ایاتونو کښې تحریفونه اوتاویلونه کول هر
مذهب اومسلک چه د خود غرضو اوچالاکو خلکو په لاس ورځې بیا پکښې هغه
اولنی انقلابیت اوروح پاتې نه شی، بیا د سرمایه دارو مذهب تری جوړشی
اوتش کالبوت شی.

زمونږ په علاقه کښې په دې کار کښې زیاته برخه د عمرزو سعد الله
خان اخیستې وه یوخوخان ؤ اوبل د پرنګیانو نوکرهم و. هغه به وخت په
وخت د ودی د وکړه خانان، ملایان اوشاعران به یې راغونډ کړل اود پرنګی
د خوشالولو د پاره به یې جلسې جوړولې اود پرنګی تعریفونه به یې پکښې
کول اوخلک به یې د پرنګی سره د تعاون د پاره اماده کول یوه ورځ په حجره
کښې ناست وم د مولانا ابوالکلام « البلاغ » اخبار می لوسته خبر شوم چه
نن بیا په عمرزو کښې جلسه ده مولانا پخپل اخبار کښې د دې جلسو متعلق
د پرښته مضمون لیکلی ؤ نو په زړه کښې می تېره شوه چه ورځم اوپه دې جلسه کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلکو ته دا مضمون او روم خو دا همت او جرئت می ونه کړی شو. عجیبه خولا
داوه چې دا زاد سر حد ملایانو او زبرکانو به ویل چې د پرنګی خلاف جهاد فرض
دی او د داخل ملایانو او زبرکانو به ویل د پرنګی مرسته او اطاعت فرض دی.
لکه د قسطنطنیې او مدینې د ملایانو په شان یوې دلې به یو قسم فتوه ورکوله او هغې
بلې به د هغې مخالفه فتوه ورکوله. دیوی موضوع په باره کښې په یوه مذهب کښې
دوه قسمه خبرې نه وي خو حقیقت دادی چې نن په مذهب هم سرمایه دارو
د خپلې سرمایې په زور قبضه کړې ده هغه د خدای د ریښتینې مذهب پاتې نه دی.
د ریښتینې خدائی مذهب خو د مخلوق خدمت دی، مینه ده، محبت دی،
انصاف دی، عدالت دی، بردباری او ایمانداری ده. په هغې کښې د
خدای د مخلوق ګټه او فایده ده. دا نن چې تاسو څه وینئ
دا سرمایه دارود خپلو غرضونو د پاره د مذهب په نوم
یوه لوبه جوړه کړې ده. دا ننني مذهب خو د خوکسو د عیش عشرت
د پاره دی د خدای د مخلوق دارام د پاره نه دی چې مذهب د
خود غرضو کسانو په لاس وړښتی دا سې حال شی. حقیقت دا
دی چې دا ټول اسمانی مذاهب حق دی
او قرآن خو دا وایی چې
د متقی او پرهیزګار
خلکو
به په دې قرآن هم عقیده وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوچه ددی نه مخکښی کوم کتابونه دخدای له طرفه راغلي دی په هغه
به یې هم عقیده وی نومونږ نه پوهیږ وچه په دنیا کښی دمذهب
په نامه داجګړی اوجنګونه ولی اوځنګه پیدا شوي دي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولت ایکټ اومونټ

وبا (دروميې تبر وفات) دولت ایکټ . زمونږ جلسې . زما
دروميې ګرفتارۍ . زما بابا او نور کليوال جيلخانه
کښې . دجيلخانې حالت د قيدنه خلاصون
بيا ګرفتارۍ او دويم واده

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیورنډ جنګ چې ونښت نو زما په زړه کښې دا خیال پیدا شو چې سږی کا
ته لاړشی او د افغانستان د حکومت په امداد د پرنګیا نو خلاف جد وجهد
شروع کړی دا د امیر حبیب الله خان زمانه وه او د افغانستان په باره کښ
زما هغه وخت دا عقیده وه چې دا یو ازاد او زور ور حکومت دی که چیرې
وغواړی نو د پرنګیا نو خلاف زمونږ د پره مرسته کولی شی د دې د پاره می
فیصله وکړه چې د سودا ګرۍ په بهانه افغانستان ته ځم. ما دا تجویز خپ
پلار ته وړاندی کړو هغه راسره ومنلو خو مور مې مخالفت وکړو خو آخر می ه
هم راضی کړه بابا راسره د روپو وعده هم وکړه. زمونږ د کلی زمایو اشـ
جمعدار عجب الله خان چې د پرهوښیار او جهان دیده سړی و د پرنګیا نو
انتهایی جنس د پیار تمنت کښې هم پاتی شوی و او د غه ملکونه یې لیدلي وو می د
خان سره ملګری کړو او د راهداری د پاره مو حکومت ته درخواست وکړو خو حکو
راهداری را نکړه او دا کار پاتې شو.

جنګ څلور کاله پس ختم شو په دې دوران کښې به کله ناکله د پرنګیـ
او ازاد و قبایلو تر مینځ جنګونه کیدل خو د قبولو قبایلو په یوه سلا او په منظمه طریق

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه وو ، نو ځکه پرنګی ته څه نقصان نه رسیده . چې مومند وو به په پرنګی حمله وکړه
وزیر ، مسعود او اپریدي به په ځای ناست وو او که د اپریدو او انګریز جنګ
وو مومند ، وزیر او مسعود به خبر نه وو او که دوزیرو به ورسره جنګ و مسعود
به چې دوزیرو سره په یوه علاقه کښې ژوند تېروی جنګ ته تیار نه و مومند او
اپریدی خو لا په ځای پریږده هریو به ویل چې دا دهغه جنګ دی مونږ ولې څه کوو
په کار دا و وچې تول قبایل په یو تحریک کښې تنظیم شوی وای نه تربیه ورکړ شوی
وای او تول یو ځل راپورته شوی وای . نو که پرنګیانو د دوی د مقابلې د پاره د پر
طاقت دلته په کار اچولی وی د تر کو او جرمن مقابله ورته سخته ده او که
د پر طاقت یې د تر کو او جرمن مقابلې ته متوجه کولی نو دلته به دوی د پرې
کامیابی حاصله کړی وای خو جهانی جنګ د پرنګی په فتح او د تر کو او جرمن
په ماتی تمام شو .

وبا ، د رومبی تېر مرګ :

د جنګ په وجه په دنیا کښې سخته وبا راغله . په جنګ کښې دومره
کسان نه وو مړه شوي لکه په دې وبا کښې چې مړه شول . په هندوستان
کښې هم دې وبا د پر خلک ووژل ، پښتانه هم د پر یکښې مړه شول . دا
داسې عجیبه وبا وه چې اکثر به یې خوانان ، جینګې او هلکان وهل او مړه
کول . او چې یو کور ته به یو ځل ننوته بیا به یې یو هم نه پرېښوده . داسې
پېښه شوې ده چې په کور کښې یو کس هم نه دی پاتې شوی او د کور دروازې
پورې شوې دي . په ورځو ورځو کلو کښې به مړې همداسې پراته وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښځولو یې څوک نه وو. په دې مرض د تولونه اول زه پریوتی وم خوهسی خدای
جوړ کړم خکه چې په دې مرض هغه وخت څوک پوهیدل نه اونه د حکومت
طرف نه د ډاکټر، دوا او درمل انتظام ؤ. زما ورځې ستغنی چې د پینځو کالو
نا روغه شو. غنی د هر ښکلی ؤ دموری ورسره د پره مینه وه د هر ډیر ورته ژ
ما به منع کوله او د صبر تلقین به می ورته کولو خو دهغی زړه به نه صبر پیدا و. یو
ورځ د غنی رنځوری سخته شوه مورې ورته دکټ سر ته ناسته وه د ده سر
یې په غېږ کښې اینښی ؤ ماد ما بنام لمونځ کړی ؤ په مصلی ناست وم دعا
کوله غنی ته می کتل چې بې هوشه پروت دی چې ناڅاپه یې مور پاڅیده د زوی
سر ئې د خپل ورانه نه په بالښت کښې ښوده او د زوئی له کتې چاپیره وګرځیده او
سه ټه ئې و د ربلده اولاسونه یې په دعا پورته کړل په ژړا یې وویل چې ای خدایه
د ده مرض په ما کښې ږدې او دې ماشوم ته شفا ورکړې. د خدای یو عجیبه
حکمت و. په سبا له دا ناجوړه شوه د دې مرض ورځ په ورځ زیاتیدل او
د غنی مرض به ورځ په ورځ کمیدو غنی جوړ شو او مورې ځوانیمرګه شوه ماشوم
ئې راته پاتې شو. د غه وخت غنی د پینځو کالو ، ولی د د ریو کالو او خورې د یو کال
په کلو کښې د ومره مرې کیدل چې خلک یې ښځولو ته نه رسیدل. مونږ
به د سهار نه د قبرونو په کنستلو لاس پورې کړ تر مانښامه به لګیاوو، کله به
په مشکله پوره شو او کله به یو نیم کم شو د هر و به د کفن د رک هم نه و. د د اسې
مرو د پاره مونږ یو فنډ جوړ کړو بې کفنو مرو ته مو د دې فنډ نه کفن ورکولو
او په د غسې حالت کښې به هم ځینې کسان د اغلل په د روغو به یې را نه کفن یوړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

حینو چالاکو به وژړل او مونږ ته به یې دوکه راکوله : اخر مونږ داسی انتظام وکړو چه کفن به مود خپل سر سره یې لاس لیږلو چه مړی به یې ولید ونو کفن به یې ورکړلو که نه بیرته به یې راوړلو . دوارو درملو موهم څه انتظام کړی و په اول کښی خو یې چا ته دارو معلوم نه و خو وروسته چه مرض اوږد شو نو اکثر انو او حکیمانو ورته دارو راپیدا کړل هغه به موجود ول او مریضانو له مو ورکول . دایو ډیر لوی افت وچه زمونږ په قام رانازل شو او په داسی وخت کښی چه نه په قام کښی احساس او نه اتفاق وچه ددې مصیبت مخه یې په اتفاق سره نیولی وای او نه موکوم خواخوږی حکومت وو چه زمونږ غم یې خوړلی وای او ددی افت نه یې بچ کړی وای . په جنګ کښی هم زمونږ د ملک خلک د نورو ملکونو د خلکو نه زیات مړه شول او په مرض کښی هم . جنګ دچاو او مړه پکښی څوک شول ؟ ګڼه او بیلات دبل چاو او جنګیدلو مونږ . زه خو وایم چه مونږ اجرتی قاتلان وو . د پیسو د پاره د خلکو مرګ پسی تللی وو د خپل ملک د ازادی او خپل عزت د پاره راکښی دا احساس نه و چه د پرنګی سره جنګیدلی وای یا کم از کم پخپل کور کښی ناست وای پرنګی مو یوازی نه ګرځوا او جرمن نه پریښی وای . مونږ جرمن خو پریږده د مسلمان ترک سره د پرنګی په ډډه او طرفداری و جنګیدو او جنګ مو ورته وګڼلو ددې ګڼې په پاداش کښی مونږ ته پرنګیانو « دولت بیل » چه یو ظالمانه اونا روا قانون و راکړو او د خدای د طرف نه دا مصیبت نازل شو .

دولت ایکټ :

ګاندهی جی چه د پرنګیانو ددې وعدی په مقابل کښی چه که پرنګیان جنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکتهی مونږ ته به یوسلف کورنمنټ راکړی په جنګ کښی د پرنګیانو د پرامداد
وکړو خو پرنګیانو چه فتح وکړه وعدې خو پرېږده د «رولټ اکټ» ۱۹۱۹ع د نافذ
کولو اراده وکړه نو مهاتما کاندهی د پرمایوسه شو او د «رولټ اکټ» خلاف یې
اواز وچت کړو. مهاتما کاندهی خولا پرېږده چه د پرنګیانو ملګرو هندوستانیانو
هم د دې قانون خلاف چغې پورته کړې. په تول هندوستان کښی د دی تور قانون
په خلاف زبردست ایجی ټیشن (تحریک) شروع شو، لویې لویې جلسې جلوسونه
به کېدل د زنی د زنی مظاهرې وشوې، د هرې ټیشنونه او سرکاری ځایونه
پکښی وسوزېدل. پرنګیانوهم اسره ونه کړه خلک یې په ګولو وویشتل په چیلخانو
کښی یې واچول د هرې سپک اوذلیل یې کړل. تردی وخته زمونږ په علاقه کښی
سیاسی تحریکونه جلسی او جلوسونه نه وو اونه پرې څوک پوهیدل د تعلیم د پاره
د مدرسو جوړولو تحریک موجود وهغه هم د جنګ په وخت کښی پرنګیانو بند کړی و
یوه شپه کورنامست وم د دوی د موخو له چه د دول اوازمی ترغوږه
شو چه غوږ مو ورته کښېښود د ندورچی ورسره د ندوره غږ وله چه سبا له
به د «رولټ اکټ» برخلاف د حاجی صاحب په جومات (عیدګاه) کښی جلسه
وی. په دی پوه نه شوم چه د جلسی انتظام چاکړی دی. چه سبا شو چای مو
څکلو، حاجی صاحب جومات ته روان شو. د جلسی نوم دکلی خلکونه واورېدلی
داورته یو عجیبه څیز ښکاریدو د هرخلک ورته روان وو. د تحقیق نه راته
معلومه شوه چه د جلسی اعلان زمونږ دکلی یو خان چه نوم یې محمد اکرم خان و
کړی دی. دا راته هم معلومه شوه چه د جلسی د اعلان په وخت کښی د پولیس

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوافسر داغلی و دخان او افسر په مینځ کښی څه ګفتګو او کشمکش شوی و، خان د هغه له ضده دجلسی اعلان کړی دی، دقدرت کار ونه هم دحکمت نه خالی نه وی، چې نه داخان او چې نه دجلسی اعلان دجلسی په ورځ مونږ اولیدل چې هغه اکرم خان پخپله جلسی له راغی. وروسته معلومه شوه چې دجلسی په وخت کښی هغه دمردان دا ستنت کمشنر ګریفتھ صاحب سره وو. دکلی اکثر لوی خانان وغټ غټ ملایان راغلی وو. زه پاځېدم او خلکو ته می وویل چې دغه شان جلسو کښی دصدارت ضرورت وي یو مشر سړی ددې جلسی صدر مقرر ول په کار دی خلکو ووې چې ته صدر شوې ما ووې چې یو مشر سړی به صدر کړو خو دې تینګ شوزه یې صدر کړم. عام خلک خو صدر په معنیٰ نه پوهیدل هغوی چې دجلسی نه ستانه شتول دایی خوره کړه چې ګوندې زه د پښتنو باچا شوم، مونږ خو دغه وخت په تریرونو نه پوهیدلو خو چې د اخبارونو نه موځه لږ ودې ورزده کړي وو هغه موخلکو ته وویل او اخر کښی یو بل خان تجویز وراندی کړو چې داخو زمونږ دکلی جلسه ده، بلکه هفته وار بیا دلته ددې تولې علاقې جلسه وي خلک خبر کړئ چې په کومه شمیر کښی راشی. د تریرونو په لحاظ خو اجلسه جلسه نه وه مګر داثر په لحاظ یې په خلکو کښی ډېر جوش او خروش مینه اوجذبه پیدا کړه.

زمونږ جلسې:

دا تلونکې جلسی دانتظام دپاره خلکو ملاوتړله، زه پخپله هم په اس سور شوم او د دواوې اوهشنغر کلی می وکتل دجلسی دجوړولو له پاره دولت ډېر له ورغلم. دا د دواوې مشهور کلی دی، هغه کښی می ددغه کلی لوی خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولیده ده وعده وکړه چه جلسی له به ذرځم په دولت پوره کښی ده راته یوه ډ
عجیبه خبره وکړه . وې چه یوسړی کړه سمسره عادت شوې وه ددوی پې به یې
څښل . ښځی ده ته ووې چه دې سمسری خو ډېر ورانی را اخیستی دی څه ورسه
وکړم ؟ دی پخپله سمسری ډیر ولی وو ورته یې وویل چه ښځی دا خو زبرکه د
ورته مه وایه . ښځه په پیو مینه وي یوه ورځ دې سمسرې پې په کتوی کښی څښل
د ښځی صبر نه شو په سو باري یې وو هله اومړه شوه دې ښځی فکر وکړو چه دا خ
می د خاوند زبرکه وه اوس به ماسره څه کوي چه خاوند یې راغی نو ورته یې ووې چ
زماد لاسه نن ډېره غلطی شوې ده ستانه دهغی معافی غواړم خاوند ورته وو
چه ووایه . دې ورته ووې چه هغه زبرکه زماد لاسه مړه شوې . ده وې کومه د
دې ورته وښودله ده پرې راباندی کړل . مړه سمسره یې توتی توتی کړه ا
ښځی ته یې ووې چه زبرکه مړکه نه وه خوزه تړې یې یلم . دی وخت کښی په
چاکښی قومی جذبه پیدا شوې وه ، داسرکاری جرګه نشین خان وخو ډېر نګ
مه یې نفرت پیدا شوی و .

خانانو اوغریبانو تولوله موپه جلسه کښی ډکدون بلنه ورکړه ، خلکو د
خوشالۍ ومنله . د جلسی په ورځ دیولک نه زیات خلک راتول شوي وو .
زرګونو ښځو د جلسی د خلکو د پاره په منګو کښی دسیدل نه اوبه راچلولی . د جلسه
په دوران کښی دحکومت له طرفه میان اکبر شاه کاکاخیل ماپسی راغی اوویل
چه چیف کمشنر وایی چه په صوبه سرحد کوم قانون حاوی دی داخوده « دولت اکټ »
پلاردی ، داخوده « دولت اکټ » نه زیات ظالمانه دی دوی له په کار دی چه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

قانون په خلاف دحکومت غوږ ونوته خپل آواز ورسوي . د. دولت اکت ، تا و
دوی ته نه رسی او بله داچه هندوستان ددوی سره ددې قانون په لیږی کولو کښی
کوم امداد کړی دی چه دوی یې ورسره کوی زه د دوی سره وعده کوم چه په دې
قانون له نوی سره غوږ وکړم او چه دوی څه وایی هغسی به وکړم ماورته ووې چه میا-
صاحب زه منم چه هندوستان زمونږ مرسته نه ده کړې داد هغوی انسانی فرض
دُ خپل انسانی فرض یې ادا نه کړل زمونږ هم دا انسانی فرض دی چه د دولت اکت
خلاف د سره خپل اواز ملګری کړو . هر سړی پخپل عمل پرې دی . میا صاحب پوه
شو چه دی زما په دام کښی نه نښلی نو بیا یې ووې که ته اجازه راکوې زه به هم دې
خلکو ته څو خبرې وکړم . ما وې وکړه . د هغه په تقریر کښی د خولی نه داوخته چه حکومت
زمونږ سره او پلار دی . دا په خلکو بده وګڼده چغې یې پرې جوړې کړې چه میا
کښینه حکومت که ستا سره وی او که ستا پلار وی وی به زمونږ هیڅ هم نه دی . ما
چه خلکو ته وکتل په خلکو کښی پوره جذبه وه او میا صاحب ته په قهر وو . ما میا صاحب
کښینولو او پخپله د سره شوم د جلسی نه می بهر وښکوځکه که زه نه وای یا ما د خلکو نه
مخکښی د علم تشدد وعده نه وای اخیستی خدای خبر چه د میا غریب به څه حال
شوی وای . زه یوه خوا د خلکو جذبی ته حیران وم او بله خوا د میا کانو انګریز پرستی
ته . د دی جلسی صدارت هم خلکو ما ته راکړو ، مونږ د تقریرونو په چل نه پوهیدو
اکثر به مو تقریر ولیکه او د کاغذ له مخه به مو خلکو ته اوروله . عباس خان دې خدای
وبخښی زما ډیر دوست دُ هغه له می لیکلی تقریر وکړی وچه د هغه وار راغی او پاڅیده
تول ډیر یدو وی ویل دا تور قانون بیا یې ووې دا تور قانون څوکرته یې هډ دا تور قانون

(c) ketabton.com: The Digital Library

تورقانون ووې ماورته دلاندې نه ووې چه ورانده نه ویم ددی نه یې زیات څه ونه ویلی شواخر
یې وویل چه په ستر کومی تیاره ده ورانده نه ویم ددی نه یې زیات څه ونه ویلی شواخر
کښینا ست . دازمونږ د تقریر ونو حال وخوسره ددې هم جلسه بالکل کامیابه وه
قرارداد ونه موپاس کړل . اخبارونو اوحکومت له موولیږل .

په خلکو کښی یوه عجیبه مینه اوجوش وه بیاخاص زمونږ دکلی دنرواونځو
خولا بل حال و . په سوونو نورنځی زمونږ دکلی راغلې وې کرمې وه سینه ته به
تللې اوخلکو ته به یې د څکلو اوبه راوړې . زمونږ دکلی دوه کسه دې جلسی ته نه
وو راغلي یو خان بهادر محمد عمر خان اوبل هغه خان چاچه د اولې جلسی
دپاره د نلې وړې وهلې یعنی محمد اکرام خان هغه د جلسی په ځای مردان ته
کریفت پیرنکی ته تللي وو . کریفت د مردان استهنت کمشنر و ددوی اشنا
و . په دې وخ یې هم داخیال وچه په حکومت به زمونږ مخ وشی خو نه یې په حکومت
مخ وشو اونه یې په قام کښی مخ پاتی شو . دوی په کریفت صاحب داده ورکړه
خودقدرت کار بیل وې کریفت ددوی په ښه رانغی او دوی هم مونږ سره کوفتا
شول مونږ تراخره هم په دې پوه نه شوچه اکرام خان د دولت اکټ خلاف د
اعلان ولې کړی وخو خلکو به داویل چه ده غوښتل خپل تربوران ، خانان ، دپښ
په ضد راولی اوپرنکیان هغوی برباد کړي خودی یکښی پخپله ونښت .

داتمانزو دې جلسی په لیښتنو کښی اودولکولو اوسنه جوش اوخروش
پیدا کړو . بله جلسه په تاکال کښی د ارباب رضا خان له طرفه مقرره شوه ، تول
علاقه یی خبر کړې وه مونږ ته یی هم بلنه راکړې وه . د جلسی په وخ سهار وخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ ورروان شوچه دسر دریاب دپله نه پورې وتلو. عاشق " د پښور دبنارمیوه فروش په تانکه کښې سورمخې له راغې اشاره یې وکړه تانکې مو ودرولې راکوز شوزه عباس خان، بابې جان او احمد استاذمې بیل کړو او دا ته یې وویې چه دافغانستان اوپرنګیانو جنګ شروع شو ښکاره په ټول ملک کښې دمارشل لا اعلان شوی دی. دتاکال جلسه بنده شوه او دافغانستان له طرفه څه کاغذونه ماراوړې دي دا داخلی او په ملک کښې یې وویشئ، کاغذونه یې زمونږ ملګرو له ورکړل او دی بهرته بنارته ستون شو اومونږ بهرته کلی ته راغلو.

په دې ورځو کښې قاضی شاکرالله د پرنګیانو له خوا مقرر شوی وچه زمونږ د علاقې دوره وکړی او دامعلومه کړی چه څوک د پرنګیانو په خلاف اوخوک یې په حق کښې دی نو دی به کورځیدو او حجرو، جوماتونو کښې به یې د پرنګیانو په خلاف سخت سخت تقریرونه کول. یوه ورځ زمونږ په حجره کښې یې مونږ ته داقصه کوله چه زه د جنګ په ورځو کښې پرنګیانو عربوته دمخبرۍ د پاره لیږلی وم هلته یې په یوجنګی سمندری جهاز کښې دیوجرنیل سره ولګولم. د دریاب په غاړه دعربو یو کلی و مونږ یو پرنګی دسفیر په توګه ورولیږلو غوښتی دا پرنګی مړکړوچه د هغه د مړک خبر راغی نوجهاز ته حکم وشوچه په کلي کوله باري وکړي. نوچه هغه کلی یې په کوله باری دخاوری سره خاوری کړو بیا فوځونو ته حکم وشوچه لاړشئ وګورئ چه څوک مزیا ښځه خوژوندی پاتی شوی نه دی که پاتی وي مړه یې کړئ. زه هم ورسره لاړم چه کلی ته ورسیدم څه ګورم چه یوه ښځه شهیده شوې ده اووړوکی ماشوم یې په تی بوخت دی اودوی یې. په ما دډی ماشوم اومورحالت د پرا ثر وکړوچه

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه وخت جهاز ته واپس راغلو نو مادخپل افسره سره خبره کول غوښتل خو
هغه دومره په غصه وُچه زما شکل لیدل پرې سبه نه لګېدو دا ته یې ووې چه
دمخې نه می لیرې کېږه نو هغه وخت ما په زړه کښې دا خبره محسوسه کړه چه
دیو پرنګی دپاره یې دا دومره مسلمانان د خدای مخلوق تباه کړو اولازره
یې سوړ نه دی نو دځان سره می فیصله وکړه چه نوره د دوی نوکری نه کوم اول
کافروم دی پېښې نه وروسته مسلمان شوم . دغه شان قاضی صاحب د تول
هشنغر دوره وکړه . دهشنغر خانان ، ملایان او عوام تول دانګریز مخالف
وو . قاضی صاحب د تولو حالات معلوم کړل یوزمونږ دکلی د محمد عمر خان
په باره کښې سرکار ته لیکلي وو چه په توله علاقه کښې دده په شان ستاسو بل وفا
دار نشته . د دې ریوټ په وجه د محمد عمر خان د سرکار په کور کښې لویه
ترقی وشوه او ډېر اختیارات یې ورکړل او خان بهادر یې کړو .

دمارشل لا په وجه زمونږ په خلکو ډېره ویره او هیبت راغی ځکه چه دا خبره نو
په ذریعه به دهندوستان او پنجاب د حالاتونه خبر پدل چه پرنګیانو په خلکو څومره
ظلم او زور را اخیستی دی . په تولو کښې مونږ ډېر ناکراره وو هره ورځ به اوازه
شوه چه بېګاله به فوځ راځي او دکلی نه به چاپېره ږی . د دی کونکوسې په اوربند
به زمونږ دکلی نړاو بښځې په لړزان شوې اویوه هلهګوله به جوړه شوه څوک به په
کوتو کښې ویښ ناست وو ، څوک به دکلی نه تښتېدل څوک به په حجرو کښې را
جمع شول . زه پخپله هم ډګر فتادی په وجه به پخپل کور او حجره کښې کښیناستی
نه شوم په کلي کښې به ګرځېدم خلکوته به می د اډګیر نه ورکوله . یوه شپه ډېره ګډه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوازه وه چه نن نه فوځونه خامخا راځی چه یوسړی خبر کړم چه ملک سلطان محمد خان سره دسړو په سرک کښی مورچه نیولې ده اووایی چه دپوځنکی نه مونږ هسی هم نه خلاصیږو یوځلی مړک دی زه خو ورسره مقابله کوم . زه په منډه ورغلم چه کورم ملک صاحب ولاړ دی کوچ یی اچولی دی نوکران یی مورچه کړی دی ، دی ورته شابسی ورکوي . ماپرې دلیرې نه اواز وکړو چه ملک صاحب څه کوې جواب یی راکړو چه نن ورسره معلوموم ماتړې پوښتنه وکړه چه توپک درسره دي ووې چه پنځه توپکه ماتړی بیا پوښتنه وکړه چه څومره کارتوس درسره دي ده وویل چه شل پنځه ویشت دانی به وي ماورته ووې چه دا دومره کارتوس خو دهغو په یوتوپک کښی وی نوځرنګی په پنځو توپکو اوشلو کارتوسو دپوځنکی مقابله کوی ؟ ددې خبرې په اوریدو خویوه شیبه چپ شو بیا یی نوکرانو ته ووې چه ددوی سره نه کیږی زما اسپه زین کړئ ! په اس سور شو اوشیبه په شیبه ازادی علاقی ته لاړو دغه شان زمونږ دکلی د پرکسانو ځانونه په څنګ کړل .

زما کرفتاری :

زه میرې نه لاړم زمونږ زهیدارو وو عبیدالله کاکا یی نوم وُ په بله شیبه می هغه دځان سره کړو اوکچی کوپرته لاړو هلته مونږ پخوانی زمیندار اوسیدل دا دایخښی علاقه وه زمونږ دکلی یو مشر ورمرتضیٰ خان هم دلته اوسیده . هغه موولیده راسره شو . سپینخروته روان شو ، هری چند دنمر په غاړه دباندې پولیس تانه وه چه ورنږدی شو سپاهیانو را باندی اواز وکړو چه ودریږی تاسو څوک یئ ؟ مونږ سره بی لایسنسه وسله هم وه په ماویره راغله خو مرتضیٰ خان ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلد وو ورانده شو ورته یې وویل چه خپل یو دهغه د پښتونخوا کلوی په وجه یې مونږ
د تللو اجازه راکړه . مونږ چه د سپینخرو لاری ته برابر شو او مرتضیٰ خان دوی
را نه بهر ته ستانه شول او مونږ سپینخرو ته لاړو . باباجی خبر شو ز مونږ لیدلو
راغی او زمونږ یې د پر قدر او عزت وکړو . شپه مو په سپینخرو کښی تیره کړه س
د افغانستان په نیت روان شو خلکو دارایه راکړه چه ستاسو د پاره د پرانک
غر لاره ښه ده دسیند نه به په زانګو پوری وځی او د باجور په لاره به مفسد
جلال اباد ته لاړشئ خو زه د زانګو نه وېرېږم ولې چه زما بدن د پر دوند وزه
سره داوبره وه چه د زانګو پری راباندی ونه شلېږی او په سیند کښی ونه لوېږ
په دې لاره زما د تللو اراده نه وه خو مجبور کړم او مونږ پرانک غر ته روان
شو چه په غره مو د ختلو شروع وکړه دسمی خلک د غره د منزل نه دي اوزه خو
نور و ملګرو نه زیات بی خونده وم چه څه لږ منزل مو وکړو نو ستری شوم مونږ ته
یو سړی د بوجولار هم سنبو دلی وه دالار لږه اوبه وه وه خو اداره وه او په سیند
هم په کود رپوری وتل و نو ما ملګرو ته په دې لاری د تللو تجویز پیش کړو بیره
راوکوځید و او بوجو ته روان شو ناوخته بوجو ته ورسیدو د اکرم خان نومی
ملک حجری ته لاړو اکرم خان د پر ښه سړی و زمونږ یې د پر دا رمدارو کړو
شپه مو په ارام تیره کړه سهار موچه چای څښلې په روانیدو کښی ووچه کوم
بابامی راورسید راته یې وویل چه بچیه بل ملک ته مه ځه زه د پښتی کشنر
تا پسی راالیږلی یم هغه وایی چه ده بی له جلسی نه بل څه نه دی کړی او جلسه
خو څه جرم نه دی . مونږ ورته هیڅ نه وایو . ما ورته وویل چه بابا مارشل ا

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو خو پرنګیان هسی په معمولی معاملو کښی انصاف نه لری او بیا چه دهغوی
خلاف کاروشی او ما د شل لا هم وی نو دوی نه دانصاف څه تمه کیدی شی؟
نه یی په وعدو باور کول په کاردی لیکن بابامی د تللو اجازت راته کړو دهغه
رنګی په ژبه باور ودی پخپله یوځل سړی و دی د پرنګی په فریب او چلول کله
هیده ما ته یی روپۍ چه نه ما سره چه پرنګی کوم لوظ کړی دی هغه به هیڅری مات
کړی زه یی مجبور کړم او بیرته یی کلی ته راستون کړم. چه ما مند نارې ته راورسیدلم
یی دلته پریښودم او دی اتمانزو ته لاړ زما په زړه کښی وپړه وه او دا باور می
وچه کوندی پرنګیان به ما پریږدي نوزه به ټوله ورځ په مقبره کښی پټیدلم
ما مند نارې سره نزدی یوه لویه مقبره وه او د شپی به کورته راتللم. زه د پرنګیانو
پټ نه وم او نه هغوی زما نه بی خبره وو بابامی پخپله زما د راتګ نه خبر کړی.
یوه ورځ زه دغرمی پوډی له کورته راغلی وم په حجره کښی ناست وم چه ناڅه دار
د دیولوی کار د راغی او زه یی ونیولم. زما د نیولو خبر د بجلی په شان ټوله علاقه
کی خور شو خوک چه خبر پدل ما مند نارې ته به راتلل خپل خپلوان می مونږ کړه
جمع شوی وو ژړا انګولا یی جوړه کړی وه دمور می د پرحالت خراب و تانه دار
سړی و ما ته یی کورته د تللو اجازت راکړو مور می بابا ته ښه پی کولې چه کله تا دی نه
ی راستون کړی ولې به کرفتار پدلې ما می مورته د پړه تسلی ورکړه خو هغی په چغو
و ژړل. د ځینو کسانو د انظر په وه چه ته و تښته مونږ به د پولیس سره تر هغه
سته پورې مقابله کوو تر څو چه ته د دوی له علاقی نه نه یی وتلی. لیکن دوی څه خبر وو
ما رشل لا ده او ما هم د خپل ځان د بچ کولو د پاره نور خلک په مصیبت کښی نه اچول

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور دا ترغاړه وته بنکل یې کړم اوراته یې وې بچیه په خدای می سپارلې
زه د مور نه زار خصت شوم بهر راته تانه دار منتظر و د خانمانی تانی ته یې بوتلم
هغه ځایه یې مردان ته بوتللم درسید وسره یې پولیس کپتان ته مخکښې کړم
سره یو تانه دار اوبل کمیدان و د دواړه په وردی کښې وو او بوتان یې په پښو
خه وخت چه دوی زما سره پرنګی ته ورننوتل بوتان یې وایستل ما ته دوی په
کار د هر سپک بنکاړه شو د هغې نه پس یې زه جیل ته بوتلم چه زولنی یې راته
زما په پښو کښې تنکی وې ځکه چه زما بادی ډیره مضبوته وه پنډی می غټې
وې. هر څومره زولنی چه یې راوړې زما په پښو کښې رانغلې اخر یې په زور
جوړه زما په پښو کښې واچولې ډیرې تنکی وې څرمن پوری کلکی ونښتې. لا
دروسته یې زه د جیلخانی نه راوایستم هتکړی یې هم راته دلګولې په سر
کښې کښېښولم دوه پرنګیان یو د پولیس افسر او یو ملکی افسر راسره شول د
نه یې پیښور ته روان کړم هغه وخت ما داخبره محسوسه کړه چه د مارشل لا
کښې چه حکومت څوک وغواړی نو هغه ته ځان ورکول په کار نه دی ځان سپ
غلطی ده زه پخپل راتګ پښېمانه اوستومانه وم خو څه فایده ؟ چه بنار ته ورس
نبغ یې د پولیس کپتان بنګلی ته بوتللم د موټر نه یې کوز کړم او کښې یې نولم پولیس د
چاپېره وو لږ ساعت وروسته زمونږ د کلی یو ملک چه د تیلفون تار یې پرې کړی
دوه کاله قید وهغه یې د کپتان بنګلی ته د ننه کړو بهر ته یې راووېست او واپس
بوتللو بیایې زه بنګلی ته ننه ایستم چه کورم لس، دولس پرنګیان راغونډ شوی
زه یې هغوی ته مخکښې کړم د د مخکښې کېدو سره را باندې یو پرنګی سوال وکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا د سرکار بر خلاف بغاوت کړی دی ما ورته وویې چه نه ما هیڅ بغاوت نه دی
کړی بل راته وویې چه ولې تا د سرکار بر خلاف جلسی کړي نه دي؟ ما ورته وویې چه
په جلسو کښی مونږ د بغاوت هیڅ قسم خبری نه دي کړي بلکه مونږ سرکار ته خواست کړی
دی چه د اقانون دې په مونږ نه جاری کیږي بل وویې چه ولی ته د سرکار بر خلاف په خلکو
کښی کوځبدلی نه یې؟ او خلک دې د سرکار بر خلاف اوچت کړي نه دي څه؟ ما ورته
وویې چه زه خو اکثر په خانانو کوځبدلی یم او خانان خو د سرکار خیر خواه دي. بل راته
وویې چه ولی تا خان باچا کړی نه دو؟ ما ویې نه ده وې ولې خلکو به در ته باچا نه وې
ما ورته وی چه کومو خلکو ما ته باچا وایه هغوی بی علمه او ناپوهه خلک دي هغوی غریبا-
نو د صدر اوباچا فرق نه شو کولی. زه د جلسی صدر وم د هغوی ګمان وچه
صدر به باچا وي. د دی نه پس زه یې بهر را وایستم. بهر راته پولیس تیار ولاړوو
راته چاپیره شول پیاده یې روان کړم د تنکو زولنو په وجه می پښی زخمی شوې وینی
پرې روانی وې په داسی حال کښی یې د چونې کوتوالی ته بوتلم او په حوالات کښی
یې بند ی کړم هلته می زیږب تانه دار ولیده چه دوه پری ما ته را نږدې کیدی نه شو
په دوه دوه به راته تیریده. ده ماسره په مشن سکول کښی یوځای سبق ویلی و
او یوځای په بورډنګ کښی اوسیدلی وو او لکه د ورونو مو د پر تعلقات وو.

په سبا له یې زه بیا د پولیس دفتر ته بوتلم سید اکبر نومی یو اپریدی انسپکټر
و د دی کوتوالی انچارج و هغه راته وویې چه ستاسو پښتی ده پاسه څه ما ورته وویې
ز ما پښی ژوبلی دي زه کچری ته پیاده نه شم تللی، ده راته وویې چه جلسی کولی شی
او پیاده تللی نه شی زه ستا د پاره د سورلۍ انتظام کولی نه شم ما ورته وویې چه راشه دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما پښې وکوره زه د پیاده تللویم؟ ده راته وویل چه زه دې پښې نه کورم پاتې نه
روانیږم چه څو. ما ورته ووې چه زه پیاده نه څم اوکه ته می بیولی شی نو می څه چه زه
ورته کلک شوم نو انسپکټر راته نرم شو. دانګریزانو عجیبه حکومت او عجیبه نوکران
دي چه ما ورته نرمه وې ده راته کرمه وې او چه ما ورته کرمه ووې دی راته نرم شو
سپاهي ته یې اوازو کړو چه ورشه هلکه تانګه راوله په تانګه کښې یې کښینولم پښتنې
ته یې بوتللم یو ساعت بهر ناست وم هیڅ ته یې مخ کښې نه کړم اوله هغه ځایه یې
جیلخانې ته بوتللم په جیل کښې یې یو بارک ته ورو ستم یو زور کمبل او یو زور توپۍ یې
راکړل یوه کډۍ خالی وه ما توپۍ په کډۍ واچولو، ما جیلخانه چیرې لیدلی نه
وه او د جیل نه د ډیر و ډیر بلدم زه څه چه تول پښتانه د جیل نه ویر بدل، جیلخانه چه
چالیدلی نه وی ورته یو بلا بنکاري خو زمونږ د خدایي خدمتګار و تحریک په وجه
توری اوس څوک نه ویریږی، زمونږ د قبایلو پښتانه اوس هم د جیل نه ډیر ډیر یات
ویریږی ما سره چه بارک کښې نور قیدیان وو د هغوی جامه د ډیره سپینه وه او
تعلیمیافته بنکارېدل خو په ما تیاره وه د ځان فکر راسره و. په هندوستان کښې
پرنګیانو د هر خلک پاملنه او چارې کړې و. زما هم پخپله باره کښې داخیال
و شپه او ورځې به می لمونځونه او وظیفې کولې خدای ته به په سجده پروت وم
زاري به می کولې که عمري قید شم خو خیر دی چه پاملنه نه شم څو ورځې چه تېرې
شوې د جیلخانې د ملګرو سره بلد شوم پوښتنه می توپې وکړه معلومه شوه چه
تول د افغانستان خلک وو او پرنګیانو د جنګ له کبله بندیان کړي وو.

لس، دولس ورځې به تېرې وې چه یو سپاهي راغی راته یې وویل چه بهر ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو دوسنت راغلی دی وایی که دده څه سوال وجواب وی چه زه یی کلی ته ورسوم زما
خو اول په زړه کښی دا راغلل چه بابا ته سوال وجواب ورکړم چه فضلولو هاردی
کړه زما څه کاغذونه دي هغه واخلئ اوویی سپزئ حکمه چه هغه کاغذونه په
ازادو قبایلو کښی د دودې کولو او یومرکز جوړولو په باره کښی وو که هغه حکومت ته
په لاس ورشی کافی ثبوت دی خو دلږ فکر نه پس زړه ته دا راغله چه د دی سیاسی
تاسره کوم تعلق اوکومه همدردی ده چه ستاله غمه خوب نه وړځی په دې چل دوی
ستا راز معلوموي. د چیلخانو ملا زمان اکثر د سی. آی. ډی مخبران وي او
د سیاسی قیدیانو سره خو پر دا سلوک کښږي د هغوی تجربه نه وي دوی ورته خوله
پسته کړي راز تړي واخلی زما پر خطونه یی په دی طریقه سی. آی. ډی له
ورکړی دی. دا تمانزو هغه هلک چه د تیلفون د تار په پرېکولو دوه کاله قید شوی وو
په چیلخانه کښی په لنګر کښی وو او په قیدیانو به یی دودی وېشله هغه نه ما پوښتنه
وکړه چه ته یی زما د راوستلو په وړځ د څه د پاره د کپتان بنګلي ته د اوستی وې
هغه راته وویې چه په ماجبل والا او اوپولیس والا و ډېروس کړې وو که تا نه پوښتنه
وشی چه د اتار تا د چا په لمسه شلولی و نو ته ورته ووایه چه د عبدالغفار خان په لمسه نو
دا دوه کاله قید به دې معاف شی نو حکمه یی زه هغه پرېکیانو ته پېش کړم هغوی
را نه پوښتنی کولې چه د اتار خو به تا د بل چا په ویناپرې کړی وی؟ ما ورته ووې چه
نه صاحب دهیڅا په لمسه مې نه دی غوڅ کړی اخریی راته بنکاره ووې چه کوره
داکار به تا د عبدالغفار په ویناکړې وي ما وې نه داکار ما پخپله
سلا کړی دی زه دروغ نه شم ویلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما د بابا او نورو وکیلو الو گرفتاری:

زما د نیولو به شپارس ، اووه لس ورځې شوې وې لور مازیگر وچې یو ملاز
داغې راته یې وې چې دا تمانزو اته نهه شلې قیدیان یې راوستل زه لاپه دې فکر
کښې وم چې دا به څوک وي چې لویه ډله یې زمونږ په بارک راننه اېستل چې کاته می بابا می
ؤ ، عطاء الله دادا ، شمروز دادا ، حیدرخان کاکا ، عباس خان ، فیض محمد خان
عبدالغفارخان برنی ، دشموزو مشر ملا صاحب ، برهان دادا ، لنده داچې یوازی
زمونږ دکلی پکښې اووه نیم شلې تنه وو . زمونږ خو تول خاندان وو دا تمانزو تول
خانان وو اکثر لوی ملایان ، پیران او معززین وو درځرویو خوخانان چې زمونږ
خپلوان وو هغه وو . برهان خان ، قلندرخان ، دبابړې باچا صاحب اوځه کسان
پکښې دچارسدې وو داخلک یې دهغه قاضی شاکرالله په ډایرکې نیولی وو . بابا
می چې زه ولیدم د ډېرخوشحاله شو وې خندل اوویې ویل چې دخدای شکر دی
چې تاسره یوځای شوم زما په باره کښې دا خبره خوره شوې وه چې پاڼسی شوی
دی ځکه می بابا په لید وخوشحاله شوزه هم خوشحاله شوم ځکه چې یوازی تنګ
شوی وم . دوی راته دخپلې گرفتاری قصه داسې بیان کړه چې ملایانو لا دسهار
بانګونه نه وو ویلې تیاره وه چې فوځ زمونږ دکلی نه چاپیره شو او دمدرسې سره
په دې لوی میدان کښې یې توپې و درولې گوره سپایان پرې ناست وو چې څوک
به دکوره راووت هغه به یې ونیو او دا ک ته به یې راوست چې لږه ډنا شوه پولیس
په لاړو ، کوخو کښې خواره شول او خلک به یې له کورونو نه راویستل ودته به یې ویل چې
هرچا کره وسله وی هغه دی راوړي سرکار ته دې تسلیم کړی که چا تسلیم نه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسله ورکړه وخته چارمادی کښږي به خلکو دوښې نه وسلې راوړي په ډاګ
ښې يې اښکارکړي او خلک يې هم راوستل په ډاګ کښې يې دتوپوخولوته مخامخ
ښښول چه ډاګ دخلکو نه ډک شو اووسلې له کورونو نه راتولې شوې ښځې دکوتو
ته ختلې وې ژړا انګولا وه په ټول کلي وښر اوماتم ووچه په دې کښې کوره کان
ته وختل او دتوپوچرق چروق شو دتولو دايقين شوچه وژل کښږي و دقرآن
سوګند تونو ويلو موشروع وکړه او هلته په کوتو ښځو وښتې زوروزکړوچه په دې
مت کښې دپښتې کمشنر اوځوفوځي افسران داغلل اوزمونږ مخکښې ودريدل
راته يې وويل چه اى داتمانزو خلکو پوه شئ چه دسرکار دښرلوى لاس دى يو
س يې افغانستان کښې دى اوبل دلته تاسوته دى. ماستاسوکلى دښرش
ره روپۍ جرم کړو اويوسل وپنځوس کسه مى ستاسو ټيول پنځوس کسان په
ى کښې چه هغوى دسرکار برخلاف جلسې کړې دي اوسل کسان به ترهغه وخته
ري قيد وى چه تاسو ديرش زره روپۍ جرمانه ادا کړى نه وي. بيا يې
زمونږ دچا دسلې تانې ته راوستو اوله هغه ځايه يې په ټوټه ټوټه کښښولو
پل ته يې راوستو. بله ورځ مى کاته چه محمد اکرام خان هم چه زمونږ په
سر ته يې مخبرى کولى لاس تړلى راوسته. ده سره پرتګيانو عجيبه
رقه وکړه نه ددين شو نه دسادين. اکرام خان مونږ سره په بادک
ځاى و زما داخيال وچه پخپلو کړو به پښيمانه وي اولږ شرم به محسوسوى
هغه دومره کلک ستړګى وچه مونږ تړې په اوږکښې ولاړ وو چاپورى به يې
مخبرى کولى چا سره به يې بحث کاوه اوچا سره به نښتى وجنګ به يې کاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته بهایی منکنځل کول ویل به یی چه خدای ویلی چه دوی به دی ویلی چه دوی به دمسلمان
څخ قسم دوستان نه شی خو چه یوه ورځ ورته زوی لیکلی وو چه ورته زوی لیکلی وو چه زمونږ
ت مستر ویلی خانمانی ته په دوره راغلی و. ستا تصویر ته علی و. ستا تصویر ته چه په حجره
و دپر دپرکتل. په دې دومره خبره دده نه دپرنکیانو هغه ټوله ټوله ټول بدلا
زوی ته یی ولیکل چه دالی ورکول په کار دی. داټول دغلامادی. داټول دغلامانه ذهنیت
په غلامی کښی دانسان نه انسانیت هیر شی اوانسانی خوبی ورکښی پاتی

زمونږ سره یو کابلی بندی وچه کله به ټوپونو درزهار شو اوداسو درزهار شو اوداسی به معلو
غانستان اودانګریز جنګ دی په جوش اوجذبه کښی پاڅون اوجذبه کښی پاڅیدلی په
ر شو لاس به یی دتوری غونډی څنډه او په زوره زوره به یی و په زوره زوره به یی ویل چه
ر، کش کو. زمونږ څومره کسان یی چه دجلسو کولو په تورنیولی وو دجلسو کولو په تورنیولی وو دحکومت
ر چه گوندی زمونږ دافغانستان سره څه راز بازدی اوکوم اخبار از بازدی اوکوم اخبار دونه چه
ستان نه راغلی دی هغه دوی په ملک کښی تقسیم کړی دی اودوی نسیم کړی دی اودوی دافغان
ط اوکتابت هم لری. حکومت لګیا و ددی تحقیق یی کولو بابامی راتحقیق یی کولو بابامی راته وویل
الله، خان دعمرزو په چل ول زمانه دامعلومات اخیستل چه زمونږ یا
ستان سره راز وباز شته یا دافغانستان اخبار دونه درته راځی اخبار دونه درته راځی. بابا
ه په ما باندې دپر زور لګولی وکه دغسی اخبار دونه تاسره وی یا اخبار دونه تاسره وی یا درته معلو
مانه یی راوړه چه زه یی ولولم. ده غونډستل چه دغه راز معلوم کړی ادغه راز معلوم کړی اوپرنګی
ی وکړی اوخپل مخ پری وکړي خو حقیقت دا وچه دافغانستان دا وچه دافغانستان س

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ هیڅ راز و بازنه وینږ هیڅ راز و بازنه و نه موخط وکتابت وه نه موهغه اخبارونه تف
عاشق میوه فروش چه کوم ق میوه فروش چه کوم اخبارونه راوړي وو په هغه کښې مایوهم نه وو
بابي جان ، اکبراو احمد اجان ، اکبراو احمد استاذ اخیستی وو . د بابي جان د اخبارونو
د اخلاص شوم مورمی راته قصه کوله چه بابي جان خو مونږ په لوی مصیب
خو خدای بچ کړو . خبره دا ده چه بابي جان د عاشق میوه فر
اخیستی دی پخپل صندوق کښې بي اینبسی دي او صندوق بي مونږ
دی او دی د اکبر دوی سره او دی د اکبر دوی سره ازادی علاقی ته تښتیدلی و مونږ ته بي
زما په صندوق کښې د افغانانه صندوق کښې د افغانستان اخبارونه دي . کله چه پولیس زمونږ
له راغلی دی د اصندوق قبلې دی د اصندوق قبلې خواته کوته کښې پروت وچه پولیس دې کوته
ماله هسې فکر راغی ورته می وسې فکر راغی ورته می وویل چه د اکوته خو زما د د اکثر زوی ده او هغه
کښې کپتان دی د دې کوته کپتان دی د دې کوتې تالاشی ولی اخلئ زما د دې زوی کوته
نو د خدای بنده و پولیسو د د خدای بنده و پولیسو د دی کوتې تالاشی وا نه خیسته بلی کوتې ته و
چه مونږ د بابي جان ملا صندوق د بابي جان ملا صندوق پرانیسته د ا اخبارونه ورنه راووتل ک
بي دلته موندلی وای زمونږ ته موندلی وای زمونږ د جرم د اثبات دپاره کافی و بیا چا د اثبات
چه د اصندوق د بابي جان صندوق د بابي جان دی . په دی ورځو کښې په هندوستان کښې
شوی و و لی مونږ خپل قوم ته و و لی مونږ خپل قوم ته په جلسو کښې هروخت ویلی وو چه تشدد و
قوم هیڅ قسم تشدد و نه کړي هیڅ قسم تشدد و نه کړي .

په مونږ نور هیڅ ثبوت په مونږ نور هیڅ ثبوت نه و صرف جلسی موکړې وې او جلسی د
جلسو کښې هم مونږ د اسی کار کښې هم مونږ د اسی کار یا خبره نه وه کړې چه د قانون په وړاندی د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی دري مياشتی کوښښ وکړو خوځه دليل په لاس ورنغی نو بيايي په مونږ کښی
کوښښ شروع کړو احمد استاذ يي دې ته تيار کړو چه ته سرکاری گواه شه مونږ
دسره دمعافولو وعده کوو. احمد استاذ پسی به جمعدار راغی دفتر ته به يی بوتلو مونږ
به شکمن شو تحقيق مو ورپسی شروع کړو معلومه شوه چه دا معامله ده. دفيض محمد
خان د پراشنا وهغه ته مو ووې چه خبره داسی ده ستا دوست دی ته يي پوه کړه چه
دا مناسب نه دی چه دی يوازی دځان بچ کولو د پاره قول ملګری اورته وغورځوی هغه
ورته د هرمنت اوزاری وکړه مونږ هم ورته منتونه وکړل خو هغه زړه غورځيدلی وې چه
کښی د هرتنګ شوی و زمونږ خبره يی ونه منله پوليس دده نه بيانونه لا پخوا اخيستی وو
اوله هرلی وو دمارشل لا انچارج پخپله سرجارج روس کيپل و دی زمونږ چيف کمشنر هم و
دهغه پښتنو سره مينه وه اودلپښتنو خير خواه، هغه وويل چه زه په دوی مقدمه نه چلوم
دمقدمی چلولو اجازت يي ورنکړو ځکه د هر وخت پکښی تېرشوی و او حالات بدل شوی
وو. يوخان راته قصه کوله چه مونږ جرګه ورغلی وو چه دا سپين ږيری سپين ږيری کسان
پرېږده هغه راته ووې چه ځی ستاسو هغه باچامی هم پرېښوده او نورمی هم قول کسان
پرېښودل.

د جيلخانی حالت:

دهغه وخت جيلخانی د هری سختی وې او خلک به له قيده د هر ژيات و د هر بدل
خوراک يي د خوراک په شان نه و، جامی يي د جامو په څېر نه وې او ژوندی يي د انسان
غوندی نه و، د قيدی نه دسپی ژوند بهتر وو، هيڅ بی هيڅه وهل، تکول، شړل
وو، او د قيدی دومره قدرت نه وو چه پوښتنه يي کړی وی چه دا په څه؟ د ډنګر وکا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ي کول چکی ږي اوږه کول (مچن پرې کړ ځوی) او ارت پرې کړ ځول.
ز سیاسی قیدیان وو مونږ له به یې چه کوم ساک را کولو هغه ته به یې سور ساک ویلو.
ورځ می جمعدار صاحب ته په تو قو کښی وویل چه جمعدار صاحب دا خو پرښه ساک
دې تخم به راله پیدا نه کړې چه زه رهاشم خان ته یې بیا کرم هغه را ته وویل
ی ساک په سنبه والی کښی څه شک نشته تاسو یې لا د پوره خوندہ خبر شوی نه یې دا
ل دجیلخانی غوا یا نوته وا چوي چه دهغوی نه پاتی شی بیایي تاسوله در کوی او
ک په پیښور غوندی سره سبزه علاقه کښی نه پیدا کیږی. دا د پره اسماعیل خان
ی هلته هر څنګلی بوټی له ساک وایی په کومو سبو کښی به چه دا پخیدل که هغه چا
وای سره ډه ږی لوږی به یې هم دا ساک نه ؤ خوړلی د دوی دا حال و چه
به هم نه خوړه. د دانو پاکول خو پرېږده کوم قیدی چه چکی اوږه کوي هغه وږی ده
غلې صیلاه کولو په وخت کښی او مه اوږه خوري او د وزن پوره کولو د پاره یکښی
اندازه خاوره کډوی چه څومره اوږه ده خوړلی وي. بله دا چه جیل والا پوره
نه ورکوی نود دوی د تول برابر ساتلو د پاره دوی سبنه نه پخوی. مونږ
ی د جیل دوی خوړه بیا راته دخپلی دوی اجازت وشو خو دوی به مونږ
ازه کښی خوړه په بارک کښی اجازت نه و ځکه چه په دروازه کښی یې را نه پیسی
ی شوی. جیل والا و مونږ ته دا لویه بی شرمی جوړه کړې وه چه څه وخت به مویه
ه کښی دوی د خوړه چه جیل ته به یې را د ننه کولو تالاشی به یې اخیسته
هم صرف زمونږ د سپکولو د پاره او په دی طریقه به یې را نه رشوت اخیسته
ا د وغه امیر چند و هغه بلدی خو رنه و ډپټی دا د وغه کنکارام و هغه بلدی خوړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او مونږ ده ته په حواله وو . زه پخپله د بلو وو ډګولو خلاف وم او زما نور ملګري ي
نه وو خصوصاً حاجي محمد اکرم خان او هغه کسان چه هغوی به پان ، نسوار
ګزاري کول . اخر کښې د حاجي محمد اکرم خان او جبل والا و په کشمکش زمونږ د
بنده شوه کشمکش یوازې هغه وکړو او دوه دې په یکښې د تولو بنده شوه . مو
په هفته کښې یو ځل د ملاقات کولو اجازه وه ملاقات به هم عجیبه وو اولو
به وه هر څومره ملاقاتیان ، قیدیان چه به وو راتول به یې کړو ، دروازې ته
راوستلو دروازې نه به یې لږ شاته قت په قت و درولو ، زمونږ ملاقات له
څوک راغلی وو هغه به یې د دروازې نه بهر لږ بهر ته و درول یو بل سره به مو په چغ
کولی خکه چه وړوبنه اوربل کیده مونږ له به هغوی د با هر حال راوړه ، ویل
چه په خلکو د هر ظلم اوزیاتی دی خلک تنګ شوي دي تاسو په جبل کښې باچا یا
د اجبل ژوند د بهر له ژوند نه د هر غوره دی د جرمانی نه کوندې او یتیما
دي خو عمر خان او پولیس یو شوی دی ، هیڅوک یې په حیا کښې پرې نه
دوی د کوندو او یتیما نو نه جرمانی اخیستلی دالا څه کوې چه نمبر دار انو
ځله د خلکو نه د جرمانی پیسې وصول کړې او چه څوک لږ څه وایي پولیس
وی د خلکو په کورونو ور و خیږي وهي یې ، تکوي او شرموي یې ، نو خلک د
هر څو ځله چه تري جرمانه غواړي ورکوي یې . چه څه وخت د دې شوزر و
یو لک جرمانه وصول شوه نو هغه سل کسان یې پرې بنبودل نور مونږ پاتې
یې هم چار سل ې ته بوتللو . د چار سلو د تللونه مونږ خبر نه وو . جبل و
خپله دوه د بنده کړې وه او هماغه د جبل سور سات او د جوار و تر څه دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولہ دچا زړہ تہ کیږہ اوکہ نہ کیږہ . کہ چا خورہ اوکہ نہ خورہ ، چہ پہ دی کښی خبر
ئی چہ لاټ صاحب حکم کړی دی چہ داخلک می دھغوی دباچا سرہ تول پرښنودل
ښی ، دپرخوشالہ شو . بلہ ورځ حکم راغی چہ تیار شئ ستاسو چارسدی تہ چالان
ک) دی . مونږ پی دوہ پہ یو ځنځیر و تړلو او یو سپاھی تہ بہ پی حوالہ کړو د ځنځیر یو
ں بہ د پولیس سپاھی سرہ و پہ تم تمونو کښی پی کښینولو سپاھی مخکښی او مونږ
و روستہ ناست وو چارسدی تہ پی بوتلو ھلتہ پی پہ حوالات کښی واچولو . پہ دی
ل کښی مانہ دتولونہ زیات تکلیف زما دپښو و . ولی چہ د تنکو بېړیو پہ وجہ می
ی زخمی شوی وی جامی بدلول راتہ تکلیف و لمبل راتہ تکلیف و کړ خپدل
پہ تکلیف و ملاستہ می پہ تکلیف وہ ، پہ دوہ اوړہ بدل دا وړ بدل او نمونځ
ل راتہ پہ تکلیف و پہ کړمی کښی بہ کړمی شوی او پہ یخنی کښی بہ یخی شوی سرہ
ی دومرہ تکلیفونو پی زما دپښونہ دا بېړی ، ونہ ایستلی ، زمونږ ډاکټر یو انګریز
او ښہ سړی و خو معلومیدہ داچہ دحکومت نہ مجبور و حکم پی زما دپښونہ
ښیر یو ایستلو جرئت نہ کولو . بی لہ مانہ ، چہ د « دولت اکټ » پہ ایجی ټیشن
رکت ، کښی خومرہ کسان بندیان وو ھغوی تہ پی بېړی ، نہ وی لګولی اولکہ
نورو سیاسی قیدیانو سرہ کوم سلوک کیږی و مونږ سرہ پی ھغہ نہ کولو بلکہ د
لاقی مجرمانو ھسی پی سلوک راسرہ کولو .

کوم کسان چہ پی زما سرہ نیولی وو د ړی نیمی میاشتی پس پی دھنا
ل یوازی زہ پی پری نہ ښنودم . بابامی زما پہ پاتی کیږی و د پرخپہ و زمانہ پی
ی اکیدل نہ غوښتل خو مجبور و د بل واک و . د جدایی پہ وخت کښی راتر غاړہ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو او په ستر کو کښې يې او ښکې راغلې مور می چه خبره شوه د پره خپه شوی
خو دې خپکان او مخکښې خپکان کښې د پر فرق و مخکښې خو ته پاتې سی او ح
و پره وه او د اځل خو که قید وم خو د خلاصېد و امید می هم و. دو دی به
مور ته الېږله. ما سره به دا دو دی د سپاهیانو او حوالاتیانو هم کېده خو
شوم چه دا دو دی په بلو و راته د سپېږی اول خو می جېل والا و او پولیس والا
وویل چه ما خو څه ډاکه کړې نه ده زه خو سیاسی قیدی یم د قام او ملک په خ
کښې بندی شوی یم ما ته د دې دو دی د سرکاری طور اجازت دی پېښور ح
کښې يې راکوله تاسو ته په کار دی زما دو دی د ما ته بې قیده او شرطه پرېږد
قام، وطن او سیاست څه کولو اخر زه مجبور شوم او مورته می جواب ولېږ
له دو دی د مه ته الېږه ځکه چه په بلو و رکولو د دو دی خوراک ما ته ګناه د
هغې زما خبره و منله او دو دی يې بنده کړه ما به هماغه د جېلخانې دو دی
څو د رځی پس يې پېښور جېلخانې ته بدل کړم د تللو په وخت کښې ما سره په ج
کښې نور اخلاقی قیدیان هم وو چالان خو پېښور ته په خپلو پښو ځی ما پولیس
وویل که چېرې ستاسو خو ښه وي په تمتمو نو کښې به لاړ شو ستاسو او د د
قیدیانو کرایه به هم زه ورکړم هغوی و نه منله دوی د کرایې د پاسه نغد ر
هم غوښته ما وې ښه ده پخپلو پښو ځو. زما خپلوانو او دوستانو د پر راته
چه ولې پیاده ځی د اخلک به څه وایی؟ مونږ د خلکو د پېغور و نو له کبله د پر غ
کار و نه کوو. ما ورته وویل چه زه د خلکو خبرو ته نه ګورم کار ته ګورم که کار د
وی خلک چه هر څه وایی زه به يې کوم او که کار غلط وي نو که خلک هر څه وایی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه کوم . لنډه دا چه په ډېر و خوارو می رضا کړل او رخصت می کړل چه د سپاهیانو باور د اغی چه زه پیاده تللو نه تیار یم پخپله خبره پښه پمان وو خو بیا کله کیده . مور خوینديې او خپلوانی چه زما د تللو نه خبرې نشوې وې قاضی خپلو نه د اغلې وی او د سې په غاړه په یو کور کښی زما د لید لو د پاره ناستی وې . د لید لو ، کتلو په دوران کښی زه پوه شوم چه د وی پولیس والا و نه بلاې ورکړی دي . که زه مخکښی خبر وای ما به د وی لید لو نه انکار کړی وای . د میان گوجر و لاره لنډه وه په دې روان شو چه اګړې ته ورسېدو . میر قادر خان چه ورو سته بیا خلکو نواب صاحب بللو او د هغه بلاد د اغلل او مونږ یې خپلې حجرې ته بوتللو د وډی د انتظام یې راله وکړو ما د پرانکار وکړو خو هغوی پرې نه ښودم او مونږ تولو ته یې ښه د وډی د راکړه بیایې رخصت کړو . کوز ما زګیر پښور ته ورسېدو د چارسدې ته پښور ا ته لس میله دی دا تو له لاره مونږ پخپلو پښو ووهله . سعد الله د وی په دی ورځو کښی په ښار کښی سبق ویلو زمونږ نه خبر شوي وو مخې له د اغلی وو او ما له یې د وډی د اډې وه شاهی باغ سره مو د وډی د وخوړه وخت نا وخته د جیلخانی په داسی وخت کښی قید یان نه اخلی زه یې کوتوالی ته بوتلم او یو ډېر کنده ځای کښی می شپه تېره کړه سبا له یې جېل ته بوتلم او ور داخل یې کړم جېل والا و زه د نور و قید یانو سره په یو بارک کښی بند کړم د وډی د بېرې هم د جیلخانی راکوله په دې ورځو کښی انسن صاحب د پټی کمشنر د زما د بابا سره ښه بلد و بابامی ورته ورغی او ورته یې وویل نو زما د خپل خوراک او چښاک اجازه یې راکړه چه د خپلی د وډی د اجازه یې راکړه زه یې د وی بارک نه د جیلخانی د دروازی د خولی سره هغه پخوانی حوالات ته بدل کړم ایکی یوازی یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یو بارک کښې ښکلې کرم ځانله وم خو دودۍ مې خپله خوړه دودۍ به یې د حوالات
د دروازې خولې ته راوړه کښې ښوده مانه به یې اواز وکړو زه به راغلم او هماغلته
به مې خوړه زه په بارک څه چه په دې تول حوالات کښې یوازې وم خو دودۍ به یې
هلته نه راپرې ښوده . په دې ورځو کښې دلوند خورې دې خان هم قید و بروس
صاحب قید کړې و . دې یو پرنګی وچه د خانانو او پولیس برخلاف واو د دوی په
ایمان د پرې سبه پوهیده . د جبلخانې داروغه هم د بلې خوا د خانانو تاکود بلې
خوا نه ؤ رشوت ورکوونکو پسې به ګرځیده او په کار به یې لګولو . د دې خان هم
حال بد و د حوالات په څټو یې لګولی و تول به په څټو لړلی و د خوراک حال یې هم
سبه نه و . ورځ یې د پره بده وه تر څو چه زه هلته وم ما د خپلې دودۍ نه په پرته
پره څه برخه ورکوله . شپږ میاشتې پس زه د د پرش زرو روپو په ضمانت ره
کړې شوم .

د قید نه خلاصیدل :

چه کلې ته راغلم خلک زما لیدو او په خیر راغلې ته راتلل او په د پره مې
محبت به راسره یو ځای کیدل . د ولت اکټ ایجی ټیشن د خلکو نه د پره ق
واخیسته او د پرځانې او مالی نقصانونه یې خلکو ته ور وارول خو د مر
وشوچه په خلکو کښې یې څه احساس راپیدا کړو په پښتنو کښې د سیاسی
شعور آغاز وشو زه چه د کلې د حالاتو نه خبر شوم زه په جبلخانه کښې دو
نه وم د بړول شوی څومره چه زمونږ د کلې خلک د بړول شوي وو . مو
راته قصه کوله چه ته د نیول شوې د نا ورځ را باندې تیاره شوه په ځان نه پو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا راته وویې چې هر څه خدای کوی هغه کښې ښه وی او ورپسې پولیسی کپتان صاحب سره څه کوی هغه کښې کور کښې نغدی روپۍ نه وی کالی (زیورات) وغیره وه ستا کالي وو، د ډاکټر صاحب کالی وو، زما کالي وو، دا ټول می راغونډ کړل خدمتګاره می دځان سره واخیسته، چار سدې له د پولیس کپتان صاحب کورته لاړمه او پخپل لاس می هغه ټول کالی ودکړه ما زړه د پرتینکو لو خونه تینګښت وټړل می. پولیسی کپتان ښه سړی و مالیې د پره تسلی راکړه راته یې وې چې موږې خپه کښې نه زدی به دې خدای راخلاص کړی.

د دوهم واده تیاری او بیا کرفتاری:

مالمور او پلار مې هغه دپخوانی ټبر په کلی او هم هغه خاندان کښې کوژده کړې وه اوله ښځه می دمشر خان خور زده وه او دایی لور وه مور او پلار می دواده په بند و بست کښې وو دواده ښځه یې ایښې وه. زما او عباس خان په ذمه جوړه اخیستل وو عباس خان زما د ورکوتوالي دوست او زما زړه ته د پر نږدې وُ. مونږ اول نوښار ته لاړو هلته زمونږ دکلي هلکانو تعلیم کولو او بابو سلطان محمد سره مو ولیدو. بابو سلطان محمد یو پنجابی و د پر ښه سړی داو د پر قوم پرست و زما د پر اشنا و. زما د هغه اشنایی په دې وه چې هغه هم د پښتنو بچولې په د پره مینه تعلیم ورکولو. زه هم د دې عقیدې سړی وم چې د پښتنو بچي تعلیمیافته شي د پرنګیانو نوکري وُ. استعفایی ورکړی وه او په نوښار کښې یې یوه یتیم خانه او یو سکول جوړ کړی وُ. زه او بابو صاحب ناست وو خبرې مو کولې یو سړی راغې مونږ سره نږدې په لمانځه ودریدو ما سره شک شو بابو صاحب ته می وویل چې دا سړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک دی په ده خو زما شک پیدا شو هغه د پر خوش اعتقاده سړی وویل یې داخو
د پر ښه سړی دی لمونځونه کوی زمونږ خپل سړی دی ماورته وویل چه هلته خو
دوه کمرې خالی پرتی دي . دی دالمونځ هلته ولې نه کوی چه دلته مونږ ته نژدی
والا ده دی بیا زه په جیلخانه کښې وم چه خبر شوم چه بابو صاحب گرفتار شو هغه
سړی د سی . آی . ډي انسپکټر و ده پسی د پنجاب نه راالیږل شوی و .
د حکومت په بابو صاحب داشک وچه دی لوتونه جوړ وی . چه د دی تحقیق یې
وکړو بابو صاحب یې سره د سانګی گرفتار کړو .

مونږ د هغه ځایه پیښور ته لاړو جوړه مو واخیسته کلی ته راروان شو چه
سر د ریاب ته راورسیدو اوله پله نه پوري وتو چه تم تم ته ختلو د پولیس تانږه
دار مو د سپاهیانو سره ولیده چه په تم تم کښې ناست او د پله خواته راروان دی .
چه مونږ ورنه تیر شو دوی هم راپسی راوګرځیدل مونږ مخکښې دوی راپسی
دي په دې مونږ شکمن شو چه څه چل خودی چه تانې ته راورسیدو مونږ ته یې
اشاره وکړه مونږ و درید و تانه د سړک په غاړه وه مونږ یې تانې ته بوتللو
هلته نور افسران زمونږ په انتظار کښې ناست وو چه مونږ یې ولیدو پخپلو کښې
پټل شو اوڅه پس پسی یې سره وکړو بیا مونږ ته راغلل راته یې وویل چه تاسو پسی
د پوړته نه حکم راغلی دی مونږ تاسو بیرته سنبارته بیایو . مونږ ورته وویې چه د څه
حکم دی مونږ خو پوه کړئ هغوی جواب راکړو چه مونږ هم خبر نه یو . مونږ سره
چه کوم سامان وو هغه مو هغوی ته حواله کړو او مونږ د پولیس سره واپس سنبارته
روان شو ما سنبام تیاره سنبارته ورسیدو نیغ یې د شارټ صاحب بنګلی ته بوتلو .

معه د غه زمانه کښې نوراحمه شیر دل خان صاحب د مسی [illegible] د خرگ
کپتان د ده د مرضۍ خلاف [illegible] گرفتار نه ویلی ش چه الزام [illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی د پیښور د ضلعی د سی. آی. ډی لوی کپتان و هغه له یې مشن کالج ته مخامخ
وه مونږ یې په سړک و درولی وو د پوما میاشت وه د پرسار وو ماخوستن شو
په والا وه نور ستړی شو نه زمونږ د پاره د ناستی څه انتظام و اونه د پولیس د پاره.
مونږ پولیسانو نه د پرو وې مونږ به ترکومی پورې په دې یخنی کښې په سړک د لته
والا. یولاړ شی څه تلوار پرې وکړی چه زر پیش شو. د پولیس افسرانو کښې د اجرئت
چې نه و هغوی مونږ ته بهادران وو پرنګی ته یې ایمان نه و. د مسلمانانو لوی افسر
په دومره د خدای نه نه وېرېده څومره چه به د پرنګی نه وېرېده. د خدای د وسره تابعدار
او وفادار نه وخومره چه د پرنګی و. مونږ دا خبرې کولې چه د هغه کلی نه یو پولیس افسر
راووت او د دې سره ویسپد و بیایې زه او عباس خان یو د بله بېل کړو د جدا کیدلو
په وخت کښې ما ته عباس خان وویې چه څه به وایو. ما وې چه ریښتیا ریښتیا به وایو
معلومیږي چه د غه پولیس افسر د احکم راوړی و چه ما او عباس خان بېل کړي هغه
د مشن کالج طرف ته روان کړو او زه یې د خواستیشن ته چه کوم سړک تللی
هغه ته راوستلم. زه په ولاړه د پرستړی شوی وم یخنی می هم کېده. یو پل و د
هغه د پاسه کښېناستم د عباس خان نه خبر نه شوم خو زه یې ماسخوتن تر پرشارت
صاحب ته مخکښې کړم. شارت صاحب په یوه کوټه کښې د انګلیټی خوا ته ناست وو
د انګلیټی کښې بنې د ډې پرتې وې کوټه سنبه توده وه. زما د یخنی نه ژامې کړزیدلې
هم تودې شوې طبیعت می سنبه شو انګلیټی سره یو ځای کړې وه شارت صاحب راته اشاره
وکړه په هغه کرسی کښېناستم. شارت د پرقادرجن سره د پوښتنې یې راته ته وکړه
چې ما ورته چه څه ریښتیا او حقیقت و بیان کړل. ما چه څه وخت خبرې ته وکړ کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ده راته وویې چه ورو ورو وایه بیامی چه رورو خبری کولی هغه راته ویل په زوره
وایه ماورته وویې چه ورو وایم نو والی په زوره وایه . چه په زوره وایم نو ته والی چه
ورو ورو وایه ، ته راته یوه طریقه وښیه چه زه هغسی ووایم . زما په خبره خو قادر دې
ودغی خوسړی چپ شو . چه بیان می ختم شو دکوتهی نه راووتم پولیس راته منتظر والاړ و
زه بیا هغه زور اشنا زور ځای دصاحب کوتهوالی ته بوتللم په حوالات یی وردننه کړ
یو خوزړی دسپنږ و دکې شړی پرتې وې هغه می واغوستی او دسیمتو په یخ فرش
څملاستم په بله شپه سید اکبر خان زاړه اشناد دپتهی کشنر بنکلی ته بوتلم هغه
ته یی وراندې کړم ، دپتهی کمشنر انسن صاحب و دهرښه سړی و . ماورته وخندل
بې ګناهی خبره وکړه هغه دپره تسلی راکړه او سید اکبر خان ته یی وویې چه دا
ښه سلوک کوئ اوښه دودی ورکوئ دصاحب حکم وچه ښه ته راغلو هغه دسپ
شړی ته یی راته بدلې کړې او دودی ته یی هم راته ښه شروع کړه . الله نه مشپې زه
دې حوالات کښی بندی وم چه یوه ورځ پولیس راغی اوزه یی دپولیس لوی افسر
وروستم ، شادت صاحب ته یی بیا مخکښی کولم . دهغه د دفتر سړه یو ورو کی غو
ځای و زه یی هلته کښینولم زه خپل فکر کښی ډوب تللی وم چه یوسړی می تر نظره شو
چه کړندی راغی او د دفتر چک یی وچت کړو په منډو ورننووت ماخو ښه ورنه پ
ولی شک می پرې راغی چه قاضی شاکرالله و . اردلي نه می پوښتنه وکړه چه دا سړ
څوک و ؟ هغه راته وویل چه زه یی نه پیژنم دوی که څوک پیژنی هم په اسانی یی نه ښ
ماورته وویې چه ولی قاضی شاکرالله نه و ؟ ده راته وویل چه ؤ . ما نور تول فکر ونه پ
بس د دفتر دروازی ته می ستړکی وغولې چه قاضی صاحب به کله راوځی چه ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلام علیک وکړم چه بله ورځ بیا منکر نه شی . شارټ د صوبې د مخبرانو لوی مشر او د تولو مخبرانو تعلق ده سره وُ . زه په دې وپرېدم هسې نه چه په بله لار دا نه لار نه شی ځکه چه دوي هم احتیاط کوي په یوه لار چه لار شی بیا په هغې نه راځی . خدای ته زادی کوم چه خدایه قاضی صاحب په همدې لاره واپس راولې چه ستر کی موسره مخامخ شی ده خو عوام پرېږده چه ملایان هم دوکه کول ماوې چه حقیقت یې خلکو ته ښکاره کړم . قاضی صاحب د یو ساعت و دوسته راووت چه ماله نزدې ولاړ غې زه ور پاڅېدم سلام می ور واچاوه چه زه یې ولیدم رنګ یې تک زېړ شو او ورته می وویل چه قاضی صاحب ته خو مسلمان شوی وې دا بیا کله کافر شوې ستر کی یې ښکته کړې هیڅ یې ونه ویل چابک دا نه لار .

رهایی او دوهم واده :

لږ ساعت و دوسته زه پولیس د مخبرانو کشر کپتان ته چه د جهانګیرۍ کلي و مخکښې کړم هغه راته ووې چه ته ازادیې . ماورته ووې چه زه تاسو نیولی په څه وم او اوس می پرېږدئ ولې ؟ هغه راته وویل چه مونږ نوکران یو ، مونږ څه ویلی نه شو زمونږ واکدار دننه ناست دی ته دا پوښتنه دهغه نه کولی شې په دې وخت کښې د پرنګیانو د پردعب داب و او یا د شارټ صاحب چه قهر جن هم و . چاورته خبره نه شوه کولی خو چه څوک په اخلاقی جرم کښې نه بلکه په سیاسی جرم کښې حبلخانه وینې و هره یې د زړه لپرې شی . زه نېغ شارټ صاحب ته ورغلم هغه ماته وې چه څه والی ماوې چه دا زه دې په څه نیولی وم او اوس می ولې پرېږدی ؟ هغه راته وویل چه په نوښار کښې چا بم غورځولی و زمونږ داشک وچه دا کار تاکړی دی خو تحقیق

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نتیجه کښې معلومه شوه چه ته بې ګناه یې نو خکه مو اوس پریښوی. نو ما ورته وویې چه
دا تحقیق خو زما د نیولو نه مخکښې هم کېدی شو زه خو د دې ملک سړی وم که مجرم
وای نو زما نیول خو څه ګران کار نه و ته ګوره دالس دولس ورځې موزه وکړولم زه
انسان یم. حیثیت لرم. هر څه موراته پایمال کړل. ده راته وویل چه تاسو څه
حیثیت لرئ دا زمونږ خوښه ده که مونیسو، که موپریږدو ما وې ښه چه داسی
ده. نو د خدای پامان. زه ترې راووتم ورورسته یې راپسې د هرې چغې وډهلی
خوزه ورونه کړ خېدم. له هغه ځایه پیاده ښار ته راغلم. زما د خلاصیدو نه څوک
نه و خبر. د چینې حکیم صاحب دکان ته ورغلم چه ګورم قاضی شاکرالله کرم تقریر
شروع کړی دی چه خدای داسی ویلی او رسول الله (ص) داسی فرمایلی چه زه
یې ولیدم سپک پاتېده او هغه ځای یې پریښوده. زه له هغه ځایه کلی ته راغلم
د عباس خان پوښتنه می چه وکړه هغه زما نه مخکښې دهاشوی و او کلی ته تللی و.
زه دامنم چه بدلیشی حکومتونه بغیر تشدد او د خلکو د وپرولو نه چلیدی نه شی
خو دا خیزونه په حاکم او محکوم کښې نفرت هم پیدا کوی. که په دغه وخت کښې پرنګی
د زور او ظلم په ځای مونږ سره نرمی کړی وای د دوی په ضد به دومره تحریکونه نه
شروع کېدل او نه به د هغوی رعب او داب دومره زړکم او ختم شوی وای ځکه چه
هغوی به د خپل رعب د ساتلو د پاره په پښتنو څومره ظلم کولو هاغومره به د خلکو د مقاومت
په وجه د دوی رعب او داب ته نقصان رسېدو.

لکه چه ما وړاندی ذکر کړی دی زما لومړنی تبر د غنی اوول دوی مور په
وباکښې مړ شوې وه په دې وړځو کښې زما دابل واده تیار و. په ۱۹۱۹ع کال کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

می وادہ وشو. دلسبتنو و دونہ لہ رواجونو ډک وو ما دھغوا صلاح غوښتلہ
نو ځکہ می دځان نہ شروع وکړہ او دشریعت مطابق می اول ډولی راوړہ
په سبالہ می ولیمہ وکړہ اویو وخت می ښہ ډوډی دکلی خلکو، دوستانو او
خپلوانو تہ ورکړہ. خلکو راتہ دتندرۍ په دود روپی راچولی خو ماونہ منلې:
کہ څہ هم په ډیرو زمونږ پوري دي. په ډوډی دکښی مود رسم و رواج دصلاح
کولو په باره کښی تبادل خیال دخلکو سره وکړو. په هغه وخت کښی دا دود وچه
په وادہ کښی به تولو کسبګروتہ وادہ تہ راغلو میلمنو پیسی ورکولې چا به آئینہ
ښودہ چا به سپیلنی لوګی کولو، چا به ډول واهه چا به ګلونہ راوړی وو، چا به
رباب کښی چادبیتہ ویله، په میلمنو به یولوټ مارۀ کہ دچا زړہ به وو اوکہ به
نہ وو خو دخپلہ شرمہ به یې داحساب کسبګروتہ ادا کولو. زما په وادہ کښی دا اول
ځل دپاره داکار ونہ ماښتہ کړل اوکسبګروتہ می دا وویل چہ تاسو به میلمنولہ
تکلیف نہ ورکوئ ستاسو دتولو حق به زہ ورکوم ولی چہ تاسو زما کسبګر یئ

دغہ شان دمې به ګډه بدې میلمنو به کہ دچا زړہ و
اوکہ نہ وو پیسی ورکولې.

سازیان به وو.

جنجونہ به وو

تولیکی اوغربیونہ

به خلاصیدل

لنډہ داچہ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پرفضول خرڅونه به وو . زما په واده کښې دا ټول ما بند کړل او دا می د دی دپاره وکړل چه دقام او ملک د پاره د پرنقص دی او داخلک تړی تنګ و خوچاکی ددې د پرپښودو اخلاقی جرئت نه و. ما د دی شیانو د مخنیوی ابتدا دخپل واده نه وکړه او خلکو ته می هم وویل چه تاسو هم دا بی ځایه رواجونه پریږدئ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلافت تحریک او هجرت

د خلافت کمیټی جلسه په دهلی کښی

هجرت مونږه په کابل کښی

باجوړته واپسی دیر کښی اودخالونو

ملډ سله

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې وخت کښې د ترکانو په تول وطن د اتحاد یا نو قبضه وه ، مصطفی کمال
د هغه ملګرو د دوی بر خلاف جنګ شروع کړی و . په هندوستان کښې د خلا
د پاره مسلمانانو نیولوی ایجی تیشن (تحریک) شروع کړی و ځای په ځای یې کمیټ
جوړې کړې وې . جلسې او جلوسونه به کیدل ، د هندوستان مسلمانان ټ
خلک وو . په جنګ کښې د ټولو نه زیات د پرنګیانو امداد دوی کړی و . د دوی
مشرانو ورله برتی ورکړې وې ، ملایانو ، زبرکانو او مذهبی پیشوایانو د پر
په طرفداری او د ترکو بر خلاف فتوې ورکړې وې . خلافت د دوی تباه کړ
که دوی د افکارو مخکښې کړی وای د هره فایده به یې رسولی وه ، خو دا نشت نه د
سنه و .

د هلی کښې د خلافت کمیټی جلسه :

د ۱۹۲۰ع کال په نیمائی د خلافت کمیټی له طرفه په د هلی کښې د یوی لوی
اعلان وشو او د سره د دی خبری اعلان هم وشو چه هغه خلک به په دی جلسه
شریکیږي چه کفن به یې په سر تړلی وي . زه هم په دی جلسه کښې شریک ش
د هره لویه جلسه وه د هندوستان د هری برخی مسلمانان ورله راغلی وو . ع
هندی یو جذباتی نوجوان هلک و هغه په جلسه کښې د هجرت کولو تجویز ورا

غالباً د الفضل آفندی د ۲ (عزیز هندی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ول غونښتل دا کنړ ومشرانو دا رایه نه وه . هغوی د پرېږده کړو چه اوس د دی تجویز
ـ ورانده ی کېږد وموقع نه ده خو هغه منع نه شوا وخپل تجویزي ورانده ی کړو . مسلمانان
ـو یو جذباتی قام دی . دې ته یې ونه کتل چه د دې نتیجه به څه وي د ورانده ی کېږد
ـه یې تجویز پاس کړو . د هجرت خبر چه په ملک کښی خور شو ، پېښور ته ورورو
ـ ی وړی قافلی راروانی شوې په پېښور کښی د دوی د امداد او ارام د پاره د
ـجرت کمیټی جوړه شوه ، دا قافلی چه به له هندوستانه راتللې په ستېشنونو به یې خلکو
ـ ټاوده استقبالونه کول او په پېښور کښی به یې جلوسونه وتل . پرنګیانو خو اول د
ـرت سخت مخالفت وکړو خکه چه هغه خان د پاره دا یو خطرناک کار ګڼلو ولی چه پوه
ـ چه خلک په هیڅ شان نه منع کېږی نو بیا یې دا کوښښ وچه څومره کېږدی شی
ـوسره د پرخلک په هجرت لاړشی . پښتانه خو د نورو خلکو په شان نه وو هغوی
ـ د اتمامشا لیده د پر اثر یې پرې وکړو . ملایانو به هم وعظونه کول چه هجرت فرض دی
ـ چا هجرت ونه کړ نو بغښه یې طلاقیږی . دا سی حالت په ملک کښی پیدا شو چه بی له
ـېږته بلی خبری اوریدو ته څوک تیار نه وو . د حکومت له خوا به هم قسم قسم اوازی خوریدلی
ـنجی هجرت ته تیارشول .

هجرت :

چه چا به هجرت نه کولو خلکو به ورته په بد نظر کتل . نو ما دیوی جلسی انتظام وکړ
ـز په کلی کښی لوی جلسه جوړه شوه . د پرخلک پکښی راجمع شوی وو . په جلسه کښی می
ـړی چه تاسو لږ صبر وکړی . زه به یوځوکسان کابل ته ولیږم چه هغوی مونږ ته خپل
ـ د یل حالات راوړی او مونږ په حالا تو خبرا وپوه شو نو بیا به د هجرت په باره کښی

(c) ketabton.com: The Digital Library

فیصله کوو . ما چه دا تجویز پیش کړو زمونږ د کلی عادلشاه پیر نومی یو پیړۍ هغه سخت
مخالفت وکړو وې ویل چه مونږ خپلی بنځی کوره کا نو ته نه شو پریښودلی که ت
هجرت ته تیار نه یې مه ځه خو نور مه منع کوه مونږ که خدای ته منظوره وی سبا وخت
روانیږو . اوږه هندوستان کښی ولګید او وسوځیدله پکښی پښتو نخوا که و
وه که کوزه تالا ولاشوه او کوروړونه روپۍ نقصان وشو . خصوصاً چه دسندهٔ د خلک
قافله چه د جونیجو صاحب په مشری کښی پښور ته راورسیده په پښتنو کښی اوږدو لګ
نږ ، بنځی په هجرت روان شول . دې خلکو کښی پرنګیانو هم خپل د پرمختیان ولیږل
هلته په مهاجرو کښی پراګنده وکړی چه دا خلک هلته پاتی نه شی او بیرته خپل ملک
راشی . هجرت هجرت نه ؤ . یوه هنګامه وه ، تش جذبات وو ، هیڅ سوچ فکر نه
هجرت په اصل مطلب څوک پوه نه ؤ ، دا خو محمد علی او شوکت علی امان الله خان ته د
لیږلی ؤ چه ته د هجرت دمنلو اعلان وکړه چه په پرنګیانو باندی د دې خبرې اثر پریوځ
زمونږ د خلافت تحریک ته پکښی فایده ورسیږی .

اخوزه هم مجبور شوم د قوم په ملګرتیا دیوی ورځی قافلی سره چه تول څ
وو د شوقدر او مومند و په لار پیاده افغانستان ته روان شو . اوله شپه موږ
راغله مونږ چه روان شو او د وړل غږ بلدونو د پرخلک راسره وو ، خو چه د شو
دکړې په لار روانیدو او د وړل سره نا رانه پاتی شو نو بیا د پرکم خلک مونږ سره
ته ورسیدل اوچه په کړه په کښی په مونږ په کا نو لوتو شپه راغله نو بیخی
پاتی شو . خیر په کړه په تیږ وکښی موشپه تیره کړه ، سحر چه پاڅیدو
یوځ ملګرو سره د تړنګزو د حاجی صاحب لید لوته د هغه ځای ته روان شوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

قافله د ماسل خان ځای ته روانه شوه . د حاجی صاحب ولید لونه پس مونږ هم
د ماسل خان ځای کوډ اخیلو ته راغلو او په بله ورځ له هغه ځایه راروان شو د کامې
کرداو ته راغلو . سردار خان د مومند و خان د خپل قام سړو زمونږ مخې ته راغلی
و زمونږ یې د پرښه استقبال او کړو کلی ته یې بوتلو ، زمونږ یې د پرد دارمدارو کړو
سبا له جلال آباد ته روانیدو سردار خان مونږ ته د پرو ویل چه هډلته پاتی شئ تاسو
ځها جرو او مونږ انصاریو ، مونږ به داخپل جایداد و نه تاسو سره نیم کړو . د کابل خلک ستاسو
د ومره امداد نه کوي ، دا زمونږ خبره د ر ته سنبه ده . د هغه مو د پره شکریه وکړه ، مونږ
د ر ته ویل چه مونږ خو ځمکو پسې نه وو راغلي نو د هغه نه دا رخصت شو ، جلال آباد ته راغلو
په جلال اباد کښې سردار هاشم خان کورنر و هغه سره مو ولیدل ، خبرې اتری موسره
و شوې هغه زه د ځان سره په جلال اباد کښې پاتی کړم او نوره قافله رخصت شوه .
هاشم خان سره د مهاجرینو د دی لویو لویو قافلو د پره سودا وه ، د پر پریشانه و او
په دی کوسښښ کښې و چه څه تدبیر وشی چه دا مهجرت نور بند شی ځکه چه په افغانستان
کښې د ومره خلک کله ځائیدی شی . د پرنګیانو هم د د پرو خلکو په مهجرت کولو کښې
هدا مطلب وچه په افغانستان کښې به هم دوی ته داستونکې مشکلات پیدا شی او
هم افغانستان ته خو ورځی و روسته هاشم خان کابل ته زما د تللو بندوبست وکړو
مونږ د جلال اباد نه کابل ته د خوګیانو د ملې په لاره روان شو ، په کندمک کښې
عادلشاه پیر د خپلو بنځو ، نرو ملګرو سره په مخه راغلل چه واپس وطن ته را روان دو
ما ورته وویې چه پیر صاحب دا بنځې مو بهر ته کوره کانو ته روانې کړی ؟ ده راته وویل چه
نه وکړو هلته هم د بنځو له لاسه تنګ و وچه ځی ، هجرت وکړئ او دلته هم بنځو تنګ کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه په دې ملک کښې کوزاره کوانه ده بیرته یې روان کړی یو.

مونږ کابل کښې:

مونږ چه کابل ته راورسېدل لاهوري دروازې سره د پرې ونې ولاړې وې مهاجرینو دلته اړولي وو، مونږ هم د دوی سره یوځای واړول ځمونږ د پاره حکومت بیل انتظام کړی و، خوزه دعا مو مهاجرینو نه نه بلېدم. په کابل کښې د ټول هندوستان مهاجرینو یوه شپارس کسیزه کمیټی وه چه زه او رضا خان ارباب هم دهغې ممبران وو. د دې کمیټی په ذریعه به د مهاجرینو ارتباط د افغانستان د حکومت سره و خه وخت چه د مهاجرینو د قافلو تعداد شلو دیرشو زرو ته ورسېدو نو حکومت کمیټه ویل چه افغانستان خو یو وړوکی ملک دی دا د دومره خلک پکښې ځایېدې نشي. مهربانی وکړئ - دا هجرت بند کړی. نو مونږ عباس خان ولېږو چه دا خبره هلته پېښوړته ورسوی. هغه تر جلال اباده پورې لاړ او دا خبرې پېښوړته ورسولو.

امان الله خان مونږ ته وویل چه زه د پرنګی د جنګ زور نه لرم که تاسو د په کومه طریقه جنګ کولای شئ او خپل ملک ازاده ولی شئ زه ستاسو مرسته ضرور حکه پرنګی تور مار دی، هیڅ اعتبار پرې نشته چه زما خوا کښې پروت وی زه تر په داده زړه خوب نه شم کولی. دا وپره راسره وی چه اوس به می خوری. هغه مونږ دوه لاړی مخکښې کړې وېل که نوکری کوئ مونږ به ستاسو ځوانان برتی کړو بیا پلټنې به د ته جوړې کړو تربیت به درکړو که بیا مو د انګریز سره جنګ کولی شو وبه کړئ که ځمکې غواړئ نو په کندز او مزار شریف کښې مونږ ځمکې لرو هغه به درکړ تاسو خپله یوه کالونی جوړه کړئ او خپل انتظام پخپله ځان له وکړئ په کومه سیمه کښ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ه مونږ یې تاسوته درکوو په هغې کښې به تول واک اختیار ستاسو چنل وی او
د بهرون حکومتونو سره تعلقات ساتئ هم ته ساتلی شئ. مهاجرینو ته یې وویل
چې تاسو نوکری غواړئ هم او که ځمکې غواړئ هم او که تجارت غواړئ هم درسره
ملاډ کوم. مونږ به داغلو خپلو ملکرو سره به موسلا مشوره وکړه د تولو مهاجرینو
اتفاق به مودا خبره غوره کړه چې بس مونږ ته دې عسکري تدبینګ راکړل شی
مونږ برتی کیږو، مونږ به د پلټنو تشکیل هم جوړ کړو، مونږ به دا پاڅیږو وچه د حکومت
خبره فیصله کړو چې زمونږ د پاره انتظام وکړی، نو د پرنګیانو مخبرانو ته چې
هجرت کښې راغلی وو، موقع په لاس ورغله، یو مخبر به پکښې پاڅیږو او ویل به
چې مونږ خو په ځمکو پسې نه وو راغلی، نه نوکرو پسې راغلی وو، مونږ په جهاد پسې
راغلی وو وچې زمونږ د هجرت غرض نه ترسره کیږی او افغانستان د پرنګی سره
جنګ نه کوی نو نور مونږ دلته څه کوو زه خو بهر ته ځم. هغه پسې به یو بل مخبر پاڅیږ
او به ووې چې بالکل ټیک خبره ده زه هم ځم چې دی به پاڅیږو یوه ډله به د
پرنګی پاڅیږه، دغسې به په ډله کښې ماتی کیږه شوه، یو کس به ماپسې راځیږه کړه
چې د حکومت سره خبرې مه کوه یو ځل راشه چې بهر ته به راغلم، تول به تللی وو.
یوه دوی ته دا خبره وراندی کړه چې دا ځمکی واخلو، اوزه هم درسره ځم
خو دوی دی ته هم تیار نه شول.

څه رنګه چې لیښتانه په راتلو کښې کرندی وو، دغسې په واپس تلو کښې هم کرندی
د دغه شان ورو ورو مهاجرین بهر ته ستنیدل د هر لږ کسان پاتی شو هغوی
افغانستان کښې استوګنه غوره کړه چا نوکری واخیستی، چا ځمکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه شان هجرت ناکام شو د هندوستان مسلمانانو خصوصاً پښتنو
ددې هجرت د پرتاوان ورسیده ، افغانستان ته یې هم نقصان وشو.
امان الله خان په ورکولو پسې پرنګیانو له هدې وخت نه ملا وتړله فاید
یوازې انګریز ته ورسیده .

زما څه ملګري تاشکند ته لاړل چې روس به مونږ سره د هند په ازاد
مرسته وکړي . زه په کابل کښې د یوې خوا ملګرو سره پاتې شوم . یوه ورځ زه دامان
خان ملاقات ته تللی وم د پردې خبرې مې ورسره وشوې ، په خبرو خبرو کښې مې ور
ووې . تاله ترکي درځي ، فارسي درځي او نوري ژبې هم درځي ، خو خپله ژبه نه درځي
خبرې په هغه باندې د پراثر وکړو او وعده یې راسره وکړه چې زده کوم به یې . کله
افغانستانه راایستل شوزه بمبئي ته د ده لید لوته ورغلم نو هلته یې ما سره پښتو
خبرې وکړې .

په کابل کښې زمونږ تعلقات د نادرخان او د ده کورنۍ سره د پردو دی پ
وزیر دفاع و او د ورور یې سردار عبدالعزیزخان د معارف وزیر و ، یوه ورځ یې
څه ورشه د حبیبیې کالج وکوره . چې کالج ته ورغلم نو د یوې جماعت له هلکانونه مې
وکړو چې : « شما کیستید ؟ » دوی به راته وویل چې « افغان هستم » بیا به مې ورته ووې
ملک شما ؟ دوی به ووې : افغانستان . بیا مې ورته ووې : « افغانی میدانی که افغان هست
به شوغږ به یې نه کاوه . نو ما به ورته اوویل چې څنګه افغان یې او څنګه دا افغانستان
یې چې خپله ژبه نه درځي . دغه شان مې محمود طرزي صاحب سره چې د افغانست
وزیر خارجه او د پرلایق اوعالم سړی و په یوه لویه میلمستیا چې ده د مهاجرینو د پار

(c) ketabton.com: The Digital Library

زبی بحث داغی یوسړی ورته پوښتنه وکړه داځکه افغانستان دی چه افغانی پکښی
ستنه. طرزی صاحب وویل چه پارسی هم زمونږ د ملک ژبه ده. نو ما ورته وویل چه
زی صاحب پښتو خو افغانستان ملي ژبه ده او د اکثریت ژبه ده، پټوله دنیا کښی د
ثریت ژبه هم سرکاري وی، هم دفتری، هم تعلیمی دی.

باجوړته واپسی :

د مهاجرینو د تللو نه وروسته مونږ په یوسرای کښی یوه کوټه په کرایه ونیوله
ته به او سیدو خو ورځی پس زه نادرخان ته ورغلم ورته می ووې د هجرت معامله
ل وده شوه دلته خو نور زمونږ د مقصد د پاره څه نه کیږی زما اراده ده چه د باجوړ
د و قبایلو ته لاړشم او هلته د تعلیم کار شروع کړم او د پښتنو د بچو د روزلو د پاره
ی مدرسی جوړې کړم، ستا سلا ومشوره څه ده؟ هغه زما دا رأیه خوښه کړه ما
ې په دې خبره اتفاق وکړو. زه دیوخوړپاتی ملګرو سره د کابل نه جلال اباد ته راغلم
جلال اباد کښی می د هاشم خان سره هم سلا او مشوره وکړه. هغه هم زما د دې کار
ې په ډېر خوشحالی اتفاق وکړو او باجوړته یی زمونږ د تګ انتظام هم وکړ یو اس
ې کړ. مونږ اوله شپه د جلال اباد نه سلام پورته ورسوله هلته مو د سلام پور د باچا
سره شپه تېره کړه، د سلام پور نه مو بله شپه د مومندو په علاقه کښی کابزه پان ته
سوله. د کابزه پان ملا صاحب حای ته چه زمونږ یخوانی تعلق دار وُ لاړو له هغه
ه چمپر کنډ ته لاړو په چمپر کنډ کښی د هندوستان د مجاهدینو هغه ډله ډېره وه
د سید احمد بریلوی صاحب او اسماعیل شهید صاحب د شهادت نه وروسته
ته تللی وو هلته یی مرکز نیولی وُ. دوی په بونیر کښی په دې خبره پوه شوی وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه د دوی امیر نعمت الله د پرنګیانو سره راز و باز لری نو خپل امیري وژلی و
دوه ډلی شو، یوه د پنجابیانو او بله د پنګالیانو. د پنجابیانو ډله چمرکنډ ته راغلی
په چمرکنډ کښی دوی بیکاره پراته وو او د هندوستان امداد ته یې ستر کی نیولې و
دوی به یې وار په وار نچوله او دې ته دوي مساوات وې همدا د هندوستان امداد
د دوی د تباهۍ باعث شو. قصه به یې وروسته پخپل ځای کښی راشی ما ورته وو
چه تاسو دوه کچرې لرئ او د مومندو په دې علاقه میوه دانه نشته د دې کنډوڼو
کونړ دی، هلته میوې ډیرې دي که تاسو په دې کچرو میوه راوړئ او دلته یې
ستاسو خرڅ به ترې ووځي او د هندوستان د امداد له احتیاجه به خلاص شئ
د چمرکنډ نه کوتلي ته لاړو، د کوتکی خانان «یوځکو ورخان او بل زړه ورخان»
د پرښه سړي وو، او ښه لښتانه وو، چې ته چه به د پرنګی خلاف غزاوه دوی به پکښ
شریک پکښل، د دوی سره موخبری وشوې. له دی ځایه بیا شینګرکمل ته لاړو
شینګرکمل مولانا امیرالدین زمونږ کهربان او قوم پرست سړی و. هلته م
خلکو سره ولیدل بیا په سالارزو اومامونډو وګرځیدو.

د یرکښی د خالونو مدرسه:

دغې نه پس د یر علاقې ته لاړو خالونو ډیر کلي ته راغلو، د خالونو په کلي
اخونزادګان او پراچکان اباد دي دا دواړه کورنۍ د پرو شنفکره او ښه خ
دي، دواړه قوم پرست او دولتمند وو، د دوی په مرسته مونږ دلته
مدرسه جوړه کړه او دوی ته موو ویل چه د دې مدرسې انتظام د پارټ
صاحب راوغواړئ او مونږ ترې د یر ته لاړو. دې مدرسې د پرزور ترقي

(c) ketabton.com: The Digital Library

و په لږ موده کښې يې شاګردان څلور سوو ته ورسېدل د ملکند پولټيکل اېجنټ
کيښتو د بيدارئ سخت مخالف و هغه د ديرنواب وغوښت ورته يې وويل چه
ي مدرسه او تعليم مونږ ته څومره مشکلات پيدا کړل ته ځان ته دا مشکلات
ه پيدا کوه دا مدرسه ورانه کړه . د ديرنواب راغې مدرسه يې ورانه کړه
ورې وورته کړو .

مونږ چه ديرته ورسېدو نو شاهو بابا د زوی سره چه د ترنګزو د حاجی
صاحب ماڼون و او په ترنګزو کښې مونږ سره اشنا شوی و ديره شوهلته موځو
سپی وکړی يوه شپه د نواب صاحب استاذی صفدرخان راغی راته يې وويل چه نواب
صاحب غوښتی يې ماوې اوس شپه ده ناوخته دی سبا به لاړشو، هغه ووې چه
ورا د شپې يې غوښتی يې . زه ورسره روان شوم چه ورغلو نواب صاحب زما په
انتظار کښې يوازی ناست وُ هيڅوک ورسره نه و په خبرو کښې يې راته وويل چه پټ په
ره کښې می انګريز د پر بلدايشی ته چه څه غواړی زما هم دغه ارزوده خوزه څه وکړم
يا کلی (دسوات باچا) يې راته کښينولی دی چه ايله حرکت وکړم را باندی را اچوی
ا که سبا د قام او خلکو په مخکښې ما ستا د خبرو مخالفت وکړو چه ته خپه نه شی .
ما ورته مينه او پته مرسته به تاسره وي . سبا له چه خلک راغونډ شو خبرې وشوې
نواب صاحب د ناستی ځای ته نژدې په يوه بالاخانه کښې عبدالمتين خان او د تور
ان می له ورايه وليدل او له ليرې موسلام عليک وکړل . دوي نواب بنديان کړي وو .
نواب د ځايه مونږ د شپې بروڼ باندې ته لاړو هغه وخت دلته د ديرنواب ولیعهد
او سېدو مونږ غوښتل چه هغه وکورو خو مونږ له ليد له هغه ځايه بيرته لاړو هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

مود "تاتی" خان ولید. دی زمونږ دکلی دغلام حیدرخان کلی ته ډیر راتلود
اشنا وهلته زما هم درسره تعلق پیدا شوی و. هغه ته موو وې چه مونږ دنواب کښې زن
لیده غواړو هغه راته داخبره وکړه چه هغه خواوس ویده دی لمکه چه دشپې ویښ و
او خوکی کوي. زمونږ دهغه سره هم لیدل ونه شو او بیا "تور" ته لاړو. دهغې نه پس
"جار" ته راغلو د "جار" خان ډیر ښه سړی وپخپله په کورکښې نه و دکلا دروازه
وتکوله وډیر راته ښیرته کړو بی بی یې راته د ډوډی انتظام وکړو. دجارخان زماد تو
دزوی سربلند خان سره ډیر تعلق وهغه به همیشه ماماند ناړی راته راتلو اوهغه سره
یې ډیرې وړځې تیرولې. سهار خار ته لاړو. دخارخان ډیر پوه، بهادر اوښه پښتون
سړی و. دهغه سره موخوشپې وکړې. یوه ورځ زه بهر وتلی وم چه ښیرته راغلم دخ
خان ته می وویل چه خان تاسو خولا بیا هم زمونږ نه ښه یئ چه دقرآن نه خوخه فایده
هغه وې څنګه؟ ماوې که عمل پرې نه کوئ بوسارې خو پرې ساتی. په هره بوساره قرآ
شریف پروت وي چه څوک ورنه بوس پټ نه کړي تاسې خو پرې څوکیداری کوئ مونږ خ
پرې نه عمل وکړو اونه څوکۍ. له خارمونږ "ناوه کی" ته لاړو. د ناوه کی خان ډیر ښه سړ
وخوساده و. له هغه ځایه "غازی اباد" ته لاړو. د ترنګزو حاجی صاحب سره موو لید
دلته ماسره یو ملګری چه فقیرنومیده او اصلاً ترکان ؤ ماد لته غازی اباد کښې پریښې
نور تول ملګری راته په لاره کښې یو یو خپلو کورونو ته تللي وو مونږ دواړه یې یوازی پرې
ایښې وو. زه خو د افغانستان نه په دې اراده راغلی وم چه دلته په ازاد وقبایلو کښې
مدرسې جوړې کړم اود قوم تربیت وکړو. دا کار دونه خو یو سړی نشی کولی په دلکه پوه
اوزمونږ هغه دله خورده شوی وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذهنی انقلاب

تعلیمی او اصلاحی جد وجهد

داتمانزوازادهای سکول اوانجمن اصلاح

الا فاغنه

دخلافت کمیتی صدارت

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان اوازاد و قبایلو حالت چه می ولید و او پخلس کاله می په هند
او قبایلو او افغانستان کښې غږ ژې پرژې وکړی نو په دې نتیجه ورسیدم چه انقلا
د منلې کار او دومره اسان څیز نه دی ، انقلاب دسړې مینې کار دی. انقلا
علم او پوهه غواړی، انقلاب عالمان او پوهان غواړی، چه د پوهې س
قام ورځ او انقلاب ته یې اماده کړی د انقلاب د پاره د اشخاصو
دی. ټه کوره چه زمونږ جذباتی ملګری په خومره جوش راوتلي وو تول لار
خواره شول نو کښېنا ستم دځان سره ملی ښه فکر وکړه په دې نتیجه ورسیږ
چه زمونږ د قام نه د تجارت خواته توجه شته نه د صنعت خواته نه د زراعت
خواته او نه د تعلیم خواته . د بلی خوانه په رسمونو ، رواجونو کښې تر غوږونو نو پورې ډوب
دي. په خانه جنګیو اخته دي داسې قام انقلاب نه شی کولی او دا قام د دې بلاګان
خلاصولی په کار دي چه سیاسی شعور پکښې پیدا شی او دا کار یوه پراخه ف
غواړی . تر دغه وخته پورې زه په دې عقیده وم چه د انقول کار د نه انقلاب غو
تشدد راته د انقلاب نژدې او د کامیابی لار ښکاریده خو د تجربې نه ورو ورو
راته معلومه شوه چه د جنګ په وخت کښې اسونه نه تیاریږی نو ځکه می ارا
وکړه چه خپل کلی ته واپس کیږم او د علم تشدد اصولو په بنا به کار کوم ا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ر انقلابی اشخاصو تعلیم او تربیت د پاره قومی مدارسی جوړوم نو حکمه اتمانزو
ر راغلم. زه چه له هجرته بهرته راغلم دهغو مدرسو بهرته جادی کولو کوښښ می
ولو چه پرنګیانو د جنګ په زمانه کښی بندې کړې وې.

د ۱۹۲۰ع کال اخرنی میاشتی وی چه په علیګړ کښی په مسلم یونیورسټی
ښی خه تقریب وو. زه اوزما دوست قاضی عطاؤالله خان یی هم بللي وو، مونږ
واړه علیګړ ته لاړو، په دی وختونو کښی به کانګرس او خلافت یو ځای جلسی کولی
مونږ خیال وچه د علیګړ نه ورو سته به مونږ د خلافت په جلسه کښی شریک پرو
و د مصروفیت له کبله د خلافت جلسی نه پاتی شو واپس کلي ته راغلو. په علیګړ
ښی زمونږ د صوبی ډیر و هلکانو تعلیم کولو د هغوی سره موتبادل خیالات وشو
ر دوي کښی ډیر داسی کسان ووچه د ترک موالات او حکومت سره د عدم
عاون د پاره کالج پریښی و. په دی ورځو کښی زما مشر ورور داکتر
انصاحب تقریباً پنځلس کاله پس د انګلینډ نه واپس راغی ده چه خه وخت
اکټری پاس کړې وه جنګ نښتی وُ، په هماغه وخت کښی په فوج کښی بهرتی
سوی وُ او اوس کپتان وُ او د مردان په کانټونمنټ کښی ګمښدلی و.

د اتمانزو آزاد سکول ۱۹۲۱ع او انجمن:

مونږ په ۱۹۲۱ع کال کښی د دوستانو په امداد په اتمانزو کښی د ازاد سکول
یاد کښښودله چه په دی سکول کښی قاضی عطاؤالله، میا احمد شاه، حاجی
بد الغفار خان، محمد عباس خان، عبدالاکبر خان اکبر، تاج محمد خان
بدالله شاه او خادم محمد اکبر زما ملګری وو. د مدرسی ترڅنګه مونږ د پښتنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغاطر سمونو اوروا جونو د اصلاح کولو د تشدد نه د منع کولو او پکښې د قامولی د مینه
او محبت د پیدا کولو په غرض د اصلاح الافاغنه په نامه یو انجمن جوړ کړو، د دی انجمن
ممبران داکسان وو : ۱- محمد عباس خان - ۲- صلد عبد الغفار خان (دوارده نامتو
۳- حاجی محمد اکرم خان د خان مانی - ۴- جمعدار نور محمد خان د تونکزو - ۵- محمد
خان د تونکزو - ۶- عبد الاکبر خان د عمرزو - ۷- غلام محی الدین خان د تنکی - ۸- فخر
میا صاحب - ۹- میا جعفر شاه د زیارت - ۱۰- فضل اکرم د نرئ قلا - ۱۱- فضل ربی د بد
۱۲- میان احمد شاه د قاضی خیلو - ۱۳- میا عبد الله شاه - ۱۴- خادم محمد اکبر د چار
۱۵- تاج محمد خان د چارسدې - ۱۶- مولانا شار سول د امازو کړئ - ۱۷- شاد محمد خ
د میرزو - ۱۸- شیر بهادر خان د کوټو پان - ۱۹- جلیل خان د جلیل - ۲۰- خوشحال خا
د باړیکاب - ۲۱- شاپسند خان د چارغلی - ۲۲- امیر ممتاز خان - ۲۳- بیشتر محمد
د بنو - ۲۴- محمد رمضان د دیرو - ۲۵- حکیم عبد السلام د هری پور - ۲۶- میا
د پکلئ ۲۷- قاضی عطاء الله د مردان - ۲۸- ثمین جان خان د محب بانډې - ۲۹- علی
خان وکیل د هزاری - ۳۰- افندی صاحب د ملاکنډ - ۳۱- یو ملکوې د کد حمزه خان

زمونږ په سکول کښې استاذان کم وو، نو مابه پخپله هم هلکانو ته درس ورکو
بلده او وه چه مونږ دومره روپۍ نه لرلې چه استاذ انو ته مود بلی تنخواګانی ورکړی
په لاهور کښې د خلافت کانفرنس و. مونږ ورغلي وو د بنو د میرا خیل کلی امیر مخ
هم دې کانفرنس ته راغلی و. د هغه سره هم ملاقات وشو، هغه خپل دوه زامن
اسلامیه کالج کښې بی په بی. ای کښې تعلیم کولو او د ترک موالات په وجه یې پریښی
زمونږ سکول ته د استاذئ د پاره راوبلل د مشر نوم امیر ممتاز خان و او د کش

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوم مقصود جان و . مقصود جان زمونږ دسکول اول هیډ ماستر و اوکله چه دی
دوباره تعلیم د پاره کالج ته لاړ امیر ممتاز دده په ځای هیډ ماستر شو. د پرنکیانو
زمونږ صاحب نه خوښیده چه کوم استاذ به ورله راته نو اول به یې وویړولو که په ویره
به اونشو نو بیا به یې د ډیرې تنخوا الچ ورکړو او دغسې مونږ ته یې استاذان نه پریښودل
مقصود جان چه اتمانزو ته راتلو نو پولیس ډیپارټمنټ ولې نو په دې وختو نوکښې مونږ دخلکو
د پوهولو او پکښې د مینې محبت ، وروري ، او قامولې د پیدا کولو د تعلیم د شوق د پیدا کولو
او د قام ته د غلطو رسمونو او رواجونو د ورکولو او د قامي ملاهسو د پاره د مرستې حاصلولو
په غرض کلي په کلي ، کور په کور د وري شروع کړې او په خلکو کښې مونږ ژوند او احساس
راپیدا کړ . زما د وړونه پرنګي سره ویره پیدا شوه . سره هملته کرانټ زمونږ د صوبې
چیف کمشنر و ، هغه زما بابا باځان ته وغوښت ورته یې وویل چه دا زوی دې څه کاروونه
کوی ؟ ټول خلک غلي ناست دي او دې لګیا دی ملاهسي جوړوي او دوړې کوی زمونږ
برخلاف خلک لمسوی منع یې کړه ! دده سکرټر سعد الله خان د عمر زیو خان و. هغه
می بابا ته ویلي وو چه ته کوره چیف کمشنر ستا خومره احترام کوی ؟ خومره چه ستا منی
هغومره دچا نه منی ته دده د خوشالی د پاره خپل زوی منع کولی قدر ی نه شی ؛ بابا می
واغی زه یې کښېنولم راته یې وویل چه زویه د دې کارونو نه لاس واخله ځان دې په مصیبت
اخته کړې دی ؛ سرکاره هم خپه کېږی چه نور څوک یې نه کوی ته یې څه کوی ؟ ما ورته وویل
چه سبه ده بابا چه ته وایې مه یې کوه نه به یې کوم د ډیر د خلکو خو لمونځ پرلښې دی ، زه به
یې هم پرېږدم خو ته به بیا ماته نه وایې چه لمونځ ولې نه کوې ؟ بابا می راته وویل لمونځ
خو فرض دی ما وویل بابا د اعلم خو هم فرض دی . بابا می وویل سبه نو څه کوه او بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

چیف کمشنر ته ورغی ورته یی وویل چه صاحب مونږ ستاسو خوشالی د پاره خپل دین نه شو پریښودلی .

د خلافت کمیتی صدارت :

په پیښور کښی د خلافت په کار کولو کښی اختلاف پیدا شوی و ، دوه ډلی جوړې شوې وې یوه ورځ به د حاجی جانمحمد صاحب ملګرو په شاهی باغ کښی عام جلسه جوړه کړه ، په جلسه کښی به یی تجویز وراندی کړ چه حاجی جانمحمد صاحب د خلافت کمیتی د صدارت د پاره د پرموزون دی تاسو ته منظور دی خلکو به چغی کړی چه منظور دی . حاجی صاحب د قام او ملک د پاره د پرخدمتونه کړي او قید ته یی هم تیر کړي وو . د پیښور یو سید وو سبا له به د هغه ملګرو جلسه جوړه کړه او تجویز به یی مخکښی کړو چه سید صاحب اهل رسول دی او د پرخدمتونه یی کړي دي د خلافت کمیتی د صدارت د پاره دده نه مناسب سړی نشته تاسو ته منظور دی ؟ خلکو به چغی کړی چه هو ! منظور دی .

د غه شان داقصه روانه وه یوه ورځ به یو صدر و بله ورځ به بل صدر و ورځ په ورځ داکشمکش زیاتیده په مینځ کښی هیڅ قسم جوړه نه کیده او د خلافت تحریک ته نقصان رسیده په یو سړی یی اتفاق نه برابریده د پیښور خلک د کار د پرتګړ خلک وو خو دی اختلاف د کاره ایستلی وو او هم دا رنګه چه په د لوکښو اختلاف پیدا شی که د پرښه او زور ور خلک وی هم بی کاره شی او د هغوی طاقت دا بل په غور خولو کښی صرف شی . په خدمت کښی اختلاف نه راځی ، اختلاف د خودغرضۍ نه پیدا کیږی . زه چه به کله نا کله پیښور ته د خلافت دفتر ته ورغلم نو دوارو د لو

(c) ketabton.com: The Digital Library

راته قصې کولی د دواړو ډلو زما سره مینه وه ما ته به یې ویل چه زمونږ د دواړو ډلو
اتفاق په تا راتلی شی راشه ته زمونږ دا صدارت واخله. زما په صدارت کښی څه دلچسپی
نه وه د صدارت نو او عهدې او شوقی نه وم د دی شیانو نه به لیرې تښتیدم اخر
هغوی مجبور کړم او ما د هغوی صدارت په دی شرط ومنلو چه په صوبه سرحد کښی
خومره چنده تولیږی نو هغه به هم الله د دې ځای د خلکو په تعلیم لګیږي. پنجاب ته
به یې نه لیږي ځکه په هغه وخت کښی به زمونږ په صوبه کښی په زړګونو روپی تولیدی
او پنجاب ته به ټلې د پنجاب لیډران به پرې مزی کولې. هغوی دا شرط ومنلو او زه
د خلافت کمیټی صدر شوم. عبدالقیوم خان سواتی یې سکرټر شو. مونږ چه د سکول
له کاره فارغ شو نو ما او میا احمد شاه په ملک کښی دوری شروع کړې. پښتنو ته
زراعت سپک کار بلکه ډیر او تجارت هم ورته سپک کار بلکه ډیر ډیر ووایل به یې دا
د بنیا. بقال او هندو کار دی. د خان تعریف به دا وو چه پیره فلانی د پرلوی خان دی
د خپل پیټی پوله ورته معلومه نه ده ما به وې هلکو تاسی فکر وکړئ دا خان دی که
دا خردی چه خپل پیټی نه پیژنی مونږ دیوی خوانه په دوره کوځیدو او د پښتنو
د ذهنیت اصلاح موکوله. د بلی خوانه موخپلی پټی دا و نغښتی پخپل پټی کښی به
مو پخپله کار کوو. زما د تعلیم ملګری عبدالحلیم دغه وخت د زراعت په محکمه کښی
مقرر شوی و. دهغه په کمک مایو د میوی باغ جوړکه. تر دغه وخته پورې سبزی
او ترکاری له بنارڼه کلوته راتلله ما چه باغ جوړ کړو سبزی او ترکاری به مې هم کرله
او خلکوته به مې نبودله چه کوږ د خپل لاس کار څومره برکتی وي او تاسو خولږ ورته
خیر شئ د پښتو په خاوره کښی هر قسم میوه، ترکاری او غله کیږی. چه زراعت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خلکو مخه شوه ما په اتمانزو کښې د کوړې منډه یې پرانسته نور د خانانو او تربورانو
به د اپوړې ملنډې وهلې چه ته کوده د بنیاګانو کار یې شروع کړ. زمونږ تجارت د غه
وخت تول دهند وانو او پراچکانو په لاس کښې وه مسلمانان به په تجارت شریک
زمونږ کتنه وه به توله هند وانو او پراچکانو وړه ماډچا د پښور ونو پروا نه کوله هره
میاشت به می یو ځل خانانو ته چای ورکړې راجمع به می کړل او ورته به می وویل چه ستا
د ځمکې چه خومره قیمت دی ماډهغې په لسمه برخه سره مایه په منډه یې کښې بنده کړې
ده تاته چه هغومره سرمایه په کال کښې کتنه کوی ماته یې په میاشت کښې کوی بیا به مونږ
د منډه یې حساب کتاب ورو ورو بلو ډایه می هم ورته وویل چه مونږ سره په منډه یې کښې
منشیان، د روا یان او پاندیان هم کار کوی او ځان ته نفقه کتنې او ډایه می هم ورته ده
چه وګوره دا تجارت خومره د ارام کار دی او خومره پکښې فایده هم ده، زمینداره
کښې خومره نا ارامی ده، د پټواری احتیاج دی، د تحصیلدار متازی ده، تول
عمر مو اسمان ته ستړکې نیولی دی، کله وایو چه خدایه باران وکړی او کله وایو چه
خدایه شین یې کړی. دوی به می دغه شان د تجارت په کتنه پوه کول په لږه موده
د پښتنو تجارت ته میلان پیدا شو او زمونږ تجارت زمونږ په لاس راغی. پښتانه
د پردښه قام دی. دوی په افسانو او قصو د پر نه پوهیږی که څه هم کار چه په دوی کوی نو ځان ورته
کړه! چه ته روان شوې دوی هم درلپسې روانیږی. په دې طریقه زمونږ په ملک کښې زراعتی او تجارتی ترقی
دوی کوښښونو او علمی نمونو کړلو په نتیجه کښې په خلکو کښې د زراعت او تجارت شوق زیات شو او دومره انقلاب
راغی چه نن زمونږ علاقه کښې زراعت دومره مخکښې دی او تجارت دومره ترقی کړې ده چه دمخه
د پردې معمولی کسان اوس لوی کسان دي او لوی لوی زراعتی فارمونه، تجارتخانی او کارخانی یې جوړې کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

جیل او د جیلخانې قصه

د ری کاله قید

دفعه چالیس کښې گرفتاری ۱۹۲۱ء، د چرکنډ مجاهدین، د پیړۍ اسماعیل خان۔

جیل ته بدلي، د جیل بد معاشي، زما مشقت، جیل کښې پرې۔

جنبي، جیل کښې زما گناه، د پیړۍ غازي خان۔

جیل ته، د جیل ژوند، د پښتنو

په هکله غلطه پراپیگنډه، زما د غاښونو مرض، سیاسي قیدیان۔

واحتجاج لاهور جیل ته د علاج د پاره، د جیل سلوک، د پیړۍ غازي خان ته واپسي،

د کورنۍ خط، مذهبي تعصب، بیا د علاج د پاره لاهور جیل ته، مطالعه

د پیړۍ غازي خان جیل ته واپسي، د یو پیر صاحب قصه

د مور مرګ، د سیاسي قیدیانو څنګلونه میانوالی۔

جیل ته بدلي، رهایي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دفعه ۴۰ کښې گرفتاری:

د ۱۹۲۱ع کال د دسمبر په اوولسم تاریخ مونږ لګیا وو، په مدرسه کښې مو دفتر
میدان جوړ ولوچه پولیس راغی اوزه یې په دفعه ۴۰ (اف-سی-آر) کښې ونیولم اوږ
جیل ته یې بوتلم. دحوالات په ځای یې جیلخانه کښې واچولم، زما دنیولونه دوه ستې
زما نور ملګری هم نیولی وو. زه یې په هغه چکی کښې بند کړم چه هلته به یې دجیل
بد معاشان اچول. چه چکی ته ودننوتم سخا اوګنده بوی می تر سپیږ. موشو
چه کتل می دبولوډک بنانک پکښې پروت وو. زه بېرته راووتم، دجیلخانې افسر
می ووی چه داچکی دپره کنده ده. پاکه یې کړئ. هغه راته وویل چه داجیلخ
ده نو خه چکی ته. چکی ته ننوتم وریې راپسې بند کړو. شپه اووړخ په د
چکی کښې وم دوډی به یې هم په جنګله کښې راکوله. صرف دجیلخانې بنګ
(چوډی) به دصفایی دپاره راغی نومونږ ته به ودلږی شو، اوچه صفا
به یې وکړه نو ورد به یې راپسې بند کړو. دصفایۍ په وخت کښې به هم سپاهی
دچوډی په سر ولاړو. په سبا راته معلومه شوه چه زمونږ نور ملګری هم
دی چکو کښې بند دی په ډی چکو کښې مونږ لس کسان قیدیان وو. زه عبدالاکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکبر ، عبدالقیوم خان سواتی مونږ نه غیر نور اوده واړه پښتون ریان وو. عبدالاکبر خان
اکبر یې په دې تورنیولی وچه ته ملښتویک یې او دا باقی نور مونږ خلافتیان وو. په
جیل کښې ظالمانه رویې په وجه زمونږ ملګرو ضمانتونه ورکړل او دهاشول. عبدالاکبر
خان اکبر ته ما اجازه ورکړه چه ته خو خلافتی نه یې ته هم ضمانت ورکړه ، یوازې ما او
عبدالقیوم خان سواتی د ضمانت ورکولو نه انکار وکړو او پاتی شو. چه دوی پوه
شو چه مونږ ضمانت نه ورکوو نو لس ورځې پس یې له دې چکۍ نه وایستلو
او د پټې کمشنر ته یې مخکښې کړو د پټې کمشنر هم عجیبه سړی ؤ او زما مقدمه
هم عجیبه غوندې وه. د پټې کمشنر چه زما د جرم پوښتنه وکړه پولیس ورته
وویل چه ده خو یو هجرت کړی و اوبل اوس ازادی مدراسی جوړ دی
د پټې کمشنر ورته وویل چه یو ځل یې هجرت کړی دی نو بیا مو ولې پریښوده؟
ما ورته وویې چه دافسوس ځای دی چه ملک خو موږ نه واخیستنه اوس
مو پخپل ملک کښې استوګنې ته نه پریږدئ ، په دې باندې (صاحب بهادر)
نور هم غصه شو پولیس ته یې وویل وی باسئ جیلخانی ته یې بوځئ. دې کاله
می قید کړو. پولیس راوستم او جیل والا وته یې حوالہ کړم ، عبدالقیوم سواتی یې هم
زما غوندې دری کاله بامشقته قید کړی و. د جیل د خوراک قصه خو بې د ورته
کړې ده. د جیلخانی داروغه امیر چند هندو و. بدې خو نه و دیانتدار و او
قام پرست سړی یې مینه وه ، په چکۍ کښې خو یې واچولم خو میچن یې را باندې
اوړه نه کړه او نه یې راته په پښو کښې بیړۍ واچولې ، د جیلخانی دوه دۍ خو یې
دا کوله خو نږه به پاکه وه. زمونږ د چکۍ مخه قطب (شمال) ته وه نمر یکښې بالکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه لګیدو ، د پره سره چکی وه ، ماله یې د ږې زړی کمبلی او یو تر پړی راکړی
و چه پکښې ګوزاره د پره ګرانه وه . د پر سخت ساره وو . یوه پو ماه اوبل بادانونه
وو . اوشپه ، ورځ به په چکی کښې بند وو . خو زما خوش قسمتی داوه چه زما په چکی
کښې یواخو زه په هغې کښې پلاله پرته وه . ما به تر پړی پکښې واچولو او په هغې به څملاستم
که ځله به یو ښه جمعدار راغې نو د ورځې به یې دیوې ګنټې نیمې د پاره نمر ته ایستلو:
د شپې به مونږ په ارام ویده کېدلی نه شوو لې چه د ږې د ږې ګنټې وروسته
به پیره بدلیده نو پیره دار به راغې جنده ده یې وکړ نکوله بیا به یې چغه کړه چه بول بهالی
دوایه ورو ره !) تر څو چه به د ږې اواز نه و ورکړی نه به تلو او که اواز به د ږې لږ وروسته
ورکړونو سبا له به یې سزا درکوله . د جبل د جامو قصه می هم درته کړی ده چه ما ته یې
کومی جامی راکړی وې کمیس می د بلې پورې نه رسیده او په مانځه کښې چه به
په سجده پریوتم نو کمیس به می پښتیونه را ورسیده او د پرتوک پینځې به می ایله
د زنګانه ستړکی ته را رسیدې . د جبل والا وو ویه خو د عذاب د ملایکونه کم نه وې
یو نیم پکښې چې پرته سم سړی پیدا شی .

په هغو ورځو کښې په جیلخانه کښې د خوراک څیز هم جرم و زمونږ د کلی یو نمبر
دار یوه ورځ ما ته یوه حیکی ګوره راکوله ، ما د هغه نه نه اخیسته ، هغه را ته په چکی کښې
یوه چکی ګوره کښوده دی لاړ لږ ساعت پس را ته پیره دار وویې چه جیلر صاحب
راروان دی ، د د ې خبر په اور بلو ما سره د ګوډې فکر شو چه په د ې څه وکړم ؟ کله به می
وې چه د شړی لاندی یې پټه کړه کله به می وې چه د تر پړی لاندی یې کړه بیا به سودا
واخیستم چه ښه که دا تر پړی پورته کړي ؟ خیر خو هغه ګوره ما په د پر شوا خون پټه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

داروغه صاحب دی تالاشی یی و نه کړه ښه ته لاړ . هغو وختونو کښی به دقید یانو روزانه تالاشی کیده چه داروغه لاړ ما هغه کوره ښکر کوزاره کړه او اراده می وکړه چه جیلخانه کښی به دجیلخانی د اصولو پابندی کوم چه کوم کار یکښی منع وی هغه به نه کومځکه چه داخیز دسړی په زړه کښی وی ښه راولی . ماخیل سیاسی قیدیان ودرونه لږلی چه داکارونه به یی کول نو دجیل والاوو به یی د ښوی خوښه مند یی کولی ، او بلای به یی هم ورکولی .

دچمرکنډ مجاهدین :

داکتر صاحب اوځینی نور کسان زما ملاقات ته راغلی وو هغوی دحکومت پیغام راوړی وچه مدرسه دی چلوی خو دوی دی نه کوی که دد و درونه لاس اخلی مونږ یی پرېږدو خو ما دحکومت داشرط ونه منلو . په چکوکښی ما سره نور قیدیان هم ووچه په هغو کښی دچمرکنډ مجاهدین هم وو . زه چه دکابل نه راتللم ما هغوی ته د ښه نصیحت کړی و دامی هم ورته ویلی وو چه سرحد اوپنجاب ته به نه نښکته کیږی . هغوی زما نصیحت ونه مانه دغه یی حال و زما دښه بندی کیدو نه مخکښی یی د ښه وهل او تکول چه زه ورسره بندی شوم نو دوهلو ، تکولو نه خلاص شو . دا مجاهدین چه د بونیر کښی وو هلته یکښی اکثریت د بنګالیانو او دغه بنګالیان د ښه شریف اومیندک خلک وو د ښه ښه کوزاره یی کوله او چه یکښی پنجابیان او هغوی د ښه د له بازخلک وو . دوی چه ورسره تل پری او جنبی یی یکښی جوړی کړلی اخری خپل امیر نعمت الله وواژه . د بونیر خلکو له هغه ځایه راوشړل او چمرکنډ ته راغلل ، دوی یو مشر مولوی فضل الهی د ښه پارتی باز او خطرناک

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړی و ما په کابل کښې لیدلی و ، د هغه نصیحت می ورته وکړ خو هغه د خپل
طبیعت نه مجبوره و او د دې پرته جنبو په وجه یې یو د هغه سنه کار کن ، نیک او مخلص
سړی مولوی بشیر وژلی و . بیا ورسته چه پاکستان جوړ شو فضل الهی پنجاب ته
راغی زه هغه وخت په چیلغانی کښې وم . مولوی فضل الهی د حکومت په لمسه د حکومت
د خوشحالولو د پاره ما پسې سختی پرو پاکندی وکړې او د هغه د ساوغ لې وویل
پولیسو دی له ځانه سره ملګری کړی و او چه مجاهدینو کښې به کوم د کار سړی
و پولیسو به ورته وویل هغه راوله . د دوی یو ملګری چه د قرآن شریف حافظ
هم و پولیس په لاس کښې اخیستی و . پولیسو به چه د کوم سړی د نیولو اراده وکړه
ده ته به یې وسنبوده دی به ورپسې لار هغه به یې د چندی په بهانه سرحد ته راکوز
کړو او د پولیس په حواله به یې کړو . ما ته دې قید یا نو مجاهدینو وویل چه دی یې
اوس بیا زمونږ د یو د هغه لوی کار کن پسې لېږلی که د هغوی د خبرو لوڅه نبد و بست
وشی . دا یې هم راته وویل چه په چیلغانه کښې یو مومند دی او سبا بل سبا رهاکیږی
که ته یوه چتې رورکړې د ده کور ځمکنه ته لنډ دی هغوی ته به یې ورسوي او زمونږ
نور ملګری به د دې مصیبت نه بچ شی . ما اول خو دی کار ته غاړه نه اینبوده
ځکه چه د ا خو په چیلغانه کښې جرم دی خو چه فکر می وکړ چه د ا خو دې خلکو ته لوی
مصیبت دی نو بیا می خط ولیکه او چه په سبا له به هغه مومند رهاکیده په هغه
بشپړه می ورکړو . هغه چه رهاکیده نو هغه کاغذ یې د خپل په یو د ې سره دویړی غوږ زو
دی بیا هغه کاغذ اتفاقاً زمونږ د کلی نمبردار موندلی دی هغه بیا به راور . ما هغه ته او وې
چه دا کاغذ چیرته وو هغه اووئیل چه زما پهره وه او په یو د ې سره می بیا موند

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړ دا کاغذ حکومت ته په لاس ورغلی وی نو لس کاله قید و . زمونږ دهزاره یو ملګری یې دغه شان په یو کاغذ لس کاله قید کړی وو .

زه په جیلخانه کښې وم چه د کوهاټ څوتنه یې جیل ته راوستل یو یې تره اونور یې ورپرونه وو د پرنګلی اوښتیسته ځلمیان وو هغه یې هم زمونږ سره په دې چکو کښې بند کړل . د جیلخانې دا قاعده ده چه سهار وختی ملازم راشی قید یانو پسې ورلیږی کړی راوړی باسی جارو کانې یې په لاس کښې وړکړي ځای جارو کوی . دوی به یې وختی سهار د پوښا په میاشت کښې راوښکل ، دوی چه به جارو وهلو نه تمیت شو یو پنجابی سپاهی وهغه به په کونه لټه وکړه بوک به یې راوارول او کنځل به یې ورته کول نو ما ترې یوه ورځ یو بستنه وکړه چه تاسو په څه کښې بندیان یئ وویل چه صاحب څه ووایو ماوې هر څه چه وی ووایه راته وویل چه په « غول مه خوره » موجنګ کړی دی اوس دغه دی بندیان یو د شیطان لمسره اوپښتو وه . ما ورته وویې چه هغه پښتو او شیطان موځان سره جیلخانې ته راوستی دی اوکه موجیل ورور عزیز د پاره هلته پریښی ؟ کودئ دا تورځنی سپاهی درسره څه سوک کوي ؟ وه نه موهغه پښتو او شیطان نه لمسوی دجیل ورور عزیز هغه خبره زعمل به نه وو اوکه دا شرمول ؟

نور سیاسی قیدیان د ډیرۀ اسماعیل خان جیل نه په چالان کښې راغلل ، یو ملک خدابخش وو او بل رمضان خان وو ، نور ورسره یو خو ملګری وو . نور سیاسی قیدیان په بارک کښې وو اوزه یې په چکی کښې بند کړی وم هغوی سره یې یو ځای کیدو نه پریښودم . عام قیدیان هم تر یوی هفتی پورې په چکی کښې بند وی ، بیایې ترنه راوباسی خوزه یې پکښې دوه میاشتی وساتلم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډیرۀ اسماعیل خان جبل ته بدلي : زیاته ټشوه څخه ++

دوه میاشتی پسې یې زه ډیرۀ اسماعیل خان ته چه د دوبارې نوجلخانې ده بدلی کړم . د تللو په وخت کښې راته ښیرۍ (نږدې لانې) ولکولې چه د ډیرو جبل ته ورسیدلم بیا یې هم راته ونه ایستلې ، هلته یې چکی کښې بند کړم او لږې ورځې مې ډیرۀ دانی راوړې چه دا اوړه کړه ، خو دا ښه وه چه هغه چنجو وهلې وې . نو اوړه مې لوکښې یې تکلیف نه وو

د جبلخانی قصه :

تاسو ته به یاد وی چه به « پښتون » کښې د جبلخانی په باره کښې یو مضمون « د شلمی پیړۍ تهذیب اوزه په جبلخانه کښې » تر عنوان لاندې شایع کیده لیکن زما د بیا بیا کوفتار ولو او ناوړ کارۍ په وجه هغه مضمون سر ته ورسیدلی نه و په مینځ کښې پاتې شوی و . چونکه زه اوس د هزارۍ باغ په جبلخانه کښې یم او ما سره څه کتاب د لوستلو د پاره نشته ځکه د کوم کتاب چه زه نوم اخلم نو حکومت د اجواب راکوی چه د دې اجازت د لوستو تاته نشته ، نو ما خیال وکړه چه د دې وخت نه څه فایده اخیستل په کار دی نو په دې وجه زه بیا هغه قصه هغې پسې د پوره کولو او سر ته د رسولو د پاره شروع کوم او د ورسره دا تجویز هم کوم چه د دې نوم به اینده د پاره « د جبلخانی قصه » کیږی (۱۵ - اکتوبر ۱۹۳۲ع)

د دې جبلخانی حالت د پرزیات خراب و قیدیان ، غریبان پکښې د هر په کړاو اخته وو ، د بلو بازار پکښې کړم وچا به چه پیسې لرلی د هغه به پکښې څه کوزاره کیده د بې پیسو بند یا نو حال بد و ، عجیبه خبره داوه چه د دې جبلخانی یو ازی داروغه مشر نه و بلکه هر یو ملازم د لته کل اختیار و او هر چا به خپل حکم چلوو د داروغه هیڅ رعب نه ؤ د هغه حکم چا نه مانه د دې وجه داوه چه داروغه یو بوډا ؤ په پنشن روان و پیسې به یې اخیستې چه د نوکرۍ په اخر عمر کښې پینځه پیسې پیدا کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله داوه چه دی په انګریزی نه پوهیده ، دی د سپاهی کړی نه دا روغه شوی و
د سپرلتنه دانګریزی نه لغیر په بله ژبه نه پوهیده نو د جیلخانی کار و بار و رته نائب
ته روغه کنګارام مخکښی کاوه نو د نائب دا روغه رعب په جیلخانه کښی د دا روغه نه
زیات و نو په دې وجوهاتو د جیلخانی انتظام ګډوډ و . زه چې یې په چکی کښی بند
کړم نو یو خو تنه پښتو یان قیدیان ماته راغلل راته یې وویل چه مونږ به دا روغه ته ووایو
چه کړه وچه تا د چکو نه راوباسی خو ما ورته وویل چه زه بلای نه ورکوم ، چه بلای ورکوم
ضمانت ولی نه ورکوم . زه خو قید نه یم ، زه ضمانت کښی قیدیم .

د دې جیلخانی خوراک هم خراب و . هسی خو د تولو جیلخانو خوراک خراب وی ځکه
چه حکومت د ښی غلی دا خیستلو اجازه نه ورکوي خو د لته یکښی دا روغه هم د هغه کوله
نائب دا روغه او نور و هم یکښی کانه وانه کوله . ما به خپله چکی راوړه کوله . کومې چغې چه به
ډمیده کولو د پاره ماته راوړي هغه به تولې چینجو خوړلې وې . د قسم د پاره به یکښی
روغه دانه مونډی کیدی نه شوه پاکولی به یې نه هم ځکه چه پاکیدی نه شوې که پاکولی
لش بخښ کی پاتی کیدل دا چنو د دی قسم اوړه د وډی به یې پخوله هم نه ځکه چه وزن
کمیده په دی کښی به هم د قیدی غریب نه غلا کیده . دا د وډی به په یولاس کښی
ول کیده نه ځکه چه تو کړې تو کړې کیده اوپریوته نو په دوارو لاسونو کښی به د ډې خیسته
چې د چنو د وډی خوړلې نه وه په خوب کښی می لالیدلی نه وه بیا داسی د وډی چه
یمی نه زیاته یکښی خاورې وې شخوندپری نشی وهلی . ما به په د هر کو بښښ ایله
ه تو کړه وخوړه اخر پری ناجوړه شوم ، د دال او ساګ به یې څه ذکر کوم . په جیلخانه کښی
خوک ناجوړه شی هسپتال ته یې بیایی خو زه سیاسی قیدی وم ، زما د پاره هسپتال

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه وو، زما په نصیب دا یوه توره کوتنی رسیدلې وه چه شپه او ورځ به یکښی یوازی پرا
وم. داکتر به راله دارو دلته راوړل او سپرنټنډنټ به می په ورځ کښی یوځل خبر اخیسته، خ
ورځی پس جوړ شوم. زه په دې جیلخانه کښی یوه نیمه میاشت پاتی شوم په دې یوه نیمه
کښی زما خلور پنت پونډه وزن کم شو. نمانښونه می خراب شوه، وری می وتښتیدې، و
به توی جاړی وې. د خراب خوراک او د سبزی د نشتوالي په وجه می په وریو پایوریا
ولګیده. د خراب خوراک په وجه په تولو قیدیانو یو قسم مرض لګیدلی وچه هره ورځ به خل
پنځه مره کیدل چایی پوښتنه هم نه کوله ځکه چه قیدی د پرنګیانو په حکومت کښی انسان نه ګ
ګڼړی او د دوی لګړ غوندی سلوک ورسره کوی که دسپی مړشی څه نه څه همدردی
ورسره بنکاره کړی لیکن د قیدی خوار مره هیڅا همدردی نه وي. چه مرض زور شونو
نټنډنټ سره فکر پیدا نشو او د مرض د مخنیوی د پاره به یې کله ناکله دوه، درې
پرنګیان هم مشورې له راغوښتل، لیکن مرض په مشوره نه کمیده اونه به چیرې کم شی. د
تول د خوراک د خرابوالی نه پیدا شوی وُ او هغی خواته چا توجه نه کوله. توجه ورته چا کو
وای. "جیل والاو، کار خو تول د دوی دبی دیانتی، نه خراب و. سرکار چه کوم مع
خوراک د دوی د پاره منظور کړی و هغه به یې هم دې غریبانو ته نه ورکول سپرنټنډ
هم عجیبه دي او بیا چه انګریز وی هغه خو بیخی ناخبره وي چه کوم طرف ته یې "جیل
بیایی په پټو ستړکو روان وی او بیا د اسی سپرنټنډنټ لکه د اچه و. د قیدیانو او
خاص د پښتنو قیدیانو د ستړکو. سپرنټنډنټ ته پښتو نکی نه ورته حتی اردو هم
تش په یوه انګریزی پوهیده او پښتنو غریبانو له اردو نه ورته پاتی خو انګریزی.
ورځ عجیبه قصه وشوه څوک چه جیلخانی ته تللي دي هغوی ته معلومه ده او چه څ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه دي تللی هغوی ته به معلومه شی چه دهر کل (دوشنبی) په ورځ سهار وختی قیدیان پخپلو بارکونو کښې په لین کښینوي سپرنټنډنټ او نور جیل والا پرې کړي صحت، جامې، صفایی او نور حالت یې کوري که دچا عرض وي هغه هم اوري. په دغسی یوه موقع یو قیدی پاخېدلی دی او د جیل والاو ډلاسه شکایت کړی دی چه وهي می نکوی می شرموی می، کنځی می رشوت رانه غواړي زه غریب سړی یم زه روپۍ له کومه راوړم چه دوي ته یې ورکړم؟ نو سپرنټنډنټ خپلی عملی ته وکتل چه څه وایی؛ هغوی ورته وویل چه صاحب دی دغسې دوډی غواړی اوکوره غواړی نو سپرنټنډنټ قیدی ته وویې «نونو» قیدی غریب بیا ورته خپله قصه تېره کړه هغه بیا د خپلی عملی نه پوښتنه وکړه دوی بیا ورته وویې چه صاحب کوره او غوږي غواړي نو سپرنټنډنټ قیدی ته لښته خوځوی او ورته «نونو» وایی. قیدی د هر کوښښ وکړو چه سپرنټنډنټ پخپل مطلب پوه کړي خو هغه پوه نه شو نو اخري یې حکم وکړو چه دا بلد معاش دی، بوځئ په چکی کښې یې بند کړئ هوسی د بنکړ کاته غوږ یې بایلود.

د سپرنټنډنټ دا تلو په ورځ سپرنټنډنټ په خصوصیت سره د تفتیو معاینه کوي نو په دغه ورځ د قیدیانو ورځ د هره بلده وي د چا چه معده کمزوری وی هغوی ته د هر کراو وي خکه چه یو ځل د تفتیو صفایی وشی تر څو چه یې معاینه نشوی نه وي څوک پکښې نه پرېږدي چه پکښې کښینی نو که په دغسی وخت کښې قیدی ته حاجت پیښ شی که جرئت ولری خو د چا نه پوښتنه نه کوی منډه کړی تهتی ته ننوځی خو دی لا ناست نه وي چه نمبر دار یې په څټ سوړي اوکه بی جرأته وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو ځل دوه خو اجازه وغواړي خو علاوه پر دی چه اجازه نه ورکوی سبه یې سپک هم کړی. ما پخپله د هر غریبانان لیدلی وی چه هر څه تری پرتوک کیښی تللی دی ویل، سبا ځل اوړا ښکل خو پریږده دا هغه د بی شرمۍ ساعت وي چه خدای دی چا ته نه ښیي. انګریزانو چه مونږ له کوم قانون خو جوړ کړی دی د ظاهر دارۍ د پاره یې جوړ کړی دی او د نیاته د دوکې د پاره. په دې قوانینو نه پخپله پرنګیان پابند دی او نه یې ملازمین.

زه چه څه وخت ناجوړه وم نو مالـه به یې پی او وړیچې د خوراک له پاره راکولی یوه هفته پس چه زه جوړ شوم او د هسپتال نه دس چارج شوم (دوتم)، نو بیا زه وم او د جهلخانی هغه پخوانی خوراک خو د اکتر چه زما حالت او کمزوری تیاته کتلی و د هسپتال نمبردار ته یې حکم کړی و چه ده له هر ما ښام لږ قدری د هسپتال دیښو ورکوه. زه د ما ښام د لمانځه وروسته وظیفه کوم په وظیفه ناست وم چه یو سړی راته اواز وکړو چه وروسته می وکتل نو د کوتکی د جنګلی سړه نمبردار ولاړ دی راته یې وویې چه بالتې دې راکړه چه پی می درته راوړی دی زه د خپلې کډی نه را پاڅیدم او پوښتنه می تری وکړه چه دا پی دې له کومه راوړی؟ هغه جواب راکړو چه بابو صاحب حکم کړی چه هر ما ښام څه قدری پی راته راوړم لکه چه ته کمزوری یې ما ورته وویې چه دا سرکاری مقرری شوي دي که د اکتر صاحب له خپله طرفه مهربانی کړی ده هغه وویې چه دا د بابو صاحب مهربانی ده ما وې د اکتر صاحب له خپله کوډه رالږلی دی که د هسپتال نه یې رالږلی دی؟ وې ویل چه د هسپتال نه ما وړته وې چه ته خپه کیږه مه، د اکتر صاحب ته می هم په پرسلام وایه او ورته وایه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا دې مینې، محبت او مهربانۍ زه د هر مشکور یم خوزه دا چې اخیستلی
نه شم. دې خبرې په اوربل و نمبردار د هر حیران شو او وې وې چې ولې؟ ما ورته
وویل څکه چې دا زما حق نه دی پر دی حق دی او پر دی حق خورل خو حرام دي
هغه وویل چې دا څنګه پر دی حق دی؟ ما ورته وویل چې دا چې په هسپتال کښې د
کمزورو او مریضانو د پاره مقرر شوی دی، د هر مریض برخه مقرره ده، زما
د پاره مقرر برخه نشته نو ته به یاد دې په ځای د نورو مریضانو په پیو کښې او به
لګاوی چې د بیو اندازه پوره کړی یا به د هر مریض نه یو یو ګوټ کمې دا د واړه
طریقې بنې ته دي. نمبردار چې دا واورېدل غلی شو اولاړ. یره ورځ دا ر غږ صاحب
راغی او ما ته یې وویل چې ورځ په ورځ کمزورې کېږې پس دې ستا د وړې
انتظام زه کوم زما له طرفه به زما له کوره تا ته وړې راځي، ما د هغه د یره شکریه
وکړه او دا خبره مې ورسره ونه منله ما هغه ته وویل ستا د وړې زما چله وړې
ده خو که سبا ته دې چې نه بدل شي یا زه بدل شم نو بیا به څوک دبنې وړې
انتظام راته کوی؟ خوزه یم او دا د چې وړې به وی او س خو لا سنه دی ورسره
ولیږ امو خته شوی یم او بله دا چې هغه کار چې سړی یې په بنکاره نه شی کولې او
ته یې کوې، سړی کمزورې کوی او د خپلو اصولونه یې باسی او په سړی کښې وېره
دلی پیدا کوې نو ما ورته ووې چې زه ستا د مهربانۍ قدر کوم خو دا خیزونه زما
صلی مقصد نه نقصان رسوي. نو معافی غواړم په جیلخانه کښې په دغسې کارونو
سړی د هر کمزورې کېږې خو مره چې یو سړی خپل خواهشات او ضروریات کمولی
ی هغومره به ارام او خوشحاله وي هیڅاته به محتاج نه وی، د غه شان یو ځل دا ر غږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

صاحب راغی اوماچکی راوړله نوهغه ماته اووئیل چه داچکی مه اوړه وه په دی جیلخا
کښی دوه ویشت سوه قیدیان دی ، زه به خدای له څه جواب ورکوم چه دایوسیاسی
قیدی چه زما په لاره روان وو په هغه دې هم چکی (مچن) اوړله ، ماورته اووئیل چه
دغه مخانځ چکی کښی دغه قیدی ته وګوره ، دی دقتل داکو مجرم دی ، په دې کښی
جیل ته راغلی دی او دلته د داسی ناپاک مقصد د پاره چکی راوړی ، اوزه چه په دومه
نیک مقصد راغلی یم نوزه دې نه اوړوم . چه دا روغه صاحب پوه شو چه دی خو چکی او
دی نوبله ورځ یې ماله اوړه را ولیږل اولږی غوندی دانی هم ورسره وی ، او ویل ویل
چه صیب (سپرنټنډنټ) راځی نو دا اوړه وه ، ماورته وویل چه زه داسی نه کوم که صیب
زما نه تپوس وکړی چه تاله څه درکوی نوزه دروغ نه وایم نوزه به وایم اوړه . د دی
جواب کښی راته جمعدار وویل چه بیا خو به زه مات شم . ماورته وویل چه څکه خو درته ف
وایم چه دامه راکوه اوبله داچه دا دسړی زره کښی وبره پیدا کوی .

د جیل بد معاشی :

د دې جیلخانی اخلاقی حالت د هر پریوتی و نه د هلک ، نه د ځوان ، اونه د بو
عزت پکښی ساتلی و . هر سړی به په ویره کښی د ځکه چا چه به کنکار ام اودچکی جمعد
راضی کړل په هر چا چه به یې هر څه زره غوښتل هغه به یې پرې کول . زما په مخکښ
ځینو کسانو پرې په دوه دوې خپل د ښمنان شهولی دی په دوه روپې یې هلکان
شپې تیرولو د پاره خپلو کوتو ته بیولي دی حال داچه د جیل په قانون کښی د هلکانو
سره د سړه یو ځای بندول منع دی . مایوه ورځ دا روغه صیب ته اووئیل چه ته خومره
یې . د هر نیک سړی یې ، بانکو نه وایی او امامت هم کوی ، لیکن ستا په جیلخانه کښی د ښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بچو عزت محفوظ نه دی ، اوزه چه په پښتو رحیل کښی وم ، هلته دا روغه هندو دی
لیکن هلته د پښتنو د بچو عزت محفوظ دُ . په دی جبلخانه کښی ما پخپلو سترګو داسی
واقعات لیدلی دی چه لیکل یی شرم بنکاری . شراب وکباب به یکښی عام وو د پیسو
والا و یکښی نری چرچی وی اوخه چه به یی غوښتل هغه به یی کول چاسره چه به پیسی
نه وی د هغوی د حاله خبر مه شئ ، د وهلو تکولو او شر مولونه علاوه چیرته به چه
سخت کار هغه به یی په دوی کولو جبل والاو د پیسو حصولو لو د پاره عجیبه عجیبه
طریقی جوړی کړی وی یوه وړځ یو بنوځی راغی ماته یی وی چه زه کلی ته چتی لیږم
راته ولیکه زما ورته ووی چه چتی د څه د پاره لیږی ژړه غونی شوویی ویل چه پلار
ته چتی لیکم ، ماته معلومه ده چه زما پلار غریب دی هغه سره څه نشته خو زما
ښځه والا هغه دی خرڅه کړی ماته دی روپی راولیږی . زه ورته په قار شوم ما
وی ته سړه یی نه چه داخبره کوې هغه راته ووی چه خانه ته څه خبر یی زه چه جبل ته
راغلم او یه چلکه کښی یی بند کړم شل سیره دانې یی راکړی چه دا اوړه کړه هغه ما
ښې اوړه کړی چه جمعدار راغی ویل یی دا خو دل دی را ایسار یی کړم او تر هغه یی
د وهلم چه دی را باندی سترې شو هره وړځ راته وایی چه پیسی راوړه که نه تول
عمر به دې داحال وی زه دومره نامرده نه یم چه مشقت نه شم کولی هر کار چه
راوسپاری په ډیره ښه طریقه یی کوم خو دوی د پیسو د پاره څه نه څه بهانه کړی په
وهلو وهلو یی راته سر کنجی کړو د جبلخانی تول سخت کار د ونه زما په نصیب دی
سره د دې همره وړځ وهل خورم اوس راته وایی چه صاحب ته دی پیش کوو او
په بیتو نو دې وهو داد بیتو نو وهل راته شرم بنکاری ځکه تاته راغلم چه پلار ته می

(c) ketabton.com: The Digital Library

خط ولیکه که څه راشی او دی بلا نه خلاص شم. د پرکسان جبل والا وو د پیسو د پاره په دی طریقه مره کړی دی دا کوم کسان چه له جبلخانو نه تښتی یا بد معاش شی د دې وجه هدا د جبل والا وو سلوک دی چه دې کار ونو ته تیار شی. په جبل کښی د دوه د لومزې وي یو د پیسه دار و بل د بد معاشانو. بلکه داچه د قیدی د خوراک حال هغه وی چه مخکښی می د ته بیان کړو او کار پری د غوایانو په شان کوي کولوکان (د تبلوکانی) ارت، همچن اونو د پرداسی سخت کار ونه چه د انسان د توان او شان مناسب نه وی پری کوي. خو مره ذلت او سپکاوی چه ما په جبلخانو کښی لیدلی دی زه په دعوه سره ویلی شم چه داسی سلوک به په دنیا کښی هیڅ وحشی نه وحشی قوم د خدای د مخلوق سره کړی نه وي.

قانون. قانون نشته د هر پرنکی او حاکم چه څه زړه وی هغه کوی او دې ته قانون وایی، نو د ملکونه یو قانون لري. زمونږ په ملک کښی د پرنکی د پاره بیل قانون و او د دیسی د پاره بیل د سرکاری ملازم د پاره بیل قانون و او د رعیت د پاره بیل د مالدار د پاره بیل قانون و او د غریب د پاره بیل. د انګریزانو قانونات داسی دی لکه د مومو پوزه چه په کومه خوا یی اړوی، هغه خوا اوړی.

په یوه ورځ کی تښتی کښی د شپې و رځی د تنهایی قید په وجه زما وزن د رو و رو کمیدو او صحت می خراب د وجه اخر جبل والا مجبور شول چه د دی پرده نشینی له ژوندۍ می راو باسی. یوه ورځ سپرنټنډنټ صاحب راغی او راته یی وویل چه اینده ته په کارخانه کښی د ورځی کار کوه او د شپې دې خپلی کوټنی کښی اوده کیږه امید دی چه د دی نه د ویستلو د پاره به دی هم د پرزرا انتظام وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما مشقت :

ددی پرده نشینی ر (کوته قافی ر) نه چه راووتم کارخانی ته یی بوتلم دایوه لوبه کارخانه وه په سوونو قیدیانو به پکښی کار کولو او قسم قسم څیزونه پکښی جوړ ښدل زما کار لفافی (پاکتونه) جوړول و خو ما به ورسره دکډی کارهم کولو خکه چه زما ورسره شوق و اودامی خیال وچه سړی ته یو کسب زده کول په کار دی چه ځان ته پری معمولی نفقه کتلی شی اود احتیاجه خلاص وي زما استاذ دبنو یوملک و دهرشریف اوښه سړی او، ښه خویونه اوشرافت پری ختم و او پخپل کار کښی هم دهر ماهر ؤ ماسره یی دهرزیارالیسته ، په څو ورځو کښی خامتا اودبور دار پ تولیپي (رومالونه) اودل زده کول که چیږی زه ددې جبلخانی نه بدل شوی نه وای او پکښی پاتی شوی وای نو ما به په دې کارکښی مهارت حاصل کړی وای . زه چه څه وخت ددې جبل نه بدل شوم نو زما په زړه کښی لبس دایو ارمان پاتی شو چه داکسب دانه نیمکړی پاتی شو او کمال ته می ونه رسولو .

زما بل استاذ دبها در کلي یو ملا صاحب و چه دلفافو سکښتلو او جوړولو چل یی راته ښود لی ؤ ، دی هم دهرښه سړی و . کله کله به یی په کارخانه کښی کوپي پخولو یوه ورځ یی کوپي باندی کړی و سپرنټنډنټ داغی ، په کارخانه کښی بوی و ، دهر یی اخوا دې خوا وکتل خو بالتهی یی پیدا نه کړو چه سپرنټنډنټ لاړو کوپي تول سوز بدلی واستانی می دهرڅیه شو خوځه یی کولی شول ؛

ورو ورو دجبلخانی دخلکو تلل راتلل راسره پیدا شو او په لږو ورځو کښی راسره دهرکسان بلد شول . په جبلخانه کښی هرقسم خلک موندی شی که بدکسان

(c) ketabton.com: The Digital Library

پکښې وی نو د پرښه کسان هم پکښې وي بلکه اکثريي ښه خلک وي ، که جبل والا يي
خراب نه کړي . زه د خپلې تنهايي قيد په وجه هم پوه شوم ، جبل والا تل دا کوښښ
کوی چه سياسي قيديان د اخلاقي قيديانو نه ښل وساتی ځکه چه د دوی سره د اوښه
وي چه سياسي قيديان زمونږ د بد عملۍ نه خبر نه شي او بله دا چه اخلاقي قيديان پوه
نه کړي ځکه که دوی پوه شي نو بيا خو د جبل والا و د دکان سره پاتې نه ی . په دې جيلخانه کښې د
رشوت بازار د پرتو دو او په رشوت هر شی کيدی شو د ساده او خوش باوره پښتنو څخه
د حصولۍ يوه ذريعه نه وه ، دی چالاکو جبل والا و د روپو راتولولو د پاره قسم قسم ذريعې
او طريقې راايستلی وې په تولو کښې ذليله او مکروه طريقه دا ښه شريف او عزتمند سړی
بې عزته کول و و لس روپۍ به دی چه کنکا رام له ورکړی چه څوک به دې خوښ و هغه به
يې پرې شړمولی شو . يو سړی به کنکا رام له ورغی لس روپۍ به يې کنکا رام ته په کوټه کښې د
او ورته به يې و ويل چه فلانی شړمول غواړم هغه به روپۍ په جيب کښې واچولی او د
يوځو نمبردار و سړه به راروان شو هغه سړی ته به يې څه بهانه جوړه کړه او نمبردار ته
ته به يې حکم وکړو چه پرتوک نه وباسه ، د غه شان به يې هغه خوار بې عزته کړو
د روپو کتلو د طريقه د پره کاميابه وه ځکه چه ښ به تازه په کنکا رام بې عزته کړه
سبا به ما کورته چټی ولېږله او روپۍ به می راغوښتی يا به می ملاقات غوښتنه
بيا به ما کنکا رام ته روپۍ ورکړی او د خپل بدل اخيستو په غرض به می ته
پرې بې عزته کړې . کله کله به په دې د پښتنو په مينځ کښې جنګونه هم کيدل .

جبل کښې پرې جنبې :

د بد قسمتۍ نه په دې جبل کښې د پښتنو په مينځ کښې پرې او جنبې وې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دوه ډلې وویوه ډله دپښور و او بله دکوهاټ، بنو او دهره والو وه، دې
ډل بازیونه به هم جیل والا وو هم ناجایزه فایده اخیسته او په معمولی خبره
به یې دوارو ته اشتعال ورکولو او په کورکښې به یې جنګول، د جنګ نه پس به یوه عجیبه
تماشه جوړه شوه، هغه کسان چه څه بود به پرې کیده هغه به یې په چکو کښې بند کړل
پیرې به یې پرې و د سولې چه یو دبل له حاله خبر نه شی او تنګ د تنګ به یې پرې
بند کړو هسې نه چه څوک یې له حاله باهر خبرونه لیږی. د لالان به یې ورپسې
کړل په ورځ کښې به یو ځل دوه ورتلل او قسم قسم خبرې به یې ورته کولې او هر یو
یې ویرولو چه بس مقدمه به تاجوړه ده یا به پاتې سې کیږی او که نه عمری خوشوې.
د هر قید یان د رباندې دلیدلو شهادت ورکوي فلانی مړشو د فلانی هم
حالت ښه نه دی مړکونی دی که څه کوی شی دادې وخت دی که نه لاړی غرق
و روب شوې. په قیدی غریب به هیبت راغی کورته به یې خپلو خپلوانو ته تار
ورکړو چه هلې ولې راوړئ د چاخپلوان چه به زر راغلل او دوی به یې راوړی
که هر څومره به کنهکار و هغه به خلاص شو لیکن خواره خواری د هغه چاوه چه
پیسې به یې نه لرلې، اکثر به د پیسو کنهکار خلاص شو او بې ګناه، بې پیسو کسان به
چالان شول. څومره به چه زه د جیلخانې د حاله خبر یدم هومره به مې د پښتنو
مظلومانو په حال زړه بد یدو. ما به شپه او ورځ دا فکر کولو چه د دوی د پاره
د پاره کومه لاره او طریقه اختیار کړم اخرمې د ځان سره دا فیصله وکړه چه د
دې دوارو د لومشران لیدل په کار دی او دا کوښښ په کار دی چه د هغوی
سره خبرې وکړم او هغوی د دې بد و کارونو او د هغو د نتایجو نه خبر دار کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما داتبدانه داعقیده ده چه پینتون دهر سنه قام دی دهر زړی اصلاح
کیدای شی په شرط ددی چه څوک یې پوه کړی . دانن چه دی په داسی بدحال کښی
دی ددی وجه داده چه څوک یې غم نه خوری اونه یې پوهوی . په دی جیلخانه کښی
درانیزو یو بوډا کاکاونوم یې نصیرو . هغه زه یوه ورځ چاپوته و بللم زه ددی
قسم دعوتونو طرفدار نه یم خکه چه سړی کمزوری کوی لیکن دهغه دسپینی ږیری
له خاطره ما دده بلنه ومنله دی هم په دې کارخانه کښی و . د دریواو نوارو په کار
سنه پوهیده زه یې پخپله کارخانه کښی وګرځولم اوخپل کسب اوهنر یې راته وښود
چه په لیدو یې زه حیران شوم ما درته وویې چه کاکا افسوس دی چه مونږ پینتانه
دبل دپاره څنګه سنه سنه کارونه کوو خو څان له هیڅ نه کوو داکوم کسب اوهنر چه
تازده کړی دی که چیرې یې بهر هم جاری وساتی نو ډیره فایده به تاته اوقام ته
درسوی هغه ماسره وعده وکړه چه بهر به یې هم جاری وساتم (خوکله چه ۱۹۲۹ ع
کال کښی زه درانیزو په دوره تللی وم کاکامی ولیدو چه کار یې لا شروع کړی نه و
په دې کښی چای راغله چای مو وڅکله . زه ددوی بی باکۍ ته حیران وم وروغوښتل
می نصیر کاکا ته وویل تاسو چه ښکاره داکارونه کوئ دجیل والاوونه وهڅوئ نه
نوهغه په خندا شو راته یې وویې چه خانه ته لانوی یې دجیلخانې په حالت خبر دار
نه یې په جیلخانه کښی چه پیسی ورکوی څه چه دې زړه غواړی هغه کولی شی زه
خو غریب سړی یم چا ته پیسی ورکولی نه شم راته چه څه وینی دا دجیل والاوو مهربانی
ده چه سږ کال یې ماته دنسوارو اوتماکو ټیکه راکړې ده زما کوزاره هم پرې کیږی
دوی ته هم څه ورکوم اوزما ددې ورونو هم راسره وخت تیریږی . زه ددې خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوربلد و حیران شوم او ورته می وویل چه کاکا! جبلخانه او تهیکه داری ؟
غه راته ووویل چه دلته دهر څیز تهیکه داری وی او داتهیکې هرکال باقاعده
لیږی اوبولی پرې کیږي . دلته ګکورو ، غوړو ، وریجو ، تماکو ، ګزارو ، پیو ، غوښو
ورو شیانو د پاره بیله بیله تهیکه ده . دچای څکلونه ورو سته ماهغوی سره د
ستنو په بی اتفاقی خبری وکړې ، دپرو جنبو او جنګونو نقصان می ورو ښوده .
وی پوه شول چه بی شکه داډیر خراب کارونه دي ماورته وویې چه خراب دي
اسوله په کار دي چه خپل نور پښتانه ورونه پرې پوه کړئ او ددې کارونه لې
ع کړئ . زه چه تری زار خصتیدم ماته لې ګزارو او تماکو ستور وښوده ماته
یو ډوی ته یو ځای وښوده چه دلته څه شی شته که نه ؟ هلته هیڅ نه معلومیده
ره ځمکه وه هغه ځای لې لږ وګنستو یو بر غولی راخرګند شو لاندی تری لویه چاتی
په چاتی کښی ګزارو قسم قسم پوړی وې د دوه انونه تر اتو انو پورې به لې
شولې . ماورو وزو پخپله کارخانه کښی کار شروع کړو او هر پښتون سره چه به می
ات کیدو ضرور به می دپرو جنبو ذکر ورسره کولو . دځومره کسانو سره چه ما داخبره
ده په هغوی کښی یوهم داسی نه وو چه ددې خبری اثر ورباندې نه کیدو هغوی
ورو داخبری محسوسولې اوپکښی خوښ بلدلې . یوه ورځ دښو یوخان چه ما سره
ې کارخانه کښی وزه لې مبلمه کړم اویولوی ښانګ شیره لې راله پخه کړه په جبلخانه
ی دښو والو شیره ډیره خوښه وه اوګران مبلمه ته به لې پخوله ما سره لې خو کسان
م مبلمانه کړي وو ، داکسان راته اکثر د رسوخ خاوندان او د ډلی د سرهیرې
مبدل . د ډوډی خوړلو نه پس ماهغوی ته وویل چه زه تاسو سره یو ضروری

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره کول غواړم په سبه شان یې واورئ اوچه څه درته مناسب ښکاري هغه جوا
به راکړئ ماورته وویل زه چه له کوم وخته دې جبلګانې ته راغلی یم اوما ته کوم حالا
معلوم شوی دی نوزه په دې نتیجه رسیدلی یم چه دلته د پښتنو وهر بل حال دی د
قسم ظلمونو اودشوت نه علاوه دیوپښتون عزت محفوظ نه دی، ما اروپلی دی چه
پښتون د بل دشمهولو دپاره جبل والاو له بلې ورکوی اوخپل وروپښتون پری شرم
لیکن داهم اورم چه سبا هغه پښتون بیا د بدل اخیستلو دپاره همدا کار کوی اوداسلسله
دپرې مودې دلته جاري ده تاسو ورته لږ سبه غیرشئ په دی کار کښې زمونږ د د
او اخرت څومره زیان دی! که جبل والا داکارونه کوی خو خپلو بلو او پیسو دپاره کو
اوګټه یې پکښې ده اوزمونږ خو پکښې سراسر زیان دی، مالونه رانه لاړل، عزت را
لاړ نن ته زما په بې عزتی مال ورکوې سبا زه ستا په بې عزتی مال ورکوم، په دی طر
په یوپښتون پوری هم حیا پاتی نه شوه. بلکه خبره چه ماته معلومه شوې ده دلته پښ
په دوه ډلو تقسیم شوي دي، یوه ډله د پښتونزیانو اومردان والا وده اوبله ډله د
تیانو، ښو والو او ډیره والو ده. اواکثر په وړو وړو خبرو د پخپلو کښې جنګونه کوی او
جنګونه یې په هلکانو وي. زه به تاسوته یوه خبره وکړم که فکر مو ورته وکړو اوزړه ت
پرې ونه مونږ اوتاسو به ددې ذلت نه خلاص شو مونږ تول پښتانه یوقام اویو
یو دیو بابا اولاد یو، زمونږ عزت اوذلت یو دی. که چیرې مونږ د رسول الله ص
علیه وسلم په دې حدیث عمل وکړو: «د چه په ځان دې څه پیرزونه وی په بل یې هم
پیرزوکوه». نو دپرزر به کامیاب شو. مونږ چه د خپل پښتون ورور سره دهر ډ
اراده وکړو په کار دی چه د لږ ساعت دپاره په هغې غوږ وکړو او خپل کریوان کښې و

(c) ketabton.com: The Digital Library

ی دا کار بل څوک ماسره وکړی نو زه به پرې خوشحاله شم که څه؟ که چیرې زه پرې
شحالیږم نو هغه کار کول په کار دی او که زه پرې خپه کیږم نو په کار دی چه دغه کار
نږ ونه کړو . بلکه دا چه مونږ پښتنو کښی که یوسړی بد کار وکړی نو په دې وجه دهغه
سره تیا په کار نه ده چه دی پیښور ی دی یا بنوو ال دی ، یا کوهاتی دی ، یا ډیره وال
ی ، اوزما د علاقی دی . د بد کار و او بد چلند و خلکو ملګرتیا نه ده په کار که په ځان
ونږ ورورهم وی ځکه چه د دی د لاسه قوم او سوسایټی ته نقصان رسیږی او
ی خلک قام تباه کوی .

مونږ ته په کار دی چه همیشه د حق او ښو خلکو ملګرتیا وکړو که په مونږ کښی یوسړی
کار وکړی مونږ تولوله په کار دی چه د خپلی ورورۍ او عزیزولی نه یې و باسو که هغه
وال وی ، که پیښوری وی ، که کوهاتی وی ، که ډیره وال وی ، که مونږ په ربښتیا په
لاره روان شو نو زر به هغه کسان چه په بد لاره روان دي او د چاله لاسه چه پښتانه
ی مصیبت اخته دی د خپلو بد وکارونو نه به واوړي . دا نن چه پښتانه په بد لاره
ن دی د دې وجه داده چه مونږ د ښو او بد و فرق نه کوو او نه څوک شته چه د ښو
بد و په فرق سو پوه کړی . یو بد عمله سړی چه وینی چه زما په بد عملی کښی ملاتړ کیږی
هغه نه ولی د خپلی بد عملی نه لاس اخلی او که مونږ د ښو بد و فرق وکړو او لکه چه
ماخوستن په لمانځه کښی د خدای سره وعده کوو چه : « وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَّفْجُرُكَ »
ی څوک چه ستا نافرمانی کوی مونږ به هغوی پریږدو کور کلی به ورسره نه کوو . که دا وعدې
حای کړو پښتون به یکدم بدل شی . نو مونږ ته په کار دی چه په دې خبرو هر پښتون
ړو او دا خبرې د هر پښتون غوږ ته ورسوو . په دې مو د عا د خیر وکړئ او دیو بل

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه رخصت شو.

په دی مینځ کښی بنو خیو د مردان دیو هلک په سر کنکارام ته یلاړی ورکړی
او هغه یی بی عزته کړی ؤ ، په دی خبره پښتونریان د پرخپه شول او جرګه یی وکړه چه
خپونه بدل اخلو او د جنګ د پاره یی وخ مقرره کړه چه خبر شوم ورغلم منت زا
می ورته وکړی چه مونږ ته دا کار کول نه دی په کار . په دې پرو خوا رومی هغوی له
منع کړل هغه هلک له می هم د پرتسلی ورکړه او په کور کښی مو دا فیصله وکړه چه په د
جبل کښی خو پښتنه نشته او سپین ټنډ نت د دې خبرې پوښتنه نه کوی ، سبه به د
چه په انګریزی کښی یو درخواست ولیکلی شی او د کنکارام په سر د پښتی کمشنر ته شکا
وشی . درخواست تیاره او د پښتی کمشنر ته ورکړی شو ، لیکن د پرنګی په حکومت کښی
مظلوم د پاره انصاف نشته ، بلکه داچه داسی واقعات پیدا شی نو بیا پرنګیان پر
دخپلی محکمی د بدنامی له خاطره پرده اچوی د انصاف فکر لا پرشی او په اتفاق س
دخپلی محکمی د صفایی کوښښونه او تجویزونه شروع کړی اوس هم داحال د
حقیقت دا دی چه پرنګیان خو دلته په دې ملک کښی د اصلاح ترقی او انصاف
د پاره نه دي راغلی د وی خو دلوټ ، تباهی او بربادی د پاره راغلی دی ولی
په تولو محکمو کښی د ورځی ته تر لوی پورې تول افسران غله او بلوی خواره د
بی د بلو او دالی نه پری څه کار کیدی نه شی . دا تولې خبری پرنګیانو ته نښی معا
وی . معلومی څه پخپله پکښی شریک وو نو اصلاح به یی څنګه کیدی شي ؟

کنکارام ته چه څه وخت دا معلومه شوه چه د ی خو پښتانه نه په سمه لار
روانوي او زما د کاندارۍ کښی فرق راولي نو فوراً یی زما په سر سپین ټنډ نت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کایت وکړو او زما برخلاف یې لویه قصه له ځانه جوړه کړه اوزه یې بیا په
سپرنټنډنټ په هغه توره او تنکه کوټنۍ کښې واچولم . دماشومانو لاسه می خوب
یې نه شو داسې څه خیز راسره نه وچه ځان یکښې دماشومانو پټ کړم کمبل راسره
خو کمبل په ګرمۍ کښې اغوستل ګران کار وي . دشپې به هیڅ تیاره کښې کښینا ستم
خبدم ، دلرم دچیچلو وېره به راسره وه دشپې به می درونده په شان پښه را
خیسته دې خوا اخوا به می وهله بسحر چې به را پاڅېدم یو دوه لرمان به مړه
ته وو ، قیدیان غریبانان خدای پاک پخپل فضل له دې بلا ګانونه ساتي .

جیل کښې زما ګناه :

سبا وختي سپرنټنډنټ دا روغه اوکنګا رام دننه زما چکۍ ته راننوتل
سپرنټنډنټ سترګې بدلې وې او دخبرې نه یې داسې معلومېده چې سړی دېره په
ږدي په لاس کښې یې یوه لویه پرپره وه هغه یې ماته واوروله بیا یې راته وویل
د جیلخانې په قانون کښې داسخت جرموونه دي زه ستا برخلاف مقدمه چلول
وارم ، زما برخلاف یې دالزاموونه لګولي وو .

ته یو سخت باغي یې او په جیلخانه کښې بغاوت کوې ، ته د جیل ملازمانو ته
سیخ کوې چې سرکاري ملازمت کفر دی ، ستا دې تبلیغ په وجه ددې چکو جمعدار
استعفا ورکړې وه ، ته په قیدیانو کښې پراپېګنډه کوې او په جیلخانه کښې د بغاوت
لو کوښښونه کوې .

ددې خبرو په اوریدو ما هغه له جواب ورکړو چې د مقدمې په باره کښې
هیڅ نه وایم تاته چې څه مناسب او انصاف ښکاري هغه وکړه لیکن داخبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه چاته رسولي دي دښتيانه دی بلکه بالکل غلطی دی. زه دا خبره منم
يوجمعدار زما په وينا استعفا ورکړې ده، ليکن دا معامله داسی نه ده څنګه
در رسول شوې ده. درسته خبره داده چه يوه شپه د دغه جمعدار په مار
پيره وه هغه ما سره په خبرو خبرو کښی داوويل چه زه بال بيچ دارم او
تنخوالبزه ده کوزاړه می پری نه کيږی، کله ناکله قيديان پخپله خوښه بی زما
نه څه نه څه راکوی، زور زياتی پری نه کوم د اسلام په موجب ددی پيسو اخيستل
څنګه دي؟ ما ورته ووې چه دا پيسی روا نه دي ځکه چه هغوی تاته حاجتمند
رضا اورغبت خو به هله وی چه بهروي او تاته يی حاجت نه وي بيايي تاله د
ښه به داوی چه په دی خپله تنخوا کوزاړه ورکړی: ده راته ووی چه په تشه
می کوزاړه نه کيږي نو ما ورته بيا ووې چه د لوکړی په څای څه روزګار شروع
شايد چه په هغی کښی دی کوزاړه روانه شی که زما نه اوس هم څوک دغه شان پوښ
وکړی. زه به دغه جواب ورکوم پاتی شول نو د الزامونه بالکل بی بنياده دي بی ش
ما قيديانو ته تبليغ کړی دی ليکن ددې دپاره نه چه دجيل د قانون خلاف و
وکړی يا دې بغاوت وکړی بلکه ما هغوی تل مجبور کړی دی چه جګړه او فساد
مه کوئ خپل مشقت کوئ او چاله رشوت مه ورکوئ هرکله چه دا خبرې س
جيل د افسرانو په جيبونو کښی فرق او امدنی کښی کموالی راولی نو زه باغی يم او
سړی نه يم بيايی ورته وويل د جيلخانه په يو ډير خراب حالت کښی ده ته ډيره څ
نه يی او نه خبر يدی شې که خبر هم شې ته يی اصلاح نه شی کولی ته په هغه بله ش
په ګشت راغلی وې په يو بارک کښی شور و ته ورغلې، ته پوه شوې چه دا شور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته چه دوی هر څه ویلی وی ویلی به یې وی خو هغه شور به شرابو او کبابو نه پرې
جبلخانه کښې دغریبانو بلده وړځ ده ډډ ولتمند ومزې دي. په دې جبل کښې ډمیچا
عزت محفوظ نه دی کوم رشوت خواره او بد چلنده افسران چه زه ستا په جبلخانه
کښې وینم ما په بله جبلخانه کښې لیدلي نه دي. زما په دی خبرو سړی لږ غوندی
یخ شو ستړی یې پرانستی شوی او ماته یې ووې نښه به داوی چه ماته لیکلی جواب
راکړې او سیاباهر ته روان شو ما لیکلی بیان ورولیږه وبیا وروسته معلومه شوه
چه کنکارام وغیره یې خپلې بنکلی ته غوښتی وو او نښه یې دباوکړې وو، چه تاسو په
ما باندی یوې ګناه سړی په چکی کښې بند کړو لیکن باوجود ددې علم نه یې زه دچکی
نه وننه ښکلم ځکه چه هغوی په ده دباوکړی ووچه که دی له چکی نه بهر کړو نو به پرستېژ
کښې به فرق راشی ددی جبلخانی نظام به ګډوډ شی. دپرستېژ په نوم چه دې څه
زړه غواړې هغه په پرنګیانو کولی شی ځکه چه په داسی وخت کښې دوی په ظلم او
انصاف کښې هیڅ تمیز نه کوی.

زما په چکی کښې دبند پدوننه چه څه وخت نور قیدیان خبر شول نو یو اشتعال
پکښې پیدا شو. په مایې سخته پیره لګولې وه خو ما به قیدیانو له جواب ورلیږلو چه
پام وکړئ ځکه چه ماته خو معلومه وه چه هیڅ بې هیڅه په قید یا نوځومره ظلمونه
کیږي هسې نه چه څه باندې هم کوتوله ورشی نو بیا دې یې خدای مل شی. په دی
جبلخانه کښې یوځو هندوستانی فوجی افسران او سپایان ووچه دخپلو نښوخیالاتو
په وجه قید شوی وو یو په څه چل ماته ځان راوړسولو اوراته یې وویل چه مونږ فیصله
کړې ده چه دوه دی ډډ نه خورلو هرتال وکړو لیکن ستانه اجازت غواړو ما دهغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

شکریه اداکړه اوددې کارنه مې منع کړل ځکه چه زه د جیلخانې د ایجی ټیشن برخلا
وم . په دې وروستیو کښې د نوښار بابو سلطان محمد زما پوښتنې ته راغلی و اوزما د
درخواست یې ورکړی وخو دهغه درخواست منظور نه شو اوما سره یې ملاقات ته پ
نه ښود و . ملاقات زما حق وخو جیل والاوو د واقعاتو د پټ ساتلو په غرض د ملاقات ا
نه وه ورکړې . چه سیاسی قیدیانو سره داسلوک کیږي د نورو د پاره خدای م
شی . د سیاسی قیدی له حاله بهر څوک نه شی خبر پاتې لی . د اخلاقی قیدی
حاله به څه خبر شی ؟ هر څه چه ورسره کولی شی په اورکښې د سوزولو پ
خو زه پخپله خبریم د انګریز انصاف او تهذیب که څوک کوری نو جیلخانو
دې لاړشی چونکه زما صحت خراب و بله ورځ سپرنټنډنټ ما ته راغی ز
یې وکتلم اوزما په تکلیف یې ولیکل چه یوه کښته یې سهار اویوه کښته یې ما
له چکی نه وباسئ او د تازه هوا اخیستلو د پاره یې بهر کړځوئ . د شپې
ورځې تنهایی قید نه به می کله کله زړه د پرتنګ شو او چه خپله بې ګناهی به راته څرګنه
شوه نو به د پر په قار شوم لیکن بیا به می زړه له تسلی ورکړه . د قام او ملک د
خدمت د پاره خلکو قسم قسم تکلیفونه وچت کړی دی اود اد خدای یواځې
او تد ینګ دی د خدای کار د نه تول د خیر دي ماله صبر کول په کار دی ځکه
چه خدای د صبر ناکو ملګری دی اخر به یې نتیجه په خیر وي تول عمر به داکړه د
نه وی اخر به راحت راشی .

د پیړۍ غازی خان جیل :

یوه ورځ سهار وختی سپرنټنډنټ په تا دی زما چکی ته راننوت راته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ي ووې چه ته ما ددې جبل نه بدل کړې بهر پولیس ستاد بیولو د پاره ولاړ دی
ځان سمبال کړه . زما څه سمبالی وه یو قرآن شریف وهغه می غاړې کښې واچولو او
روان شوم . چه د جلغانی دروازې ته ورسیدم پولیس راته په لاسونو کښې اتکړې
واچولې په پښو کښې خومی بېړی او په غاړه کښې می داوسپنې کړې اوله پخوانه موجودې
ډلې بهر موټر د سنګین چراو سپاهیانو په مینځ کښې ولاړو . پولیس کپتان زه یو
بستون تاندارته په حواله کړم او پخپله راته پاتې شو . تانه دار زه په تانکه کښې سود
سم په تانکه کښې د ننه چه خو مره پولیس ځائیدی شول ، هغه یې د ننه کښینول او چه
ننه نه ځائیدل هغه یې بهر د درول او مونږ روان شو ، مونږ چه څه وخت د دریاخان
ته ورسیدو ریل راته تللی و ستیشن ماستر ووی چه نیمه ګنټه می ریل متاسو
پاره لیټ کړو خو تاسو راونه رسیدئ مانور نه شو لیټ کولی ددی په وجه په
تانه دار صاحب ډېره ډېره او هیبت راغی خو څه یې کولی شول ، زمونږ د نه رسیدو
وجه داده چه دا باسیند او به ډکړې له کبله ډېرې شوې وې پل یې شلولی
هغه په جوړېدو ډېر ساعت تېر شوی و . زمونږ په ستیشن کښې شپه شوه
له چه په دې لاین په شاو روز کښې یو کا ډې نه ځی اوراځی .

تانه دار صاحب فوراً په ویټنګ روم (انتظار خانه) کښې بند کړم او ډېله
ډېره یې را باندې وګلوله حال دادی که چا د دریاخان ستیشن لیدلی وی
نو به ورته معلومه وی چه په یوه دښته بیابان کښې پروت دی هلته خلک
پرته ووچه ماته راغلی وای بله داچه زه چا پېژنډم ؟ خو پولیس خپل احتیاط
کو . ددې ځای نه چه په څه فاصله یو پیر صاحب اوسېدو زمانه خبر شوی و .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماسره یې یوځل په دیره اسماعیل خان کښې ملاقات شوی ؤ. دی زما لیدو و
راغی شاید چه د ده لیده کاته م ماسره شوی نه وای خو ده یوه پرده هوښیاره
کارکړی وچه ځان سره یې یوه دکه توکری راوړې وه چه پکښې قسم قسم اوړمز
میتیانې وې چه زړه ټینګول درته کران و. چه سپاهیانو دا میتیانې ولیدلې نو
سره د هغه ملاقات وشو او سره سنه مشغول شو. د تللو په وخت کښې پیر صاحب
ماته د دوه ډی ست وکړه لیکن ما درته ووې چه ستاشکریه دا وخت ستاسه
د دوه ډی د پاره موزون نه دی زه سرکاری مېلمه یم پیر صاحب په خندا شو
خوشالی سره رخصت شو. ما بنام شو لیکن زه پولیس والا وو د کوتهی نه بهر نه کښ
اونه یې زما د لاسونو اتکړی وښکلې. ماته د دې نه په جلاخانه کښې آرام
ولې چه هلته خو می لاسونه خلاص وو د دلته می لاسونه تړلې وو. تانه دار صاحب
خبرو د پرتکره وخو د عمل نه و په خبرو خبرو کښې به یې ځان قومی سړی ښو
لیکن ویل به یې چه زه څه وکړم کپتان صاحب راسره خپل منشی راالیږلی د
چه زه ستاسره څه مهربانی ونه کړم خو د منشی د تللو نه پس هم د ده په ر
کښې ماشه فرق ونه لیدو.

تانه دار صاحب ما په رموز رموز کښې د پر پوه کړ چه اوس تیاره ش
هیڅوک نشته لږ به بهر وګرځو تازه هوا به واخلو تولې ورځ په ناسته ټنګ ش
یم لیکن د هغه غوږ په دې خبرو نه کړ ځیده، زه مجبور شوم چه پوه یې کړم چه چیل
په وجه زما صحت خراب شوی دی د ده اکثر داهدایت دی چه زه یوه کښ
سهار او یوه کښته ما زیګر په تازه هوا کښې وګرځم او ته اوس ما د دی کو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بصر نه و باسې که زما صحت ته څه نقصان ورسېږي د هغه ذمه وار به ته يې . ددې خبرې په تا نه دار صاحب څه اثر وشو او سپاهيانو له يې حکم ورکړو چه بصرې وباسئ او په پليټ فارم يې وګرځوئ .

د پرنګيانو او د هغوی د نوکرانو دا خصلت دی چه ترکومی دې ورته نېغه خبره نه وکړې په غوږ يې نه لګي . د خوب وخت شو ويده شوم په خوب کښې هم پوليس والا او زما د لاس نه اتکړی ونه ويستې خو دومره يې وکړل چه د دوا ورو- لاسونو نه يې يولاس ته کړی او ځنځيرې يې کت پورې وترلو . خوب می ارام ونه کړی شو چه ريل راغی څوکسه پوليسان مخکښې ورغلی وو او يوه کوټه يې زمونږ د پاره خالی کړې وه زمونږ پکښې سواره شو او ريل روان شو . زه نه پوهيدم چه کومی جيلخانې ته می بيايي پوليس والا وو دا خبره زما نه د هره پښه سا تلله نه پوهيږم چه ولی ؟ ما هم ډېر پروا نه کوله ما وې څکه کښ نه وی نو سبا به معلومه شی چه ما چېرته بيايي . زمونږ کا دی چه به هر سټيشن ته ورسېږو پوليسانو به زما د کوټی ور او کړه بندی کړی او دوه کسه تو پک والا به بهر دوره خولې ته ودريدل څوک به يې نژدې نه راپرېښودل . دا دوی ددې د پاره کول چه ما څوک ونه وينی او را نه خبر نه شی چه زه يې چېرته بوتلم خو دوی دا طريقه غلطه وه څکه خلکو به د پوليسو سنګينونه او تو پک وليدل که فکر به يې نه وُهم به يې فکر شو او سودا به يې شوه را تلل به چه وګوری چه څه چل دی او په دغه شان به په هر سټيشن کښې د پر خلک زما د کوټی نه ګيره چاپيره راجمع کيدل ما چه کومه پوښتنه هيڅېرې نه شوه کوله حکومت پخپله ناپوهی را ته پخپله وکړه . زمونږ کا دی اخر دغه ډول وو- کات پستيشن و ودريدو د ريل پټلی د دی نه مخکښې نه ده ټلی مونږ د ريل

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه کوز شو . په ستیشن راته یو حمعدار او دوه پولیس سپاهیان ولاړ وو چه مونږ یې
ولیدلو راغلل او د پولیس والاوونه یې زما پوښتنه وکړه معلومه داشوه چه هغوی
زما د اخیستو (تسلیمی) د پاره راغلی وو . سپاهیانو ته یې وویل چه انکریز وښه
لیږي کړئ هغوی زما د لاسونو نه انکریز وښکلي او دوی ته یې په حواله کړم. زمونږ
مسلمان پښتون تاته دار صاحب ته چه نادر خان یې نوم واوپه یه یکایت مشهور و
زمونږ نه په څه وجه ورو سته پاتی شوی وُ چه راغی اوویی لیدل چه زما په لاسونو
کښی انکریز نشته نو وارخطایی پرې راغله اوویی وې چه دده نه انکریز چه
وپستلی دي هغه حمعدار چه یو هندو وو ورته یې وویل چه زه د پیرهٔ غازی خان د
سرکار له طرفه دده د پاره مقرر شوی یم دی اوس زما ذمه واری کښی دی دا زما
باور دی چه داسی خلک تښتی نه دوی خو پخپله خوښه او رضا جبل ته راغلي دي
څه د اکو خونه دی د دې دومره پولیسو ، توپکو او سنګینونو څه ضرورت وما ورته وویې
چه داسی حدی حکومت دخپل رعب او داب قایمولو د پاره راسره کړی دی . تاته دار
صاحب لږ غوندې کچه شو لیکن دسرکار عجیبه نوکران دي دهغوی غوږ په دې
خبرو نه کوږ دی مونږ لا دا خبرې کولې چه په دې کښی یو هندو راغی په لاس کښی د
دپیو دک کیلاس و راسید و سره یې ماته ونیوه . زما د څکلو اراده نه وه خو هغه
سړي مینی او اخلاص زه دهغو سپو په څکلو مجبور کړم . ربښتیا خبره داده چه د هندو
او مسلمان سوال خو پرنګی او غرضیانو خلکو راپیدا کړی دی که هندو سره په ربښتیا
دهندو او مسلمان سره د مسلمان غم وی نو نن به زمونږ د ملک اوقام داحالت نه
وای . زما چه څومره یاددی اوتجربه می ده نو ما سره یو هندو ملاتړ دیو مسلمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملازم نه تلل ښه سلوک کړی دی . دغه وخت زه پوه شوم چه زه یې د پیړۍ غازی خان جیل ته رابدل کړی یم .. مونږ د ستیشن نه را روان شو او د پیړۍ غازی خان د تللونیت مو وکړو ، پیړۍ غازی خان د اباسیند نه دولس میله لیرې دی ، دلته یکی چلیږی هغه قسم یکی چه پخوا به زمونږ ملک کښی چلیدې ، مونږ یوه یکه کرایه کړه او په دې کوښښ ایله په درې ګنټو کښی جیلخانی ته ورسیدو . چه څه وخت مونږ ته د جیلخانی دروازه ښکاره شوه نو جمعدار صاحب ماته داووې که چیرې ته خفه کیږې نه نو اوس به مونږ تا ته انګریز واچوو . ولې چه جیلخانه راغله ماوې ستاد امهربانی او شریفانه سلوک به زما هیر نه شی اولاسونه می ورته ونیول انګریزي راته واچولې . زمونږ یکه (ګاډی) د دروازی سره ودریده مونږ کوز شو د کوز ولو سره د جیلخانی د دروازی ګرځه لیرې شوه مونږ ورښتو تو او د ورښتو تو سره د دروازه را پسې بنده شوه .

د دروازه د خلکونه د ګه وه هغوی ټول زما په نندارو شول شاید چه زه ورته عجیبه غوندی ښکاریدم . هغوی کوم نه وو زما حالت د هر عجیبه وماچه پخپله خپلی دنګي ولی لنډ کمیس اولنډ پرتوک د غوږ ونو تو پی د غاړې غارکه په پښتو کښی ټوپۍ او په لاسونو کښی انګریزي کتل ځان به راته تماشا ښکاریده . د جیلخانی خوراک ، پوښاک قانون او قاعدې په داسی طریقه جوړ شوی دی چه په یو قیدی کښی خودداری پاتې کیدی نه شی .

په دې وروکښی د سیاسی قیدیانو ملاقاتونه وو او خپل خپلوان یې د لیدلو د پاره راغلي وو او په دې وجه د دروازه د ګه وه پولیس زه دفتر ته بوتللم او جیل والا ته یې حواله کړم او هغوی رانه رخصت شو څه وخت چه جیل والا و زما تکټ اووارنت

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکتلو او ورته معلومه شوه چه زه سیاسی قیدی یم نو هلته دی یی راسره پیدا شوه او
داډ کیږه یی راکړه چه دلته د بړ سیاسی قیدیان دي ورسره خو ښحاله ښه یی امید
دی چه هیڅ تکلیف به درته نه وی. زما نوم یی د جبل په کتاب کښی ولیکلو نو دا روغه
صاحب حکم وکړو چه دی فلانی بارک ته بوځئ اودا انګریزی او ببړی وغیره تری لیږی
کړئ. څه وخت یی چه زه مجلغانی ته دننه کړم نو زما د راتللو نه سیاسی قیدیان خبر
شوي وو اکثر زما لیدلولو راغلل او د ببړه مینه او محبت یی راسره ښکاره کړو. زما د
ببړو په ماتو لو کښی هم د ببړو سبسبس وکړو. د ببړو په لیږی کیدو ماته ځان بل شان معلوم
شو. اول بندی وم اوس ازاد شوم.

د بدلیدو په وخت کښی د چپلی صوبی نه دوتو په وجه خپه وم ځکه چه زما دی چپلی
صوبی او پښتنو سره دومره مینه ده چه زه یی بیان نه شم کولی چپل ملک کښی د چپل قام
سره د بدی تږدی او په تکلیف کښی خوښ یم نه په بل ملک کښی په عیش او عشرت
کښی لیکن زما واک او اختیار چپل نه وزه په هغه چا اوږه یی دم چه زما ارام یی غوښتو
و بلکه زما تکلیف یی مطلب وخو د ببړو په وتلو بیام زما څه نه څه سود و شو ځکه چه د ببړو
سره می کړ جبل په تکلیف و، جبل می په تکلیف و، په دره اوږه جبل می په تکلیف و
په کړمی کښی به رابانده کړمی او په ټخنی کښی به رابانده یخی لګیدی.

د جبل په دیودی کښی په ملاقاتیانو کښی لاله دون چند او د خاتون امت
السلام د ورور چه بیرستر و هم موجود و د وی بیا ماته خبره کوله چه څه وخت مونږ
ببړی په پښو کښی او انګریز نه په دوارو لاسو کښی د پولیس سره ولیدی نو مونږ و به
کښیدو چه دا به زور ور د اکوړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته په اخلاقی قید یانو کښی هم نه بیړی ، وی نه غاړکی ، اونه پکښی دلړکی تختی وی . سیاسی قیدیان به پرېږدو . د اخلاقی قیدیانو سره هغسی سلوک نه کیږی چه کوم مونږ سره د سرحد په جیلخانو کښی شوی و ، د دې نه پس می ولمبل او د وډی نه تیاره وه ، وی خوړه او د خدای شکر می ادا کړ چه له هغی جیلخانې نه یی په خیر راووېستلم . که چیری په هغه جیلخانه کښی وی نو څوندی تړې راوتی نه شوم . د دې ځای د وډی کښی او د سرحد د جیلونو په وډی کښی فرق و . د سرحد د جیلونو خوراک د خوراک په تعریف کښی نه راځی او د دې ځای وډی خو کم نه کم د خوراک په تعریف کښی راځی . یو تړپړی او یوه کمبله یی راکړله چې ښل بارک ته لاړم بستره می وغوړوله او وړیده شوم .

د جیل څوند :

دا یوه ورځ کې د مزې او د یوه صفا جیلخانه وه په دې کښی تول تال د دې بارکه وو او په مینځ کښی یو د روکی هسپتال و . د تولونه لوی بارک کښی هغه سیاسی قیدیان وو چه سپشل کلاس ورکړ شوی و ، ورپسی هسپتال و او بیا زمونږ بارک و . په دې کښی مونږ هغه سیاسی قیدیان اوسیدو چه کوم (ب) کلاس کښی وو او هغه دریم بارک کښی اخلاقی قیدیان وچه بهر په باغ کښی به یی هم کار کولو او د نه به یی هم صفایی کوله ، ولې چه سیاسی قیدیانو ته بهر د کار کولو اجازت نه و . په دې جیلخانه کښی د سیاسی قیدیانو د پاره یو قسم مشقت ، څرخه کول او منج غښتل وو . څرخه د سپشل کلاس د قیدیانو د پاره وه او منج او مېچنې د (ب) کلاس قیدیانو د پاره وو . سبا له چه سپرنټنډنټ صاحب راغی او زه یی ورته پیش کړم نو چونکه زه په (ب) کلاس کښی وم نو زما د پاره هم د منجو غښتلو مشقت ولیکه . ما چیرې دا کار کړی نه و اونه د منجو غښتلو چل را تلو زما هغه نور ملګري

(c) ketabton.com: The Digital Library

تکره وو هغوی به ماسره د پرنا کام اوکوشش کولو او د غبتلو چل به یې راته ښودلو
ما به هم ورته د پرفکر کولو او دزده کولو کوشش به مې کاوه خو زده کولی مې نه شو. ما د
خبره د پره محسوسوله لیکن مجبور وم بله ورځ مې سپرنټنډنټ ته ووې چه دا کار خو
زه کولی نه شم دا به ښه وي چه تاسو ماله د همچې کار راکړئ ځکه چه دا ماته بد ښکاري
چه زه خپل مشقت پوره کولی نه شم. بله داچه سپرنټنډنټ او دا روغه دواړه ښه سړي
وو، ماسره به دوی د پره مهربانی کوله اوزما په مشقت نه پوره کولو یې څه نوتس نه
اخیستلو. لیکن ماته به داخبره بده ښکاریده او ځان به راته ښه نه ښکاریده و بیایی
له د څرخې مشقت راکړو. جیل والا مونږ د (c) کلاس قید یانو له بهر د پخلی د پاره (لنګر
(باورچی خانه) راکړی و اودهغه تول واک اختیار زمونږ په لاس کښی و او د پخلی د پاره
بهر یې هر څیز چه راکولو پوره صاف اوښه اوزمونږ د خوښی به یې راکولو. بهر د پخلی د غیره
انتظام به زمونږ د سیاسی ورونو پخپله کولو. په دې وجه زمونږ خوراک ښه و او مونږ
ته ارام و او کله ناکله به د سپیشل کلاس والو هم د خپل خوراک نه څه حصه مونږ ته راپه لیږه
لیکن د دی سره د (c) کلاس او سپیشل کلاس قید یانو تعلقات پخپلو کښی ښه نه وو او
د دی قوله وجه د غه امتیاز او فرق وُ چه کوم پرنګیانو قایم کړی وُ. زه یو پردیسی سړی
وم د هغوی د اندرونی حالاتو نه خبر نه وم لیکن زه د هغوی په بې اتفاقی د پر
خپه وم ما به همیشه د اکو سنبس کاوه چه د دوی د زړونو نه د اختلاف وباسم.
لیکن زما خبرو په چا باندې اثر نه کاوه بلکه دا بې اتفاقی او نفرت ورځ په ورځ
زیاتیده. اخر دی حد ته ورسیده چه (c) کلاس والو د سپیشل کلاس والو
د تولو څیزونو د اخیستو نه انکار وکړو اصولاً خو زه د دی خبری نه خلاف وم

(c) ketabton.com: The Digital Library

و زما هم دا اُیه وه چه په سیاسی قید یا نو کښی دې فرق نه وي او دتولو سره
دی یوشان سلوک کیږی . ماچه کوم وخت سپرنټنډنټ صاحب ته ووې چه زه د
منجو کار نه شم کولی ، مهربانی وکړه زما دا مشقت بدل کړه او دا سی مشقت راکړه
چه زه خپل مشقت پوره کولی شم نو ددې نه پس یې دځرخی هغه مشقت راکړه چه
سپشل کلاس والو به کولو او جامی یې هم راله زما په کچ جوړی کړې او سپشل
کلاس تړلی بدل کړم . پرنګیانو چه کوم امتیاز قایم کړې دی دا په نیک نیتی نه دی
بلکه یې په دې غرض قایم کړې دی چه په مونږ کښی همداسی بی اتفاقی او کږبړی وي
خوزه ددې په حق کښی هم نه یم چه دې خبرو له دې مونږ دومره اهمیت ورکړو چه
د مونږ ه تعلقاتو او تحریک ته پرې نقصان ورسی ، ځکه مونږ چه څه کوو نو دځان د پاره
نه بلکه د خپل قام او خپل ملک د پاره یې کوو دبل د پاره خوې نه کوو او بله داچه تاسو ته
په معلومه وی چه دانن مونږ حکومت سره په جنګ یو او خو دی د پاره دی چه مونږ ه
دا امتیاز لیږی کول غواړو او دی په ځای مساوات قایمول غواړو او تر هغه وخته
پورې دا امتیاز لیږې کښی نه شی چه تر کومه پورې مونږ ه کامیابه شوی نه یو
واک اختیار ز مونږ په لاس کښی راغلی نه وي . [مونږ ه له چه کله د معمولی اختیارا تو
وزارت په کوټو راغلی د قانون موجود رکه چه قولو سیاسی قید یانو سره دې یوشان اوښه
سلوک کیږی . امتیاز موختم کړې وخو دهغی نه پس چه د مسلم لیګ حکومت جوړ شو
د مونږ جیلخانه کښی واچولی شو نو هغه مساوات ختم شو هغه قانون یې مات کړو او
مونږ سره یې هغه بد سلوکی وکړه چه پرنګی را سره کړې نه وه حالانکه مسلم لیګیان
په کوم وخت ز مونږ په حکومت کښی جیل له راغلی وو نو مونږ ورسره دهغه قانون

(c) ketabton.com: The Digital Library

مطابق سلوک کړي و] .

مونږ په دې د (۲) کلاس بارک کښې تقریباً شل کسان وو ، په دې کښې یونږ
دوه هندوان او نور تول سکهان وو ما سره د تولو تعلقات ښه وو او اکثر را باندې به
مهربان وو . زه دوی سره په هر خوشحال وم ، زه د دوی منځګړی وم ، د دوی په
کور کښې چه به دځه قسم خبره پیښه شوه نو په ما به یې فیصله کوله لیکن ما ته یو تکلیف
و او هغه دخوب وچه ما د شپې پوره خوب کولی نه شو او دې وجه دا وه چه زه
اکثر سکهان ورو نه به غوته نیمه شپه پاڅېدل او په بارک کښې به یې د ننه لمبل او
بیا به یې خپل پوجا پاټ (عبادت او وظیفه) کوله یوازې لمبل نه و بلکه هغې سره به یې
په زوره زوره د خپلې عقیدې مطابق ذکرهم کولو چه مونږ تول به یې دخوب نه راویښ
کړو . افسوس چه مونږ خلک دبل د ارام او تکلیف خیال نه ساتو کتې هم غه
ذکر مونږ ورو اوپټ هم کولی شو لیکن د دې خبرې کمې هم ز مونږ په عامو مسلمانو
او هندوانو کښې موجود دی . مونږ هیشه پخپل خیال پسې ځو او دبل فکر نه کوو دا یو
لوی کمې دی . مونږ له په کار دی چه هیشه د خدای د مخلوق د تکلیف او ارام
فکر او خیال وساتو او څه چه کوو نو چه اول یې په ځان وکړو که چیرې ځان له یې خو
ښو و بیا په کار دی چه بل له یې هم خوښ کړو او که چیرې ځان له یې نه خوښ و نو چه
بل و ر ور له یې هم خوښ نه کړو .

جیل والا په دې خبره راضی و و چه ما هغه بارک ته بدل کړي لیکن د دې و یې
یې بدلولی نه شوم چه هسې نه دا نور سیاسي قیدیان څه اعتراض پورته نه کړي ، دا
دوني چند امبالوی او د بعضې نورو ملګرو دا رایه وه چه ما هغه بارک ته بدل کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی سره یوځای شم . دهغوی د کوششونو او ویناپه وجه سپرتهلبنت زه هغه
بارک ته یدل کړم اوزما په ورتلوسره تولو وروڼو خوشحالی ظاهره کړه . په دې بارک
کښې مونږ شپږ شپیته کسان ووچه په دې کښې شپږ مسلمانان اوباقی نیم په
نیمه هندوان اوسیکهان وو . دا بارک دوه لوی ولونه درې خانو باندې تقسیم وو په یوه
خانه کښې تقریباً هندوان اومسلمانان وو اوپه دوهمه کښې سیکهان وو اودریمه حصه
کښې زمونږ باورچي خانه وه اود سامان اینبودلوځای وُ . لنګر زمونږ ده تولو یو و
هندوانو، سیکهانواومسلمانانو به په یوځای اوپه یود سترخوان دوده خوړه ولې
چه داخلک پوه اواکثر تعلیمیافته وو . دلته ماخوب په ښه شان سره کولی شو اوماته
هیڅ قسم شکایت نه وُ ځکه چه دې خلکو به د ملګرو د ارام خیال ساتلو صرف داخبره
وه چه هغه دخلاستوکلای په مالنډې وې نو دوه کډې یې ځای کړې وې چه دې ته
تکلیف نه وي اوکه چیرې یوکس ټیم به دشپې دلمبلو قصد هم کوله نو هغه دومره لوی
بارک وچه چاته به تکلیف نه رسید و اواکثروکسانو به بهر لمبل اوښه کار خو داوشو
چه دلته زه دمونځو غښتلونه خلاص شوم . دلته زما کار ورپښل واوهغه ما په ښه شان
سره کولی شو . اول خو پرې ښه نه پوهیدم لیکن بیاخو پرې داسې پوه شوم چه خپل مشقت
به مې په دریو ګنټو کښې ختم کړو . جبل والاوو راته وویل چه مونږ غواړو چه تا نمبردار کړو نو
د رپښلو نه به خلاص شې اومعافی به هم درته درې ورځې میلاوې وي او باهر به هم څملی ما
ورته وې چه زه دا کار نه کوم اوبیا تولې ورځ به مطالعې ته وزکار وم . دکتابونو نه علاوه
دلته به درې روزانه اخبارونه راوړو واوانګریزي هم راتلل اودهغه په لوستو سره به مونږ
د ملک د حال نه خبر پاتې ولیکن د دې تولو خبرونه زیاتې خوشحالی، ارام اوراحت ما ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې وچه یوه ډېره ښه سوسایټۍ مامونډلی وه چه په دې کښې د هر خیال او عقیدې خلک موجود وو او د هغوی د تبادله خیال په وجه ماته ډېره فایده وه یو خو مې د هر قسم معلومات زیاتیدل او بل مې وخت په ښه شان سره تېرېده دا موقع او وخت ما څان د پاره یولوی غنیمت ګنه او ما نه چه څومره کیدی شوه ضایع کوومې نه بلکه د دې ملګرو د علم او تجربو نه مې فایده اخیسته بله دا چه الله تعالی ماله دا موقع راکړه چه د پښتنو خلاف چه څومره غلطې خبرې پرانګیانو خوړې کړې وې او څومره غلطه د دې وغوړاپلنده یې کړې وه د هغې نه خبر شوم او څومره چه زمانه کیدی شوه ، د خلکو د زړه ونو نه مې د هغو غلطو خبرو د لیرې کولو کوښښ وکړو .

د پښتنو په هکله غلطه پراپېګنده :

خو د غرض خلکو زمونږ په خلاف دومره پراپېګنده کړې وه او داسې خبرې یې په خلکو کښې خوړې کړې وې چه هغه د یوسړي په خوب او خیال کښې هم راتلی نه شي . د هندوستان خلکو ته د پښتنو متعلق هیڅ قسم معلومات نه وو دا عاجزان د پښتنو متعلق په یوڅو لوبه تیاره کښې پراته وو او زه شاید چه الله تعالی د ډېره غازی خان جیل ته د دې خبرې د پاره راوبولی وم څکه په دې جیلخانه کښې اکثر د هند وانو او سکهانو لوی لوی لیډران او ذمه دار خلک قید وو چه زه د دوی د حقیقت نه خبر کړم چه د هغوی د زړونو نه ویره او وهم لیرې کړم او د پښتنو په حقیقت یې خبردار کړم د نفرت او نفاق په ځای محبت او اتفاق پیدا کړم ، د دې خلکو په ذهن کښې پښتون په بل رنګ کښې معرفی شوی و څه عجیبه مخلوق و . لاله دونی چند چه څه وخت ما سره ښه اشنا شو نو ویلې وې چه څه وخت ته ما په دروازه کښې په اول ځل ولیدې نو ستاد جوسی نه راته

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلومه شوا چه پښتون دی نو زما دایقین وچه قتل یا دا که کښی راغلی دی اوشاید
چه دداسی نوروخلکو به هم دپیژند گلونه ږومبی زما متعلق خو داخیال وسره ددی
چه لاله دونی چند دپنجاب دپرلوی لیلوړ اولوی وکیل او دپر عالم او باخبره سړی و
ددوی په ذهن کښی دانه راتلله چه چپرته پښتانه او چپرته ښه کارونه او بیا دخدای دپاره
دقام اوملک خدمت ددوی په خیال کښی خو داخبره ناسته وه چه دپښتون بی دقتل
اولوټ او دا کی نه بل کارنشته زما دیوځای اوسیدو په وجه زما دخیال اوعمل نه
واقف شوا وتولو به ماسره دپره مینه اومحبت کولو څومره چه زمونږ تعلقات زیاتیدل
هغومره دزړونو پتی خبرې رابنکاره کیدې په ابتدا کښی به ماسره ددوی خبرې
هیشه دپښتنو متعلق وې دمازیګر په وخت کښی به مونږ دخپل بارک نه راووتو او
گرځیدو به چونکه زمونږ دګرځیدو دپاره بل ځای اجازت نه و نومونږ به دهغه
خپل بارک نه چاپیره گرځیدو، دګرځیدو په وخت کښی به اکثر داسی وشو، چه مونږ سره
ملګرو کښی به یوتن دخیټی هوا خارجه کړه، زمونږ ده معاشره کښی چونکه داشی دپر
معیوب کنهلی شو، نومالله به وزړپوری دپره خندا راتلله، په څه با نه به می ځان یو دوی
نه کړو اوښه دزړه د اخلاصه به می وخندل او دوستو به بیا خپلو ملګرولا گرځیدو له
راغلم، زما ملګری چونکه نه ووخبر چه زه دوی پوری خاندم نوهغوی کښی به یوتن نیم
بیا هوا خارجه کړه اوپه ما به بیا دخندا چیپه راغله، اخردا واقعات دومره ځله اوشو
چه زه ورسره مجبوراً بلد شوم، اوبیا به خندا نه راتلله، ودستوچی ما په دی فکرو کړونو
دا ماته دومره معیوبه خبره نه بنکاریده بلکه که په غور ودرته سړی وګوری نو ددی هوا
بند ول په صحت مضر اثر پری باسی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماسره چه به چیرته څوک ملګري شو نو اکثر به یې مانه د سړي اود پښتنو تپوسو
کول او د اسې پوښتنې به یې کولې چه په اوربل د به یې زه حیران کړم . زمونږ بحث
مباحثه به د پر عجیبه وه مابه همیشه دا کوښښ کولو چه دوی په حقیقت پوه کړم او
دوی د زړو نوټه دا وهم او وپره لیرې کړم لیکن د عمر و نو وهم وپره لیرې کول اسان
کار نه و ، یوه ورځ را باندې یولیدې په خبرو خبرو کښې دا سوال وکړو چه مونږ ته اوروچه پښتو
د بنیادم وینې څکی ما ورته وویې چه هو ! هغه تپوس وکړو چه دا ولې څکي ؟ ما ځواب ورکړو
چه د بنیادم وینه د پره مزیداره وي او دهغې څکل هغوی له خوند ورکوي ، سړي حیران شو
او پوره یقین یې وشو چه دا رښتیا دی . ما تړې پوښتنه وکړه چه تا تر اوسه پورې د بنیادم
وینه نه ده څکلې ، هغه ووې چه : « بابړی بابړی » لږ ساعت پس تړی ما تپوس وکړو چه
تا سړي د یا پښتانه لیدلي دي ؟ د هغوی د حالت نه څه خبر داري ؟ د هغو خلکو سره
دې پیژندګلوی یا معامله شوې ده ؟ د هغوی د تهذیب او تمدن نه واقف یې ؟ زما
د دې قسم وینا په اوربل د سړي لږ غلی شو بیایی د روغوندی ، ځواب راکړو چه ما ته
د هغه ملک هیڅ قسم حالات معلوم نه دي نو بیا ما ورته ووې چه شاید تا ته د غیبو علم
حاصل دی او یا د پښتنو متعلق د رته څه الهام شوی دی ، هغه ووې چه نه ما خو د خلکو
د خولې د اخبرې اوربل دي او اکثر خلک همدا سې خبرې کوي ما ورته ووې چه د
خبرې تولې غلطې دی پښتانه هم د غسې خلک دی لکه څنګه چه تاسو یې . څنګه چه تاسو
کښې ښه او بد خلک شته د غه شان په پښتنو کښې هم شته . دا تولې خبرې د پښتنو د ښمنۍ
جوړې کړې او د هغوی پراپیګنډه ده د دې خبرو مطلب یې ستاسو تر ایستل او زمونږ
بدنامول دی ځکه چه تاسو نه و پرې او مونږ بدنام نه کړی نو بیا به په دې ملک کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا دشاهی څخنګه کوي . په اولو ورځو کښې خو به هره ورځ زمونږ په بارک کښې د پښتنو
متعلق نوې نوې قصې کیدلې او خبرې زمونږ په حق کښې ښې وې خکه ما له یکښې
د خبرو موقع په لاس راغله . یوه ورځې زمونږ ه د بارک هندوان ، سکهان او بعضې
د چلخانی افسران راجمع شوي وو زه هم راغلم او د دوی په جمع کښې شریک شوم زما
په راتلو سره د مجلس رنګ بدل شو او د پښتنو به باره کښې بحث شروع شو ما ورته
دوې چه د هندوستان خلکو ته د پښتنو په باره کښې د هیڅ قسم علم نشته او د دوی
په غوږونو کښې د پردی غلطی خبری زمونږ متعلق کښېنولی شوی دي . حقیقت دا
دی چه پښتانه دغسی نه دي لکه څنګه چه ستاسو خیال دی . په دې کښې سردار کرک
سنګه چه د سکهانو یو لوی لیډر وو ویل په دې کښې خو شک نشته چه پښتانه د پر
ځګړه مار دي ما ورته ووې چه سردار صاحب بې شکه پښتانه به ځګړه مار وی لیکن
سکه بهایی به هم دهغوی نه کم نه وي . زمونږ په خلکو کښې دا یو لوی کمی او نقص دی
چه مونږ همیشه د بل د کمزورتیا او عیبونو د راڅو ښکلو او لټولو په فکر او غم کښې یو او
خپلو کمزورتیا او عیبونو ته فکر نه کوو او په دې وجه خو مونږ نن په دنیا کښې برباد او
بیستمندیو په ځای د دې چه مونږ بل ته کوته وښیو ځان ته کوته نیول په کار دی
و د نورو د اصلاح نه ړومبی د ځان اصلاح فرض ده اول ځان دی بیا جهان
دی . زما د تولونه زیات تعلقات لاله دونی چند سره و او د بد قسمتی نه د تولونه .
زیات شک د پښتنو متعلق دهغه په زړه کښې ناست و او هیشه به یې ما سره د
پښتنو په معاملو بحث کولو او د پښتنو متعلق دهغه عجیبه عجیبه خیالات وو . ما به
دهغه د بد لولو او اصلاح کولو او دهغه د زړه نه د دې شکونو شبهاتو د لیرې کولو کوښښ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کول لیکن هغه داسی دهغه په زړه کښی مضبوط شوي دوچه دهغه الیستل یا د
اصلاح کول څه اسان کار نه و . زه چه یی به هرڅه ستری کړم نو اخر یوه ورځ می
ورته ووې چه لالهٔ جی تاسو په هندوستان کښی څومره یئ ځواب یی راکړو چه دو
ویشت کروړه اومونږ پښتانه سره حد کښی دوه ویشت لکه یو باوجود ددې دومره
زیاتوالی کې چیرې تاسو بیام د پښتنونه وپرېږئ . نو خدای دې په تاسو رحم وکړ
او داوپره دې ستاسو د زړه نه وباسی لیکن دا خبره یاده ولره چه داسی یوقو
ددې قابل نه دی چه ژوندی پاتی شی . دا دنیا دبزدلانو د پاره نه ده خو دا خبر
زما یاده ولره چه تر څو پورې تاسو پښتانه خپل وروڼه کړی نه وي او په دوی س
اعتماد کړی نه وي او ځان سره مو په لاین کښی او بده په او بده و د رولی نه وی ن
دا ملک ازاد پاتی کیدی نه شی او نه اباد پاتی شی په دنیا کښی دهیڅ یو بزدل قوم هست
پاتی کیدی نه شی . ددی وینا په اوریدو دلالهٔ جی څه ناڅه تسلی وشوه اوزه یی د
پښتونونه خلاص شوم .

زما دغابنو نومرض :

دلته د راتلو سره ماڅه قدری ورزش کول شروع کړل ولی چه زړه د بیر
ځنځیر و نونه ازاد شوم او په سرحد جبل کښی ما ته د ورزش کولو موقع هم نه وه څکه
چه هلته به زما په پښو کښی بېړۍ وې ورزش می نه شو کولی . دلته خو ما ته د ورزش
کولو موقع حاصله وه زما داخیال ؤ چه په ورزش کولو به زما صحت ته فایده ورس
زه به تکړه شم او وزن به می هم زیات شی لکه چه د سرحد په جبلخانو کښی خو زما
صحت او وزن ډېر کمزوری شوی و هلته خو به همیشه چکی کښی بند وم خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دځنا ورنه هم بد تر واوزما دمزاج مطابق سیاسی سوسایټی هم نه وه که چیرته
به سیاسی قیدیان ووهم زه به یې تری ښه په چکی کښی بند ساتلم او مشقت به می هم
هغه کولو چه په داکوانو او قاتلانو به کیدلو بلکه قاتلان او داکوان به دهغه مشقت نه د
رشوت په وجه بچ کیدی شول ماخو رشوت هم نه ورکولو او مشقت که به هر څومره
سخت وهغه به می پوره کولو او دخپلو وروڼو پښتنو دجنګونو، پرو جنبو او تر بګنوغم به
هم راسره و او چه په هغوی به دجیل افسرانو څه لوبی کولې هغه ما پخپلو سترګو لیدلې
دامی هم برداشت کولی نه شو دا ځای خو دخدای فضل و هغسی نه و دلته سیاسی
عالمانه ماحول کښی شپی ورځی تیریدې ټول پکښی قومی مشران راغونډ شوي وو خو راک
هم ښه و. دا ماحول ما دخدای له طرفه یولوی انعام ګڼلو او ددی انعام نه می پوره پوره
فایده اخیستل غوښتل، ډښتیا خو داده چه دغلته زما په نظر کښی د پر وسعت پیدا
شو او دپره تجربه می وشوه او دپره مطالعه می وکړه. با وجود ددی هرڅه زما صحت
به ورځ په ورځ خرابیدو دورزش کولو نه پس زما صحت تر څه فایده ونه رسیدله
و نه می ټول زیات شو بلکه څنګه چه دکمیدو طرف ته روان و هم هغه شان کمیده
حالانکه دلته ماته دهر قسم ارام حاصل و او دهیڅ قسم تکلیف راته نه و زمونږ
جیل سپرنټنډنټ میاں صاحب یو دپر نیک او شریف سړی و دهغه داخیال وو چه
ښایی دجیل داخوراک ددې پاره کافی نه دی اودی په دې مړیدی نه شی په دې
چه دی کمزوری کیږی او وزن یی کمیږي نو هغه زما د پاره نیم سیر پی دخوراک
زیاتی مقرر کړي لیکن ددې نه هم ماته څه فایده ونه رسیده او هیڅه به زما وزن
ټول په وخت کښی کمیدو. یوه وجه یی زما په خیال کښی دا هم وه چه زما د خپلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنځی سړه د پر محبت و او هغه به ماهره شپه کښې په خوب کښې لیده او بل د
سرحد د جیلخانو د کنده خوراک په وجه زما د غاښونو په اوروکښې پیپ (زوه)
شوی وچه د اکټر وکتلی نو ماته یې وویې چه ستا صحت د دې نه خراب دی او اوری
می د غاښونو نه جدا شوې وې . په غاښونو می پایوریا مرض حمله کړې وه او د خوراک په
وخت کښې به می د وریونه وینه هم تله څه وینه زما خو ریو سړه تهر بدله او معدی له به
تللې . غالباً چه هم په دې وجه زما صحت ورځ په ورځ خرابیدو د پرید په ورځ ما او
زما ملګرو د اخبره سپرنټنډنټ صاحب ته وکړه او هغه موخبر دار کړو هغه فوراً زما
اوری د وکتلی او مونږ سړه یې اتفاق وکړو وې منله چه ستا د صحت د خراب والی وجه
همداده لیکن د دې د کتو او مناسب علاج ډیاره د غاښونو د یولایق د اکټر ضرورت
دی او هغه په دې ښار کښې نشته چه داوکوری او مناسب علاج یې وکړې نو سپر
نټنډنټ صاحب د جیلخانو جرنیل ته ولیکل چه دی دې لاهور ته بدل شی ځکه چه
ده اوری د اوغاښونه خراب دي صحت ته یې نقصان رسیدلی دی چونکه دلته د د
کټر او علاج د یاره د ینتل سرجن نشته په دی وجه دې دی د لاهور جیلخانې
بدل کړې شی چه هلته یې یولایق د اکټر وکوری او علاج یې وکړي . دالیکل زما د پا
په جیلخانه کښې څه ورځ خبره نه وه داد سپرنټنډنټ صاحب شرافت او مهربا
وه ځکه چه قید یانو ته څوک د پیرنکیانو په حکومت کښې د سپی نظر هم نه کوي . د علا
د پاره بل ځای نه لیږل خو پریږده څوک د وپری نه د ناجور تیانوم قدر ې په خو
اخیستی نه شی او با وجود د ناجور تیا د اړو قدری نه ورکوی ځکه چه جیل والا قید
اړه د خدای مخلوق نه کښې او کوم سلوک چه هغه سړه کوی شاید چه په دنیا کښ

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلک ځنا ورډسره هم نه کوی . ما د پرقیدیان لیدلی دی چه خپل قید ونه په ناجوړ تیا
کښی په ولاړه ولاړه تېرکړی او اخر یوه ورځ سره ولکوی او مړشی . جیلخانه کښی چه څنګه
د یو قیدی مریض د پاره لیکل او سفارش کول یولوی بخت غواړی د غسی یولوی بخت
د هغه د منظور پدو د پاره هم په کار وی خکه چه د پرځله داسی وشی چه حکم راځی راځی نو
د مریض فیصله شوی وی یا د علاج کولو نه وتلی وی د دی قسمه د پرواقعات ما پخپلو
سترګو لیدلی دی . پرنګی چه د خدای د مخلوق د ذلت او تکلیف د پاره کوم فریبی حکومت
جوړکړی دی هغه نه دفتری یا کاغذی حکومت ویلی شی یعنی صرف کاغذ ونه د دستخطونو
د پاره دیو دفترونه بل ته او د بل نه بل ته لېږل او بیا پری دومره وخت تېروی چه اکثر هغه
اصلی مطلب فوت شی . دا تکلیف یوازی په جیلخانو کښی نه دی د پرنګیانو د هرې
محکمی دا حال دی .

یو کال د دواړو داډیزو کلی ته دسیند مخه شوه د کلی خلکو غږیانانو د پر
د خواستونه وکړل چه دهغی په سبب د پټهی کمشنر او نور د پر افسران د موقع کتو له
غلل او دا هر څه یې پخپلو سترګو ولیدل لیکن چه دفتری کاروایی پوره کېدله او حکم راتللو
او بوکلی وړی د او دکلی د شلو کانو د کنو د پره اعلی ځمکه یې هم سیند په مخه وړې وه
نو د ا یاد ولړی چه د دی قسم تول تکلیفونه صرف د خوار رعیت د پاره وی او څه وخت
چه د پرنګیانو داسی کار پیښ شی چه په هغه کښی د دوی خپل سود وزیان وی نو د هغی
اصلی اکثر پته یانون لاندی کېږی . داولی ؟ دا ځکه چه دا حکومت خو هغوی د خلکو
لپاره نه دی جوړکړی بلکه د خپلی فایدی د پاره یې جوړکړی دی .

د پیړۀ غازی خان په جیل کښی سیاسی قیدیانو سره سنه سلوک کېدلو اوزمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسی کلاس هم دپری نبی ورځی تپر پدلی. داروغه دپر ښه سړی و اودنه رو څیزونو
علاوه روزانه انګریزی او اردو اخبارونه یی هم راکول هیڅ چا ته دهیڅ قسم څه تکلیف نه
که چا به دبهر نه څه میوه یا نور داسی ضروری شیان راغوښتل نو هم ورته اجازه وه. څ
موده پس یو مولوی صاحب اسماعیل چه هغه دغزنوی خاندان نه و راغی اوځه ورځی
پس یی هیڅ په هیڅه داروغه سړه خبری وار ولی او نوبت یی بد ورد ورته و رسید
زمونږ ه تولو ملګرو ته د مولانا صاحب داحرکت ښه بنکاره نه شو او داروغه صاحب هم
دپره محسوسه کړه ځکه چه دهغه مونږ ه سړه د دې قسم سلوک نه ولکه څنګه چه جیلخانه
کښی قید یانو سړه وي دهغی ورځی نه یی مونږ سړه تلل پریښودل او قول رعایتونه یی
راباندی بند کړل اوزمونږ د پاره یی څلور پښتانه نمبرداران راوغوښتل او دهغوی
پیره یی په مونږ ودرولە لیدل رانو به اخبارونه په پته راغوښتل او په پته به یی لوستل
یوه ورځی یو پښتون نمبردار دغه اخبارونه ولیدل او ورغی او د دوی دلاسه یی
واخیستل دوی ورته دپرمنت وکه خو د دوی خبره یی ونه منله نمبردار دروازی
ته وان شو چه اخبار داروغه ته وښیي یوکس په منډه منډه ماپسی راغی اوماته
دوې چه لاړشه هغه نمبردار مونږ نه اخبار واخیست داروغه ته یی وروری هغه ته
نه منع کړه او اخبار تری واخله زه ورغلم هغه نمبردار ته می اواز وکه هغه راغی ماته
دا اخبار راکړه هغه راته دوې که داروغه صاحب دې نه خبر شی نو مابه مات کړی ما
دوې چه ته دې خلکو ته وکوره دوی دی جیلخانی ته په څه کښی راغلی دي؟ اخبار یی
راکړو اوما هغوی له ورکړه. خبر راغی چه د جیلخانو جرنیل دپره غازی خان ته په دوره
داجرنیل دپر سخت طبیعته سړی و اود کانګرس او قومی کارکنانو دپر سخت مخالف

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده حکم کړی وچه جبلخانه کښې به څوک نه کاندی کیپ اونه تورپتکی په سروي په دی
جبلخانه کښې چه څه سکهان وو دهغوی تورپتکی وو او چه هندوان اومسلمانان وونو
دهغوی کاندی کیپ ؤ دا ددی سپرنټنډنټ شرافت وچه نه یی سکهانونه ویلی وو چه
دا تورپتکی په سرول منع دی اونه یی مسلمانانو اوهندوانونه ویلی وو چه کاندی کیپ مه
په سروئ ۔ جه جرنیل راتللونو مونږ نه سپرنټنډنټ صاحب سوال ځواب وکړو چه دا
خیزونه په جبلخانه کښې منع دي که دیو ساعت دپاره تاسو دا په سر نه کړئ نو بنه به
دي مونږ د سپرنټنډنټ صاحب داخبره ونه منله چه جرنیل راغی زمونږ ددی سیاسی
ملګرو په سر یی تورپتکی اوکاندی کیپ (دکاندی جی دتوپی غوندی ټوپی) ولید نو غصه
شو اوداروغه تدیی وویل چه ددوی نه دې دا پتکی اوټوپی ولی نه دی اخیستی ؟ سپرنټ
ډنټ جرنیل ته ووې چه داروغه زه ددی نه خبر کړی وم خو ماورله ددی اجازه ورکړی
وه جرنیل حکم وکړو چه دا پتکی اوټوپی ترې واخلئ نو بیا دا سیاسی قیدیان خپلو کښې بیا ستل
فیصله یی وکړه چه داخو زمونږ قانونی حق دی چه څه اغوند وهغه به اغوند وکه چیری زمونږ
ددوی پتکی اوټوپی اخلی نو بیا به مونږ دانوری جامی هم ورکړو دلته ورته ماوویل چه
خو پخپله پتکی په سروم داټوپی خومی ستاسوله خاطره په سر کړی وه اوس زه څه کورم ؟
سردارکرک سنګه ماته وویل چه ته مونږ سره دې ایجی تیشن کښې مه شریکیږه په
دې وخ سپرنټنډنټ خپل دفتر کښې کښینا ستو یو یی ځان ته غوښتلو چه دچا به
ټوپی په سر وهغه ته به یی ویل ټوپی کوزه کړه اوچه دچا به پتکی په سر وهغه ته
یی ویل چه پتکی کوزکړه دغه شان یی ددوی نه ټوپی اوپتکی کوزکړل اوددوی
فیصلی مطابق ورپسی خپلی جامی هم وایستلی ۔ خو دخی پس ددی حال معلومولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پاره د پښتی کمشنر راغی سپرنټنډنټ او دا روغه ورسره وو ، زمونږ بادک ته راغلل
سیاسی قیدیان ورته راغونډ شول بحث شروع شو په بحث کښی دوی وران
شول سردار کرک سنګه پیرنګی د پښتی کمشنر ته ووې چه مونږه څومره ستاسو
خدمتونه کړی دي مونږ لیدل چه ستاسو مخونه سپین دی نو ستاسو زړونه به هم
سپین وی په دی دوران کښی یو سکه چغه وایسته « جوبولی سونهال » نور وتلو
حاضر و سکهانو ورلسپی په چغه وویل : « دست سری اکال » ددې نه پیرنګی ګډهراو شو
او په منډه زمونږ بادک نه ووتلو ، سپرنټنډنټ ته د پر په قار شو او دا یی وویل چه مه
صاحب په جیلخانه کښی اسونه ساتلی دي او هغه لی د د پر خوراک او ارام په وجه
کړی دی او بیایی هغه ته حکم ورکړو چه په دوی مقدمه وچلوه سبا له دا روغه راغ
او وې ویل چه زمونږ د جیل د اقانون دی چه څوک د اقانون مات کړی نو تر یوکال
پوری سزا ورکیدی شی نو اوس زه تاسوله حکم درکوم چه جامی د اغوندئ او ک
جامی نه اغوندئ نو سبا به در باندی مقدمه چلیږی . چه د اخبره دی سیاسی
قیدیانو او د بدله نو په مسلمانانو کښی یو مولوی محمد اسماعیل او هندوانو کښی
یو هندو چه زما اشنا و خو نوم یی رانه هیر دی دوی جامی د اغوستلی او باقی
هندوان و دکه مسلمانان تولو جامی د اغوستلی او سکهانو کښی یو کس هم جامی د اغ
سبا له مجسټریټ د اغی یو یو به یی ورته پیش کوو او هغه به نهه نهه میاشتی نور قید
زیاتولو او زمونږ د جیل هغه سپرنټنډنټ میا صاحب چه د پر ښه سړی و هغه لی
کړو او یو درجه یی ورته کمه کړه یعنی استینټ سرجن یی کړو او د دی جیل نه یی ب
کړو د هغه په ځای کپتان هیز راغئ د میا صاحب ګناه صرف داوه چه دی نیک

(c) ketabton.com: The Digital Library

شریف انسان و اوپه سیاسی قید یا نوپی زور زیاتی نه کولو او د خدای مخلوق سره
پی د سر یتوب سلوک کولو او قیدیان پی هم د خدای مخلوق کنلو زمونږ نوی سپرنتنلانت
یو انګریز مقرر شو چه هغه هم ډکزاری سړی و او قیدیانو سره پی سنه ګذاره کوله او د فوځ
نه سول ته را بدل شوی و د دومره خراب سړی نه و لکه چه دا نور سول والا وي او نه
هغوی په شان چالاک او دوکه باز و یوسم سړی و غریب ډیسیټ نه خبر نه و څه چه به ورته
وایه وغه وي هغه به پی کول مونږ سره پی سلوک شریفانه و لیکن لږ شان ایغ نیغ و ځکه
چه فوجی و په اوله ورځ چه زمونږ ه بارک ته راغی او ډاکډول وه پی ولید و چه څوک د ننه
نه پی څوک بهر څوک لامبی او څوک کرځی په دی ورځ خو پی غږ و نه کړو لیکن چه څه وخت
د وباره راغی نو دا معامله پی نوره برداشت نه کړه شوه زمونږ د بارک په مینځ کښی
یو درېد و او پښه پی ځمکی له را خلاصه کړه او وپی ویل چه زه دا نه غواړم زه دیو څو
منټو د پاره دوی له راځم هر چا له په کار دی چه په هغه وخت کښی خپل ځای کښی
ناست وي او زما د تلو نه پس چه څه کوی هغه دې کوی زمونږ د سیاسی ورونو
ډله متعلق به هم شاید دا خیال وچه دی به هم لکه د میا صاحب په شان چشم پوشی
وي ، ما زیکر د اروغه راغی او زمونږ تولو سیاسی ورونو ته پی د صاحب حکم ورا ورولو هر سړی
صاحب د خیال نه خبر شو . د پریلو په ورځ چه سپرنتنلانت زمونږ بارک ته راغی
د تول خلک د بارک د ننه پخپلو کلو ناست وو د دی په لیدو زه ډیر حیران شوم څه
وخت چه سپرنتنلانت و د تلو نو ما د دی ورونو نه پوښتنه وکړه او ورته می وویی
چه داسی معلومیږی چه تاسو هم اوس زما په شان خوشامدګر شوئ ځکه چه د اول سپر-
نتنلانت په وخت کښی نه کښینا ستئ او که ما به درته وویی نو تاسو به راته وپی چه مونږ ه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په شان خوشامد کړنه یو لیکن نن خو تاسو هم دننه کښې ناستئ او کوم کار چې درته
پرون بد ښکار ښکاره و نن څنګه ښه شو . بل پریږدا باندې چې بیا سپر نقشه نقشه راغلې نو
بعضې خلکو کتابونه مخ ته نیولي وو دایې هم پرې بند کړل او حکم یې وکړو چې زه کوم وخت
راځم هغه وخت کښې کتابونه مه کوړئ ، ددې نه پس د پریږدا په وخت کښې کتابونه کتل
هم بند شو شاید چې که دا کار زمونږ مخکښې سپر نقشه نقشه کړې وای نو چې زمونږ وړ
به ورسره څه کول چونکه دایو انګریز ؤ او بیا ورسره زور هم دی په دې وجه په چا کښې د
جرئت نه ؤ چې هغه برخلاف یې قدم پورته کړې وای افسوس په دې دی چې مونږ بس
څوک ښه سلوک کوی هغه ته نیغ یو او چې څوک موسره په دغلاه وهي نو هغه ته تیتاپیر و
ووا د پرخراب عادت دی او مونږ ته داسې عادت ټونه پریښوول په کار دي لږ ی
وړځی پس یې داروغه هم بدل کړو خو دده په ځای چې بل داروغه راغلی هغه هم ښه سړ
و او مونږ سره یې شریفانه سلوک کولو .

په دې کشمکش کښې زما د علاج د پاره د لاهور نه تلو حکم راغلی و لیکن چې دا لا
زمونږ نه پټ ساتلی و او مونږ یې پرې خبر کړي نه وو زه په بارک کښې ناست وم
وختی سحر یو نمبردار راغلی او ما ته یې ووی چې داروغه صاحب درته ناري وهي زه ښ
د لاسه هغه سره روان شوم ولی چې زه خبر نه وم چې زما د پهر تلو حکم راغلی دی
دفتر ته ورسېدو پولیس ولاړو زما شک راغلی چې شاید زما د بدلی حکم راغلی د
او ما د علاج د پاره لاهور ته بیایي د وررسېدو سره داروغه صاحب هم راته داوو
چې ستا د بدلی حکم راغلی دی اوته به د سپاهیانو سره لاهور ته ځې ما ورته ووې چ
ازکم ما له خو دومره اجازت راکړه چې د غه خپل ملګرې خبر کړم او رخصت تری

(c) ketabton.com: The Digital Library

څکه چه زه راتلم خبر نه وم ماتری رخصت اخیستی نه دی لیکن دا دوغه صاحب
زما ددی خبری نه انکار وکړو اوما ته یې ووی چه زه ستا تلل مناسب نه ګنم اوکه چیرې
ستاهلته څه سامان دي نو سړې به ولیږم چه هغه تاله راوړي ما ورته ووې چه زه
خو دسی کلاس قیدی یم زما به دځه سامان وی، زه خو صرف د رخصت اخیستلو
د پاره ورځم خوده اجازه راکړه اوچه څه وخت زما سیاسی ورونه زما د بدلیدو
اوپه دی طریقه زما د بوتللو نه خبر شوي دي نو هغو غریبانو نوم د پرکوشښتونه وکړل
چه یوبل سره مولیده کاته وشی لیکن افسوس چه په هیڅ شان مو دیوبل سره لیدلو کاته
ونه شو، جیل والو دومره مهربانی ضرور ما سره وکړه چه ماته یې په پښو کښی بیړی واچولې اویا به په پنجاب کښی سیاسی قیدی ته زمونږ د صوبې په شان د بیړو ولګولو حکم
نه وی ځکه چه زمونږ په صوبه کښی د سیاسی قیدی د پاره څه کلاس هم نشته او دوی
سره هم د اخلاقی قیدیانو په شان سلوک کیږی اوچه څنګه یو اخلاقی قیدی په سی کلاس
کښی وی چه کوم خوراک یا کومه جامه هغه له ورکیږی شی هم هغه خوراک اوهم هغه شان
جامه سیاسی له ورکیږی شی اوهغه سره چه څه سلوک وی د سیاسی قیدی سره
هم کیږی او دلته خو په پنجاب کښی سپیشل کلاس دی او دلته د سی کلاس قیدی
په جامه او خوراک او په سلوک کښی د هر فرق دی. پولیس زما په دوارولا سونو کښی
انګړی واچولې د دروازی نه بهر تانګه ولاړه وه زه یې په هغه کښی کښینولم او
سټیشن ته یې روان کړم چه څه وخت دا باسین غاړی ته ورسیدو نو جهاز تیار
و مونږ هم پکښی سوار شو او په خیریت سره پوری وتو د سین غاړی ته نژدی
د ریل سټیشن دی. چه سټیشن ته ورسیدو نو تانګه تونه مو واخیستل، په ریل کښی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپاهیانو یوسیت خالی کړو اوزه یې پکښې کښېنولم اوس په خلکو کښې هغه جوش اوخروش
نه وکوم چې په ابتدا کښې و د خلکو د رویې نه معلومیده چې تحریک بالکل سرمشوی دی
په دې وجه مونږ دې پر په ارام خپل سفر وکړو او په سبا له مونږ لاهو دته ورسیدلو زه
یې د ستیشن نه پیاده جیلخانې ته بوتلم دلته هم قلاره قلاری وه په خلکو کښې د تحریک
متعلق هیڅ قسم جوش او جذبه نه وه جیلخانې ته ورسیدو او پولیس زه
جیلوالاوو ته په حواله کړم او هغوی رخصت شو ددی پولیس والو ما سره د پردښه
سلوک و او د هیڅ قسم تکلیف یې ما ته راکړی نه ؤ بلکه زما د ارام د پاره یې کوشش
کړی و. جیل والا زه یو نمبردار ته په حواله کړم د تولونه اول هغه زه کوډام ته بوتلم
اوزما چې کومې اغوستې جامې وې اومالې په ډیره غاړی خان کښې زما د قد
مطابق جوړې شوې وې نو هغه یې رانه واخیستې او د سرحد په شان نورې
د تماشې جامې راکړې چې د هغې په اغوستو زمانه یو عجیبه څیز جوړشو. په دې
جامو کښې او د سرحد د جیلخانو په جامو کښې څه فرق نه وزه به د دته د دې
جامو نور څه ذکر وکړم ما ته پکښې ځان یوه تماشا ښکاریده نو معلومه نه ده چې
خلکو ته به پکښې څنګه ښکاریدم او بیایې بوتلم او اخلاقی قیدیانو سره یې په یوه
چکی کښې بند کړم اوورې راپسې جرنده کړو دا د زړې زمانې کچه او د څتو
جوړې چکی وې ځای په ځای پکښې چاودونه وو. او چرته پکښې د ننه او هوا
د پاره روشندانونه نه وو زه د علاج د پاره د غې جیلخانې ته لیږلی شوی وم
بلکه داچې په دغه جیلخانه کښې د پر سیاسی قیدیان وو او د هغوی بیله احاطه
وه په ځای د دی چې زه یې د هغوی سره بند کړې وای زه یې دلته د اخلاقی

(c) ketabton.com: The Digital Library

قید یا نو سره په یوه حکی کښی بند کړم ما به په زړه کښی وې چه زه خوبی د
علاج د پاره د لته راپر لی یم او په دی ګرمی کښی په داسی چکی کښی د اخلا قیانو سره
بند ول دا به زما د صحت د پاره ښه فایده ورسوي ؟ چه ما زیګر شو نو ما پسی یی ور
پرانیستو او زه یی صرف دومره بهر کړم چه بنګی زما د چکی نه د بولو کمله را وایسته
او صافه یی کړه او د شپی د پاره د اوبو منګوتی یی پک کړو او کښینوده او لاړه مالګه
یی په یو تور بالتی کښی ټکولی او د ودی ډاکړه او په تندی سره یی بیا په چکی کښی بند
کړم جو بند ه یی راپسی واچوله او د وی را نه لاړل هغه د ودی د چا زړه ته کیږ ه ؟
هغه انسانی خوراک خونړ ه بلله د اچه زه ټوله ورځ په چکی کښی بند وم د ودی می څنګه
زړه ته شوی وای لیکن بیا هم څه نه څه په زور زور می تپره کړه اخر د اچه شپه راغله
او زه او ده شوم د هغ چا د د نو ونه کیږی د ماشی او مینځی را خواره شو او په چیغو
یی په ما کوتی پوری کړ ې بل طرف ته د دومره ګرمی وه چه خوب تری چا کولی نه شو کله
چه ته لږی ستړ کی بدی ورغلی نو د بدلی د پیره دار به راغی او هغه به را ویښ کړم .
په جیلخانه کښی د ښ د ښ ګهنټی پس پیره بدلیږی . نو چه نوی پیره دار راشی
تاته به اواز کوی او ته هغه و خته پوری به لګیا وی چه تا ورله اواز ورکړی نه وی او هغه
تسلی و نه شی چه سړی په چکی کښی موجود دی چې ته تللی نه دی په جیلخانه کښی د
قیدی غریب د هیڅ قسم د ارام خیال او فکر څوک نه کوی . په دی طریقه شپه تپره شوه
سبا شو سحر و خټی یو نمبر دار راغی زه یی د چکی نه بهر کړم او چکر ته یی بوتلم هغلته
نور قیدیان جوړه جوړه ناست وو او زه یی هم هغوی سره کښینولم زه یی هم بل قیدی
سره جوړه کړم او مونږ ته د خوځیدو یا و د ښ د قدمو اجازت نه و د اځای په

(c) ketabton.com: The Digital Library

مزید اړو اوګیر چاپیر تری ډېری وڼی ولاړی وې او هری یوی وڼی سره یوه ګډ یله
تړلی وه او یو یو سړی ورته ښینت په لاس ولاړ و او په ډېر زور سره به یې هغه ګډ یله وهله
ددی په لیدو زه حیران شوم ولی چه ما دا قصه چرته په نورو جیلخانو کښی لیدلی نه وه د
ملکرو قیدیانو نه راته معلومه شوه چه دا قیدیان دي او د ښینتو نو وهلو جل زده کوی چه د
ضرورت په وخت کښی قیدیان په ښه شان په ښینتو نو وهلی شی په دی کښی ګورو تیګوره
قیدی یې دی ځای ته راوست دهغه د جامونه دا نه معلومیده چه کښی دی قیدی دی
ښه پتلون، ښه کوټ او ښه توپی (Hat) په سر وه هغه یې نه زمونږ په شان جوړه کړو
اونه یې کښینولو هغه خپله ټیلایی کوله چه په دې کښی دا روغه راغی لیکن دې ګوره د دا روغه
هیڅ پروا ونه کړه دا روغه صاحب د تولونه اول دهغه په ټکټ د ستخط وکړو دهغه
د رخصت کید ونه پس معلومه شوه چه دا یو ګوره دی او په زبر زنا کښی قید شوی
دی لیکن با وجود د دی قسم ذلیل او ظالمانه جرم دهغه د سړیتوب جامی د سړیتوب
خوراک او د سړیتوب سلوک و او مونږ چه د خپل قوم ملک او د اسلام په خدمت کښی
بی ګناه قید یو او هیڅ جرم موکړی نه و نو مونږ سره د دی قسم سلوک و چه انسان خو
پرېږده شاید چه ځناور و سره به هم چاکړی نه وي څه وخت چه دا روغه زما ټکټ او
او د ستخط یې کړو او ورته دا هم معلومه شوه چه زه سیاسی قیدی یم او د علاج د پاره
راغلی یم د دی د پاسه بیا یې زه واپس هغی چکی ته ولیږلم او په هغه چکی کښی یې ښه
کرم دا دا روغه مسلمان و او خیر الدین خان یې نوم و ما په تولو جیلخانو کښی لیدلی
دی چه مسلمانان د پېر ګیانو په ډېر وفادار دی او د پېر ګیانو د خوشالئ د پاره
سیاسی قیدیانو سره هر قسم بد سلوک کوی، زما د راتلونه چه سیاسی قیدیان خبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی دي چه هغه راغلی دی او په چکی کښی بند دی ددی په اوربد وسره هغوی
کوشش کړی او داروغه تهورغلی دی او هغه ته یی ویلی دی چه دی خو سیاسی
قیدی دی نو داخلاقی قید یا نو سره څنګه بند کړی دی دی خو مونږ سیاسیانو
سره بند وال په کار دی په دی سیاسیانو کښی د پنجاب لوی لوی لیډران مسلمانان
او هندوان وو داروغه صاحب دهغوی نه یرپدلا نو په دی وجه زه یی د سیاسیانو
هغی احاطی نه بدل کړم داځای د پرښه ویو خو د پرلوی وبل پکښی د پری ولی او
سوری وچکی او بارکونه یی پاخه او هوادار او هوا به پکښی هم لګیدی شوه زماد
راتلونه چه به خوک سیاسی وو نه خبر پدل هغوی به زما کتوته راتلل او ما سره به یی
ګړه برابره کوله دلته دهر خیال دهر مذاق او هری عقیدی خلک وو او د دوی صحبت
زما د پاره یوه غنیمت وُ ما به هر چا سره تبادله خیالات کوو او د هغوی د علمی
خبرو او تجربو نه مانه د پره فایده ورسیده زما مثال د مدرسی د یو طالب علم و
او د پرښه وخت می د دوی سره تیرپده او د دوی د صحبت نه ما د پره څه حاصل
اوزده کړل او تجربه او معلومات می زیات شول په دې جیلخانه کښی مونږ نه څلور
کسه د خلافت قیدیان وو چه یو آغا صفدر، بل ملک لال خان و او دریم یو رضا
کار و چه غلام محمد یی نوم و، او څلورم زه وم او د کانګرس د پر قیدیان اولیډران
وو مانه د نورو نو مونه هیر دی یو د لاله لاجپت رای نوم راته یاد دی، په کانګرس
کښی چه څومره خلک قید وو هغه ټول هندوان وو، د پرښه خلک وو او ما سره یی
د پره مینه او محبت وځلور ورځی پس زه یی دفتر ته وبللم او سپر نټنډنټ ته یی
پیش کړم هغه زما غاښونه او اوری وکتلی هغه هم د اکټر و او وی ویل چه زه به دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مزید اړه واوګیر چا پیر تری ډېری وڼی ولاړی وی او هری یوی وڼی سره یوه ګډ یله
تړلی وه او یو یو سړی ورته ښینت په لاس ولاړ و او په ډېر زور سره به یې هغه ګډ یله وهله
ددی په لیدو زه حیران شوم ولی چه ما دا قصه چرته په نورو جیلخانو کښی لیدلی نه وه د
ملګرو قیدیانو نه راته معلومه شوه چه دا قیدیان دي او د ښینتو نو وهلو چل زده کوی چه د
ضرورت په وخت کښی قیدیان په ښه شان په ښینتو نو وهلی شی په دی کښی ګورو تیګوره
قیدی یې دی ځای ته راوست دهغه دجامونه دا نه معلومیده چه کنی دی قیدی دی
ښه پتلون، ښه کوټ او ښه توپی (Hat) په سر وه هغه یې نه زمونږ په شان جوړه کړو
اونه یې کښینولو هغه خپله ټیلایی کوله چه په دې کښی داروغه راغی لیکن دې ګوره دداروغه
هیڅ پروا ونه کړه داروغه صاحب دتولونه اول دهغه په ټکټ دستخط وکړو دهغه
درخصت کیدو نه پس معلومه شوه چه دا ګوره دی او په زبر زنا کښی قید شوی
دی لیکن باوجود ددی قسم ذلیل اوظالمانه جرم دهغه د سړیتوب جامی دسړیتوب
خوراک او د سړیتوب سلوک و او مونږ چه د خپل قوم ملک او د اسلام په خدمت کښی
بی ګناه قید یو او هیڅ جرم موکړی نه و نو مونږ سره ددی قسم سلوک وچه انسان خو
پرېږده شاید چه ځناور و سره به هم چاکړی نه وي څه وخت چه داروغه زما ټکټ او کتو
او دستخط یې کړو او ورته داهم معلومه شوه چه زه سیاسی قیدی یم او د علاج دپاره
راغلی یم ددی د پاسه بیا یې زه واپس هغی چکۍ ته ولیږلم او په هغه چکۍ کښی یې ښه
کرم دا داروغه مسلمان و او خیرالدین خان یې نوم و ما په تولو جیلخانو کښی لیدلی
دی چه مسلمانان د پیر نګیانو نه ډېر وفادار دی او د پیر نګیانو د خوشالۍ دپاره
سیاسی قیدیانو سره هر قسم بد سلوک کوی. زما د راتلونه چه سیاسی قیدیان خبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی دي چه هغه راغلی دی او په چکی کښی بند دی ددی په اوږد وسره هغوی
کوشش کړی او دا روغه ته ورغلی دی او هغه ته يې ويلی دی چه دی خو سياسی
قيدی دی تاد اخلاقی قيد يا نو سره څنګه بند کړی دی دی خو مونږ سياسيانو
سره بند وال په کار دی په دی سياسيانو کښی د پنجاب لوی لوی ليډران مسلمانان
او هندوان او دا روغه صاحب دهغوی نه ير پاڼه نو په دی وجه زه يې د سياسيانو
هغی احاطی نه بدل کړم داځای د پرښه ويځوند پرلوی وبل پکښی د پری ونی او
سوری وچکی او بار کونه يې پاخه او هوادار او هوا به پکښی هم لکيدی شوه زماد
واټلونه چه به خوک سياسی ودرونه خبر بدل هغوی به زما کتونه راټلل اوما سره ببری
کړه بره کوله دلته دهر خيال دهر مذاق اوهری عقيدی خلک وو او د دوی صحبت
زماد پاره يولوی غنيمت وُ ما به هر چا سره تبادله خيالات کوو او د هغوی د علمی
خبرو او تجربو نه مانه د پره فايده ورسيده زما مثال د مدرسی د يو طالب علم و
او د پرښه وخت می د دوی سره تير پاڼه او د دوی د صحبت نه ما د پره څه حاصل
اوزده کړل او تجربه او معلومات می زيات شول په دې جيلخانه کښی مونږ ه څلور
کسه د خلافت قيديان وو چه يو آغا صفدر و، بل ملک لال خان و او دريم يو رضا
کار و چه غلام محمد يې نوم و، او څلورم زه وم او د کانګرس د پرقيديان اوليډران
وو مانه دنورو نومونه هيرد ی يو د لاله لاجپت رای نوم راته ياد دی، په کانګرس
کښی چه څومره خلک قيد وو هغه ټول هندوان وو، د پرښه خلک وو او ما سره يې
د پره مينه او محبت وځلور ورځی پس زه يې دفتر ته وبللم او سپر نټنډنټ ته يې
پيش کړم هغه زما غا سنبونه او اوری وکتلی هغه هم د اکټرو او وې ويل چه زه به دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندی نه پوهیږم ، په دی باندی یود غاښونو ډاکټر (Dental Surgeon) پوهیږ
شی دا دهغه کاردی مانډي ووې چه ته خپل خرڅ باندی د دنتل سرجن راغوښتی شی
مالدي د علاج کولو اجازت راکړو چه ته خپل خرڅ باندی د دنتل سرجن وعقواړه چه ست
علاج وکړي زه چه واپس خپل بارک ته راغلم دا قصه می سیاسی قید یانو دوونوته وکړه
هغوی زما د پاره د ډاکټر د غوښتو انتظام وکړو او د ډاکټر پریم نات د دنتل سرجن
د رابللو فیصله یي وکړه سبا له جیل والو تیلفون په ذریعه هغه له خبر ورکړو او د
خبر پلو سره هغه جیلخانی ته زما د کتو د پاره راغی زه یي چکر ته بوتلم او د دارو غ
په موجودګی یي زما د غاښونو او ورو ملاحظه وکړه هغه زما په حالت د پرافسوس
ظاهر کړو چه حکومت د خراب خوراک په وجه ستا صحت بالکل خراب کړی دی
او بربادکړی دی په دې مینی او محبت سره زما غاښونه او اوږی په ښه شان
سره صاف کړل او کوم غاښونه چه خراب شوی وو هغه یي والدنتل او د مخکښې د پا
د هغی دارو او د استعمال طریقه یي راته وښودله او د پر تحقیق یي را باندی وکړه
چه باقاعده دی خپله خوله صفا کوه که نه تول غاښونه به دی برباد شی اوبل یي زما
د پاره د خوراک تجویز وکړو چه همیشه سبزی او هر قسم تازه میوه وخوره بلکه دایي
په تکلف د رج هم کړل او دا روغه صاحب ته یي ووې چه دا رو د دې مرض د پاره د
فایده مند نه دی لکه د اخوراک چه فایده مند دی . د ډاکټر ښه همت ، همدردی ،
او محبت چه کوم اثر زما په زړه کړی دی هغه تر اوسه پوری زما د زړه نه وتی نه دی
او نه زمانه هیږدی د رخصتید و په وخت ما ورته ووې چه زه غریب نه یم جیلخانه
کښی می روپۍ جمع دی د فیس بود را باندی کیږی دا به ستا مهربانی وی چه ست

(c) ketabton.com: The Digital Library

څومره فیس کیږی هغه ته مانه واخلی : هغه ددی خبری نه انکار وکړو اوچه څه وخت داخبره ماورته دوباره وکړه هغه ماله داجواب راکړو : « ماله به شرم نه راځی چه زه ددا سی خلکونه فیس واخلم چه هغوی د قوم او د ملک د ازادی ترقی او بهبودی دپاره جیلخانوته راغلی دی اوزمونږ دپاره ددی قسم تکلیفونه او مصیبتونه برداشت کوی نوکه چیری مونږ دومره قربانی نه شوورکولی چه جیلخانو ته لاړشو داځکولی شوچه دخدای دپاره دهغوی خدمت وکړو . » ددی په اوریدو زه هم چپ شوم اوماله خبره ونه کړه هغه راته رخصت شو اوزه واپس خپل بارک ته راغلم اوداقوله قصه می خپلو ملګرو ته وکړه . ددی جیل داروغه چه د هغه نوم خیرالدین خان و د پرچالاک ، هوښیار ، تجربه کار او د پرله پسه رشوت خور و او سپرنټنډنټ یی داسی پیژندلی وچه ددی به څه زړه غوښتل هغه به یی کول او چه سپرنټنډنټ به یی کوم خوا روانولونو هغی خواله به هغه روانیده او چه څانته به یی زړه غوښتل . پی ، ماسته ، د بله ډوډی نه او غوښه یی ورته ګڼله حالانکه دا کار د سپرنټنډنټ دی او الکټر د اخیزونه د هغو خلکو د پاره وی چه څوک ناجوړه وی لیکن ده به سپرنټنډنټ باندی د اخیزونه د روغو خلکو د پاره ګڼلو په سیاسی قیدیانو کښی چه څومره د سړخلک وو او د چا به لږ و د پرسوخ و او خپل اواز به یی اخبارا تو ته رسولی شو د هغو تولونه یر بده هغه تولوله یی څه نه څه ورکول او ددی نه علاوه په ملاقاتونو کښی او خطونو او کتابتونو کښی به هم ورسره رعایت کولو او دځان یی ملګری کړی وو لیکن کوم سیاسی قیدیان چه بی اسری وو او چایی اواز اوریدی نه شو نو د هغوی دپاره باوجود دناجوړتیانه هم څه نه ؤ . اوچه به د داروغه صاحب څه شا منډی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولی او د خپلو وړونو خبری یې افسرانو ته رسولې شوی ، هغه به که غټ کټ او یا روغه صاحب به دهغه تکټ واخیست او چې څه به یې زړه غوښتل هغه به یې سپرنټنډنټ صاحب باندې دستخط کړو به په دې چل یې ټول خلک ځانته محتاجه کړی وو او هغه سړی به د دارو غه صاحب رضا کولو او خوشحالولو کوشش کولو دا ماته د سیاسی قید یا نو د پاره به پرد ذلت او د شرم خبره ښکارېده ، سپرنټنډنټ بالکل یوګوګوو بغیر د دارو غه نه به یې څه نه کول اکثر سپرنټنډنټان هم داسی وی ماچې څومره د جیلخانو سپرنټنډنټان لیدلې دی د ټولو دغه یوشان حال وی ، زه خو په دې نتیجه رسیدلی یم چې سپرنټنډنټان نه په بالکل اړو ضرورت نشته دی داخو په جیلخانو باندې بوج دی ځکه په جیلخانه کښې هم هغه کیږی چې څه دارو غه کوی دالویی لویی عهدې پیرنکیانو د خپل قوم د پاره ساتلی دی . د جیلخانو دا سپرنټنډنټان به اکثر سول سرجنان وی او سپرنټنډنټ ډاکټری ډاکټر مقرر ول یکار نه دی . ډاکټر جداسری په کار دی ، چې د هغه د قید یانو او د جیلخانې انتظام سره څه غرض نه وی ، او په ولایت کښې انګریزانو پخپل ملک کښې د جیلخانو د پاره هغه طریقه اختیار کړې ده ولی چې ډاکټر سپرنټنډنټ وی نو هغه اکثر د جیلخانې انتظامی معاملاتو په وجه د ناجوړه او کمزوره قیدیانو حق تلفی کوی او مریض ته د مریض په ستر که نه کوری .

زمونږ په احاطه کښې به چې څه وخت دارو غه صاحب راځي نو شو تو هر چا به د کوشش کوو چې ځان ورته د نورو نه ډومبې ور او رسوم او سلام ورته کوم څوک چې به خبر پدل هغه به د دارو غه صاحب په خدمت کښې حاضر پدل ، او د دارو غه صاحب نه به چې پیره جمع شول چې سړی ته به مبله او تمانشته معلومېده چونکه ماته د اکا رینیه نه ښکارېده زه د خپل ضمیر نه مجبوره وم ما به په دې کښې څه حصه نه اخیسته دا نه چې کښې دارو غه صاحب

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه زه خفه وم، یا می دهغه سلام نه کوو، داسی نه وه ماله چه به نزدی راغی، نو سلام
به می ورته کوو او د سلام د پاره به ورپسی ورتلم نه نو به دې خبره شاید دا هغه صاحب
زمانه خفه وُ او با وجود زما د کمزورتیا او ناجوړتیا زما په تکلیف چه کوم پی پیره غاړې۔
خان کښې لګیدلی وُ هغه یې هم بند کړی او د ینټل سرجن چه زما د پاره کوم خوراک
اجازت کړی، هغه یې هم ماته نه راکوه، زما ملګرو به دا خبره محسوسه کوله لیکن د
ر عایتو نو په وجه یې څه نو ټس پرا خیستی نه شو، اخر یوه ورځ زما ملګرو دومره جرئت
وکړو چه دا روغه صاحب ته یې ووی چه کوم خوراک دده د پاره ډاکټر صاحب تجویز
کړې دی، مهربانی وکړئ هغه دده د پاره جاری کړه، هغه ورله جواب ورکړه چه دی
دی سپرنټنډنټ صاحب ته ووایی، زه یوه شوم چه دده زړه نه دی. ولی چه ماته معلوم
وه چه سپرنټنډنټ صاحب خو دده په لاس کښې دی او بغیر دده دوینا نه څه نه کوی، لیکن
زه دی خپلو ملګرو مجبور کړم چه ته ضرور هغه ته اُوایه بله ورځ چه زه سپرنټنډنټ صاحب
وفترته اوغوښتم ما ورته ووی چه تاته به معلومه وی چه د ینټل سرجن زما په تکلیف
زما د پاره د مرض دغا ښونو د علاج په طور خوراک لیکلی دی او راته یې ویلی دی چه دا
ښتا د مرض دارو دی. داخوړه، دا به ستا مهربانی وی. چه دا خوراک زما لپاره مقرر
کړې او یا ماته اجازه راکړې چه په خپلو پیسو دا خوراک ماته راګیدی شی، یعنی زه یې
خپلو پیسو راغواړم، هغه ددی دواړه خبرو نه انکار وکړو او ماته یې ووی چه زه یې مناسب
نه ګڼم چه تاله یې درکړم، ما ورته اووی چه تاته به یاد دی چه تا ماته وئیلی وو، چه زه
د دی مرض ډاکټر نه یم او نه پوهیږم نو چه ته بیا په دی پوهیږی نه، نو ته بیا څنګه یو خوراک
مناسب او بل خوراک نامناسب ګڼې، نو بیا یې دا خواب وو چه د خوراک په معامله کې پوهیږم

(c) ketabton.com: The Digital Library

اومانته د دی هیڅ ضرورت نه ښکاری ، ماپه زړه کښی داخیال وکړو چه کوم ځای انصاف
نه وی اونه څه قاعده اوقانون وی ، دیوسړی رضا اوویناقانون وی ، هغه سړه زیاتی
بحث کول څه فایده مند نه وی ، په دی وجه زه چپ شوم اوبهر ته راووتم اوخپل بارک
لاړم په دی جیلخانه کښی د پرپښتانه وو لیکن زمونږه احاطی ته به راتللی نشو ، کله ناکله
به یی په مونږه دشپی پیره لګیده ، هغوی ته به ماسړه دخبرواترو د پاره کمه موقع
وه ، دلته یوپښتون ملازم هم وو چه د دواوی دسوکړو دکلی وو ، دهغه پیره به د
زمونږه په بارک لګیده ، د پرښه سړی وو ماسړه یی د پاره مینه وه باوجود دینه
ماته منع کولو لیکن بیاهم هغه به راته کله ناکله څه څیز راوړه زه په جیلخانه کښی د پټه
څیزونو سخت مخالف یم ولی چه په دی باندی په سړی کښی کمزوړتیا اوبزدلی پیدا
کیږی ماته د پرپوهه کولو او منع کولو هغه نه منع کیده هغه سړه به زما سره کپ شپ
لګیده و هغه تازه د ملک نه راغلی و اومانته به یی د ملک قصی کولی دهاړ پشکال و
وی کومی سره په زور کښی وه د وړځی خوبه لاځه د پرتکلیف نه وو ، ولی چه د پری
وی اوسودیی وو ولی دشپی تپرول ګران وو ځکه چه بارک کښی به بند وو اکثر به د
بجو پوری ډکومی دلاسه چاته خوب نه ورتللو خوچه شپه به لږه څه شوه نو بیا به ماشو
غذا بولو ځکه چه لاس ، پښی په صورته بربندی وی د پټولو څه شی نه وو چه
ماشوم ځان پټ کړی وی . ولی چه د قیدی اوړی ، ژمی اغوستن کمبل دی
پ ګومی کښی څوک ځان ته کمبل نژدی کولی نه شی ، زه دیوی میاشتی پوری په د
جیلخانه کښی وم اودی خلکو سړه می د پرښی شپی وړځی تپر یدی چه په دی کښ
واپس د پیره غازی خان ته بدل کړم چه څه وخت زه د پیره غازی خان جیل ته ور

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ماته معلومه شوه چه د جبل والا او سیاسیانو په مینځ کښې جوړه شوې وه . جبل-
والا و هغه د سیاسیانو بارک ته د اولېږلم ، قول راته راغونډ شول او زما په لېدو سره هغوی
د هر خو سنحاله شول راتر غاړه وتل او په دې وجه مینې یې راسره ستړی مشی وکړل زما مهربان
لاله دوني چند چه د هغه د جبل نه وتلو کښې لږې ورځې پاتې وې راتلې وویل شکر دی
چه ته راغللی اوس می لیدی ، ګوندې ستا په دې طریقه جدایي او د نه لیدو ارمان
په زړه پاتې شوی و سبا لاچه پسرلنۍ نټ راغې نو تولو نه اول ورسره لاله دوني چند
زما د خوا ابو جاموذکر وکړو او وې ته یې وویل چه کم از کم ده له دې دده د قد مطابق جامې
ورکړې ستې اوبیایې ورته زما د خوراک لپاره تکټ سنګاره کړو ، هغه زړه دا وغه ته حکم
ورکړو چه ډله دده د هېچ مطابق جامې فوراً ورکړئ اوکه چرته کوم کښې نه وې نو ورته
یې جوړې کړه او زما په تکټ یې نیم سیر شوده او یوه چیتا کې کوچ زما د خوراک د پاره
ولیکل زما د اتلو نه څو ورځې ورسته روژه را غله څه وخت چه روژه را نژدې شوه
نو زمونږ ه هنډوانو ملګرو سپرلنۍ نټ سره ولیدل او هغه ته یې د روژه دار و لپاره د هم
قسم ارام رسولو او باقاعده انتظام کولو عرض وکړو ، سبا له چه څه وخت سپرلنۍ نټ
راغې نو هغه ته پوس وکړو چه څوک څوک به روژې نیسي او دا حکم یې وکړو چه څوک روژې
نیسي هغوی ته به د چېل خوراک نه یو سیر شوده او یوه چیتا کې غوړې زیات ورکیږي شي
او د پیشمنۍ پاره به د تازه خوراک انتظام هم وکړي شي مونږ ه دده د دې مهربانۍ نه
شکریه ادا کړه او هغه ز مونږ ه د بارک نه رخصت شو مونږ ه تول شپږ مسلمانان
وو په دې کښې دوه کسانو د روژې نیولو نه معذرت سنګاره کړو چه په هغې کښې یو
بیرسټر و او بل طالب العلم وو ، مونږ ه څلورو کسانو په روژو نیولو باندې لاس پورې کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پیره غازی خان دهاړه اوپشکال کړهی اسان کار نه و لیکن د خدای پ فضل مونږه د
هیڅ تکلیف ونه شواو په آرام اوخوشحالی ختمه شوه اواختر راغی . د قید یا لوغړ یا نانو
څه اختر وی . د اختر نه پس لاله دونی چند انبالوی اوخان عبدالرشید خان خلاصیدل
مونږ تولو سیاسی قید یانو ورله په خپل بارک کښی دیوی پارټی اواړس ورکولو انتظام
وکړو . په پارټی کښی هغی کسانو تقریرونه هم وکړو او د هغوی خدمات اوقربانی خلکو
اوستایلی . په اخر کښی لاله دونی چند اوخان عبدالرشید خان د تولو رونو شکریه اد
کړه اووعده یی وکړه چه مونږه به د قوم اوملک هر قسم خدمت کولو ته تیار یو . اوپ
مینه اومحبت سره رخصت شول .

د پیره غازی خان د آب وهوا په لحاظ د پرخراب ځای دی گرمی پکښی د
زیاته وی ، بارانونه پکښی نه کیږی ، کال کښی یو وار یا په دوهم کال به باران وشوا
داوبو د باران په ځای د خاورو بارانونه د پروی اوکله کله به داسی سیلی راغل
چه دوه ، دوه ، درې درې شپی به خاوری وریدلی ، د صحت لپاره د
خاورو باران د پر خطرناک وو ، داسی یوه نوی اوباریکه دوړه به آسمان
راوریده چه لیدی نه شوه لیکن چه گیر چاپیره به دی هرڅه ته کتل نو هرڅه د
د دوړو نه ډک وو . څه وخت چه به دا دوړه شروع شوه نو نمر به یی پټ کړوا
دوړیځو په شان به ډنډ ورځ تیاره شوه د دی زول نه ځان ساتل ناممکن وو ځا
خو پریږده چه خوراک بیخ کول ناممکن وو چه څه پرې دی خوړل هغی کښی خاورې
وی چه لاړی به دی توکلی هغه به د خاورونه ډکی وی چه پوزه به دی سونغ
هغی کښی به خاوری وی نه تړی د چا جامی بیخ کیدی شوی اونه تړی نه بستر

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکه پاتی کیدی شوه چه سحر به دخوبه را پاخیدو چه په بستره به څنګه اوده شوی
وهم هغه شان چاپ به پری پاتی وو هر چا به خپل مخ ، خپل غوږ وینه نیولی وو هر
سړی به تماشه وو ، چه یوبل ته به موکتل نوخندا به راتله او بیا ماته د پرتکلیف
په دی وو چه ماسره دنورو په شان د پری جامی نه وی ماسره یوه جوړه جامی وی
څکه چه دسی کلاس قیدی لپاره په شپږو میاشتو کښی دیوی جوړی دورکولو حکم
وو او دا هر وخت د ینځل او وچول اوبیا د دوړو نه بچ کول ناممکن وو د دینه
علاوه د دوړو نه د کی سیلی ر به هم کله نه کله راتللی لیکن د دی تولونه زیات د
کلیفونه د ک یوبل کرم باد وو چه تولګړی کښی به باقاعده چلیده ، د سحر
اوو بجو نه به شروع کیده او د څلورو بجو پوری به وو ، دا به دومره کرم وو چه په مخ
ر دی ولګیده نو تا به ویل چه اور دی او د وجود هره څړکنده حصه به یی سوز وله
دی دلاسه به اخلاقی قید یا نوټه د پرزیات تکلیف وو او بیا خاص چه کوموقیدیانی
ر نمس یا په باغ کښی کار کولو ، هره ورځ به څلور پنځه کسان بیهوشه کیدل کرمی به د هل
نا کله به د کرمی دلاسه یو دوه مړه کیدل ، مونږ به تولی دروازی د خپل بارک
دی کړی وی ، د څلورو بجو نه به مخکښی د بارک نه راوتلی نشو ، په بارک کښی به
ننه هم دومره کرمی وه چه څوک به د کرمی نه اوده کیدی نه شو او د هر سړی نه به خولی
سی بهیدی چه تا به ویل چه اوس دسین نه راوتلی وی ، د شپی به هم د پره کرمی
وه لیکن کرمی سره به ګډاره کیده ، د دغه سیلی نه بچ کیدل ګران وو او ماسره خو
څان د پتو لو هم څه نه وو ، کمبل خو وو ، هغه مو د کرمی په وجه څان ته رانزدی کولی نه
شو ، نوزه خو به ورته د خدای په تکیه پروت وم ، د پنجاب په جیلخانو کښی د دی نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خرابه جیلخانه بله نشسته حکمه یی سیاسی قیدیانو ته داخوښه کړی وه او دی ته
قیدیانو د پنجاب توری او به ویلی دکومو ملا زمانو نه به چه څه قصور وشو نو هغه
یی دی جیلخانی ته راایښلی وو د ۱۹۲۲ع کال د اګست د میاشتی اخری ورځی و
مازیګری وو زه په خپل بارک کښی ناست یم اومانه یی یوه لفافه راکړه ، لفافه کښی د
یوخط وو، چه هغه می پرانست نو هغه می د مور خط وو چه کلی نه یی مانه راایښلی وو
په لیدو یی د پرزیات خوشحاله شوم ولی چه زما خپلی مور سره د پره مینه وه او
هغی هم زه د پره خوښ وم په هغی خط کښی د دعا او خیریت نه پس یی مانه لیکلی و
چه الله تعالی په تا باندی د پره مهربانی کړی ده ، تا له یی زوی د ر کړی دی ، د
خط ماتانه د دی لپاره لیکلی دی چه اول تانه مبارکی د ر کوم او بیا ستا رأی معلو
کړم چه هغه له څه نوم کیدو حکمه چه مونږ دا فیصله کړی ده چه هلک ته به نوم
کیدی .

زه د دی په لوستو نو د هم خوشحاله شوم او د خدای ثنا می وویله او د خدای
د ر کښی می دازاری وکړه چه ای الله تعالی زما دا بچی سره د دی نو د و بچو نیک او صالح
لوی کړی ، سره اخلاق او علم ورکړی او د خپل مخلوق خادم یی وګرزوی ته یی ناصر
حافظ او مدد ګار شی او د ظالمانو د هر قسم ظلم نه یی وساتی . نوم می د ده د پار د
عبد العلی تجویز کړو او په سبا له می مور ته خط ولیکه او دا نوم می پکښی د رولیږه ،
پرنګیانو حکومت یو ناپرسانه حکومت دی ، هر انګریز فرعون او د فرعون په شان
خود مختاره دی ، هر حاکم چه هر څه پخپل رعیت باندی وکړل ورسیږی پرسان
تپوس نشته .

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ ملګرو کښې د پردا سی کسان وو چې دهغوی نه دومره تعلیم واونه لی
خه دومره مالی حیثیت وُ لیکن مجسټریټ ورله سپیشل کلاس ورکړی واوهغوی مړه
هغه سلوک واوزه لی په (c) کلاس کښې قید کړی وم اوکال تیرشو ماسره هماغه (c)
کلاس سلوک واوچادی طرف ته فکرهم نه کولو، حالانکه د پرخلک به زمونږ ه دکتو
ـ پاره دحکومت له خوا راتلل چې د قید یانوحال معلوم کړي اومناسب انتظام ورله وکړي
خو ماته دچا فکرنه واویایي قصداً نه کولو. په گرمی کښې به غیرزمانه تولو قید یانو ته
ـ بصر څملاستو اجازت وخوزه به یوازی په بارک کښې ښندوم یوه ورځ جیلوالوزه دفترته
ـ بللم اوراته یې وې چې مونږ ستاد پاره دا تجویز کړی دی چې تا د توري وردی نمبر
ـ دارکړو په دی کښې به تاته دوه فایدې وي یوه دا چې د بله معافی به درکیدی شی او
ـ نه به زر دهاشی د بله دا چې تاته به د بصر څملاستو اجازت وي ستاکار به نور هیڅ نه
ـ دی صرف د دې سیاسی قید یانو مشقت ورډل اوراوړل وی لیکن ما د دی خبری
ـ انکار وکړو خکه چې دا زمونږ د اصولونه خلاف و. زمونږ اصول دحکومت سره عدم
تعاون واوداخریو قسم تعاون واو دا دیوسیاسی قیدی د پاره لویه دکمزورتیا
خبره وه چې بصر خوبه یې حکومت سره امداد نه کوو لیکن چې څه وخت جیلخانی له
ـ اغنی نوبیا هم دهغه حکومت خوشامندګر اوامدادی شی.

دایوه لویه ګناه اوبد اخلاقی وه. دلالله دونی چند د دهاکیدو نه څه مودې پس
ـ په ملک کښې انتخابات شروع شواوهغه د پنجاب اسمبلی ممبر منتخب شولو هغه
ـ اسمبلی کښې زما متعلق یوه لویه واویلا اوشور جوړکړا وحکومت یې ملامته کړو
ـ ماسره تراوسه پورې د (c) کلاس د قیدی سلوک کېږی. حکومت جواب ورکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه هغه خو د سرحد قیدی دی ، پنجاب سره یې څه تعلق نشته نو ده ورته په جوا
کښې وویل چه نن ورځ خو هغه په پنجاب کښې دی چه په پنجاب کښې سیاسی قیدیا
سره څه سلوک کیږی هغه دې دده سره هم وشی . نو په دې وجې ولی د پنجاب حکو
مجبور کړو چه یو حکم جاری کړی او زمونږ سپرنټنډنټ تبدیل کړی ولیکل چه زما متعلق
سرحد حکومت سره خط وکتابت وکړی ، سپرنټنډنټ صاحب د پرسنبه سهی
سره یې د پره هلته دی وه هغه فوراً سرحدی حکومت ته ولیکل ، لیکن هغوی جوا
ورنه کړو او چه ده پرې زور وکړو او یا دګیرنی به یې ولیږلې نو د وخت تیرو لو
د پاره به هغوی څه کول مول ځواب ورکړو . ولی چه د هغوی مطلب مالته تکلیف راکو
او زما صحت برباد ول و په دې طریقه په خط کتابت کښې د پره مودې تیره شوه
لیکن لاله دونی چند د پره زور ورسره ؤ هغه دوی کله په قلاره پرې نښوول او د هغ
وخته پورې به یې یادګیرنی ولیږلې چه اخرې زه پرې په سپیشل کلاس کښې کړم .
دې وخت کښې جیلخانه کښې خبر شوم چه زما د ګرفتاری نه پس زمونږ د اتمانزو
سکول طالب العلمانو په توله علاقه کښې یو لوی مهم شروع کړی وی کلی په کلی به یې مولوی
کولو د پرخلک به ورته راغونډ ښلل ، زما ځوی عبدالولی به اول د قرآن شریف تلاوت
وکړو بیا به ده او ماستر عبدالکریم قومی نظمونه ووې او د هغه نه پس به زما مشر زا
عبدالغنی د پرسنبه زړه نرمونکی تقریر وکړو بیا به یې خلکو ته ووې چه پښتنو تاسو لږ
فکر وکړئ چه زما بابا دې پیرنګیانو ولې قید کړی دی ؟ د هغه څه ګناه ده ؟ هغه خو نه قتل
کړی دی نه یې ډاکه کړی ده ، نه یې بل څه اخلاقی جرم کړی دی . زما د پلار جرم دا و
ستاسو بچولو لپاره تعلیم ورکولو او په تاسو کښې د اتفاق او ورورولی ، عزیز ولی خواهشمن

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو کښې هغه ریمونه، رواجونه چې پښتانه پرې تباه کیدل. ودک کول، غوښتل تاسو یې
د دنیا د مصنوعو څیزونو سره اوښه په اوښه و دروئ. دغه ګناه وه چې پیرنګیانو هغه قید
کړو اود (C) کلاس سخت قید یې پرې ولګولو. اوس مونږه او تاسو په کار دی چې
هغه کوم کار چې زمونږ د قوم د فاید ې د پاره کولو جاړی وساتو بلکه ترقی ورکړو نو
پیرنګیان به پوه شي چې پښتانه را بیدار شوي دي، ویښ شوی دی، مونږه اوس
په دوی خپل مطب نه شو کولی اونه یې د باوولی شو.

د دوی د دې خبرو په قوم د پراثر وشو او د سکول سره هرچا امداد ونه شروع
کړل او سکول دیره ترقی وکړه. ما چې داخبری واورېدې نو ډیر خوشحاله شوم
خدای شکر می ادا کړو چې زما قربانی بې ځایه اوبې فایده نه شوه او ټول قوم محمود سره
کړه چې باچاخان زمونږ ه د پښتنو د پاره قید ونه تېروي. هرچا په دی خبره
ډیر فکر اوغور وکړو، ځکه زمونږ اصلاحی او تعلیمی پروګرام ته تقویت ورسېدو.

مذهبی تعصب:

مونږ په دی چلخانه کښې پنځه مسلمانان وو، مونږ ډیره موده د خپلو
ملګرو هندوانو او سکهانو له خاطره غوښه خوړلې نه وه اونه زمونږ ه یاده وه لیکن
سیالکوټ نه یو حکیم صاحب په دی تحریک کښې قید راغی نو هغه به غوښه خوړله او
مونږ هم شوق پیدا شو او مونږ هم د غوښې د خوړلو د شروع کولو فیصله وکړه
حکیم صاحب موجبلوالا وله ورولیږه او هغه ورسره تولې خبری صافی کړې. د
جبلوالا وودا ډاډ یه وه چې غوښه دی هم په دغه باورچی خانه کښې پخیږی حالانکه
دا دوغه هندو و، لیکن مونږه داخبره خو نه کړه ځکه چې بعضی خلکو د دې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سخت پرهیز کولو دهغوی دخاطره به مونږ په هسپتال کښی خپله کتوئ پخول
اوخوراک به موهم دلته په بارک کښی نه کولو هسپتال کښی به موخوړله . مونږ دخپلو
ملګرو خوشحالولو د پاره دا قصه کوله . بل هله خوشحالولی شی چه په ځان تکلیف
تپر کړي لیکن زمونږ ه بعضی ورونو ددې دومره ناکام اوشه قلندر ونه کړوا
شه وخت چه مونږ په اوله ورځ هسپتال له لاړونو هغوی زمونږ برخلاف
پراپیګنډه شروع کړه اوټول سیاسی ورونه یی راته وپرسول حالانکه دوی کښی
اکثر وغوښه هم خوړه . مونږ چه واپس راغلونو مونږ ته دسیاسی ورونو د
اوخبرونه معلومه شوه چه دوی زمونږ نه د پرخفه اوپه غصه کښی دي . ه
ددوی داحرکت د پر ناجایزه منکاره شو . زمونږ دهندوستان په خلکو کښی
دایولوی کمی دی چه یو څیز زمونږ ه په خیال اوعقیده کښی خراب وی نو دهغه هم زغم
اوبرداشت کولی نه شو ، دهري عقیدی دخلکو نه هم په هغه شان توقع اواړزوله
لکه زمونږ چه وي او دې ته فکر نه کوو که چیری دا څیز منع وی نو زما د پاره منع
دی دبل د پاره چه هغه زما د عقیدی نه دی څرنګه منع کیدی شی ؟ دایشیا د خلک
دا دعوه ده چه مونږ ه مذهبی خلک یو اوصرف په دنیا کښی دلته مذهب پاتی دی لیکن
خو مره چه زما تجربه ده نو ما ته معلومه شوې ده چه بی شکه دایشیا په خلکو کښی مذ
شته خو هغه مذهب په نوم مذهب دی او دخدای اورسول (ص) هغه د لیښتینی
مذهب نه دی ، د لیښتینی مذهب نه دوی ناخبره دي . هر مذهب کښی ازادا
ده ، رواداری ده اولوی نظری ده لیکن دوی تری خبر نه دی اونه چا خبر کړي دي
حقیقت دادی چه داټول اسمانی مذهبونه دخدای مذهبونه دي اودنیا ته

باهر دنیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

اتفاق مینی او محبت اود خدای د مخلوق دارام او خدمت د پاره راغلي دي. د هر
یو مذهب د پیرو دافرض دی چه د خدای د مخلوق له منځ نه کرکه او نفرت لیری
کړي او مینه او محبت پکښې پیدا کړي او دیو بل سره امداد وکړي خو مونږ دد ی حقیقت
نه چا خبر کړی نه یو - او نه مو پخپله کوشش کړی دی -

مادتالسنای یو کتاب کښې چه شپږ ویشت قصې پکښې لیکلی دی دا قصه
د وستی ده چه په چینه ده د هغې نه هر یو محلت له نلکه راغلی ده خو د هر یو محلت
خلک په دی نښې دی چه زمونږ ه د نلکی او به پاکی او خوږې دی او د دی نورو نلکو
او به ناپاکی او ترخی دي. دی ته هیڅوک فکر نه کوي چه دا تولې نلکی دیوی چینې نه راغلی
دی نو څنګه یوه پاکه او خوږه شوه او نوری ناپاکی او ترخی شوې او اسلام خو د اتعلیم ورکوی
چه د مسلمان به په دې کتاب کښې هم ایمان او عقیده وی او په ورانډ نیو مذهبونو او کتابونو
هم: « والذین یومنون بما انزل الیك وما انزل من قبلك » دا د دی ثبوت دی چه
اسلام تولو مذهبونو سره د وادارۍ غوره کړی ده .

چه کوم ځای زمونږ سیاسی ورونه تول غونډ ولاړ وو نوزه ورو ورو ورتر دی
شوم او ورته می داوویلی چه دا سوراج خو مانته د پرګران بنکاره شو او سوراج به د څه
سوراج وی چه هغه کښې هر چاته د خپلې عقیدې او خیال ازادی نه وي ستاسو په دی
نظریه مالـه افسوس راځی. که چیرې د غونډې خوراک د چا په عقیده منع وی هغه دې
خوړی او که د چا په عقیده هغه منع نه وی نو د هغه نه خفګان مناسب نه دی. مونږ
ستاسو د عقیدې دومره مراعات کړی دی چه مونږ ته حکومت ویل چه تاسو به په همدی
شرایکه باورچی خانه کښې پخلی کوئ مګر مونږ حکومت ته وویل چه مونږ غونډه په دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

باورچی خانه کښی نه پخوو ، په بل ځای کښی یی پخوونو زمونږ د غونښی په خوراک ستاسو
خفګان او اعتراض ناجایزه دی . ستاسو داخیال د هندوستان د سوراج او اتفاق
د پاره موزون نه دی ځکه چه په هندوستان کښی د مختلفو عقیدو اوخیالاتو خلک موجود
دی نوکه چیرې هر یو قوم خپلی عقیدې اوخیال باندی نور مجبور وی نو دا به ګرانه شی
بلکه نتیجه به یی د پره خرابه راوخیژی او د هندوستان خلک هله د ترقی او ازادی
معراج ته رسیدی شی چه هر چاله د خپلی عقیدی اوخیال ازادی ورکړو او د هیڅ
قسمه ظلم اوجبر په چاونه کړو . زما د دی خبرو په اوریدلو د وی قهر اوخفګان
کم شو اوبیا د هغوی هغه اعتراض اوخفګان پاتی نه شو .

زمونږ د پر هندوان اوسکهان سیاسی دروند وو چه هغوی د غونښو په خوراک
اموخته وو او د پر زړه به یی غونښی ته کیدلو ، لیکن نور و نه مجبور وو . زما د سیالکوټ
یو ښاری نومی هند واشناو ، د پر سنه سړی واو د غونښی د پر شوقی وچه څه وخت
به مونږه هسپتال ته روان شو نو هغه به پټ ماله خپل کتوری راکړو چه په دی
کښی ماله لږه غوندی غونښه راواړه ما به هیڅ هغه له هغه کتوری وګ راواړلو او
به په پټه په بارک کښی خوړله . هغه چه به کله نا کله په قار شو نو چلو هند وانو ته به یی
د پر کنځل کول چه وګورئ دوی د خوراک په څیزونو کښی مونږ ته مذهب راوړاندی
کړی دی .

مونږ د تولو سیاسی قیدیانو شریکیږو باورچی خانه وه اوو د پر سنه کار
چه مونږ مسلمانانو هندوانو اوسکهانو به یوی کښی د وډی خوړله . تحریک مونږ ته
سره د رونه کړی وو د اد کانګرس او خلافت برکت و او د هیڅ قسم نه مودیو بل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضرورت نه کولو . بوه وړځ یکښنی اتفاقاً د خدمتګار سوال را پیدا شو مولانا محمد اسماعیل
غزنوی د اسوال اوچت کړو چه په باورچي خانه کښنی یو مسلمان خدمتګار هم په کار
دی او د باورچي خانی په خدمتګارو کښنی دې یو مسلمان هم وي لیکن هندوان اوسکهان
په دې کار راضی نه وو او د مولانا برخلاف به یې دا خبری کولی چه کوری دی په مونږ
کښنی بی اتفاقی پیدا کوي ما درته وویل چه په دې خو به اتفاق او محبت لازیات
شی خکه چه مسلمان به هم د باورچي خانی په کار کښنی شریک شی او قول کار به په شریکه
وکړی . زما دی خبرو ته چا پرفکر و نه کړو او زما کوشښونه څه مفید ثابت نه شول
چه څرنګی هندوان اوسکهان پخپلو خبرو تینګ ولاړ وو . هغسی مولانا صاحب هم
خپله خبره نه پریښوه او وړځ په وړځ د اګره به زیاتیدو وه زمونږ یو ماستر صاحب
وچه هندو و هغه خو به ویلی هندوان پاک دی او مسلمانان ناولي دي ، لیکن چه کوم
هندوان پوه او موښیار وو نو هغوی به داوې چه د اد صفایی سوال دی او چونکه مسلمانان
د صفایی خیال ډیر نه ساتی نو په دې وجه مونږ نه غواړو چه مسلمان دې په کیچن کښنی
کار وکړي . دا قصه جاری وه او وړځ په وړځ زیاتیده او سختیده ، دا خو یو قسم
پاتې وې په اصلیت کښنی هندوانو مسلمان خدمتی په کیچن کښنی نه پریښو . یوه وړځ ما
خپل ډاکټر ته چه هغه یو هندو و دوه مشقتیان د خپل بارک چه یو هندو او بل مسلمان
د ډکټر او معاینی د پاره پیش کړل چه ته دا دواړه وګوره چه په دوی کښنی کوم صاف او
پاک دی ، هندو په باورچي خانه کښنی کار کولو او مسلمان زمونږ د بارک جاروماړو .
ډاکټر صاحب په سبه شان هغوی وکتل او د کتو نه پس د مسلمان په حق کښنی فیصله
وکړه چه دا مسلمان د دی هندو په نسبت پاک او صاف دی او په هندو کښنی د ناپاکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په وجه سپږ ی شوي دي نو ما خپلو هندوانو و دونو ته ووې چه د دا اکثر صاحب په
فیصله کښې څه وائی ستاسو د صفایی دا بانه خوهم پاتی نه شوه. لنډه دا چه د دې کشمکش نه
پس اخر په دې فیصله وشوه چه یو مسلمان دې هم په باورچی خانه کښې کار کوي او
دهغه به صرف دا کار وي چه مونږ به کومو لوښو کښې چه وډوډی، وخوړو هغه به او چتوي
او وینځي به یې او په دی طریقه دا مسئله ختمه شوه.

دهندوانو د دې قسم خبرو اوریدو په ما هم اثر وکړو او زما زړه چه په هغه
کښې د خدای د قول مخلوق سره یوشان مینه محبت وخه ناخه فرق پکښې پیدا
شو. یوه ورځ ما خپلو ورونو سره خندل چه زه دلته صاف زړه راغلی وم او هغه
هر څه کرکې او نفرت نه پاک و او هیڅ قسم داغ پکښې نه و لیکن ستاسو په صحبت سره
چه نن زه ورته کورم داغدار شو. مذهب خو دنیاته د دی د پاره نه دی راغلی چه د
خلکو په منځ کښې نفرت پیدا کړي. بلکه مذهب خو مینې محبت علمبردار دی
بله عجیبه خبره می دلته دا ولیده چه په کرمی کښې به تقریباً تو لو هندوانو زما د منګی
یخی او به څکلی او هیڅ باک به یې نه کولو لیکن یخنی کښې به یې تري پرهیز کولو او زما منګی
به نه دانزدې کیدل حقیقت دا وچه په کرمی کښې به ما د دی خپل منګی نه کیږه چې
کړي وه او ساعت په ساعت به می هغه لمدوله باد به لګیده نو هغه او به به یخی وي
ما خو به دا خوازی کوله او دوی نه دومره خوازی کیدلی نه شوه.

مونږ په جبل کښې وو چه بهر چیرته یوهندو د پیغمبر اسلام (ص) په شان
ګستاخی کړې وه نو یو مسلمان راپاڅیدو هغه یې قتل کړو. هندوان د هغه هند
ملګری شول او مسلمانان د هغه مسلمان او په دې باندې تول ملک کښې یوه هنګامه

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړه شوه او دا زادی او قومی تحریک نه دخلکو توجه فرقه داریت ته وګرځیدله تردی
وخته پوری چه د قومی تحریک د وحدت د پاره څومره کوشښونه شوي وو، هغه په سیمه
ډهوشول. په کار خو داوو چه څوک غلط کار وکړی ټول هغه ته غلط وویلی نه سړی یوب
نه مذهب، نه انسانیت، نه شرافت، نه اخلاق داویلی چه مونږ د غلط کار او غلط
سړی ملګری شو د هرچا خپل مذهب دی او خپله عقیده ده، یو سړی داسی کار ولی
کوي چه د بل مذهب او بلی عقیدی خاوند پری خفه او غصه شی حالانکه هیڅ
مذهب د دې اجازت نه ورکوی. دا ښه چه د هندوستان او پاکستان هندو او
مسلمان د نفرت په لوی عذاب کښی ګیر دی نو د دی هم داوجه ده. تاسو دی خبری
هم فکر وکړئ چه هندوستان کښی د غوا او جماعت په سر فرقه دارانه فساد ونه د پیښ
کیږی او زمونږ شریک د ښمن داحربه زمونږ د قومی اتحاد خلاف استعمالوی
په سړی دی ته وګورئ نو حیران شی چه یو سنبه ویښ او بینا بنیادم د غوا په حلالولو بد وګڼی
بل بنیادم د وژنی یعنی د بنیادم حیثیت او حقیقت د یوی غوا لاښه او ورنه هم لاندی
د غیر ضروری دی او دې بل اړخ ته د خدای د کور په خوا کښی د تپړ پلونکی جلوس
د ولکی او سرنا او از د ومره لوی جرم دی چه هم د د غه د رحمان او رحیم خدای په پاک
سره د هغه د مخلوق انسان په مړی چاړه را ښکل کیږی. د دی واقعاتو نه فساد نه
وړشی، کور ونه تالاشی، ما شومان پکښی وسپڼلی شی او دا هرڅه په دې جذبه
کیږی چه د خدای پاک د رالیږلی دین خدمت کیږی. په دی سلسله کښی مانه
د قصه رایاده شوه زمونږ د کلي د خپلی کورنی یو مشر د خپل ورارده د لاسه د خپل
کی په جرمات کښی د لمانځه د پاسه په سجده قتل کړی شوی و تفتیش له پولیس راغی

د حادثې تفصیل په آ
د سپینه ماڼ
او تحویزه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پولیس کپتان پیرنکی و هغه جومات ته بوتانو سره ښوتو هلته ولاړ پوسرې وو ته وویل
« صاحب ! بوتان وباسه جومات دی » پیرنکی ورته وویې چه ستاسو په زړه کښې
د خدای دکور هم صرف دومره احترام دی چه پیزار سره یکښې نه کړئ او د هغه خدا
پیدا کړې مخلوق یکښې هم د هغه د وړاندې په سجده کښې پروت وئ ؟ دا ستاسو
عجیبه مذهب دی او عجیبه تعلیم دی .

د هندوستان د پر عجیبه مخلوق دی دوی پیرنکیانو د خپل تکبر او فرعونیت
په وجه د ځان نه خفه کړې دي او خپله مقابله کښې و د رولي دي خکه چه زمونږ بارک
چه به کله یو پیرنکی د معاینې د پاره راغی نو یوه عجیبه تماشه به وه مونږ کښې به د هر
کس داکوشش وچه په څه چل او څه طریقه به دی خپل ځان طرفته مایل کړم او چه
به هغه مونږ طرف ته خپل رغبت بنکاره کړو او څه لږ ې خبری به یې راسره ښې وکړ
نو چه دوباره به راتلونو لا بارک ته به راد ننه شوی نه و چه مونږ به ورته لاس په نامه و
وو لاسونه به مو ورته جوړه کړي وو سلامونه به مو ورته کول او مسکی مسکی به ورته کې
او داعادت خاص زمونږ په انټیلیجنشیا یعنی زمونږ په تعلیم یافته خلکو کښې ګ
و . زما یو مهربان چه د لایلپور وو زما د جیلخانې استاد ؤ او یو لوی وکیل و
ماسټر کوردت مل نومیده او هر وخت به یې سیاسی کتابونه لوستل د پر عالم او
سړی ولیکن چه یو ځل به کوم پیرنکی ورسره ښې خبرې وکړې نو بیا به پرې دی پټنګ
و . هغه یوه ورځ ماته د خپل قید د لایلپور د جیلخانې قصه کوله چه زه به یې په او
باندې حیران شوم ما به په زړه کښې وې چه د هندوستان څومره ښه خلک دي
دوی د پیرنکیانو سره څومره ښه محبت دی د هغوی زور او ظلم او بد سلوکی و

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دومخی ته ودریږی نه اونه یی محسوسوی . هغه غریب ، بی گناه د پښتی کمشنر دوه کاله قید کړی ولکین بیاهم دی دهغه نه خوشحاله و دهغه برخلاف یی په زړه کښی څه نه وو بلکه همیشه به یی ماته دهغه صفت کولو چه هغه بیچاره د پرښه سړی دی اودی پښه سړیتوب وجه داوه چه څه وخت یی دی قید کړو نو هغه یوه ورځ جیلخانی له راغلی و اودد اپوښتنه یی کړې وه او دده په مخکښی دومره ویلی ووچه دوکیل صاحب چکی موسپینه کړې ولې نه ده ؟ په دی دومره خبره دی خوشحاله وبلکه دهغه احسانمند و لوچه څومره ده سړه ظلم اوزیاتی شوی وهغه تړې هیرو . هغه به کله ناکله په فخر دا قصه ماته کوله چه د پښتی کمشنر جیلخانی له راغی نوزما پوښتنه یی وکړه چه هغه کوم ځای دی بیامالـه راغی جیلو الوته یی وویلی چه دده چکی موسپینه کړې نه ده داسپینه کړې . ما به ورته ویلی چه ماستر صاحب ته یی بی گناه دوه کاله قید کړې یی اود ډیرۀ غازی خان غوندی کنده جیل ته دالیږلی یی اومالی نقصان پری علاوه دی ته فکر نه کوې اوچکی د سپینول درته یادی دی .

ما به همیشه خپلو سیاسیانو وروښو سړه خندل چه ستاسو مطلب سوراج نه دی بلکه ستاسو مطلب دادی چه پیرنګیان دې مونږ هم ځان سړه په حکومت کښی شریک کړې اوخپلو غوندی حصه دی پکښی راکړې .

لاهور جیل ته دوباره تګ :

زما د غښتو نومرض وړو وړو بیا په زیاتیدو شو ماته یوه ورځ دارو غه صاحب د سپرنټنډنټ په مخکښی داخبره وکړه چه نن سباجرنیل صاحب بیا په دوره باندی دلته راځی ته دخپل مرض حال هغه ته ووایه او عرض ورته وکړه چه تا د علاج دپاره بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلاهور جیلخانی ته ولیږي لیکن ماورله داجواب ورکړو چه جرنیل صاحب ته دهیڅ
قسم عرض معروض نه کوم حکه چه زما اصلی ذمه دار سپرنټنډنټ صاحب دی اوکه
چیری زه څه وایم نوده ته به وایم . سپرنټنډنټ صاحب هم زما دخبرې تائید وکړو
او په جواب کښې یې راته وویل چه د جرنیل صاحب د دوری پس به زه تالاهور ته ولیږم
هغه زما د پاره ولیکل چه زه دې د علاج د پاره لاهور ته بدل شم او زر تر زره حکم راغی
اوزه لاهور ته روان شوم . داځل زما تلل په پته نه وزه تولو سیاسی ورونو سره یو
ځای شوم او په خندا خوشحالی سره تر یې رخصت شوم او په خیریت لاهور ته ورسیدم
د ورسیدو سره یې زه خپل زور اشنا داروغه خیرالدین خان ته پیش کړم ولی چه مخکښې
علاج د پاره راغلی وم ده سره می کیده کاته شوی وو . هغه زما نه پوښتنه وکړه چه ته د
علاج د پاره د ډیرهٔ غازی خان جیلخانی نه راغلی یې اوس دهغه نه یې زما صندوق
اوبستره ایساره کړه اوخپل اردلی یې ماسره کړ چه ماهغی احاطی ته بوځی چه کومه احاطه
د سیاسی قیدیانو د پاره مقرره وه لږ چه مونږ وراندی شو نوزما خیال داوو چه ما به
هغه ځای له بیایی چه مونږ به یکښې وراندی دو چه مونږ لاړو نو مایو وروکې غوندی
دروازه ولیده دهغی په خوا کښې یو قیدی نمبردار ولاړ و نوچه څه وخت مونږ دغی وروکی
غوندی دروازی ته نزدې شو نو د داروغه صاحب اردلی هغه ته اشاره وکړه او هغه
فوراً ورپرانیسته اوزه هغه ځای ته وردننه شوم هغه ځای دیږ وروکی اوتنګ و
لا په دې فکر کښې وم چه دننه کوته کښې می اغا صفدر اوملک لال خان په نظر شو دهغه
په لیدو رانه هیر شو اوزه دیر خوشحاله شوم چه څنګه دی دګپ شپ د پاره هم
ملګری بیامونده . لالہ لاجپت رای او دهغه سره یو بل هندو لیدلو هم په دې بارک کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناست وچه څه وخت ورته شوم هغه ټول را پاڅیده او په مینه محبت یې ما
سره سترې مشې وکړل. ددوی په ملاقات زه نور هم ډیر خوشحاله شوم، زمونږ
داځای دومره ننګ وچه مونږ یکښې ګرځیدې قدرې نه شو او نه مو یکښې دڅه قسم
ورزش کولې شو. اوبله داچه دوړځې خوبه موڅه نه څه ګذاره کیدې شوه لیکن دشپې
به مونږ ته ډیر زیات تکلیف و محکمه چه هوا یکښې بالکل نه لګیده ذکري دلاسه به یکښې
مونږ پوره خوب کولې نه شو. تقوله وړځ تیره شوه اوما بنام شو لیکن زما بستره او صندوق
رانغلل اودشپې چه څه وخت مالیې دوديږ راوړه نو هغه دسپشل کلاس نه وو بلکه
د (c) کلاس خراک وما خپلو ملګرو سره ددی خبری ذکر وکړو چه زه خو دسپشل
کلاس قیدي یم ماسره ولی د (c) کلاس سلوک کیږي لیکن هغوی زما په دې خبرو
کښې څه دلچسپي وانه خیسته اوپه هغه دغه کښې یې تیره کړه زه هم چپ شوم لیکن
دا خبره زما په زړه کښې نه ځائیده چه بغیر دڅه قصور نه جیلوالا ماسره ولی ددې قسم
سلوک کوی. ماخه کولې نه شو اونه ورته زه خپلو ملګرو پریښودم هغوی هم زما د پاره
به قدم اخیستو تیار نه وو. زما بستره او صندوق راغلل یا هم چه زما په صندوق کښې
د خوراک څیزونه هغه رانغلل دهغه په باره کښې دا خبر راغی چه هغه به په دفتر کښې
روت وي او دصورت په مطابق به تاله درکیدې شی. ددی مطلب دا وچه دنیمې نه
یاست به جیل والا خو رو. جیلخانه ډیر یو عجیبه ځای دی، دښو دولې پاره یې قانون
درکړې دی. لیکن په حقیقت کښې قانون نشته دداروغه او سپرنټنډنټ خولې قانون
دی اوهر څه چه غریب قیدي سره هغوی کوی هماغه کښې. ډیرۍ غازي خان جیل کښې
خوراک څیزونه ځان سره کښودل جایز و او دلته ناجایز شو او دا خبری څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library

ربښتیا وو له وروستی هم نه شی ځکه چې د کمزوری او د زور ور معامله ده دګډی
او شومبنۍ قصه ده - بله ورځ خیرالدین خان زمونږ بارک ته راغی ما ورته ووې
چه زه افسوس کوم چه دا دومره وخت تا ماله به غیر دځه وجهی تکلیف راکړو هغه راته په
جواب کښی داووې چه ستا وارنټ سره د مجسټریټ د سپشل کلاس د تصدیق چیټی
نه وه نو مونږ څنګه دایقین کړی وای چه ته په ربښتیا په سپشل کلاس کښی یې ما ورته وې
چه اخر زما په تلګټ د سپشل کلاس تصدیق د غازی خان د سپرنټنډنټ د طرف ن
شوی دی هغه جواب راکړو چه دا زمونږ د تسلی د پاره کافی نه دی ما ورته ووې چه دلته
اول خو هم راغلی وم او تا لیدلی وم هغه وخت خو ما سره صندوق او بستره نه وه او نه
خپلی جامی اغوستی وې نو بیا داځیزونه ما څنګه راپیدا کړل ؟ هغه جواب راکړو
زمونږ خیال وچه هسی د اورته چا په لاره کښی ورکړی دی - زه پوه شوم چه دا
بحثی شروع کړه نو ما دا خبره پرښوده . مقصد دادی چه د جیل والا دیو عجیب
قسم عادت ونه وې هغوی همیشه په دی فکر اوکو ښښ کښی وې چه په څه طریقه به
خدای مخلوق ته تکلیف ورسوو . دا تولې خبری زما د ملګرو په مخکښی وشوی
لیکن هغوی بالکل خاموشه وو .

هر کله چه زمونږ د ادعوه ده چه مونږ به حکومت سره تعاون نه کوونو
دا مناسب دی چه په جیلخانو کښی هم هغه حکومت سره تعاون او ملګرتیا و
د حکومت سره تعاون او ملګرتیا خو په هیڅ شان زمونږ د شان سره جایز
ده او بیا د خپلو ملګرو برخلاف او داسی ملګری چه د خدای د پاره یې مونږ
د قوم او ملک د خدمت د پاره ملاتړلې ده . څو ورځی پس زما د غاښونو دکتور

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا هم هغه د ښځې سره جن راغی زما د غاښونو او اورو په لید وخوشحاله شو او ماله
لی مبارکی راکړه چه غاښونه دې بیخ شو. زما د ژامې یو غاښ لی وایستلو او نور
غاښونه لی راله په ښه شان صفا کړل او نوی دارولی د پورې کولو د پاره راته ولیکل
د تلو په وخت کښې لی دا دوغه صاحب ته ووایل چه څلور ورځې پس به بیا زه د غاښونه
کورم او زمونږ نه رخصت شو.

مطالعه:

مونږ په جبلغانه کښې د قرآن مجید درس شروع کړی وا و د سحر د لمونځ نه
پس به تقریباً دوه، دری ګنټې د قرآن په تلاوت کښې مشغوله وو. څلور کسان وو
او مونږ سره څور قسمه تفسیرونه وو، د څلورو وارو ترجمه به موږ په ښه شان اوریدله
او بیا به موږ ښه غور او فکر کولو لوکله نا کله به موږ خپلې خپلې رایې هم وړکولې چه څه
وخت به مود قرآن درس شروع کولونو دا موږ فیصله کړې وه چه هغه تولې خبرې
او قصې چه دوړکو الې نه مونږ اوریدلې دي او زمونږ په زړونو کښې ناستې دي
هغه بالکل د زړه نه ایستل په کار دي او په یو صاف زړه د قرآن شریف په مطالبو او
تعلیم باندې غور او فکر کول په کار دي او دهغو په اصلي معنو او مفهوم ځان پوهول
په کار دی او د اهله کیدی شی چه مونږ د خپل زړه نه هغه تولې خبرې او قصې
لرې کړو او که چیرې دا و نه کړو نو بیا د قرآن په حقیقت رسیدی نه شو ځکه چه مونږ
څکښې د هغه متعلق یوه رایه قایمه کړې ده. دې خبرې مونږ ته ډیره فایده ورسوله
او په دی طریقه مونږ د اسلام د خوبو او سښکلتونه په ښه شان سره واقف شو.
خو په ورځ زمونږ شوق زیاتیدل ولیکن ملک لال خان غریب چه هغه د خپل زړه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه دهمونه لیری نه کړی شو ، زمونږ سره وینه چلیدی شو او پرځو ورځی پس هغه په
درس کښی شرکت پرېښود مونږ یوځل قرآن کریم ختم کړو او په دوباره موسیا شروع کړه
کومه مزه لطف او علم او پوهه چه دی درس نه ماته حاصله شوه زه دهغی بیان کولی
نه شم . زه د قرآن په خوږوسنه پوه شوم ، د اسلام د تعلیم نه خبردار شوم او د مذهب
په حقیقت وپسهلام ، د درس نه علاوه اغاصفدر صاحب به مختلفو مضمونونو باندی
څه نوتونه لیکل هغه به هم ماکتل او بیا نه می پخپل نوټ بک کښی خان سره نقل کول او
د تولونه زیاته دفایدی خبره زمونږ د شپی تبادلهٔ خیالات و . ورځ به په څه طریقه
تیره شوه لیکن په دی ځای کښی شپه تیرول د پره ګرانه وه ، او په دی طریقه به موخپل
وخت تیرولو . څه ورځی پس ولی او محمود زما د ملاقات د پاره راغلل د ملاقات په
وخت کښی راته وویل چه هغوی عبدالولی موکاته بیا یې چه د ستړکی اپریشن یې وکړی
ماچه د هغه ستړکی ته وکاته نو د هغی هغه داغ د اول نه په زیات شوی و او په دی
می زړه په پرخفه شو او د دې ماشوم په حالت می د پرافسوس وکړو لیکن بغیر د افسوس
نه مابل څه کولی شو ؟ زه چه څه وخت قید شوم نو ما د پرخطو نه کلی نه والیکل چه د ولی
د ستړکی غور وکړی او موکاته یې ولیږی لیکن د ولی غریب په حالت چا غور و نه کړو او نه
چا د هغه ستړکی ته فکر وکړو او په دې کښی یو نیم کال تیر شو او څه وخت چه د هغه مرض
په زیاتی شو نو بیا یې هغه موکاته را ولیږه لیکن د دې تلو هغه ته څه فایده ونه رسوله
غفلت په سبب د هغه یوه ستړکه بی کاره شوه او د ا داغ زما د زړه نه لیری نشوی
هر وخت چه ماته د ولی ستړکه را یاده شی نو زړه می د پرزیات خفه شی .

ولی د دی سره چه ما څه وخت ملاقات ختم کړو او هغوی رخصت شو او زه بهر راو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو هغه نایب دا وغږ چه چا زمونږ ملاقات کړی و دلاسه ونیو لم او یوسړی له بوتلم چه هغه
له هم خپل خپلوان ملاقات له راغلی وو. دا وغه راته وویې چه هغه هم ستاسو د دلې دی او
ستاسو د علم تعاون ورور دی اودی دیوکال د پاره په ضمانت کښې جیلخانې نه راغلی
دی او دی د سرحان لارنس ښت چه په یو لاس کښې یې توره ده او بل لاس کښې قلم دی
دا تولود پاره تلی ولیکن کامیاب نه شو او گرفتار شو حکه چه ده داخیال ودابت دهنده
ستانیانو د پاره یولوی دبی غیرتی څیز دی او په دی وجه دهر هند وستانی فرض دی چه
دامات کړی ما ورته وویې چه داخو د هر غیرتی سړی دی او داخوبې یولوی د غیرت کار
کړی دی هغه وویې چه بی شکه کار خوبې د غیرت کړی دی لیکن اوس بی غیرته شوی
دی یوه هفته یې لا په جیل کښې پوره شوې نه ده لیکن بیا دې حالت ته رسیدلی دی
چه شپه او ورځ زاری اوچغې وهی چه په هره طریقه چه کیدی شی ما د دې قید او بند نه
باسئ نن ورله مونږ خپل خپلوان د ملاقات له پاره راغونښتی دی راځه واوره چه
ورته څه وایی. دی قیدی غریب هغوی ته لاسونه جوړه کړی دی او د هر په عاجزئ هغوی
ته لګیا وچه په هره طریقه چه وې زما ضمانت وکړئ اوما د دی بلا نه وباسئ. په دې
کښې پری دی دا وغه اواز وکړو چه اوس یوازی په ضمانت وتی نه شی بلکه معافی
د ورسره هم غواړې نو د هر غریبی یې جواب ورکړو چه معافی د ورسره وغواړم نو بیا
ی پرېږدئ هغه ووې چه هو. ده وی سنه ده معافی به هم وغواړم نو ما پری اواز
کړه چه پوزه به هم راکاږې نو وې چه سنه هغه به هم راکاږم نو بیا می ورته ووې
په یوازی پوزه دا سنکو به کار ونه شی دې سړه به د اوښ پل هم جوړ وې وې چه هغه
څنګه وی؟ نو ما ورته ووې چه داسی خاوند به داغونډ ې کړی نو بیا به داسی دا سی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کا دوښه نور هم وکړي نو هغې غریب وي چه ښه ده دا به هم وکړم خو چه دې جبل نه بهر شم
دې په اوږه و ما په پر وخندل اوزه ترې روان شوم. ما په زړه کښې وویل چه داسې
جذباتیان ځوانان دي او دایي همت دي نو مشکله ده چه هندوستان ازاد شي یا د پیر نکیانو
نه څه نه څه حصه په حکومت کښې واخلي. دا قصه مې لا له لاجپت رای او اغا صفدر ته هم
وکړه او لا له جي سره مې وخندل چه په پنجاب کښې د دې قسم ځوانان شته دي نو امید دی
چه تاسو د پر زر سوراج حاصل کړئ او مونږ تولو په دې خبره افسوس او کړو چه سره
یو کار کولی نه شئ ځو هغه ته دې ملا نه تړې، او د داسې کولو نه کول بهتر وي. ز مونږ
ځوانانو له په کار دی چه هر یو کار شروع کوي چه په هغه د پر فکر کوي د هغه په تولو تکلیفو
باندې په ښه شان غور کوي که چیرې هغو تولو تکلیفونو ته تیار دي نو هله دی هغه کار
ملا وتړي او که چیرې دا تکلیفونه تهرولی نه شئ نو ښه به دا وي چه په ارام کور کښې ښه
او دعا کوي ځکه چه د ده بزدلی قومي مقصد ته نقصان ورکوي. اګرچه زه دا وخت
کانګرس کښې نه وم، په خلافت کښې قید شوی وم، صرف زه او لا له جي په سپشل کلاس کښ
وو لیکن هغه ته د ورزش د پاره په توله جبل خانه کښې د سحر او ماښام ذکر ځپل وا
و او ما ته نه و. هغه به په کټ کښې څملاسته اوزه په ځمکه. نور هم هغه ته د پر د عایتو
حاصل وو. جبل والا به یې د پرې خوشامندی کولې. په هفته کښې به یې یو ځل ملاقا
کولو خلکو به ورله قسم قسم میوی راوړلې په جبل خانه کښې ورته د هر قسم ارام و. مونږ
یو داسې تنګ او ځان له ځای کښې قید وو چه مونږ هیڅ د دنیا له حاله خبر نه وو نه
مونږ ته څوک راپر لیږلو دل او نه مونږ ته د دې ځای نه د وتو اجازت و. په دې
مونږ د نورو قیدیانو د حاله نه خبر یدو چه هغو غریبانو سره څه قسمه سلوک ک

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکن زمونږ احاطی په دروازه کښی یو سوری وچه دهغه نه بهر مونږ ته دقید یانو
یوه ټهتی ښکاریده سحر به تری په سوونو قیدیان چاپیره وو. دایوه ډیره عجیبه
نظاره وه چه دری په لیدو به هر سړی عجب اوحیران وچه دې خوا رانوسره دری
قسمه ذلیل سلوک کیږي لیکن مونږ هیڅ دهغوی څه مدد کولی نه شو. مابه کلنا کله
لالهجی ته وې چه که خیروی او هرکله بهر ته ووتې نو دری خوارانو د پاره په اخبارا تو
او په اسمبلی کښی څه نه څه ایجی تیشن وکړئ ولی چه دوی د هر مظلومان اوبی اسری
دي یوه ټهتی ده چه په هغی کښی شاید دناستی د پاره پنځه یا شپږ څایونه وو او
دری د پاره دری د لی قیدیان وو دهر یو سړی په سر به دری، څلور کسان والا
وو چه کله به دی پاڅی چه زه کښ ښم، بل طرف ته سپاهیانو او نمبردارانو هم زور
کولی وچه شاباز زدرشئ! اوکه چیری یو قیدی به لږ زیات وخت تیرکړو نو میا به د
هغه خیرنه و دیو طرف نه به پری سپاهی راغی او دبل طرف نه به پرې نمبردار او هر څه
به یې پری اوږسو رکړل. لنډه داچه یو ډیر د شرمند کی حالت ومونږ تولو به داخبره
ډیره محسوسوله او دقیدیانو دی قابل رحم حالت سره زمونږ ه د تولو همدردی وه
لین افسوس دی چه مونږ دهغوی هیڅ قسم امداد کولی نه شو زمونږ یو پښتون
شقتی وهغه ډیر یوه عجیبه قسم سړی و تقریباً اووه کاله قیدی تیرکړی واوډیره
سه معافی یې اخیستی وه اکثر د قید حصه یې په ډیرو تکلیفونو او مصیبتونو کښی
ره شوې وه لیکن ددی نه یې هیڅ قسم عبرت اخیستی نه و سړی دومره خراب
م نه ولیکن هغه نه چه داهر څومره تکلیف رسید لی و د څه بی دلاسه یې و. څه یې
ل په واک کښی نه وه. ماچه به ورسره هر څومره سر خوږ کړو اوهر څومره به می

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوه کړو لیکن په هغه یې دهیڅ قسمه اثر ونه کړ او چې څنګه نا پوهه وهم هغه شان
نا پوه پاتې شو. ددې ټولو خبرو د پاسه یوه ورځ ماله راغې او ماته یې ووې یوه چیټه
کلی ته لیږم، مهربانی وکړه په تا باندې یې لیکم ما په دې برخه خوشحالی قلم، مشوانۍ
او کاغذ راوا خیسته. دسرنامې نه پس می ورته ووې چې وایه څه لیکم؟ راته یې
ووې چې ولیکه، زما د ښمنان خبر کړئ، خوشحالی دې نه کوی لږی ورځې راپاتې
دي اوکه خیروی زه یوځل د ر ورسیږم او د بند نه خلاص شم نو تا سو سره به یو
شم نو د به راته په کلی کښې ونه کړئ. ددې په اوږدو زه د پرزیات حیران شوم چې
ژماد کوشښونو او نصیحتونو اثر نه دانتیجه شوه. څه ساعت پورې خوچپ وو بیا می
ورته ووې چې زما ټولې خبرې تاهیرې کړې؟ او په یوه دې هم عمل ونه کړو! ده راته
ووې چې عمل می پرې کړې دی خو د دوی پلان میدان کړی دوی زما په قید خوشحا
کوی. ما ورته بیا خپل بیم وغوږ ولو او دامی ورته ووې چې اوس دنیا یې له شوه مونږ
له هم بدلیدل په کار دي ددې خبرو زمانه تېره شوه ته نه کوې چې هندوان، سکها
او مسلمانان په کور کښې ورونه شو او دلته که په سوونو داخلک قید دی تاته معلومه
ده چې دا په څه کښې قید شوی دی؟ ته خوله وینې او ددې نه هم څه سبق نه زده کوې
هندو او مسلمان خو په کور کښې ورونه کېږی او مونږ پښتانه دیو بابا زامن، یو قوم
یوه وینه یو، زمونږ دې داحال وي؟ سړې می ورو ورو راښکته کړه اوراته یې و
ورو سره خوځوو اووې وې چې سبه داخبرې به زه نه لیکم. هغه غریب ته زه په کټ
نه کوم ولی چې په دې ماحول او په دې خبرو کښې هغه لوی شوی دی، سپین ږیرې
شوی دی او داتولې خبرې د هغه یوقسم عادت کړځیدلی دی نو عادت پرېښودا

(c) ketabton.com: The Digital Library

سان کار نه دی ددی خبرو د اصلاح دپاره دپرکار کول په کار دی اوپښتنو غږیانانو
نبی نه داسی خلک پیدا شوی دی او نه پکښی چا داسی کار کړی دی اونه دوی چا
سی پوه کړی دي چه مونږ ددوی نه کیله وکړو . ما روژه دلته تېره کړه او دهروڅې نه
س یی بیا ددی جیلخانی نه واپس دپیرۀ غازی خان جیلخانی ته بدل کړم .

دلاهور جیل نه بیا دپیرۀ غازیخان ته :

باوجود ددی دومره تکلیف اوپریشانئ نه چه دلته ماته ویاړم زه پخپلو بلدیه
ی دپرخفه وم ، ولی چه دلته ماته د لالہ لاجپت رای په شان او دهغه دیوملکری
اغا صفدر اولال خان په شان سوسایټی اوملګرتیا حاصله وه اوهغوی سره زه
پرخوشحاله وم اودهغوی سره د تبادله خیال نه ماته دپره فایده حاصله شوی وه
بل د قرآن درس اوبل داغا صفدر په شان یوعالم اوروشن خیاله سیاستدان
املګری هم زما په جدایی دپرغمجن ؤ لیکن څه کیدی نه شو ، زمونږ واک خو دبل و
خرهغه وخت راغی چه دیوبل نه جدا شو . پولیس په دیوډی کښی زما انتظار
و . زه چه دیوډی ته راورسیدم نو جیل والوزه پولیس ته حواله کړم اوزه د پولیس
ځ دپیرۀ غازی خان جیل ته روان شوم . دوی پیاده اول پولیس لائین ته او
ستیشن ته بوتلم . دپیرۀ غازیخان د جیل د قانون وچه دا روغه پولیس ته وویی
ده ته انګریز ولګولو حکم نشته اوپولیس لږی دلاهور ستیشن نه دلاهور جیلخانی
ې کرایه هم ورکړی وه اودلته د خیرالدین خان حکم وچه انګری هم ورته ولګوئ
مسلمان و او دپیرۀ غازیخان داروغه هندو وخه وخت چه مونږ ستیشن ته
سیدو نو ما بنام وکا دی تیارو اوپه کا دی کښی سواره شو اوسبا په تکنه (تکنده)

(c) ketabton.com: The Digital Library

غرمه زمونږ کاډی د شیرشاه ستیشن ته ورسیدو. دایولی جنکشن د
او دلته د پېړۍ غازی خان د پاره کاډی بدلول ګټواړی. مونږ چه د کاډی نه کوز
د پرکړی وه پولیس والو زما اسباب اوچت کړو او ویلنګ روم ته روان شو، ما تا
هم اواز وکړو. زه یې هم ویلنګ روم ته دننه کړم. یوه ارام کرسی پرته وه هغه یې ما
سمه کړه اوزه په هغې کښینا ستم. زه به د دی پولیس د سپاهیانو نو د خدمت
شرافت څه ذکر وکړم. په کاډی کښې تر لاهوره په ارام و ویده وم او هیڅو ک
یې نژدی راته راپریښې نه دی. د هر قسم زماد ارام فکر به یې کولو ویلنګ رو
ته چه ننو تلو نو په دغه وخت کښې دا اواز موتر غوږه شو چه دننه پیر صاحب
اوده دی چه څه وخت مونږ ور دننه شو نو پیر صاحب ته یو شیخ باد پکی راښکه
هغه دلاندی دوه کتونه پراته وو په یو کښې پیر صاحب او په بل کښې دهغه و
ځوی اوده وه څوک په کرسو او څوک په فرش پراته وو نوزه ور وغوندی
هغه ارام کرسی کښینا ستم ما باندی هم سنه باد لګیدو، د لږ ساعت د پاره
ستړکی پتې شوې چه ما سپینې شو او مونږ تول د لمونځ له پاره راویښ
نو پیر صاحب وکتل چه پولیس والا مانه لاس په نامه ولاړ دی دهغه په ما
شک راغی چه دا څوک پولیس لوی افسر دی په دی وجه یې زما طرف ته څه
او محبت ظاهر ولو او ورو ورو یې ما سره خبرې هم شروع کړې دهغه د
زوی ما سره د پړه مینه پیدا شوه مانه به نه جدا کیدو. په خبرو خبرو کښې
زمانه پوښتنه وکړه چه ته سرکاری نوکر یې، ما ورته وویل چه نه! ده راته و
چه نوکر نه یې نو بیا د اسپاهیان تا سره څه کوي؟ ما ورته وویل چه زه قید

(c) ketabton.com: The Digital Library

ې دی وجه د اسپاهیان ماسره دی . نوده راته ووې ددوی سلوک خوتاسره د
قید یانو په شان ته دی ما ورته ووې چه هغه شان قیدی نه یم ،زه سیاسی قیدی
یم اوپه خلافت کښې قید شوی یم . ددې په اورېدو سره پیر صاحب فوراً بدل شو
وما طرف ته یې رغبت کم شو . د تحقیق نه راته معلومه شوه چه داد تونسې یودپر
وی پیر دی اوپه تول هندوستان کښې په لکونو مریدان لري اوپه زرګونو روپۍ په
شکرانه کښې وړله راځی مونږ چه لمونځ وکړو او بهرته راوتلو ، د پیر صاحب زوی
چه د پر ما شوم وخوزما په مینه محبت داسی مین شوی وچه هغه هم مونږ سره راوتلو
د تیسن خلک خبر شو چه داخو د خلافت مشران راغلي دي نو تول خلک مونږ ته
راجمع شول اوزمونږ ه د زنده باد چغې شوې . پیر صاحب چه وکتل د ده هغه ماشوم
زوی زماسره دی یومرید یې ورپسې راولېږلو هغه ماشوم ته یې د پر دویل خوماشوم
زماخواته راتلۍ شو او د ده سره د تلونه یې انکار وکړو . شیخ لاړو اوپیر صاحب ته
یې داقصه وکړه پیر صاحب ورته ووې چه ورشه اوپه زوره یې راوله شیخ راغی اوهغه
ماشوم یې زما د غېږ ې نه وشوکوا اوپه زوریې په ژړا بوتلو . دکاډې تلوته لا وخت ؤخو
پیر صاحب دخپل زوی سره راپاخېدو لاړ اوپه ریل کښې کښېناستل . اخر داچه مازیګر
شو ریل راغی اومونږ پکښې سواره شو ماسختن غازی کاټ ته ورسېدو ، په غازی
کاټ کښې مو دسین په غاړه شپه شوه په سبا له د اتوار ورځ وه اوداتوار په ورځ
جهاز بنده وې اوځوک پورې وتی نه شی ،لیکن یوموټر بوټ چه په هغه کښې ضروری
ډاک پورې باسی زه یې هم په هغې کښې پورې ولیستم . د اباسین هغه زور ودې چې
چه اوس هم رایادی شی نو زړه می وبو کنېږ ی خو د خدای فضل وپورې وتو د ډېرۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library

غازی خان پولیس راغلی و دوی هغوی ته په حواله کړهم هغوی په بکه کښینی د ډیره غاړی
خان جیلخانی ته ورسولم، تقریباً لس بجې جیلخانی ته ورسیدو. دسردار ولیری
شو اوزه ورډننه شوم او بابو کانو، سپاهیانو او قید یانو چغې کړې او تول راته چاپیره
شو او هرکلی یې راته ووې. دجیلخانی ډننه ولیږې شو اوزه جیل بارک ته ورروان
شوم. زما سیاسیان ورونه هم خبر شوی وو، بعضی کسان راته لاړه کښی ولاړ
وو. زما په لید و تول ډیر خوشحاله شو. بارک کښی چغې شوې او تول راته چاپیره
شو خوک راتر غاړې وتل او د خیر خیریت پوښتنې یې راته وکړې. ما ورته دلاهور د
جیل تولې قصې وکړې چه په دې کښی د ډوډۍ وخت شو او موږ نه ډوډۍ خوړلو
له روان شو. دسردار کهرک سنګه په ضعیف والی او بربنډ والی می ډیر افسوس
وکړو چه هغه سړه د نورو ملګرو لاهغه شان بربنډ و او څه فیصله یې نه وه شوې.

دمورمړک:

په دغو ورځو کښی می دمور یو خط دکلی نه راغی. پکښی یې لیکلی وو چه ډیره
موده وشوه چه ته می لید لی نه یې. زما ډیر یاد ښی. زما زړه غواړی چه درشم او تا
وویnم نو ته ماله اجازت راکړه چه زه ملاقات له درشم. ما چه په دی خط څومره غور
اوفکر وکړو نو زما زړه خو هم غوښتل چه خپلی مور سره ملاقات وکړم ولی چه د دی
ځای د راتلو لاروته به می فکر شو نو پکښی ډیر تکلیف و اوبل طرف ته هغه بوډی هم
وه اوزړه می هم غوښتل چه دا وویnم، لیکن حکومت موږ نه قصداً داسی لیرې جیلخانه
کښی بند کړې وو چه ملاقاتیانو نه ته کرانه وه نو ما مناسب ونه ګڼل چه هغی له د دی ځای
د راتلو تکلیف ورکړم او ورته می ولیکل چه کله خیروی ماته اوس لږه موده پاتی ده او

(c) ketabton.com: The Digital Library

امید دی چه د پر زړ ستا او زما ملاقات خپل کور کښې وشي داځای د پرلیری دی
ځای په ځای ریلونه بدلیږی او بیا د اباسین نه پوری وتل دي ، نو ما وې چه سبنه
به داوي چه نه داتکلیف ونه کړې . لیکن زه د الله تعالی کار و نو نه څه خبر وم چه زه او
مور به می د یوبل نه داسی جدا شوچه تر قیامته پوری به یوبل ونه وینو او که زه دی نه
خبر وای نو ما به مور سره ضرور ملاقات کړې وای انسان د تقدیر نه خبر نه وی .

څه موده پس د مازیګر وخت و زه په کلی ناست وم چه زما یو ملګری په منډه
راغی او اخباري په لاس کښې و چه په هغه کښې یې لیکلی و چه زما مور مړه شوه ما
انا لله وانا الیه راجعون وویل . د دی خبر په لوستو را باندی عجیبه کیفیت طاری
شو او په دی می د پر افسوس وکړو چه ما ولی د ملاقات منع کړه خدایه زمونږ ه د دی
اخری ملاقات نصیب هم نه و . ما به خپل زړه له د پر تسلی ورکوله لیکن زړه می ژړا
کوله ولی چه زما خپلی مور سره د پره زیاته مینه او محبت و او هر وخت به د پر
پریشانه وم او د پر خفه به دې وم چه زه د خپلی مور بی بی د اخری خدمت او دیدن
نه محروم شوم او ما د هغی په ناجوړتیا کښې او د وفات په وخت کښې هیڅ خدمت
ونه کړې شو . دې خبری به هر وخت ژړولم که نه وی نو مرګ خو حق دی هیڅوک تری
خلاصیدی هم نه شی نو د چا په مرګ ژړا او واویلا نه ده په کار خو مینه او محبت
داسی څیزدی چه د چا زړه صبر پیدی نه شی . زه چه بیا د قیامه راخلاص شوم نو
خو مې بیا رانه د اخبره کوله چه مور به دې په ځنګلنډ ن کښې هم د پر د پر یاد ولی
چه غفاری راغی او که رانغی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سیاسی قید یا نو جنګونه:

زمونږ سیاسی ورونه به همیشه په معمولی معمولی خبرو باندی پخپل منځ کښی په جنګ وو او کلنا کله به نوبت کنځلوته ورسید و او بعضی وخت به مونږ لرکی هم یو بل پسی راواخیستې لیکن نور ورونه به ترمنځه شول او معامله به یی رفع دفع کړه. جپلخانه داسی یوځای دی چه دسړی زړه پکښی تنګ وي. « د کوجرو لکړهئ دمړان ضلعی شاکرالله باچا به خپلو ملګرو ته داخبره کوله که تاسو یو بل سره ایری وهئ نو مونږ خو تول خپل ورونه یو دا ستاسو نقصان نه دی دا تول نقصان ددی قلا دی چه مونږ نه تاوده په کور کښی دمور او لور د پره خوږه رشته وی خو چه دیوال تری چاپیره وی نو مور او لور هم هر وخت یو بلی پوری نښتی وی او په جنګ وي. » زه هم انسان وم زما چه څومره معلومات او تجربه ده نوزه داویلی شم چه زمونږ ددی جنګونو تول بنیاد بحث او مباحثه وه. اکثر مالیدلی دی چه مونږ به په یوه معمولی خبره بحث شروع کړه نو چونکه زمونږ هغه بحث به په دی خیال نه وچه مونږ به دیو بل د معلوماتو نه څه فایده حاصله کړو. دهر یو داخیال وچه زه سنه پوهیږم او دابل نه پوهیږی چه زه ورته او دابل پرته دی. ددی قسم بحثونو نتیجه همیشه کج بحثی وي او بیا بد ردجنګ وجدال او خفګان. په دی وجه که څوک چری ددی خبرو نه بهر که دننه بحث کیدل غواړی هغوی له په کار دی چه د داسی مباحثو نه ځان وساتی او همیشه خپل ځان، ژبه، او خوله واک کښی ولري او که چیری په یوی ضروری مسئلی د بحث کولو ضرورت پیښ شی نو چه ده نه څه معلوم وی یا چه څه د ده رأیه وی هغه دی بنکاره کړی او زیاتی بحث دی پری نه کوي نو بیا به ورته خدای خیر کړی، بله داچه زمونږ په سیاسی ورونو کښی یو بله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته دعیب خبره وه اوهغه داوه چه مونږ خوبه په خوله ویل چه مونږ یو وروونه یو او
کارهم داسی وا چه مونږ یو وروونه وای ولی چه مونږ دیو نیک مقصد د پاره جبلخانی
داغلي یو لیکن حقیقت داسی نه و اونه زمونږ په دې عمل و. په معمولی معمولی خبرو کښی
په مونږ کښی دسکه، مسلمان اوهندو سوالونه پیدا کیدل. ما خو مخکښی هم
ذکر کړی دی چه جنګ د ملتان په بنا رکښی وشو او تعلقات دلته په جبلخانه کښی د
هندوانو او مسلمانانو خراب شو. مونږ دومره فکرهم نه کوو چه هلکه بهر به خلک هرڅه
وی لیکن زمونږ په دله دې دهغی اثر ولې وشی اوکه چیرې په مونږ هم د دې قسم اثر
وکړي نو بیا په مونږ او په هغو خلکو کښی څه فرق شو چه څوک د دښمن په پالیسی د ا
وروونه کوي او خپل قوم او ملک ته نقصان رسوي. زمونږ دعوی خو داده چه مونږ
هند وستان په نولو قومونو کښی ورورولی پیدا کړو او ملک ازاد وو. کومې پورې چه
انګلیانو حکومت دي تر هغی پورې خو ناممکنه ده چه د هند و مسلمان جګړې ختم شی.
نو به کهږی لیکن که مونږ کانګرس او خلافت والا هم په دې کښی حصه وا خلو نو بیا دې
هند وستان خدای پاک مل شی. نو خلک خو پرې دې زمونږ یعنی خلافت او کانګرس
کښی تر اوسه پورې د رښتینی ورورولي خیال پیدا شوی نه دی او زمونږ زړونه یو
ته صاف نه دي. زمونږ په زړونو کښی خیری دی په دې وجه په معمولی معمولی خبرو
دی مونږ په کور کښی جنګ دنګې او فساد کولو ته تیار یو. یوه ورځ د اچل وشو چه زمونږ
شقتی چه هغه زمونږ لوبنی پاکول او هندو وهغه سره پرلپنو سکهانو د امشوره کړه
دی مونږ سکه کړو ددی په اوربل وسره هندوان دپر په غصه شو هندوانو هغه ته
وی چه ته مسره خرابه سکهانو پری زور راوړو چه پام کوه چه مسره نه خرابی د اکشمکش

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورو ورو زیات شو او د سکھانو او د هندوانو تعلقات د پر زیات خراب شول ا
داچه معامله جبل والوته ورسیده او هغوی هغه سړی زمونږ د بارک نه بدل کړو . نه
خو بدل شو لیکن بیا هم زمونږ د دوونو زړه و نه یوبل ته صاف نه شو . « لا اکراه فی الدین
الله تعالی وایی چه په دین کښی زور نشته » حکه چه د دې تعلق زړه سره دی . د چا د
هر مذهب والا نه د اخ حاصل دی چه د تبلیغ په ذریعه فایدی او خوبه ښکا
کړي لیکن یو مذهب هم دا نه وایی چه تاسو په زور او زیاتی اوالچ خلک پخپل مذ
کښی داخل کړئ حکه چه د مذهب معامله خو د زړه او د دماغ سره ده چه زړه او د
او عقیدی کوم مذهب نه وی قبول کړی په هغه عمل کولی نه شی او چه عمل پری
کړی نو هیڅ فایده تری حاصلولی نه شی . بلکه ورځ مونږ متوجه په بارک کښی چ
ناست وو او خبری اتری موکولې په خبرو خبرو کښی دلاله اجیت رای ز
راغی یو موهن لال نومی وکیل وچه هغه صرف دومره خبره وکړه چه لاله جی ش
پنجاب دی . یو سکھ پری اواز وکړو چه د شیر پنجاب لقب خو د سردار
سنګھ دی او ورو ورو د اخبره زیاتیده او دې حد ته ورسیده چه یو ح
سکھان او بل خواهندوان جنګ کولو ته تیار شو او یو بل پسی د ډنډې د اخیس
او په د پرو خوارو مونږ دا معامله رفع دفع کړه نوبت کوتک بازی ته ونه رسید
مونږ په دی جبلخانه کښی هندوان ، سکھان او مسلمانان وو مو
به پخپله خپله طریقه خپل خپل عبادت کولو . مسلمانانو کښی اکثر د کسانو لمونځ نه
صرف مونږ دوه کسان مولانا اسماعیل غزنوی صاحب او ما به کولو او هغه ه
ځان ځان له . د غه حال د هندوانو هم وچه هغوی هم اکثر و به عبادت نه کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا به کولونو ځان ځان له به یې کولو. زما یو مهربان دوست چه نوم یې ماسټر کردت مل
و اویو ډیر ښه سړی وه ډیر عبادت به کولو او د عبادت په اخر کښې ډیر شانتی شانتی
به یې ویل خو دی پخپله شانت نه و ما به ورسره خندل چه ماسټر صاحب ته خوشا نتی
انتی ډیر وایې خو شانت نه یې. یو سکهان وو چه دوی به خپل عبادت په جمع
کولو او څومره چه په هغو کښې مذهبی جذبه او جوش و دومره نه په هندوانو کښې
و اونه په مونږ ه مسلمانانو کښې و زمونږ په نسبت په سکهانو کښې مینه محبت
اتفاق او ورورولی زیاته وه. په دې خبره چه ما څومره غور او فکر کړی دی زه په
دې نتیجه رسیدلی یم چه دهغوی مذهب په خپله ژبه کښې دی هغوی دهغه په
مطلب او مقصد باندې پوهیږی. دهندوانو او مسلمانانو مذهب په بله ژبه کښې
دی. دهندوانو مذهب په سنسکریت کښې دی. هندوان په هغه نه پوهیږی او
زمونږ مذهب په عربی کښې دی او مونږ په عربی نه پوهیږو. سکهان چه به خپل
عبادت ته کښینا ستل نو په هغه کښې دا یوه جمله زمانه هیریږی او یا ده می ده چه
دې به یې ویله «سرجاوی توجاوی میری پیاری سکهیانه جاوی». داسې خبری
په جذبه او جوش زیاتوی دهندوانو په مذهب کښې هم شته او زمونږ د مسلمانانو
مذهب کښې هم شته. خو مونږ او هغوی په مطلب نه پوهیږو، هدا وجه ده چه د
سکهانو په شان مذهبی جوش او جذبه نه په مونږ کښې پیدا شوه او نه په هندوانو
کښې.

زمونږ اکثر ملکري خلاص شو او مونږ پنځه کسان پاتی شو ولی چه تول شپږ
پیسې میاشتنی یا کال قید وو. دوی به هم اوس رهاشوی وای خو هغوی په چیلخانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښی هغه دایجی تیشن په وجه خپل قید ونه زیات کړی وو زمونږ دپنځو واړو مجلس
سنه برابر و اود مطالعی دپاره راسره قسما قسم کتابونه هم وو او د خپل قید ورځی شپږ
مو په پرارام اوخوشحالی سره اروپلی او بغیر زمانه دوی ته لږ نیک پاتی و. په ک
پنځو کسانو کښی مونږ دوه مسلمانان او دوه سکهان اویوهندو وو. یوزه اول
مولانا محمد اسماعیل غزنوی اوسکهانو کښی سردار کهرک سنګه، جسونت سنګ
اودهغوی یوبل ملګری و. دجهلوالوسلوک مونږ سره دپرسنه و. کپتان هیرز Haer
زمونږ سپرنټنډنټ وچه په دښتیا ډاکټر و او دپرهمدرد اوسیه سړی و. لیکن په ک
ځای کښی یولوی نقص داوچه دشپږ ومیاشتونه زیات یوانګریز سپرنټنډنټ
پاتی کیدی نه شو. په شپږ ومیاشتوکښی به ایله مونږ دهغه سره اشنا شوی و
خوچه به اشنا شو نوهغه به راته بدل شوی و. ددی وجه داوه چه په دپره غازیا
کښی به دپره زیاته ګرمی وه اوپه ګرمی کښی به انګریز زیات پاتی کیدی نه شو. په د
وجه به په یخنی کښی زمونږ انګریز سپرنټنډنټ و اوپه ګرمی کښی به هندوستا
وبیا دجرنیل ددوری اوازشوچه جرنیل صاحب په دوره راځی هرڅوک په دی فک
کښی وچه بیا به څه کښی ځکه چه داجرنیل دپربدنیته راضی اوبغضی سړی واوه
بیاسیاسی قید یانوسره خوبه دپرپه ترخ چلیدو. جرنیل صاحب خو ورځی پس
راودسیدو اوداتلوسره اول دسردار کهرک سنګه کتوله راغی اوپه یوقسم غ
اوتکبرکښی یی سردار صاحب ته ووې (Veff Kharaksingh والیه کنه کهرک سنګ
نوهغه ورله دپرپه بی پروایی سره داجواب ورکړو (واه Yes, Wah واه!) سنه
ددې په اوریدو سره په جرنیل اوربل شو اوبله یی هیڅ خبره ونه کړه اوفوراً د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه بهرته ووت او جلوالوته یې ووې چه دده نه تراوسه بادوتی نه دی او دهغه
تکت یې وغوښتو او د کمزوری په وجه چه هغه له ډاکټر کوم پیسه لیکلی وهغه یې کت
کړل او حکم یې ورکړو چه ده له هیڅ بغیر د (۰۰) کلاس دقید یا نور خوراک نه مه ورکوئ
اوبل یې داحکم ورکړو چه په دوی بله مقدمه وچلوئ دا هم ډاکټرو. د جنیل دوړه
چه ختم شوه او دی واپس لاړ نو داروغه صاحب مونږ له راغی او دا تول بیان یې راته
وکړه او د خپل طرف نه یې ډیره همدردی ظاهره کړه او دې وې چه زه خو یوه ماتحت
سړی یم زیاتی څه کولی نه شم تاسو پخپل کور کښی صلاح او مصلحت وکړئ اوسباچه
تاسو ته څه مناسب ښکاری ماله جواب راکړئ ددی په اوږدو سره زمونږ ملګری
ډیر غمجن او فکرمند شو ولې چه دهغوی رهایی ته دوه، څلور میاشتنی پاتې وې.
مولانا غریب ته خو توله تاله یوه نیمه میاشت پاتی وه، لیکن سردار کهرک سنګه او
دهغه ځان له پرېښودل د دوی د پاره ډیر مشکل وچه اخر بهر خلک به څه وایی
چه بودا سردار مویازی پرېښود او تاسو ځوانان تړې را وتښتېدئ داخو اران
ډیر په کشمکش کښی وو اخر ډیر بحث مباحثی نه پس په دې فیصله وشوه چه بهر
کانګرس ته خبر ورکول په کار دی چه ددې په باره کښی هغوی یو قرار داد پاس
کړی او مونږ ته یې را ولیږي چه ایجی تیشن جاری وساتئ یا یې پرېږدئ او چه
کانګرس څه فیصله وکړله مونږ به یې منو. انسان هم یو عجیبه څیز دی څه وخت
چه دی کمزوری شی او همت بایلی نو بیا د خپلی کمزوری او بې همتی د پټولو د پاره
قسما قسم حیلی او حوالی لټوي. څه وخت چه دوی ایجی تیشن شروع کولو نو
زمونږ په ډله کښی اکثر وخلکو ورته داخبره یاده کړې وه چه کانګرس داقسم

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبری په جیلخانو کښی منع کړي دي اودبهرنه کانګرس والو ورله هم جوابونه را
لیږلي وو چه په جیلخانو کښی ایجی تیشن د کانګرس د اصولونه خلاف دی په دې
وجه مونږ تاسوله حکم درکوو چه ایجی تیشن شروع نه کړئ لیکن هغه وخت دوی
په جوش کښی وو چه کانګرس په دې نه پوهیږی چه دا زمونږ د حقوقو او خودارئ
سوال دی لیکن هم هغه خلک وو چه د کانګرس حکم ته لیواله دی ځکه چه نور تکلیف
ته پرولوته تیار نه دي . د دی تولو خبرونه مونږ له سبق اخیستل په کار دی او هر کار
چه کوو نو محض په جوش او جذباتو یي ونه کړو بلکه دهغی په هر پهلو باندی په
سنه شان سوچ او غور وکړو اوکه چیری دهغی د پاره د هر قسم قربانی او تکلیفونو
ته تیار نه یو نو شروع یي نه کړو . کانګرس والا ویو قرارداد راولیږه دوی هغه مدار
کهرک سنګهه له یوو هغه ته یي وښوچه د کانګرس دا حکم دی ته په دې کښی څه
وایي هغه ورله جواب ورکړو چه د کانګرس حکم څه نوی حکم نه دی بلکه تر ډیره حکم دی
او کوم قدم چه مونږ اوچت کړی دی زه د هغه نه د ډیره وسته کیدلو د پاره تیار نه یم
چه تر څو حکومت زما مطالبات منلی نه وي په دې لاره کښی چه هر څومره
تکلیفونه او مصیبتونه چه راځی د هغود پاره زه تیار یم . دوی په ځای د دی
چه د هغه د عزم او ارادې تعریف کړی وای او خپله کمزورې یي څرګنده کړی
وای د هغه خلاف یي دا پراپیګنډه شروع کړه چه د ی خپل ځان د کانګرس
نه لوی کښی او په دې وجه د کانګرس حکم منلو ته تیار نه دی د اځومره لویه د
افسوس خبره ده او بده خبره ده چه مونږ د خپلو کمزورو د پټولو د پاره
او د بل د غوړولو د پاره د دې د ډول ناپاکی پراپیګنډی کوو او خپل جماعت

(c) ketabton.com: The Digital Library

وقوم کښې اختلافات پیدا کړو او دا په هر جماعت کښې چې څومره اختلافات وي
دي وجه هم اکثر دې قسم ذاتیات وي. که ته وایې چې زه لغیر دځه غرض نه
قوم او ملک خدمت کوم اوزه هم وایم نو بیا اختلاف په څه؟ په خدمت کښې
ختلاف نه راتلی شي اونه کېدی شي اختلاف همیشه په ذاتیاتو کښې وي اوهر سړی
ه په ایمانداری په دې نظر وکړي اوخپل زړه ولټوی نو دا به ورته معلومه شي
په دا اختلاف زما د ذاتیاتو په وجه پیدا شوی دی. مونږ خو به خپلې کمزورۍ
خلکونه پټې کړو لیکن د خدای نه خوبې پټولی نه شونو هغه له به څه جواب ورکړو؟
چې هر کله مونږ خپلې کمزورۍ د خدای نه پټولی نه شو نو په کار دی چې د خلکو
ه بې هم پټې نه کړو اوچې کوم کار کولی شو په جار ووایو چې دا کولی شم اوچې کوم
ار نه شو کولی په جار ووایو چې دا نه شم کولی اوداونه کړو چې یو سبه کار دی
ه زمایوبل ودوړ لګیا دی کوی بې اوهغه کار زه کولی نه شم. نومونږ له دهغه امداد په کار
ی مخالفت بې په کار نه دی اوپخپله د له اوقوم کښې اختلاف پیدا نه کړو اوپه ځای
داد ورکولو په هغه قسما قسم الزام ونه لګوو اوهغه ته مشکلات پیدا نه کړو.

مولانا اسماعیل صاحب او سردار جسونت سنګه او دهغوی ملګری جامی
غوسستی، کالی شروع اودهر قسم ایجی تیشن بې ترک کړو، سردار کهړک سنګه
ار یوازی په میدان کښې پاتی شو جیلو الو پرې مقدمه وچلوله اوشپږ میاشتی
یدې بې نور زیات شو لیکن دهغه په همت جرئت او خندا کښې دهیڅ قسم فرق
ې انه شو. لکه دغه په شان د حکومت په مقابله کښې پخپل ځای ولاړ واوپه صبر بې
قسم تکلیفونه تېرول اوکوم قدم بې چې یو ځل مخکښې کړی ؤ هغه بې روستونه کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او تراخره پوری په هغه باندی تینګ ولاړ و او تینګ پری پاتی شو او د پرهار د
و . ددی نورو د رونو کډوان د پر سخت شو هسی به پخپل ځان کښی کچه کچه کیدل ا
دوی ددی خبری کوښښ شروع کړو چه په هره طریقه چه کیدی شی چه مونږ د
جیلخانی نه بدل شو . د جیلوالو هم دوی سره د پره هلدردی وه هغوی هم د دوی
د پاره کوښښ وکړو او وی لیکل ، د مولانا خولږی ورځې پاتی دی هغه تیری شی
رهاشو او ددی نورو منظوری راغله . دوی رانه بدل شو او په دې دومره لوی با
کښی صرف زه او سردار کهرک سنګه صاحب پاتی شو . هغه یی هم زمانه جدا کړ او پ
هسپتال کښی چه کوم سالیتری سل ؤ (تنهاکوته) هلته یی بوته او په چکی کښی یی بند ک
زه یوازی په دی بارک کښی پاتی شوم ، زما بارک ته یوه ورځ عونډی دروازه هسپ
لوری ته لګیدلې وه چه هغه به هیشه بنده وه او چه کله به ډاکټر راتلو نو هغه به یی ور
لیږې کوله نو په هغې کښی یو سودی ؤ سحر ، ما پیغام به زما او سردار صاحب په هغه سو
کښی ملاقات کیده . سردار صاحب باندی د حکومت له طرف ته قسما قسم جرمونه
تکلیفونه راغلل او د پر کمزوری شو په رنګ کښی یی هم فرق پیدا شو ، خبری او خنا
یی هم هغه شان وه . ما چه به سردار صاحب ته کاته ماله به د هغه په حالت د پر
افسوس راغی . زه هم د هغه په شان قیدی وم ما د هغه د پاره خه کولی نه شو صرف
دومره به می کول چه ما سره به څه د خوراک د پاره میوه دانه وه هغه به می څه نه څ
د کوله هغه به هم هغه نه اخیسته په د پر زور او منت او ځکړه به می پی ځایوله
هغه به ویل که ددی ځایه بدل شوی نو بیا به میوه څیړته وي نو ددی له پاره م
له دا عادت پیدا کول په کار نه دی ما به د سره خندل چه په جیلخانه کښی څرنګی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ی هغه هغوشان یې تېروتل په کار دی . ممکنه ده چه زما د تلونه پس څه بل
خدای پیدا کړي . جېلوالاؤ ته زما د بارک په ضرورت دی ولی چه دلته د ډې
رو او په دی د ډې وار د بارکونو کښی زما بارک په برلوی و په دی کښی زیات
راتلل او په دی جېلخانه کښی بل داسی ځای نه دی چه زه یې یوازی پکښی ساتلی
د هغوی د پرزیات کونښښ وچه زه د ډې ځای نه بدلشم او دا بارک د
د پاره وزکارشی د دی د پاره هغوی جرنیل ته ولیکل چه دی د ډې د ډې
ل کړي شی ولې چه د نهوشلو قید یانو ځای یوازی ده نیولی دی او مونږ ته
ای د پرزیات ضرورت دی ، څه موده پس حکم راغی اوزه یې د ډې ځایه
جېلخانی ته بدل کړم .

یانوالی جېل ته :

ل د دی نه چه زه د میانوالی جېل حالات شروع کړم زه دا ضرور ګڼم چه
حکومت هغه حقوق بنکاره کړم چه کوم یې سپیشل کلاس قیدیانو له ورکړي
قوق په داسی فریب اوچالاکی جوړ کړي شوی دی چه د ډې ټول انحصار
په سپیر نتنډنټ منحصر دی . که چیری یو سپیر نتنډنټ شریف وُ او
د قید یانو د تنکولو اورنځولونه و نو د قید یانو هر قسم حقوق شته او قیدی ته
م وي اوکه چیری یو سپیر نتنډنټ بدنیته او بد دیانته وی او دایې خیال
یانو له تکلیف ورکوم نو بیا د قیدی غریب هیڅ قسم حقوق نشته او هغه
تکلیف وي زمونږ د د برۀ غازیخان په جېل کښی دهر قسم سپیر نتنډنټانو
شوی ده زمونږ اول سپیر نتنډنټ مسلمان و ، دوهم انګریز و ، دریم هندو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوخلورم یا انګریزو . د اول سپر تنډنټ په وخت کښې زمونږ د هر حقوق
سپر تنډنټ په وخت کښې باوجود د دې رو جګړو او کشمکش نه یاهم زمونږ
وو لیکن چه څه وخت یو هندو سپر تنډنټ رائي صاحب داعی اوچارج
اوزمونږ سپر تنډنټ شو زمونږ حقوق کم شو چه چا به ویل چه زه میوه
هغه به وې چه دا (Assistant) یعنی عیاشی ده او که چا به جای یا مصری
نو دام دهغه په خیال عیش ؤ اجازت به یې نه ورکولو، لکه داچه د خو
قدرې چا ته اجازت نه ؤ د هغه په خیال کښې دام لګژری (عیش) ک
صرف ورځ به زمونږ تالاشی وې اولږ غوندې څیز چه به یې چا سره د
کړ نو بیا به د هغه پیشی وی اوسزا کانی به وی صرف ماته زما د غاښ
په وجه دیوام دراغوښتلو اجازت واو د هغه د پاره هم د هغه داحکم و
معلومه شوه چه تابل چاله ورکړی دی بیا به په تام بند شی او هغه اجازت
چه زما غاښونو او اوږه کښې نقصان و او د ینټل سرجن لیکلی وو چه
روزانه څه ناڅه میوه خوړل ضروری دی داخو زمونږ حال وچه په سپښ
وو نو تاسو اندازه ولګوئ چه د عاموقیدیانو چه په (c) کلاس کښې وو
به څه حال و او د هغوی د حقوقو به څه حال وی؟ حقیقت دادی چه
خپل رعیت ته د پر بلد نیته دی او هر قسم قانون چه د دوی د پاره جو
په منه نیت نه جوړ وی تاسو ګورئ چه د دوی شپه او ورځ نوي نو
جوړوي په دې بهانه چه په ملک کښې جرمونه کم شی او امن شی او
شی لیکن ورځ په ورځ جرمونه په زیاتیدو وي ، بلا امنی وی او خ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ی څه وجه کیدی شی. ددی عمل وجه ده چه دا ټول قانونونه په سنه نیت نه جوړیږی
د بد نیتئ سره جوړیږي او په بد نیتی سره استعمالیږی او عمل پری کیږی اوکه
قانون جوړشی خو چه نیت بد وی نو بد استعمالیږی. پیرنګیان په ملک کښی
ښتیا سره نه امن قایمول غواړی اونه جرمونه او جګړی او نه فسادونه کمول غواړی
ستاسو خبره ده چه که یو حکومت په ربنتیا سره دیو ملک اصلاح او امن غواړی او هغه
نه شی؟ تاسو خو لږ دې ته وګورئ چه هندوستان کښی هم د انګریزانو حکومت دی
انګلستان کښی هم د پیرنګیانو حکومت دی هلته دا ټول څیزونه قایم دي نو دلته
ولی نه شی؟ یوه ورځ زما د سرحد د پولیس د جرنیل سره د پولیس په دیانت
او ایمانداری باندی بحث شو نو ما ورته داخبره وکړله چه زه په دې نه پوهیږم
چه سو په انګلستان کښی یو دیانت دار او ایماندار پولیس په ربنتیا معنو کښی د
هغه متکار پیدا کولی شئ نو دلته یې څنګه نه شئ پیدا کولی خو تاسو لی نه پیدا کوئ.
زه چه هلک وم نو زه په زبرکانو اوملایانو پسی د پرګ ګډ لم د پرلمو ځونه
کیفی به مې کولی اولاس نیوی می هم کړی وُ. ما به د پری وظیفی کولې خو چه څان
د کتل نو په ما کښی هیڅ تغیر او تبدل نه راتلو د هغه زبرکانو اوملایانو نه می هم
د ونه کول چه زه خو د پری وظیفی کوم ولې چه څنګه زه هغسی یم هغوی به زما د
د پرکوشش وکړو خو زما تسلی به ونه شوه اخر چه زه د پرهٔ غازی خان
لاړم هلته زما پر د پر مهربان دوست وُ ما ستر کوردت مل نوم یې وچه د هغه
تعلق پیدا شو، هغه د پر عالم او سنه سړی و او ما سره د پره مینه او محبت
سره یو کتاب وچه یو پادری لیکلی و د هغه کتاب نوم (Your Forces and how to use them)

(c) ketabton.com: The Digital Library

(یعنی ستاسو قوتونه او دهغونه دکار اخیستلو لاری چاری) هغه کتاب چه می په
ولوستلو نوزه دوظیفی کولو په حقیقت پوه شوم هغه کښی لیکلی ووچه داتاسو وظ
او دخدای پاک نوم او صفاتی نومونه یادوئ نوتاسو له ښایی چه هغه صفات څان
پیدا کړئ مثلاً دخدای یوصفت دادی چه هغه رحمٰن رحیم دی یعنی بخښونکی
دی نوتاسو هم څان کښی دبخښنی اورحم عادت پیدا کړئ اوهماسی نور.

زه چه څه وخت خبر شوم چه زما ددی جیلخانی نه بدلی وشوه نوزه
سوری له ورغلم اوسردار کهرک سنګه صاحب هم هغه سوری له راغی اوپه دیره
خوشحالی سره یو دبل نه رخصت شو. دروازه کښی زما دبوتلو دپاره سپا
تیارولاړ وو. جیلوالو هم ماسره په هغه سپه وکړله اوزه سپاهیانو سره دمیانو
روان شوم داځل مونږ ته داباسین په پوری وتلو کښی څه تکلیف ونه شو ولی
واوپه یخنی کښی اوبه لږې وی اوپه اباسین باندی دکشتو پل دی. چه ستیشن
زمونږ ریل تیارو مونږ یکښی کښېناستو اوسبا وختی میانوالی ته ورسیدو. ستا
نزدی جیلخانه ده زه یی جیلخانی ته بوتلم جیلوالو ته یی په حواله کړم. داروغ
ماسره دیره کړه بره وکړه اوپه دیری مینی محبت یی جیل ته بوتلم. په دی
کښی کافی سیاسی قیدیان وو زیاته حصه یکښی دسکهانو وه اویوځو کسان
هندوان اومسلمانان وو، په سکهانو کښی یوځو کسان زمونږ دسره جدهم و
کسان خو خاص دپښور وو دهغوی په لیدو می زړه دیر خوشحاله شو
صرف دری کسان مسلمانان وو یو د مولانا ظفر علیخان زوی مولانا اختر
صاحب و اونور دوه کسان د پانی پت ملایان وو. په دوی کښی دیوکس

(c) ketabton.com: The Digital Library

یال صاحب وچه دپرخوش مزاجه اومجلس اداسې واوزمونږ دخوږو، څکلو
طام هم دهغه پلاس کښې وو. په پخلی هم دپرښه پوهیده، پخلی به یی همیشه پخپله کوو
روغه صاحب زه دوی ته په حواله کړم، معلومیده چه دداروغه صاحب دوی سره خاص
ق و اوچه څه وخت داروغه صاحب تلونو ماسره یی دپر اخلاص بنکاره کړه اوماته
ووې چه زه ستاهرقسم خدمت ته تیارېم تاته چه دځه قسم تکلیف یادځه قسم ضرورت
ی نوماته به ایله دا شاری کولو ضرورت وې لیکن روستو ماته دتجربی نه معلومه شوه چه
روغه صاحب دومره ښه سړی نه و ویل به یی یوځه اوکول به یی بل څه خبری به یی دپری
ی لیکن عمل یی پری دپرکم و بل نقص پکښې داوچه دسړی به یی دپری خوشامندی
ی لیکن ورسره به زر توزره دهغه بی عزتی کولو ته هم تیارشو. په دې جهلخانه کښې
ووی پخولو دپاره دوه باورچی خانې وې. یوه دهند وانو اوسکهانو اوبله دمسلمانانو
ې بیلتون تولې ذمه واری دهند وانو اوسکهانو په سر وه ځکه چه هغوی ته مسلمانانو
ه کوله اودوی به یی خپلی باورچی خانی ته دننه نه پریښودل او په دی کښې لاد
ی خلکو دام خیال وچه دمسلمانانو په ورتلو سره چې کوکه پلیتیږي په دی وجه مسلمانانو
وی نه خپله باورچی خانه بیله کړې وه اوپه دی کښې هغوی غریبانا نوته څه قصور نه وو.
ی متعلق ما دپری قصی اوریدلی وې لیکن زه یی مناسب نه ګڼم چه دلته یی وکړم او
ی کښې زه څوک دپرکر موم هم نه ولې چه دتول عمر عادتونه په څوورځو کښې بدلیدی
ی زه امید کوم چه وږو وږو به په خلکو کښې علم اوپوهه راځی، دهند وانو اومسلمانانو
ه لیږی شی لیکن رفته رفته دوی دپاره وخت په کاردی اوکار په کاردی بیا
وې ته لویه کامیابی دایم چه دلته اکثر هند وان اوسکهان دوی خیال نه وو

سکهانو
هغوی پالیتیږي
وو هغوی
علم پهلوی
پهلوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکثر خو به مسلمانانو سره یوځای خوړل او څکل کول . که زموږ پیچن کښی چه
څه پاخه شوی وی خوراک کښی به یی هم باک نه کوو او د زړو خیالاتو خلک هم د
لیکن بیا هم د دې اثر نښه نه وی او د هندو او مسلمان مینه محبت او اتفاق کښی یی
نقصان غوره ځولی و .

دلته د اقاعده مقرره وه چه چا به د مسلمانانو د لاسه خوړلو باک نه کو
مسلمانانو به هم د هغوی د لاسه هر څیز قبلولو او خوړلو او چا چه به د مسلمان د لا
څیز نه خوړو او د هغوی نه به یی کرکه کوله نو مسلمانانو به هم د هغوی د لاسه څه څیز
اخیسته او نه به یی د هغوی دعوت قبلولو . سردار سردول سنګه سره دلته ز
اول ځل ملاقات وشو دا هم د سکهانو یولوی لیډر وُ او د پیړۍ او عالم سړی و
دده د صحبت نه هم ما ډیره فایده حاصله کړه . مونږ ته د تبادله خیالات د پاره یو
مقرر کړی و او هیڅه به مو په مذهبی او سیاسی معاملو باندی د یو بل خیالات
سردار صاحب د پیړیو از اد خیال سړی و ، د نورو سکهانو په شان نه و . څومره س
د دوی نو سره چه زما ملاقات او تبادله خیالات شوی و په هره معامله کښی د ده رائ
او معقوله به وه او ما سره به یی د پیړۍ مینه او محبت کولو . دلته د پیړۍ سکهان د وا
د پینبور سردار راجه سنګه صاحب هم و ، چه څه وخت اصلاحات (Reforms) راغلل نو د
د صوبی اولنی ایډوکیټ جنرال وُ او ده سره د پینبور یو بل سکه هم وچه ما نه یی
د ی د چا یو سودا کړو او د چین نه به یی چای راغوښتله او ما له به یی د څنو چا
کلونه چه د پیړۍ قیمتی او خوندناک وی سا تلی وه او د اکول به یی ما سره یی د پیړۍ مینه
کولو ، د پیړۍ محبتی سړی وُ . صوفی صاحب د د ده د ی د ښکلی سینه ما هره وُ هر څیز به

(c) ketabton.com: The Digital Library

ین مرچکی ببرلی د پرزیات خورو او مرچکی سره زه بلد نه وم ، په دې وجه به
پرزیات په تکلیف وم ، یوه ورځ صوفی صاحب قیمه پخه کړه او پکښې دومره مرچکی
وو چه نوری اخیستو سره زما خوله وسوزیده ، ما دودی پریښوده او سپورۍ
می خوراک شروع کړو ، صوفی صاحب راته ووی چه دی کښې خو ماسته دوجې نه
چکی اچولی دی کوندی د دې قاعده خو داده چه سیر قیمه کښې سیر مرچکی
ستا دوجې نه می پکښې صرف سل مرچکی اچولی دی ما ورته ووې چه خدای دې
ښه شی چه زما دې دومره خاطره کړې دی خوزه د مرچکی سره بالکل عادت
نه یم داوی چه ماله بلله کتوئ پخوې ولی چه په دې طریقه تا سو ته هم تکلیف
ماله هم تکلیف وي بیا د پاره ځان له دخپل خواهش کتوی پخوئ او ماله زما
ن پخلی کوئ نو دوا روته به ارام وی . صوفی صاحب لوی عالم و ، د پرښه سړی
ی و لیکن زیات خوراک ببرلی کاوه پخپله یې هم زیاته غوښه خوړه او اختر علی
ببرلی هم زیاته غوښه ورکوله او ددی له پاره ببرلی اختر علی خان د پرې
ندی کولې . ماخو چیرې په دی خبرو نو تس نه اخیستو ولی چه ما به خیال
دی دومره تکلیف او هر بانی کوي او مونږ له دودی پخوی نو کرلږ د پر
ری نو دومره باک یې نشته ولی زما هغه ښ ملګری مولانا صاحب به ور
شته په جنګ ځو وورته ببرلی ویل چه ستا دا عادت ښه نه دی چه ځان له
خوری او چه څوک دې خوښ وی هغه له هم د پره ورکوې لیکن صوفی
باندی ددی قسم خبرو اثر نه کیدو ، هغه به همیشه په زړه طریقه روان و .
میا نوالي جیل هم د غازی خان د جیل نه په کرمی کښې او په با دونو کښې څه کم

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه وکه چیری هغه یو دشت و نودایو ریکستان دا وکه هلته به د خاوو وسیا
نو دلته دشکو سیلی الوځی هلته خو مونږ ته دا فایده وه چه مونږ الوی بارک کښی
دلته بارک اډوشته نه تول سلونه (چکی) دی. د دې په نسبت زمونږ هغه
د پرسنه اویخ ؤ او باد به یکښی هم لګیدو، بله دا چه هلته د بارک نه بهر د ه
ملاستی د پاره کدی د دې چه په کرمی کښی به مونږ پری څملاستو او دلته
ځمکه څلی. مونږ سیاسی قیدیانو کښی یو بل نقص دا وچه سیاسی قیدیان
کوشش سره جیل والا د ځانه سره ملګری کولی شی او د خپلو فایدو د پاره
قیدیانو برخلاف استعمالوی چه یو سیاسی قیدی سره جیل والا لږ غوندی سپ
شروع کړی او څه ناڅه رعایت ورکړی نو بیا دې خدای خیر کړی او دا امتیا
خدای په چا نه راولي مونږ فوراً د هغوی ملګری شو او د جیل والا و طرفدار
کړو او په زړه کښی وایو چه دوی زمونږ د پردوستان دي او په دی نه پوهیږ
دوی زمونږ نه فایده حاصله کړی ده او زمونږ حقوق تر لپي د پیر نقصان رسو
زما دی نه دا مطلب نه دی چه څوک دې د حکومت د نوکرانو نه نفرت وکړ
له د چا نه نفرت کول په کار نه دی، په کار دی چه هر چا سره سنه سلوک وکړو
کوئ چه د خپل جماعت خلاف د بل چا ملګری اوراز دار اومدد کار شئ مو
دی چه په هر حالت کښی د خپل جماعت د خلکو راز دار او مدد کار یو. د
همیشه د جیل والو د خوشحالولو د پاره د خپلو ملګرو د هر قسم مخالفت کولو ت
دا کوشش کوی چه څوک د هغوی برخلاف ایجی تیشن شروع نه کړی او که
دی قسم څه خبره پیښه شی نو دوی همیشه د هغه مخالفت کوی او د خپل جما

(c) ketabton.com: The Digital Library

نفاق پیدا کوي حکومت چه څومره مونږ ته یا زمونږ حقوقو ته نقصان رسولی دی دا
ټول ددوی دالاسه اوددوی دپاره کړي چیرې مونږ یوه خوله اویو موتی وای نوحکومت
په مونږ ددې قسم زیاتی نه شوکولی اوزمونږ حقوقو ته یې نقصان رسولی نه شو. دا
زمونږ دشان سره مناسب نه دی چه دخپلې ذاتی معمولی فایدی دپاره دهغه حکومتی
پرزو سره تعاون کوو چه دچا برخلاف مونږ دعدم تعاون اعلان کړی دی اوکه ددی
دپاسه چیرې څوک بیاهم دوی سره تعاون کوی نو په جایز وخبر وکښنی دی ورسره
تعاون وکړي اوپه ناجایز وخبر وکښنی خو تعاون یوه لویه ګناه اوجرم دی .

جبل الا سره دا دوستی مرض په میانوالی جیل کښنی دوه پره غازی خان
جیل نه زیات و اوبیا زمونږ مسلمانان ورونه په داروغه صاحب باندی هسی پتنګان
وو اوتردی حده پورې رسیدلی دوه چه دخپلو ملګرو سره دجیل په باره کښنی بحث کول خو پریږده
بلکه اودپلاوتې هم تیاد نه وو اوڅومره خوشامندي اوتابعداري یې چه دداروغه
صاحب کوله دهغې بیانول مناسب نه ګڼم ، ددی دوستی چه څومره حقیقت ماته
معلوم دی هغه داوچه دوی له به یې پې کارډ ، لفافه اوخط دخپل حق نه زیاتی ورکول
اوچه څه وخت به جرنیل په دوره راغی نو دوه میاشتی معافی به یې هم تری ددوی دپاره
اخیستې. بل دوی به هر وخت دفتر ته تلی شو اودمازیګر په وخت کښنی په چکر کښنی د
ګرځیدو هم اجازت وُ خو دی سره داخبره هم وه چه داروغه صاحب به همیشه چه څومره
ددی خپلو دوستانو بې عزتی کوله هغه هومره چیرې دبل چا کړی نه وه . د داروغه صاحب
په دی جیلخانه کښنی دپرلوی اشنا دظفر علی خان زوی اختر علی خان وُ چه داروغه صاحب
به څه وخت مازیګر دګنټری دبند ولو دپاره چکر ته راغی نو دوی به هم ورغلل اودهغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره به په کرسو ناست وُ. یوه ورځ ډاکټر صاحب دهسپتال نه چکر ته راغی چونکه
په چکر کښی نوری کرسی نه وی لبس دغه دوه کرسی وی چه په یوی داروغه صاحب
او په بلی اختر علی خان ناست و. اختر علی خان د داروغه د دوستی په وجه یا دلیدی په
خیال ډاکټر صاحب ته اوچت نه شو او کرسی یی ورته هم خالی نه کړه داروغه صاحب
ته د اختر علی خان دا رویه سبه ښکاره نه شوه او هغه ته په قهر شو، بی عزته یی کړو او
د کرسی نه یی پاخولو او په یوه سپکه طریقه یی ورته ووی چه ته خان وپیژنه ته قیدی
یی شاید تا نه خان هیر شوی دی، ته نه پوهیږی چه ډاکټر صاحب د جیلخانی یو
لوی افسر دی هغه ولاړ دی او ته په کرسی ناست یی. د چکر نه یی په بی عزتی وشړلو
او آینده د پاره یی په چکر بند کړو خوچه ما زیګر به شو او داروغه صاحب به چکر ته
راغی نو دی به ورغی نمبر دار ته به یی وویل چه داروغه صاحب ته ووایه چه اختر علی
خان چکر ته اجازه غواړی، هغه به ویل چه نه، نه دی راځی، یوه ورځ ماوته وویل
چه اختر علیخان ته سیاسی قیدی یی او د ظفر علیخان زوی یی دا ته چه څه کوې دا
زمونږ د تولو سیاسی قیدیانو بی عزتی کوې. چکر به څه وی؟ اوته ولې داخپل خان
د داروغه په مخکښی داسی وروکی کوې ته کوې نه چه داروغه هره ورځ ماته منت
کوی چه د اځه چکر ته راشه خوزه نه ورځم. چکر د پرسبه ځای وو او د پرکلونه وو. اختر
علیخان تر هغه وخته پورې په چکر بند و چه تر څو چه یی د داروغه صاحب نه معافی
و نه غوښته او رضایی نه کړو. د دې نه تاسو پخپله نتیجه وباسئ چه دی ته به څوک
دوستی وویلی شی؟ داخلک په دې دوستی نیازبده او د پر فخر یی پری کولو
میانوالی جیلخانی کښی هیشته شنکی الوزی او شنکی اوسیلی د پری کړمی وی هر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ېز کښی شکی ږی او هر څیز د شکو پک وی او د اسی هیڅ څیز به دې په نظر
نه شی چه په هغی کښی به شکی نه وی سره د دې پره احتیاط به یاهم په هر څیز کښی
نه ناڅه شکی وي او معلومه ده ږی داچه د اسی قسم خاص جیلونه پیرنګیانو دیاره دا نسته
سیاسی قیدیانو د ازادولو او صحت خرابولو د پاره خوښ کړی دی. زما صحت
لته د دې پرهٔ غازیخان په نسبت زیات خراب شو، وزن می هم د پرکم شو، ما څو ځله
پیرنتنلنت ته داخبره وکړه چه ما د دی جیلخانی نه بلی جیلخانی ته بدل کړی نو هغه
وي چه زه څه کوی نه شم ولی چه حکومت د سیاسی قیدیانو د پاره د اجیلخانه مقرره
ړی ده. د قیدی خبری ته څوک غوږ نه ږدي د پیرنګیانو په راج کښی قیدی هډو
ړی نه دی په سپی به یې رحم راشی لیکن په قیدی یې رحم نه راځی. چه کړی د پر
د د وکړو نو په جیلخانه کښی د ننه یو کوهی وچه د هغه او به د پرې یخی وي د کومو خلکو
ه به د اروغه صاحب سره تعلق وهغوی ته کوهی له د تلو اجازت وا و هغوی به همیشه
ما زیګر لمبلوله تله هغوی به د او بو د یخوالي د پر صفتونه کول چه هر چاته به د هغه ځای
مباشوق پیدا شو لیکن افسوس چه هر ږی به هلته تلی نه شو، دا رعایت صرف د د اروغه
سنا یانو ته وُ او کله نا کله به بغیر د څه وجهی نه د اروغه صاحب خلک بند کړل او نمبردارانو
به یې حکم وکړو چه هیڅاته ورلیږی نه کړی نو د غه وخت به د د اروغه صاحب د اشنا-
ږیو عجیبه حال وُ ولی چه هغوی د کوهی د پاسه په یخو او بو د لمبو اموخته وچه مازیګر
شو او د لمبو وخت به راغی نو په دوی به میږی لګیا شو و دونه به یې د زول نمبردارانو
به یې چغی وهلی او منتو نه زاری به یې ورته کولې چه په دې کښی به ما بنام شو جیلخانه
بنده شوه نو اخر به د دی خوارانو زړه صبر شو. د اروغه صاحب به کله نا کله ما ته هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دی نوهی دیخوا او بوصفت کولو اوراته به یی منت هم کوو او راته به دې چه کیږی
همیشه نه څی نوکم از کم یو ځل خولا پشه او دهغه ځای د لمبلو مزه خوړا خله لیکن ما پدې
څیزونو ځان نه اموخته کولو ځکه چه ماخو د خلکو دابی قرادی او بی عزتی صره وړځ لیدلی او
داروغه صاحب به ماته د پر منت کولو چه ته نه چکر له راځی او نه لمبلو له څی د خپلی احاطی
بهر نه وځی ما به خپل زړه کښی خیال کوو چه اوس خو داروغه صاحب سنا منت کوی لیکن
چه یو ځل یی د دې نورو په شان اموخته کړې نو بیا به تاسو سره هم دغه شان سلوک کوی
ته ولې بل له داسی موقع ورکوې؟ د هرسړی خپل عزت پخپل لاس کښی دی او که هرسړی
خپل خواهشات او ضروریات قابو کړی نو همیشه به ارام خوشحاله او عزتمند وی.

رهایی:

دلته هم زمونږ مشقت څرخه او تاروونه (سپینسی) دیشل وو. زه به اکثر د خپ
مشقت (کار) نه صرف په دوو کینټو کښی فارغه شوم او بیا به می مطالعه کوله.

اخر زما د سړی کاله قید په ختمید و شو او رهایی می راته ورکړی شوه، د رهایی تا
په تکټ وختو. زه نه پوهیږم چه د دې نه څنګه زمونږ جماعت انجمن اصلاح الافاغ
خبر شو ځکه چه ما چیرې هم د دی قسم خبرې چا ته نه وی لیکلی او دا به می هم نه خو
چه چاله تکلیف ورکړم. دا تمانزو نه به کړم کړم خطونه راتلل چه مونږ د خپلی رهایی د
نه خبر کړه ولی ما دا خبره نه خوښوله او چاله می دلته د راتلو تکلیف نه ورکولو په دی
ما دا خبره همیشه د خپلو خپلوانو او د دوستانو نه پټه ساتلی ده او زه د دی خبرې
نه وم چه انجمن زما استقبال کول غواړی، دا انجمن زما استقبال څوښ و او زه
یی کولو لیکن د حکومت خوښه نه وه ځکه چه خلک به د دده د رهایی نه خبر شی او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښی به د پره لویه پرا پیکنډه وشی په دې وجه د حکومت سره فکر پیدا شو اوماته
لا څه ورځی وی چه په دی کښی جمعدار راغی اوماته یی ووی چه دا روغه صاحب دې
غواړي زه به دفتر ونوله نه تلم نوماورته ووی چه دڅه د پاره می غواړي ؟ هغه راته
ووې چه ستا دهایی شوی ده . نوماورته وویل چه زما لا څو ورځی پاتی دی زه د وخت
نه مخکښی دهایی نه غواړم نو هغه لاړ او بیا راغی چه ستا دهایی نه بلکه د پښتو رجسټر دې
تبدیلی شوی ده . حقیقت دا دی چه د معافی نه می انکار ځکه کړی وُچه جیلوالو به د
معافی په طمع زمونږ سیاسی ورونه د پرسیکول او دری څلور ورځو په معافی به یی
پرې د پرا احسانونه کول ماچیل سامان واخیستو د تولو ورونو نه کهنډوان ووکه
سکهان ووکه مسلمانان په خندا او خوشحالی رخصت شوم او تولوته ورتر غاړه
وتم . ماسره که سکهان ووکه هنډوان اوکه مسلمانان د تولو په مینه محبت وُ . چه دفتر ته
ورسیدم او بیا دفتر کښی می سپاهیان ولیدل نو تسلي می وشوه . زه یی هغوی ته
په حواله کړم ، مونږ د جیل والو نه رخصت شو او د ستیشن په طرف روان شو چونکه
ډکا پی دراتلو رخت لانه و او د کاپی راتلوته څه وخت پاتی وُ څه وخت چه مونږ
ستیشن ته نزدی شو هغوی زه د ستیشن نه بهر ایسار کړم او ستیشن ته یی په
دی وجه بوتلم چه خلک به می وویني او بله دا د میانوالی خلک تول پښتانه دي مشران
له پښتو ژبه ورځی او د کشرانو نه یی هیره شوی ده زمونږ د میانوالی د جیل د اکثر چه
نو هغه له پښتونه ورته او یوه ورځ یی پلار زما ملاقات له راغلی و نو هغه ماسره پښتو
وویله ، پښتنو کښی دا د پره لویه کمزورتیا ده چه چیرته لاړشی او چا سره واده وکړي
نو هغه خپله ژبه نړی پاتی شی . مونږ سره په سرحد کښی په زړ کو نو هنډوان او سی هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه خپله ژبه هیر کړې نه ده ، پنجابی یې هم زده ده اوزمونږ ژبه یې هم زده کړې د
داکمزوری صرف په مونږ پښتنو کښې ده .

ما بنام تیاره کاډی داغی مونږ یکښې سواره شو ، په دې ډبل کښې ډېرې
نه دې اکثر کوتې (ډبې) یکښې خالی وې مونږ یکښې کافی ځای پیدا موندله او یک
آرام کښینا ستو اوریل پیښورته روان شو تقریباً شپه ډېر خوشحالی نه خوب رانغی سا
په ساعت به راویښ یدم اودسپاهیانو نه می تپوس کولو چه دا تمکنه پوری وتواوک
اخر سحر وختی چه می سترګی پرانیستې نوزمونږ ریل ډېر خیرآباد په سټیشن ولا
زما خپل ملک اوخپل قوم سره ډېر محبت دی دخپل ملک په داخلیدو اودپښتنو
په لیدو می زړه ډېر خوشحاله شو زه پخپل ځای بی غمه پروت وم نو په دې خیال کې
وم چه پیښورته به څه وخت ورسو لیکن ریل روانیدونه ، په دې کښې زه راپورته شو
دروازه می لیږی کړه تماشا کوم چه ریل ولې نه روانیږی کورم چه پولیس والا په پلې
فارم منډې وهی کله یوه کوته ، کله بله کوته د ریل لیږی کوی چه په دی کښې یې زه ول
زما په لیدو هغوی ډېر خوشحال شو ، تانه داډ ماله راغی اوماته یې وویی چه مونږ خ
تالتوو ته کوم ځای وې زمونږ زاره دی په لټولو شنه کړه ریل هم لیټ شو ما ورته
چه زه خو هډې کوته کښې وم لیکن تاسو ځکه لیدلی نه یم چه زه ملاست وم ما ورته وا
چه ماسره موخه کار دی ؟ هغه راته وویی چه راځه ستاد پاره موچای تیاره کړې
زما اسباب یې ډکاډی نه راکوز کړو زه ورسره روان شوم چای یې تیاره وه انسپکټ
صاحب هم هلته ناست و مونږ چای څکله چه په دی کښې ریل روان شو ما ورته وا
چه کاډی خو رانه لاړ هغوی وخندل اوپه خندا کښې یې راته وویی چه مونږ به دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

موټر کښې زور رسوو چای موخکله زما چارج یې د پنجاب د پولیس والونه واخیستو هغوی ما سره کړه بره وکړه اورخصت شو. خلک د پنجاب د پولیس نه د پرشکایت کوی لیکن دی پولیسو ما سره چه ښه سلوک او دهر قسم ارام رسولو کوشش کړی دی زه یې شکوریم او هیڅوی به دهغوی ښه سلوک رانه هیر نه شی، دستیشن نه چه بهر شو موټر تیار ولاړ و زه یې په موټر کښې سور کړم یو تانه دار او دوه تنه سپاهیان د ما سره پکښې سواره شول انسپکټر صاحب پاتی شو چه نو ښاړته نزدی شو نو زه یې بهر په بهر د مردان په سړک چارسدې ته روان کړم اوس زه پوه شوم چه د پیښور په ځای می چارسدې ته بیایې په لاره راته یو ځای دوه ځله موټر پنکچر شو، اتفاق داو چه هر ځای به راته پنکچر کیدو هغه ځای به د بره ابادی نه وه، دا بادی نه به لیرې وو. اخر داچه سړ د پروته راورسیدو د راسپدو سره راته بیا موټر پنکچر شو په تانه دار صاحب د پرهیبت راغی فوراً د موټر نه کوز شو، موټر ته یې صبر و نه کړو یوه تانکه ولاړه وه په هغې کښې مونږ سواره شو و چارسدی ته روان شو چه چارسدې ته ورسیدو، د لاور خان زمونږ استقبال کړشو و د سیند په غاړه یې قچری کوله په قچری کښې د پرخلک ولاړ وو چه زه یې ولیدم نو خلکو ما له را منډه کړه او زما نه چا پیره شو زه یې د لاور خان ته پیش کړم هغه ما سره د پره راشه درشه وکړه خان سره یې د پکی لاندی کښې ښولم د پرې خبرې اترې یې را سره وکړې بیایې تانه دار له حکم ورکړو چه دی امانزو ته ورسوه. د تلو په وخت کښې د لاور خان هم ما سره را روان شو چه د برنډی نه بهر شو نو ما ورته ووې چه بس مهربانی زیاتی تکلیف مه کوئ د غه

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلب بس و نو هغه راته په خندا کښې ووې چه خلک خو په دې لوی فخر کوي او لوی عزت یې ګڼي که چیرې یو استهنت کمشنر یو خو قدمه درسره جلب وکړي ما ورته په جواب کښې ووې چه دا تکلیف دی اوزه دا څیزونه نه خوښوم چه څه وخت مونږ بهر راووتو په دې لږ ساعت کښې په سوو نو خلک جمع شوي وو. ما ټولو سره ګډه وکړه او دهغوی هغه جذبه او محبت می دپره محسوس کړل او تم تم کیدی زه سره د تانه دا زاو پولیس اتمانزوته روان شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیاسی سرکرۍ او پښتون اخبار

کلی کرکښی. د تمانزو جلسه، فخر افغان، انجمن اومدرسی

هشنغر، دواوه، صوابی، بالاکوټی، ساول دیرۍ، سم

کاټلنګ، کلیاډه، اسمیلا، پیښور، کوهاټ، هنګو

تل، بنوں، ککی)

د حج سفر (شام، بیروت، عراق، موصل، بغداد، نجف، کوفه، کراچی،) پښتون اخبار

سنه ۱۹۲۸ع

د امان الله خان خلاف

شورش او مونږ، نادر خان باچاکیږی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلی کورکښی :

تکنه غړه وه مونږ کلي ته ورسېدو ، زه چه له اسکول نه نزدی شوم ، هلته
د سکول یو هلک وپیژندم ، هغه په منډه لاړ چغې یې کړې چه باچاخان راغی ، ددی په
اوریدو ټول هلکان سره د استاذانو سړک ته راووزغلیدل . په سړک باندی یو ځای
شو نو هلکانو چغې کړې او یو شور جوړ شو یو ساعت کښی ټول راجمع شول او زه یې دغه
شان پخپل منځ کښی ګیر مدرسی ته بوتلم او دا به یې په شریکه وې چه « فخر افغانه
په خیره راغلی دزندانه ، مرحبا مرحبا » استاذان هم راغلل مونږ قول یو بل ته ورته
غاړه وتو او په پری خوشحالی مو وکړې ، هلکانو ماته د خپل طرف نه سپاسنامه (Address)
راکړه ، چه دکلی خلک خبر شو هغوی هم په منډه منډه مدرسی ته راغلل د پر د خوشحالی
وخت وچونکه د ډوډی او دارام کولو وخت وما د دوی نه اجازت را خیست چه څه
وخت کورته لاړم نو هلته دکلي خپلی پردی د پری زنانه راجمع شوی وې او دومره قدر
لاړنه وه چه زه د ننه تلی وای هغوی کښی د پره مینه وه د پر محبت ؤ ، د پر احساس
و او د پره جذبه وه . د راشه د رشه نه وروسته هغوی رخصت شوې او یو څو کسانی
زمونږ نزدی رشته داری پاتی شوې . د تولونه اول می ولمبل غسلخانی ته لاړم
لوجامی می بدلی کړې لږه غوندی ډوډی می وخوړه د پرستری شوی وم بیا
د پرزر اوده شوم ماسپښین را پاځیدم جماعت ته لاړم هلته هم د پر خلک جمع وو
لمونځ مو وکړه او بیا دلمونځ نه ځجری ته راغلو او د خلکو سره می کیښی شروع
کړې څوک به یې چه خپر پدال زمالپد وله به را تلل ماچه د خلکو د اجوش او خروش ولیدو
نو زه ورته حیران پاتی شوم ماته معلومه شوه چه یو خوا زما قید او بله خوا د « انجمن »

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارگزاری په ملکو ښه اثر کړی دی او قوم کښې یې یوه زبردسته جذبه او احساس
پیدا کړی دی یو خو د خوګ کښې د پښتونو، مردان، کوهاټ، بنو او ډیرو ټول دوستان
او ملګری زما سترې مشې له راغلل. اخر دا خورځی پس دا سلسله ختمه شوه. زه چې کلی ته
راغلم، نو زمونږ درخه چې وو هغه لوټ شوي وو چې زه یې قید ولم نو زمونږ ډیره کوره ډیر
جوار، ډیر غنم، مونږ کور کښې وو چې هغه وخت کښې به تقریباً دیولک روپو وو زه د ډیر
کاله قید وم، ما باندې په پیښور کوکلی کښې د پنځو کانو کښې خپل کړلې وو چې واپس راغلم نو زما
خوری سلطان خان راته وویل چې په تاسو ډیری زده روپۍ مالیه بقایا ده دغه شان
ماته معلومه شوه چې زما د بښځې ټول کالی (زیورات) کانه وو. زمونږ په پښتنو کښې
دا قاعده ده چې په غم، خوشحالی، خپل خپلوان او دوستان ودله ډوډۍ کوي او ډیری
پیسې پرې لګوي ماته هم ډیرو دوستانو او خپلو خپلوانو د ډوډۍ ستونه وکړل ماد
هغوی په خدمت کښې دا تجویز پیش کړو چې د بښځې د ډوډۍ په ځای ماله (اوم خرڅ)
اومه د ډوډۍ راکړئ ماله یې نغدې راکړئ څومره چې ستاسو په ډوډۍ خرڅ کیږي
د هغه نیمه نغدې ماله راکړئ ولی چې زمونږ قوم ډیر ورځ دوسته پاتې شوی دی او د دې
لوی قوم دی و د ده د خپلې ژبې یو اخبار قدری نشته او نه یې د بچو د تعلیم د پاره
مدرسه شته. د پښتنو څپله ژبه کښې د اسې هیڅ څیز نشته چې زمونږ قوم ترې څه
فایده اوچته کړی، مدرسه جوړه کړی او پښتون څه نه څه د دنیا د حالاتو نه خبر کړی.
لیکن زما دی خبرې په دوی څه اثر و نه کړو. هر پښتون ډوډۍ ورکولو ته تیار دی
لیکن نغد حساب ورکولو ته تیار نه دی. صرف د ډیری کسان وو چې هغوی زما د خبرې
سره اتفاق وکړ او کافی نغد حساب یې راکړو چې یوه می چاچی (د توره بښځه) بل

(c) ketabton.com: The Digital Library

عباس خان و او دریم عبدالله شاه میاو او نورو ماشرو اتفاق ونه کړ چه دوی
ما قبوله نه کړ او نغده دوی هغوی رانه کړ دا زمونږ د پښتنو یوه لویه بد قسمتی
او ناپوهی ده چه مونږ بی ځایه خرڅونو، رسمونو او رواجونو باندې په زرګونو روپی
خرڅوو (لګوو) او دقام، وطن او اجتماعی ښیګړو د پاره دیوې پیسې خرڅ کولو ته تیار
نه یو. نور ژوندی قومونه په هر څه کښی د قوم حصه کوی. یوه هندوه وا زمونږ کلی کښی
اوسیده، بودی ښځه وه چاوې چه هر وخت دا اوره اغږی نو یو موټی اوره بل په
کټوی کښی اچوي چاترې تپوس وکړ چه داڅه کوې هغی وې دا په قومی فنډ کښی ورکوم
اوزمونږ پښتانه ورونه په رواجی دوی د زرګونه روپی لګوي خو د نام بنیادی فنډ
کښی یوه پیسه نه ورکوی. دغه وجه ده چه مونږ د دنیا د ټولو قومونو نه ورو ستو پاتی یو.

د فخر افغان لقب:

انجمن اصلاح الافاغنه زماد اتلو په خوشحالی دیوی لویی جلسی انتظام
وکړ او د ټولی صوبی خلکو ته یی د شرکت د پاره دعوت نامی ولیږلی. د جلسی په ورځ
په زرګونو خلک په ډیر شوق او مینه محبت شریک شو، په اتمانزو کښی د ټول قوم یوه
(عظیم الشانه) لویه جلسه وشوه چه په هغی کښی مالګه د قوم د طرف نه یوه سپاسنامه (Address)
راکړی شوه، یوه تمغه او جوبه هم د قوم د طرف نه راکړی شوه او بله داچه د ټول قوم له طرف نه
یی مالګه د فخر افغان خطاب راکړ. چه زماد تقریر کولو وخت راغی نو اول ما د ټول قوم او د
جلسی د کارکنانو د ډیری ډیری شکریی ادا کړ پس یو مختصر تقریر وکړ او د قوم د دا په
او حوصلی زیاتولو د پاره می ورته یوه قصه وکړه چه ما په مدرسه کښی به یو کتاب کښی لوستی
وه ما ورته ووې چه ای پښتنو ورونو! تاسو باندی دهغه زمری څونه شوی ده چه کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کلي وکښې لوی شوی و او د کلي د عادتونه يې اخيستي وو. په هغه کتاب کښې ليکلی وو
چې يوزمري د مور په کيډه وچه موريې د کلي و په يو کندک حمله وکړه د ورځې توپ کولو سره
ې بچي پيدا شو او مودې مړه شوه او بچي تري پاتې شو دا بچي کلي وسره لوی شو او څه وخت
چې لوی شو نو ده کښې اکثر عادتونه د کلي وو او د هغوی سره به خرڅيده او د هغوی په شان
ه بين بين اوازونه هم کول يوه ورځ يوزمري په دې کلي ورا پيښ شو د ده په ليدو کلي
ې د ې خپل زمر کتې سره تس نس شوې او يو خوا بل خوا تښتيدې د ځنګلي زمري په د ې زمري
ه مور شو چې د ده په ليدو لګه څنګه چې د اکلي ې تښتي او بين بين کوي د غه شان د د ې زمري
ې بين بين کول او تښتيدل ورته د پر عجيبه ښکاره شو د ه کلي ې پرې پښوې او ځان يې د غه
مري ته ورسولو او هغه يې راونيو او ځان سره يې هلته يو نزدې د اوبو تالاب ته راوستو
تالاب په غاړه يې و د وو چې په هغه کښې خپل شکل وويني او خپل ځان وپيژني چې ته هم
ما په شان زمري يې بين بين مه کوه او وغ مه بيږه ! زمري چې خپل شکل وليدو نو ورته
ه لومه شوه چې زه خو زمري يم او هغه وخت يې د بين بين په ځای غږ مبدل شروع کړل
ما د ې پښتنو ته وو ې اى پښتنو ورونو ! تاسو هم زمري ئ نو بين بين مه کوئ
غږ مه بيږئ ، د غلامئ دا زنځير وشلوئ ، پاڅئ ، ملا وتړئ او خپل ملک او قوم د غير
ملامئ نه ازاد کړئ ! زما د ې تقرير په خلکو د پر اثر وکړو او جلسه په د پرې کاميابۍ مړه
ه شوه .

زما صحت په جيلخانه کښې د پر خراب شوی و او وزن مې هم پنځه پنځوس پونډه
شوی و ، کمزورۍ شوی وم او په ملا کښې مې هم د ر دونه پيدا شوی وو . په د ې وجه د
ې عطاءالله خان په مشوره او د هغه په ملګرتيا زه د يوخو ورځو د پاره د ارام او هوا بدلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په غرض کوه مړی ته لاړم قاضی صاحب هم راسره لاړ او دهغه ځای آب وهوا راته ډیره فا
ورسوله بیا دهغه ځایه ډکلیا ته په لاره ایبټ اباد ته لاړو اوماښام وخت په ایبټ اباد کښی
اوزما اوښی امیر رحمان خان سره تېری کړی او ددی هوا په بدلولو زما صحت ته کا
ورسیده . زه چې څه وخت وایس راغلم نو اتفاقاً دلاور خان می ولیدو ، هغه زمونږ
کمشنر و ډپټی خبری یی راسره وکړی په اخر کښی یی ویل کړه اوراته یی ووې چه کرفټ
هم ستا تقریر ډیر خوښ کړی دی او ډیر خوشحاله شوی دی صرف دایوه خبره پکښی
نه وه ماورته ووې چه کومه ؟ نوده راته ووی داد زمری غږ مبهار ځکه چه خلک چ
دي او ددی نه څه غلطی نتیجی وښه باسی اوغلط مطلب تری واخلی ، کرفټ صا
ډپټی کمشنر وماورته ووې چه ما دا تقریر ذکرفټ صاحب دخوشحالولو په خیا
کړی نه ددی پرواکوم چه هغه ددی په اوږه وخفه یا خوشحاله شی هغه می دقو
ډ پاره کړی دی اودهغوی دا وچتولو په خیال می کړی دی . دلاور خان چارسد
ډپټی کمشنر په دی خیال اسستنټ کمشنر مقرر کړی وچه زمونږ انجمن اواز
ته نقصان ورسوي اوهغه چه دلته داغی نو اول یی په انجمن کښی دبی اتفاقی پیدا ک
وکړه خوهغه په دی کښی کامیاب نه شو اومدرسی ته یی هم دمسیخ قسم نقصان و
شو . نو بیایی په حکومت باندی زمونږ دمدرسی په مقابله کښی په چارسده کښ
انګریزی سکول جاری کړه اوځای په ځای یی زمونږ دمدرسی په خلاف
کوله + ده برخه حکومت بعض [illegible] کتابان ورکړی چه څونګ
ده پاره مدرسه جوړه کړه [illegible]
په بنو کښی دخلافت تحریک په خلکو باندی ډیر زیات بنه اثر کړی و
دبنو د ضلعی تول ملایان په دی تحریک کښی داخل شوی وو بلکه دبنو د ضلع

(c) ketabton.com: The Digital Library

نمبرداران و استعفاګانی ورکړي وي او په تحریک کښې شامل شوي وو. د پیرنګیانو
سره د پېرو ویره پیدا شوه او د هر هیبت پرې راغی زمونږ د چارسدې اکبرخان
هلته ج وُ. دښمن د پښتی کمشنر هغه راوغوښتو او ورته یې ووې چه ددی خبرې څنیوی
په کار دی نو هغه ورته ووې چه دا زما کار نه دی، زما کار خو دا دی چه تاسو یې
وغپسئ او ماته یې راچالان کړئ. زه به د مقدمې سماعت وکړم. د پښتی کمشنر
چه دده نه مایوسه شو نو بیایې دلاور خان راوغوښتو، دلاور خان په ښو کښې
محبوبیت وا و یوه درشوت مقدمه پرې هم وه او هغه ته یې چه ووې نو هغه ورته
سینه وتمپوله هغه ملایان یې په چلول و غلول او نمبرداران یې هم دوکه کړل او هلته
د خلافت هغه خرېک فیل شو. چونکه ده په ښو کښې یوه لویه فتح کړې وه دی یې زمونږ
د تعلیمی تحریک او اصلاحی تحریک پسې چارسدې ته راولېږه چارسدې یو د بې
اهمه ځای دی دلته به همیشه اسسټنټ کمشنر انګریز و دیسې سړی به نه و. دلاور خان
په مشن سکول کښې او د مشن سکول په بورډنګ کښې ماسټر د پېرو موده یو ځای پاتې
شوی و زمونږ د دوستو نو په شان یو د بل سره مینه او محبت ؤ او زمانه یو یادوه جماعته
دوستو و. ساده خلکو ته به یې ووې او اکثر به یې په دې دوکه کول چه په اتمانزو کښې چه تاسو
پخپلو بچو مسلمانه وائئ نوسند به د دلته څوک د کوي او نوکر کیدی به څنګه شی او مونږ
به چه چیرته په علاقه کښې غم ښادی له لاړ و نو چه ډی به خبر شو دی به هم راپسې
راغی اکثر به د تعلیم متعلق د خلکو په مخکښې بحثونه شروع کړل قوم کښې لږ د پېر
شعور (پیدا شوی ؤ) د خدای فضل وچه په هر ځای کښې به یې شکست خوړ. د
ده د غلطی پرا پیګنډی با وجود په خلکو کښې د غلط فهمی پیدا کولو په ځای د خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

به زمونږ انجمن او مدرسې سره نوره هم زیاته همدردي پیدا شوه دده غلطه پرا پیکنډه مونږ د پاره ډېره مفیده ثابته شوه اوتر اخره پورې الله تعالی دې مخلو حیلو او حربو کښې کامیاب نه کړه اوچا رسدې نه ارمانی لاړو اوزمونږ انجمن او مدرسې تر یې دهیڅ قسم نقصان ونه رسولی شو. دلاور خان عجیبه سړی و. دی د پیرنګیانو د پاره هر قسم قربانی ته تیار ؤ. یوه ورځی زمونږ حجرې ته راغی او په حجره کښې نو هم د پرمیلاد وو، ده ډاکټر صاحب ته مخ کړه اوورته یې ووې چه وګوره دې افغانستان ته څومره ظلمونه یې په قید یانو شروع کړې دی که چرې پیرنګیانو په افغانستان کښې حمله وکړه نو زه به د تولونه مخکښې یم تورې به د اسره وي د پښتنو سره ونه به وهم. ډاکټر صاحب ورته په جواب کښې ووې شاید زه به ستا په مخالفه د له کښې یم ولې چه زه پښتون یم زه به څنګه د پیرنګیانو د پاره پښتانه ووهم! ددې په اوږدو غریب په هغه مجلس کښې کچه شو او بیا یې بل بحث شروع کړه.

انجمن او مدرسې:

دانجمن په کوشش زمونږ د مدرسې په ملک کښې د پرشاخونه قایم شوې وو یو د پرلوی شوق په پښتنو کښې د خپلو بچو د تعلیم پیدا شوی و ما او خادم صاحب دهغو معاینه شروع کړه. مونږ چه به کله دا د وری کولی، نو د ازاد سکول ملکان به هم مونږ سره تلل، ولی او سعادت خان د تړنګزو به زمونږ د ی جلسو کښې نظمونه وئیل، دوی د پرخوش اوازه وو. ولی به د پرښکلی قرائت وئیلو او ددې به په خلکو د پرښه اثر کېدو او د خپلو بچو د هر قسم تعلیم ورکولو سره به یې شوق پیدا شو.

زمونږ د یوسف زو مدرسې په د پرښه حالت کښې وې او د هغې تولې وګړې د صاحبزاد

(c) ketabton.com: The Digital Library

خورشید خان صاحب، دادینه او نصرالله جان محنت قربانی اوکو ششونه وو. دشنغر
و ددواوې نه پس مونږ دیوسف زو دوره شروع کړه اود تحصیل مردان اود تحصیل
سوابئ تولې مدرسې موو کتلې، خادم محمد اکبر صاحب به امتحانونه اخیستل اوما به خپل
لټر وخت د خلکو سره په لیدلو، کتلو او تبادلهٔ خیالات کولو کښې تېرولو مونږ اول شروع
مولانا شاه رسول صاحب د بالاکړی د مدرسې نه وکړله بیا ساول دیر، کاتلنک او
دستم مدرسې موو کتلی او په دی ځایونو کښې مولویې لویې جلسې هم وکړلې: او خلکو ته
و د اتفاق د وورولی، قاموسی او د علم فایدې بیان کړې. په دی دوره کښې
صاحب زاده خورشید صاحب او نصرالله جان هم راسره وو. څه وخت چه د ساول
یونه، رستم ته راغلې و نو خادم صاحب او مولانا شاه رسول صاحب مونږ ته رستم ته
نصیحت کړل اوما او نصرالله جان فیصله وکړه چه د سودم هریوکلی کښې چه زمونږ
اره راځی څه نه څه ساعت به پکښې تېروو او خلک به د خپلو اغراضو او مقاصدونه
زوو. مونږ پیاده روان شو او مونږ سره چه یواس وهغه باندې مو مولانا صاحب سور
ولی چه هغه د ضعیف ؤ، د زما د سودم اوله دوره وه، په دې دوره کښې زما
ربها د رخان د کرتر پان او شا پسند خان د چارغولی سره ملاقات وشو، دوی سره
د پرې خبرې وشوې او بعضې نور خانان می هم ولیدل، زه د سودم د خانانو په لیدو
خوشحاله شوم او د دوی د اساده ژوند زما د پرخوښ و. رستم ته مونږ ما بنام
سید و زمونږ خال وچه دلته د شپې جلسه وکړه خو زمونږ د مدرسې سرپرست
په کلی کښې موجود نه و او بل څوک د خلکو د خبرولو د پاره تیار نه و ما او نصرالله جان
سره وخت د وډی د خوره نوزه د کلی په یو سر او هغه د کلی په بل سر شروع شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هري مجبري اوهر جماعت له ورغلو اوخلکو ته مو ووی چه په فلانی جماعت کښی دماسخت
دلمونځ نه پس جلسه ده تاسو چه څه وخت لمونځونه خلاص کړی نو دخلقو ای دپاره هل
راشئ چه خلک په جماعت کښی جمع شو نو مونږ ورته خپل مقصد اوغرض بیان کړو. سبا
دهغه ځای دملا صاحب امتحانونه واخیستل اوشیبی له ګلیاری ته لاړو دلته زمونږ
یوه ډیره ښکلی مدرسه وه. دګلیاری نه تری ګلی ته لاړو او دتری ګلی نه اسمیل
لاړو هغه ملا صاحب موهم وکتو اوپه اسمیلا کښی نصرالله جان اوصاحبزاده صاحب
یوی لویی جلسی انتظام کړی و او دتولو علاقی خلک یی راجمع کړی ووجلسه په
کامیابی سره وشوه. نصرالله جان زمونږ ډیر قابل، لایق ملګری او دده په وجه
دتحریک کار پته شان مخکښی روان و، دپیر ټکیانو داخو ښه نه وه اودغه شان به د
داکوشش وچه زمونږ دډی قسم مخلصان، کارکنان زمونږ نه جدا کړی، دهغه ماما
پیر ټکیانو نوکر وهغه یی مجبوره کړه چه نصرالله جان د پیرسترۍ دپاره لندن ته و
اوهغه لندن ته لاړ.

اصل کښی داځای دتول یوسف زی دتحریک مرکز ؤ بیا مونږ دپیښ
دعلاقی دورې شروع کړه اوچه دپیښور دعلاقی له دورې نه فارغه شو نو بیا زه
اوښو په دوره لاړم. په کوهاټ کښی زمونږ دوه مدرسی وی، دا مدرسی د
کارکنانو داخلاص اوکوششونو په وجه ډیری په ښه حالت کښی وی، په هنګو
مدرسه تیکه دار صاحب علی بادشاه جوړه کړی وه هلته مو یوه لویه جلسه وکړه
هغی کښی تقریباً دکوهاټ دهری علاقی خلک شریک شوی وو. په هنګو کښی ډ
دی، دلته بعضی خودغرضو اوسرکاری خلکو دشیعه اوسنی تعلقاتو ته ډیر نقص

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی دمینځ محبت په ځای یکښې د پرنفرت پیدا کړی دی. په جلسه کښې مایولوی تقریر وکړو او په شیعه او سنی مسئله می د پره روشنایی واچوله، اوله خبره می ورته داوکړه چه مونږ خو تول پښتانه یو که شیعه دی نو هم پښتون دی اوکه سنی دی نو هم پښتون دی، یو قوم یو او یو مو ملک دی، یو مو خدای دی، یو مو رسول دی یو مو قرآن دی، او حضرت علی تاسو هم منئ، مونږ یې هم منو، نو بیا دا اختلاف څه؟ دهر چالا ډوبله ډبله ده، خو دا ملک خو مو شریک دی، د دی ملک خدمت په شریکه په مونږ تو لو فرض دی او باید چه مونږ تول د دی ملک خدمت وکړو مونږ باید دا فکر وکړو چه دا ملک زمونږ دی او خدمت یې هم باید په کار وکړو، دا نفرت خو خود غرضو خلکو په شیعه او سنی کښې پیدا کړی دی. زما دې تقریر په خلکو د پرښه اثر وکړو که شیعه واوکه سنی و اوخه نه خه د نفرت هغه اورچه خود غرضو خلکو لګولی وکم شو، زما پدې تقریر د هغو خانان د پرخپه شو او ما ته یې ووی چه زمونږ د شاو کلونو خلی دی، په سینډ لاهوکړه ما ورته وویل چه په دی بی اتفاقی کښې خو نه ستاسو خیر شته اونه د قام، او ملک ته تر پې د پر نقصان رسیږی که دې کښې فاید ه ده نو هغه خو دا ګریزانو ده، هغوی په دی خبری پسی ګرځی او دې بی اتفاقی او رته په هر ځای کښې یکی وهی.

دهغه نه یا تل ته لاړو د لته زمونږ د پرښه ملګری وو، د هغه ځای مدرسه موهم وکتله او کوهاټ ته واپس راغلو، د کوهاټ په ټوله ضلع کښې چه د دی مدرسې د پاره خومره قربانی او فداکاری د تل خلکو کړې ده، دومره هیڅ چا نه ده کړې، دوی پ تعلیمی او بیا په سیاسی سړکړمو کښې هم د پره برخه اخیستی ده او زما سره یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پر امداد او کارکړی دی. د کوهاټ نه بیا بنو ته لاړم، بنو کښی می امیر مختار صاحب چه زمونږ دازادی مدرسی دهیډ ماسټر پلار دی او یو د پر مخلص کارکن دی دهغه په وساطت می د علاقی دوره وکړه او دوه مکتبونه مو د ملا یانو په برکت پرانیستل او د پرو خلکو سره مو لیدل کتل وشو او تبادله خیالات مو ورسره وکړل. د بنو په بنار کښی ملک خدا بخش صاحب وکیل د پیښور د جیلخانی په کوارټرین کښی څورځی ماسره پاتی شوی و او یو بل سره مو پیژندګلوی شوی وه دهغه په ذریعه حکیم عبدالرحیم صاحب محمد جان بیرسټر، او محمد نواز خان وکیل سره می لیدل کتل او د واقفیت پیدا شو. زه چه څه وخت د لاهور په جیلخانه کښی وم هلته مو یو څو قیدیان د بنو د ککی کلی لیدلي وو د هغوی سره ما د دی خبری فیصله کړی وه چه هر کله زه رها (خلاص) شم او بنو ته د رشم نو ککی ته به ضرور د رځم. په هغه خیال زه او هیډ ماسټر صاحب او دهغه پلار ککی ته لاړو په یو جماعت کښی مولمونځ وکړو او بیا مو د خلکو د راجمع کولو کوشش وکړو. په هغه ورځ د دوی چیرته څه لوبه (اتڼ) ؤ دوی ټول هغی لوبی له روان وو. ما ورته یو څو خبری وکړی چه: ای پښتنو و رونړو یو کافر خپل کافر و رور نه وژنی تاسو چه څان ته مسلمان وایئ بیا ولې یو پښتون بل پښتون وژنئ؟ او نه چیری یو پیرنګی پخپل قوم مخبری نه کوی او نه ستاسو ملکرتیا کوی یا ولی تاسو د خپل و رور په سر هغوی له مخبری کوئ او د هغوی ملکرتیا کوئ او نه چیری یو هندو د خپل هندو برخلاف ناحقه او د د روغو شاهدی کوي او نه د خپل هندو و رور د شر هولو او د بی عزتی کوشش کوی. خو ای پښتنو و رونړو بیا تاسو ولی په ناحقو شاهدو د یو بل بی عزتی او شر هولو پسی روان یئ، لږ خو د خدای نه وپرېږئ او شرم وکړئ. یو کافر

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوچیل کافر و در نه وژنی ، مخبری یی نه کوی او شرموی یی نه او مونږ چه ځان ته مسلمانان وایو او پښتانه یو مونږ دې چیل پښتون مسلمان و در وژنو ، شرموو او مخبری دې پرې کوو . ماورته ووې چه دعا وکړئ چه مونږ له خدای پاک پوهه او علم راکړي . او زمونږ په زړونو کښې الله تعالی مینه او محبت و در ولی ، عزیزداری خاموولی او اتفاق پیدا کړي . څه وخت چه مونږ د جماعت نه ووتو نو څوکسان دانه چاپیره شو او زه یې دلاسه تینګ ونیولم چه نن دې پرې نږدو نه مونږ سره به ضرور شپه لوې ماورته ووې چه زمونږ په سر د هر زیات کار دونه دي او مونږ پاتی کیدی نه شو نو هغوی هم رانه کلک شو چه داخبره شونی نه ده ماورته ووې چه اخر دا تاسو مونږ ولی دومره مجبور وئ هغوی راته ووې چه خدای کودا دومره ژوند و تهر شو بیرو کښې موسپین ولکیده لیکن دچا میا ملا نه مو دا قسم خبری اوریدلی دی چه تاسو پښتانه هم پخپل کور کښې ورونه یئ او که چیری یو کافر بل کافر و نه وژنی نو تاسو هم چیل و در و مسلمان مه وژنئ خلک وایي پښتون ترقی و نه کړه په انو لاړو روان شوی دی لیکن حقیقت دادی چه پښتنو ته چا سمه لار بنودلی ده ؟ چا دوراته منع کړي دي او دوی منع شوی نه دی هی افسوس دنورو قو- مونو په شان د دوی غمخور نشته ؛ د دوی شپون نشته ځکه خوږي شرمښان دي او هاتوی .

څه وخت چه زما دوره ختم شوه او زه کلی ته راغلم یوه ورځی زه عباس خان اکرم او ماته یې ووې چه دا کاکا خیل میا معروف د هر خطرناک سړی دی ورځی دهغه دا کوشش دی چه ما او تاکښې بی اتفاقی پیدا کړي او دهغه یو څوخبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

یې مانه وکړې چه زه دهغې بیانول نه غواړم . هغه خبرې په دښتیاسره دپرې خرابې
وې مانه نوروخلکوهم دمیاں معروف صاحب دپرې قصې کړې وې اوکه دعباس خان
اومقصودجان په منځ کښې چه زمونږ دهای سکول هیډ ماسټروچه داڅه قسم ناچاقی
پیدا شوې وه هغه هم دده کارګذارې وه . مانه داهم معلومه شوه چه دې زمونږ دانجمن
په ممبرانو کښې پرې جنبې پیدا کول غواړې او اول چه کوم دمینې محبت اواتفاق مظاهره
دانجمن په ممبرانو کښې وه نن هغه نشته بلکه دانجمن ممبرانو دیو بل نه ګیلې مانې او
شکایتونه شروع کړې دي . میا صاحب زمونږ دانجمن دیو دپو نعال رکن ؤ دکډ
کار ده ته په حواله و داخبره ودرو ودرو وکړه او دمیا معروف غوږ وته هم
ورسېده اوخه ورځې پس هغه دانجمن دانسپکټرۍ نه استعفا وکړه محمد
عباس خان زمونږ دانجمن صدر و دهغه داخیال وچه زه دده استعفا قبو
منظورومه لیکن ماورته ووې چه ته لږ صبر وکړه او دا به ښه وي چه دده استع
انتظامیې ته پیش کړې شي بله ورځې ما مولانا محمد اسرائیل صاحب ولیدل ه
راته دمیا معروف داستعفا ذکر وکړه ده باندې هم دمیا صاحب تعلیم اثر کړ
و ده راته ووې چه دمیا صاحب خوله سوې ده هغه بله ورځ هم دلته خلک
لکیا و او دانجمن خلاف یې خلکوته خبرې کولې هغه چه په هرشان وې رضاکار
په کار دې اوکه چېرې هغه مستعفی شي نو زمونږ انجمن ته به دپرې نقصان ورسي
زمونږ برخلاف په پراپیګنده شروع کړې . ماورته ووې چه داخو ته منې چه د
خوله سوې ده هغه پخپله خوله قبضه نشته بیا داسې سړې چه زمونږ انجمن کښې و
زیات خطرناک دې چه زمونږ دانجمن برخلاف پراپیګنده کوي په ځای ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ دلی نه بهوړی او زمونږ بر خلاف پراپیګنډه کوی نو په خلکو به یې دومره اثر نه وی
وخلک به وایی چه دی خو په انجمن کښی نه دی نو بیا خلک دده په خولې دومره اعتبار
ـه کوی اودی به مونږ ته د دومره نقصان رسولو قابل هم نه وی لکه چه نن دی. بلکه ورځ
مونږ خبر شو چه عباس خان دهغه استعفا منظوره کړه لیکن کوم کر چه زمونږ په انجمن کښی
یا صاحب کړی او کومی جړوړی چه زمونږ په انجمن کښی خوړی شوې وی هغه ونه وتلی
و زمونږ دا انجمن د بعضی اړاکینو داعادت شوی و چه څه وخت به یو خای شو نو
یو بل خلاف خبری به یې کولی او بیا ودرو ورو زمونږ خادم صاحب او عبدالاکبر خان
و دې درجې تر ورسیده چه د مدرسی دهلکانو مخکښی به یې داسی فضول خبری
ولی چه سړی به وونه حیرانیدل ویوه ورځ ماته هیډ ماستر صاحب ووې چه ناظم صاحب
و سکرټری صاحب دهلکانو په مخکښی داسی خبری کوی، او ددی قسم خبری کول په
ار نه دی ځکه چه دا خو دا انجمن یو ذمه وار خلک دی او ددوی په داسی خبرو په خلکو
واب اثر کیږی او زمونږ انجمن او مدرسی ته تری سخت نقصان رسیږی ما ورته
وی چه هغوی خه خبری کړی وې هغه راته ووی چه نو دی خبری خو پریږده هغه
ه ورځ دهلکانو په مخکښی لګیا و چه ستا دوست قاضی عطاء الله خان د پیرنګیانو
خبر دی او ده پسی یې لګولی دی او دی چه په کار کښی هغه دغه کوی دا د قاضی تعلیم
ی چه په ده یې اثر کړی دی. زه ددې په اوریدو د پر خه شوم چه دوی په ما او
قاضی صاحب شکونه او الزامات لګوی لیکن ماخه کولی نه شو د دوی خولې بادی شوی
ی. د پر خله ما دوی خان له پوه کړل چه ستاسو ددی قسم خبرو نتیجه به خه وی؟
دوی نه پوهیدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۱۹۲۵-۲۶ع وخت وُچه په پیښور کښې د جمعیة العلماء هند جلسه وه مونږ ا
یې هم دعوت راکړی وزه مقصود جان د اتمانزو دازاد سکول هیډ ماسټر او د دې
ازاد سکول یو څو هلکان دغه کنفرانس کښې شریک شوي وو په دې کنفرانس کښې غنی
چه دغه وخت د دیارلسو کالو و تقریر کړی وچه دهغه تقریر په توله جلسه او د جمعیة العـ
هند په لیډ رانو د پرزیات اثر وشو. مولانا کفایت الله چه د جمعیة صدر وو راپاڅید
اوغنی یې د پرسنکل کړو. په دی کنفرانس کښې صاحبزاده عبد القیوم صاحب هم موجو
و، چه جلسه خوړه شوه نو صاحبزاده ماته وویل چه زمونږ د اسلامیه کالج جلسه د
که ته هغې له راشې نو د پره ښه به وي ما ورته داوویل چه مونږ سره یو تعلیمی نظم دی ک
ته مونږ له اجازه راکوې چه هغه نظم زمونږ د مدرسې هلکان هلته وړاې نوزه به د
مونږ به تاته دا نظم وښیوته یې وکړه هغه یو تعلیمی نظم دی هیڅ سیاست پکښې نشت
صاحبزاده صاحب ته موهغه نظم ولیږلو او د کتلو نه پس یې مونږ له اجازه راکړه او مو
دی جلسه کښې شریک شو هلته زمونږ د مدرسې دوه هلکان پاڅیدل او هغه جلسه کښ
یې هغه نظم وویلو هغه نظم د جلسې په خلکو دومره اثر وکړو چه د اسلامیه کالج هلکان په ژړا
او په جلسه کښې د شریکو د پرو پښتنو دستر کونه اوښکې توې شوې او دا ښکلیان چه وو ب
کړه و کښې د اسې نیغ شوا وویل وېل چه دا هلکان څوک دی Who are these boys
ماورته وویل چه دا اتمانزو دازادهای سکول طالب علمان دي نو دوی ووېل چه ښه
ازاد سکول؟

د حج سفر:

زه په ۱۹۲۶ع کښې د حج په سفر روان شوم، په دی سفر کښې یوزه وم، یوه می خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل می اوښی، زما دتره زوی عطاءالله خان و اوبله می ښځه وه ، پیښور ته ولاړو
او د اکبر صاحب رانه دسیکنډ کلاس ډبه ریزرف کړه او کراچۍ ته ورسیدو . مونږ
په کراچۍ کښی دحاجیانو په کیمپ کښی ووچه د عبدالله هارون صاحب . بی بی راغله مونږ
لپی کورته بوتلو ، دهغوی یوښه مناسب کوروهلته لپی ډېره کړه . دحاجیانو جهاز دراغی
مونږ دپاره عبدالله هارون صاحب ډېر کوشش وکړه چه مونږ له دسیکنډ
وفست کلاس ټکټونه واخلی مګر هغه ټول ډک شوی وو درواندو په وخت کښی
هغه مونږ سره لاړ اودجهاز کپتان ته لپی ووې چه دوی ته سیکنډ اوفست میلاو
نه شو ، هغه ته لپی ووې چه زمونږ خیال وساتی په دې څېر دکلاس کښی لپی خلک دکلاو
ړو په شان اچولی وو چه جهاز روان شو ، سمندر په څپو کښی وچه لږ غونډی دسمندر
ښځ ته شو نو دخلکو قی شروع شو مونږ ټول په تکلیف کښی وو ولی دخو رحالت می دپر
یاب و مونږ دجهاز دپاس نه کوزځای ته ورکوز شو خو هلته هم زمونږ تکلیف کم
شو بلکه زیات شو نوزه بیا دجهاز هغه کپتان له ورغلم اوورته می ووې چه مونږ
ډېر تکلیف کښی یو ته چه زمونږ نه څومره کرایه اخلی نو مونږ به لپی ورکړو ته مهربانی
وکړه مونږ له یوځای راکړه چه مونږ پکښی ارام وکړی شو اوروپۍ می ورکړی په
ز کښی یوه کمره وه چه سامان پکښی پروت وهغه لپی خالی کړه اومونږ هغې کمرې
ړو داخوښه وشو چه مونږ ځان له شو ولی تکلیف موکم نه شو . دوی دری واړه
پاتی شو اوزه دفست کلاس نه بهر لوی برنډاه وه هلته لاړم ، مونږ خو کپتان
ب له حساب ورکړی ونو مانته چا څه نه وې ، اوه یا الله ورځی پس علان ته ورسیدو .
دلته جهاز یو نواوزو لاړو وې . دلته شپه یخه وه زه یخنی وو هلم اوانفلوینزا

(c) ketabton.com: The Digital Library

می شوه زه دفست کلاس نه بهر په هغې برنډه کښې پروت وم چه یو عرب زه ولیدم
هغه راغی اوزه یې ځان سره دننه فست کلاس ته بوتلم ، زمایې وپرخدمت وکړ چه
زه به یې قول عمر یادلوم . چه جدې ته ورسیدو نوزه لږ ښه شوی وم . دجهاز نه راکوز
شوم زما دا ملګری هم راکوز شو، یوځای شو خوتول سامان چه دوی سره وو هغه تری
په جهاز کښې پاتې شو، عطاؤالله خان خو پرساده سړی و هغه یې څه نه پوهیدل او
داقدې هم ونه کړی شو چه هغه خپل سامان یې دجهاز نه راکوز کړی وای مونږ خو
سره دپرسامان اخیستی وو ، زما هغه تول سامان اوزما د تبر جامې چه پکښې
سره وزر و تنکی وی هغه هم لاړ . ما هغه وخت زمونږ (معلم) ته وې چه په جهاز کښ
زمونږ سامان پاتې شوی دی هغه لاړ ویل یې سامان می بیا نه مونږ د دغه ځای نه ج
مونږ مکې معظمې ته راورسیدو نومونږ ریوټ وکړ، دغورو ځو کښې د سعودیانو حکومت
نوی جوړ شوی و ، شریف مکه یې په محاصره کړی و . دشریف مکه په وخت کښې به چې ح
حاجیانو راکه وکړه یا غلا وکړه نو په هغې کښې به ورسره دی هم شریک و . دی عیاش
و ولی سعودیان داسی نه وو هغوی به دحاجی چه څه نقصان وشو دهغه ذمه دار به
معلم کړ ځولو او دهغه تاوان به یې تری اخیسته ، د دوی په وخت کښې داسی په ملک
کښې امن وچه بیان یې د رته کوی نه شم . حکومت زمونږ د ریوټ په وجه هغه زه
معلم راوغوښت او ورته یې ووې چه « مال پیدا کړه او که دی پیدا نه کړو نو تا و
ودکړه ! » هغه معلم زمونږ د پښتو حاجی جان محمد له وخ او ورته یې وو
دوی ته ووایه چه ما معاف کړی . او چه حاجی او ورسره هغه معلم دجګې په طر
مونږ له راغلل نو مونږ معاف کړ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ د حج مراسم د دینی احکامو سره مطابق په خپل خپل وخت ترسره کول چه د هغوله تفصیلی ذکر نه تبریږو، صرف دایوه پیښه یادوم چه د حج په دوران کښی د سعودی حکومت له خوا «موتمر عالم اسلام» په نامه یوه لویه جرګه جوړه شوه هغی ته د حاجیانو نه د دنیا د هر ملک د مسلمانانو مشران راوغوښتل شوه. د هند وستان نه مولانا محمد علی، مولانا شوکت علی، مولانا ظفر علی خان او مولانا اسماعیل غزنوی او حسینی نور په دې موتمر کښی شامل وو زه هم پکښی شامل شوم. مولانا محمد علی او شوکت علی وی داخبره پیش کړه چه تاسو د دی مزارونو او قبرونو نه، کنبد ونه جبې او قبې ټولې ورانی کړی. دې او اوار کړی. مودې هغوی ورته وویل د اسلامی شریعت خلاف دی دوی وویل چه داخو «آثار قدیم» وو هغوی ځواب ورکړ چه آثار قدیم ځوتاسو ګورئ چه دې نه مسلمانانو ته فایده رسیدلی ده که نقصان؟

دوی یو بل تجویز هم وراندی کړ هغه داچه باید د مکی معظمی د متولی توب دپاره ټ د متولی د نیا د مسلمانانو په خوښه یوسړی مقرر شی نو هغوی ورته ووې چه فرض ه چه د دنیا مسلمانانو د هند وستان یو مسلمان دې کار د پاره خوښ کړو نو ایا هغه ی معظمی حفاظت کولی شی؟ ځکه چه اوس دادی مونږ او لیدل چه کلکا کافر پیرنکی ه راغی نو د هند وستان مسلمانان هم د هغه په فوج کښی هغه سړه راغلل او زمونږ په مقدسو مقاماتو هغوی د ګولو چلولو نه انکار ونکړو، ګولی یی اوچلولی. د دی نتیجه شوه چه موتمر ته دفایدی په ځای نقصان ورسید او د هغه موتمر ختم شو.

کله چه د حج نه فارغ شو زه خو ناجوړه وم، زه اوزما تبر طایف ته لاړو زما خوږ کښی تادی وه هغوی مدینی منوری ته لاړل. طایف ته چه تلو مونږ سړه په لاره کښی

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو پښتون ملګری شو، د پرښه سړی و، چه طایف ته ورسیدو هغه مونږ خپل کور ته
بوتلو. دده هلته د پرښکلی کورو. طایف د پرښکلی اوابادځای دی، ښه آب وهوا
لری، مونږ څو ورځی هلته تیری کړی. په دی ورځو کښی چه هلته وو یوه ورځ یو سړی
مونږ ته غږ وکړه چه: «تعال تعال» یعنی «دلته راشئ!» مونږ ورغلو هغه وویل
«دا د حضور صلی الله علیه وسلم وینښته دی او دابل په کتوکښی دهغه د پښی د پسل
نښه ده. داوګورئ!!» ماورته ووې چه مونږ خو طایف ته ددی د پاره راغلی یو چه د
د حضور صلی الله علیه وسلم هغه عزم اراده عفو وکورو. چه هغه دلته د تبلیغ د پاره راغ
ؤ او خلکو په کانو کتو وویشت، زخمی یی کړ، خو هغه په خپل عزم ټینګ ولاړو او بیا یی
هغو خلکو ته دعا وکړه چه خدایه ته دوی ته هدایت دنیکی درکړی. په طایف کښی مو
صحت ښه شو نو بیا واپس مکی ته راغلو په هغه وخت کښی موتر نه د مونږ دا تنګ را
د او ښانو په سورلی کاوه. په مکه کښی می مولوی محمد اسماعیل غزنوی صاحب ولید ه
خو زما د جیلخانی ملګری و. د جیلخانی دوستان د پرخوابه وو یی په خبرو خبرو کښ
ماورته ووې چه مونږ مدینی منورې ته څو، راته یی ووې چه راځه ما سره جدّی ته لاړ
د جدّې نه هم مدینی ته لاړه تلی ده ماورته ووې زه په بله لار مدینی ته څم لیکه
هغه مجبور کړم او ورسره جدّی ته لاړو. چه جدی ته ورسیدو هلته یو لوی ا
سړی د ده اشنا ؤ هغه کړه د پره شو. په دی ورځو کښی د سعودی بادشاه جدّی ته
او هغه ی کورته راغی او مونږ سره یو ځای په هغه کور کښی د پره شو، هغه د پر
سړی و مونږ سره به یی یو ځای د وده ی خوړله، یو ځای به ناست پاست وو یو
به موسره مجلس کوو. ما په ده کښی یو ملک اوخان هومره غرور نه لیدلو بلکه یو فقیرانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړی و. حالانکه چه دی بادشاه و، څوورځی پس مونږ مدینی منورې ته روان
شو د سعودی باچا سکرټر مونږ ته لاړی دمرکز نو په نامه یوخط راکړ چه د دوی دارام
خیال وساتئ. زمونږ ټوله قافله پنځه اوښان وو، څلور یا پنځه بنځی، درې یا څلور نارینه
وو. کوم اوښ چه زما د پاره ؤ یوه کجاوه یې زما د تهبر اوبله یې زما وه؛ کجاوې لندی
وی اوزه پکښې ټکیدم، دشپې به اکثراً داوښ نه کوزیدو او د عربستان په هغو نرمو
ځمکو مو پیاده مزل کاوه. دې مزل ډیر خوند کاوه. په دی قافله کښې چه دانور عرب
مونږ سره وو. داهغه کسان وو چه د پیرنګی د راتګ په وخت کښې د شریف مکه په دور
کښې د مدینی نه تر کوټه مجبوره کړی ولو اوس واپس راغلی وو او مدینی ته تلل. چه مونږ مدینی
ته ورسیدو نو په دوی کښې دیوکړه ډیره شو، زه په مسجد نبوی کښې د لسو ورځو د پاره
معتکف شوم، هغه جماعت کښې یوه ستن وه دهغې سره به ناست وم. یوه ورځ په دې
مسجد کښې می حاجی محمد امین ولید، دوغبر مو وکړ، ما ترې تپوس وکړ هغه راته
وویل چه دلته په دې مسجد نبوی کښې مایوه کوتنی ډیر پیدا کړی ده او اراده لرم چه دلته
د کال (چله) وباسم. ما ورته وویې چه دغه د پاره؟ وې چه د رسول الله صلی الله علیه
وسلم د خوشحالئ د پاره. نو ما ورته وویل چه رسول (ص) په دی نه خوشحالیږی
ورته وی چه داسی وکړه چه ته ببکا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زیارت کښې د
قرآن شریف تلاوت وکړه او دعا او بیا استخاره وکړه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم
دی خوشحالیږی چه ته دلته هغه سره په کوتنی کښې ناست یې او که په دې خوشحالیږی
نه چه ته لاړشی او دهغه پیغام خلکوته ورسوې. چه دشپې ویده شوی دی نو
د وختی ماله راغی چه ستا خبره سمه ده سبا وطن ته ځم او خدمت به کوم اوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیروی ته چه په خیر راغلی نویا به تاسره یوځای کار کوم. ما ورته څه حساب هم ورکړ
خو ولاړ مونږ څو ورځې دلته تېری کړې. بیا بیت المقدس ته روان شو. د حجاز دیوړ
بندر (پورټ) رابغ نه مصر ته ولاړو کله چه زمونږ جهاز دسویز په بندرګاه ودرې
اومونږ تری کوز شو نوزما اراده وه چه د قاهرې او اسکندریې ښار وته هم وګورو په
اراده زه ورو غوندې یو مصري افسر ته ورنژدې شوم او د اخبرو مې ورته وکړه او ما
هم ورته ووې چه مونږ ستاد اسلام ورونه یو امید دی چه ته به مونږ سره په دې کښې
امداد وکړې. د مسلمان دتګې داورېدو سره هغه موسکی شو او ماته یې ووې چه تو
ستاضرورت دی. نوزما مسلمان ورورې اوچه سبا پیرنګیان په مونږ حمله کوي بیا
مسلمانی اوورو ولی چیرته لاړه شی؟ تاسو دهند وستان خلک مسلمانی څه پیژ
ستاسو اسلام خو پیسه ده. تاسو داسی قوم یئ چه د پیرنګی دیوه اتانیز د پاره موتو
دنیا د پیرنګی غلامه کړه اودامونږ هم چه د پیرنګی غلامان یو داهم ستاسو دلاسه کیږ
اختیاروی نو داستاسی ناپاک اومنحوس قدم به په دی خاوره برې نه ږدو. د
اورېدو زه چپ شوم. دلته مونږ لس ورځې په کوارنتین (قرنطین) کښې تېری کړ
وغې نه پس فلسطین بیت المقدس اوشام ته لاړو. په بیت المقدس کښې مونږ
درد ناکه حادثه راپیښه شوه، دلته زما تېر د بیت المقدس د جماعت د پاورو
نه د اپو بوته زخمی شوه اوخو ورځې پس مړه شوه (انا لله وانا الیه راجعون). د
هلته دفن کړې شوه.

په فلسطین کښې یهودیانو بنکلی بنکلی نوی کلی، ښارونه اوباغونه جوړ
اوګلیادي جوړوي یې لیکن مسلمانان یې لاهغه شان په غفلت کښې پراته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

امام مهدی صاحب ته په انتظار کښی ناست دی چه مونږ به پخپله څه نه کوو هغه به راشی
او هغه به داله هر څه وکړی . دوی دومره بی علمه او بی خبره دی چه امام خو پریږده چه
پیغمبر راغلی دی او خپل قوم ورسره ملا تړلی نه ده نو پیغمبر کامیابه شوی نه دی .
په بیت المقدس کښی زما د مسلمانانو او دونو عربو سره په دې باندی د پردې خبرې
شوې وې زه چه به د بیت المقدس نه بهر وو تم کومه څمکه چه به می ولیده چه شاره
او ریک دی نو ما تحقیق به می وکړو نو معلومه به شوه چه د عرب ده او کومه څمکه چه به
آباده وه په هغې کښی به یو و روکی غونډی بنکلی او باغ و نو چه تپوس به می وکړو وې
ما ډیهودی دا او دغه شان دکلو حال و . ډیهودیانو بنکلی بنکلی آبادا و پاک کلی او بنکلی
ژوند و او د عربو به درته څه ذکر کوم او بله داچه سحر به وو تم یهودیان به بنځی ، نر
لکیا وو کار و نه بریی کول او په بیت المقدس کښی چه به سحر هوتل له لاړم څوک به پکښی
نه و چه غرمه به لاړم څوک به پکښی نه وچه ماذیګر به لاړم نو هوتل به ډک و بنکلي بنکلي
میزونه به لګیدلی وو ، خلکو به بنکلی بنکلی پاکی ، صافی جامی اغوستی وې چا به
چای څکله ، چا کافی ، او چا دانکورو او به او چه د عربو هوتل له به لاړم نو که سحر و
هم به خلک پکښی ناست و که غرمه وه هم د خلکو نه ډک و او که ماذیګر وهم به خلک پکښی
و غټ غټ چلمونه به پراته وو ، چیلم به هلته او ریبالی و سره به یو ځای پروت
د دوی په هوټل کښی هغه صفایی نه وه کومه چه ډیهودانو په هوټل کښی وه او لکیا
وو لوبی به یی کړلی زه پری نه پوهیدم چه څه لوبی یی کولی یوه ودڅی می دی عربو
د ونو ته وې چه داتاسو په کومه دنیا کښی یی کور ی ستړکی خو غږوئ زه چه
ستاسو په دې ملک کړم چه چیرته شاره څمکه وې او ریک وی نو چه تپوس وکړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه دچاځمکه ده ؟ نووایی چه دعرب ده اوچه ښکلی آباده ځمکه اوباغ اوښکلووینم
نوچه تپوس وکړم چه دادچاده ؟ نووایی چه دادیهودی ده ـ تاسودې خپل ژوند
ته وکودئ اودهغوی ژوند ته وکودئ که علم مونشته نوستر کی خومونشته. نوبیا
هغوی کښی یوکس جواب راکړه چه مونږ داشاری ځمکې په یهود یانو باندی خرڅوو
چه ابادې یی کړی اواوس اخري صدی ده امام صاحب به راشی اوداهرڅه
به زمونږ شی . زماخیال وچه ملاصاحب کښی یوازی مونږ پښتانه امام صاحب
ته کښینولی یو لیکن عرب غریبانان یی هم ورته کښینولی دی . اوس می کله ناکله خیال
پیداشی چه فلسطین ته لاړلی اودعربونه می تپوس وکړای چه هغه ځمکې ستاسو
شوی اوکه دیهود یانو شوې ؟ خوادلسمه صدی خلاصه شوه .

یوه ورځی زه د بیت المقدس نه باهر سیل ته ووتم یوځوان عرب راسره
ملګری شو مالـه لږه عربی راتله هغه سره می خبری شروع کړې ورته می ووې چه
بیت المقدس خو ډیره ترقی کړې ده نوی نوی سړکونه پکښی پیرنګیانو جوړکړل اونو
نوی ابادی یی پکښی وکړې هغه ماته وکتل څه یی ویل لیکن چپ شو اومالـه یی هیڅ
جواب رانه کړه ماورته ووې چه ولې چپ شوی نوهغه رانه پوښتنه وکړه چه تهم
یی ؟ خوماورته ووې چه اخرستا مطلب څه دی ؟ هغه راته ووې چه هندیان دې
خراب خلک دي دهغوی کار بغیر دمخبری نه نورهیڅ نشته په دې تول ملک
کښی خلک هندوستانی ته په ډیر نفرت سره کوري دوی ته ډیره کناه نه وه ځکه
د دنیا په لوی جنګ کښی دی خلکو سره هندوستانیانو اودهندوستان فوج چه
کړې دي ، دهغی سزا دې دوی له خدای ورکړې . ددی هندوستانی فوج اکثر

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مسلمانانو و. ماورته ووې چه زه تاته لم ازکم دومره ویلی شم چه زه مخبر نه یم هغه
راته ووی چه مونږ به سره کونه او آبادی څه کړو مونږ نه او زمونږ ملک ودرځ
په پرېوتو او دغربت طرف ته روان دی ځکه چه ترکو به د قسطنطنیې دخزانی نه
دوې دلته لګوې او پیرنګیان لکه دجرو په مونږ لګیا شوی دی. زمونږ مال خوړي او
ولایت ته یې لیږي او بیا یې یو سوراسویلی وکړي چه مونږ څه ترکوسره وکړه اوس الله تعالی
مونږ ته دهغې ناشکرګذاری سزا راکوی اوس مونږ ترکو پسی د پرارمانونه کوو لیکن
وخت تیرد ی الله ج دې مونږ ته عفو وکړي. اوددی ظالمانو د پنجی نه دې مونږ خلاص
کړي. دغه حال د شام هم دی.

د شام ملک په دوو حصو تقسیم دی، دیوې حصی چه (اوس ورته لبنان وایی)
دارالخلافت بیروت دی، دا دسمندر په غاړه یو مزیدار بنار دی دلته د علومو
وفنونو دزده کولو د پاره امریکی یولوی دارالعلوم قایم کړی دی د شام په دې حصه
کښی داوبوکمی دی غرونه هم پکښی د پرې دي لیکن خلک پکښی دومره تکړه دي چه غرا و
ځمه یې تولې اباده کړې ده او اکثر غرونه یې د انګورو باغونه کړي دي، کلی او باغونه د پر
اعلی طریقه بانډی جوړ دي خلک یې د پرسنه او اسوده دي په کومه علاقه کښی چه د
مسلمانانو ابادی زیاته ده، دهغی دارالخلافه دمشق بنهر دی. دمشق هم یو د پرمزیدار
ښار دی، کور په کور او کوڅه په کوڅه او به بهیږی او به پکښی د پرې زیاتی دي ځمکی یې
سرې دی لیکن خلک یې هغه شان محنت کش او آباد کار نه دی اونه یې خلک
هغه شان ترقی یافته دي اونه یې هغه شان پاخه کلی دی. په دی ملک کښی د فرانس
حکومت دی، دلته په دی خلکو کښی دا د صفت یوه خبره ولیده چه په عیسایانو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مسلمانانو کښې مینه اومحبت دی اوپه دوی کښې هغه بې اتفاقی اونفرت نشته
لکه چې څنګه د فلسطین په مسلمانانو اویهودیانو کښې مالیدلی دی . زما په خیال په فرانسیانو
کښې لکه د پیرنګیانو په شان دابد عادت نشته دی چې دخپل مطلب دپاره پخپلو رعایاوو
کښې نفاق اونفرت پیدا کوی . د پیرنګیانو پالیسی خو (Divide and rule) خلک بې اتفاقه
کړی اویا پری په مزه حکومت کوی .

د بیروت په یوهوټل کښې می دیو مسلمان عرب سره خبری شوې هغه راته
وې چې زه دلته دیوی کمیټی د پاره راغلی یم چې هغه کمیټی د فرانس حکومت د
دې د پاره مقرر کړې ده چې په دی خبره غور وکړی چې ټش تعلیم د رعایا د پاره مفید
نه دی . دی سره صنعت اوحرفت هم په کار دی . زه حیران شوم چې د فرانس په ډی
ملک لس کاله لاد حکومت شوی نه دی اویا د دوی د صنعت اوحرفت او د سره فکر
اوخیال دی او په هندوستان د انګریزانو د پاچایی تقریباً دوه سوه کاله وشو
غریب رعایا هره ورځې د صنعت اوحرفت چغې وهی لیکن څوک پری غوږ قدر
نه ږدي . د شام نه زه عراق ته لاړم ، په موصل کښې مو دوه ورځې تیرې کړې دا
وروکی مزید ار ښار دی اوسینډ یکښې بهیدلی دی ، خلکو کښې شراب خورې
اوعیاشی زیاته شوې وه که چیرې د پیرنګیانو حکومت په دی خلکو د پیر مو د
پاتی شو نو زما په خیال د اخلک به بالکل تباه اوبرباد شی . د موصل نه بغداد
لاړلم بغداد کښې می کافی ورځې تیرې کړې په دی ښار کښې هم بې شماره شرا
وې ، د شرابو اکثر دکانونه د هندوستانیانو دي چې د پیرنګیانو قبضه کیدو سره
هلته تللی دي . د دې ښار اخلاقی حالت ښه نه و اوپیرنګیانو پرارمینین هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

آباد کړي دي. بغداد يو ډير مزيدار بنار دی او دبنار په منځ کښې يو لوی سيند بهيدلی دی. د بغداد نه کربلا تر اونجف تر لاړم، دا دواړه ډير متبرک ځايونه دي او دليرې ليرې ملکونو نه مسلمانان خصوصاً شيعه کان د حضرت علی (رض) اوداماما نو زيارتونو له راځي، دا زيارتونه په يوه لويه پيمانه باندی ډير مزيدار جوړ دي په ليدلو يې دسړي زړه خوشحاله شي. شيعه کان غريبانان تر اوسه پورې هغه شان هلته ځانونه نکوی او جنګ سره نه غږي وهي او په زار زار ژاړي. د دی په ليدو سړی ته هغه پخوانی حالت را په مخکښې شي. د نجف نه بيا ذه کوفې ته لاړم. کوفه نجف ته نزدې ده کوفه يو ډيره لوی غونډی بنار دی او سيند په غاړه آباد دی د نه ترقی وجه يې خلک دا بيانوی چه د دی بنار د هغه وخت او سيدونکو حضرت امام حسين صاحب او د هغه اولاد سره غداری کړې وه نو الله تعالی د دی بنار او سيدونکو ته دا سزا ورکړه. که چيرې دې خلکو حضرت امام حسين سره وفاداری کړې وای او هغوی کا ميله شوی وای نو د دی بنار به دا حالت نه و او دا بنار به د بغداد په ځای د عراق دارالخلافه وای په دی ملک کښې پيرنګيانو ډير نفوذ جاری کړې دي اوجه کومو ځمکو ته د نفرونو په ذريعه اوبه نشی رسيدلی نو هلته يې په سيند باندی ماشينونه نګولی دي دهغې په ذريعه اوبو خورکيږي. يو ځوان عرب ما سره په ريل کښې سفر کوو هغه ته می ووې چه د پيرنګيانو په راتلو خو ستاسو ملک نه اباد شو او تاسو ته ډيری فايدی ورسيدې هغه زما دی خبری پوری وخندل او ويلی وې چه بی شکه دا ديو قوم د غافلو لو دا ده ډير ښه ترتيب دی دا نه چه ترقی وايی، دا ديو قوم او ملک د پاره اصلی ترقی نه ده اونه دا پيرنګيانو زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ترقی د پاره کړی دی ، د دې نه مطلب دهغوی زمونږه اوده کول اوغافل
کول دی چه مونږ په دی مشغوله شو اوهغوی په مزه زمونږ په ملک حکومت
کوي داخو په حقیقت کښی دغلامی یو حال دی چه زمونږ دغلامی د پاره هغوی
خورکړی دی په عراق کښی یهودیان اوعیسایان خونشته خوهلته پیرنګیانو
شیعه اوسنی په جنګ کړی دی . چه په کومو ښارونو کښی سنیان زیات دی
اوشیعه کان پکښی لږ دی نوهلته دوی دشیعه کانو ملګري دي اوچه په کوم
ښارونو کښی شیعه کان زیات دي اوسنیان کم دی نوهلته دسنیانو ملګري
دی لیکن د دوی دا پالیسی کامیابه کیدی نه شی ولی چه په عراق کښی د شیعه
کانو ابادی د پره کمه ده .

بیا زه بصری ته راغلم اودخو درځو قیام نه پس په جهاز کښی سوردشوم
په کراچی کښی کوز شوم .

په عربو کښی چه څه وخت د پیرنګیانو حکومت قایم شو ډیری نود نورو څیزونو
نه علاوه دوه څیزونوله دوی د پره ترقی ورکړی ده یو شراب خوری اوبله دم بازی
په هر بنهر کښی د شراب دکانونه دي اود مو بازارونه دي باجی دی ، عیشونه
اوسرودونه دي او د خلکو اخلاقی حالت یی د پره خراب کړی دی ، یوه ورځی د بصری
په بازار کښی ګرځیدم چه چوک ته ورسیدم نو په چوک کښی می پهانسی لګه ولیده
د تحقیق نه راته معلومه شوه چه په دی پیرنګیانو د پره قوم پرست عرب پهانسی
کړی دی اود پره ظلمونه یی عربو سره کړی دي ، د هندوستان په اخبارا تو کښ
به مود شام د ظلمونو قصی لوستی چه فرانس په عربو باندی کړی وو ، لیکن په عرا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښی چه پیرنګیانو چه عربو کومی لوبی کړی وی ، ددی متعلق مونږ چیړی دهندوستان
په اخبارا تو کښی څه لیدلی نه دی . معلومیږی داچه دهندوستان خینی اخبارات
څه خپل ضمیر نه لری اوچه پیرنګیان ورته څه وایی هم هغه لیکی . دلته هم دهندوستانیانو
ته ډیر نفرت دی ولی چه دوی د اسلامی اخوت په جامه کښی پیرنګیانو ته ډیری مخبری
کړی دی اوډیر عرب یی په پهانسی کړی دی . په کار دی چه دداسی قوم نه نفرت
وکړی اوکه لږ قدری دعراق اختیار خپل شو دهغوی اول کار به داوی چه دانګلک
خپل ملک نه وباسی .

څه وخت چه کراچی ته ورسیدم نو په بند رکښی زمونږ دنو سناریو پښتون تاجر دار
هغه چه څه وخت په جهاز کښی ولیدم نو راتر غاړه وتو اوپه زوریی خپل کای ته بوتلم .
مونږ د طورو نواب زاده امین الله خان هم په کراچی کښی و دی په ریل کښی ډیرلوی
سړو چه هغه خبر شو هغه راغی نو بیا هغه زه خپل کای ته بوتلم ، یو دوه ورځی مې ډیری
سینه اومحبت سره هغه سره تیری کړی بیا وطن ته راروان شوم اوکلی ته په خیریت
ځه راورسیدم .

پښتون (اخبار - مجله) :

په جبلخانو کښی ما د خپل قوم په حالاتو باندی په سینه شان سره غور کړی وزه
وی نتیجه ورسیدم چه په دنیا کښی هیڅ قوم بغیر د خپلی ژبی نه ترقی کولی نه شی
دهغوی کښی علوم اوفنون پیدا کیدای نه شی . ما دا اراده کړی وه چه ضرور به یوه
مجله په پښتو کښی د خپل قوم د پوهولو ، ددنیا د حالاتو نه خبرولو اود خپلی ژبی طرف
مایل کولو (مخ کولو) د پاره جاری کوم اوددی کوشش به هم کوم چه انجمن پخپله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبه کښی د بچو د پاره د ابتدایی تعلیم انتظام وکړی. حقیقت دا دی چه دغه وخت
په پښتو ژبه کښی هیڅ نه و او نه پښتو د چا یاده وه او پښتون قوم دومره ناپوهه، نا
وچه د اخپله ژبه ورته سپکه ښکاریده او چه کوم قوم ته خپله ژبه سپکه شی نو هغه سپک
شی، او چه خپله ژبه تری ورکه شی نو ورک شی. ذرا تاسو سره ما دا دواړه خبری انجمن ت
پیش کړی، انجمن دی خبرو سره اتفاق وکړو، لیکن د مالی مشکلاتو په وجه پرې
عملی قدم فوراً اخیستلی نه شو. د رسالې ذمه واری ما خپل سر واخیسته او عبدالا
خان او عبدالله شاه ته دا خبره حواله شوه چه د رسالی د جاری کولو د پاره اجازت نامه
دې د حکومت نه واخلی لیکن په مینځ کښی د دې کاله تېر شو او هغوی د اجازت نامی
یو درخواست قدرې هم ونه کړی شو. زه پوه شوم چه بغیر د زمانه د اکارنه شی کېدی
د ۱۹۲۷ع په اخر کښی ما دې کار ته پخپله ملا وتړله او د اکادمی پخپل لاس کښی واخیسته
د اجازت نامی د پاره می حکومت ته درخواست ورکړو، اجازت نامه حاصله کړه او
۱۹۲۸ع کښی می د پښتون په نوم یوه رساله د پښتو په ژبه کښی د اتمانزو نه جاری کړه او
خو په دې دی چه پښتون دومره لوی قوم او خدای ورله د نعمتونو او دولتونو ډک ملک
دی، نه دده پخپله ژبه کښی یوه رساله او نه یو اخبار شته د پښتو ژبی اولنۍ ر
ده چه د پښتنو په ملک کښی جاری شوه. پښتون قوم د پر خراج دی لیکن دی قسم
خیزونو باندی پیسی نه لګوی او په دی قسم خیزونو خرڅ کولو سره ناآشنا او نابلد
د پرې پیسی ما د خپل جیب نه پرې خرڅ کړی دی د رسالی د پښتنو په منځ او نرو کښی
نوی زندګی پیدا کړه او د رساله په پښتنو کښی د پره هر د لعزیزه شوه د اخپل ملک خو پر پښ
پښتانه په یورپ، امریکه او استریلیا کښی د دی نه خبر شو نو هغوی به غوښته او ه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم ورسره کوو د پښتنو یې پښتو طرف ته شوق پیدا کړو او په افغانستان کښې هم سنبه
وستل کیږه . عبد الهادی خان داوی ماته قصه کوله چه پښتون اخبار به کابل ته راغی
ه قومیت (ملیت) چه به کوم مضمونونه لیکل شوي وو هغه به یې مونږ لوستل او د افغانستان
ه خلکو کښې هم پښتو طرف ته رغبت زیات شوا و په امان الله خان خوی دومره اثر وشو
ه هغه اعلان وکړو چه خلکوله په کار دی چه پښتو ژبه زده کړي ، دری کاله پس به په
ي ملک کښې پښتو تعلیمی اوسرکاری ژبه وي او عبد الهادی خان دارانه هم ووې چه
ونږ هم دیوی رسالې بناوکړه او دهغې نوم موهم پښتون کښوده نو امان الله خان راته
وې چه د پښتنو به لبس دغه یو پښتون وی نو ما بیا هغې خپلی رسالی نوم د پښتون ژغ »
م کښود ، لیکن افسوس چه پیرنګیانو داخبره برداشت نه کړی شوه او هغه ووې چه
دې رسالې یوځو نمبره وتي وو چه افغانستان کښې بغاوت وشو ، امان الله خان لاړو
د هغه په ځای « بچه سقه » دځه وخت د پاره د افغانستان په تخت کښېناست .

زمونږ انجمن د پښتو د ترقی د پاره او د شاعرانو د خیالاتو بدلولو د پاره د مشاعرو
نظام وکړو او د سنبو سنبو نظمونو او بیتونو له پاره یې انعامونه مقرر کړل او په کال کښې یوځل
د ملد رسی کالیزه جلسه به کیږه ورسره د مشاعرې د پاره هم انتظام کیږو . د دی په
ه په پښتنو شاعرانو کښې یو عظیم الشان انقلاب راغی او د خال وخط په ځای د اتفاق
ودی ، او قومی ترقی دور شروع شو ، په قوم او ملک کښې یې د انقلاب د پاره یوه نوی جذبه
اکړه او په سنبځو ، نرو کښې یې داسی جوش پیدا کړو چه د جلسی په ورځ به د جلسی په ځای
ی ځای موندل گران شو او د ملک دهری علاقی او تپې خلک که خان وکه غریب و د انجمن
لسه کښې یې شرکت خپل فرض کنلو ، د سنبځو د پاره خاص د پردې انتظام و او په سوونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سنجي به هم په دی جلسه کښی شریکیږي لیکن افسوس چه د انجمن ذمه دارو خلکو
خپله اصلاح ونه کړی شوه اوزمونږ دکور اختلافات دومره زیات شوی ووچه زمونږ
نه د بهر کار پاتی نشو که چیری مونږ د انجمن هغه تبلیغ او اشاعت او په ملک کښی
د دورو هغه کار جاری ساتلی وای نو مونږ به ددی نه هم زیاته ترقی کړی وه اوزمونږ
قوم اوزمونږ ملک ته به زیاته فایده رسیدلی وه لیکن دا زمونږ اوزمونږ دقوم بد
قسمتی وه چه انجمن ته دخپلو جګړو نه دومره فرصت نه وچه پخپل قوم او ملک کښی کرخپلی
وای اوبی خبره او اوده پښتون وروډی خبر کړی او بیدار کړی وای. اخر دا چه خادم
صاحب، عباس خان اوعبدالاکبر خان خپلو کښی اوجنګول. نو دی انجمن ته نور هم
زیات نقصان ورسولو بیا خادم صاحب زما او د عباس خان د جنګولو کوششونه
شروع کړل لیکن تر دیره مودی پوری کامیاب نه شو په یوه کرمی کښی زه کوه مړی
ته لاړم خادم صاحب ته میدان خالی شو او د عباس خان اوزمونږ بعضی نورو د
انجمن د رونو په دماغو کښی یی داخیال پیدا کړو چه د لوبی و نی د لاندی وړه
ونه وده کولی نه شی او دهر قسم قربانی او خدمت چه تاسو کوئ تو نوم پری د
هغه کیږي. څه وخت چه زه دمړی نه واپس راغلم او د انجمن د بعضی ذمه دارو
خلکو رویی ته می کتل، زه ډیر پریشانه شوم، هرځای زما برخلاف پراپیګنډه کیده
ما حاجی عبدالغفار خان سره مشوره وکړله، داخلک می دهغه په ذریعه راجمع
کړل اوپه ډیر منت سره می دوی تدووی چه دلکار سنبه نه دی او ددی نتیجه
به زمونږ د انجمن بربادی وی، اوخدای د پاره په دی خپل قوم رحم وکړئ
دی خو ډیر برباد شوی دی اوپه کار خو نه دی چه مونږ یی نور هم برباد کړو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو بل باندی دد سره غوالزامونه مه لګوئ او دیو بل غیبت مه کوئ اوهر څه چه
وائی خو دهغه سړی په مخکښی وائی چه دچا نه ستاسو شکایت وي یاموپه هغه
څه قسم شک وي اویاستاسو په خیال هغه څه غلط کار کړی وی په ځای ددی
چه تاسو پس شاخلک پسی خبری شروع کړی دی نودا دفایدی کار نه دنقصان دی نوعبدا-
الاکبر خان اومیا عبدالله شاه به وخندل ، اوخادم صاحب ته به مخاطب شو اوورته
وویل به یی چه خادم صاحب مونږ به پسی شا دچا نوم اخیستی شوکه نه ؟ خیر داخبری
دوی په خندا به توقوکښی تیری کړی . دشپی چه څه وخت دحاجی عبدالغفارخان
په ځای کښی دډوډی وخوړی شوه نوزمونږ بعضی ممبران دعباس خان سره دځملاستو
د پاره تلل نومامم ځان د دوی سره ملګری کړ هلته هم مادابحث شروع کړو چه تاسو
سره دپوهی ځانونه ولی داسی نادانه کړی دی ؟ نوعباس خان راته صاف جواب راکړو
چه یوه ونه چه دبره لویه اوګوره شی نو دهغی دلاندی نوری ونی ودهکولی نه شی کومی
پوری چه دهغی ونی شاخ تراشی ونه شی نومونږ داغواړو چه ستالږه شاخ تراشی وشی
ماورته په خندا خندا کښی ووې چه هسی نه چه هغه توقه دی باندی وشی چه دیوی ونی
خوځه نه څه سوری پیدا شوی دی او دپښتنو بچي دهغی سوری دلاندی ناست دي
اوکه دهغی ونی شاخ تراشی وکړی او هغه بله ونه کښی دومره طاقت نه وی چه هغه
ستاسو دبچو د پاسه سوری شی نو نتیجه به یی داوي چه ستاسو بچي به په نور (لمر) شی
ددې د پاسه مابیا هم خپل کوشش جاری وساته چه اخر به ددې اصلاح وشی لیکن
اصلاح ونه شوه . اخر دعبدالاکبر خان دکلی په جلسه کښی عباس خان یی ماسره و
جنګولو . چه زه کلی ته واپس راغلم نوزه په دی نتیجه ورسیدم چه دموجوده جماعت

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصلاح مشکله ده په دی وجه ما دا فیصله وکړه چه دانجمن د «انتظامیه» نه استعفا
وکړم په استعفا کښی می دا ولیکل چه ما څنګه اول چنده درکوله په هغی کښی به کمی نه راولم
بلکه د هغه نه به زیاته درکوم اوزه به دانجمن د نور و ممبرانو په شان یو عام ممبر یم او
دانجمن دهر قسم خدمت دپاره به تیار یم لیکن د ننه نه پس به زه دانجمن په انتظامیه
جماعت کښی نه یم اونه به دانجمن په انتظامیه جلسو کښی شامل یږم. حکومت نه چه څومره
کوشښتونه کړی شو هغه ګلیا و زمونږ دانجمن د برباد لو د پاره یی کول لیکن دی دومره
زور ور حکومت هیڅ قسم نقصان زمونږ انجمن ته رسولی نه شو بلکه زمونږ انجمن ورځ
په ورځ مخ په ترقی ولیکن زمونږ دکور په بی اتفاقی زمونږ دلا سه چه څومره نقصان
زمونږ انجمن ته ورسیده هغه هومره نقصان ورته پیر ښکیا نو رسولی نه شو انجمن
هسی په نوم پاتی شو او ځای په ځای شاخونه یی په بند بلد شو او دانجمن سالانه
جلسی هم پاتی شوې، زما د استعفا نه پس عباس خان هم څه دیږی وروځی په انجمن
کښی پاتی نه شو، هغه هم دانجمن نه مستعفی شو او خپل مالی امدادی پرې هم بند کړو او
د خپل زور زور فیض محمد خان امدادی په زور په هغه بند کړو حالانکه چه فیض محمد خان
په دی د پیر زیات ناراضه و او څو ځله یی ماته خپله ناراضی ښودلی وه لیکن د مشر
زور زور مخی له ورته لی نه شو. عباس خان دانجمن اوزما برخلاف پراپیګنډه شروع کړه
لیکن په هغی کښی کامیاب نه شو.

چه څه وخت دانجمن حالت په ابتری شو نو خادم صاحب له هله هوش ورغی او بیا ما پسی
تک و دو او ته له راته شروع کړه هره ورځ به یی راته څه نوی قومی راک غږ وو لیکن د هغه راکونو
په ما اثر کولی نه شو، ولی چه دا ټوله تباهی د هغه دلا سه په انجمن راغلی وه. چه سړی خبری

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوشان کوی اهل یی بل شان وی نو د هغه خبری په خلکو ښه اثر نه کوي اخر چه به کله
ناکله ده زه د تنګ کړم نو سپینه خبره می ورته وکړه چه خادم صاحب دا قوله تباهی
په انجمن تاداوستی ده او ددی قولی تباهی به خدای او قوم ته جواب ده او ذمه وار
یی . یوه ورځی یی راته وویل چه انجمن شه او دانجمن په شان ځان کښی طاقت پیدا کړه او
دا قولی کوتهې ځان پسی راکاږه ما ورته وې چه خادم صاحب انجمن هغه کوتهی را ښکلی
شی چه کومو کوټه ته بریکونه لګیدلی نه وی او چه په کومو کوټه ته بریکونه لګیدلی وی یا لکی نو
بیا ممکنه نه ده چه انجمن هغه کوتهی راکاږي کله ناکله به یی راته په علاقه کښی ذکر ځیدو
قصه را مخکښی کړه لیکن زما ورته هم هغه یو جواب وچه تاسره دوستی کولی نه شم او که
چیری انجمن ماله حکم راکړي نو زه هر وخت حکم منلو ته تیار یم . هغه د پښتو خبره
چه خادم صاحب ته می «د کرښه» را ښکله نو ایله هغه څه ناڅه پخپلی غلطی پوه شو او
محسوسه یی کړه .

امان الله خان :

څه وخت چه افغانستان کښی شورش شروع شوه د انقلاب نه و ، شورش د امان الله خان قندهار ته لاړو ، په کابل بچه سقا قبضه وکړه ، انګریزی اخبارات و د افغانستان
برخلاف قصی ، طعنی او خوشحالی شروع کړی ! نو زه پوه شوم چه پدې نګیان چه په افغانستان
کښی د پښتنو ترقی ته کتی نه شی نو مونږ به تری دلته په مرحد کښی څه ترقی وکړی شو !
او فوراً می د اراده وکړه چه په دی راز پښتانه پوهول په کار دی او دوره می شروع کړه
کلی په کلی ، ښار په ښار او علاقه په علاقه وګرزیدم ، جلسی می وکړی . د خدای په فضل تول
پښتون یکدم د خوب را بیدار ه شو پوه شو او د خپل قوم تباهی او بربادی یی محسوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړه او د افغانستان د خدمت د پاره یې ملا وتړله. په بعضی علاقو کښی ملایانو چې څه
نه څه مخالفت شروع کړه لیکن چې د قوم په جذبه پوه شو نو مخالفت یې پرې ښود. که بعضی
ملایان د خپلو ذاتی فایدو په وجه قلا رنه شو نو قوم په زور او بې غرتی د هغوی خولی بند
کړې، مونږ سره په دی معامله کښی د قوم شاعرانو هم د پرزیات امداد او اخلاص
کړې و او د قامولی یوه نوی جذبه یې په قوم کښی پیدا کړې وه او په دی معامله کښی
تورسم خان د دوبه مونږ سره د پرمله کړې و. ده به اشعار جورول او مونږ به
په پښتون اخبار کښی شایع کول چې د هغی نه یو بیت دادی:

لا ماوې داسې زمونږ قوم کښی خلل دی اوس دی ولید چې د بیړی خاوند غل دی»

دا بیت د ډمره مشهور شو چې د بیړی والا به چې خلکو لیدو چغه به یې کړه، د بیړی
والا غل، او په دې د رڅو کښی د قصه خوانی په بازار کښی د بیړی خاوند ګرځیدلی نه شو.
او خامیز هلالی خو زما سره په ټولو دوروکښی شریک و او داسی نظمونه یې جوړ کړې وو او د
افغانستان یې پکښی داسی خاکه راښکلی وه چې د هغی په اوریدو تقریباً هر پښتون پوه
شو او ماته هم په تقریر کښی د هغوی د پوهولو ضرورت پاتی نه شو او په دی کښی زمونږ
د مدرسی هلکانو د پره حصه اخیستی وه، زمونږ انجمن هم هر قسم مالی او جانی
خدمت ته تیار شو، د افغانستان د پښتنو بربادی او غم د سرحد پښتنو خپل غم
او خپله بربادی ګڼله ځکه چې مونږ یو د رونه او یو قوم یو. او د سرحد په پښتنو
کښی د افغانستان د دروغو د امداد او هڅو د یوه داسی جذبه پیدا شوه
چې د نه د هغی بیان کولی نه شم که امیر د او که غریب ؤ، که تعلیمیافته و او که بې علمه
د ویښې نوښتی وې او که نرو و د افغانستان په مصیبت ژیړوو. او د امان الله خان د دوباره

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومت قایمولو د پاره هرخدمت ته تیار وو او خلکو به دعاکانی کولی چه ای الله
ته زمونږ غمجن بادشاه امان الله خان ته کامیابی ورکړی. په پښتنو کښی د
بادشاهان ته شوی دی لیکن د پښتنو ښځو، نرو چه خومره مینه او محبت د
امان الله خان سره وو هغه بل بادشاه سره نه و. امان الله خان به وې چه
زه د پښتنو انقلابی بادشاه یم او دهغه داخبره بالکل رښتیا وه چه هغه په
پښتنو کښی یوعجیبه انقلاب پیدا کړو اوزه چه نن پښتنو ته گورم نو حیرانیږم
چه په پښتنو کښی دا دومره زړه دا تبدیلی د قومولو اوورودولو احساس پیدا
شو او سیاسی شعور پکښی راغی. انقلاب یو سیلاب وی چه راشی نو اوده خلک
یوسی اوویښ نړی فایدی اوچتی کړی. د افغانستان انقلاب کښی د افغانستان
پښتانه لاهوشو مونږ کوز و پښتنو تری فایدی اوچتی کړی. ولی چه مونږ ده ویښ
وو پیدا اوو د کوز و پښتنو زړه چیرته په تشو دعاکانو او جلسو باندی قرار پدلو هغوی
د افغانستان ډیر دی غم او مصیبت کښی عملی شرکت غوښتو او د دی خبری
خواهش یی لرلو چه افغانستان ته لاړ شو او خپلو وروڼو سره په دی غم کښی شریک
شو او د خپلو زخمیانو وروڼو دارو درمل هم وکړو او د هغوی پس ماندګانو سره
مدادوکړو چه څوک مړه دي او بچی اوښځی یی پاتی شوی دي د دی د پاره مویوه کمیټی
جوړه کړه چه د «غی نوم یی د افغان هلال احمر» و او د دې کمیټی کار د افغانستان
پښتنو طبی اومالی خدمت وُ کلی په کلی، علاقه په علاقه خلکو د دی کمیټی د پاره د
چندی جمع کولو انتظام وکړو اوپه یولږ وخت کښی یو طبی وفد تیار شو چه هغه زماد
شروورود داکتر خانصاحب په سرپرستی کښی تلوته تیار شو. د افغانستان په امداد

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښې یو پښتون هم څه کمی کړې نه دی لیکن د بنو خلک د ډیره اسماعیل خان کونډ
خاندان د سودم خانان د بائیزو خانان، قاضی عطاء الله خان، علی اصغر خان
علی کل خان او میا احمد شاه صاحب د ډیر تعریف ور دی. لیکن پیر نکیانو دا خبره چې
خو بنوله، د هغوی په زړه دا چې ته ځائیدی شوه چه د افغانستان د امداد د پاره
دی د سرحد پښتانه لا رشی ولې چه په دی طریقه خو زمونږ د وروولی او قوم ولی
قائمیده او هغوی چې ته دا غوښتل.

مونږ له یې اجازه رانه کړه. ماخو ډیر دا کوشش وکړ چه د دوی د اجازی نه
بغیر مونږ له افغانستان ته تلل په کار دی مونږ ته د پیر نکیانو د اجازی او د پاسپورټ
څه ضرورت نشته، ولی زما دا خبره کمیتی و نه منله او ما دا هم کمیتی ته وویل چه ترڅو
امان الله خان په افغانستان کښې وی مونږ له انګریزان د تلو اجازت افغانستان
ته نه راکوي، خو کمیتی به ویل چه مونږ خو که بغیر د انګریزانو د اجازت نه لا رشو نو بیا
به په مونږ ډه دارو او درمل بند کړي. پیر نکیانو خو اول دا اعتراض او چت کړ چه
تاسو خو د امان الله خان امداد د پاره ځئ، لیکن که هغه هم ستاسو د امداد خواهش
وکړي. که چیرې تاسو د هغه اجازت نامه راوړه بیا مونږ تاسو له د تلو اجازه درکوو
زه او میاں جعفر شاه د دی کار د پاره مقرر شوچه امان الله خان نه لا رشو او اجازه
تر ې راوړو ولی ما کمیتی ته وویل چه مونږ خو د قوم او خپلو د رونو د امداد د پاره
څو، په دی کښې د امان الله خان د اجازی څه ضرورت دی او مونږ خو د پښتنو د امداد
د پاره تلو.

مونږ اول د پیښور وکیل تجارت له لا رو چه هغه زمونږ د پاره اجازه راوغواړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکن چه خو ورځې تېرې شوې او هغه اجازه راونه رسیده نو مونږ کند هارته د تلو اراده
وکړه چه د امان الله خان نه اجازتنامه راوړو. په شاهي باغ کښې د پښتنو یوه عظیم الشانه
جلسه وشوه، ما او جعفر شاه د خپلو تلونه خبر کړل لیکن دا می ورته هم ووې چه د اتولی
د پیرنګیانو بانې دی هغوی پخپل وس زمونږ وفد له د تلو اجازت نه راکوی او دا به
تاسوته د پیر ز معلومه شی، مونږ شپې له نوښار ته لاړو، شپه موهلته تېره کړه
د شپې یوه لوبه جلسه وشوه او سبا له مونږ نوښار د سټیشن نه ریل کښې سوار شو
د راولپنډی سټیشن ته ورسیدو، مولانا اسحاق صاحب هزاروی او دښار
د پر مسلمانان زمونږ د لیدو د پاره سټیشن ته راغلي وو او څه وخت چه زمونږ ګاډی
لاهور ته راورسیده نو مولانا ظفر علیخان او د مسلمانانو او هندوانو د پر لیډران
زمونږ لیدو له راغلی وو، مونږ یې ډکاډی نه راکوز کړو او د لاهور ښار ته یې بوتلو او یولوی
جلوس یې او بنکلو حالانکه زه د دی نه مخالف وم. په سبا له په لاهور کښې د هندوانو
او مسلمانانو یوه لویه جلسه وشوه چه په هغې کښې د حکومت د ملامتیا او مونږ سره د
امداد او همدردی تقریرونه وشو او قرارداد ونه پاس شو. بله ورځې مونږ د کراچي
په میل کښې د لاهور نه کوئټې ته روان شو چه بسکهر ته ورسیدو، د سنده حضرت
مولانا او بعضې د سند مسلمانان زمونږ لیدلو له راغلي وو، هغوی سره موډیرې خبرې
وشوې، د لته زمونږ ګاډی بدل شو او مونږ کوئټې ته روان شو. سحر وختی زمونږ
ګاډی سیوی ته ورسیدو، زمونږ ګاډی ولاړه د اومونږ په دې فکر کښې یو چه چای
به څنګه وڅکو چه په دی کښې زمونږ د بلې تکپتان صاحبزاده خورشید چه د بلوچستان
پولیټیکل ایجنټ او بل درسره د پیو یو خان چه پولیس کپتان ورانتوټل زما په زړه کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه شک پیدا شو کنی دوی مونږ لپسی راغلی دی، هغوی مونږ سره ګډ شب شروع
کړو او بیایی مونږ ته ووې چه راځئ دلته مونږ سره په ارام چای وڅکئ نو بیا به
کاډی کښی کښینئ کویټی ته به لاړشئ مونږ اصرار وکړو او ورته مو ویل چه ستاسو
مهربانی ده کاډی به رانه لاړشی هغه وی چه دلته کاډی د پر ساعت ولاړ دی نو مونږ
هغوی سره روان شو، د کپتان خور شید بنګلی ته لاړو چای مو وڅکله، مونږ تاډی
کوله چه کاډی رانه لاړ نه شی مونږ ته معلومه نه وه چه حکومت مونږ څخه کښینی تلو ته نه
پریږدی، کاډی لاړ او مونږ پاتی شو، زمونږ او د دوی په مینځ کښی د پری خبری
وشوې، د دوی د وخت راغی، دوی مو وخوړه. حکومت صاحبزاده صاحب
او د پیو خان د دی د پاره راپسی لیږلی وو چه مونږ په دې رضا کړی چه په خوښه
سره واپس پیښور ته لاړ شو د هغوی او زمونږ په مینځ کښی د پری خیری وشوی
ولې مونږ په واپس تلو رضا نه شو او چه مونږ رضا نه شو نو ما زیګر چه کوم کاډی راغی
په زور یې په هغه کاډی کښی کښینولو. پولیس ته یې په حواله کړو چه مونږ د بلوچستان
د علاقی نه بهر وباسی او چه جیکب اباد ته راورسیدو نو هلته پولیس مونږ په سټیشن
د کاډی نه کوز کړو هغوی رانه لاړل او مونږ پاتی شو مونږ جیکب اباد ته لاړو او ویو
ورځی غونډی ځای مو په کرایه واخیستو او پیښور ته مو اطلاع ورکړه چه مونږ حکومت
کویټی ته پری نه ښودو او د سیوی د سټیشن نه یې راواپس کړو او مونږ کندهار ته
نه پریږدی او مونږ اراده کړې ده چه د حکومت دا ناجایزه حکم ونه منو او سبا بیا د
کندهار په طرف روانیږو. په سبا له مونږ د بلوچستان رزدنټ لیوتار ورکړو چه
مونږ ستاسو دې قسم ناجایز حکم منلو ته تیار نه یو او مونږ تاخبر ووچه سبا له به بیا مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کویتی ته روانیږو . دشپې په کاډی کښی مونږ بیا روان شو اوچه سحر بیا زمونږ
کاډی دسیدی سټیشن ته ورسیدو نوځکه کوروچه مسلح سپاهیان سره دیو پیرنګی
ولاړ دی کاډی چه ودریده هغه پیرنګی زمونږ ډبی له راغی او مونږ یی دډبی نه کوز
کړو داځل صحیزاده صاحب او دپښوخان ددوی سره نه وو زمونږ خو داخیال وچه
جیلخانی ته موبیایی لیکن هغه پیرنګی مونږ په ویټنګ روم کښی کښینولو اوپه ویټنګ روم
یی یوه ډبله پوره ودرولې داپریوشریف پیرنګی وماته یی په خبرو خبرو کښی ووې چه زه
ددی حکومت په پالیسی نه پوهیږم یوطرف ته خو وایی چه مونږ غیرجانبدار یو اوتاسو ته
وایی چه لاړشئ مونږ له دامان الله خان نه اجازتنامه راوړئ نوتاسو به پریږدو اوبل
طرف ته مالته حکم راکوی چه پام کوه چه داسې درنه مخکښی لاړنه شی اوبیا تاسو داسی
کار نه منع کوی وستاسو طبی وفد نه پریږدی چه په دی کښی دخدای دمخلوق دخیر نه
بل هیڅ شی نشته . مازیګر چه بیا هغه ریل کاډی واپس راغی نو مونږ یی پکښی کښینولو او
ډجیکب آباد پسټیشن یی بیا کوز کړو مونږ ته معلومه شوله چه مونږ حکومت په هیڅ
قسم کنډاړ تلو ته نه پریږدی نوهسی تلل راتلل مومناسب ونه ګڼل اوارادە موو کړه چه
دهلی ته به لاړشو اودافغانستان کونسل جنرل سره به وویني کوهغه زمونږ دپاره څه اجازه
نامې انتظام وکړی شی دهلی ته روان شو ، دهلی ته ورسیدو اوکونسل جنرل صاحب مو
ولیدو اوخبرې اترې موو شوې ، مونږ سره یی ډیره همدردی ظاهره کړه اوامان الله خان
ته یی تار ورکړو اد تار په ذریعه یی مونږ له اجازتنامه راوغوښته په دغه ورځی مونږ ته
په دهلی کښی معلومه شوله چه پیرنګیانو د شور بازار د حضرت وروره چه په هند وستان کښی
په کاتهیاوار کی اوسی راغوښتی دی اوهغه پاونده وسپی چه دهغه مریدان دي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

امان الله خان بر خلاف افغانستان ته لیږی حکمه چه پیرنګیانو ته معلومه شوې وه چه د خلکو څه نه څه همدردی د امان الله خان سره پیدا شوی ده او هسی نه چه هغه چیرته کامیاب شی. مونږ دکونسل جنرل صاحب نه رخصت واخست او سرحد ته راروان شو څه وخت چه مونږ پیښور ته راورسیدو نو مونږ ته معلومه شوه چه د افغانستان وکیل تجارله هم دکندهار نه زمونږ د پاره د امان الله خان پخپل دستخط فرمان رالیږلی شوی دی. ددی د پاسه به بیا هم حکومت چل ول کوی او په مونږ به یې وخت او وه څه وخت چه زما بالکل دایقین راغی چه حکومت په هیڅ طریقه زمونږ وفد له اجازت نه ورکوی نو ماخپلو د جماعت ملګرو ته ووې چه د حکومت دا تولی اني باني زمونږ د پاتی کیدو د پاره دی او که چیری تاسو د حکومت اجازت ته ناست یئ نو هغه شان به ناست پاتی شئ او هیڅ قسم د افغانستان امداد به نه کړی شئ او بله داچه ایا افغانستان کښی د دوی سفارت نشته؟ نو بیا د پاسپورټ ضرورت څه دی؟ مونږ خو افغانستان ته د پیرنګیانو په ذمه واړئ نه ځو، مونږ که افغانستان ته ځو نو پخپله ذمه واړی ځو نو بیا د پیرنګیانو د راه داری مونږ ته څه حاجت دی؟ لیکن زما دا کشر و وروڼو د اخیال و زمونږ تلل او راتلل به بند شی او زمونږ د دی وفد په لاره کښی به د دا رو راغو بنتلو په سلسله کښی مشکلات پیدا شی او نه به مونږ د افغانستان د رد فوسره مالی امداد وکړی شو. ما ورته ووې چه په دی صورت کښی به مونږ د غه شان په انتظار کښی پاتی شو، د افغانستان به او د هیڅ قسم امداد و نه کړی شو او امان الله خان چه ترکومی پوری په افغانستان کښی وی نو دوی مونږ له اجازه نه راکوی او چه هغه د افغانستان نه لاړ نو بیا به مونږ له اجازه راکړی.

ما او زما یو څو ملګرو دا اراده وکړه چه مونږ بغیر د پیرنګیانو د اجازت نه د افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

د املاد د پاره روانیږ. و اوپه دې غرض موږ په پیښور کښې یوه جلسه وکړه او قوم ته مو دا
حقیقت ښکاره کړه چه پیرنګیان مونږ له راهداری نه راکوی او مونږ ددوی راه
داری ضرورۍ هم نه کښو زمونږ افغانستان ورور دی او مونږ خپلو وروڼو له پخپله
ذمه واری باندې ځو چه څوک تلل غواړی او تلو ته تیار وی چه فوراً افغانستان
ته روان شو. خلکو وې چه مونږ تیار یو څه وخت چه ددی جلسې رپورټ حکومت ته
رسیدلی دی چه مونږ بغیر د اجازت تلو ته تیار شو نو فوراً یې مالته تار راکړه چه څوک څوک
چه افغانستان ته په طبی وفد کښې ځی نو فوراً دې مونږ له د راهداری له پاره درخواست
راکړی او خپل تصویرونه دی ورسره راولیږی. زه د حکومت په دې خیال پوه شوم لیکن
د جماعت اکثر خلکو راته ووې چه ستاهسی ددی حکومت نه نفرت دی او ددوی څېره
درته د چل او دروغ ښکاری. زه چپ شوم او د راهداری نه بغیر تلو خیال می پریښود
او د راهداری د پاره مو تصویرونه او درخواستونه ورکړل.

نادرخان:

د پېښور خو نه په دې ملک کښې ډاکونکو سی ؤ چه نادرخان د خپلو وروڼو سره د
فرانس نه راروان شوی دی، بلکه ورځی راته معلومه شوه چه نادرخان سره د خپلو وروڼو
پیښور ته راد سیدلی دی او د وکیل تجار په کور کښې دی. زه او د اکټر صاحب یې هم دلیدو
د پاره لاړو. نادرخان او هاشم خان ماد اول نه پیژندل، په ښه شان سره مو ملاقات
وکړه، د پېښو خلکو پرې زور ولکو چه قندهار ته لاړشه او امان الله خان ورپسې د پراستاذی
راولیږل لیکن نادرخان د قندهار د تلو د پاره تیار نه شو. یوه ورځی زه او نادرخان یوازی
یوه کمره کښې ناست وو، د افغانستان په مستقبل مو خبرې کولی چه ده ماته ووې زه چه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر څه کوم نور امان الله خان د پاره یې کوم ماورته وویې چه خلک والې چه د حبیب الله
خان هغه زوی چه ستا خوریې دی تاسو دهغه په حکومت باندې د کښېنولو د پاره کوشش
کوئ ده راته وویې چه ته به هم ژوندی یې اوزه به هم ژوندی یم که چېرې ما هغه بادشاه
کړه یا پخپله بادشاه شوم نو ته راشه او مخ راله تور کړه اوراته ووایه چه نادره خپله وعده
دی پوره نه کړه. څه ورځې پس هاشم خان جلال اباد ته اونادر خان اوشاه ولي خان
ځائیوته روان شو، زه یې په دې خبره مجبوره کړم او وعده یې رانه واخسته چه سبا
به مونږ تل کښې یو. نه سبا له هلته راشه او ما ضرور وویه. زه سبا له تل ته لاړم لیکن نادر
خان په مخه تلی ؤ او تل کښې ایسار شوی نه و، د را روانېدو په وخت کښې حکیم می په موټر کښې
ولید وچه دنادر خان دلید و د پاره ځائ ته روان و، هغه له می یو خط ورکړ او په هغې کښې
می نادر خان ته ولیکل چه اوله وعده خو دی پوره نه کړې شوه نو چه دبلې وعدې به دې څه
حال وي، بغیر زمانه دقولو خلکو داخیال وچه پېزنکیان به د افغانستان دنلو او امداد د پاره
مونږ له اجازت راکړي لیکن زما داخیال نه و ولی چه دوی د امان الله خان غوندی د
پښتنو خیر خواه بادشاه په افغانستان کښې نه غواړي او زمونږ خوش اعتقاده ورونه په
دې امید کښې پراته ووچه نن دې که سبا دې اجازت به راشي د فصل وخت ؤ مونږ د
افغانستان د پاره چنده جمع کولو په خیال د بائیزو په دوره وو خلکو راسره د هر په اخلاص
او خوشحالۍ دقول زکوة د راکولو وعدې وکړې، پښتانه د افغانستان د ورونو هر قسم
امداد کولو ته تیار وو. زه او خوشحال خان د بادې کاؤ د سخاکوټ په لاره مردان ته را
روان شو، چه مردان ته راورسېدو نو خبر شو چه امان الله خان د جنګ خیال پرېښودی
دی او کوښتی ته راغلی دی، د دې خبرې په اوریدو په ما د هر غم او خفګان راغی خوشحال خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلی ته رخصت شو اوزه د قاضی عطاء الله خان خای ته لاړم اوپه یوکت کښی ویږ ویږ پرې
دتم خو ورځی پس څه وخت چه امان الله خان بمبیئ ته ورسید و زه د اکثر صاحب اونورو
دوستانو مجبوره کړم چه بمبیئ ته لاړشه امان الله خان ووینه او د افغانستان متعلق مشوره
ورسره وکړه او داخبره معلومه کړه چه که مونږ د افغانستان سره څه قسم امداد کول غواړو
نو دچا سره وکړو او داهم معلوم کړه چه دنادرخان او دهغوی دوروهو متعلق د هغه څه خیال
دی زه بمبیئ ته لاړم . عبدالهادی خان داوی هم هغه سره واو د هغه په ذریعه می د هغه
سره ملاقات وشو خبری مو وشوې . ما افغانستان ته دواپس د تلو خبره وکړه لیکن هغه
د افغانستان نه مایوسه شوی د او د افغانستان خیال یې پریښی و د پښتنونه د پرمور معلومیدله
زما چه د هغه سره ملاقات وشو نو ما سره یې په پښتو کښی خبری وکړې ، د گفتگو په دوران کښی
د نادرخان د وی ذکر هم راغی او ما ورته داوویل چه مونږ سره چه د افغانستان د پاره
کوم حساب جمع دی هغه چاله ورکړو ؟ نو په جواب کښی ده راته ووی چه تاسوی نادرخان
ته ورکړئ او د نادرخان امداد وکړئ ملاقات ختم شو په د پرخفگان سره مونږ دیوبل
نه جدا شو په هغه هوټل کښی هغه سره نورهم د پرسرداران و د هغوی سره می هم لیدل
کتل وشو او د شپی عبدالهادی خان د بمبیئ د کونسل په کور کښی زه میلمه کړم او د ډوډی
په وخت کښی می نور د پرو سرډارانو سره خبری اتری وشوې . د دی خلکو داخیال وچه
امان الله خان به ضرور واپس افغانستان ته راځی خکه چه په موجوده جنګ کښی کوم
کوم جرنیلان د یچه سقه دلیری کولو کوششونه کوی هغوی په کور کښی بی اتفاقه دی او
په یو او بل اتفاق کولی نه شی او د تولو اتفاق په امان الله خان راتلی شی د غه جرنیلان
نو نادرخان وچه د ځاځو په مرسته یې کابل اخیستو او بل غلام نبی خان وچه د کوهستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

د طرف نه په کابل د حملی کولو د پاره راروان و. زه د یمبیئی نه واپس راغلم د اتو لی
خبری می انجمن هلال احمر ته ورسولی او د امان الله خان خیال او رأی او د نادر خان
متعلق خبرې می هم هغوی ته ظاهر کړه او دا تجویز می پیش کړو چه د اخر مره روپی هلال
احمر سره جمع دی او کوم سامان چه د طبی وفد د پاره مونږ ته غلکو راکړی دی د اتو لی
نادر خان له لیږل په کار دي لیکن په دې کښی بعضی وکیلانو چه د هغوی سره غنه ابراهیم
خان د چینی د مخالفت وکړو زما په خیال د هغوی د خپلو چند و واپس اخستو د پاره
دا بهانه وه اخر فیصله په دی وشوه چه څوک خپلی روپی نادر خان ته لیږل نه غواړی نو
هغوی ته د اختیار حاصل دی چه خپلی روپی واپس واخلی حالانکه د هلال احمر د قانون
نه د اخبره خلاف وه او تقریباً اکثرو وکیلانو چه مونږ له څه نه څه چنده راکړی وه واپس
یی واخیسته بیا هم مونږ نادر خان له پنځوس زره نغدی روپی او هغه قول سامان
چه مونږ له خلکو راکړی و لیږده او په علاقه کښی مو د چندی د پاره انتظام هم وکړو
په دې د رڅو کښی هر سړی په جوش کښی و، زمونږ د اسلامیه کالج په هلکانو کښی هم
یو زبردسته جذبه را وچته شوې وه، د افغانستان د پاره چنده می هم راجمع
کړې وه، د سمبر میاشت وه کالجونه بند وو زما دیو طالب علم دوست میا اکبر شاه
د بدرشو د خیال څه چه د پښتنو د څوانانو یو انجمن قایمول په کار دی. هغه یوه ورځ
د میا احمد شاه صاحب په څای کښی ما سره د اذکر وکړو چه مونږ د صوبه سرحد څوانان
راجمع کړو او وکړی چه د مسلمنو د پاره انتظام وکړې نو دا به په مونږ یولوی احسان
وی ما ورته ووی زه هروخت ستاسو خدمت ته تیار یم لیکن که د پښتنو په څای
اتمانزو کښی راجمع کړئ نو دا به بهتر وی. هغه زما دی خبری سره اتفاق وکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په اتمانزو کښې راجمع شو زما د انجمن بعضی ممبران هم دوی سره د تبادلهٔ خیالاتو د پاره ما دا غوښتی وو بحث شروع شو چه په صوبه سرحد کښې یوتھ لیګ (Youth league) جوړول په کار دی. د بعضی خلکو داخیال وچه دیوتھ لیګ په خانۍ دهغی نوم د صوبه سرحد د ځوانانو جرګه وی لیکن زمونږ د انجمن صدر عبد الاکبر خان اوسکرټری خادم محمد اکبر ددی مخالفت وکړو چه دپښتنو یو جماعت خو قایم دی چه ستاسو او دهغه په اغراضو مقاصدو کښې فرق نشته په دی وجه دنوی جماعت د قایمولو ضرورت نشته، د هغه جماعت له ترقی ورکول په کار دی، لیکن ځوانان د پر په جوش کښې وو هغوی دی خبری سره اتفاق ونه کړو. زمونږ د خلکو داخیال وی چه کنی ترقی دیونوي انجمن قایمولو سره لګیږی د نادر خان مارمالہ راغی چه کابل فتح شو او چه خلک خبر شو چه کابل فتح شونو یو قسم خوشحالی په خلکو راغله چه بیان یی کولی نه شم. بلکه داچه د قوم حوصلی زیاتی شوې او د ملک د برسر او د کوز سره نه جلوسونه اوجنجونه راروان شو په جلوسونو کښې خلک د بدل ځکه چه د پر خوشحالۍ وو د غربینو نو د زی وی تو پکی هم خلاصیدی. داتول جلوسونه په اتمانزو کښې یو ځای شول او یوه لویه جلسه وشوه په جلسه کښې نو روزمونږ ملګرو هم تقریرونه وکړل اوما هم په اخر کښې تقریر وکړو، د تقریر په دوران کښې می پښتنو ځوانانو ته ووی د کابل د فتحی نه سبق واخلئ د افغانستان د فتحی په سلسله کښې د پره حصه ستاسو د کوششونو ده. په دنیا کښې داسی هیڅ کار نشته چه هغه کیدلی نه شی خوچه ځوک یی کولو پسی ملاوتړی، نپولین به وې چه زما په ډایری کښې د ناممکن لفظ نشته تاسو اوده یئ د دنیا نه بی خبره یئ زه موخبرم. کابل د ۱۹۲۹ع کال په اکتوبر کښې فتح شو او نادر خان د خپلی بادشاهی اعلان وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې خبره باندې مونږ ډېر حیران شو. ولې چه داسې کار یې وکړ چه زمونږ په خواب
او خیال کښې نه ؤ حکه چه هغه خو مونږ سره وعده کړې وه چه زه به نه باچا کیږم.
مونږ خو پرېږده چه خپلو خلکو سره یې کومې وعدې کړې وې هغه یې هم ماتې کړې.
په دغو ورځو کښې عبدالهادې خان چه کابل ته روان ؤ مې لیدو زما په لیدو سره
یې وخندل او وې ویل چه کم بخت په یوه وعده هم تینګ نه شوکه بادشاهي خو بېنه
وې نوکم از کم کانستی تیوشنل مانرکی اعلان به یې کړې وای. دنادرخان بې
وفایې زمونږ په خلکو ډېر خراب اثر کړې و، لیکن مونږ څه کولی شو، مونږ داخبره
خدای ته پرېښوده چه خدای دې سزا ورکړې چه بیا څوک قوم سره داسې
قصه نه کوی. دافغانستان دفیصلې نه پس مونږ وزکار شو
میا احمد شاه صاحب مې هم راضی کړه او مونږ ډېلی
صوبې ددوړې ارادې وکړه. زه او عبدالاکبرخان
او احمد شاه دکوهاټ، بنو، ډیره اسمعیل خان
په دوره ووتو، ددوی تقریرونه
به په جرګه یعنی یوتھ لیګ (Youth league) باندې وو او ما به خلکو سره دقو
او وطن خبرې کولې او په هرځای کښې زمونږ دادوره ډېره کامیابه ثابته شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

منظم سیاسی، جد وجہد
خدایی خدمتگاری

لاهور کښې د آل انډیا کانګریس، جلسه سنه ۱۹۲۹ع
خدایی خدمتگاری، دوری اوسری جامی
(مرد ان، بایی زی، سودم، اکبرپوره، نوښار
خیشکی، نسته.) سالاران
مرغز کښې لویه جلسه اویوه قامی پریکړه، اتمانزو
کښې لویه جلسه اومشاعره

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاهور کښې د کانګرس جلسه ۱۹۲۹ع :

په دسمبر ۱۹۲۹ع کښې په لاهور کښې د کانګرس سالانه جلسه وه او چونکه لاهور صوبه سرحد ته ډېر نږدې دی نو په دې وجه د صوبه سرحد ډېر خلک د کانګرس د جلسې لپاره لاړل. ما او امیر ممتاز خان زمونږ دازاد سکول هیډ ماسټر د تللو اراده وکړه. مونږ کانګرس کښې نه وو مونږ خو خلافت کښې وو او مونږ تماشې له تللی وو، د کانګرس جلسې زمونږ په خوانانو باندې ډېر ښه اثر وکړ او بیا دې خبرې ډېر اثر وکړ چې خوانان خو پرېږده د هند وانو جینکو هم د ملک دازادئ او د خدمت د پاره ملا تړلې ولاړې دی. مونږ هم د کانګرس په پنډال کښې ځای په ځای وګرځېدو. مونږ چې د جینکو والنټیرو (رضاکارانو) د اقومی جذبه ولیدله نو ددې نه ډېر متاثر شو. مونږ د صوبه سرحد نه تللی ټول ملګری هلته راجمع شو ما ورته وویې چه سږې خو د هند وانو ښځې هم بیدارې شوې دي او د ملک دا بادی د پاره یې ملا تړلې ده پښتون د ښځو ډېر اثر کېږي، د دې خبرې په هر یو ډېر اثر وشو او هر سړی چې لاهور نه تللی و نو په زړه کښې یې د قام او وطن احساس پیدا شوی و. جلسه ختمه شوه.

خدایی خدمتګاری :

مونږ چه د لاهور نه واپس شو نو په اتمانزو کښې مولوي جلسه وکړه، زه په جلسه کښې پاڅېدم او خلکو ته مې وویې چه تاسو خو اوده یئ او سږې څه کوئ چه د هند وانو ښځې هم بیدارې شوې او هغوی سره سره یو ځای د ملک دازادئ د پاره ملا تړلې ده جد وجهد کوی. تاسو خو لږ دې لمر خانه ته وګورئ خومره لوی سیلاب راروان

(c) ketabton.com: The Digital Library

او سیلا بونه همیشه اوده قومونه وړي پاځئ ، دیښ شئ اوملا وتړئ ، تاسو خو
وګورئ ، پیرنګیان وایی چه هندوستان مونږ په توره فتح کړی دی دا زمونږ دی
او مونږ به پرې حکومت کوو اوکتنه وتنه یی زمونږ ده ، هندوان پیرنګی ته وایی چه
تاسی مونږ په زوره نیولی یو ، اوس چه مونږ پوه شوو او متفق شو خپل وطن دښمن
اخلو دا زمونږ وطن دی اوس به پرې مونږ حکومت کوو . تاسی ددې نه خبر یئ
که نه ؟ زه موخبروم چه خبر شئ دهندوانو او پیرنګیانو په دې جنګ دی چه
پیرنګی وایی چه هندوستان کښی به بادشاهی مونږ کوو او هندوان وایی چه دلته
به بادشاهی مونږ کوو او مسلمانان دغفلت په خوب اوده دي ، نوای پښتنو وروڼو
زه ستاسونه پوښتنه کوم چه تاسو به څه کوئ ، ناست به یئ دوارو ته به دعا کوئ او
دغلامی اوپتهتی توب ژوند به تیروئ . (مونږ چه هلکان وو ، غوزان به موکول . لویه
دایره به مورابنکله اوپه هغې کښی به موغوزان کښیښودل . کټه بایلات به د دوولوبغارو
ویودریم سړی به دوارو له غوزان راتولول هغه سړی ته به یی پتهتی ویلو چه چا به غوزان
وکتل نوهغه ته به یی دوه غوزان دکټی ورکول .) نوای پښتنو تاسی ته وایم دا پتهتی
توب ژوند خوښیوئ اوکه تاسوهم ځان ددې وطن مالکان کنئ ؟ نو پاځئ اوملا
وتړئ اوداخپل ملک خپل کړئ . جلسه په دې برجوش وخروش ختمه شوه اوپښتنو
زماد تقریرد ډیر ښه اثر وشو . دشپې زمونږ دکلی محمد اکبر خان ، سرفراز خان
او حجاب کل اویو خو نور هلکان زما دلیدو دپاره زمونږ حجری ته راغلل او ما سره
یی دیوجماعت دجوړولو مشوره وکړه ما هغوی په ښه شان پوه کړل چه دالوبی توکی
نه دی دا ډیر مشکل کاردی ، ددې په لاره کښی ډیر اغزي دي په تاسو به زماد

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقریر دپر اثر شوی وی، خولا رشئ. په دی معامله بنه غور اوفکر وکړئ، هغوی
می رخصت کړل، بله شپه بیا راغلل. ماورته ووې چه ستاسو په ذهن کښی زما
هغه تقریرلا اوس هم ناست دی. تاسو د دنیا تاریخ وګورئ په دنیا کښی چه څوک
د خدای د مخلوق د خدمت د پاره پاخه شوی دی نو په هغه مصیبت نه او تکلیفونه
راغلی دی تاسو بیا په دریم ځل په دی بنه غور اوفکر وکړئ بله شپه یا راغله اوراته
یی وویل چه مونږ په دی کار د پر غور اوفکر وکړ، مونږ د قوم اوملک د خدمت د پاره
د هر قسم تکلیفونو، مصیبتونو اوقربانیو ته تیار یو، بیا مونږ کښینا ستراو په دی خبره
موغور کولو چه د دی نوی جماعت نوم دې څه وی. زما د اخیال وچه په دی پښتون
کښی د خدمت خیال نشته، په دی جماعت مونږ یو داسی نوم کښینږ د چه د پښتنو
په دماغ کښی د خدای د پاره د خدمت خیال پیدا شی. قسم قسم نومونه پیش شول خو
زمونږ خوښ نه شول، د شپی زما په زړه کښی د خدایی خدمتګار نوم راغی. چه سبا
له دوی راغلل نو ما ورته دا نوم ورانده کړ. د دوی هم خوښ شو او دعا د خیر پری وشوه
دی نوم زمونږ په زړونو کښی یو قسم اطمینان پیدا کړ. مونږ پښتانه خدایی کار او خدمت
هغه کار او خدمت ته وایو چه بی د کومی طمعی، غرض او اجرت نه د خدای پاره کوو او
د خدای خو خدمت ته ضرورت نه لری، د خدای د مخلوق خدمت د خدای خدمت دی.

زمونږ په علاقه کښی ملایانو د دولکی او سرنا بند کړی وو د دی مانو یو مشر و هغه
خپلو کشرانو ته ویلی ووچه بچو دا دول دبلئ د کوتی په تیر کښی کښینږ دئ اخر به خدای
مسلمانی راولی، نو د مانو ته مو وویل چه هغه خپل د دول د بلی راواخلئ هغوی د پر
خوشحاله شو هغوی هم مونږ سره خدایی خدمتګار شول او مونږ د هشنغر او بیا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړې په دوزه روان شو او چې یو کلي ته به نژدې شو نو د ډول به مو وواهه. چې خلکو به د ډول اوسنا اواز و اورېد نو حیران به شو ولې چې د ډول اوسنا خو ملایانو نه بند کړې وو نو چې چا به اورېده ښځې، نر، بچي به را غونډ شول او مونږ پسې به را روان وو مونږ چې به کلي ننوتو نو د ډول اوسنا به مو بند کړل. د کلي اکثر خلک به را غونډ شوي وو او د کار مونږ سره په پام مدد وکړو نو ما به ورته یو مختصر غونډۍ تقریر وکړو چې پښتنو وروڼو! مونږ ستاسو وروڼه یو، ستاسو خدمتګاریو، ستاسو خدمت له راتلې یو راځئ چې داخپل وران کور جوړ کړو، تاسو لږ د دې دنیا ته وګورئ که علم مونږ نه ستر کې خو موشته. د دنیا خلک او قومونه اسمانونو ته وختل او مونږ په مځکه پاتې شو. هغوی چې زمونږ په شان بنیادم دي، مونږ ورته لاس نیولی دی چا نه دا غوارو چا نه پیسې غواړو، مونږ له خدای د جنت په شان ملک را کړې دی، د دولتو او نعمتونو نه ډک دی او زمونږ پکښې څه حال دی؟ د جوارو دوډۍ نشته چې په مړه کیږه یې وخورو هغوی ولې اباد شو؟ او مونږ ولې پاتې شو؟ هغوی کښې وو ور ولې ده، قاموس ده، او اتفاق دی، په مونږ کښې پرې دي جنبې دي او بغض دی، کینه ده، نفاق دی. دا نن دنیا د قاموس دنیا ده که قوم شوئ نو ستاسو دنیا به هم اباده شي او ستاسو اخرت به هم اباد شي.

زمونږ دې خبرو په خلکو ډېر اثر وکړو او مونږ چې به هر چېرته لاړو نو ښځې نر، واړه، زاړه، به قول راسره روان شو، نو ملایانو نه دا فتوه وکړه چې باچاخان دجال دی. د دجال په هکله دا مشهوره وه چې د ځمکې نو ښځې، نر، او ماشومان به ورپسې وي، ملایانو به خلکو ته ویل چې تاسو نه ګورئ چې نر، ښځې، زاړه، واړه ورپسې دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم څوان چه به زمونږ جماعت کښې داخلېږي نو هغه به عهد کوو مونږ به ورته ویلی چه دالار ډېره ګرانه ده او په دې لاره کښې ډېر اغزی مصیبتونه او تکلیفونه او قربانی دي که دې ته تیاري نو هله خدایي خدمتګار کېږه ، ښه غور او فکر یې کښې وکړه بیا به مو ورته وویلی چه خدای ته خو خدمت ضرورت نشته ، د خدای خدمت دا دی چه دهغه د مخلوق خدمت دهغه د رضا پاره وکړئ بیا به مو ورته داخبره وکړه چه پرې ، جنبې ، تر یې کښې به پرېږدئ ولی چه ددې دلاسه زمونږ کور وران دی اوکه څوک د رباندې زیاتی وکړي نو ته به ترې بدل نه اخلی ، صبر به کوې بیا به مو ورته وویلی چه تشدد به نه کوئ ولې چه تاسو ګورئ د پښتون خپل کور تشدد په وجه وران دی او دده تشدد خو خپل وروڼو سره دی بل ته یې ایمان نشته . خدایي خدمتګار به د خپل قوم او ملک خدمت د خدای د پاره کوی بل غرض به یې نه وي رسم او دواج به پرېږدي او هره ورځ به پخپل لاس دوه ګېنتې کار کوی . داوعده چه به یې وکړه نو هله به مونږ دهغه نوم د خدایي خدمتګارو په فهرست کښې ولیکلو .

د عدم تشدد په هکله خلکو کښې عجیبه عجیبه خیالات دي ددې په هکله د پرې پرایکنډې کېږي او په خلکو کښې غلط فهمی پیدا کوی . څوک وایي چه که څوک په یو مخ څپېړه درکړی نو ته ورته دابل مخ هم ونیسه چا به وې چه ته ورته پروت اوسه او بل به د رباندې کړځي چا به وې چه ته به ورته پروت یې او هغه به دې وهي ته به لاس پسنه نه خوځوې چا به وې چه پښتون یو بهادر او زبردست قوم دی ، غفار خان یې بزدله کوي ، لنډه دا چه قسم قسم خبرې وې . دا اصل عدم تشدد یو طاقت دی څرنګه چه تشدد یو طاقت دی د عدم تشدد هم دغه شان فوج دی لکه څنګه چه د تشدد دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د عدم تشدد وسله تبلیغ دی او د تشدد وسله توپک دی ، عدم تشدد په خلکو محبت پیدا کوی ، همت پیدا کوی او جرئت پیدا کوی او تشدد په خلکو کښی نفرت پیدا کوی او وېره پیدا کوی او بزدلی پیدا کوی . بعضی خلک وایی چه د ډیفنس (دفاع) د پاره خو تشدد په کار دی ، دوی دی نه فکر نه کوی چه تشدد دې وکړو نو د عدم تشدد اداره دې پریښوه حالانکه عدم تشدد کښی خپله دفاع شته ، عدم تشدد کښی شکست شته او تشدد کښی شکست شته ، څنګه چه د تشدد یو نظام دی ، دغه شان د عدم تشدد هم مکمل نظام دی ، تشدد اسان دی او په دې اداره تلل هم اسان دی او عدم تشدد د پرګران دی او په دې اداره تلل هم د پرګران دی . یو سړی له د پرق جواب کښی پرق ورکول اسان کار دی ، خو پرق زغمل ګران کار دی .

دوری :

دهشنغر او دواوی نه پس زه او میا احمد شاه صاحب د صوابئ په دوره کلی په کلی وګرځیدو او په هر خلک په خدایی خدمتګارئ کښی داخل شو کلی په کلی موجرګی جوړولې . مونږ دغه ځای نه بیا پیښور ، خالصه او د داود زو کلی وکتل د مردان او بیا د بائیزو دوره مو وکړله او سوم او رستم له لاړو صاحبزاده خورشید د دینا او مولوی شاد محمد صاحب د تولاندی مالپسی راغلل بیا ماهغوی سره د سازو کړی نه تر نارنجی پوری دوره وکړه ، په دی دوره کښی د صاحبزاده صاحب سایکل مونږ سره د پرمد کړی و زمونږ د اتولې دوری به پیاده وې . صاحبزاده صاحب به په سایکل سور شو او زمونږ نه به یې مخکښی یو کلی ته ځان ورسولو ، مونږ چه به ورته لو وغه به د کلی خلک یو ځای ته راجمع کړی وو ، مونږ چه به ورته تقریر شروع کړو نو صاحبزاده

(c) ketabton.com: The Digital Library

صاحب به دخپل بایسکل سره دبل کلی د خبرولو د پاره روان شو او به دی طریقه مونږ
به په ورځ کښی نهه لس جلسی کولې ، په دی دوره کښی مونږ د پرکار وکړه او د پیړی جلسی مو
وکړې ، دهغی لویه وجه داوه چه روژه وه او خورل څکل یکښی نه وو ، هغه وخت چه به خورلو
څکلو ، ضایع کیدلو بچ شو . اختره مونږ تول خپلو خپلو کلوته لاړو او داختر په درېیمه
ورځ چه په چار سلهٔ کښی به یوه لویه میله لګیدله (چه دنسرو میله به یې اوته وې) مونږ
خپل خدایی خدمتګار د دول سرنا سره د یو جلوس په طریقه میلې له لاړو . په دغه وخت
کښی زمونږ د خدایی خدمتګار و وردئ ، د سپینی خامتاوه . هغه به زر خیر نه شوه
او چه دوره کښی به هغه خیر نه شوه نو نبه به نه بنکاریده . په میله کښی د لیری لیری علاقو
خلک راغلی وو هلته مونږ ډیره لویه جلسه وکړه په زرګونو خلک راجمع شول خلکو کښی د پ
مینه وه ، محبت و ، جذبه وه او په خلکو د پر اثر وشو ، ماخوهره جلسه کښی هغه یو تقریر کولو
بیا مونږ خالصی ته روان شو ولې چه هلته هم په اکبر پوره کښی یوه لویه میله دی هغلته
هم مونږ ته د پر خلک راجمع شول او خپل اغراض او مقاصد مو ورته بیان کړل او په خلکو
یې د پر اثر وشو په لاره کښی خدایی خدمتګار و د یو سړی نه دلاری تپوس وکړه
هغه چه ورسره د دول سرنا ولیدل ورته ویل یې ماته داساز وغږ ډئ نو بیا به د ډ
لاره وښیم هغوی ورته وویې چه دلته ورو سته یو سړی راروان دی هغه نه پوښتنه
وکړه که هغه راته وویې نو بیا به د ډ ساز وغږ ووچه زه ور ورسیدم نو هغه سړی
چه زه ولیدم نو وشرمیدو او لاده یې راته وښودله . د اکبر پوری نه تر اوته لاړو
او د تر اوته په ریل کښی نو بنار ته لاړو ، د نو بنار په صدر بازار کښی مو جلسه وکړه
او د خدایی خدمتګاری په مطلب مو خلک پوه کړل . شپی له پوره نو بنار ل

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاپو دشپی د پوډې انتظام معزالله خان کړی و. کل احمد او یونس خان یره په
دنوښار په ډاک کښې د جلسې انتظام کړی و. په سبا له په جلسه کښې خانان اوغ- کړ ز
یبانان په لوی تعداد کښې شریک شول. سربلند خان، سرفراز خان او امین خو خا
الله خان او حضرت بادشاه میا صاحب سره د خپلو زامنو فیروزشاه او سرورشاه
او عبدالدیان جلسه په ډیره کامیابی سره وکړه. په نوښار کښې ډیر جوش وخروش خکار
پیدا شو او حضرت شاه بادشاه په جلسه کښې اعلان وکړو چه ماخپل دوه زامن او صفا کو
فیروزشاه او سرورشاه د خدایی خدمتګاری د خدمت د پاره باچا خان ته صم کړا
وی په ډیو
ښکلی دی

په نوښار کښې چه ډیر خدایی خدمتګار او همبران جوړشو نو دلته مونږ ر نګ د
جرګه جوړه کړه او د خدایی خدمتګار و جرنیل سرورشاه مقرر شو. ماخورا ندی
د دی خبری ذکر کړی دی چه خدایی خدمتګارو وردئ د سپینې خامتا وه
خدایی خدمتګارو ماته شکایت وکړو چه دا سپینه وردئ په دوره کښې زد
خیر نه شی او د ینځلو هم څه انتظام نه وي نو سبه به داوی چه مونږ ورله څه رنګ
ورکړو نو ماورته ووی چه ورکړئ نو هغوی اتفاقاً سور رنګ ورکړو خدایی خدمتګارو
څان له سره ردی جوړ کړی. هر خدایی خدمتګار به څان له پخپله خپله وردی ر نګ
جوړوله. د ی رنګ د خلکو په زړونو ډیر زیات اثر وکړو څکه چه ښکلی وردی وي
او زلمی به پکښې ښکلی ښکاره ډیدل او تولو خدایی خدمتګارو یو شان رنګ ورکړو.
د غه د سرو جامو وجوه چه پیر نګیا نو بیا زمونږ برخلاف پراپیګنډه شروع کړه چه
د ا د بلشویکو تحریک دی مونږ خو هغه وخت دغه نه خبر هم نه وو چه د بلشویکو هم سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

وردی ده داخویوه اتفاقی خبره وه . مانز دغه وخته پوری نه ده مارکس . نه د
لینن اونه دګاندهی جی کوم کتاب لوستی وه اونه تری خبروم . موتبز . نو بنا ونه خښتکو
له راغلو اوجلسه موکړه اوپه خلک مونبز سره په خدایی خدمتګاری کښی شریک
شو او سیف الملوک اوتاج الملوک دسرخپو شومشران مقرر شول اویا تیستی له راغلو
دلته هم جلسه وشوه اوپه خلک په خدایی خدمتګاری کښی شامل شول دخدای شان
چه پښتنو کښی داسی یوه جد به پیدا شوې وه چه مونبز به کوم کلی تدور ته اوخلک
به زمونبز نه خبر شو نو په یوه منډه به مونبز له راټول اودتقریر نه پس چه به ما اپیل
وکه چه تاسو کښی څوک شته چه دخدای دپاره دملک اوقام خدمت وکړی نو یو به
پاڅید وچه زمانوم ولیکه دغه پسی بل اوبل به پاڅیدل چه زمانوم ولیکه اوخدایی
خدمتګاری کښی شریکیدل اودغه شان دپرکسان په خدایی خدمتګاری کښی
شامل شول .

زمونبز دجرګو دممبرانو اوخدایی خدمتګارو تعداد چه زیات شو نو مونبز
دوی ، تنظیم جوړکړو ، اوداتمانزو سرفرازخان دباوردئ خدایی خدمتګارو
سالاراعظم مقرر شو ، دهغوی دمنډائ د ډیوډئ دپاسه یوه بالاخانه وه هغه د
خدایی خدمتګارانو دفتر شو ، دامرکزی دفتر وو . دسرفرازخان نه پس دب نوازخان
سالار شو ، اودهغه نه پس بیا امین جان خان سالاراعظم شو . دغه شان دضلع
پیښور سالار اینزرګل ، دمردان سالار منیرخان ، دکوهاټ سالار اسلم خټک ، دبنو
سالار یعقوب خان ، دډیره سالار مولاداد اودهزاری سالار داؤد خان
او یو سالار کنور بهان نارنګ مقرر شول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دغه ډګو کښې قلي خان چې د مومندو پولټيکل وو زمونږ مومندو رونه
لي را اوغوښتل اوورته يې اووئيل چې په تاريخ کښې ليکلی دی چې د دی ملک خلک به
يوتان ته ځی او دا ملک به تورې پاتې کيږی. که تاسو د دوی ملګرتيا اونکړئ اودوی سره
په تحريک (خدای خدمتګاری) کښې شامل نشئ نو دا مزکی به سرکار تاسوله درکړی، زمونږ
مومند خدايی خدمتګار وو چې دوتيکی وو. ويتيکی د تخت بائ سره يوځای وو کې باندې
ده هغه راغی اومانه يې داقصه اوکړه. په دغه وخت کښې زمونږ سره د پرښه مومندان
په دی تحريک کښې شريک وو. هغه چې ماته داخبره وکړه نو ماورته اووئيل چې ته ددی
علاقی بارسوخه مومندان را وغواړه اوماته هم خبر وکړه چې زه هم درشم اودوی سره د
وروروليو اوعزيزدليو يوځای خبری وکړم او داخه چې ورته قلي خان ويلی دی ددی په
حقيقت يې پوه کړم. نو هغه خپل عزيزان مومندان را وغوښتل اوزه يې هم خبر کړم، زه
ورغلم، مادی خپلو وروڼو مومندانو ته اووئيل چې د پښتنو د رورولۍ وليش شويدی
او هر چا له خپله خپله حصه ورکړی شويده، اوس چې تاسو ته داقلي خان څه خبری کوی را
مونږ کښې صرف دنفاق اوجګړې پيدا کولو د پاره کوی اوزمونږ رورولۍ ګډاوده کوی،
زه تاسو ته داخبره کوم چې زمونږ لکه چې ماورته اووئيل د رورولۍ وليش شويدی، زمونږ
دا ملک اوځمکی نه پيرنګيان تاسو ته درکوی اونه يې درکولی شی، داکه درکوو نو مونږ به يې
درکوو، راځئ مونږ سره د ملک د آزادی د پاره ملا اوتړئ اوچې مونږ دا ملک ازاد
کړو نو تاسو سره د وعده کوم چې هری کورنی له به ټول ټل جريبه ځمکه ورکوم، زمونږ د
د پښتنو د پری مزکی دی، دهر چا پکښې برخه رسيدی شی، خو دا نه چې ته به وايی
چې زه دا يا دی سړی مزکه اخلم، ځمکه چې زمونږ خوتومی وليش شويدی. په دی زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کورکښی نفاق او جګړه پیدا کیږی. زه افسوس کوم چه دی وروڼو ماسره اتفاق ونکړ
(کله چه دقیوم حکومت راغی نو هغه بیا دا قصه راوسپرده او چه بهتو راغی نو هغه دا قصه
لاکرمه کړه او په دی صورت یی زمونږ د پره تباهی او بربادی اوکړه او مونږ ته یی د پ
سیاسی او اقتصادی نقصان راورسولو.)

د خدایی خدمتګاری اثر په وړو زړو، ښځو، نرو او ماشومانو داسی شوی وو
زه به ورته د پرحیرانیدم چه دا قوم څومره ښه قوم دی، او څنګه په یو مخ را پیدا شویدی
د ماشومانو داحال وو چه زه به یوکلی ته لاړم، نو دوی به ټول ماته راجمع شول او په ق
کښی به و د ریدل او زمانه به داخواهش کولو چه زه هر یو چپ (ښکل) کړم. زما هم
سره د پر محبت وو، زما به هم داخواهش وو چه هر یو چپ کړم. زه خو دونی د پر
ووم او دوی ماشومان وو نو چپ کیدو وخت کښی به زه هر یو ته راتیتیدم نو ما
د پر تکلیف وو او د پر به ستری کیدم، خو بیا به هم ماتول چپ کړل او هغوی به به
د پر خوشحال شول، دی ماشومانو په کلو او باندو کښی خپل تنظیم جوړ کړی وو. جد
او جلوسونه به یی کول. یوکلی او بل کلی ته به تلل، او زمونږ جلسو او جلوسونو کښی
شریکیدل. دغه شان جینکو هم سره جامی جوړی کړی وی. نظمونه یی یاد کړی و
هغه به یی نورو ښځو ته اورول، د پښتون (رساله (مجله) یی په شوق لوستله، چه پښتن
مجله به راغله نو جینکئ به راجمع شوی، یو جینی به لوستله او نورو به اوریدله، په د
دول د اخبار لوستلو شوق هم خدایی خدمتګارو پیدا کړو.

د حکومت پولیس به هر وخت مونږ پسی وُ او د ساعت ساعت خبر به یی حکو
ته ورکولو. حکومت ته چه معلومه شوه چه خدایی خدمتګاری په پښتنو کښی په د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ه ور او شور مړا خوږېږی او په خلکو کښې جوش او خروش زیاتېږی او داتحریک
پښتنو کښې د پرکامیاب او هر دلعزیزشو نو مېږی پرې لګیا شو چه دا په پښتنو څه
چل د شو او ژړه هم د خدای پاک دې قدرت ته حیران وم چه پښتنو کښې دا دومره
مینه محبت ، ورورولی ، عزیزداری او ژوندون زمونږ په لږ کراو څنګه را پیدا شو حکومت
دې فکر کښې شو چه په څه چل به دا تحریک ختم کړو ، زمونږ د پښتی کمشنر له چه زمونږ
ملاقی خوخانان به ملاقات له لاړل نو هغه به ورسره هم دا قصی کولې چه دا عبدالغفار خان
څه تماشه جوړه کړې ده ولی په قلار نه کښېنی او کلی په کلی کرځي اخر مطلب یې څه دی ؟
وی به راغلل او دا متوله قصه به یې ماته بیان کړه ما به ورته وی چه تاسو د پښتی کمشنر
ووایئ چه زما مطلب صرف د پښتنو کور جوړول دی چه دا پرې ، جنبی د ښمنی تر-
نی پرېږدي او د تخریب په ځای تعمیر ته یې فکر شی ، بله ورځې د سودم د باریکاب
ن خوشحال خان زصالید وله راغی او ماته یې ووې چه لاټ صاحب وایي چه داده څه
ه شروع کړې ده ما ورته ووې چه زما مطلب د حکومت مخالفت نه دی زه خو د پښتنو
ح کول غواړم چه د دوی دا بد رسمونه ، دواجونه ، پرې ، جنبی لیږی شی او که چرې
وان او سکهان لګیا دي نو بیا قوم کښې مینه او محبت او ورورولی پیدا کوی نو په
ښې څه ګناه ده چه پښتون هم خپله اصلاح وکړي دا ستاسو رعیت نه دی څه ؟ نو
حال خان راته ووې چه هغوی وایی چه یو ځل په پښتون کښې اتفاق راغی او د ده
ح وشوه نو د دی څه ضمانت دی چه هغه دې زمونږ برخلاف استعمال نه شی ؟
ورته ووې چه زلاټ صاحب ته ووایه چه د قومونو ضمانت په یو بل اعتماد او اعتبار
دوی دې په مونږ اعتبار وکړي . بیا حکومت ما پسی ځواب راولږلو او راته یې ووې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه داته څه کوې ؟ ماورته وویې چه زه خوهغه کوم چه دیوسنه حکومت کاردی : دا خو
ستاسو کاردی زه یې درله کوم او په تفصیل سره می تولې خبرې ورته بیان کړې لیکن
هغوی تسلی په دې خبرو چرته کیدله خو دې خبرونه زه په دې نتیجه ورسیدلم
چه دحکومت نیت دې تحریک ته سنه نه دی .

مرغزکښې جلسه او یوه قامی پریکړه :

مونږ خوچه به یوځل دوره شروع کړه نو په ټولو ضلعو کښې به موږ یوشان دوره
اوچه د صوبې دیوسر نه به مو دوره شروع کړه نو دبل سره پوره به موکوله لیکن چه په کو
علاقو کښې به سنه دکار خلک پیدا شو نو هغه علاقه کښې به تحریک ترقی وکړه نو زمونږ ته
په یوسفزو کښې دیره ترقی کړې وه او په یوسفزو کښې خصوصاً په صوابۍ تحصیل کښې
یوکلی نه وُچه په هغه کښې به زمونږ جرګه نه وه یا به خدایی خدمتګار نه وو . په یوسف
زمونږ سالار مښیر خان دمانیږی او جرنیل د مرغز خلیل الرحمان او بیاد مرغز کلی
خدمتګار د پردکار خلک وو او دوی به لګیاوو نخپله علاقه کښې به یې کارکولو زمونږ به
خدمتګارو کښې دایولوی صفت وچه څوک به خدایی خدمتګار شو او یا به جرګه کښې
نو هغوی به دشپې او دورځې نخپله علاقه کښې کارکولو کورته نه کښیناستل ، په ما
کښې دوی په ماپسې راغلل چه مونږ خپله علاقه کښې د پردکار کړې دی او د پردخلک
سره ملګرې شوې دي ، نو مونږ غوار وچه داخلک ټول راجمع کړو او په مرغز کښې جر
وکړو او دا د خدایی خدمتګارۍ اوله جلسه وه اومیا احمد شاه صاحب اوزمونږ د
عبدالغفور چه په خوش اوازۍ به یې نظم وې او د ماسټر عبدالکریم صاحب مټ
ؤ ، دوی سره د باور دې یوځای خدایی خدمتګار لاړو او د مرغز په جلسه کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو . دتولی علاقی خلک راجمع شوي وو میا صاحب پکښی تقریر وکړو اونورو خلکو هم تقریرونه اوښکلی ښکلی نظمونه وویل ، ماچه وکتل نوحیران شوم چه زمونږ د پښتنو په شاعرانو کښی دقومی جذبی داتحریک څنګه راپیدا شو ؟ خلکه چه د دوی په نظمونو به قوم کښی د هرجوش او طاقت پیدا کیدلو او دا دومره لویه تبدیلی پکښی څنګه راغله ؟ محمد عمر خان دمانیږی پکښی د موجوده او د پخوانی زمانی حاکمانو بادشاهانو فرق خلکوته په ډیره ښه طریقه بیان کړو چه پخوانی حاکمان او بادشاهان چه به په دوره راغلل نو هغوی به خلکوله دودی ګانی ، انعامونه ، اکرامونه ورکول او د موجوده زمانی حاکمان چه په دورو راشی نوهغه انعام اکرام خو پریږده هرڅه د مظلوم رعیت نه خوری . نو دا تقریر خلکو د پرخوښ کړو زه د دغه جلسی صدر دوم اخری تقریر زما وزه پاڅېدم او تقریر موشروع کړو ماخلکوته ووې چه زه تقریر نه کوم تاسوته یو تجویز پیش کوم تقریرونه خو هر وخت خو داخبره زما یاده ولرئ چه په دنیا کښی کوم قومونه چه خبری لږی کوی او عمل د پرنوهغه قامونه همیشه خپل منزل ته رسیدلی دي ، زه تقریر نه کوم زما په تجویز غور وکړئ . په دی پښتنو باندې د دی رسم ورواج د پر بوجونه دي اوزمونږ د تحریک یو داغرض هم دی چه په دوی باندې دا بوجونه کم شی خوزه یر یږم چه هسی نه داجسی په پښتنو باندی یو بل بوج شی نوزه دا تجویز ستاسو په خدمت کښی پیش کوم چه په کوم کلی کښی زمونږ جلسه وی په هغه کښی به خلک نه چای څکی او نه دودی خوری اونه به څوک پاتی کیږی اونه به څوک شپه کوی . خلک به خپلو کلوته ځی اوکه څوک خپلو کلوته رسیدی نه شی نو په یو کلی به هم د پرکسان نه ودځی اوکه هغه کلی کښی چه د دوی شپه شی نو په یو خدایی خدمتګار به هم نه دیره کیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوچه په هغه کلی کښی څومره خدایی خدمتکاروی هغوی به وړله خپله دوده ی
راوړی دوی به یې په شریکه خوري اوڅوک به زیاتی تکلیف نه کوي ، اوکه دچا یو وخت
وي نوچه د دوو پیالو نه زیاته چای ونه څکی دا تجویز په اتفاق سره پاس شو اوجلسه
ختمه شوه . د مرغزمشران ماله راغله، هغوی ماته د دودی ذکر وکړو ماورته ووی
چه دا تکلیف دی ، دمرغز دپر سنبه خلک دي که خانان دي که غریبانان دي که کسبگر
دی هغوی کښی دپر اتفاق اوجذبه ده . هغوی راته ووې چه مونږ ته خوهیڅ تکلیف
نشته . زمونږ دټول کلی خلکو دجلسی دخلکو د پاره چاغوړی ، چاچرګ اوچا اوړه
راوړي دي ، ماورته ووې چه ستاسو خو اتفاق دی او تکلیف درته نشته خو یو کلی دی
چه هلته ستاسو په شان اتفاق نشته که مونږ هلته جلسه وکړو بیا به هغوی ته څومره
تکلیف وي ؟ اوتاسو که اوس دا دودی وکړه دا به رسم شی . پښتانه خو داسی قوم
دی که یو کلی څه وکړي نو بل کلی دهغوی دسیالی نه ضرور کوي ، دوی زما هغه خبره
ومنله . ماز یکری چه جلسه ختمه شوه په مرغز کښی زمونږ ماما کان وو . زمونږ نیا دی
کلی وه . هغوی راته ووې چه مونږ خو تاله دودی پخه کړې ده اومونږ سره به شپه کوې
ماورته ووې چه تاسو په جلسه کښی نه وی څه ؟ په جلسه کښی خو داتجویز پاس شو چه د جلسی په کلی کښی به میلمانه
نه شپه کوی اونه به دودی خوری اوداخو دپر بلکار دی چه سړی وایی یو څه اوکوی بل څه . هغوی مې دپر
خوارو رضاکړل اوزه بام خیلوته لاړم اودغلته می باچا صاحب سره شپه وکړه چه هغه زمانه وعدې خیستې
چه دې علاقی له راشی نوشپه به ماسره کوې .

اتمانزو کښی لویه جلسه اومشاعره :

مونږ خوچه تراوسه پوری کومی جلسی کولی نو د ضلع اوتحصیل په سطح وې نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اراده وکړه چه اوس به مونږ د تولې صوبې په سطح باندې یوه لویه جلسه وکړو خکه ما چه کتل د خدایي خدمتګارو دې تحریک په پښتنو کښې یوه نوې جذبه پیدا کړې وه . نو د دې د پاره ما دا مناسب وګڼل چه اول باید د جلسې انتظام وکړو . د سرحد تولو پښتنو له مودې شرکت دعوت ورکړو او دا جلسه موږ په شلم اویو ویشتم اپریل ۱۹۳۰ع په اتمانزو کښې مقرر کړه او دې ته مشاعرې بندوبست موهم وکړو او د دې مشاعرې طرح داوه :

« جنګ د آزادۍ له هیڅه ځلمي وتلی دي . »

چه د جلسې اعلان وشو نو زمونږ د جلسې د اعلان سره حکومت ډېر په فکر او تشویش کښې پریوتو او د اتمانزو په خانانو پسې حکمونه جاري شو ، حکومت غوښتل چه دا جلسه به څه چل بند شي چه مونږ په دې بدنام نه شو او د کلي خانان او خلک د دې څه مخالفت وکړي . او مونږ له بهانه په لاس راشي . لیکن حکومت په دې مکر او فریب کښې کامیاب نه شو خکه چه زمونږ د کلي خانان خو په خدایي خدمتګارۍ کښې شریک شوي وو د صوبې برخې محمد اکبر خان زمونږ په خدایي خدمتګارۍ کښې شریک نه و نو ورته کوردنۍ یې تول خدایي خدمتګار وو . حکومت په بعضې سینډونو پلونه هم خلکو ته وران کړل خو په دې کښې کامیاب نه شو او په زړ کونو نږ او بنځې په جلسه کښې شریک شوې جلسه ډېره کامیابه وشوه او بیا خاص د خدایي خدمتګارو پر پلاجلوس او سلامي په خلکو ډېر اثر وکړو . د پیرنګې خو د مخکښې نه اراده نه وه چه مونږ دې کار ته پریږدي خو د خدای فضل وچه د دې دې نیمې میاشتې مونږ کار وکړو . مونږ چه د کانګرس د جنرل راغلو نو په جنوري ۱۹۳۰ع کښې موکار شروع کړو او په اپریل کښې پیرنګیانو ګرفتار کړم . دوه مره وشوه چه زمونږ اواز د پښتنو غوږ ونه ورسیدو په ۲۲ اپریل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایله د جلسی میلمانه رخصت شول د برتهکال ارباب جمعه خان چه څه رخت رخصتیدو
نو، چونکه دی زما په مهربان و ماورته ووې چه ستا خو په زمن دي د خدای فضل
دی نو دا یو ارباب عبدالغفور یکښی ما له د خدایی خدمتګاری دپاره راکړه نوده وې
چه ما په نامه د خدای د بښلی دی اودې جلسی له د پښور نه علی کل خان. لعل باچا
او دکانګرس نور د پرکارکنان راغلی وو چه دوی د جلسی نه رخصتیدل نو ما ته یې ویل
چه مونږ سبا له سول نا فرمانی کوو او په پښو کښی به مالګه جوړوو ته هم د غلته زمونږ
تماشی له راشه کوره مونږ خو خدایی خدمتګاری یو تا سو سره په دی جلسه کښی
شریک شوي یو که ته کانګرس کښی نه یې نو تماشی له خو راشه!

فیصله د هغو د سردار اود عوامو په کورکښی د جګړې سند یا فته وو په مالګه
ټیکس او لګوو د شو د هغو د ولسانو عوامو د انګلیس ظالمانه کردار کښل
د عوامو د انظر یه وه چه هر څوک به د خپلو خپلو بلنو جمعه به د ابر یشم
د ۱ ۲ ۳ ۴
ی - هوا وو اوبه آشپاڼه ډیلس لګول هلته خوا ر
سمندر په کناره به عوامو د اوبو نه مالګه جوړول په دغه حکومت کښه مقرر کړه
د ټیکس د ادا کولو نه پخوا به مالګه څوک نشی خرڅولی کوو ته مالګه
نه خرڅ ټیکس د ادا کولو نه پخوا به څوک نشی خرڅولی کوو ته مالګه
یو سیاسی او اقتصادی جنګ وو - او عوامو د انګلیس فتح کړه وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

گجرات جیل او کانګرس سره تړون

زما کرفاری ۱۹۳۰ع گجرات جیل. دقصه خانې واقعه، د پیرنګی جبر
اونشاد د اوپښتانه (اتمانزو، پراګ، کوجرګړهی، تکر، شیر-
کړه، لوندخوړ، مینۍ، رستم، کوهاټ، بنوں، آزاد-
قبایل، حبیب نور، د اپریدو حمله
د اپیپی فقیر صاحب)
کانګرس او مونږ، د پټیل کمیټی رپورټ
د گجرات جیل ملګرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

گرفتاری سنۀ ۱۹۳۰ع:

زه په ۲۳ - اپریل د دوی د دعوت په سلسله کښی په لاری کښی پیښور ته روان شوم اوچه دناقې تانې ته ورسیدم نو پولیس والا ولاړو ولاړی یې و درولم اوما ته یې ووې چه مونږ ته ستاد گرفتاری حکم دی، ما ورته ووې چه زما هیڅ عذر نشته خو ماته زما د گرفتاری وارنټ وښیئ. دوی سره وارنټ نه و خو لاړی والا ته یې ووې چه لاړی مه روانوه و د ریږه! لاړی والا غریب لاړی و د رولی وه چه په دې کښی د چارسدی نه پولیس والا په لاړی کښی راغلل اوما ته یې د گرفتاری وارنټ وښود لو اوزه یې گرفتار کړم اوواپس یې چارسدې له راوستم او د چارسدی د حوالات قبلې ته د زنانه دو په حوالات کښی ځانله بند کړم، زمونږ د دې جلسې خرڅ ماکړې و اوانتظام ټول زمونږ حاجی صاحب شهنواز خان کړې او د پرې نه انتظام یې کړې و. جلسه کښی به یې د خاموش اواز کولو صرف په دې اواز سره دا غریب هم مونږ سره گرفتار شو. چه زه یې د زنانه دو حوالات ته دننه کړم نو میا احمد شاه پکښی ناست وو یا یې حاجی شهنواز خان اوسرفراز خان او عبدالاکبر خان هم راوستل او حوالات ته یې را دننه کړل. زمونږ د گرفتاری خبر په لږ ساعت کښی په ټوله علاقه کښی خور شو او په زرګونو خلک هلته راجمع شول او راجمع کیدل چه د خدای فضل و، داکټر خان صاحب چه زما مشر و رورو را ورسید، د ټول خلک خو خدایی خدمتګار نه وو، د دی خلکو اراده وه چه قلی خان چه د غر وخت د چارسدی استنټ کمشنر و ووژنی، خو چه داکټر صاحب د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبر شو نو خلکو ته یې وې چه ای ورونو زمونږ دا تحریک خو د علم تشدد
تحریک دی مونږ خو خدای سره وعده کړې ده چه تشدد به نه کوو او د هر کوشش
یې وکړو چه دا کار دونه شی او خلکو له یې تر غیب ورکړو چه خلک خپلو خپلو کلوته لاړ
شی خو خلک نه ست وو او که چیرې د اکثر صاحب نه وای نو لویه خونریزی به شوی
وه چه حکومت پوه شو چه دا خلک نه خوږیږی، نو دلته هم کافی پولیس وو خو د مردان
نه یې د فوج رساله راوغوښته او زمونږ د حوالات خولې له یې راوستل او لاړې
یې مونږ ته د حوالات په خوله کښې و درولې، د هر پولیس او د رساله تری چا پیره وو
مونږ یې دی لاری کښې کښېنولو او دلاری نه څه رساله وراندی او څه ورو ستو مردان
ته روان شو، به زړ کونو خلک مونږ ته ولاړ وو او مونږ به په اشارت پوهول چه تشدد
به نه کوئ. چه څه وخت سره د پروته ورسېدو د شیخو د ټپې زړ کونه خدایی خدمتګار
د فتح محمد جرنیل په حکم په سړک ولاړ وو سړک یې بند کړی و ما دلاری نه دوی
ته ووې چه تشدد مه کوئ او چه په مونږ خفه یئ نو وکړئ او خدایی خدمتګاری له
ترقی ورکړئ هغوی لاړه پریښوده او مونږ مردان ته ورسېدو شپه مو د مردان
په جیل خانه کښې وکړه وختی سحر یې د مردان نه روان کړو. د مردان خلک چه زمونږ
د نیو و نه خبر شوی وو نو چه مونږ د جیل خانی نه راووتو بهر په سړکونو د هر خلک
ولاړ وو بیا یې مونږ د رسالپور چاونی ته بوتلو او حوالات کښې بند کړو. د نو بنار
هندوان او مسلمانان چه څوک خبر پاڼ هغه ټول زمونږ د لیدو د پاره رسالپور ته
راغلل او سرکار پخپله زمونږ د گرفتاری پرایښنده په لویه پیمانه وکړه. لږ ساعت پس
علی خان زمونږ د چارسدی اسسټنټ کمشنر سره د خپلی عملې دلته راورسېد

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ مقدمه ورته پیش شوه. مقدمه دځنه وه خو مقدمه هم د سرکار وه او فیصله هم سرکار کوله ماته معلومه وه چه مونږ قید وي ماته خو یې ضمانت ونه وې خو زما ملګرو ته یې په ووې چه باچا خان پریږده ئې اوتاسو ضمانتونه ورکړئ او چې کورته ځئ مغوی ورته ویل چه اخر ضمانت دځنه ورکړو مونږ ځه جرم کړی دی. مونږ تر لوډ ضمانت نه انکار وکړو، نو تول یې په دفعه چالیس (څلویښتمه ماده) کښې دریې دری کاله سخت قید کړو. مازیکرې مونږ د دې ځای نه روان کړو چونکه خلک زمونږ نه خبر شوی وو. د نو بنار په ټیسن د پر خلک جمع شوي وو. نو حکومت مونږ د ریل د سور لی د پاره د نو بنار نه د جانګیری ټیسن له بوتلو ریل زمونږ په انتظار کښې ولاړ وو، مونږ یې پکښې کښېنولو او ریل روان شو.

ګجرات جیل:

سنځروختی ګجرات ته ورسېدو مونږ یې د ریل نه کوز کړو او ګجرات جیلخانې له یې بوتلو او ورننه یې کړو، سنځروختی وه چه د جیلخانې دفتر ته ورسېدو دارو غه صاحب لا وینښ شوی نه و په دې وجه مونږ د پر ساعت دفتر کښې دهغه په انتظار کښې ناست وو چه هغه راغی نو زمونږ چارج یې د پولیس نه واخیستو، زمونږ تو مونه یې په کتاب کښې ولیکل. مونږ چه څه وخت جیلخانې ته ورننوتو نو بنه رڼا وه تور (لمر) ختلی و. زمونږ نه مخکښې یو څو سیاسی قیدیان ورونه راغلي وو، مونږ نه چه خبر شو نو د جیلخانې دروازې سره زمونږ په انتظار کښې ولاړ وو، مونږ ته راتر غاړه شو بارک له یې بوتلو او زمونږ د پاره یې د چا یو انتظام وکړو، د اجیلخانه د سرحد پنجاب او د هلی د هغو سیاسی قیدیانو د پاره وه چه څوک به اې او بی کلاس کښې وو. هره ورځ به پس

(c) ketabton.com: The Digital Library

انته سیاسی قیدیان راتلل تولہ ورځ زمونږ په دی مشغولا تیره شوه ، بله ورځ علی-
کلخان ، لعل باچا ، لاله پیراخان سره د شپږو ، اتو رضا کارانو هم د پیښورنه دلته
دی چیل ته را بدل شول . زمونږ تعداد ورځ په ورځ زیاتیدو څه وخت چه زمونږ تعداد
زیات شو نو زمونږ سیاسی ورونو دا تجویز پیش کړه چه اوس زمونږ د پاره یو کمیتی
جوړول په کار دی چه زمونږ د حقوقو حفاظت کوي او د تولو په اتفاق یوه کمیتی جوړه
شوه ، ورپسی د صدارت سوال راغی چه صدر به څوک وي تولو په اتفاق ووې چه ته
زمونږ صدارت قبول کړه ، خو دا څیزونه زما د ابتدا نه خوښ نه دي او ما به د عهدو نه
اکثر پرهیز کړلو نو په دی موقع هم ما د خپل طرف نه معذوری ظاهره کړه او بل څوک یې
مقرر کړه . سکرټری هم منتخب شو هره یوه خبره به زمونږ له طرفه ده وړاندی کوله زمونږ
کار په دی اندی سنه شو یوه ورځ زمونږ جیلخانی ته د پنجاب د جیلخانو جرنیل
او زمونږ سپرنټنډنټ راغلل ، د تولونه په سر کښی زما چکی وه نو د تولونه اول یې
زمانه شروع وکړه زه د ننه په کډی ناست وم دوی راغلل زما د چکی ورکښی ودریدل
دوی د ننه راغلل او زه ودله جنګلی ته ورنه رغلم دا طریقه وه چه اخلاقی قیدیان به جنګلی
له ورتلل زه خو سیاسی قیدی وم زما چکی په سر کښی وه او د مولانا ظفر علی خان
اخر کښی وه په دهغه چکی ته ورسیدل نو هغه ورته ووې چه زه د سیاسی قیدیانو متعلق
تاسره خبری کول غواړم لیکن هغه په ترشی سره د اجواب ورکړه چه د پنجاب په جیلخانو
کښی شل زره قیدیان دي ، زه دهغوی په غم کښی یم ما سره دیو څوک سانو سیاسی
قیدیانو د پاره وخت نشته چه تاسره پری خبری وکړم . دا خبره چه سیاسی قیدیانو
ته ورسیده زه چه څه وخت د دهغوی لید ولہ ورغی نو څوک ناست وو ، څوک اوده

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو چاودته پښې وغږولې چه ده دا حالت ولیدو نو معاینه یې پرپښوده او دفتر ته لاړو او په ډېر قهر او غصه د دفتر نه رخصت شو.

د قصه خانې واقعه:

دلته مانه د پښور ملګرو وویل چه په ۲۳-اپریل ۱۹۳۰ چه ته یې نیولی تو په دغه شپه د پښور بنار کښې مونږ تول هم گرفتار کړو. الله بخش برقی صاحب چه دکانګرس کمیټی سکرټری و په دغه شپه دی په دفتر کښې و پولیس ده پسې کورته تللی و، دی کور نه ونو د شپې د گرفتاری نه پاتې شو سحر پولیس دی هم دفتر کښې ونیولو چه دی څه وخت گرفتار شواو خلک خبر شو، نو د ډېر خلک راغونډ شول، دی یې د پولیسو موټر کښې کښېنول غوښتل خو خلکو نه پرېښودو، نو پولیس پیاده کابلی تانګې ته روان کړه او د هغلکو جلوس ورپسې شو چه تانګې ته رسېدل نو د ډېر مخلوق راجمع شوی وو چه دی یې تانګې ته ډنډه کړه، نو دروازه یې بند کړه او خلکو ته یې وویل چه خواره شئ خو خلک نه خوریدل کشمکش زیات شو نو فوج یې راوغوښتو، دا فوج هندوستانی و او گورکهالیان وو هغوی ته یې حکم ورکړو چه په دی خلکو گولی وچلوئ خو هغوی انکار وکړه خکه چه هغوی وویل چه دا خو د تش لاس خلک دي نه جنګ کوی نه فساد نو مونږ پرې گولۍ ولې وچلوو؟ هغه یې لیږی کړل او گورکه فوج یې راوغوښتو هغوی د دا تلو سره په خلکو گولی وچلولی او د ډېر خلک مړه او زخمیان شول.

گجرات جیل کښې:

بله ورځ مونږ تول د سرحد سیاسی قیدیان یوځای ناست وو چه خبر راغی چه د بنو نه د سیاسی قیدیانو چالان راروان دی، مونږ وې چه څوک به وی خو خبر شو چه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فتر ته راورسید ل، مونږ په منډو ورغلو یو سردار رام سنګه و او بل حکیم عبدالرحیم۔ صاحب او دریم سیوک رام و او څه وخت یې چه هغوی جیلخانې ته راد ننه کړل نو مونږ ورتر غاړه وتو، د ملک قتول حال یې راته ووې او ویل چه باوجود دې چه سخت ظلم او جبر کار په سنه شان سره روان دی۔ د دې په اوریدو زه ډیر خوشحاله شوم څکه چه ماسره د چیل ځان هیڅ فکر نه و ماسره به د پښتنو د تحریک فکر وچه د حکومت د باو کړې نه وي۔ مونږ له به هم د ملک نه خطونه راتلل چه تحریک سنه په زور کښې دی اود خدایی خدمتګار و تعداد دسو و نونه زرګونو ته ورسیدلو او څومره چه حکومت د دی تحریک د د باو کولو کوشښونه کوی هغومره د تحریک خوریږي۔

د لاهور د محمود علی قصوری صاحب پلار مولانا عبدالقادر صاحب هم د ګجرات جیل ته راغی، د ده ځای نه وو، نو ماخیل ملګری سرفراز خان خپلی چکی ته راوستو او د هغه چکی می مولانا قصوری صاحب ته ورکړه۔ د غه شان د جمعیة العلماء هند مولانا کفایت الله صاحب او ناظم مولانا احمد سعید صاحب هم دی جیلخانه کښې وو، دوی به زه کله کله میلمه کولم۔ ناظم صاحب ډیره خوند ناکه پیتی او حلوا پخوله۔

مونږ په دې جیلخانه کښې دوه قسمه قیدیان وو یو اې کلاس او بل بی کلاس ز مونږ د خوراک وغیره تول حقوق یو شان وو خو یو دا فرق وچه د اې کلاس قیدیانو ته بصر څملاستو اجازت و او ورته به یې ورته نه بند ولو او بی کلاس به د نه څملاستل او ورته به یې ورپسې بند ولو اوبل فرق داوچه اې کلاس به د ځان دپاره د بهر نه د خوراک، څښاک څیز راغوښتی شو او بی کلاس نه شو راغوښتی، دلته صرف زه او اغا لعل باچا، میا احمد شاه او عبدالاکبر خان په اې کلاس کښې وو، باقی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورتول بی کلاس کښی وو ، خوورځی پس یی اغا لعل باچا او عبدالاکبرخان د
اې کلاس نه بی کلاس ته کړل ، مونږ به بهر څملاستو او زمونږ دانور ملکری
دننه څملاستل د پره کړی وه ، علی کلخان ناجوړه و او دکړی نه به پری چپی راتلی
ماته دا خبره د پره بده ښکاریده چه مونږ دی بهر یو او حاجی شهنواز خان ، سرفراز
خان ، عبدالاکبرخان ، رام سنګه ، حکیم عبدالرحیم او علی کلخان دی دننه څملی مونږ
داخبره خپلی کمیټی ته پیش کړه سپرنټنډنټ سره یی هم پری خبری وکړی چه حکومت ته
ته موهم د پره درخواستونه لیږلی وو لیکن چا پری غوږ نه ایښوده ، جرنیل د جیلخانو
هم راغلی و او هغه زمونږ نه خفه تلی و هغه هم زمونږ د پاره څه نه کول او حکومت هم
دځه کولو د پاره تیار نه و اخر چه مونږ مایوسه شو او په دی خبره پوه شو چه په منت
او درخواستونو څه کیدی نه شی نو مونږ اراده وکړه چه قدم اخیستل په کار دی . زمونږ
سپرنټنډنټ راجا صاحب و او په ډښتیا راجاؤ او د پر شریف سړی ؤ مونږ ته یی وویل
چه تاسو بیا داخپل شکایتونه لیکئ او ماله یی راکړئ چه زه یی جرنیل صاحب له ولیږم
دهغه خبری سره اتفاق وکړو تولی خبری موبیا ولیکلی او هغه له موورکړی هغه هم
پری د پر ښه ریوټ ولیکه لیکن د پری ورځی تیری شوی څه ځواب رانغی چه په انتظار ستری شونو
مونږ فیصله وکړه چه اوس قدم اخیستل په کار دی لیکن زمونږ د پنجاب وروڼه څوک چه په اې کلاس کښی
هغوی به ددی مخالفت کولو او ویل به یی چه جیلخانه کښی ایجی تیشن په کار نه دی ، هغوی داخبره خو درسته وه ولی چه
ته دایجی تیشن ضرورت نه و هغوی خو په ارام وو تکلیف که و بی کلاس ته ؤ لړی چه به د
وړو زیاتیده نو د علی کلخان طبیعت به هم وړو وړو خرابیده او خولی به پری هم راتلی آخر
فیصله موورکړه چه مونږ پری قدم اخلو او که څوک په خوشحالی سره زمونږ په دی ایجی تیشن کښ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شریکیږی نوهم ښه ده اوکه نه کیږی نوهم یې کوړیې اباد . مونږ له دغپلو بې کلاس
ورونو د پاره ایجی تیشن شروع کول په کار دی . مونږ ایجی تیشن شروع کړه اوفیصله
مو وکړه چه بیکاله به نه بندیږو اوکه جپلوالا مونږ په زور بندوی نو یو بل له به لاسونه
ورکوو . هرکله چه ماښام شو او دوډی مو وخوړه او دبند یدو وخت شو نو مونږ تول
کینتری ته راغونډ شو اوپه چمن کښی غونډ کښیناستو اولاسونه مو یو بل له ورکړل او
جپلوالوته مووویې چه مونږ په رضا نه بندیږو وکه په زوره موبندوی نوستاسو
اختیار دی . اکثره اې کلاس والا مونږ ه سره په دی ایجی تیشن کښی شریک
نه شول نوردغو پریږده چه زمونږ دخدایی خدمتګارو صدر صاحب اوسکریټری
صاحب عبدالاکبرخان اومیا احمد شاه هم رانه لیږی لیږی ګرځیدل اوماته یې وویې
چه تاخو به مونږ ته وې چه جپلخانه کښی ایجی تیشن ونه کړی اواوس دې پخپله
شروع وکړه ماورته وې چه زه ددی برداشت نه شم کولی چه زه دی په ارام یم
اوزما د کار زور ملګری دې په تکلیف کښی وی په دی وجه مجبوره یم چه ایجی تیشن
وکړم . جپلوالا فوراً سپیرټلنټ صاحب له اطلاع ورکړه هغه راغی اوپه دفتر کښی
کښیناستوخبری شروع شوې هغه ووی چه دی کښی زماخه قصور دی . زه خو
ستاسو د پاره هرڅه ته تیاریم نو تاسو زما برخلاف ولی دا ایجی تیشن کوی ماورته
ووی چه مونږ د اقلیم ستابرخلاف اخیستی نه دی . دحکومت برخلاف مو
اخیستی اوته په دی خفه کیږه مه اخرفیصله به دې وشوه چه تاسونن بندشئ او
سبا له به زه تاته په ذریعه خبرراوغواړم مونږ ورته ووی چه ته زمونږ نه مه خفه
کیږه ، مونږ دا فیصله کړې ده چه پخپله خوښه نه بندیږو ولیکن دا ده چه بندیدل وکښی

(c) ketabton.com: The Digital Library

به څه جګړه او کشمکش نه کوو د جهانخانی سپاهیان دی مونږ وچتوی او بارک ته دی مونږ رسوي هغه هم په دی راضی شوچه سپاهیانو د بی کلاس قیدیان په دنګه دولی بارک کښی قید کړی سبا له وختی خبر راغی چه په زنانه احاطه کښی دری بند کړی او د بهر ورور لپسی پوری کوی او دننه د دوی خوښه ده چه که بهر څملی او که دننه . لنډه داچه د بی کلاس دپاره هم مونږ هغه ټول حقوق حاصل کړل کوم چه د اې کلاس دپاره مقرر وو .

د پیښنکی جبراو د پښتنو عزم :

د اخو د جیلخانی واقعات وو اوس د بهر د حال نه موخبر وم چه مونږ یې ونیولو نو فوجونه اوردسالې اتمانزوله راغلې اول د خدایی خدمتګار و به دفتر د غلل کوده کانو په دفتر اور وګولو او په دفتر کښی چه څومره خدایی خدمتګار و هغه ټول یې بنکته یو یو په پوخ سړک راوغورځول . زمازوی ولی چه هغه وخت د دیارلسو خوارلسو کالو هلک و د خدایی خدمتګارو دفتر کښی و په ده باندی یو کوده د سنګین ګذاعو کړو خو یو دلیی افسر ورته لاس ونیو هغه ګذاري په لاس واخیست اودی یې بچ کړو بیا یې دمټ نه ونیو ، په پوره یې بنکته د بالاخانی نه راوغورځولو نو جونه دکلی نه چا پیر شول ، ټول خدایی خدمتګاري ګرفتار کړل اوردسالی به په لاروا و کوخو کښی ګرځیدې ، په هر کور به ور ننوتل تو پکی او که بل څیز به یې خوښ شو هغه به یې یو ړل چه ټول خدایی خدمتګار ګرفتار شول ، نو د پټی کمشنر ملاسی سره د خلکو په مینځ کښی و د ریدلو او په اوچت اواز یې وی چه د سړو جاموځوک شته ؟ په دی هجوم کښی زمونږ د کلی خان محمد عباس خان هم ولاړو خپلو ټوکر انو ته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اواز وکړي چه راځي دده حجره دغلته نزدې وه په منډه لاړل، په دیک کښې يې سوه
رنګ واچوو چلي او دنوکرانو جامې يې سړي کړې اووايي غوستي او اوبه تري بهيدې
چه راغلي او دده پښتي کمښنر په مخکښې ودرېدو چه دادي دسره جامو خلک دپښتي کمښنر
خو دوي ګرفتارکړل خو داداسې اواز وچه پښتنو کښې يې ننګ اوغيرت پيدا کړو اوپيرنګيانو
چه څومره کوشش وکړو نوسړي جامې يې ودرکې نه کړې شوې محمد عباس خان په خدايي
خدمتګارو کښې نه واود انجمن نه يې هم استعفا ورکړې وه مونږ نه خفه هم وخو دپښتونګ
اوناموس يې ګيلو. انګريزانو زمونږ دکلي محاصره وکړه. دکلي خلک يې بهرته نه پرېښودل
او دبهر خلک يې کلي ته نه پرېښودل، بنيادم خو به دفوجيانو په وينا بند شو. ولي څارونه
خو داتکليف پښې شو چه هغوی ميرو اوشو ګذروته وتل، کورونو کښې دننه ډګيا ه څه انتظام
نه وو، کله چه بر څارونه دکورونو نه را اووتل، پټوته به تلل، نوګوډه ګانو به په اسونو
زغلول چه کله به هغه څارونه په سينه خيته ودواچوله نو بيا به يې په ټوپکونو ويشتل
او په دې طريقه د دېرو زمينداروغريبانانو د پر څارونو مړه شول. د بنګاربابا
غونډې سره يولوی ميدان و داخلک يې هلته راجمع کړل وهل به يې، تکول به يې
اوورته به يې وې چه کوتی وتکوئ چه مونږ خدايي خدمتګارنه يو هغوی به ورته
وې چه مونږ خدايي خدمتګارنه يو او حقيقت هم دغه ودوی خدايي خدمتګارنه
وو خدايي خدمتګارخو ټول ګرفتارشوي ووخوکوته تکول پښتنو ته شرم بنګاربابا
اوکوتی يې نه تکولې. دوی باندې به يې د بنګاربابا د پرې ته کانې خيجول او
يولوی څلی پرې جوړولو. کله چه يولوی څلی جوړشو اوپيرتکی خلکوته ووې چه
ستاسو هغه باچاخان موږ په دې کښې بنځ کړو په دې خلکو کښې يوسړی کوته

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ټکولہ هغہ پیرنکی ورته وې چه تاته اجازه ده کورته ځه! هرکله چه کورته لاړ
نو بنځې یې جامی وینځلی ده نه یې تپوس وکړه چه ته څنګه راغلې؟ هغه وې زه یې
را پریښودم هغې ورته وې چه نور نه را پریږدي نو ته یې څنګه پریښودې تا به کوته
ټکولی وی. دا کوته دې رادی خواکړه ده ده په کوته رنګ لګیدلی ؤ دې سره
سو باړی په لاس کښې ونوده ته یې ووې چه واخله بې غیرته په دې سو باړی
جامې وینځه زه میدان له ورځم سهی د پرکچه شو او پښیمانه نه شو او د دې بنځې
په پښو پریوتو چه ته مه ځه بیا ورځم چه دی راغی نو پیرنکی ورته وې چه ته خو
می پریښودی وې ته بیا ولې راغلې ده وی چه بنځه می کورنه پریږدي نو زه
اوس جبل ته هم تیاریم او مړک ته هم تیاریم او نور و خلکو سره کښینا ستو. دا مه
پنځلس ورځی وچلیده، پیرنکیانو د پرځه وکړل خو عامو خلکو هم ورته کوتی ونه
ټکولې ځکه چه چا به کوته ټکوله نو کلی کښې دهغه ژوند د پرد شوم و او خلکو ب
ورپورې خندل.

د پرانګ چارسدې محاصره یو ویشت ورځې چلیدلی وه، د پرانګ
چارسدې په محاصره کښې د پرزیات فوج وو چا پیره به هم ولاړ وو او سوا
به په لاړو کو څوکښې هم کړې دل چه څوک به د کوره را ووتو نو د هلو به یې اذانونه
او د جمعې لمونځونه هم بند شول خدایی خدمتګاریې ونیول او قیدیې کړل او عام خلک
به یې په تودو تشکو برښلې څملول او د کورونو تالاشی کیدې خو د قام اتفاق وچاره
چه غلې وې هغه یې په غږ یا نانو وویشلې او د میرې خلک به سحر وختی راغلل
د دوی د میرې فصلونه به یې کودکړل، خاوره کړل، او به کړل. بیا به شپې له کوته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ل او دشولکوی خلکو به ورله . دشولکرې فصلونه سنبالول . دامحاصره هم ناکامه
چته شوه . دامحاصره ، وهل ، تکول خوسخت و ، خو ددی یوه فایده دا وشوه چه
کوم کلی چه انګریزانو محاصره کړل اوویی سوزول ، دا په جرنیلی سړک پراته
نو چه عامو خلکو به داتشدد اوظلم لیده نو دخلکو په زړونو کښی به د انګریزانو
ره نفرت اودخایی خدمتګارو سره همدردی زیاتیده اوپه دې توګه زمونږ په حق
ی دپره غټه پاپیکنده وشوه .

دغه شان په ۲۷ می کوجرو کړهئ کښی جلسه وه دمردان نه کپتان مرفی
ره دپولیس راغی ، دی یو دپر ظالم پیرنګی و . بلکه چه د کوجرانو سره دمینښوړ لو
ده کوم کوتک وي ده سره به هم هغه شان کوتک واو دپر بی ترسه و . بی دریغه به
خلک وهل . داچه څنګه دخلکو په وهلو لاس پوری کړو اوپه پره نیغ دخلکو مینځ
تنوتو . نو هلته طالبان وو ، هغوی حیران شو ، په دې چه دا یو پیرنګی تش لاس
روان دی اوهیڅوک ورته څه نه وایی . خدایی خدمتګار خو چونکه د عدم تشدد پابند وو
دغه طالبانو پیرنګی پسی خپل تبرګی راواخستو اوپه هغې یی او وهلو ، پیرنګی چه راپریوتو
ویی بنځی چه منګی ورسره وو ، دجلسی خلکوته یی اوبه ورکولی ، هغی هغه ډک منګی
یرنګی په سر راچولو اوهغه مړشو . چه دهغه دمرګ خبر مردان ته ورسید ونو
ی (۱۲) چه دمردان اسسټنټ کمشنر وهغه فوج راوغوښتو خلک ددې نه خبر
ول خویا هم خلکو جلسه جاری وساتله دغه وخت باران اوسیلی راغلل اوددی
وجه دفوج درسید ونه مخکښی جلسه خوره شوه کښی نوکه فوج په جلسه ورغلی وای
څومره خونریزی به پکښی شوې وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبالہ ددې پیرنګی بد اخیستلو د پاره په ۲۸ مې په تګر فوجونه او رغل کلی یې
محاصره کړه او پخلکو یې د لغه کولی او چلولې میشن کنونه یې هم بکښې استعمال کړل
د پرماشومان ، زلمی او ښځې ، نر ، بکښې شهیدان شول . بیا د ملک ملا لله خان خدا
خدمتګار حجره او کورې هم وسیزل او د سالار شمروز خان د پلار ملک امین کل د یره
یې هم وسیزله . د شیرګړه او جلالا کلو خلک چې خبر شو نو تګر دامداد پاره سره ډول
راغلل نو پیرنګیانو محاصره پورته کړه او مړان ته لاړل . ددې نه پس فوجونه لوند خوږ ته
لاړل او هلته د غلام محمد خان خدایی خدمتګار حجره او کورې وسوزول او د کلی
په عامو خلکو یې د پر ظلم زیاتی وکړه . کوهاټ کښې هم د غه شان پیرنګیانو په خدایی
خدمتګارو او په عامو خلکو ګولی وچلولې او د پر خلک بکښې شهیدان شول . دلته به
یې خدایی خدمتګار یخوا او بوته غوږ خول او غوښتې به یې ورکولی . د بنو په سپین ټنګی
هاتی خېلو کښې د خدایی خدمتګارو جلسه وه ، قاضی فضل قادر د سټیج د پاسه ولاړ و
د قرآن شریف تلاوت یې کولو پیرنګی په تمانچه وډیشتو او شهیدیې کړه خلکو ته یې وویل
چې جلسه خوره کړئ خو خلکو جلسه نه خوروله نو په ټوله جلسه یې کولی وچلولې . د پر خدایی
خدمتګار بکښې زخمیان او شهیدان شول او څه یې گرفتار کړل . د مبنی تحصیل صوابی
مولانا صاحب په کور پولیس ورغلو او د هغه کورې وسوا او د هغه په کتب خانه یې اور ولګولو
چې هغې کښې د پر مذاهبی کتابونه او قرآن شریفونه د حدیث او فقهی کتابونه وو هغه وسوزل
د رستم مولانا عبدالحی صاحب په کور ورغلل کتابونه او سامان یې ورته ګډوډ کړو او
هغه یې گرفتار کړ . د غو ورځو کښې زمونږ په ټوله صوبه کښې داسی کلی نه وچې هغه کښې
خدایی خدمتګارو او د هغوی دفترو او هغه ته فوځ ورنه ورغلو هلته د خدایی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د متکارو دفتر د هغوی کورونه، د هغوی مال، حال او د هغوی سړی جامی یې
نه سوزول او په خلکو یې ظلمونه ونه کړل!

د یې ظلمونو پښتانه راولړزول، په زرګونو زلمو د ملکنډ نه تر پېښوره اسمایل
انه پورې خپلې جامې سړې کړې او د وطن دازادۍ په میدان کښې د سور نښان
ندۍ وډرېدل. د خدایي خدمتګارۍ تحریک په ازاد و قبایلو، باجوړ، مومند و
ریلو، وډکزو، وزیرو، مسود او بیټنو کښې خورشو. د باجوړ او مومند و خلک د
لګزو د حاجي صاحب په مشرۍ کښې په کړ په کښې د پېښه شول. د دې میاشتې جنګ
شپه او ورځ په پرې بمونه وډېدل. حبیب نور په تحصیل چارسده کښې په کچهرۍ
خرڅه نیمې بجې په انګریزۍ اسسټنټ کمشنر تماچه وچلوله خو کارتوس غل شو، پیرنګی
شو، دې ګوفتار شو، او سبا له به پېښور کښې پامنسي شو. قلي خان پولیټیکل ایجنټ
د پښتل چه خدایي خدمتګار مشران په دې کیس کښې راولي ولی حبیب نور انکار و کړ
لي خان ته یې ووېل چه زه پخپله اراده دده په قتل پسې راغلی وم خو کامیاب نه شوم
و ګورئ د اخلک خان ته مسلمانان هم وایي پښتانه هم وایي او د پیرنګی د پاره
زنا دوا او ذلیل نه ذلیل کار کولو ته تیار دی. زمونږ د خدایي خدمتګارو څه ګناه وه
دې د پاره موږ حق غوښتو. د پراپېرېدلې پښتانه راکوز شول. په پېښور بمبارۍ حمله
فوجونو سره وجنګېدل مکړې ګودام یې تالاکړو او اوربې پرې وګلولو. وزیرستان
حملې شروع شوې، او د پر فوجونه یې خراب کړل. دا جنګونه د پېښه موده جاري و
حل وو چه د مومندو نه را واخله تر اپریدو او وزیرو مسود و پورې تول قبایلي
د خپلو دوښمنو په امداد کښې را پاڅېدل او تر هغې یې د صلح کولو نه انکار او کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترخوچه باچاخان اوګاندهي جي نه وي راپريښي. ر ۱۲

کانګرس اومونډ:

مونډ: دګجرات په جيلخانه کښې ووچه زمونډ يو دوه ملګري، يو ميان جعفر
کاکاخيل، بل ميان عبدالله شاه دقاضي خيلو چارسدې زمونډ ملاقات له راغلل
ملاقات خو بند و اوزما دې نورو ملګرو سره يې ملاقات وشو هغوی وويل چه حکو
زمونډ دتولې صوبې ناکه بندۍ کړې ده نه ځوک دصوبې نه بهر تلې شي اونه ځوک دې
صوبې ته راتلې شي اوپه خلکو يې ډير زور اوظلم شروع کړې دی کوشش دادی چ
زمونډ تحريک ختم کړې، مونډ په اباسين راپورې وتو ځکه چه ګودر ونه تول سر
نيولې دي اوتاسوله راغلو چه مونډ څه وکړو په مونډ داسې نارا ظلمونه کيږي
دنيا کښې په چا نه دی شوی خو دنيا زمونډ دحال نه خبره نه شوه. زمونډ دملګ
ملاقات وشو نو راغلل ماته يې دلتول حال ووې. مونډ خو په خلافت کښې وو
په صوبه کښې مسلم ليګ نه و مونډ خو دپنجاب سره په خلافت کښې باقي شوی وو اوز
دخلافت ډير ورونه په مسلم ليګ کښې هم وو. مونډ دوی ته دا ډيه ورکړه چه تا
هندوستان کښې دمسلم ليګ مشران وله ورشئ او ورته ووايئ چه ډير نکيانو په مونډ
نارا ظلمونه شروع کړې دي اوزمونډ صوبه يې بالکل محاصره کړې ده. تاسو زمونډ
ورونه يئ، مونډ سره صرف دومره امداد وکړئ چه دنيا زمونډ دحال نه خبر شي
زمونډ تحريک خدايي خدمتګار خو اصلاحي تحريک دی. مونډ ورته داهم ووې
ته لاړشئ، دهلي ته لاړشئ، شملې ته لاړشئ، په مسلمانانو وکړئ اودخپل حال نه
کړئ. دوی لاړل اوخه موده پس چه راغلل اومونډ يې خبر کړه چه مونډ دمسل

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تولولیدلو انو وکړ خپلو هغوی خوزمونږ مدد ته تیار نه دي اوتیار لکه نه دي
چه هغه خو یو جماعت دی چه پیرنګیانو دهندو د مقابلی دپاره جوړ کړی دی او
زمونږ جنګ خو پیرنګی سره دی نو هغوی به زمونږ څنګه مدد وکړي ، نو مونږ ورته
ووی چه میالاړ شئ ، هندوستان کښی نور وجاعتونو سره وویني او خپل حال ورته
وایئ ، دوی لاړل او چه څه موده پس راغلل نو مونږ ته یې ووې چه مونږ خو پرې
وکړ خپلو ، خو بغیر د کانګرس نه زمونږ سره امداد ته چا غاړه کښینښوده ، د کا-
نګرس لیډرانو مونږ نه تپوس وکړو چه ستاسو پیرنګی سره جنګ په څه دی ؟
مونږ ورته ووې چه د ملک په ازادئ وې د جنګ طریقه موخه ده ؟ مونږ وې عدم
تشدد ، دوی ووی چه دغه جدوجهد او اصول خو زمونږ هم دی . تاسوهم غلامان
یئ مونږ هم غلامان یو ، ستاسوهم انګریز دښمن دی ، زمونږ هم دی . تاسوهم
ازادی غواړئ ، مونږ هم . که تاسو مونږ سره ملګری کیږئ نو مونږ ستاسو سره
ته تیار یو ، نو د دوی د دې بیان نه پس مونږ دوی ته ووې چه واپس خپلی علاقی
ته لاړ شئ او خپلی د صوبی جرګی سره داخبره وکړئ هغوی چه څه فیصله وکړو نو
مونږ ته منظوره ده ، دوی لاړل او د صوبی جرګی داخبره منظوره کړه چه کانګرس
سره ملګری کیږو . مونږ خو نن په دریاب کښی لاهویو او غرقیږو ، څوک چه لاس
راکوی ورکوو یی - دی نه پس جرګی د کانګرس سره خپل ترون وکړو او د کانګرس
کمیټی سمدستی په مرکزی اسمبلی کښی سپیکر او د تل بهایی پټیل دیوو فد پټنه ئ
صوبه صدر ته د تحقیقاتو دپاره راولیږه خو پیرنګیانو په آنک بند کړه نو هغوی پینډی
کښی کښینا ستل او تحقیقات یی شروع کړه ، زمونږ د پنجاب مسلمانان وو نه زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه کیله کوي چه دوی کانګرس سره شو او کانګرس دهندوانو جماعت دی اول خو زه
داخبره کوم چه کانګرس دهندوانو جماعت نه دی دا ټول هندوستان دټولوخلکو
شریک جماعت دی. جناح صاحب خوهم په دی کانګرس کښی و. او بله داچه مونږ
کانګرس سره څنګه شو که چیری دوی زمونږ امداد کړی وای نومونږ کانګرس
څه کوو ؟ حقیقت دادی چه مونږ خو دوی کانګرس سره ملګری کړی یو مونږ پښتانه
خوسیلاب په مخه کړي وو. دوی له ورغلو چه تاسو زمونږ مسلمانان وردونه یی
لاس راکړئ دوی لاس رانه کړه کانګرس وې زه درکوم مونږ له یی لاس راکړو
زه د دنیا ټولو مسلمانانو نه وایم چه اوس تاسو انصاف وکړئ چه دوی کرم دی که مونږ ؟
څه وړځی پس حاجی عبد الغفار خان، عبید الله خان او سلطان خان زمونږ ملاقات
له واغلل او د ملک ټول حالات یی راته بیان کړل اوراته یی وویل چه پښتنو کښی داسی
یوه جذبه راویښه شوې ده چه بیان یی د رته کولی نه شو، څومره سختی چه پیښ کیږی
کوی هغه هومره خلکو کښی جوش اوهمت زیاتیږي تاسو غم اوفکر مه کوئ داخدای
تحریک دی اوخدای ورله دغیبونه امداد ورکوي. د دې په اوریدو مونږ ډیر خوشحاله
شو اوملاقات ختم شو. د ختمیدو نه پس می عبید الله خان ته د پښتنو په نامه یو پیغام
ورکړه چه: د ای پښتنو ورونو! چه ونه ویږئ اومایوسه نه شئ، داد خدای
طرف نه په مونږ یو ازمایش او امتحان دی، بیدار شئ او د خدای د مخلوق خدمت
ته ملا وتړئ». هرکله چه دا پیغام په اخبارا تو کښی شایع شو نو په خلکو یی ډیر ښه
اثر وشو او حکومت د جیل سپرنټنډنټ ته حکم ولیږه چه د ده ملاقات بند کړه چه د
سره د بهر سره اینډه د پاره ونه وینی. مونږ سره په جیلخانه کښی د پنجاب او دهلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوی لوی لیلہ وان وو ۔ دھغوی لید ولہ بہ خلک داتلل او زمونږ حالات بہ یې اخبارا
کښې شایع کول مونږ سره په دی کار کښې چه څومره امداد دی لیلہ وانو کړی دی ده
به تول عمر دھغوی مشکوریم ۔ دوی په جبلخانه کښې دننه او بهر زمونږ هر قسم
امداد ته تیار وو ۔ دوی پخپلو کښې څه ناڅه اختلافات وو خو مونږ سره د تولو د پرښه
تعلقات وو ۔ دلته سیاسی قیدیان که مسلمانان وو، که هندوان وو، که سیکهان وو
ټوله دسکه (خپلو) وروڼو زمونږ خدمت او امداد ته تیار وو او هندوان خو زمونږ امداد
او خدمت ته د مسلمانانو نه هم زیات تیار وو ۔ دلته زمونږ یو پښتون جمعدار وچه دننه
د جبلخانی تول اختیار د هغه وُ، هغه د پرښه سړی و مونږ سره یې د پره همدردی
وه ، زمونږ هر کار چه هغی کښې به خطره هم وه خودی به ورته تیار و ما به د پره منع
کولو چه ته خو سرکاری نوکر یې داسی کار مه کوه چه سبا له دې نه نقصان رسیږی ۔

پتیل کمیټی رپورټ :

پتیل کمیټی خپل کار پوره کړو او خپل رپورټ یې شایع کړو ، د شایع کیدو سره
هغه حکومت ضبط کړو لیکن دا رپورټ څه ناڅه کانګرس یورپ او امریکې ته د رسولو
دی شایع کیدو سره حکومت خپله غلطی محسوسه کړه او مونږ لپاره یې جبلخانی له یو وفد را
لیږلو او مونږ ته یې وویل چه تاسو مونږ سره جوړه وکړئ د ۱۹۱۹ع کال د یفاړ مزاوس
ورا د درکوو او د مخکښې د پاره تاسو سره داوعده کوو چه څه هند وستان له ورکوو
هغه نه به زیات تاسوله درکړو کانګرس پریږدئ ، مونږ سره جوړه وکړئ مونږ را غلو
د جبلخانی تول سیاسی قیدیان ورونه موراغوندکړل او دوی سره مو په دې مسئلې
ډی مشوره وکړه ۔ دبعضی خلکو داخیال وچه مونږ له د پلومیسی په کار دی ما ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ووی چه د پلومیسی خو منافقت دی اوزه خو منافق نه یم، او مونږ د حکومت دا
خبره منظوره نه کړه . په جبلخانه کښی څه درځی پسی میا احمدشاه سره دا خیال پیدا
شو چه مونږ ه حکومت بالکل بی گناه قید کړی یو او په مونږ هیڅ قسم قانونی ثبوت
نشته نو په دې وجه مونږ له ټنګرانی کول په کار دی . دی ته یې عبدالاکبرخان،
سرفرازخان او حاجی شهنوازخان هم تیار کړی وو، میا صاحب دی ته فکر نه کوله
چه داخو سرحدی قانون دی، دی کښی دوه خبرې دې چه جبلخالی ته څې او
که په ضمانت کورته څې ! نو ده ماته د ټنګرانی خبره وکړه ما ورسره په دی کښی اتفاق
ونه کړه څکه چه دا کار زمونږ د اصولونه خلاف و خو دا می ورته ووې چه که چېرې
تاسو ټنګرانی کول غواړئ نو وکړئ خو زه یې نه کوم نو میا صاحب ووی چه ته یې ولی
نه کوې نو ما ورته ووې چه دا زمونږ اصول نه دي نو راته یې ووې چه ته یې ولی پسې
نه ګڼې او په دی راسره بحث شروع کړه ما ورته ووې چه ته خو مونږ پوهږ دنیا ته ګوره
چه زمونږ په دې قوم څومره لوبی او تشدد پیښ ټنګیا نو وکړو او وزه دلته په مزه په
جبلخانه کښی ناست یم، خودم، څکم، نوزه صرف د اقید نه شم تېرولی ؛ زما د
هری خبری او کمزورئ اثر زما په قوم پریوزي او زما پوهی کمزوری هم قوم ته ورسیږي
نقصان رسوي په دې وجه زه معذور او مجبوریم بلکه دا چه زمونږ دا تحریک د
عدم تشدد او عدم تعاون تحریک دی. زما د دې خبرو په مغوی هم اثر وشو او
د ټنګرانی خیال یې پرېښود.

د ګجرات جیل ملګری :

په جبلخانه کښی زمونږ شپې ورځې د پېړی ښې تېرېدې ولی چه دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر مذاق خلک وو، لوی لوی عالمان وو اولوی لوی سیاستدانان وو، اوبله
چه دهرمذاق کتابونه هم وو، ماخوخپل ټول وخت تقسیم کړی و، دخپل وخت
یه حصه می دمذهبی کتابونو مطالعی او درس له ورکړی وه او دلویو لویو خلکو
ره می تبادله خیالات کول. ماپخپل ټول ژوند کښی دکتابونو دومره مطالعه
وه کړی لکه چه دلته می یوکال کښی وکړله. بله مفیده خبره دلته داوه چه مونږ
دوهیمه، دریمه ورځ ټول غونډه پدواوپه مختلفو مضمونو به بحثونه اوتقریرونه
دل اوکله ناکله به دبعضی وروڼو په بعضو خاصو مضمونو باندی زمونږ دپوهولو
ره عالمانه تقریرونه کیدل او دڈاکټر انصاری صاحب خو دملکی اوانتظامی
لو ماتو حاصلولو دپاره زمونږ ډیو پادلیمنټ قایم کړی وچه په هغی کښی به وقتاً
تاً اجلاسونه کیدل اوزمونږ دپوهولو اوتربیت دپاره دپارلیمنټ په طریقه
ملکی اوقومی واقعاتو باندی تقریرونه کیدل. لنډه داچه دې قید ماته
رخه وسنبودل اومونږ دپرځه زده کړل.

مادلته ډیر کوشش وکړو چه دلته دقرآن اودکیتا درس شروع شی
چه په هندوستان کښی که مونږ مسلمانان یو اوکه هندوان یو اوکه سکهان
که عیسایان یو مونږ دیوبل دمذهب نه خبر نه یو اونه زمونږ دخبرولوچا
شش کړی دی بلکه په مونږ کښی خودغرضو خلکو مذهبی تعصب اونفرت پیدا
ی دی، مذهبونه چه دنیا ته خدای رالیږلی دي داټول دخدای مذهبونه
داد تعصب اونفرت دپاره نه دي بلکه دمینی او محبت دپاره دي. زه
ي کامیاب شوم اودرس مو شروع کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنډت جگت رام چې د غدر پاڼې کښې شل کاله قید شوی و او د تو
او بونه په دغو ورځو کښې رابدل شوی و د پرقوم پرست او ښه عالم او ښه سړی و
دګیتا درس به هغه ورکولو او ما به د قرآن ترجمه کوله. د پرخلک به دې درس
کښې شریک پدل او چه ددی تعلیم په حقیقت به پوه شول، نو حیران به شول چ
خدای مونږ له څه تعلیم راکوي او دا مونږ په کومه لاره روان یو، او هغه د
مذهب په نوم تعصب او نفرت چه پیدا شوی و ترډیره حده دهغې اصلا
وشوه او دیو بل د مذهبی اصولونه خبر شو، زما یو مهربان و د هغه نوم لالا ش
لعل و او یولوی وکیل ؤ او د پرښه سړی و ماته به یې دانګریزی کتابونه اوروا
ماتری د پره فایده واخیستله. بل رای زاده هنسراج و چه د جالندهر ژ
د پر مهربانه وچه کله به یې ملاقات راتلونو مونږ ته به یې د پرې غوږی زیږ
راوړلې او دهغې سره د مطالعې د پاره قسما قسم کتابونه یې هم راوړل. حاجی ش
غان به سحر وختی مونږ له چای تیاره کړې وه. د پوډی د غه یې هم خلاص ک
وو د پرښه منتظم سړی و او د هر قسم خبرونه به یې هم راله راوړل چه جبلخانی ک
چه به څه وشو یا به د چا ملاقاتی راغلی و نو دی به ترې خبر و او د هر چا ملاقا
سره به یې اول ملاقات کړې ؤ جبلوالا د د دې خبرې نه د پر تنګ راوړ
به یې منع کولو خو دې یې د د یو پدې نه منع نه کړې شو دی د پر خدمتی او ب
سړی و لیکن په یوه معمولی خبره و د سره احمد شاه میا جنګ وکړه. جنګ یې حا
صاحب سره وکړه او چای څکل یې مونږ سره پرېښودل. د میا صاحب طبیعت
سخت و او جبلخانه هم داسې یو ځای دی چه د سړی طبیعت پکښې تنګ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

په معمولی خبرو باندی جګړی نه تیارشی ، سر فراز او ماسره یې هم جنګ کړی ...
و او په جبلخانه کښی مونږ ته د لولو اجازت واوپه لوبو کښی به هم کله ناکله میا-
صاحب جګړی کولی ماچه به خپل ځان نه کتل نو په ځان کښی به می کمی او کمزورئ
لیدلې یو نقص راکښی د پرو خبرو او د پرو بحثونو او بل د قهر پدلو وما په دا ډول
محسوسوله او دا فکر به می کولو چه د دې نه به ځنګه خلاص شم ما به کوشش کولو لیکن
په مایلی داسی قبضه کړې وه چه خلاصیدی تری نه شوم د دی د اصلاح د پاره مادا
اراده وکړه چه په هفته کښی به یوه ورځ روژه نیسم خو روژه به می یوازی د خوراک ،
نه نه وي بلکه د خبرونه به هم روژه وی او پخپلو کمزورو باندی به غور او فکر کوم او د
هغی د اصلاح کړښش به کوم نو د سحر لمونځ چه به می وکړه نو د چکۍ ورته می بند کړه
تر ماښامه پورې به چکۍ کښی ناست وم ، ذکر به می کولو او چه د ماښام اذان به وشو
نو د چکۍ نه به را ووتم او د دوا ډوډۍ (د خوراک او خبرو) به می ماتی کړې دې
روژو ماته د پره فایده رسولې وه اوخه ناخه زما د دی بد وعادتونو اصلاح
هم وشوه .

خه مودې پس په دې جبلخانه کښی زما په ملاکښی بیا هغه د ډوډۍ-
غازی خان په جبلخانه کښی پیدا شوی و شروع شو . ډاکټر انصاری صاحب
ډاکټر اویوه نسخه زما د پاره ولیکله او د غو بنی خوراک یې را باندی بند کړه دې
را رو او پرهیز په وجه زما گذاره وشوه لیکن قصه داسی وشوه چه هغه پیر ټکی
سول سرجن چه زمونږ د جبل د هسپتال انچارج و هغه چه به راغی نو هسی به ناست
. هر څوک به د ډاکټر انصاری صاحب له ورتلل . ولی چه هغه د پرلوی او لایق ډاکټرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکن هغه پیرنکی داخبره دپره بده محسوسه کړه او دجبلخانو جوړیل ته یې وکیل
او دهغه ځایه داحکم راغی چه بغیر دجبلخانی د ډاکټر نه په نورو خلکو باندی علاج کول
بند شو، زماهم شامت راغی ماهم دخپلی بیماری قصه هماغه سول ځله بیان
کړه هغه راته ووې چه ته د انصاری صاحب نسخه نه شی استعمالولی ماورته ووې ته
رالیږه نسخه راکړه هغه رالیږه نسخه ولیکله خو په هغی زماخه فایده ونه شوه اومرض
می زیات شو. بله ورځ هغه له ورغلم او ورته می ووی چه ډاکټر انصاری صاحب
به ماله داسی دارو راکول، چه په هغی به زما فایده کیدله. هغه رالیږه نسخه بدله کړه
لیکن په هغی هم زما فایده ونه شوه، ماورته بیا د ډاکټر انصاری صاحب نسخه یاده
کړه لیکن هغه راته ووې چه دغه نسخه ته استعمالولی نه شی نوهغه تدی ووې چه د
ننه نه پس زه نور علاج نه کوم اونه ستا دارو خورم اونه د ډاکټر انصاری. هغه راته
ووی چه ستا دصحت ذمه وار به څوک وي؟ نوماورته وویل چه زه دخپل صحت
پخپله ذمه واریم. ددی په اوریدو هغه ډپره په قهر شو اوزمانه ړان شو، دوه
میاشتی زه دکټ نه پاتې نه شوم، کرځیدی نه شوم، اودس ماتی به هم راته کړان و
زماوزن نشل پونډه کم شو، ځان می خدای ته وسپاره، نو ورو ورو په جوړیدو شوم
اوخه موده پس دکټ نه پاتې شوم اودملا دردمی ډپر کم شو.

راجا صاحب زمونږ سپرنټنډنټ وچه جبلخانه کښی زمونږ سکهانو ورونو
داشوال اوچت کړو چه مونږ جتکه خورو مونږ له دې دجتکې اجازت راکړی شی راجه
صاحب خو ډپره ښه سړی و دزړې زمانې مسلمان وهغه دسکهانو دی خبرې
منلو ته تیار نه و. هغه سکهانو ته ووې چه دلته جتکه نه کیږي نو به دی وجه مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسوله دجنګی غوښنه درکولی نه شو . هغوی ورته ووې چه مونږ له مخپل قیمت چرګ
راکوئ هغه به مونږ دلته جنګه کوو لیکن حکومت دې ته تیار نه شو ، په دې وجه
اجا صاحب تلې هدایت وکړو چه داسی چل وکړه چه جنګه هم بنده شی او حکومت
هم بدنام نه شی . سپین ټنډه نت سید اغا لعل بادشاه دفتر ته وغوښتو او جنګی
مخالفت دپاره یې تیار کړو او سکهانو ته یې ووې چه په دې خبره ستاسو خپل
سرحد مسلمانان ملګری اعتراض کوی ، نو په دی وجه مونږ تاسو ته اجازت درکولی
نشو . سکهانو دا خبره مانه پیښ کړه اومادسرحد ټول مسلمانان ورونه ددې
فیصلی دپاره راجمع کړل . دبحث په شروع کیدو سره سید اغا لعل پاچا او بعضی
مونږ نورو ملګرو ددې خبری مخالفت وکړو ، لیکن ماورته ووې چه بیشکه جنګه
مسلمان دپاره ښه نه ده لیکن دیوسکه دپاره خوښه ده ، بله داچه دا جنګه به هغوی
دی اوکه په مونږ به یې هم خوري ؟ که چیرې دا هغوی خوری نو زمونږ په دې څه ؟
مونږ ته کوم نقصان دی ؟ او په اغا لعل پاچا می داسوال وکړو که چیرې یوسړی
اندی حلاله بلاوی نو ته به خفه یې که خوشحاله ؟ ووې ووې چه خفه به یم . نو دغه شان
جنګه بنده ولو به بل هم خفه کیږی نو کم از کم مونږ خدایی خدمتګار وله بل خفه کول
کار نه دي ، مونږ بیا خپلو سکهانو ورونو ته وویل چه دجنګی په خوراک مونږ ته
څ اعتراض نشته . تواغا صاحب ما سره اتفاق وکړو او دا فیصله وشوه چه زمونږ د
یفه سکهانو ورونو ته اجازت دی ماورته داووې چه حکومت اجازت نه ورکوي
شه جوړوي او مونږ او سکهانو کښی نفاق پیدا کوي . هم هغه وشوه ، بله ورځ
م راغی چه حکومت په جبلخانه کښی ډنډه چاله دجنګی اجازه نه ورکوی . چه دری

(c) ketabton.com: The Digital Library

صیاشستی تیری پشوی نوحاجی شهنواذخان ته خپل کاروبار ورپه یادشوا وکله ناکله
به یی اواز وکړه چه روان یم نن دی که سبا ضمانت داخلوم. زماخیال وچه دی تو قی
کوی خو بیاراته معلومه شوه چه دده په ربښتیا دتللو اراده ده، په دغو ورځوکښی د
مهاتما کاندهی اولاړ په اړون په مینځ کښی څه د صلحی خبری روانی وی ما به تسلی
ورکوله چه کیروی نونن دی که سبا صلح کیږی امید دی چه مونږ قول به پرپښ
لیکن چه څه وخت خبر راغی چه صلح ناکامیابه شوه، نوحاجی صاحب له داخبر ه
راغی چه دده کشر وروړ اکبرخان گرفتار شوا ودی کاله قید شوما به ورله د پ
تسلی ورکوله خو په دې اثر نه کولو. دده ملاقات له دده تره محمد عظیم خان ا
عمراخان راغلل او ورته یی وویل چه موږ دې ناروغه ده، اکبروړوردی هم قید
شوا وتول کاروبار اوبزنس دې خراب شوا وته خو خدایی خدمتګار نه وې نو
ولی ضمانت نه ورکوې؟ نو دې خبرو دی ضمانت ورکولو ته تیار کړ اودده سره دافکر
پیدا شوچه اکبر بهرو نودی دومره فکرمند نه وخو چه هغه گرفتار شو نو دده فکر
زیات شو. بله ورځ ورله خط راغی چه موږ دې ډیره ناجوړه ده نودی نورهم پ
غمجن شو ځکه چه دده د خپلی مور سره ډیر محبت و د دی په کور کښی یودی و
یی وړوړ دده بل څوک نه و. ده ووی چه د هغی خدمت او علاج د پاره خو څوک پا
نه شو دوه ورونه زوی او دواړه قید شو لنده دا چه زمانه یی پټ کړی ته یو خط ولیکلی
زما ضمانت داخل کړې بله ورځ څه کورو چه میر صاحب دده وړاندې ضمانت گډ
له راوړو مونږ خبر شوچه حاجی ضمانت ورکړه، ما او پلار ت شننانم صاحب خان له
کړه او ښه موپوه کړه چه دا کارستادشان سره نه ښائیږی او دا به ښه دی چه لږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نتظار هم وکړي او هغه د مور جور ناجوړه خدای ته وسپارده ، ورو ورو حاجي صاحب
ضا شو خو چه څه وخت زمونږ نه لاړو نو اغا لعل باچا او علي کلخان لیدلی دی او هغوی
ری پوښتنه کړې ده چه حاجي رښتیا دې ضمانت داخل کړو ؟ نو هغه ورته زما قصه
کړې ده چه زما خیال دا خو هغه وې چه لږ انتظار وکړه او په دې وجه می معامله
ی الحال ملتوی کړه هغوی ورته ووې چه د تلو اراده دې نشته نو د دې څه فایده چه
ری ورځې تېروې ؟ د هغوی دې خبرو په حاجي صاحب اثر وکړو زمانه پټ لاړو او
ترکښې په ضمانت دستخط وکړو زه چه خبر شوم نو دروازې له ورغلم نو ورته می ووې
حاجي څې خوځې لیکن ستومانه به شې او بیا به زما دې خبرې پسې ارمان کوې او
ت به تېروي . هغه ستر کې تیتې کړې او مالې یې څه ځواب را نه کړو ، زه تر دې راغلم
حاجي صاحب کلي ته لاړو ، زه نه پوهیږم چه علي کلخان او اغا سید لعل پاچا هغه له په
م خیال دا مشوره ورکړې وه ولې چه په هغو ورځو کښې د دوی خدایي خدمتګار د سره
ره نه لګیده ولې چه دوی په کانګرس کښې وو حاجي صاحب چه کلي ته رسید لی
ی او د ملک حالت او د خلکو جذبه یې لیدلې ده خپل پرې تری ویزاره وو
ته یې خط ولیکه چه زه تاسره ملاقات کول غواړم ما ورسره د ملاقات کولو نه انکار
و چه د پیر تنګ شوی دی نو خپلو خپلوانو ورته ویلی دي چه ضمانت واپس کړه او
جیلخانې له لاړ شه ، لیکن هغه به ورله ډاځواب ورکولو چه مالو یه ګناه کړې ده د دې
ره قید کافي نه دی اخر داچه یوه ورځ یې ځان پخپله په ټوپک ووېشتو او د خپل
ل خاتمه یې وکړه چه زه د حاجي صاحب د مرګ نه خبر شوم نو ډېر افسوس می وکړو
ما ولی ده له د ملاقات اجازت ونه کړو او د ملاقات نه می انکار وکړو ، حاجي شهنواز

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان د پردکار شی و، حاجی خو مړ شو لیکن دهغه مرګ زمونږ تحریک ته د پ
فایده ورسوله او دهغه د مرګ نه پس بیا چا د معافی غوښتو او یا ضمانت جرنه
ونه کړی شو. چه څه وخت د حاجی د مرګ خبر د ګجرات جیلخانی له راغی نو هوا خلک
د پرغمجن شول ولی چه حاجی زمونږ په جیلخانه کښی د پرزیات همدرد لعزیز و. مو
چه په جیلخانه کښی خو مره سیاسی قیدیان وو تول راجمع شو او دهغه د مغفرت دپا
مو د الله تعالی نه دعا وغوښته.

مونږ چه څه وخت د ګجرات جیلخانی ته لاړو نو د اجیلخانه لا تیاره نه وه
وخت چه جیلخانه تیاره شوه نو زمونږ بارکونه او چکی د هر طرف نه ازادی وې او
پکښی حکومت د بلتون د پاره دیوالونه شروع کول. د شا په دیوالونو د چا اعتنا
نه و خو د مخ دیوالونه دهیڅا خوښ نه وو. یوه ورځ ماته میا احمد شاه صاحب
چه د مخ دیوال په ځای د اوسپنی جنګله ولګی نو د پره به سبه وې ماورته وو
د اخو حکومت بغیر د ایجی تیشن نه په تشه وینا نه کوي نو که دې خوسبه وی ایجی تیشن
به شروع کړو. ده ووې چه د پره سبه ده د میا صاحب په وینا ره پاڅیدم او د
خبری ذکر می د نورو سیاسی و رونو سره وکړ چه زمونږ هغو سیاسی و رونو به زه
عزت کولو او تول زما په وینا تیار وو. څه وخت چه سپرنټنډنټ صاحب خبر
هغه راغی چه تاسو حکومت له یو درخواست ولیکی او مالډی راکړی. مونږ یو د
ولیکه او تولو خلکو پری د ستخطونه وکړل او چه څه وخت هغه درخواست میا
ته پیش شو نو هغه پری د د ستخط کولو نه انکار وکړو هغه سړی مالډ راغی چه میا
خو د ستخط نه کوی. ما هغه درخواست د هغه نه واخیست او میا صاحب له می

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپاره یوو ډمیا صاحب په هغه ولیکل چه زه په جیلخانه کښی دایجی تیشن مخالف یم
او دهغی دلاندی دستخط وکړو . په دې زه ډیر خفه شوم اوورته می وویل چه دا
ټول ایجی تیشن خوراباندی تاشروع کړی دی اوداخه چه مونږ کوو خوستاپه ویناکوو
نومیا صاحب خواب راکړو چه زماخوایجی تیشن خوښ دی خوچه نورخلک یی کوي په
دې خبره زه چپ شوم اوډمیا صاحب دچکی نه راووتم اوهغه ددخواست می پوښتی
پوښتی کړو اوبل مو ولیکلو اوسپرنټنډنټ صاحب له مو ورکړو . خورځی پس خواب
راغی چه دډیوال په خای جنکلی ولکوی او ولګیدي . څه وخت چه دسیاسی قیدیانو
تعداد ډیر زیات شو اودبعضی خلکومینه اوشوق می صدارت طرف ته ولید نوما
دصدارت نه استعفاوکړه . ټول سیاسی مدرو نه زما په استعفا خفه وو اوداکوشش
یی کولو چه زه استعفاواپس واخلم خوما انکار وکړو اوهغوی له می داخواب ورکړو چه
اخر صدارت خوزمانیکه نه ده نورو خلکو له هم موقع ورکول په کار دی . زمانه پس ظفرعلی
خان صدرشو . لیکن دهغه ډیر عجیبه صدارت و څه وخت به چه دخلکو کار پیښ شو
نوهغه وخت به خلکو وې چه دی زمونږ صدر صاحب دی اوچه کار به یی وشونویا
به دچا صدر صاحب یاد نه و اوبعضی وخت خو به خلکو ورسره داسی رویه وه چه مالـه
به په غریب رحم راغی . ډیر ځله می ورته په رموز رموز کښی ووې چه مولانا صاحب
ددی صدارت نه استعفا ورکړه لیکن دهغه دصدارت کرسی ډیره خوښه وه اوپرې
ښو دوته یي تیار نه و ، دغه وجه وه چه خلکو به یي عزت نه کولو . زمونږ صدارت څوشه
دومره نوی څیز نه و اوکه چیری لوی هم شی نوداخو یوقومی خدمت دی ، نوچه دقوم
په رضا اورغبت وی نوچلیدی شی اوکه چیری دقوم دمرضی خلاف پخپل خواهش او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوښه شی نو بیا یې چلبدل مشکل دی او دفایدی په ځای نقصان او دغرت په ځای بی عزتی شی . ددی دپاره په کار دی چه هر څوک د خپل خواهش په ځای د قوم خواهش قدر او کړي .

ددې جلغانی دکتو د پاره به د پیر پیر نګیان افسران راتلل مونږ کښی چه به یې دچا سره لږ ی غوندې خبرې وکړې نو بیا به هغوی په جاموکښی نه ځایبدل او په فخر به یې داخبری کولی چه دی زما د فلانی وخت اشنا و خوچه د یو قوم بلد قسمتی راشی نو هغه سره د عقله نا پوهه شی ګوندی که دې پیر نګیا نو څه لږ د پیر سنه سلوک زمونږ سره کولی نو مونږ به هیچیری د دوی برخلاف شوی نه وای . په جلغانه کښی اوازه شوه چه وزیر صاحب ایمرسن په دوره راوتلی دی او ددی جلغانی کتو له راځی ، وزیر صاحب راغی خلکو ورته خپلی چکی ښی ښایسته کړې وې وزیر صاحب سره نور پیر نګیان هم وو زما چکی به سر کښی وه زه پخپله کډی ناست وم چه زما چکی ته راورسیدو نو زما خیال وچه دی به ماله دننه راشی زه به ورته پاڅم او خبری به ورسره وکړم لیکن هغه دننه رانغی زما د چکی په وره کښی و د دیل وسپرنتنډنټ صاحب ماته ووې چه وزیر صاحب والی چه ته څه والی ؟ ما ورته ووې چه زه هیڅ نه وایم بیایی راته ووې چه وزیر صاحب تاسره خبری کوی ، ما ورته ووې چه زه خبری نه کوم ځکه چه زه ما سره خبری کولی نو دننه به راغلی و جګله کښی خو ورسره اخلاقی قیدیان خبرې کوي او زه خو سیاسی قیدی وم . وزیر صاحب یو ساعت ولاړو بیا روان شو . هغه سره د ګجرات د پټی کمشنر هم و چه هغه لاړو نو د پټی کمشنر زما چکی ته رانښوت زه ورته پاڅیدم زما په پاڅیدو هغه ډیر حیران شو ماته یې وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه تاولی وزیر صاحب سره خبری ونه کړې او نه ورته پاځیدې ما ورته وویی چه زه
خو خدایی خدمتګاریم او د خدای د مخلوق نه نفرت ګناه ګڼم او د خدای خدمت
د خدای د مخلوق خدمت دی ته خو هم انګریزي تا سره خو دا دی خبرې کوم زه
خو سیاسی قیدی یم ما سره سیاسی سلوک په کار دی هغه مالرانغی نو زه هم ورنغلم
هغه مانه د اخلاقی قیدی په نظر وکتل چه ته راغلې نو دا دی تا ته پاځیدم . زما په دې
خبرو هغه غلط فهمی لیرې شوه کومه چه زما متعلق دده په زړه کښې پیدا شوی وه .

د راجا صاحب د سیاسی قیدیانو سره د پرسنه سلوک ؤ او حکومت دا نه غوښتل
خپلو ماتحتو اوپولیس پرې دا یرئ ورکړی چه دده د سیاسیانو سره د پرسنه سلوک
دی او سیاسیان په ارام اومزه کښې دې په دې وجه یې راجا صاحب زمونږ نه
بدل کړو سیالکوټ له یې ولیږلو او د سیالکوټ سپرنټنډنټ رای صاحب یې
راولیږه دایو د پرسخت سپرنټنډنټ ؤ او بله داچه د جیل قانون ورته د خدای
قانون ښکاریدلو خو حکومت پخپل خیال کښې کامیاب نه شو اوزمونږ د اتفاق په وجه
د هغه غریب نه هر څه خطا شو او پخپل د جیل قانون یې ونه چلولی شو رای صاحب
د راتلو سره کوم څیزونه چه به ټیکه دار مونږ له جیل ته د ننه راوړل هغه یې بند کړل
چه دا د جیل په قانون کښې نشته . ټیکه دار به د دروازه کښې ناست دې او چه څوک
څه اخلی نو د دی ځایه دې وړي نو مونږ چه د دې نه خبر شو نو په اتفاق سره
مو په دې فیصله وکړه چه هیڅوک به د دروازی له نه ځی . سپرنټنډنټ صاحب
د پرځوابونه راولیږل او چه پوه شو چه څوک دلته نه راځی نو حکم یې وکړو چه ټیکه
دار دی د ننه ځی او څیزونه دې وړي او هغه ټول رعایتونه چه راجا صاحب

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ له راکړي وو رای صاحب دهغې په راکولو مجبور شو بله ورځ د سرفراز ملاقات له دهغه مشر وروره سربلند خان راغی دهغه ملاقات یې په دې وجه نامنظور کړه وجه تاله اردونه درځی او پښتونژبه کښې ملاقات بند دی ولی چه سپرنټنډنټ پښتو ژبه نه پوهیږي مونږ چه خبر شو نو ډیر حیران شو او خفه شو د انقلاب زنده باد چغې مووهلې. سباله پرېلو د پرېلو نه موانکار وکړه هرکله چه رای صاحب د قصه ولیده نو په سربلند خان پسې سړی د رولیږل، په تیس کښې یې بیا مونږه راغی او سرفراز خان سره یې ملاقات وکړه. رای صاحب چه په ډیر وخبر وکښې شکست وخوړ او ورته معلومه شوه چه تر کومه پورې چه د دوی اتفاق وی نوزه کامیږی نه شم نو په مونږ کښې د نفاق اچولو کوشش شروع کړو او هندوانو سره یې اشنایی او تعلقات جوړ کړل او دهغوی په ذهن کښې یې دا واچوله چه زه خوستاسو د رورهندویم او زما نقصان خو دهندوانو نقصان دی نو که چیرې تاسو زما مدد نه کوئ نو دا خو هندو قوم ته نقصان رسوي د دې پر اپیکنډۍ اثر په یو څو قید یانو باندې وشو چه هغوی هم مونږ سره قید وو او تر دې پرده حدّ پورې سپرنټنډنټ په دې کښې کامیاب شو چه څه قصه به پیښه شوه نو هغوی به هندوانو ته وی که چیرې دا موو کړل نو ستاسو هغه بیچاره هندو د رورته به نقصان ورسي دا زهرناک خیالات د پنجاب په هندوانو او مسلمانانو کښې د پرزیات دی بله کمزوری می د پنجاب په لیډرانو کښې دا هم ولیده چه څه وخت یو څای شی نو بیا د رونه وي خو چه یو تنې خودغرضی پیدا شی نو بیا هندو هندو شی او مسلمان مسلمان شی. د دې قسم کمزوری چه د کانګرس په خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښې وی نو دنورو به څه حال وی ؟ اودغه وجه ده چه پنجاب کښې دکانګرس جوړې مزبوتی نه شوې او هندوان مسلمانان وړونه نه شول او سوراج خپیل کړاشو.

خومره چه مونږ دګجرات په جیلخانه کښې په ارام وو هغه هومره د سی کلاس قیدیان د پنجاب په جیلونو کښې بی آرامه وو او خومره چه مونږ سره سنه سلوک و ، هغومره د هغوی سره بد سلوک و. حقیقت خو داوکه مونږ سره چیرې سنه سلوک ؤ نو د دحکومت مهربانی نه وه دالاچادی وه د دراجا صاحب په ځای د رای صاحب مقرر ول د حکومت د بدنیتی ترجمانی کوي په مونږ کښې د بعضی خلکو داخیال رچه زمونږ نور وړونه که پنجاب کښې دی اوکه سرحد کښې دي یا په نورو صوبو کښې په تکلیف کښې دي نو مونږ له هم داخپل ارام پرې پښوول په کار دي او د پنجاب بعضی لیډران وله د جیلخانو نه د سی کلاس قیدیانو خطونه را لیږلی وو چه ستاسو خو زمونږ په تکلیف څه پروا نشته ، جیلونو کښې هم په مزو کښې یئ او بهر هم خو داځل که بهر ته ووتو نو بیا به رانه په ستیجونو کښې نه. بعضی خلک دې فکر هم وړی وو خو یا هم څه عمل ته تیار نه وو. دکاندهی جی زوی دیویداس چه مونږ سره په دی جیلخانه کښې و په دې معامله قدم وچت کړو او مونږ سره یې هم د دی متعلق مشوری شروع کړې یوه ورځ یې زه هم په دې مشوره کښې شریک کړم اول خو په دی بحث وشو چه د سرحد خلک په دی معامله کښې شریک کړو اوکه نه ؟ د بعضی پنجابیانو رایه وه چه د سرحد حکومت وحشي حکومت دی په هغوی زمونږ دایجی ټیشن څه اثر کیدی نه شی په کار دی چه مونږ بوازې د پنجاب د سیاسی قیدیانو نو د پاره قدم وچت کړو. خو اخر فیصله په دې وشوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه دسرحد ددی مظلومانو وروڼو د پاره هم څه ناڅه کول په کار دي بیایي زمانه
تپوس وکړو چه ستاڅه رایه ده ؟ ما ورته ووې چه تاسو سره زما اتفاق دی خو زه
به دسرحد دنورو ملګرو نه تپوس وکړم اوڅه چه دهغوی رایه وی تاسوته به بیا بیان
کړم. په دې جلسه خانه کښی مونږ دسرحد یو ولس کسان وو هغوی تی د اقصه وکړه
چه د. سی. کلاس دقید یانو په هکله دی کښی فیصله شوی ده چه دهر قسم دعا تونه
پریږد دو تر هغه وخته پوری چه د. سی کلاس قید یانو سره دښه سلوک اوښه
خوراک منظوری شوی نه وي . ددې د پاره به دهندوستان په اخبارا تو کښی
پراپیګنده شروع کوی اوز مونږ دسرحد د پاره خو دا یوه نادره موقع ده که
مونږ دوی سره شریک شونو زمونږ دقید یانو د پاره به هم په ټول هندوستان
کښی پراپیګنده وشی . دتولو نه اول عبدالاکبر خان واخواب راکړو چه زه خو دې ته
تیار نه یم .علی کلخان او اغا لعل باچا هم دهغه تائید وکړو او سرفراز خان پکښی صرف
دومره خبره وکړه که تاسو مراعات پریږدل زه به یې هم پریږدم .چه زه پوه شوم
چه زما وروڼه تیار نه دی نو بیا ما دا تجویز پیش کړو چه دا کار دهر چا په مرضی پریږدل
په کار دی خواحمد شاه میا صاحب ووې چه هر څه به په کثرت رأی فیصله کوو ما ورته
ووې چه د تکلیف فیصلی په کثرت رأی کیدی نه شی ځکه چه تکلیف نه لږ خلک .
تیار پیدی شی .سردار رام سنګه ورته ووې چه دی ته ما او دی پریږد ئ.
علی کلخان اولعل باچا دا تجویز پیش کړو چه مونږ به تحقیق وکړو که ټول خلک غواړی
چه مونږ مراعات پریږد دو نو مونږ به یې هم ترک کړو ، په دی اتفاق وشو او ددوی
د پاره علی کلخان مقرر شو. زه پوه شوم ځکه چه تر اخره پوری ددی خط وکتابت نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه ونه وتل د مونږ په انتظار انتظار کښې رهاشو.

د دې قسم واقعات هیشه زمونږ په کمیټو کښې هم پیښیږي، هلته هم چه کوم خلک کمزوری وي او تکلیف ته تمکین نه وي نو دیوه فایده مند تجویز مخالفت به کوی او قوم او ملک ته د پرزیات نقصان رسوي نو په کار دی چه زمونږ په ذمه واره کمیټه کښې د دی قسم کمزوری خلک نه وي. دیو یداس او نورو لیډرانو دکلاس مراعات پرښوول اود. سی. کلاس خوراک ته کښښناستل ماته به خپل ځان د پر بلد ښکاریده چه زما سره دیو مقصد ملګری یو شان ګډران کوی او زه بل شان. لیکن زما د ملګرو د اکثریت د فیصلی نه مجبور وم. بعضی لیډران ناجوره شول خو دیو یداس د خاطره یتریدی نه شول رای صاحب حیران شو چه دا څه چل وشو. په اخبارا تو کښې دایجی تیشن پرا پیګنډه شروع شوه اخر داچه رای صاحب حکومت ته ولیکل چه ماته اجازت راکړئ چه زه د دی ایجی تیشن سره غنه د دی چل نه بدل کړم. حکومت اجازه ور کړه او د تولونه اول یې دیو یداس او ورپسې یې د اکتر سیف الدین کچلو بدل کړل او یوکس نیم یې نور هم بدل کړل د دوی په بدلیدو نور خلک کمزوری شول او ورو ورو د سپرټ تلپاتې نت په ترغیب سره ځینو واپس کلاسونه واخیستل. اول کښې خو خلک هغوی ته د پر په قهر شول لیکن ورو ورو د هغوی ملګری زیاتیدل، صرف دهی کسان پاتې شول او نورو کلاس واخستو او دغسی دغه ایجی تیشن ختم شو. سیاسی قید یا نوله په کار دی چه هر یو قدم پخپل خیال وچتوي او نور څوک مجبور وی نه مجبور کسان چه رو به مومی نو د میدان نه بیا تښتی.

بعضی وخت زمونږ سیاسی ورونه په معمولی معمولی خبرو باندی ایجی تیشن

(c) ketabton.com: The Digital Library

شروع کړي. او ځان په یولوی مصیبت کښې واچوي . مونږ چه جیلخانه کښې وو زمونږ کښونوته بریې ځنځیرونه اچول چه هسې نه څوک داکښونه د جیلخانې دیوال ته ونلګوي او وتښتي ، نو زمونږ ورونو په دې ایجی ټیشن شروع کړه ماورته ډیر ووې چه دا ځنځیر خو مونږ ته نه اچوي کټ ته یې اچوي خو چا زما خبره ونه منله او مونږ په یولوی مصیبت کښې اخته شو . زه په جیلخانو کښې په معمولی خبرو ایجی ټیشن نه منم او په کار دی چه ایجی ټیشن په جیلخانو کښې ونه کړو او که داسې لویه اهمه او سیاسی خبره وي نو که په هغې باندې ایجی ټیشن کوئ نو باک نلري . زمونږ د جیلخانې سپرنټنډنټ راې صاحب یو ډیر عجیبه سړی وو چه هغه نه یه معلومه شوه چه یو سړی په دې جیلخانه کښې خوشحاله دی بدلیدل نه غواړي نو هغه بریې بدلوو او چه چا به ورته وې چه ما بدل کړه نو هغه بریې نه بدلولو مانه بریې همیشه داپو بښتنه کوله چه دې جیلخانه کښې خو سیاسی قیدیانو نه ډیر ارام دی دا جیلخانه به ښه خوښه وي نو ما به ورته وی چه زه دلته خوښ نه یم نو زه یې نه بدلولم لیکن احمد شاه حکیم عبدالرحیم صاحب او لعل باچا چه د دوی دا جیلخانه ډیره خوښه وه او بدلیدل یې نه غوښتل هغوی یې بدل کړل او دنورو خلکو د بدلیدو تجویزونه یې کول چه دکاندهی جی او د حکومت د صلحې خبرې شروع شوې نو په دې وجه خلک دلته پاتې شول .

او څه وخت چه دکاندهی جی اولاړه اړون صلح وشوه نو د اې کلاس بندیان یې فوراً رهاکړل . زه هم د اې کلاس قیدي وم خو زه یې بریې نه ښودم ما د سپرنټنډنټ نه پوښتنه وکړه چه زه خو هم د اې کلاس قیدي یم نو هغه راته وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه ستا متعلق ماته حکم راغلی دی چه دی ترهغه وخته پوری مه پریږده چه تر کومه وخته پوری دې سړ فضل حسین او سر صاحبزاده عبدالقیوم دې لیدلی نه دی، لیکن ماورله صاف ځواب ورکړو چه ته حکومت ته ولیکه چه هغه وخت تېرشو زه هغوی سره لیدل نه غواړم او که داخلک راشی هم زه ددوی سره دهیڅ قسمه خبری کول نه غواړم ځکه چه په مونږ مصیبت ډنو دوی ماسره نه لیدل او اوس چه ارام راغی دوی ماسره لیدل غواړي ته یې خبر کړه چه نه راځی. بلکه ورځی میا جعفر شاه او عبدالله شاه راغلل تولی قصی یې راته وکړې چه حکومت تاپرلپسو نه غواړی اوهماتما کاندهی ته یې ستا په سر ډیری غلطی اوبی بنیادې خبری کړې دي او داخبره ده چه هماتما کاندهی مونږ رالیږلی یو چه ستا نه پوښتنه وکړو زه ددی په اوریدو ډیر حیران شوم ماوی چه سړی په یوجماعت کښی وی او یا ورسره ملګری وی دهغه خبره به څنګه نه منی او دهغه داصولونه به ولی انحراف کوي. بلکه داده چه ما اوریدلی دی، چه زمونږ لاټ صاحب سرسټوډ پیرس حکومت ته داخبره کړې ده چه په دی صوبه کښی مونږ دوه کسه ځائیدی نه شو یا به دی وی یا به زه یم.

رهایئ:

کاندهی جی زماد حاله زمونږ خلکو خبر کړی و اوخه خلک ورله تلی هم دو هماتما جی لاردادون له لاړو اوهغه ته ووی چه دی خو نهمونږ دکانګرس سړی دی ته یې ولی نه پریږدې داخوته د صلحې خلاف کار کوي هغه وزته ووی چه تا له داپښتانه دوکه درکوي پښتون اوعدم تشدد؟ ته خولږ سړی جلته لاړشه

(c) ketabton.com: The Digital Library

داخلک خو د تشدد نه ډک دي. کاندهی جی ورته اووئیل چه که ته باچاخان نه
پریږدی نو بیا زهونږ اوستا صلح ماته ده، نو زه یی پریښودم. عبدالاکبر
خان اوسرفرازخان زمانه وراندی رهاشوی ووخولاکلی ته تللی نه وواو
دګجرات په بنارکښی دیره وو چه زما د رهایی نه خبر شو تومالـه دجیل دروازی
له راغلل اوزه چه دجیل نه بهر کیدم نو په زرګونو هندوان، مسلمانان اوسکهان
راجمع شوی وو زه یی په موټر کښی کښینولم اوپه بنارکښی یی زما جلوس اوښکو
اوبیا یوه لویه جلسه وشوه ما دهغوی شکریه ادا کړه اویو مختصر تقریر می وکړو
چونکه ماته دلاهور د دوستانو له طرفه ډیر تار ونه اوتیلفونونه راغلي وو په دی
وجه زه لاهور ته لاړم په دغه وخت کښی زهونږ دجهیلم یو دوست د موټر سره
راورسید اومونږ اول جهیلم ته اوبیا لاهور ته روان شو. زه یی جهیلم ته په
زور روان کړم ولی چه مونږ دلاهور خلکو ته تیلفون کړی و لیکن چه څه وخت
جهیلم ته نزدې شو اوهغه ښځی اونر مو ولیدل چه زهونږ په انتظار کښی
دبنار نه بهر راوتلی وو اوولاړو، ما زړه کښی ووې چه که مونږ دلته راغلی نه
وای نو دی خلکو ته به ډیره صدمه رسیدلی وه. زمونږ جلوس په ټول بنارکښی وګرځیده
اوبیا واپس دجیل دوست ځای ته راغلو او دلاهور دتلو انتظام مو وکړ. لاهور ته
کاډی دشپې په یوه بجه تللو، لنډه داچه لږ څه ارام موهم ونه کړی شو تهیس لږ راغلو.

لاهور کښی زما استقبال:

سرفرازخان کلی ته رخصت شو اوزه اوعبدالاکبرخان لاهور ته روان
شو، مولانا ظفرعلی خان پنډت سنتانم سره د نورو دوستانو په تیس کښی ولاړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو سنتاغم ځای ته روان شو اغالعل باچا او علی کلخان هم دلته وو.
خان د پښور نه دلعل باچا د یوتلو د پاره راغلی و ولی چه هغه یو کال قید واو مونږ
ایندی خلاص شوی ولږ ساعت پس داخبر راغی چه پښځو په زنانه جیلخانه باندی
چه ولګوله او چه مسز جوتشی ماسره خبری کولی چه په دی کښی په منډه منډه
ی لور راغله او ورته یی ووی چه مودی راپاخه مورچه ولګیده مونږ تول
وتر و نو کښی زنانه جیل ته روان شو او چه څه وخت ورسیدو نو څه ګورو چه
ل مخکښی جنډ پښخه ده او پښځی تری چاپیره ناستی دی او قومی نظم وایی
ه په دی ده چه مسز اصف علی یی نه پریښوده، د دی د پاره نو رو پښځو وی
ونږ هم د دی ځای نه نه ځو چه تر څو دارها شوی نه ده. په دې وخت او موږ
ری او واپس راغلو. په واپسی کښی مو دهلکانو په جیلخانه کښی خپل خدایی
ګار مکرم خان د ترنا و شونګری سره د ملګرو ولیدو چه په بارک ختلی وو
ونږ ته یی اشاری کولی مونږ ورته ووی چه خفه کیږئ مه دی څو ورځو کښی
ص شئ دا زمونږ هغه هلکان وو چه د لاهور په شاهی قلعه کښی په پکټنګ قید
ی وو.

د جلوس وخت څلور بجی واو په څلورو بجو د کانګرس کارکنان راجمع شول
پاره خوځه د سولئ انتظام شوی و خو ما ووی چه زه په سولئ کښی نه ځم
س سره په پیاده ځم او دوی سره پیاده روان شوم. ځای په ځای مسلمانان
روان او سکهان زمونږ استقبال ته ولاړ و خلکو ته به یی په غاړه وکښی ګلونه
ی او د مسلمانانو او هندوانو له طرفه سپاسنامی راکیدی شوی او په یو ځای کښی

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو مسلمان ماله یوه لونگی، اویوه کوله هم راکړه اوهغه وی دتوپی په ځای
سر وه. مونږ سره په جلوس کښی د پری زنانه هم وې. زه د پرستری ش
لیکن چه د هغوی جوش اومینی ته به می وکتل نو موتر کښی نه کښینا ستم.
جلوس ختم شو او مونږ د جلسی ځای ته ورسیدو د جلسی ځای د خ
و په زرګونو بنځی، نر، هندوان، مسلمانان اوسکهان جمع شوی وو،
د شپی په کاډی کښی پیښور ته راتلو نو د لاهور کارکنانو ته موو وې چه د
دی خومره مختصر کړی هومره به ښه وي ما د سپاسنامې په ځواب کښی مخ
وکه او د سپاسنامی ځواب می ورکړو اوشکریه می اداکړه. دوی ته می تقریر
چه مونږ له بی غمه کښینا ستل نه دی په کار چه خومره کیدی شی هغومره ک
ولی چه داسوله نه ده بلکه التواده. زما به داکوشش وي چه دا ینده جنګ
یولک رضاکاران دعدم تشدد په اصولو تیار کړم. په دی سلسله کښی چه
څه موده پس د سودوم (ضلع مردان) په دوره لاړم نو هغوی ماته په م
سپاسنامه کښی اووئیل چه د یولک (۱۰۰۰۰۰) رضاکاره چه تالی لاهور ح
اعلان کړی دی ستادشان سره نه ښایی، د دی نه معلومیږه چه په هغه و
په پښتنو زلمو او ځوانانو کښی څه قسم جذبه وه. چه جلسه ختمه شوه دومره خ
چاپیره شو چه موتر ته مولاړه نه مونږه، خلکو نه موسوال وکړو چه مونږ له ا
کاډی به رانه لاړشی خلکو لاړه راکړه خو دهجوم په وجه د موتر یوه د روا
ماته شوه او دیل ته په وخت ورسیدو، ریل کښی سواره شو
روان شو ملایانو چه د سحر بانګونه وې مونږ راولپنډی ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ی په تیسن د انقلاب زنده بادچغی وې زه ولیږم خوملامی خوبده
ې ی نه شوم چه اخرمی د سیتی صاحب اواز واورېد ونو پوه شوم چه د اخلک
ونږ له راغلي دي . سیتی صاحب مونږ سره د ګجرات په جبل کښی قید و او
ښه سهې و اودپیکور و باتینګنو اوچنوجورولو د پرماهرو او داځیزونه به یې
ل نومونږ له به یې راکول په د پرو خوارو را پاځیدم او د ریل نه ورکوز شوم مونږ
ې و هغوی د پرخوشحاله شو او راته کلک شول چه مونږ سره به کوزېږئ په د پرو
ونو تری خلاص شوم چه پیښور کښی به راته خلک په انتظار وی او ورته می وویې
ې به راشم . نور خاته کیمبل پورته را ورسېدو ، زه د پاځیدونه وم چه په دی کښی یو
ای خدمتګار زما کوټی ته را وخت ، د هغه په لیدو خوشحاله شوم او ازمی ورته
ه هغه په ټوپونوشو او بهر یې منډه کړه نور ملګری یې خبر کړل په دی کښی ګورم
د میاعیسی زرین خان دیوخوکسانو سره راغی او راترغاړه شول معلومه شوه
دوی هم د پرو د جبل نه راخلاص شوی دي . د دوی په لیدو زه جوړ شوم
غه درد می بالکل ورک شو .

مونږ ټول په یوه د به کښی کښېناستو او یولوی کپ مو ولګولو کاډی روان
او د نوښار په تیسن و د ریدو باور دئ خدایی خدمتګار سره د نورو خلکو
ونږ په انتظار کښی ولاړ وو ، د د بی نه وتل راته مناسب ښکاره نه شو ما وې
ی نه چه د ریل روان شی نو د خپلی د بی په دروازه کښی و د ریدم او یوځوخبری
دوی ته وکړی او کاډی روان شو او پیښور له ورسېدو تیسن له د پرخلک راغلی
مونږ د کاډی نه کوز شو خلکو سره مو روغ جوړ وکړل بهر موټرونه ولاړ وو زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبد الاکبر خان او میا احمد شاه په یو موټر کښې کښېناستو او لعل باچا او علي کل خان
بل موټر کښې کښېناستل زمونږ جلوس په ټول بنار کښې وګرځېد و او دهغې نه
مونږ کلي ته روان شوځکه چه هلته هم د پر خلک زمونږ په انتظار کښې وو. مو
چه دناقې تانې ته راورسېدو نو کوم ځای چه زه ګرفتار شوی وم په هغه ځای
دروازه جوړه وه او د داود زو د تخته بادی خان عبد الاحد خان او نور خلک زمو
استقبال ته ولاړ وو مونږ يې دموټر نه کوز کړو. خلکو سره مو روغ جوړ وکړل او دیو مخت
تقریر نه پس رخصت شو ځای په ځای خلک ولاړ وو اخر د اچه مونږ چارسدی
ورسېدو دلته په زرګونو خلک جمع وو دلته مونږ دموټر نه کوز يدل مناسب ونه ګ
ما، میا احمد شاه او عبد الاکبر خان دموټر نه تقریر ونه وکړل او اتمانزو ته روا
شو په زرګونو خلک مونږ سره روان شو څه وخت چه د اتمانزو مقبرې ته ورسې
نو مونږ موټرونه کوز شو او دهغو شهیدانو زیارتونو له لاړو چه لږ يې وړځی وړا
د پیر ټکیانو په کولو د اتمانزو په جلسه کښې شهیدان شوي وو. دا واقعه داسی وه
دلته اتمانزو کښې خدایی خدمتګارو جلسه کوله په هغې پسې فوج راغی او توپې چا پې
شوورته يې وویل چه جلسه مه کوئ او ځئ ولی دوی نه تللو نو ډنډی يې پرې وکړ
دوه کسان پکښې شهیدان شول او نور خلک تښتیدل. زمونږ جلسو ته به د پرې
زنانه هم راتللې، هغو زنانو کښې یوه جنۍ وه چه زما خورزه وه، دل ادانوم يې و
د رب نواز خان سالار اعظم خور وه. هغه د زنانه ونه راوړله او جلسې طرف ته يې
راوښوده کوم خلک چه تښتیدل هغوی کښې یوسه، ورته وویل چه یه جنۍ
دا ته څه کوې؟ نه وینې چه دا ډزې کېږي دی ورته وویل چه بې غیرتو تاسو تښت

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوزه مخامخ پری ورځم ددی جنبی په وینا دا ټول خلک ور واپس شول او د
ع نه چا پیره شول تو د فوج افسر تپوس وکړو چه د اخلک څه غواړی ، سعد الله خان
نه وویل چه دوی ستاتلاشی اخلی چه تاسو د دوی مړی دځان سره یونه سئ په
ی خبره نوجیان د خلکو د منځه ووتل اولاړل ، هلته ما د شهید انو په یاد کښی یو
تصر تقریر وکړو او خلکو ته می ووی چه د آزادی بوټی د ځوانانو د وینو په اوبه خوږ
ږ ي او کوم بوټی چه مونږ لګولي دي امید دی چه د پر زر به لوی شی ولی چه مونږ
انو ورله د خپلو وینو اوبه خور ورکړو . د دې ځایه مونږ جلوس مات کړو او عبد الاکبر
ی خپل کلی ته اومیا احمد شاه خپل کلی ته لاړل . زه سره د خپلو مهربانانو حجرې له
م ، کور هم زنانه و نه ډک و د هغوی لید ولا هم لاړم ، اکثر دوستان زمانه رخصت شول
ی زه په ارام نه شوم ولی چه څوک به تلل او څوک به راتلل ، څه وخت چه به د پر خلک
ع شول نو د اک ته به راوو تو او تولو ته به می یو تقریر وکړو . په دې کښی به د پیر
ی هم راغلی وې ز مونږ په زنانه وکښی هم د پر جوش و او سیاسی شعور پیدا
ی و . مونږ چه د خلکو دې جوش و خروش ته وکتل نو پوه شو چه مخکه تیاره
او د کړو خت دی ددی موقع نه فایده اخیستل په کار دی ځکه چه زما د اطمینان
چه دا عارضی سوله به پایداره پاتی شی نو په لپښتنو کښی موکار شروع کړو
پسی او وړځی ته به مونه کتل دوی لپسی کلی په کلی ، کور په کور په توله صوبه کښی
ځپلدم ټول می د دنیا په حالا تو پوه کړل نو تسلی می وشوه ، ماله خدای د پر
نګری راکړی او جیلخانو کښی یې د پر سنه تربیت حاصل کړی وځکه چه جیلخانه
ی کار کنانو د پاره یوه تربیت ګاه ده . زمونږ د تنګی صاحب حق صاحب

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پر مخلص خدایی خدمتګارو ، ده سره چه به چا بخت کولو نو ده به و

وویې چه ته جبلخانی له دقام او ملک دپاره تلی یې نو چه هغه

به ورته وویی چه نه نو ده به ورته وویې چه ته په قرآن

نه پوهیږې . زه چه جبلخانی له لاړم نو په

قرآن پوه شوم نه مونږ دکار طریقه

داوه چه د صوبې دیو

سر نه

به شروع شو

نوبل سره ته به موځان

د سولو . مونږ په ټوله صوبه کښې او

د صوبې په ټولو ضلعو کښې یو شان کارکړی دی

خو چه په کومو علاقه کښې به خدایی خدمتګاران پیدا

شول نو په هغو علاقو کښې به تحریک

هم ترقی کړی وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

کانډهی اړون پیکټ
(زمونږ دوري او تجربې)

دوری

(هشنغر، دواوه)

کتوزی، د کانګرس جلسه کراچی کښی

د خدایی خدمتګارو (سرخپوشو) بنه اثر، کراچی کښی مصروفیت، د هندوستان
، وطن ته واپسی او دسرحد دوره (تل، هنګو، لاچی، احمدی باندوه، زرکی، لتمبر، بنو
ی نورنګ، ګکی، پیرو، شهباز خیل، دیره اسماعیل خان، تانک، کلاچی، کمل ارام، کوهل، پنیاله)
د پنجاب پښتنی علاقوته (کیمبلپور، میانوالی، عیسی خیل وغیره) زمونږ کار
او د پرنګیانو سازشونه، د کانګرس په ځای سرحد جرګه، کانډهی جی
په بلنه بار دولی ته، دیوی داس سره دوره
(بمبی، ګجرات، احمداباد)
بابره کښی، رامه، کمزوری ملګری، پرنګیانو تشدد زیات کړو
دیوی داس کانډهی سرحد کښی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوړې:

څه وړځی زه دخلکو نه پېر ناوخ کاره وم لیکن کوم وخت چې خلک کم شو
بیازه اومیاجعفرشاه اوعبدالله شاه په لویه دوده ووتو. موټوکښی مودصوابۍ
دوره وکړه اوشپې له زیارت کا کا صاحب له لاړو ځای په ځای زړکونه خلک
ته ستړی مه شی له ولاړوو. پښتنو کښی ورورولي، قاموسي مینه محبت
شعور پیدا شوی و، خلکو کښی داسی جوش وچه بیان یې کولی نه شم. دنو
په جلسه کښی مالاخلکو یوه سړه جوبه راکړه اودراکولو په وخت کښی یې راته وو
دا یادولره چه داجوبه زمونږ په وینو سره ده چه زمونږ مظلومان درنه هیرنه
په مونږ ناوخته شو اوزیارت له ناوخته ورسیدو، خدایی خدمتګار غږیا
مخې له راغلی وو اوترهغې ولاړوو. چه مونږ ورورسیدو. زمونږ په ورتلو
خوشحاله شو اومونږ دفخر قوم میاحمید کل صاحب ځای له لاړو، چونکه فخ
میا صاحب وفات شوی وُ هغه دخپل قام اوملک دپاره دپېړی قربانی کړې وې
دی وجه مونږ دهغه لاس نیوی له دتولونه اول لاړو، سیاله مونږ زیارت کښې
وکړه، چه جلسه ختمه شوه نوبیا کلی ته واپس راروان شو. بیاما دهشتغر اودوا
دوره شروع کړه اوخلکوته می دخدایی خدمتګارو اوجړګو اغراض، مقاصد
کړل اوهغوی می دخدایی خدمتګارۍ په تحریک پوه کړل. زه په دې پېړخو
شوم چه دهرکلی په جلسه کښی دپېړی ښځی شریکیدلی لیکن چه دتنګی په جلسه ک
می دښځو زوړ ولیدو نوزړه می باغ باغ شو خکه چه زما داعقیده وه چه یو قوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترقی کولی شی چه دهغوی سره ښځی اوښه په اوښه لکه دکاډی د دویمی پایی روانی
شی، د الله تعالی شکر می اداکړه چه زمونږ خواری ځای ونیوه اوچه زمونږ زنانه
را بیداری شوې نو دپرامید ونه می پیدا شول چه که خیروی اوس به زمونږ قام
ترقی وکړی. د تنکی نه اباز وته لاړو، د اباز ونه قطب ته یو وروکی کلی دی چه هغه
کښی دپرمختلص خدایی خدمتګار اوسیږي په دی خدایی خدمتګارو د اباز و
کاکاخیل، میاکانو دپرظلمونه دپیرنګیانو په وخت کښی کړي وو ورته یې وئیل
چه خدایی خدمتګاری پریږدئ، لیکن د اباز و، کاکاخیل، میاکان په دې
نادره اراده کښی کامیاب نه شول اوزمونږ بهادرانو خدایی خدمتګارانو ته
د قوم او د ملک د خدمت په لاره کښی چه څه مشکلات اوڅه تکلیفونه د دی
میاکانو دلا سه رسیدلی وو هغه یې په دپرصبر او استقلال برداشت کړي و.
له دې ځایه دواوې ته پوری وتو دکتوزو خلک مونږ له مخی له راغلي وو دا د دوا-
وې مرکز هم و. دلته دپرخلک جمع وو، جلسه موکړه اوخلک مو د خدایی -
خدمتګارئ داغراضونه خبر کړل. شپې له متی له لاړو هلته موهم جلسه وکړه
د متی نه سبا دختی سره د خدایی خدمتګارو سیکو دپرئ ته لاړو په لاره چه څوک
خبر یدل دکومونه به زمونږ دلیدو له پاره راوتل او دې جلوس کښی به شریکیدل
چه دپرئ ته ارسیدونو زمونږ شمیر زرګونو ته رسیدلی و په دپرئ کښی چه جلسه
وشوه د جلسې نه پس مو دبری دواوی خلک رخصت کړل او مونږ شپې له انبا-
دپرله راغلو د دی ځای خلک په خدایی خدمتګارئ کښی سست وو د دې
د پاره په جلسه کښی ما ښځوته اپیل وکړه او ورته می ووی چه دا ملک څنګله د سنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی دغسی دښځوهم دی اوکه سړی خدایی خدمتګاری نه تیارنه وي نوتاسو ما
وتړئ اوتاسوخوهم ماسره وعده کړی وه : «دکه د زلمونه پوره نه شوه ـ فخ
افغانه جینکی به دې کتینه » دهغی قولی جلسی په مخکښی هغوویل چه مونږ به تا
تیاری یو اوستاسره دقام دخدمت وعده کوو چه څه وخت دجلسی نه فارغه شو ز
سره دیوځای خدایی خدمتګارو دولت پوری نه لاړم اودماښام لمونځ می هلته وکړ
او خلکوسره می دغه خبری وکړی . شپی له انبا ډیر نه واپس راغلو ، سبا له سه
کړه راغلو هلته موجلسه وکړه اوترناوته راپوری وتو اوچه ترناوکښی جلسه وشو
نوشپی له اتمانزو له راغلو .

دکانګرس جلسه کراچی کښی :

چونکه دقول هندوستان دکانګرس دجلسی ورځی نږدی وی نوپه دې وجه
نوری دوری پریښوی اودجلسی دپاره موردتللو انتظام شروع کړو زما داخیال و
دهری علاقی جرګه دې یوبوځای خدایی خدمتګار دکانګرس جلسی له مونږ سره ولیږی
اودډوی خرڅ دې خپلی خپلی جرګی برداشت کړی دی کښی دوه فایدی وی یوه
خو به خدایی خدمتګار په دی سفرکښی تجربه کاریشی ، بل به زمونږ پرا پیګنډه په
قول هندوستان کښی وشی . زما داتجویز جرګی منظورکړو اودهرځای نه جرګو یوبو
خدایی خدمتګار باوردی راولیږلو . په اتمانزوکښی یوځورځی جرنیل عظمت خان
چه ډیرقابل اوهمتناک جرنیل و دوی له تدبینګ ورکړو دقولو دپاره یو شان وردی
جوړی شوې اوبیاکراچی له روان شوچه څه وخت پیښور نه ورسیدو نوخدایی
خدمتګارو ډیره پراپیګنډه اوجلوسونه کړی وو اوپه دی طریقه دخپل مقصد

(c) ketabton.com: The Digital Library

عت کړی و ، شپږ خلوینت باوردی خدایی خدمتګار وو زه اوحاجی عبدالغفار
ن ، مقصودجان ، عبدالله شاه اوسعدالله پری دپاسه وو .

دخدایی خدمتګارو (سرخپوشو) سپنه اثر:

دخدایی خدمتګارو کمانډر مونږ سره ریشاه مقرر کړو اوخزانچی اومنتظم
مقصودجان شو ، مازیګر په ریل کښی سواره شو دا کاډی نیغ کراچی ته تللو تیسن
تیسن چه به کاډی ودریدلو نومونږ به کاډی نه راکوز شو او دجلوس په صورت
کښی به راروان شو ، دول اوسنا به غږ پدل اوچه خلکو به واورپدل نو خلک به
جمع شول . نومونږ به خپله پرانیستلې کوله ، سحروختی لاهورته ورسیدو دلته
دی بلدلیدو . لاهورکښی دپرزیات خلک تیسن له زمونږ لیدو ته راغلی وو .
خدایی خدمتګار سره دخپل بیم باجی په قطارکښی روان شو یوه عجیبه نظاره وه
خلکو دومره اثروشوچه زمایودوست ووی چه : ستاسو ددی ننۍ مظاهری
معلومیږی داسی لکه چه نن دپیرنګیانو حکومت لنشته ، بلکه دخدایی خدمتګارو
کومت وی . بیا په ریل کښی کښیناستو اوریل روان شو او دانقلاب زنده باد په
سره کښی دخلکونه رخصت شو . چه یوځو تیسنه مخکښی لاړونو په تیسن یوی
ښځی اویوسړی مانه سوال وکړو چه مونږ له اجازت راکړه چه مونږ دې خدایی
خدمتګارو سره په یو ډبه کښی کښینو ، ماورته وې چه هلته ځای نشته تاسو به
تکلیف وئ لیکن دهغوی دډیرمحبت اواصرار په وجه ماهغوی له اجازت
رکړو ، وروسته معلومه شوه چه داسړی دبهګت سنګه پلار و اودوه ورځی شوی
وی چه حکومت بهګت سنګه پانسی کړی و اوداښځه دجلندر دجنکو دمدرسی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشرې استاذه وه ، د بهګت سنګه د پلار په مخکښې هغوی ته مناسب ونه ګڼل چې د ولونه او باجي وغږوي لیکن هغه په غږ ولو باندې مجبوره کړل هغه دې چې زما زوی د قوم او ملک د پاره قربان شوی دی هغه مړینه دې ژوندی دی ، په دې وجه مونږ له خوشحالي کول په کار دي او په ټوله لاري په دوی د ولونه وغږول بلله داچې هغه استاذه د هره زوره قومي ښځه وه . هغې د پرې قومي غزلي خدایي خدمتګاره ته یادې کړې او قومي نظمونه يې ورته ولیکل او وښودل او دوی سره به يې پخپله هم یوځای ویل . زمونږ خدایي خدمتګار به په هر یو ټیسن چې کاږي و در پلاو نو دوی به کوز شو او په یولاین کښې به جوړه جوړه روان شو ، د ول سړي به ورسره غږ بدل او دوی به انقلاب زنده باد ، فخر افغان زنده باد چغې وهلې ، د ټیسن ټول خلک به ورسره روان شو ، دوی ته به د پرخوشحالیدل او د پر عجیبه کار ورته ښکاریدلو .

کراچۍ کښې مصروفیت :

هرکله چې د کراچۍ ټیسن ته ورسیدو نو د پر خلک مونږ له ټیسن له راغلی وو ، عبد الخالق خلیق صاحب هم سره د یوځو نورو پښتنو د غلته موجود و . د کراچۍ د پرلپسې نه راغلی وو خو د ټیسن نه بهر ولاړ وو ، مونږ چې کاږي نه کوز شو او خدایي خدمتګار خپله وردۍ برابره کړه د بهارت سبها یو څو ځوانان چې سره کمیسونه يې اغوستي وو او په هغوی کښې د پښتو د یوان روشن لال هم ومالګه راغلل چې دا د ولونه ښه کړه ما تږي پوښتنه وکړه چې په څه سبب ؟ دوی ماته دا ووې چې بهګت سنګه پانسي شوی دی ، ما ورته ووې چې تاسو به په بهګت سنګه د پرخفه یئ که د هغه پلار ؟ د هغه پلار خو زمونږ سره په ریل کښې یو ځای راغی ، خدایي خدمتګار د ولونه او باجي نه غږول

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه په زور په دوی وغږول او مونږ ته دهغه حکم دی چه د ډولونه به غږ وئ حکه چه هغه والی چه بهګت سنګه د قوم او ملک نه ځان قربان کړی دی هغه مړ نه دی ژوندی دی نو دا د خوشحالی مقام دی هغه په دی تلیسن موجود دی تاسو ترې پوښتنه وکړئ که چیرې دهغه رضا نه وی نو مونږ به د ډولونه بند کړو.

مونږ چه د تلیسن نه دا وو تونو په زړ کونو خلک مونږ ته ولاړوو د پښتنو د طرف نه خلیق صاحب مونږ ته سپاسنامه پیش کړه دهغې په ځواب کښې مایو مختصر تقریر وکړه او دهغوی شکریه یې ادا کړه. د پښتنو دا خیال وچه مونږ پیاده د جلوس په شکل کښې د وی سره د کانګرس تر پنډال پورې لاړشو لیکن مونږ ته چا ووې چه مهاتما کاندهی جلوسونه بند کړی دي، په دې وجه مونږ په لاړو کښې سواره شوا و دهغوی خواهش مو پوره نه کړی شو او خپل عذر مو ورته پیش کړه خو هغوی په دی خبره خفه شول.

څه وخت چه مونږ د کانګرس پنډال ته ورسیدو نو د کانګرس په پنډال کښې شور شو او د رضا کارو د تیارئ د پاره سیټی (شپیلی) وغږ یدې لیکن چه دا ورته معلومه شوه چه دا خو خدایی خدمتګار دي نو په قلار شو. حقیقت دا و چه څه وخت کاندهی جی راتلونو تلیسن له ورله د بهارت سبها سور کمیسی ځوانان تللی وو او تودی جنډی یې ورله مخې له ورې وې او د پرې ګستاخانه خبرې یې هم ورته کړې وې نو چه څه وخت مونږ سنګاره شو نو زمونږ ورد ئ سره یې وې نو چا دا اواز وکړه چه هغه دی سور کمیسی راغلل او د کانګرس په پنډال حمله کوی. د هندوستان او انګلستان په اخبارونو کښې دا غلط خبرونه شایع شول چه سره خبو شو کاندهی جی له تودی جنډی ورې وې او هغوی د کانګرس نه بغاوت وکړه. د انګلستان اخبار اتو پرې لوی لوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مضمونونه ولیکل او دپری خوشحالی یې وکړې خو دروغو مزل لله وی او تر هغه وخته پوری وی چه رښتیا ښکاره شوی نه وی. مونږ یې دکانګرس پر خاص کیمپ له بوتلو هلته لوی لوی تنبوان پرې ټکیدلي وو. په هغه کیمپ کښې خو د پر تنبوان ووخوما دخان او دخدایی خدمتګارو دپاره پنځه تنبوان کافی وګڼل او په هغو کښې موخپلې بسترې خوړې کړې. مونږ لا دمه شوی نه وو چه د اخبارونو خبر لوښی راغلل او دګاندهی جی او دخدایی خدمتګارو دمخالفت سوالونه یې شروع کړل ماورته ووې چه دا تولی خبری غلطې او بې بنیاده پراپیګنډه ده زمونږ ګاندهی جی سره او کانګرس سره هیڅ قسم مخالفت نشته او اخبار تو کښې چه څه شایع شوي دي هغه کښې یوه ذره رښتیا نشته، تول خبرونه غلط او بې بنیاده دي. ما زیګر د پنډت مونږ موهن مالویه جی زوی راغی او هغه زماته د دې متعلق یولوی بیان ولیکلو او هغه یې دهندوستان تولو اخبارانو ته ولیږلو.

دهندوستان ښځی، نر، دخدایی خدمتګارو اوزما دلیدو د پاره خواهشمند وو او هر وخت به زمونږ په کیمپ کښې یو غوبل و او زړګونو خلک به زمونږ کتو له راتلل ولی چه هغوی ته خو پښتانه دځنا ور په ډنګ ښکاره شوی نه وو او دلته دا انسانیت او قومیت په اوچته پوړی ولاړ وو. د پښتنو متعلق په تول هندوستان کښې دې غلط پراپیګنډه شوی وه او دوی ورته متشدده خلک ښکاریدل خو اوس د کانګرس سره اوږه په اوږه د عدم تشدد په لاره روان وو او د پیرنګیانو جبر وظلم ته یې په صبر او استقامت خپلې سینې ډال کړې دي. دوی ته پښتانه او کانګرس سره ملګرتیا د پره عجیبه ښکاریده چه دوی پښتانه خدایی خدمتګار

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخپلو ستر کو ولیدل د دوی د عمل، د دوی د تنظیم، د دوی د اخلاص او د دوی د عدم تشدد نه خبر شول نو ستر کی یې وغریدې او تسلی یې وشوه او چې څومره پرا پیکنډی د دوی برخلاف شوی وې هغه یې دماغزونه وتلی. قسم قسم خلک به مالرآتلل او قسم قسم سوالونه به یې کول. مابه چې څومره زمانه کیدې شوه پوهول. د خدای پرشکر گذاره یم چې کوم خیالات دمودونه زمونږ خلاف د دی خلکو به زړونو کښې پیدا کړې شوي وو د هغوی تر دې حده پورې اصلاح او ازاله وشوه. بله داچه دلته د کانګرس دې جلسې له د تول هندوستان خلک راغلی وو، هغه تول د حقیقت نه خبر شول. خدای خدمتګار چې به څه وخت د کانګرس لنګر له د دوی خورلو د پاره لاړل نو لوی لوی سیتمان به لاس په نامه د دوی خدمت ته ولاړوو او هر سړی به د دې کوشش کولو چې د خدایی خدمتګار و سره شریک شم او هر طرف ته چې به خدایی خدمتګار لاړل نو خلکو به یې د پرعزت کولو او څه وخت چې د کانګرس دا سالانه جلسه شروع کیدله، نو په دغه افتتاحی اجلاس کښې د شرکت د پاره کاندهی جی، جواهرلال نهرو او سردار پټیل خدایی خدمتګار و لپسې را اولیږل چې سړه د بینډ باجو په دغه غونډه کښې حصه واخلی. جواهرلال نهرو او دهغه بې بې کملا دیوی او خور بې بې سړه د خپلو دوستانو د خدایی خدمتګار و پریږدل او باجې لیدو او اوریدو له به راتلل په تول ملک کښې د خدایی خدمتګار و یو درز و اوزمونږ د خدایی خدمتګار و په وجه د پښتنو د نیک نامۍ د پرلوبه پرا پیکنډه وشوه او هغه د بدنامۍ داغ د دوی د تندی نه وویښلی شو او د دوی په وجه خلکو پښتانه وپیژندل او هغوی سړې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه پیدا شوه .

دکانګرس په جلسه اوپنډال کښې خدایی خدمتګار دوته ازادی وه
ځای له تلی اوګرځیدی شول یا هغه پښتون وچه قول هندوستان کښې به
خلکو ستړکی پټولې او دا کوقاتل ورته ښکاریده او یا داساعت دی چه دکانګرس او قوم
دوی دومره اعتبار پیدا شوچه دخپلو زنانو انتظام او حفاظت یې خدایی خدمتګار
ته حواله کړو بلکه داچه دا کار د پرګران و نه دا انتظام پولیس کولی شواونه دکانګرس
رضاکارانو کولی شو خو دی خدایی خدمتګارو داسی په ښه طریقه سره وکړو چه د
انتظام او دسپلین ته دنیا حیرانه شوه اونور خلک خو پرې ده ، د پولیس یولوی افسر
چه دلته دانتظام د پاره لګیدلی و دخدایی خدمتګارو کمانډر اعظمت خان ته یا
ټوپی کوزه کړه اولاس یې ورکړو او دده شکریه یې ادا کړه . اوچه څه وخت به عظمت خان
ښکاره شونو د پولیس مقامی افسرانو به ورته سلامونه کول او دخدایی خدمتګارو
علاوه چه پولیس له به یې څه قسم حکم ورکړو هغوی به یې تعمیل کولو . ددی هم په کانګرس
اوتول هندوستان د پرښه اثر وشو .

کراچی کښې د پرښتانه اباد دی چه د روزګار د پاره تلی دی . دهغوی دا
هش و چه خدایی خدمتګار وله میلمستیا وکړی او ددی د پاره یې روپی هم جمع
کړی وی دهغوی یو څو مشران دخلیق صاحب سره زمونږ کیمپ له راغلل اوماته یې
خپله اراده ظاهره کړه ما ددوی دمحبت او اخلاص د پره شکریه ادا کړه او د
عرض می ورته وکړو چه تاسو خو زمونږ ورونه یئ مونږ ستاسو خدمتګار یو مونږ
ته په د رتلو کښې هیڅ عذر نشته اوچه څه وخت تاسو غواړئ مونږ به درشو خو دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ی اتفاق نشسته پښتون دومره غریب دی چه دده پیسی په دودونکول په کار
دی . هغوی وویې چه مونږ چنده جمع کړی ده نو ماورته وویې چه دپخی دودی
خای دوی له اومه دودی ورکړئ هغه به په څه فایده راشی هغوی ما سره په
ی اتفاق وکړه . بله ورځ مونږ هلته لاړو ، تولو پښتنو سره مولید ل کتل وشود
اچی نور خلک هم راجمع شوی وو هغوی ماله یوه سپاسنامه راکړه او دوه نیم سوه
پی یې راته پیش کړې ما د هغوی شکریه اداکړه او دسپاسنامی خوابی تقریر
وکړه او روپی می دخدایی خدمتګارو د پاره منظورکړې .

په کراچی کښی د جمعیة العلماء هند سالانه جلسه وه ، مولانا احمد سعید صاحب
هم ماته یوخط ولیکلو ، مولانا احمد سعید صاحب ناظم اوصدر صاحب مولانا کفایت الله
مونږ سره دګجرات په جبلخانه کښی یوځای اوسیدلی وو او زمونږ وړه د پرسنه
لقات جوړشوی وو چه کله دی شی نو خدایی خدمتګاردی دجلسی په ورځ
مونږ سره شرکت وکړی چه مونږ سره امداد وکړی او مونږ له یې هم دعوتی خطونه
ولیږل ، مونږ په دیره خوشحالی سره د دوی دعوت منظورکړو او خدایی خدمتګار
د هغوی خدمت اوامداد د پاره ورولیږل اوزه هم د هغوی جلسه کښی شریک
شوم . دخدایی خدمتګارو دانتظام اوخدمت نه هغوی تول د پرخوشحاله وو
ماته یې د هغوی دانتظام د پر تعریف وکړو .

دهندوستان دوره :

دکانګرس جلسه ختم شوه او دجلسی دختمیدونه پس مونږ په دوه ځایه تقسیم
شویوه دله دحاجی عبدالغفار ، میاعبدالله شاه او سعدالله خان سره د هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایی خدمتګارو چه هغوی واپس تلل غوښتل، اوبله ډله زماسره وه چه مونږ
ټول هندوستان کښې ګرځیدل غوښتل اوخپله پرایښې ده موکوله. زمونږ اوا
کلی ته روانه شوه اودادو یمه زه اومقصود جان دخدایی خدمتګارو سره دکا
دمسلمانانو په اصرار بمبئی ته روان شو. مونږ مابنام داوبو په جهاز کښې سوار
د پرلپښتانه اودکراچي خلک زمونږ رخصت کړل وله راغلی وو مونږ چه څه وه
خپل سامان سمبال کړو نو بیا ټول په یو قطار کښې ودریدو او دجهاز نه موباج
د ولونه وهل شروع کړل په بند کښې پښتنو شاډله واچوله اوهغه پر پیشکوي
کړه چه دجهاز ټول پیرنګیان او مسلمانه ددوی تماشی ته ودریدل لاندی یو پیر
په جوش کښې راغلو، سره جنده ورسره وه میدان ته یې راوډکل لیکن یو پولیس را
راغی اوهغه یې ددوی نه وښکلو یو عجیبه کیفیت اوعجیبه نندارې وه چه په دې کښې
جهاز روان شواولږ ساعت پس د بند دهغه ټول خلک زمونږ د نظر نه غیب ش
بلکه ورځ مونږ بمبئی ته ورسیدو دلته په زرګونو خلک زمونږ استقبال له راغلي وو ولی
په اخبارا تو کښې زمونږ لویه پرایښې ده شوې وه په کوم بند کښې چه خلک جمع شوي
زمونږ جهاز یې هلته ونه درولو بلکه دهغه نه کوز په یو بل بند رکاه کښې یې مونږ کو
لیکن په یو ساعت کښې هغه خلک هلته راورسیدل، زمونږ یې یولوی جلوس په
کښې وویستو اوخه وخت چه مونږ د کانګرس دفتر ته ورسیدو نو جلوس ختم شو
بیا مونږ دارام دپاره چه کوم ځای زمونږ دپاره مقرر و هلته لاړو، په بمبئی کښې
زمونږ دپره لویه پرایښې ده وشوه، ځای په ځای موجلسی وکړې اوبله داچه زه
به ورتلو په مسلمانانو هم څه اثر وشو. خو په پیرنګیانو باندی مبږ ی لګیا شواو زمو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ف یې دا پرانیستلې وه په مسلمانانو کښې شروع کړه چې د اخلک هندوانو په دې غرض
ستې دي چې جماعتونه مره د ولکې او باجې وغیره وي چې سباله مسلمانانو ته د هندوانو
د ولکو او باجو څخه اعتراض نه وي. د هندوستان په مسلمانانو کښې دومره سیاسي
شعور نشته چې څومره په هندوانو کښې دی. سیاسي شعور په یو قوم کښې داسمانه نه
ځي او چې په کومه قومونو کښې د سیاسي شعور خلک پیدا شي نو خپل قوم پسې وکړي
وي کښې سیاسي شعور پیدا کړي مسلمانان د پېرښه قوم دی خو په هغوی کښې داسې
ک تراوسه پورې پیدا شوي نه دي. تاسې د هندوانو، مسلمانانو د پېرانو
فکر وکړئ د هندوانو مشران اولیدران قوم پرست دی خو د مسلمانانو مشران
یدران خان صاحبان او خان صاحبان وي، دوی چې څه غواړي خان
غواړي یا پېرنګي له غواړي، د دې غریبانانو څوک غمخور نشته او څکه دوی د
ل وانو نه وروسته پاتې شول.

د پادسې قوم له طرفه مونږ ته یوه سپاسنامه هم راکړې شوه، په جلسه کښې په
کونو نښې، نر، شریک شوی وو، ما د پېرۍ شکریې نه پس د خدایي خدمتګارئ
رورت او حقیقت ښکاره کړه او ما ورته وویل چې دا تحریک په دې غرض شروع
وی دی چې مظلوم د ظالم د ظلم نه خلاص کړي او هر څوک چې په دنیا کښې ظالم
ی که مسلمان وي که هندو وي او که پېرنګي وي دوی همیشه د هغوی مخالفت
و د پاره تیار وي. خدای ته خو د خدمت ضرورت نشته، د خدای خدمت د
خلقو د مخلوق خدمت دی.

د بمبیې نه پس دهلی له راغلو، دلته هم زمونږ استقبال له په زرګونو خلک راغلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو. زمونږ د میلمستیا انتظام جمعیة العلماء هند کړی و، مونږ هلته لاړو ا
ارام موو کړو او مازیګر یې زمونږ جلوس په ښار کښې وګرځولو، هندوانو او مس
نانوچه د کومې مینې او اخلاص مظاهره وکړه دهغه به درته څه ذکر کوم په تولا
زمونږ په جلوس خلکو ګلونه نوستل او ځای په ځای سپاسنامې راکړې شوې
مابنام جلوس ختم شو د جلسې په ځای کښې ښځې اونږ دمانشو اوسپږو په شا
راجمع شوي وو، ما په جلسه کښې دشکریې نه پس یو تقریر وکړو چه امید دی چه
ستاسو د زړونو نه هغه شکونه اووهمونه اوس لیرې شوی وي چه کوم ستاسو
زړونو کښې د پښتنو خلاف د بدمنانو پیدا کړي وو او په دې تقریر کښې مې د پ یلی
د ښځو د بهادرۍ او قربانۍ چه کومې هغوی د ازادۍ په دې تحریک کښې کړې
وې تعریف وکړه او دامې ووې چه د کوم قوم ښځې چه پیدا دې شي او د ملک
ازادۍ د پاره ملا وتړې نو هغه قوم څوک غلام ساتلی نه شي او هغه قوم
به د پر زرخیل منزل ته ورسیږي.

جلسه په دې ډول کامیابی سره ختمه شوه او مونږ تیسن نه لاړو او په ریل
کاډۍ کښې سواره شو لږ ساعت پس کاندهی جی هم سره د یو څو تنو خپلو ملګ
په دې کاډۍ کښې یو ځای امرتسر ته روان شو په هر تیسن کښې به د کاندهی ج
دلیدو د پاره خلک راغلی وو، دومره شور او غوغا وه چه مونږ ترې خوب کو
نه شو اونه کاندهی جی اوده کیدی شو اوځه وخت چه زمونږ کاډۍ سهارنیو
ته ورسیده نو هلته د پر خلک راجمع شوی وو هغوی ته مونږ خبر نه وکړو خو د
د جلسې اعلان هم کړی و او په زرګونو ښځې، نر، نیمه شپه تیسن سره نزدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ په انتظار کښې ولاړ وو ګاندهي جي خو بالکل د کوزپدو نه انکار وکړو دهغه
پس هندوان، مسلمانان ماله راغلل اوماته يې د پرمنت وکړو چه ډګوره په
ی نیمه شپه کښې څومره منځئ، نر راجمع شوي دي نو که چيرې ته هم مونږ سره
وزنه شوې، نو دا خلک به د پرمايوسه شي اوراته يې ووې چه يوه ګپنته پس بل
دی راځي. نوزه د دوی د خوشحالی له پاره د سره کوز شوم. مونږ چه د جلسې
ام ته ورسيدو نو زمونږ د پاره د سنبارنه بهر خلک زمونږ په انتظار کښې
ست وو ما په دی خپل زړه کښې ووې که چيرې زه هم دوی سره راغلی نه وای
د دوی زړه ونړته به څومره صدمه رسيدلی وه. ز ما په راتلو يې هم څه ناڅه
ملی وشوه، يو خو خبری می د تقرير په شکل وکړې، وخت راسره نه وبيا تری
پس تيسن ته راغلو چه په دی کښې هغه ريل راغی او په هغه کښې مونږ سوار شو. رای-
ده هنسراج چه د جلند رو اوما سره د ګجرات په جيلخانه کښې يو ځای قيدو او د پر
سره وو اوچه کله به د ده ملاقات و نو مونږ له د پری غوږی زيږی د ده کور والو-
ورلې. ز ما د پرا شنا و او مونږ سره يې د پر سنه تعلقات وو. ما د ده سره د کوزپدو
عده کړې وه اوزمونږ ارا ده وه چه جلند رکښې به کوزپږو د ده سره به د مه کوو بيا به
ې ګاډی کښې امرتسر له لاړشو چه څه وخت زمونږ ګاډی لودياني ته راورسيدو
هغه خلک زمونږ ته خبر شوي وو، منځئ، نر، تيسن له راغلي وو او د اکوشش يې
ولوچه مونږ سره دلته کوز شي مونږ يې په دې مجبوره کړو چه د جلند رنه واپس
د ياني له راځئ نو عده مو د سره وکړه نو هلته تر ې مونږ خلاص شو او بيا هم
سره يوه منځنه په ګاډی کښې جلند رته ورسيده نو لا له هنسراج او د هغه تبر او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاندان او ورسره نور د پرخلک تپسن له راغلي وو او دهغه هم مونږ سره امر
ته د تللو اراده وه چه تپسن کښې داسې غوښتل چه پرشوچه زابه يې درته څه ووايم.
بعضې خدايي خدمتګار کاډې کښې پاتې شوا وخته ما سره کوز شو خوخپل سامان
يې کوز نه کړې شو مونږ جلند درته لاړو هلته مود جنګو سکول وکتو زګونو خلکو ته مې
يو مختصر تقرير وکړو او بيا واپس لودياني ته روان شو مونږ يوه لارۍ کښې د لاره
هنسراج سره لودياني ته لاړلو د ښار نه بهر د پرخلک ولاړوو د پروخت مونږ په
کشمکش او جلوسونو کښې ضايع کړو او د دلته مولويه عظيم الشانه جلسه کړه خو ريل کاډې
رانه لاړلو. د دې ځای مسلمانانو خدايي خدمتګارو له د لارې انتظام وکړو او له
دې ځايه مونږ په لارۍ کښې امرتسر ته روان شو، ما زګيږ درسيدو، په بازارونو
کښې خلکو مونږ سره د پره مينه کوله چه دوی به زمونږ د لارې نه چاپيره شوا خر په
د پرو خوارو هغه ځای ته درسيدو چه کوم ځای کاندهي جي کوز شوی و معلومه شوه
چه کاندهي جي ته هم خلکو په تپسن د پر تکليف ورکړې وا و هغه ناجوړه هم و زه
د هغه ليدو له لاړم هغه مخ سره ترلی وو او په د پر تکليف کښې و. ما هغه خپل قول
د قيد ملګری که هندوان وو که مسلمانان وو که سکهان وو چه څوک ما سره ګجرات
په جيل کښې اشنا شوی وو ولیدل. زما طبيعت هم ناسازه و په دې وجه ما مناسب
وګڼل چه د سکهانو ورونو نه اجازت واخلو او کلي ته لاړشو.

وطن ته واپسی:

هغوی نه مې په پرزور رخصت واخيستو. ماوې زه ناجوړيم هيڅ هم
نه شم کولی اوتاسومی پاتې کوئ نوزه به زيات ناجوړه شم هغوی رضا شوا وما

(c) ketabton.com: The Digital Library

ي رخصت راکړي اومونږ دشپې په ډاک کاپي کښې را روان شو سحر
وختي نوښار ته راورسيدو او چې کوم خدايي خدمتګار ددې ځای وو هغوی
سو رخصت کړل اومونږ مردان ته روان شو، د مردان تيښن له په زرګونو خلک
راغلی وو، مونږ هغوی سره هوتی مردان ته لاړو دکلپانې په غاړه ديوی لوی
جلسی انتظام شوی وو چې جلسه ختمه شوه نو بياطور ومايا روته لاړو هلته هم د دوارو کلو
خلک راجمع شوي وو جلسه مو وکړه خلکو ته مو د دوری تول حال ووې اوبيا
مونږ ه واپس انا نزو ته راغلو۔

يوخو د ډيرې ارام وکړو اوچې سبا شوم نو د صوبه سرحد د دوری اراده می
وکړه چې په دې کښې: کوهاټ، بنو، د پيرۀ اسماعيل خان، د کميتو له طرفه
د عوتو نه هم راغلي وو، زه د تل اوهنګو په دوره روان شوم په دوره کښې ما سره
د مانګا نو بانډی د قاری صاحب زوی هم تلی ؤ هغه د پير خوش اوازه وقومی
ټلمونه به يې ويل چې: «د ستاله ميچنو، نه د پير يو اې سرکاره ولی مويږئ.»
دوی به په خلکو د پير سبا اثر کيدلو. په لاره کښې د درې تول اپريدی د رونه
خبر شوي وو زمونږ استقبال د پاره ځای په ځای ناست وو او د چای او۔
د دوی انتظام يې هم کړی ؤ، زمونږ د بنکاره کيدو سره دوی شروع شوې او
د پير خوشحاله شول، ما به د پير منع کول چې د دوی مه کوئ زما نظر به خو د عدم
تشدد ده خو هغوی خو آزاد خلک وو کله منع کيدل. ځای په ځای چې به دوی جمع وو
مونږ به د ورکوز شو او مختصر تقرير د نه به می د رته وکړل او د خدايي خدمتګاری په حقيقت
به می پوه کړل، د دې ځای نه اول تل اوبيا واپس هنګو ته لاړو او چې هلته مونږ خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تحریک ورو نه ولیدل او جلسی وشوې نو واپس د کوهاټ ښارله راغلو، د کوهاټ خلکو خو یولوی نمایش کړې ؤ خو د باران په وجه رونق خراب شو، د جلوس نه پس مو جلسه وکړه او تقریر مو وکړو او خلکو ته مې د خدایی خدمتګارئ د جرګو جوړولو دعوت ورکړو چه سبا له بنوته روان شو په لاره کښې لاچی او احمدی بانډی، بانډۍ داؤد شاه کښې مو جلسی وکړې. بیا کرک ته لاړو هلته جلسه وشوه د زړې پیره تولې علاقه کښې وګرځیدو، واپسی کښې لتمبر ته راغلو او د محمد افضل خان ځای کښې مو جلسه وکړه کوهاټ کښې زمونږ د پرسنه کارکنان وو چه دوی کښې یو د زړکی عبدالغفار نومیدلو چه د قومی خدمت په لار کښې یې ځان قربان کړې ؤ، ده د خودکشئ په وخت کښې یو خط زما په نامه لیکلی پریښې وو، په هغې کښې یې لیکلی وو چه ما دیو خدایی خدمتګار په حیث تاسره دلوی خدای د وړاندی دالوظ کړې وو چه زه به د خدای د مخلوق خدمت د هغه د رضا د پاره کوم اوکه په دې لاره کښې هر قسم تکلیف او مصیبت په ما راځی نو زه به د هغې مقابله په عدم تشدد کوم. چونکه د مسلم لیګ په نامه د یوم خان حکومت دلته زمونږ د وهلو، ټکولو، قید ولو، مال تالا کولو، او جایداد ضبط کولو نه علاوه یوم په ۱۹ مې د زمونږ د کورونو او زنانو بې پردګی هم کوله نو زما پښتنی غیرت دا برداشت نه کړی شوه پکار خو دا وو چه ما تو پک د اخستی وی او د دې ظالمانو نه می خپل بدل اخیستی وی خو چونکه ما تاسره دالوظ کړی وو چه زه به په عدم تشدد پابند اوسم نو دې وجې نه زه [illegible] لوظ تینګ پاتې نه شوم.]

دې ضلع کښې تقریباً یولک خدایی خدمتګار وو. دلته دلتمبر د کلی خان د سر [illegible]

[illegible] خدایی خدمتګارانو [illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library

په غاړه مونږ ته د چا یو انتظام کړی و مونږ چای څکله چه زمونږ د بنو خدایی خدمتګار
راو د سپېل او مونږ و د سره په موټر کښی بنو ته روان شو، بنو والوهم مونږ د پاره د پر
نمایش کړی و ۱ او په بنار کښی زمونږ یو عظیم الشان جلوس و ښکو او په زرګونو خلک
یکښی شریک شول د پره ښه جلسه وشوه او د پر مخلوق و ډله راغلی وو. سالار یعقوب
خان او و یشوا متر د سه د پر کار کړی و، دلته د هند وانو او مسلمانانو اتفاق دوی
کړی و هلته می هم یو مختصر تقریر د خدایی خدمتګاری متعلق وکړو، د هغه ځایه
سبا له مونږ د پرو ته روان شو، میر اخیل کښی نور نګ اوسړی کښی موجلسه وکړه
لکی کښی موهم جلسه کړی وه. شهباز خیلو او پیزو کښی موجلسه وکړه، لکی مروت
لاډو کښی راتلل هلته موجلسی وکړې. د پرو ته نزدی مونږ د پاسو لپښتنو څه کلی
ولیدې او مونږ هغوی ته ودستانه شو، مونږ لا هغوی سره خبری کولی چه په دی
کښی یو موټر راغی او مونږ ته ډوډۍ چه زړ راځئ خلک د بنار نه بهر راوتي دي سخت
په انتظار کښی دي. مونږ هغوی سره روان شو او چه د د پرو بنار ته نزدې شو نو په
زرګونو خلک زمونږ په انتظار کښی ولاړ وو. زمونږ د موټرو په لیدو سره یی د انقلاب
او فخر افغان زنده باد نارې وډلې، بازارونه، سړکونه، دکانونه یی بند کړی وو
ځای په ځای دروازی د پری ښی جوړی شوی وې، زما په خیال دلته د پرلوی
لوی خلک راغلي وو، خو د اسی استقبال یی شوی نه ؤ زه یی په اس سور کړم او د جلوس
و راندی روان شوم، په زرګونو ښځی، نر، په دکانونو، بالاخانو او کوټو باندی
ولاړ وو. پیرنګیانو د پرکوشش کړی ؤ او په هند وانو یی د پرد باوونه کړی وو چه په
دی طریقه زما جلوس او استقبال و نه شی خو بالکل ناکامیا به شوی و. د ډیر جلوس

(c) ketabton.com: The Digital Library

تول انتظام هندوانو کړی وُ .

دپرهٔ اسماعیل خان کښې په دی ورځو کښې د قومی تحریک زور اوشو و.
د دی سنبار په چاپیره علاقو کښې هم تحریک په زور کښې و، تانک، کلاچي، کل امام کوټ
بازار اوپنیالہ کښې خلک په تحریک کښې په زور اوشور کښې شامل پدل. سنبار کښې د سرونه
علاوه دښځو اوورو هلکانو جلوسونه وتل. یوه ورځ د ښځو جلوس په بازار کښې
تېرېدلو هرکله چه دا جلوس د دې اکثر جنډه رام چوک ته ورسېد ونو دصوبه سرحد
انسپکټر جنرل پولیس ایس مانکر د جلوس د خوړلو حکم ورکړی وخو ښځو انکار
وکړه، جرنیل د ښځو په دی انکار دېر غصه شو او تمانچه یې راوښکله او چلوله یې
چه ناڅاپه یو زلمی سردار بهګوان سنګه د ده لاس ونیو او ورته یې وویې چه تاله
شرم نه درځی چه په ښځو تمانچه چلوې. د جرنیل صاحب لاس وړچېدو او تمانچه
توې ښکته پرېوته جرنیل صاحب وارخطا شو او بنګلی ته لاړ او تمانچه د له یو سپاهی
یوړه. د بهګوان سنګه د دی جرئت بدله په ۱۹۳۱ع کال کښې د فرقه وارانه فساد
نه پس واخیستی شوه او هغه دیوقتل د دروغو په مقدمه کښې ونښوی شو او دېر
مصیبتونه یې پرې تېرکړل اوچه ثبوت پرې پیدا نه شو نو پرې یې نبوده.

هندوانو ته حکومت دېر په قهر و اودغه وجه وه چه پینځه میاشتی پس یې
په هندوانو، مسلمانانو درواچول او کور کښې یې وځنګول اولوی فساد وشو، د
هندوانو مالونه یې پرې لوټ کړل، کورونه او بازارونه یې وسوزول او دېر هندوان
او مسلمانان قتل شول، او دلکهونو روپو نقصان وشو او د پنیالی برخان بهادر چه
هغه سره د ده پیتی کمشنر اوشیخ محبوب علی اسسټنټ دا صلاح ورکړه اودوه لاړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

یې هم ورکړی چې خپلو نوکرانو له سره وردی جوړی کړي او پوه یې کړي چې مونږ په ښار کښې فساد کول غواړو ، کوم وخت چې درته تیلیفون وکړم نو دغه دسره جامونو کرانو له تو پکې او تماچې ورکړه او ښار له یې دلوټ او اور نکولو د پاره فوراً را ورسوه ده هم دغسې وکړل . د پیرنکې د پټې کمښنز د اپالیسی وه چې یو خوا به هندوان ووهل شي لوټ به شي او بل خوا به سرخپوش خدایي خدمتګار بد نام شي او د دوی برخلاف به پراپیګنده په طور هندوستان کښې وکړو چې کانګرس هم په دوی بدګمانه او خفه شي او دوی له ځانه بیل کړي . دشپې یوه عظیم الشانه جلسه وشوه ما پکښې یو مختصر تقریر وکړو چې زه ستاسو د هندوانو او مسلمانانو په اتفاق د پرخوشحاله شوم او امید کوم چې تاسو به خپل د اتفاق دا اینده د پاره قایم او دایم وساتئ او د ملک د ازادۍ په لاره کښې به کافي حصه واخلئ . سبا له مونږ کلاچي له لاړو کلاچي کښې د کنډوه پود خانان او رمضان خان وغیره ټول مونږ سره ملګري شول دلته د خدایي خدمتګارو جرنیل کنور بهان نارنګ صاحب د روستو بیا سالار شو او د هغه ځای خلکو زمونږ ښه استقبال وکړو ، جلسه مو وکړه د خدایي خدمتګارۍ کښې خلک په د پرشوق داخل شول او جرګه مو هم جوړه کړه ، د کلاچي نه تانک ته لاړو او د تانک خو د پر زور ورپښتانه دی . د پرخلک په جلسه کښې شریک شول ، شپې له کل امام له لاړو ظفر خان د وی هم مونږ سره شامل شول ، دلته هم جلسه وشوه او د پرخلکو خپل نومونه خدایي خدمتګاری کښې ولیکل . له دی ځایه واپس بنوته لاړو ، بیا کوهاټ او پیښور ته واپس شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پنجاب د پښتنی علاقو دوره :

خدایی خدمتگار ځکه چه جوړه شوه نو مونږ ته ضلع کیمبلپور او ضلع میانوالی نږدې وې او پکښی زیاته اباد
زمود پښتنو ورونو وه او دا دواړه ضلعی مونږ سره لګیدلی دی . کیمبلپور د پښتو د پوښتنی کښی او میانوالی
د ډیره اسماعیل خان د پوښتنی کښی ووځه وخت چه تحریک شروع شو نو دا ضلعی یې زمونږ نه کټ کړې او
پنجاب سره یې کړې ، دا ضلعی زمونږ کاونډ کښی دي ، نو مونږ دې کښی هم دوری کول
غوښتل ، خو ضلع کیمبلپور ته حکومت نه پریښودلو تر دې چه زمونږ خپل وزارتونه جوړ شول
بیا هم چا نه پریښودو . یو ځل مونږ د وزارتونو په وخت کښی د کیمبلپور په دوره تللو خیال مو
دا و چه اوس خو قومي وزارتونه دي مونږ به پریږدي خو چه داتک نه پوري وتلو نو پلیس
سنګینو نه چرا و ولاړو مونږ ته یې سړک بند کړې وو مونږ ته یې ویل چه واپس شئ مخکښی
مو نه پریږدو ماورته وویل چه مونږ خو واپس نه ځو نو مونږ چه پوه شو چه دوی مو نه
پریږدي نو د لاړې نه کوز شو او د سړک په خوا کښی د غره څنګ ته کښینا ستو دې کښی
د پرو وخت تیر شو چه هغوی پوه شول چه دوی خو واپس نه ځي نو بیا یې لاړې را او ستلې
او په هغی کښی یې مونږ کښینولو او کیمبلپور طرف ته روان شو ولی د کیمبلپور په ځای
یې خوشحال کړته بوتلو دسین نه یې پورې کړو ضلع کوهاټ کښی یې پریښودو ، د غه
شان چه کله مایا خدایی خدمتگارو اراده کړې وه نو چا پریښی نه یو او مونږ نوالی ته به هم
کله نا کله ورغلو ، کیمبلپور کښی به د چچه علاقی ته کله نا کله ورتلو ، چه میانوالی ته به لاړو نو
په علاقو به کرځیدو و کالاباغ ته هم تللی یو د غلته کالاباغ سړه ډبخت په نمر خانه یو کلی
دی هغی ته هم ورغلی یو او هغه علاقی ته هم تللی یو چه پکښی د اوسپنو کان دی او بیا
د هغی نه به عیسی خیلو ته ورتلو یو ځل چه مونږ عیسی خیل ته لاړو نو د هغه ځای نواب

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلسه نه پریښوده خپلو نوکرانو ته یې لوی لوی دانګونه ورکړي وو چه څوک به جلسې ته راتلل هغوی به یې وهل ماداسې چل وکړو چه په بازار کښې روان شوم او په تلو تلو کښې مې خلکو ته خپل تقریر کولو سره ددې هم چه څوک به زما تقریر اوریدو ته راجمع شول نو هغه به یې په دانګونو وهل، لنډه دا چه زه یې جلسې څه چه خبرو ته هم پرې نه ښودم خو هلته یو هندو هغه مونږ میلمانه کړه او دهغه یو سړی د په هغې کښې یې زمونږ دپاره د دودۍ انتظام وکړه نواب صاحب هغه پسې جواب راولیږلو چه داسې مه پریږده او دسړی نه یې وباسه خو هغه د نواب صاحب خبره ونه منله او مونږ هلته په ارام شپه تیره کړه چه سبا له جمعه وه مونږ دافکر وکړو چه د جمعې لمانځه له خو به د علاقې د پرخلک راځی نو مونږ به هم لاړ شو، دوی سره به لمونځ کښې شریک شو او که موقع وه نو خبرې به وکړو خو چه سبا له مونږ جماعت له ورغلو نو د نواب صاحب د پانګ ماران د جماعت نه چا پیره ولاړ وو او چه جماعت ته ودننو تلو نو یو بنیادم پکښې نه وو خوشې پروت وو مونږ ته دا معلومه شوله چه د نواب صاحب داسې ددې دپاره ولاړ وو چه د هغوی داخیال وو چه سبا له به دوی د جمعې لمونځ د پاره راځی نو زمونږ نه مخکښې یې دا بنډ وبست کړی وو چه جماعت ته دکلی او علاقې څوک رانه شی نو ځکه داسې یې د درولی وو چه څوک راځی نو هغوی د جماعت نه منع کوي. چه مونږ په دې پوه شو چه دې علاقه کښې موکار نه ته څوک نه پریږدي نو واپس شو.

یو ځل زمونږ د مردان یو خدایی خدمتګار جرنیل شاه ولی خان د څو تنو نورو خدایی خدمتګارو سره د کیمبلپور د ضلع د پنډۍ کهیپ تحصیل ته تللی وو هلته دوی په جلوس کښې روان وو، جرنیل صاحب د رانډۍ روان و جنډه یې پاسو کښې نیولی وه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور خدایی خدمتگار ورپسی ووچه دوی د دوست محمد صوبیدار کورته نزدی شول نو نوهغه او دهغه زوی غلام محمد ورته مخه ونیوله او په جرنیل صاحب یی په توپک وزاوکړه چه هغه شهید شو او بیا یی نور خدایی خدمتگار په برچو وډهل او په جلوس یی کاڼی وودول او جلوس یی تس نس کړه او جلسه خوړه شوه. زمونږ دپنجاب روښانه زمانه کیله کوی چه ته پښتنو ته کار کوی، زه ورته وایم چه زمونږ دا تحریک خو خدایی مخلوق دخدمت دپاره دی او مونږ خو کوشش کړی دی چه دهرچا خدمت اوکړو ولی زه څرخلی ډهغلی یم خوچا ستاسو خدمت ته پری اینبی نه یم.

ددې نه پس بیا څه وخت چه پیر ټکیانو اعلان وکړه چه دا ملک مونږ پریږدو نو یو ځل بیا زه میانوالی ته لاړم او په داؤد خیلو کښی یوه لویه جلسه وشوه. د میانوالی پښتانه نیازیان دي چه دپرښه اوبهاد پښتانه دي. زمونږ جلسی ته په پرله پسې تعداد کښی په دپرشوق راغلي وو ما هغه جلسه کښی دوی ته تقریر وکړو دهغه تقریر یو څو خبری ماته یاددی زه یی تاسوته کوم ما ورته وویل چه ای ورونو! نن د قاموليو دنیا ده تاسی وینئ چه کومو قوموکښی قاموليو او وروروليو راغلی ده نو هغه آسمان ته وختل او اباد شول دا مونږ خوهم یو قوم یو نو دا مونږ ولې پاتې شو؟ دا مونږ ځکه پاتې شو چه مونږ کښی قاموليو، وروروليو مینه محبت او اتفاق نشته نو زه تاسو له ځکه راغلی یم چه تاسو زما قام یئ خو تاسو خپله ژبه پښتو نولی تمدن او تول څیزونه پرښی دي تردي چه لنګونه مو وهلي دي. دا هم ورته وایم چه یوه مرغۍ دسیل نه جدا شی نو هغه ورکه شی اوس دفیصلی وخت راغلی دی دا زما د قاموليو او غټو ولی فرض وو چه تاسو ته راشم او درنه تیوس وکړم چه تاسو به څه کوئ مونږ سره به ځئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

که پنجاب سره به څۍ مونږ خو پیرنکی جدا کړي وو چه پیرنکی څې نوتا سو به پنجاب
سره څۍ که مونږ سره به اوسیږي نو په هغوی کښی یو سړی را پاخیدو او هغه وویل
چه مونږ ستاسو دروند یو او پښتانیو اوتاسو سره به څو، مونږ به خپلو بچوته پښتو ښیو
بچوته څه چه مونږ پخپله هم پښتو زده کوو خوته به مونږ سره دا وعده کوې چه کم از کم
په شپږ و میاشتو کښی به یو ځل مونږ له راځې. زما او دهغوی وعده وشوه او جلسه
خوړه شوه، ملک آزاد شو، پاکستان جوړ شو خو مالاتر اوسه دهغوی سره دا وعده
پوره نه کړې شوه، ولی چه پاکستان جوړ شوی دی نو میا نوالی خو پیرنکی
کښی چا خدمت ته پریښی نه یم بلکه څومره موده چه پاکستان کښی وم نو لا به جیلخانه
کښی وم لا به کور نظر بند وم.

زمونږ کار او دپیرنکی سازشونه:

پیرنکیانو چه ولیده چه دا تحریک پښتنو کښی دځنګل دا ولړ په شان خوړیږي
نو دوی سره یره پیدا شوه او زمونږ دتحریک دتباهی کو ششونه یې شروع کړل
اول یې دپنجاب انګریزی اخبارانو کښی زمونږ بر خلاف دا پراپیګنډه شروع کړه
چه دا تحریک دکانګرس مخالف دی او په دې طریقه یې مونږ دکانګرس نه جدا
کولو او دکانګرس او دګاندهی جی امدادي را نه لیږی کولو، لیکن ما فوراً دمیا
احمد شاه او نورو ملګرو په سلا او مشوره یو اعلان وکړو چه دې حکومت
یوه غلطه پراپیګنډه زمونږ بر خلاف شروع کړې ده. مونږ دکانګرس ملګري یو
مونږ نه دکانګرس نه جدا یو او نه جدا کیږو، بلکه داچه دلاهور په اخبارانو کښی
چه دپیرنکیانو دا ترډلاندې وو، دا پراپیګنډه شروع کړه چه مالړ په بمبئ کښی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا پریښود و پاره شپیته زره روپۍ راکړی شوی وې حالانکه دا ټول دروغ وو ماخو په هندوستان کښې نه دچا نه چنده غوښتی ده اونه چا راکړې ده او نوری داسې طریقې یې هم اختیار کړې چه د قوم اوزما او اپریدو رونو په منځ غلط فهمی اوناچاقی پیدا کړي. لیکن دروغ درښتیا مقابله کولی نه شی:

«قل جاء الحق وذهق الباطل» یوه ورځی ما دلاهور په تیس د انقلاب اخبار ایډیټر ولیدو هغه زما اشنا هم و لیکن پیسه چه یو قوم ته خوږه شی نو هغه بیا اشنایی او دوستی ته نه کوري راغی اوماته یې راتر غاړه شو ماتری پوښتنه وکړه چه دا ستاکله اپریدو سره دومره اشنائی او ورورولی پیدا شوی ده هغه وخت دې دهغوی مدد نه کوو چه څه وخت پرې د پیرنګیانو دتوپو کړی وریدلی؟ اودامی ورته ووې چه دا ممکن کیدی شی چه دیو پنجابی دې دا پریدو سره زیاته همدردی وي؟ زما خپل قوم دی اوزه خو دهغوی خدمتګاریم، زدا ممکنه ده چه زمانه ستا هغوی سره زیاته همدردی وی؟ نو هغه راله ځواب راکړو چه چونکه تاسو کانګرس سره یئ اوزمونږ پالیسی د کانګرس خلاف ده نو په دی وجه مونږ ستا برخلاف شو او ستا خلاف لیکو. ما ورته ووې چه مونږ به اوس کانګرس پریږدو او مونږ خو تاسوله درغلی وو خو تاسو زمونږ هیڅ قسم امداد نه تیار نه وئ، حقیقت خو دادی چه تاسو مونږ کانګرس سره کړی یو که تاسو اوس هم مونږ سره ملګری کیږئ او د پیرنګیانو د زور ظلم نه موخلاص وئ نو تاسو سره کیږو. ده سنګی سنګته کړه او روان شو. اسلام خو دنیا ته د آزادی د پاره راغلی و او د مظلوم د ظالم نه د خلاصولو د پاره راغلی و لیکن نن د هندوستان مسلمانان به غلامی خوښ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي او د ظالم ملګري دي او بیا هم د اسلام دعویدار دي.

د کانګرس کمیټئ په ځای د سرحد جرګه:

زمونږ د اخیال وچه د صوبه سرحد «د کانګرس کمیټئ» نوم دی «جرګه» شی نو دا به ښه وی ولې چه زمونږ خلک په کانګرس نه پوهیږي او دا هم وچه مونږ خدایی خدمتګار د کانګرس سره ملګري وو او کانګرس کښی نه وو. او بله خبره دا هم وه چه د صوبه سرحد کانګرسیانو به زمونږ مخالفت کوو او مونږ سره یی کمک نه کولو نو ځکه مونږ غوښتل چه د کانګرس د کمیټئ نوم دې «جرګه» شی. مونږ د تولی صوبی کارکنان خدایی خدمتګار او د صوبی کانګرسیان د جرګی جوړولو د پاره راجمع شو او مونږ تولو په شریکه جرګه جوړه کړه د تولو کارکنانو د اخیال وچه زه دې صدر شم او صدارت دی منظور کړم ولی زه د دې د پاره نه وم تیار نو په دې وجه د صدارت د پاره دوه نومه پیش شو. د ښاغلی خلکو د علی کل خان نوم پیش کړو او مونږ د کلو خلکو د میا احمد شاه نوم پیش کړو. میا احمد شاه د رایی په اکثریت سره صدر مقرر شو، د جنرل سکرټری د پاره ما د پیر بخش وکیل د پیښور نوم پیش کړو او په اتفاق سره هغه منظور شو او کار مو شروع کړه، زمونږ کار ورځ په ورځ په ترقی وُ، زمونږ په خلکو کښی احساس جذبه او شعور پیدا شوی وُ او ورځ په ورځ په زیاتیدو وو خو حکومت زمونږ د تحریک ته کتنی نه شو او هیڅ وخت زمونږ د تحریک د بربادی نه قلا د نه واو په دی کوشش کښی وچه په څه چل زما د ورې او کلی په کلی ګرځیدل بند کړی، اخبارات و کښی یی زما برخلاف غلطی پراپیګنډا شروع کړی او ما تاجی ته یی هم زما متعلق دروغ ولیکل، لیکن

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهاتما جی ددوی ددروغو په دام کښی رانغی . ماچه څه وخت د کوهاټ ددودی
بیا اراده وکړه اوځه خدایی خدمتګاری هم دخان سره کړل نو د سرحد حکومت
والیسرای ته ولیکل چه د کوهاټ علاقه زمونږ د فوجی برتی مرکز دی اوکه چیری دده
پکښی دوره وکړه نو بیا به دا علاقه زمونږ د لاسه لاړه شي نو په کار دادی چه دی گرفتار
کړه شی . والیسرای مهاتما گاندهی ته ولیکل چه مونږ هغه گرفتار دو . مهاتما جی جواب
ورکړو که چیری هغه گرفتار وئ نو زمونږ اوستاسو چه کومه صلحه شوې ده هغه به
ماته شی . ماچه د کوهاټ دوره شروع کړه نو حکومت څلور افسران ما پسی مقرر
کړل یو د کوهاټ دپټی کمشنر بل پولیس کپتان ورسره د علاقی مجسټریټ او
بل دبار د پولیس یو پیرنګی چه هغه به دپڼسنه پینتو ویله چه کلی په کلی وګرځی او
خلک دې ته تیار کړی چه نه ما کلوته پریږ دی اونه ماته راجمع شی لیکن په دې هم
څه ونه شو مونږ چه به کوم کلی ته تلو دوې به زمونږ نه مخکښی تللې وو خلکوته به لې
وې چه کوئ هغه راروان دی چه کلی ته لې پرې نږ دئ خلکو به ورته وې چه دا
مونږ څنګه کولی شو تاسوې بند کړئ زمونږ کلوته لې مه راپریږ دئ بیا به لې ورته
وې چه خبری ورسره مه کوئ جلسی له مه ورځئ په یو کلی کښی زمونږ جلسه وه دوی
هم هغې جلسی له راغلل ما خلکوته تقریر کولو چه مونږ خدایی خدمتګاریوا و مونږ د خدای
دپاره د دی قام او ملک خدمت ته ملا تړلی ده ، دا ملک او دا قوم خوستاسو هم دی
تاسو کښی څوک شته چه مونږ سره په دې خدمت کښی شریک شی نو یو پاڅیدو چه
زما نوم ولیکئ بل پاڅیدو چه زما نوم ولیکه ، بل پاڅیدو چه زما توم ولیکه ، داد بار دی
پیرنګی ماته را نزدی شو او ماته لې ووې په دی خلکو دی څه چل کړی دی دا به

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ دیوسپاهی نه دومره یر پدل چه دهغه په مخکښی به یی کلمه نه شوه ویلی
اوس دادی مونږ ولاړ یو او د دوی په زړه کښی هیڅ وبره نشته ګلیادي
خپل نومونه د خدایی خدمتګارئ دپاره پیش کوي ماورته وویې چه داچل
پری مانه دی کړی ، داپری تاسو کړی دی داستاسو د ظلم نتیجه ده . یو مثل د چه تنګ
بجنګ آ
بیا مونږ بنوته لاړو لکی مروت او درسره نورو کلوکښی اوسړی نورنګ
کښی موجلسی وکړی ، جرګی موجوړی کړی ، اوخدایی خدمتګار برتی شو. دښو
شاوخوا تول کلی مووکتل جلسی موپکښی وکړی ، اوخلک مو د حقیقت نه خبردار
کړل بیاموهاتی خیلوکښی دیوی لویی جلسی انتظام وکړو اوپه هغه مقام موجلسه
وکړه چه کوم ځای چه په ۱۹۳۱ع کال کښی پیرنګیانو په یوه لویه جلسه ګولی چلولې وې او
د پرخلک شهید ان شوي وو او ګرفتار شوی وو او قید شوي وو . مونږ چه هاتی
خیلوته نزدی شو نومالم د پولیس یو افسر یوسل وخلور خلویښت دفعه (د قانون
یوسل وخلور خلویښتمه ماده) کښی نوټس راکړو چه هلته به نه ځې ماد هغه د تعمیل نه
انکار وکړو نو بیامی داخیال وکه ماوې که زه جلسی ته ځم نو جلسه به بنده کړی
نو بیامی دا فیصله وکړه چه خپل تول ملګری می هاتی خیلوته ولیږل اوزه لتمبرته
لاړم او د لتمبر د خان محمد افضل خان په حجره کښی اوده شوم . ما سبا مهمل افضل
خان سره زما د ملګرو د جلسې نه واپس راورسیدل حالات یی راته بیان کړل
چه د پره سنه جلسه وشوه اوخلکو په حکومت چه تړلی دی جلسی نه منع کړی ، لعنت او
ملامت وویې او بیا واپس کوهاټ ته راغلو او کومه علاقه چه د غلته زمونږ نه پاتی وه هلته مو
جلسی وکړی جرګی جوړې شوی اوخدایی خدمتګار جوړ شول .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کاندهی جی په بلنه باردولی ته تګ:

چه د کوهاټ سټار له راغلو نو خبر شو چه د پیښور نه خبر راغلی دی چه مهاتما جی غوښتی یم. لیکن په کوهاټ کښی صرف د هغو علاقه پاتی ده ماویل چه د کوهاټ دوره ختمه کړم نو بیا به لاړشم مونږ د هغو دوره وکړه خای په خای جرګی جوړی شوې نو بل استازی راپسی راغی چه ته کاندهی جی د پاره زر غوښتلی یی اولیکلی دی چه چه ټول کار ونه پریږده او فوراً باردولی ته راشه زمونږ کار تقریباً ختم شوی و. زه سبا سهار له پیښور ته لاړم او د پیښور نه باردولی ته روان شوم چه بهوپال ته ورسیدم نو د نواب صاحب اې. ډی. سی. شعیب قریشی صاحب چه زمونږ د خلافت ملګری و او د مولانا محمد علی جوهر زوم و ولاړو ماله راغی جوړ تازه موو کړل زما هم پیر مهربانه واو ماته یی ووې چه راځه سفر کښی به ستړی شوی یی او نواب صاحب وایی چه لږ ارام وکړئ او بیګاله به دهغه میلمه یې ماوړته ووې چه هلته به کاندهی جی زما انتظار کوی د نواب صاحب شکریه او په واپسی کښی به د دوشم خو هغه پری نه ښودم نو زه و د سره دریل نه راکوز شوم او د سره روان شوم چه مهمان خانې ته ورسیدم نو شوکت علی صاحب هم هلته موجود و او په سبا له نواب صاحب راته ووې چه تاسو د سره والیسرای له بوزو هغه سره به دې لیده کاته وشی او چه ته څه غواړې هغه به درکړي باردولی ته مه ځه. خو ما دهغوی دې خبری سره اتفاق ونه کړو هغوی په ما ډیر زور واچوو خو کار ونه شو سبا له تری زه رخصت شوم او باردولی ته روان شوم تیسن له سردار پټیل او دیوی داس راغلی وو. تیسن ته نزدی د باردولی اشرم ؤ داد کاندهی جی اشرم دی او دې کښی همیشه او سیږ. کاندهی جی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره می ملاقات وشو څه خبري موو شوې کړې وه او زه سفر هم په تهر په کلاس کښې
کوم. وې لمبل او جامې می بدلې کړې چه ما زنګیر شو نو کاندهی جی سره هوا خوری له
روان شوم. سی. آی. ډی یو مسلمان انسپکټر زمونږ د خبرو اوربل ودپاره
مونږ پسې روان وخو چه څه وخت ورته زمونږ فکر شو نو شرمنده شو او واپس شو
کاندهی جی ما سره دسرحد بحث څه لږ ډیر په ورځ کښې یو ځل کولو، لیکن داخبره
یې لا راته کړې نه وه چه د حکومت په شکایت می راابللی یې. یوه ورځې یو مسلمان پټیل
(نمبردار) زما د میلمستیا د پاره راغی او کاندهی جی ته یې وویې چه که ته اجازه کوې
نو سبا له به دې زما میلمه شې هغه په ډیره خوشحالۍ اجازت ورکړو او د تلو په وخت
کښې ورته وویې چه په ده باندې ښې غوښې وخوره. دلته خو مونږ په دالونو سر
کړو هغه زه چیل کورته بوتلم د هغه ډیر ښکلی کور او هغه ډیر په ښه حالت کښې و
ډیر محبتی سړی و د هغه هغه اخلاص او محبت به زانه هیر نه شی.

دیوی داس سره دوره:

دیوی داس کاندهی د کاندهی جی په مشوره د بار دولی دوره د باندې شروع کړه
او څومره اسانه مونږ چه دلته وو هغه ټول یې راوښودل. د دې اشرمونو (تربیت کاه)
هغه ساده زندګی زما ډیره خوښه شوه تر دې پورې یې په ما اثر وکړو چه زما هم دا
خیال پیدا شو چه د خدایی خدمتګار و د تربیت د پاره به زه هم داسې اشرمونه جوړوم
د دې ځای خلکو د ازادۍ په جنګ کښې ډیره قربانی ورکړې وه او تر اوسه پورې
د ډیرو خلکو جایداد ونه چه لیلام شوي دي هغه لا هغسې د نورو خلکو په قبضه کښې
دي. دلته د مسلمانانو او هندوانو تعلقات هم ډیر ښه وو او د حکومت په ډیرو کوششونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دباوونو هم مسلمانانو دهند وانو مخکی اخیستی نه وي او که څه ناڅه يې اخیستی وي هغه يې هم واپس کړي وي ما چه کوم کوم ځای تقریرونه وکړل هغه داس ووچه مسلمانانو دا ملک دهند واو مسلمان دواړو دی او ددی دازادی دپاره تاسو دواړو له اتفاق په کار دی اوکه په چاکښی داهمت نه وي چه دازادی په جنګ کښی حصه واخلی نو دومره خو ورله په کار دی چه دازادی په جنګ کښی چه دچا مخکی اوما لونه لیلا میږي چه هغه وانخلی اوکه چیرې چا اخیستی وي نو مناسب دادی چه وس يې ورته پریږدي . مسلمانانو ته می ووې چه ویښ شئ که چیرې او ده پاتی شوئ نو دا کوم انقلاب چه راروان دی دې کښی به لاهوشئ ؟ انقلاب سیلاب دی او همیشه اوده قومونه وړي او ویښ اباد وی تاسو ویښ شئ او منظم شئ او دانقلاب نه کته واخلئ .

څه وخت پس جواهر لال هم دلته راغی او بیا مونږ تول سره د کاندهی جی بمبئی له لاړو او د بمبئی نه بیازه کاندهی جی او دیوی داس گجرات له راغواو دلته کاندهی جی دیوبل نوی اشرم بنیاد کښېښود . دلته نزدی د مسلمانانو هم یوه عربی مدرسه وه چه هغوی زمانه خبر شو ما پسی راغلل اوزه او دیوی داس ورسره د هغی مدرسی کتوله لاړو . په دې مدرسه کښی د پرلپښتانه طالبان هم وو د هغوی په لیدو د پرخوشحالی شوم او د پرې خبری می ورسره وکړې . د مدرسی مقام او احاطه د پرې ښکلې وه تول طالبان او استاذان محبتیان وو او ما سره يې د پرې د محبته د کې خبری وکړې د طالبانو په اصرار ما هغوی ته مختصر تقریر وکړو او ورته می ووې چه زه تن د پرخوشحالیم چه ستاسو سره می ملاقات وشو ځکه چه زما ستاسونه د پرتوقعات دي که تاسو د دنیا تاریخ وګورئ نو قومونه د طالبانو د قربانو په ذریعه ازاد شوي دي . دیویداس

(c) ketabton.com: The Digital Library

یی هم مجبور کړو هغه هم ورته یو مختصر تقریر وکړو بیا ببرته راغلو او کاندهی جی سره یو
ځای شو بیلونږ مدراس ته لاړو او خواوشا په توله علاقه کښی وګرځیدو. زما د پری
ورځی وشوی او دامی خواهش وچه واپس لاړی خو کاندهی جی زه نه پریښودم او
پوهولم یی هم نه او ما سره به یی د سرحد متعلق خبری کولی او بیا به یی حکومت سره خط
وکتابت کوو چه په دی کښی ما په اخبارا تو کښی ولیدل چه دمیا احمد شاه او عبدالاکبر خان
او علی گلخان وپیر بخش دوی په مینځ کښی جګړه پیدا شوې ده او دله بازی جوړه شوې
ده او جګړه ځایه شوې ده. د دې په لیدو زه خفه شوم ولې چه زما د دله
بازو او نفاق نه د پره کرکه کیږی او زما دا یقین دی چه کوم قوم کښی نفاق او دلبدی
هغه خپل منزل ته رسیدی نه شی اونن چه مونږ غلامان یو د دې وجه نفاق دی او
پرې جنبې دی ما کاندهی جی ته خپله اراده ظاهره کړه چه زما په غیر حاضری کښی
دا واقعات پیدا شوي دي ماله تلل په کار دی نو کاندهی جی پس له دې نه دوایسرای
تولی قصی راوکړی. ما ورته ووې چه دا ټول دروغ دي ته وایسرای ته ولیکه چه دا ټول
بی زما برخلاف د دروغو پراپیګنډ دی او که ستا یقین نه کیږی نو مونږ به هم درشو
او هغه خلک ته راوغواړه چه تاله چا دا ډیری درکړی دی چه ریښتینولی (سپیناوی)
ورسره وکړم. هغه تماجی زما د دې تجویز سره اتفاق وکړو چه زه به ورته ولیکم چه ته
منصف شه ایی هم وایسرای ته ولیکل چه لاړه اړون ما باندی د پره تاکید کړی وچه
تاضرور سرحد ته لاړشه نو که ته ماله اجازه راکوې نو زه به هم سرحد ته لاړشم. د وایسرای
نه دا جواب راغی چه ستاسو د ټولو ضرورت نشته دی او نه زه دا مناسب ګڼم چه په
دی وخت کښی ته سرحد ته لاړشی نو کاندهی جی ماته وویل چه زه پوه شوم ته چه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یی ، پرنګیان دانه غواړی نه خُه خپل کارکوه او بیایی دیویداس نه ووې چه دی احمد
آبادله بوخُه او دهغه خای هغه اشرم ورته وښیه او دهغه خای خلک چه هلته دي هغه
ورته وښیه . زه او دیویداس احمدابادله روان شوا وچه هلته ورسیدو نوخورشید
بهن سره موبه قیمس ملاقات وشوا و دری ورځې هغه اشرم له لاړو .

د احمدآباد ډیر مزیدار او ښکلی اشرم دی او ډیر عجیبه خای کښتی دی او
دیولوی خورپه غاړه اباد دی تول اشرم کښې دیویداس ډکر زاهد د اشرم نر
ښځی زمانه چاپیره شول اوماسره یی ډیره مینه محبت ښکاره کړه ماښام چه زه خُه
وخت دلمونځ نه فارغ شوم نو دوی تول ماله راغلل او دسرحد متعلق یی ماته سوالونه
شروع کړل چه د بعضی سوالونو په اوریدو به زه حیران شوم ولی چه دهغو به هیڅ بنیاد
نه و هغه به صرف زمونږ د بد نامولو پراپیکنده وه . دخورشید بهن د اخواهش وچه
احمدابادته نزدې یولیښتون پیر دی او دهغه ډیر مریدان دي او ډیر رسوخ لري
نوکه چیرې هغه مونږ سره ملګری شی نو دهغه په ذریعه مونږ ډیر څه کولی شو ماسره
هغه پیرله لاړشه ماورته ووې چه زما خو هیڅ انکار نشته خو دا کار د دی قسم خلکو نه د
اونه یی د دی قسم خلک کولی شی زه دی قسم خلکو پسی ډیر کم خُپل لی یم . دیویداس هم
زما د خبرې تائید وکړو نو پس له هغه یی هغه خبره پریښوده . ماسره د دوې ډیرې خبرې
وشوې اوزمانه یی ډیر تیږ سونه وکړل اوماسره دخورشید بهن د ډیرې مبحث صباحتی نه پس
یی داخیال پیدا شو چه زه ستاسره سرحد له خُم اومونږ چه څه وخت واپس کاندهی جی
له روان شو نو دا هم راسره روانه شوه او کاندهی جی ته یی ووې که چیرې ته ماله اجازت
راکوې نوزه دخدمت د پاره سرحد له خُم نو هغه اجازه ورکړه او ورته یی د اووې چه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې خبره سوچ عمود او فکر وکړه . احمد آباد باندې شپږ سوه کاله مسلمانانو حکومت
کړې دی دلته د مسلمانانو د پېړۍ ښې ښې ابادۍ دي مونږ هغه د پخوانو بادشاهانو آبادۍ
وکتې دلته د پېړۍ کارخانې دی چه کپړې پکښې جوړېږي هغه موهم ولیدی او بل پکښې دهند
والو یونیورسټي قومي کالج دی چه هغه ته « وډ یاپت » وایي دهغه لیدو له هم لاړو وډ یاپت والو
نه مبلغه کړم او یوه شپه مې ورسره وکړه ، دا د پرنسټکلی کالج دی او د پرنسټکلی ابادۍ ده
دی کالج د پوزبات قوم پرست هلکان پیدا کړي او روزلي دي او هغوی دهند وستان
دازادۍ د پاره د پېړۍ قربانی ورکړي دي چه څه وخت ما وډ یاپت کالج کتلو نو یو هلک مې
ولیدو چه زور ور د انډیا ټي وهلو ما تپوس وکړو چه داڅوک دی هغوی وې چه دا د
کاندهي جي نومې دی . په کالج کښې هلکان نه وو د تحقیق نه راته معلومه شوه چه هغه
ټول ټن په ټکران کښې خواره شوي دی او کلي په کلي ګرځي نو زه پوه شوم چه دا په پنجاب
قومي کالج دی او پخپلو طالبانو کښې یې قومي جذبه پیدا کړې ده او دا دوی له چه دا کوم تعلیم
ورکېدی شی دا پښتنې تعلیم دی .

په احمد اباد کښې د پرلپښتانه دي هغوی سره مې هم لیدو کاته وشو هغوی
ې هم د خدایي خدمتګاری په حقیقت پوه کړل په اخری ورځ د احمد اباد د هندوانو
مسلمانانو یوه لویه جلسه وشوه په زرګونو ښځې ، نر ، پکښې شریک شول ، هغوی ته مې مختصر
تقریر وکړو د هغوی د هغې مینې محبت شکریه مې اداکړه او ورته مې ووې چه مونږ یوه
ډې ورورولي جوړه کړې ده چه د هغه نوم خدایي خدمتګاری ده خدایي ته خو خدمت
ضرورت نشته د خدای خدمت د خدای د مخلوق خدمت دی او مونږ که هندوان
ي او که مسلمانان یو د خدای مخلوق یو د بنمنانو دیوبل نه جدا کړی یو خو په حقیقت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښې یو یو. جلسه ختمه شوه او مونږ واپس کاندهی جی له راغلو. کاندهی جی الله دوالیسرای
لارډ ولنګډن خواب راغلی و زما په لیدو په خندا شو چه ته بالکل ریښتینی یې او
حکومت دروغجن دی. حقیقت دادی چه حکومت دخدایی خدمتګار د تحریک
نه یرې ږی او دا تحریک نه غواړی، زه پوه شوم او اصلیت راته په ښه شان معلوم شو
والیسرای چه دلته مه راځئ او ماته هم لیکی چه تاته د سرحد د تلو اجازه نشته نو خه
تاسو خپل کار کوئ حقیقت داوچه دحکومت د دی پراپیګنډا بجانه مطلب داوچه
د کاندهی جی او زمونږ په منځ کښې مخالفت پیدا کړی ما ونیسی او زمونږ تحریک ختم
کړی، اوچه حکومت پوه شوچه کاندهی جی په هیڅ شان دوی نه پرې ږدي نو مونږ
دهغو د پنجونه بچ شو، دوی ته معلومه شوه چه که مونږ دی ونیسو نو د کانګرس
د اسوله ماتیږي، زمونږ د پرکسان دوی دا ایکسوچوالیس په دغه (د قانون د
یوسل و څلور څلویښتمی مادی په حکم) نیولی وو. د دوی مطلب خوزما په نیولو کښې
و خو دی کښې ناکامیابه شول. کاندهی جی زه یوه میاشت ځان سره وساتلم او چه
دهغه تسلی وشوه نو زه یې رخصت کړم. دیوید اس هم ما سره د احمد اباد ه پورې
راغی زما دهغه ځای نه د روانیدو په وخت د هاتماجی سکرټر مهادیو دیسایی
صاحب راغی او ماله یې یوه لویه پرپره راکړه چه هغه مهاتماجی ته زمونږ د چا رسلو
اسستنټ کمشنر لیکلی وه د اهغه پرنګی وچه حبیب نور پرې حمله کړې وه او هغه
پرې پاڼسی شوی و. د بابړې د د رامی قصه هم پکښې وه هغه راته ووې چه د د
خواب هاتماجی له را ولیږه ما چیتی حبیب کښې واچوله او کاډی کښې را روان
شوم یوه شپه می اجمیر کښې، یوه شپه می جیپور کښې او بله شپه می دیلی کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړه او بیا کلی ته واپس راغلم .

بابړه کښی د پرامه اوزمونږ کمزوری ملګری :

څومره چه به حکومت مونږ سره سختی کوله هومره به زمونږ خلک پوهیدل او چتیدل او څومره چه به زمونږ تحریک ترقی کوله او خدایی خدمتګار زیاتیدل هومره به حکومت خپل زور او ظلم زیاتولو . دچارسدې او بابړې بعضی ماشومانو هسی د توقو یوه ډرامه وکړه لیکن حکومت خو بانه لتوله زه په دوره وم د پیښی کمشنر زمونږ سکرټر عبدالاکبر او احمد شاه او عبدالله شاه وغونښتل او په دوی یې دومره رعب واچولو چه عبدالاکبرخان د ډرامې والونه خپله بیزاري څرګنده کړه داجرئت یې ونه کړو چه د پیښی کمشنر ترې ویلی وای چه داخو دهلکانو لوبه وه ، داسی لوبې هلکان تول عمر کوی خو حکومتنه دومره اهمیت نه ورکوي . حکومت تر چه زمونږ کمزوری معلومه شوه نو فوراً بله ورځ یې چارسدی ته فوجونه اوتوپونه راغلل او د ډرامې هلکان یې ګرفتار کړل او فوجونه یې د پرانګو بابړې او چارسدی په کوټو کښی ورخوشی کړل . بله داچه په یوه عامه جلسه کښی دچارسدی په جامع مسجد کښی میا احمد شاه په دی هلکانو ملامتیا وویله او خپله بیزاری یې ترې ظاهره کړه چه د دی نتیجه داشوه چه حکومت هغوی ونیول اویومې بوکال او دوه یې دوه نیم کاله په دی دومره معمولی خبره قید کړل . زه چه د دوری نه واپس راغلم نو پرانګو بابړې او چارسدی له لاړم خلک می جمع کړل او د صبر تسلی یو تقریر می ورته وکړو او د حکومت په دی قسم پالیسی می نکته چینی وکړله چه داخو دهلکانو لره قوته وه حکومت ترې بوقه جوړه کړه . زمونږ خلکو کښی چه خفګان اومایوسی پیدا شوې وه هغه لږی شوه او تسلی یې وشوه . زمونږ په ملګرو باندی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتی کمشنر دومره یره او هیبت راوستو چه ماته په دوه پښې شوچه نه تولو ورځ دوړې کوې ، جلسی کوی او په هغو کښې غیر ذمه دارانه تقریرونه کوې او خلک دومره خدایی خدمتګار شول چه په هغو قابو موندل ګران شو ، په دی وجه موږ د تحریک نه استعفا کانی ورکوو . چونکه دوی زمونږ زاره ملګری وو نوزما د دوی استعفا کانی خوښی نه وې نو دا فیصله موو کړه چه مردان ته لاړ شو او قاضی صاحب عطاءالله خان او ثمین جان سره دې کښې مشوره وکړو . مونږ لاړو او د قاضی صاحب سره موشپه شوه د شپې مو دا خبری شروع کړې ، زما عجیبه ملګری وو په کار خو دا چه د شپې ورځې په کار کولو ماته داډاډ راکړې وای خوزه یې ملامته کولم . د دی تولو خواهش دا وچه زه دې دا جلسی پرېږدم او د دوی په شان په قلاره دې کښینم ما ورته وویې چه کار دا باندی مه پرېږدئ او چه تاسو څنګه وایئ هغسی کار به کوم تاسو ماله یو لیکلی تقریر راکړئ زه به هم هغه په جلسو کښې خلکو ته کوم لیکن هغوی دا هم ونه منله او راته یې وویل که ته دا جلسی بس کوې نو مونږ استعفا کانی ورکوو قاضی صاحب ، ثمین جان او د هغوی نورو ملګرو د هغوی ملګرتیا کوله ما دوی ته وویې چه دکاندهی لاړه اړون سوله چه ده دا عارضی سوله ده او دا رونه تیل کانفرانس چه دی دا کامیابه ږی نه او دا چه کله ناکامیابه شونو د تولو نه اول به ما نیسی او که مونږ تقریر وکړو او که ونه کړو که جلسی وکړو او که ونه کړو نو هم تړې خلاصیدې نه شونو دا مونږ له خدای یو وخت راکړې دی په کار دی چه د دی نه فایده اوچته کړو او شپه او ورځ په ځان یوه کړو او په دی خپل قام پسی وګرځو او چه دا تاسو دا وایئ چه خپل تقریر کښې دا خبره مه کوه چه " د پېرنګی یو بنګړی مومات کړې دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او پاتې پښتنو ملا وتړې چه دا بل ښکرلي هم مات کړو» نو اوس تاسو ماته ووائئ چه زه دا وښه وایم نوخه ووایم؟ هغوی ماته وویل چه ته وایه چه مونږ حکومت ته لاس ورکړې دی ما ورته ووې چه زه ستاسو نه پوښتنه کوم چه ایا په دې خبرې به پښتانه پوه شی او کومه جذبه چه زه پیدا کول غواړم هغه به پکښې پیدا شی؟ دهغوی خبرو ته می مجبوراً غاړه کښېښوده چه دوی رانه جدا نه شی حالانکه داخبره ماته ښه نه ښکاریده او عجیبه خولا داوه چه زمونږ دوه جلسې مقررې شوې وې او دهغوا علانونه هم شوې وو یوه سودم کښې اوبله دخلیلو په پسینه وړې کښې راته لیکلې وې چه دې له به هم نه ځې، میا عبدالله شاه او جعفر شاه ووې چه مونږ خو استعفا ورکوونکن دی اوکه سبا ولې چه حکومت مونږ گرفتار وي. مونږ دپره تسلی ورکړه خو رضا نه شو بیا مونږ ورته ووې چه ښه ده استعفا ورکړئ خو چه اخبارونو کښې یې چاپ نه کړئ ځکه چه حکومت به ددې نه ناجائزه فایده اوچته کړي خو هغوی دا هم ونه منله دهغوی دا خیال وُچه ددې نه مونږ حکومت خبروو چه مونږ ددې تحریک نه ویزاره یو. زمونږ دې نورو دوستانو ورته ووې چه داخبرې دحکومت نه هسې هم پټې نه پاتې کیږي خو بیا هم هغوی په اخبارونو کښې اعلان وکړه. شپه دپره تلې وه ددې خبرونه پس مونږ اوده شوخو دغه شپه په ما دپره بې ارامه تیره شوه او تکې خوب می ونه کړې شو ما دې خپل بد نصیبه قوم ته کتل چه اول خو دوی دخدمت څوک نه وی اوکه څوک یو نیم پیدا هم شی نو څوک دخدمت موقع نه ورکوی. سحر چه زه اوقاضی صاحب ډکړ ځُبل و دپاره لاړونو ما قاضی صاحب ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

داخبره وکړه چه ښه ده چه تاسو دانا دوا په ماکوئ نوچه دقیامت په ورځ حساب
کتاب کیږي نوزه به ستاسو گریوان نه لاس اچوم او دډي تولو خبرو ذمه وار به
تاسوئ اوستاسو ددی فیصلی نقصان چه قوم اوملک ته رسیږي ددی ذمه
واری به هم ستاسو په سر وي نوقاضی صاحب ماته ووې چه زه څه وکړم ماته
هم داخبره مناسبه نه ښکاري خوکه نه ئي منو نودوی تښتی اومونږ په ډاکه
پریږدي. چه چای موخکله نوقاضی صاحب دوی سره دصودم اودسپینی
وږی ذکروکړو اودوی ئي په دی رضا کړل چه دې جلسوله دی دی لارښی
خو په دی شرط چه تاسو ورسره لارښئ اوچه تاسو ورته څنګله وائ هغسی تقریر
به کوي یوی جلسی له راسره میا صاحب احمد شاه اوبلی له راسره عبدالاکبر
خان لارل. دصودم په جلسه کښی چه قوم کومه سپاسنامه راله راکړی وه
نو په هغی کښی داذکر هم وچه تاسو دپښتنو دشان سره چه دیوګ خدایی
خدمتګار واعلان کړی ؤ دالږ دي مونږ ددی نه زیاتو ته تیار یو. ددی
علاقی خانان اوتول خلک دقاضی صاحب دکار په برکت مونږ سره دملګرتیا
دپاره تیار شو. دسپینی وږی جلسه چه شروع شوه نو دپږی ښځی هم دی جلسی
له راغلې وې چه په دی کښی یو هوایی جهاز راغی اوپه دې ښځو راغوته شو
دپږی ښځی وتښتیدی لیکن ماچه ورته اواز وکړو چه تاسو څنګه پښتنې ئ
چه دهوایی جهاز نه تښتئ نوتولی واپس شوې، هواباز خپل جهاز دپرځله
دهغوی په سرونو تیر راتیر کړو چه ښځی ونه یریږي نومایوسه شو اوواپس
لارو چه جلسه ختمه شوه نوزه دمیا صاحب سره کلی ته راغلم نوری دوری

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاتی شوی اوزه دکلی نه بهرته تلی نه شوم دخدای دی فضل ته کوره چه زما تلل
راتلل بند شو نو بیا خلکو اتما منزوله تلل راتلل شروع کړل زما کار جاری شو او د پر
سنګ ډبل و میا صاحب چه د لوی جرګی سکرټر و د خصوصی معاملاتو د فیصلی د پاره
یی لویه جرګه اتما منزوله راوبلله چه کار ختم شو نو پیر شهنشاه او سردار رام سنګه
ماته د دودی کولو وی ما ورته ووی چه زما خو عذر نشته خو صدر صاحب عبدالاکبر
خان او احمد شاه میا صاحب زه د دودی نه منع کړی یم تاسو که ما غواړئ نو دهغوی
نه اجازت واخلئ: هغوی میا صاحب مجبور کړه او ماله یی اجازت راکړو او هغوی
سره د دودی د پاره روان شوم. ما د کوهاټ او بنو کلی په کلی دوره وکړه او
د پری ورځی می پکښی تېری کړی د پری جرګی جوړی شوی او د پر خلک خدایی
خدمتګار شول. چه دهغه ځایه واپس راغلم نو سید فضل لطیف په هری چند
کښی دلوی جلسی انتظام کړی او تولو مومندو او را نیزوله یی دعوت نه لیږلی
وو. هغه زه هغی جلسی له بوتلم د پر مخلوق جلسی له راغلی وو جلسه وشوه ما
پکښی تقریر وکړو چه: ای پښتنو و رونو مونږ تول یو قوم یو او د یو بابا اولاد یو
زمونږ مثال د یوی ونی دی چه د پکښی د پری څانګی وی خو مونږ یی یو وی
او چه څوک دهغی ونی نه یوه څانګه پرې کوی نو دهغی ونی سوری ته نقصان رسی
او که دهغی ونی مونږ وچ شی نو تولی څانګی یی وچی شی نو نن ورځی پیر نګیان
لګیا دی د غه څانګی و رو و رو پرې کوی، تاسو وینئ شئ که د غه څانګی ختم شی
نو ستاسو مچی به په نور پاتی شی او د سر سوری به یی ورک شی او که چیری د غه
مونږ وچ شو تو د غه تولی څانګی به یی وچی شی یوه به هم پاتی نه شي، زه تاسو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وایم چه دښمن لګیا دی تاسو ودکوی او په دی کوشش کښی دی چه دا مونږ وچ
شی که تاسو نه دا مونږ وچ شو نو بیا به ودک شئ . پاځئ ! داخپل کور جوړ کړئ
دا بېل بېلوالی پریږدئ یو قوم شی ، که یو قوم شوئ نو ستاسو دښمنان به هم اباده شی
او اخوت هم . چه جلسه ختمه شوه نو زمونږ د ټنګی کارکنان کلی ته رخصت شول اوزه او
فضل لطیف باچا بدرګی ته اوبیا رانیغی زوته لاړو او دهغی علاقی دورې مووکړه چه د
هغه ځایه واپس شوم نو غلام محمد خان د لوند خور د جلسی انتظام کړی ؤ زه
او میا احمد شاه او عبد الاکبر خان هلته لاړو . دلته هم ډېره لویه جلسه وشوه او
ډېری زنانه ورله راغلی وې او په هغه جلسه کښی ما سره زنانو داوعده وکړه چه :
« که د زلمونږ پوره نه شوه - فخر افغانه جینکی به دې ګټینه » جلسه چه ختمه شوه نو
میا احمد شاه او عبد الاکبر خان واپس راغلل اوزه یی هغوی ته د بائیزو د دوری
دپاره پریښودم او غلام محمد خان سره پاتی شوم . مونږ د بائیزو او شموزو
دوره وکړه . زه د بائیزو د کارکنانونه ډېر خوشحاله شوم ځکه چه هغوی پخپله
علاقه کښی ډېر کار کړی و او د تولونه زیاته زما د خوشحالی خبره داوه چه کوم ځای
به جلسه وه او چه کومی سبځی به په کوتو (باغونو) جلسی ته ناستی وې نو هغو سره به
څرخی هم وې او هغوی به د جلسی شروع کیدونه وړاندې څرخی کولې بله داچه
غلام محمد خان اوزرین خان به زما دارام ډېر فکر کولو د دوی په برکت به زه په
ارام وم ، بله داچه غلام محمد خان اوزرین خان په زنانه وکښی ډېر کار کړی و .
په لوند خور کښی د سبځو جلسه وشوه ، په زرکونو سبځی ورله راغلی وې او مالی یی سپاس
سنامه هم راکړه او تقریرونه یی هم وکړل په دی زه خوشحاله شوم ولی چه بغیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سنبځونه یو قوم ترقی کولی نه شی ولې چه زمونږ دکور او بچو تول پرورش د هغوی
په لاس کښی دی او زمونږ دکاډی چه کومی دوه پایی دي نو یو سړی دی او
بله سنبځه ده نو نا سو پخپله خیال وکړئ چه یوه پایه پنچروی نو کاډی به څنګه لاړشی؟
په سپاسنامه کښی دوی دا مصرع لیکلی وه :الا که د زلمونه پوره نه شوه - فخر افغانه -
چینکی به دې کښه » له دې ځایه زه او غلام محمد خان دیوی ورځی د پاره
یو سفر وله لاړ هلته دیو سفر ویوه عظیم الشانه جلسه وه ، زرګونو خلک او خدای
خدمتګار جمع وو داسی لویه جلسه مابل ځای لیدلی نه وه ، ما په جلسه کښی تقریر
وکړو چه خدایي خدمتګار ځان ته خدایي خدمتګار وایي ، لیکن خدای ته د
خدمت ضرورت نشته ، د خدای خدمت دهغه د مخلوق خدمت دی او د خدای
مخلوق یوازی مسلمانان نه دی ټول دهغه مخلوق دي ، که هندو دی که سکهه دی
که عیسایي دی زمونږ فرض د دنیا نه ظلم ورک کول دي او مظلوم د ظالم نه خلاصول
دی . مونږ به د هغه قوم او حکومت مخالفت کوو چه څوک د خدای په مخلوق ظلم
کوي که ظالم زمونږ وروڼ او مسلمان هم وي . بله دا چه زمونږ خدمت به د خدای
د پاره وي د څه غرض د پاره به نه وي مونږ له چه څوک څومره تکلیف راکوی زور
زیاتی رابانډی کوي مونږ به بدل نه اخلو بلکه مونږ به صبر کوو او د هغه سړی ،
قوم یا حکومت د پوهولو کوشش به کوو ، چه جلسه ختمه شوه مونږ د شپی دارام
د پاره سودم ته راغلو دلته زمونږ ملګرو امیر محمد خان او مهر دل خان او شاکر الله
چا او د هغوی ملګرو په دی علاقه کښی د پرښه کار کړی و . دلته هم د پره ښه جلسه
شوه او د دی ځای په زنانو کښی هم دا زادی د جذبه پیدا شوې وه ، د دی ځای د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوری دختمپدونه پس دسلیم خان په دپری کښی دمومندو لوبه جلسه وشوه
دعلاقی تول مومند راجمع شوي وو او ددې تحریک په غرض او مقصد می پوه کړل چه
دا تحریک زمونږ د وروروڼی او قامولی تحریک دی او مونږ دا کوشش کوو چه دقومولو
پښتنو یوه وروروڼی او قامولی جوړه کړو او ددوی ذړه ونه نه بغض، کینه، تورېکنی
او دښمنی لیرې کړو چه اتفاق پکښې پیدا شی، محبت او همدردی پکښې پیدا شی
او یو قوم شی. ای وروڼو! که یو قوم شوئ نو تاسو له خدای داسی ملک درکړی دی
چه د دولتونو او نعمتونو نه دک دی خو ستاسو د بې اتفاقئ په وجه پرې نور خلک مزے
کوي او که تاسو یو قوم شوئ نو ستاسو ملک بل څوک خوړی نه شی ستاسو دنیا
او اخرت به ابادشی او دا داسی ملک دی چه دې کښې به یو سړی غریب پاتی نه شی تول
به خانان شی.

دپره ښه او کامیابه جلسه وشوه او خلک د دی تحریک په غرض او مقصد پوه شول
او د انقلاب زنده باد، فخر افغان زنده باد په چغو کښې جلسه خوړه شوه بیا له دی ځای
مونږ منکاد رکی ته لاړو خلکو سره کښېنا ستو. دلته زمونږ تحریک ښه روان دی او
د پر مجلسونه موو کړل او بیا تری رخصت شو. څپل کلی ته لاړم په دې د پرګړ ځیدو او
تقریرونو می اواز ناست و مړی می خوږ پاڼه ناجوړه شوم لږ ارام می وکړو لیکن زما په نصیب کښې
ارام چیرته و؟ که زه به خلکو پسی نه تلم نو خلک ما پسی راتلل او ارام می نه شو کولی ما به د پر پوهول
خونه پوهیدل، دا دهغوی هغه د پر محبت و او که خبرې می ورسره نه کولی نو خفه کیدل به.

د پښتنو کلیانو د جبر و تشدد زیاتوالی:

د سرحد حکومت دکاندهی لاړه اړون دسولې هیڅ پروا نه کوله، ورځ په ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ی نوی نوی حکومته اوقانونه په مونږ لګول اول خو خدایی خدمتګار په چونو بند ووچه نه
ه حُی. بیایی په سړکو نو هم کړُهیدو ته نه پریښوول ، بیا حکم جاری شوچه څومره جرنیلی
سړکونه دی د هغوته څلور څلور میله یو خوا بل خوا جلوسونه جلسی اوپه وردوکښی کړُهیدل
ل دي، علاقه په علاقه ددې نه علاوه دفعه ایک سوچوالیس (۱۴۴ مه ماده) ولګیدله او
ولیس ته اختیار ورکړی شوچه تاسو پخپل حکم چه څوک نیسئ نیوی شئ. په صوبه سرحد کښی
ولیس راج جوړشو. یوه ورځی زه دخان بهادر میامشرف شاه دزوی فاتحی له تلم څلور
د ایی خدمتګار باوردئ هم راسره ووچه دمردان دجرنډ وادې له ورغلم نوزمونږ
ولید وسره یو پولیس سنتری دامنډه کړه اودعام سړک دروازه یی زمونږ موټر ته
ه کړه بله لاره نه وه مونږ دموټر نه کوزشو اوهغه ته مووې چه داخو عام سړک دی
بله لاره هم نشته مهربانی وکړه دروازه راته لیری کړه هغه راته ووې چه سړک مړک نه
زنم ماته خو دا حکم دی چه دسړو جاموسړی په دی سړک مه پریږده اوکه هغه څه ویلي
یایی په توپک وله توپک یی مونږ ته مخامخ کړو اوراته یی ووې چه کله شی نو لاړ
ئ ! چاچه زه پیژندم هغوی ورته وپرووې چه داسی مه کوه دوی ته دروازه لیری کړه
ه ووی چه ماته دخپل افسر حکم دی دروازه دوی لره نه شم لیری کولی مونږ واپس شو
نهر په غاړه د پولیس لاین سړک ته راووتو تاسی دارمودی خبری نه خبر کړه هغه
ه ووې چه زمونږ صاحب سره په دی کښی لیدل په کار دی ماورته ووی چه داخو
ا د صاحب حکم دی دلیدونه به څه جوړشی ؟ تاسو فکر وکړئ چه ستاسو ماسره داسی
ل وي نوعامو خدایی خدمتګارو ته به څومره تکلیف وي ؟

په کلوکښی لاروکو څوکښی به پولیس بی ګناه خلک وهل سواره به راتلل کلوکښی کړُهیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دخلکو ستروته به یې ماتول، لیکن مونږ د خپل طرف نه په سوله تینګ اوسیدو او د اسی
کار مونه کولو چه په مونږ څه الزام راشی او دا ټول تکلیفونه مونږ په صبر او استقلال تیر ول
او بیا په اخره نوبت دی ته ورسید و چه دوهلو په ځای به یې خدایی خدمتګار قتلول
شپی به د دوی بار د لارل په دفتر کښی چه به دکوم خدایی خدمتګار دیوتی وه هغه به
یې ونیو او چه څه به ورسره وهغه به یې تری واخیستل او بیا به یې په توپک ووینستو. دغه شان
یو صوبه دار چه زمونږ یو خدایی خدمتګار غریب بې ګناه په اور مړو کښی و وینستو هغه وخت
چغې وهلی چه زه یم او هغه یې شهید کړو، د کلو خلکو پولیس ونیول او توپکې یې تری واخیستې
خو زمونږ تحریک دومره اثر په پښتنو کړی و چه تشدد یې ورسره ونه کړ صرف ریوټ
یې وکړو او چه اسسټنټ کمشنر راغی نو توپکې یې ورکړی. پیرنګیانو ته یې قهر په دی وو
چه خلکو تشدد نه کولو پیرنګیانو به خلک مجبورول چه تشدد وکړی چه مونږ ورته بهانه
جوړه شی او سنه پری زړونه یخ کړو او برباد او تباه یې کړو. د خدایی خدمتګارو اصل
صبر و خپل ځانونه یې خدای ته سپارلي وو او په دی یقین وچه یوه ورځ به زمونږ ه د
مظلومیت رنګ راوړي. پیرنګیانو به ویلی چه مونږ ه دی خلکو حیران کړی یو مونږ کو
کوو چه دوی تشدد وکړی. د تشدد علاج خو مونږ ه سره نشته ځکه چه مونږ سره د تشد
د برسامان دی خو د علم تشدد علاج را سره نشته.

(The non violent pathan is more dangerous than the violent pathan)

پیرنګیانو به داخبره د هره کوله چه: د علم تشدد په اصولو روان پښتون د متشدد پښتون نه د پر خطرناکی
چه د کراچي د کانګرس د سالانه جلسې نه واپس راغلو زمونږ د صوبې لاټ صاحب
ما سره ملاقات کولو خواهش ظاهر کړو او ما په یې د بعضی کسانو په خولې خوابونه راولیږل

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکن ما چه د پیر نکیانو زور او ظلم اوزیاتی نه کتل نو زړه می نه غوښتل چه لاټ صاحب
سره ملاقات وکړم او نه مانه پکښې د قوم او ملک څه فاید ښکاریده ولی چه یو طرف ته یې
یا وجود د سولې زمونږ د رانیزو قبیلیان پری نه ښودل او بل یې دلو بو توقو په ډراما
زمونږ بچی گرفتار کړل او په خدایی خدمتګارو یې تورې تیارې جوړې کړې وې ، په دی وجه
ما دهغه د ملاقات نه انکار وکړه لیکن زما د انکار با وجود حکومت اصرار کولو چه ما
سره دی خامخا وبینی نو یوه ورځ زما مشر ورور ډاکټر خانصاحب راغی او ما ته یې
وی چه د حکومت د مړه اصرار دی نو ملاقات ورسره وکړه نو ما ورته ووې چه لاړ په
صاحب زمونږ د جماعت د صدر او سکرټر سره ولی ملاقات نه کوي ولې چه ذمه وار
ملک خو هغوی دي او زما خو څه ذمه واری نشته او که چیری ما سره ملاقات کول
غواړي نو زه ورسره په دې شرط ملاقات کوم چه موجوده وخت کښې د حکومت
د طرفه کوم مشکلات مونږ ته پیښ دي که د هغې حل کول په اخلاص او ایمانداری
سره غواړی . لیکن لاټ صاحب دی شرط ته غاړه کښې نه ښودله او ووې ویل چه په
سیاست کښې ایمانداری نه وی نو ما ورته ووې چه ایمانداری نه وی زه داسی
ملاقات کول نه غواړم ځکه زما سیاست دا ایمانداری دی په دې وجه هغه ملاقات
نه شو .

څه ورځې پس زمونږ ملګری میا احمد شاه صاحب د څه خبری د پاره مسته-
ر ته چه د پولیس نائب جرنیل وُ او زمونږ د صوبې د سی . آی . ډی لوی افسر وُ
ی د او بیا دوباره لاټ صاحب له لاړل ، لاټ صاحب بیا هغه سره زما د ملاقات
ره تازه کړه نو میا صاحب ماله راغی او ما ته ایې وشو چه لاټ صاحب سره ملاقات

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړه ما ورته ووې چه ماته په ملاقات کښې څه عذر نشته خو زه پکښې څه فایده
نه وینم ستا او دهغه د اګفتګوی هم تسلی بخش نه دی او بیا د پرانکړ د فتوح متعلق د
ځواب چه مونږ سره طاقت دی او بیا دلادې نه دښلد ولو ځواب چه مغه ښه پایی خوښ
سوخټک و. دمیا صاحب طبیعت زما په انکار خفه شو نو بیا یی جرګه او غوښته او جرګې
ته یی دا مسئله پیش کړه او جرګې په کثرت رأی دا فیصله وکړه چه ملاقات کول نه دی
په کار په دې میا صاحب نور هم خفه شو لیکن په پیر و منتو نو قاضی صاحب او علی اصغر
خان میا صاحب رضا کړه، د فیصلی نه پس ما دهغه نه پوښتنه وکړه چه فردوس خان
او غلام محمد خان نه تاسو د ملاقات په حق څنګله لاسونه وچت کړی وو هغوی په خپله
کښې ووې چه مونږ خو ددی ویرې نه لاسونه وچت کړی وو چه که نه نو د سره ملاقات
ونه کړی نو مونږ به ګرفتار کړی او بیا به جنګ شروع شی.

دیو جماعت کارکنان چه دوپړی نه داسی کار د نه کوي نو دهغوی نه قوم ته او
جماعت ته نقصان رسیږي. دا خبره حکومت دلته پری نښوه، دا بیسرای ته یی
د رسوله اوزما برخلاف یی غلط پراپیګنډه شروع کړه چه دده د پرانکیا نو
نفرت دی دده مونږ سره ذاتیات دي ځکه مونږ سره ملاقات نه کوی او
دا بیسرای په دی الفاظو کاندهی جی ته شکایت وکړه، کاندهی جی ماته ولیکل چه
ته خپل لاټ سره ملاقات وکړه زه پوه یم چه ته په څه وجه ملاقات کول نه غواړی
خو دوی ستا برخلاف پراپیګنډه کوی او په خلکو کښې ستا متعلق غلط فهمی پیدا
کوي اخر زه مجبور شوم او دا خبره می د جرګې انتظامیې ته پیش کړه او دهغوی
په اجازه می لاټ صاحب سره په نتهیا کلی کښې ملاقات وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مالاتہ صاحب تہ پہ خدایی خدمتگارو د ظلمونو اود رانیزو د قید یانو
ووې لیکن باوجود ددی خبرو د پیرزګیانو پہ پالیسی کښی څہ فرق رانغی بلکہ
د اول نہ زیات شول. حقیقت دادی چہ ددوی د اتول ملاتړ تونہ ددې قوم او
ملک دفاید ی د پارہ نہ وی، دې کښی ددوی مقصد داوي چہ داسې بہ څنګہ
دوکہ کړہ خپل مقصد بہ تری پاتی کړو او دخان سرہ بہ یې ملګری کړو او ما څوک سرہ
ملاتړ تونہ کړی دي نو بغیر د لالچ نہ می پکښی بل څہ لیدلی نہ دي. حکومت د
مالیی پہ بہانہ ظلمونہ شروع کړل دا نہ چہ کوندی خدایی خدمتګارو د مالیی نہ
انکار کړی وخونلہ دومرہ ارزانہ شوې وہ چہ خلک تنګ وو د مالیی وس یې نہ کیدہ
او د مالیی بقایې یوازی پہ خدایی خدمتګارو نہ وې ددوی نہ زیاتی نہ زیاتی پہ سرکاری
خانانو او ملکانو دی خوهغوی تہ یې څہ نہ وې خواران خدایی خدمتګار بہ یې تنګول
مالونہ بہ یې لیلام کول حوالاتونو کښی بہ یې اچول اولا دهغوی برخلاف بہ یې دا پروپګنډا
هم کولہ چہ دوی د مالیی ورکولونہ انکاري دي پخپلہ یې هم نہ ورکوی او نور خلک هم
منع کوي حالانکہ دا بالکل دروغ وو، خلکو سرہ پہ ډښتیا مالیہ نہ وہ او خدایی خدمتګارو
سرہ هم نہ وہ دی بہ حکومت تہ وې چہ دا تاسو نور وخلکو سرہ څنګہ سلوک کوئ
وغسی مونږ سرہ هم کوئ، مونږ خو هم ستاسو رعیت یو چہ لعضی خلکو تہ معلومہ شوہ
چہ حکومت د خدایی خدمتګارو پہ کړولو خوشحالیږي نو پہ خدایی خدمتګارو یې
د دروغو مقدمی شروع کړی، پہ دواوہ کښی د حبار خان او المیر ملک دلاسہ خدایی
خدمتګار پہ اور کښی ولاړوو. پہ اباز و کښی آفتاب ګل میا او یحیی میا او د دوی نورو
درونو او عزیزانو خدایی خدمتګارو د ورکو پہ کوتو کښی بند کړل او د بوسولو کی یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته وکړل . ددې کاکا خیلو ، میاکانو د پیرنګیانو سره دومره محبت او اودهغوی دومره وفادار اوخدمتګار ووچه څه وخت به دخدایي خدمتګارو د زاتلونه خبرشو نو توپکي بهرې ورپسې واخیستې او دهغوی مرګ ته به تیارووو . دمالیې په بانه د تنګ عبدالله جان میا اودهغه زوی چه په خلکو څومره ظلمونه کړي دي دهغوبیان کولو نه شم ده هم خلک په کوتو کښې بند کړي دي او دبوسولوکي يې ورته کړي دي فضل الرحمن خان دشوقدرسره خوپریږده دښځو بې عزتي يې هم کړي ده . بله داچه زمونږ دهشنغر په کلوکښې اومیروکښې د پولیس تانه دار کرځید و او هرچا نه به يې پوښتنه کوله چه دلته هم څوک خدایي خدمتګار دشته او چه څوک به خدایي خدمتګار وهغه به يې وهلو ټکولو او بې عزته کولو . دملکنډ ایجنسي دسخاکوټ کلي نه يو څوماشومان زمادلید و د پاره راتلل نو پولیس تري خبرشو اول خوي په دوی وپرد با وونه وکړل چه دوی ونه یریږل اوچله اراده يې پرې نه سنبوه نو بیا يې دومره ووهل چه سړي يې ورله مات کړل . هغوکښې یوماشوم زما ورور داکټر خانصاحب مات سړکاندهجي له ولیږلو چه هغه دغو ورځوکښې شمله کښې و او دا ټول حال يې ورته ووې . حقیقت دا دی چه پیرنګیان دغو ورځوکښې بالکل لږ پوهه شوی ووا و دګنهګار او بې ګناه تمیز نه کا ندهجي دا ډاډه خبرې وایسرائ ولیکلې او ورته يې ولیکل چه دګ تحقیق د پاره زه سرحد ته تلل غواړم خو وایسرا اجازت ورنه کړه ، حقیقت دا دی چه پښتنو باندې څومره ظلم کېدلو داټول پیرنګیانو کولو . هغوی دا نه غواړل چه پښتانه دې راوپښ شي او منظم دې شي اوپه دې کښې دې اتفاق او سیاسي شعور پیدا شي .

ددیوی داس کاندهي دسرحد دوره :

مهاتما جي وایسرای ته دوباره ولیکل چه که حکومت ماله اجازه نه راکوي نو بیا دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

جواهرلال یاپتل له اجازت ورکړی چه هغوی سرحد له لاړشی اوتحقیق وکړی چه څوک
سوله ماتوي ؟ خو حکومت ددی نه هم انکار وکړو حکمه چه سوله خو دوی مانوله بیا
کاندهی جی وابراته ولیکل چه زمازوی دیوی داس له اجازت ورکړه حکومت دې ته
هم تیار نه شو اخوچه کاندهی جی د حکومت نه مایوسه شو نو وایسرای ته یې ولیکل چه سبه ده
له ماله اجازت راکوئ اوکه نه راکوئ زه سرحد ته څم ، نو پس دهغی نه حکومت په دی رضا
شو چه سبه ده مونږ دیویداس له اجازه ورکوو په دی شرط چه هیڅ قسم جلسی او جلوس نه
ته وی . کاندهی جی مونږ له تار راکړو چه دیویداس سرحد له راځی لیکن استقبال جلوس
او نمایش به نه وي . دیویداس راغی او مونږ دده استقبال ونه کړو . او دیویداس چه
له وخت راورسید نو مونږ ته یې هم دهاتماجی هغه خیال ظاهر کړو چه څه وخت مونږ د
پښور نه اتمانزی ته روانیدو نو مونږ دیویداس ته ووې چه د پښور نه تر اتمانزو پورې
سړک دلسو لسو کزو په فاصله خدایی خدمتګار د حفاظت دپاره درته ودروخو هغه د
دې نه انکار وکړو چه سبا له مونږ تهکال له لاړو نو خبر شو چه دلته ارباب عبدالغفور خان
او د باډر کلی عاشق شاه باچا او په ترخه کښی د پیر بیګناه خدایی خدمتګار حکومت ګرفتار
کړی و ، او د ارباب عبدالغفور پلار ارباب جمعه خان د دیوی داس دپاره میلمستیا
کړی وه . د خلیلو ، موضدو زمونږ ټول کارکنان موجود وو او دیوی داس ته یې هغه
ولی قصی وکړی چه حکومت مونږ سره کړی وې . بله ورځ اتمانزو له روان شو . مونږ چه
سبا ده روانیدو نو موټر نه و . نو په لاری کښی کښپنا ستو او چه د شاهی باغ نه لږ واړه
د زرین خان دتر نکزو موټر راغی دوه سنګلی خدایی خدمتګار په سنګلو ورد و کښی
کښی ناست وو او سره جنده پری لګیدلی وه مونږ دلاړی نه کونږ شو او موټر کښی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښېناستو . زه اودیوید اس اوخورشید بهن دری واړه روستو کښېناستو موټر
روان شو اوډېر په تېزی روان شو . یومشهور ظالم ډاکو مفرور چه په قاضی مفرور
مشهور و مونږ ته دسړی یاب دپل په غاړه قلی خان چه دحکومت سړی و . دلوخوځنکل
کښی کښېنولی وچه زمونږ موټر ورورسېد و او هغه دوه خدایی خدمتګار چه دموټر مخ
کښی ناست ودهغی باقاعده وردی وی نو دهغی ډاکوانو داخیال راغی چه دا به د جرنیل
موټر وی نوبهر ته کښېناستل اوبله داچه دوی ته خو دا معلومه نه وه چه موټر به موټر کښی
خو ولی چه مونږ دا دی نه په لاری کښی ناست و . خو مونږ پسی چه کومه لاری وه هغی
دغه مفروران راپاتېدل اودزړی پری وکړی دا هغه لاری وه چه مونږ پکښی ناست
و ، سړی پکښی زخمیان شول ، مالونه یی تړی واخیستل اویو بل ته یی دوړی چه هغوی خو
دې لاری کښی نشسته چه مونږ ورته ناست وو . دغه لاری چه چارسدی ته را ورسېدله
مونږ ته یی داتول حال ووړی بیا ماته زمونږ دموټر هغه ډریور ووړی چه مونږ دغه خبر
له را ورسېدو نوماولیدل چه دغه لوخو کښی یو سړی را وچت شو اوبیا کښېناستو غالی
چه دوی به داخیال پیدا شوی وی چه دا موټر خو دجرنیل معلومېږی خکه چه جنډ
هم پری لګېدلی ده او باوردی فوځیان هم پکښی ناست دی اوددی له خوقلی خان
پولیتیکل ایجنټ ډایری ورلیږلی وه چه باچا خان اودوه ملګری یی په لاری کښی
درروان شو دوی خکه په موټر غرض ونه کړه اوپه هغه لاری یی پښی وکړ
چه مونږ پکښی دپښور نه ناست وو . مونږ رزړ کښی روچه ددی لاری دو
نه خبر شو نوچه دچارسدی هسپتال له ورغلو هغه زخمیان موهم پکښی ولیدل
هغوی راته داتول حال ووړی . ددغو ډاکی مادونه چه خلک خبر شول دغو ډاکی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پسی دا کړی او نور خدایی خدمتګار او عام خلک دا وو تل خو دوی تری وتښتیدل
او چې تیراته وو سپیدل نو زمونږ اپریدی ورونه ددی واقعی نه خبر شوي وو
هغوی یې وسیول او هغه مالونه یې تری واخیستل او دا قاضی مفرور یې قتل کړو او کومی روپۍ
چې زمونږ په سرقلی خان ورکړی وې هغه تری هغوی واخیستی او دخلکو هغه سامان
یې مونږ ته دا البیږ لو او هغه مونږ خپلو خاوند انو له ورکړو چې هغو کښی یوه تماچه هم وه .

دا پریدو ورونو ذاخیال وچه کله دا د پښتنو مسلمانه دکاندهی جی زوی او
خورشید بهن دوی وژلی وای نو د پښتنو به په هندوستان کښی څومره بدنامی
شوی وه دغه وجه وه چې اپریدو دوی قتل کړه که نه وې نو ازاد قبایل هغه سړی
نه وژنی چې دوی ته پناه ورورې وې . ددی مفرور په سر پیرنګیانو اپریدو له
دیرې روپۍ ورکولې ، ولی هغوی نه اخیستې .

داشکر دی چې د پیرنګیانو دحکومت دا منصوبه خدایی ناکامیابه کړه که د
کاندهی جی زوی یا دخورشید بهن چې دا د « دادا بایی ناوروجی » نوسی وه دا-
دا بائی ناوروجی دکانګرس بانی و او دده په کوشش کانګرس دی ځای ته رسیدلی
و که دا دلته په سرحد کښی وژل شوی وای نو پیرنګیانو له به هم د پښتنو برخلاف دیرا-
پیګنډی ښه موقع په لاس ورغلی وه پښتانه به یې دنیا کښی بدنام کړي وو ، او
هندوان او پارسیان به یې هم د پښتنو نه ویزاره کړي وو او کوم اثر چې په هندوستان
کښی او په کانګرس د خدایی خدمتګار و په وجه پیدا شوی وه هغه ته به د پیر نقصان
رسیدلی وای او پښتانه به بیا د پیرنګیانو زور او ظلم ته یوازی پاتی شوی وای او
دنیا سره به یې دستر ګو لګیدو شان نه وپاتی شوی . خو مونږ خدایی خدمتګار و د

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د دوو په ځای دی یوه شی ، د شپی مونږ د میا صاحب میلمانه شو
محمد زمان میا صاحب احمد شاه میا مجبور کړچه زمونږ سره
بمبی ته لاړشی احمد شاه میا هم د تلو انتظام وکړلو ، زه او دیوید اس
د ده په تلو ډیر خوشحاله شو اوسبا له بمبی ته روان شو په لاره کا دی کښی
میا صاحب او دیوید اس کا غذات درست کړل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د راونلا ټیبل کانفرانس وړاندیز

د جرګې مشرانو کښې اختلاف ، شملې ته زړه تنګ ، شمله
کښې مصروفیت ، فارن سکرټر او
هوم سکرټر سره
لیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بمبئی کښې د آل انډیا کانګرس کمیټئ جلسه وه اوهغې له دنول هندوستان ممبران
راغلي وو څه وخت چه مونږ د بمبئی تیسن ته ورسیدو او دکادی نه کوزشو نو میا احمد شاه
ماله راغې او ویې ویل چه ماته خو دیوبل اس ووې چه ته دکانګرس ځای
له لاړشه دا خو داسی شوه چه ماله یې جواب راکړو، امیر محمد خان دهوتی درته ووې
چه ماته یې هم داسی ویلی دی لیکن ما ورته ووې چه کوم ځای فخر افغان صاحب وی نه
به هم هلته یم نو بیا هغه چپ شو لیکن میا صاحب وی چه زه یې ستا سونه منع کړی یم او ما
یې خواب راکړی دی تاسو سره نه ځم ماهم د میا صاحب د راضی کېدو کوشش وکړو خو دی
رضا نه شو نو بیا زما څه مسلمانان دوستان تیسن له راغلي وو موتر یې راوستلي وو هغوی
سره می په تلو رضا کړه لیکن د میا صاحب طبیعت خراب شوی وو بله ورځ مونږ د میا صاحب
لید وله لاړو، دی موولید ولیکن طبیعت یې درست نه ؤ ماته دکلیاړی دیو مهربان
پښتون نه معلومه شوه چه میا صاحب د پرخفه دی او وایي چه بس نور کار نه کوم او کلی ته
روان دی. دیوی داس چه ددی واقعی نه خبر شو هغه ورته ووې چه ماخو په دی
خیال ویلی وو چه دلته به تاته تکلیف وی په مځکه به ملاسته وي، دال، چپاتی به خوړې
او هلته دکانګرس د مبلمنود پاره د پرسنه انتظام دی خو د میا صاحب خفګان لیږی نه
شو ماهم میا صاحب ته د پرمنت وکړو چه واپس مه ځه چه مونږ خپله فیصله کانګرس سره
وکړو او دکانګرس هغه بله د له هم راغلی ده ځکه ستاموجودګی ضروری ده خو چه سبا له مونږ
خبر پلاو میا صاحب تلی و زمونږ معامله دکانګرس ورکنګ کمیټئ ته پیښ شوه او زمونږ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

د صوبہ سرحد لوبہ جرګہ نوم یې منظور کړ و او مالیه یې اختیار را کړو چه څنګه ستاسو ښه وي په سرحد کښې هغسې تنظیم جوړ کړه .

د جرګې مشرانو کښې اختلاف :

د صوبې د پښتو یووړو سردار عبدالرب نشتر په دغه وخت کښې دا اعتراض وکړو چه دوی (خدایی خدمتګار) خو د کانګرس په اصولو کاربند نه دی ، بلکه فرقه دارانه نعرې وهی او په مثال کښې یې او وئیل چه دوی د نعرې تکبیر الله اکبر او ازکوی ، کاندهی جی دده نه تپوس اوکړو چه د الله اکبر څه معنی ده ، نشتر صاحب جواب درکړ چه : خدای لوی دی . نو کاندهی جی ورته جواب کښې او وئیل چه ولی خدای ورکوتی دی څه ؟

دغه شان دوی کامیاب نه شول ، د دی فیصلی نه پس مونږ سرحد ته راروان شو د را رسیدو سره ما خپل کار شروع کړو او د مردان او صوابۍ په دوره روان شوم میا صاحب خضه دیوی داس نه شو او نقصان یې خپل قام ته ورسولو او زما مخالف شو او چه کله ته ورسیدو نو د بلې د لی جوړولو کوشش یې شروع کړو او د صوبه سرحد لوبه جرګه یې هم را وغوښته چه د بمبئی د فیصلی د نه منلو د پاره یې تیاره کړې ، مالیه یې هم خبر را کړو او د جرګې وروسته له را غلم او دا معامله لوی جرګې ته پیش شوه میا صاحب د بمبئی د فیصلی په مخالفت کښې تجویز پیش کړو او تقریر یې وکړو او تائید یې عبدالاکبر خان او غلام محمد خان دلوند خوړو کړو ، بیا ما قول حقیقت ممبرانو ته بنکاره کړو ممبرانو زما سره اتفاق وکړو او د بمبئی د فیصلی تصدیق وشو .

زه چه په دوره صوابۍ له لاړم نو د پرخو شحاله شوم ځکه چه د دی ځای خدایی خدمتګارو په هر کلی کښې د پرزیات کار کړی و او هر ځای د جرګې او خدایی خدمتګار په

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پر تعداد کښې جوړشوی و. زمونږ د تحریک د پرزور یا په تحصیل چارسدې کښې د اویا په صوابی کښې. د دغه ځای خدایی خدمتګارو راته یوه د پر عجیبه قصه وکړه دوی وې چه تا ته معلومه ده چه زمونږ د ترنګزو حاجی صاحب سره د پرزاړه تعلقات دي. په ابتدا کښې چه تاسو راغلئ او دلته خدایی خدمتګاری جوړه شوه نو په دغو ورځو کښې مونږ حاجی صاحب له د مومندو غازی اباد له تلی وو هلته مونږ د حاجی صاحب د مشر زوی فضل اکبر باچاګل سره په مجلس کښې د خدایی خدمتګاری خبره وکړه هغه وې پام کوئ چه کوریځی خدایی خدمتګاری ونه کړئ دا سنه تحریک نه دی مونږ د پر حیران شو بیا موحاجی صاحب نه څان له پوښتنه وکړه څکه چه هغه موپیرو او مونږ لې مریدان دو چه باباجی باچاخان زمونږ علاقه کښې د خدایی خدمتګارئ تحریک شروع کړی دی او مونږ او نور خلک پکښې شریک شوی دی ته مونږ ته ووایه چه دا تحریک سنه دی او که نه؟ نو حاجی صاحب راته وویل چه دغه تحریک د پیرزنګیانو په حق کښې دی که مخالف دی؟ مونږ ورته وویې چه د پیرزنګیانو مخالف دی نو هغه راته وویې چه دغه خو جهاد دی او تاسو کوریځی نه ما د پیرزنګیانو مقابله ونه کړی شوه زه د پیرزنګیانو نه دې تو روغړ نوله راغلم او باچاخان دغه جبلخانو تکلیفونو او تاوانونو ته سینه ډال کړې ده. په خدایی خدمتګارئ کښې ملا دده سره وتړئ! مونږ ورته وویې چه مشر باچاګل صاحب وایی چه خدایی خدمتګاری مه کوئ نو هغه یې راوغوښتو او ورته یې وویې باچاګله داسې خبری مه کوه که نه وی عاق به دې کړم. مونږ په دې د پر خوشحاله شو چه حاجی صاحب هم ستاسره کلک ملګری دی.

زمونږ د صوبې جرګې چه فیصله زما په حق کښې وکړه نو میا احمد شاه صاحب خپله استعفا پیش کړه او منظور شوه او خلک خپلو کلوته روان شول. زما طبیعت هم د دوړې په وجه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خراب و پیښور نه لاړم چه ډاکټر صاحب به دارو راکړی اونه به لږ ارام وکړم لیکن دډیرۀ
اسماعیل خان رمضان خان راپسی راغی چه پاڅه چه ډیرۀ اسماعیل خان ته لاړشو هلته
ډیرۀ بربادی شویده حکومت هندوان مسلمانان جنګولی دي اوډیر خلک یکښی مړه
شوي دي اوډیر اسبابونه اوابادی سوزیدلی دي ډیر ننګی [illegible]

شملې ته ترماتګ:

چه پیښور ته ورسیدو نو مالډهاتما کاندهی له طرفه تار راغی چه ددی تار په لیدو
شملی ته راروان شه رمضان خان اوما په دی فیصله وکړه چه د شملی نه په مخه به ډیرو
ته درشم. رمضان خان چه ماته د ډیرۀ اسماعیل خان د هندوانو د تباهی اوبربادی
ټول بیان وکړو نو زه پوه شوم چه پیرنګیانو دوی له هغه سزا ورکړه چه دوی زما د رومبی
دورې په موقع زما استقبال په ډیر شان اوشوکت سره کړی و اوزما عظیم الشان جلوس
یی په ټول بنار کښی ګرځولی و ټول بنار یی بنایسته کړی و. د پټی کمشنر دوی ته ویلي وو
چه د باچاخان استقبال جلوس جلسه تاسومه کوئ که نه دوی نو ټباه به شئ خو دوی و نه منل
زما زړه ته په دی واقعه لویه صدمه ورسیده چه دا پیرنګیان به زمونږ د مسلمانان تر
کومه په دنیا کښی شهرت اوبد ناموی.

زه د دوه خدایی خدمتګار و سره شملی ته په کاډی کښی روان شوم. چه زمونږ کاډی
لاهور ته ورسیدو نو سردار سردول سنګه کولیشر سره زما د نور و ملګرو او دوستانو تیسن
ته راغلی و اوما ته یی دوی چه دسکاټ نیو لوی کانفرانس دی اومونږ هغه کنفرانس ته
روان یو او د جلسی ځای تیسن ته نزدی دی نو دوی زه مجبوره کړم او جلسی له یی روان
کړم په جلسه کښی خپل ټول د ګجرات د جیلخانی دوستان ولیدل باران ورېدو مایو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مختصر تقریر وکړو او سبکھانو وروښو ته می وویی چه په ۱۸۵۷ع کال کښی ستاسو اوزمونږ
پنجاب اوسرحد په وجه هندوستان غلام شوی دی اوس زمونږ اوستاسو فرض دی
چه پاڅو، ملاوتړو اوهندوستان ازادکړو . داکوم نفاق اوجګړی چه زمونږ دښمنانو
زمونږ په کور کښی پیدا کړی وی دا هندوستان دازادئ دپاره ډیری خطرناکی دی
مونږ له بغیر دخپل ذاتی غرض دملک اوقام خدمت په کار دی . چه جلسه ختمه شوه نو ما
زاده هنسراج صاحب په زور جلندر ته بوتلو اودشپی په کاډی کښی هغه ځایه شملی ته
روان شو سحر وختی زمونږ کاډی کالکا ته ورسیده او دهغه ځایه به موټر کښی شملی ته
روان شوچه ورسیدو نوجواهرلال اډپی له زمونږ دبوتلو دپاره راغلی و . مونږ هغه سره
دمهاتماجی ځای له لاړو لیکن مهاتماجی دوایسړای ملاقات له تلی ولږ ساعت پس
راغی اوهغه سره مومولاقات وشو . دلږ ارام نه پس مونږ تول یوځای شونو کاندهی جی
دوایسړای دملاقات حال وویی اوما اوجواهرلال نهرو ته لږ وویی چه حکومت دصوبه
سرحد اویوپی تحقیقات ته تیار نه دی اوس چه ستاسو څه رنګه رضا وی چه هغه شان
کړی شی مونږ دواړو ورله داځواب ورکړو چه ستاپه رضا مو رضا ده او په دې فیصله
وشوه چه مهاتماجی دې ګول میز کنفرانس له لاړ شی . وراندی دا فیصله شوې وه چه په
دی دواړو صوبو کښی چه حکومت کوم ظلمونه کړی دی که حکومت دد ې تحقیقات نه کوی نو
کاندهی جی دې ګول میز کنفرانس له نه ځی . خومونږ په دې نتیجه د ډیر غور نه پس ورسیدو
چه ګول میز کنفرانس خو تول هندوستان دازادی سوال دی خو د دوو صوبو د ظلمونو
د تحقیقات په نه کولو کاندهی جی له د کنفرانس نه پاتی کیدل نه دی په کار . موټر ونه راغلل او
سامان پکښی کښیښودی شوچه کاندهی جی ایمرسن هوم سکرټری سره په ټیلفون خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړي نو دغو دواړو صوبو نه علاوه نورې خبرې چه حکومت د مهاتما کاندهي سره منلی
وي دهغونه هم په شا شوي و. مهاتما جي د موټرونو نه سامان راکوز کړو او موټرونه يې
رخصت کړل او په راونډ ټيبل کنفرانس کښې يې د شرکت اراده پريښوده چه څه وخت موټرونه
رخصت پدل نوجواهرلال درته ووې چه انتظام په کار دی ولی چه په تلوکښې صرف يوه
سباني ورځ پاتې ده دی ته وينا په کار ده چه د سبا ورځ د پاره دی تيار واوسي خو
مهاتما جي د دی خبرې په اوريدو پرې په قهر شو اوويلي وې چه هيڅ ضرورت د انتظام نشته
که حکومت غواړي چه زه دې گول ميز کنفرانس کښې شريک شم نو هغه به د دی خبرې
انتظام وکړي چه ما په وخت درسوی. کاندهي جي ته ما ووې چه ته د هغه شان حکومت ته
ولې کلک شه او کلکی خبرې ورته وکړه نو ته به وګورې چه بيا به حکومت د هر څه د پاره تيار
شي ولی چه دا يو ډير عجيبه حکومت دی. مهاتما جي وخندل اوويلي ويل چه زه اوس خدای
خدمتګار کيږم. ما چه څه رنګی وې هغه شان وشوه چه سبا له حکومت هغه ټولې خبرې
منظوری کړې او د کاندهي جي د رسولو د پاره ديو خاص کار د انتظام يې هم وکړه او د
سبسی ميل اود جهاز د پاره يې تاروونه ورکړل چه د کاندهي جي د رسيدو پورې ايسار شي.
د تلو په وخت کښې کاندهي جي ووې چه په راونډ ټيبل کنفرانس هيڅ نه کيږي زه صرف
د الله د اړون د زړه د پاره حُم. د دی کنفرانس د کاميابئ اميد نشته تاسو خپل
کار جاری وساتئ او ماته يې وويل چه هاول فارن سکرټر اوايمرسن هوم سکرټری
ماته ليکلی دي چه د دی مونږ سره نه ګوري او هغوی ستاسره د ليدلو غواړي نو
هغوی ضرور وګورئ. ما ورته ووې چه کاندهي جي زه د پيرنګيا نو سره ملاقات نه
کوم نو ده راته وويل دا زه چه کوم نو ما ورته وويل چه ته خو مهاتما جي اوزه خو کمزوری

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسان یم په ښوید انی پښه نه ږ دم هسی نه چه وښوئیږ م، خوچه ته وایی زه به
ورسره وویئم د رخصتید وپه وخت کښی ما ورته ووې چه کاندهی جی چه سرحد پر
مظلوم دی چپرته هیر د رنه نه شی. ددی په اوریدو یی وخندل اوویی ویل چه
د سرحد وروښه زه هیروالی نه شم. زما دوا ره خدایی خدمتگار د کاندهی جی مخکښی
اومونږ ورپسی روان شو. د خلکو دومره غوږ ل وچه مونږ یی کله وکړو اوزه دمها
تماجی نه د پروروسته پاتی شوم او دا دوه خدایی خدمتگار زما مکړی ددې سره
د تیسن پوری لاړل. زما دلید و د پاره یوه دوه پښتورياں راغلی وو په دی وجه هم
د تیسن پورې ونه رسیدم. د روانیدو په وخت کښی کاندهی جی هغه دوه خدایی
خدمتگار خان ته نزدې کړل اوویی ټپول او دوی ته یی وویل چه کله تاسو نه وی نو
زما را رسیدل د پرګران و.

شمله کښی زمونږ مصروفیت:

د پولیس افسرانو او نورو خلکو چه په دغه موقع یی د خدایی خدمتگارو لیدل
نو د دوی د کارګذاری نه د پر متاثره شول او د دوی به یی د پر تعریفونه کول او
د خدایی خدمتگارو په شمله کښی د پر رعب قایم شو او مونږ چه به د غلته بازار و نو
کښی ګرځیدو نو نور خلک خو پر پرده پیژنګیانو او میانو به هم خدایی خدمتگارو پسې
منډی وهلې او ویلی به یی چه دا هغه ریل شرټ (سرخپوش) دي. چه سبا شه
د پنجاب یو خان بهادر چه په انټیلیجنس د پیارټمنټ کښی و د هغه زوی چه زمونږ
په اسلامیه کالج پښور کښی سبق وې ماله د چا یو دعوت راکړو ما ورته ووې چه
پلار خو د سرکار نوکر دی هسی نه هغه ته نقصان ونه رسي خو هغه زما خبره منظ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه کړه نوښه می ورته کړل . ددی طالب علم پلار سیسل هوتل کښی اوسیده مونږ له
یی هلته چایی وکړه . زه سره دهغه دوو خدایی خدمتګارو هوتل ته ورغلو هلته دپر
پیرنګیان تامت ودچای یی څکلی نو چه دا خدایی خدمتګاری ولیدل نو په دې تعجب
یی ورته وکتل مونږ له یی ددغه ځای نه ځان له دچای څکلو انتظام کړی واوما سره
یی دفیروزخان نون چه هغه وخت دپنجاب وزیر وو اودوه د پنجاب ټیکه داران یی
سپلمانه کړی وو مونږ چه کښینا ستو نو لږ ساعت پس سر فیروزخان نون راغی اوچه
زه یی ولیدم زښتو دیی جوړ کړو اوراته یی ووې : « خانصاحب ! آپنی تو غضب کردیا
آپ کانګرس کی ساتھ مل گئے ھو؟ » خانصاحب ! تاخو عجیبه کار وکړو د کانګرس سره
ملګری شوې؟ اوس به هغوی مونږ له خپل حق رانکړي . ماورته ووې چه ملک صاحب
ته لږ په ارام سره کښینه نوخبرې به وکړو چه کښینا ستو نو ماورته ووې چه ملک صاحب
مونږ څه چل کړی وای مونږ خو کانګرس له تاسو لږ لی یوکه چیرې تاسو زمونږ مدد
کړی وای نومونږ کانګرس څه کوو . مونږ خو اول لاهور ته د رغلو اومسلم لیګ ته
موووی چه مونږ ستاسو مسلمانان درونه یو زمونږ یو تحریک دی هغه اصلاحی
تحریک دی مونږ د پیرنګیانو د حکومت خلاف نه یو ، مونږ دخپل قام اصلاح کول
غواړو اوپیرنګیانو په مونږ زور ظلم زیاتی اوتوره شپه جوړه کړی ده اودنیا زمونږ نه
خبر نه ده . مونږ د مسلم لیګیانو نه داهیله وکړه چه تاسو زمونږ په حال دا دنیا خبر وکړئ
چه دی پښتنو څه ګناه کړی ده چه دې پیرنګیانو پې توره شپه جوړه کړی ده چه په پښتنو
دا دومره ظلم ولی کیږی ؟ اوپه مسلم لیګ پسی دهلی اوشملی هم لاړو خو تاسو زمونږ
مدد نه غاړه کښینښودله اومونږ له مولاس رانکړو نومونږ به څه کول ؟ مونږ مجبور

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو سیلاب اخیستی و نو کانګرس لاس راکړو اومونږ ورسره ملګری شو او
اوس هم زه تاته وایم یوازی د پنجاب مسلمانان دي زمونږ ملګرتیا وکړي نومونږ د
ټول هندوستان د مسلمانانو په ملګرتیا پسی نه ګرځو صرف ستاسو د پنجاب د مسلمانانو
ملګرتیا غواړو که تاسو داکوئ مونږ اوس هم د کانګرس پرلپښود وته تیار یو اوس هم
د کانګرس ورکنګ کمیټئ ناسته ده زه استعفا ورکړم نو سرفیروز خان نون وویې چې
« هم سوچ کر جواب دینګے » یعنی مونږ به په دی خبره فکر وکړو اوبیا به ځواب درکړو
بیامی هغه شپاړس کاله پس بهار صوبه کښی چه هلته یولوی فساد شوی و ولیدو
ما ورته وویې چه ملک صاحب تاخو ماله هغه ځواب را نه کړو ؟ نو وې خندل ستر کی
یې ښکته کړی او روان شو . نواوس دې دهندوستان مسلمانان فیصله وکړی چه کومونږ کیوکه پنجاب ؟
څه وخت چه زمونږ خبرې اوچای ختم شوې او روانیدو نو زمونږ میزبان په شمله
کښی د سبا د پاره د ډوډی د عوت راکړو سباله د ډوډی په وخت کښی چه د رغلو نو په
هوټل کښی ټول پیرنکیان او میمانې په کرسو کښی ناستی وې مونږ له په بیل ځی کښی انتظام
شوی و . زمونږ سره د لاهور د سول انډ ملټری ګزټ د اخبار چلوونکی اوبل د کلکتی د
سټیټسمین خبرلوځی هم په دی دعوت کښی وو . ما سره د انګریزی اخبار ایډیټر
خبری شروع کړی چه اوس خو سوله وشوه نو د خدایی خدمتګار وځه ضرورت دی
تاله په کار دی چه دا تحریک فوراً ختم کړی ؟ ما ورته وویې نه دی خو په یو شرط هغه
وې هغه څه دی ؟ ما ورته وویې چه هغه دادی چه پیرنکیان دې د دې ملک نه لاړشی
او دا ملک دې ازاد کړي نو بیا به دا تحریک پخپله ختم شی . د دې په اوریدو هغه عصه
شو او څومره چه مونږ د دی میز نه چاپیره ناست و نو هغوی ټولو د رپوری وخندل

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي هم دپرې خبرې وشوې ، دوډې ختمه شوه اکثر مېلمانه رخصت شول . خان
بهادر صاحب او دهغه زوی او دکلکټې خبر لوڅې پاتې شول . خان بهادر صاحب
خدایي خدمتګار و متعلق مانه تپوس وکړو ما ورته توله قصه بیان کړه بیا هغه
ورته ووې چه ستا سود دې تحریک برخلاف ما دپرې غلطې خبرې اوزېدلې وې خو
دوس مانه معلومه شوه چه دا دپرنیک تحریک دی او دخدای دمخلوق دخدمت
پاره دی او اخر کښې یې راته ووې چه زه هم خدایي خدمتګاریم او دې خدایي
خدمتګارو سره یوځای تصویر و باسم بیایي یو انګریز فوټوګرافر راوستو او مونږ
سره یې یوځای تصویر وښکودهغې نه پس مونږ رخصت شوو او خپل ځای له دارام
دپاره لاړو .

دفارن سکرټرۍ او هوم سکرټرۍ سره لیدل :

مازیګر دمستر هاول فارن سکرټرۍ خط راغی چه سبا له ما په لس بجې وو ینه
او دهغه سکرټرۍ راته ووې چه ستاد تلو د پاره به زه خپله رکشه درولیږم ما ورته
ووې چه ستا مهربانی ده زه خدایي خدمتګاریم ، رکشه کښې نه څم خکه چه سړې یې
راکابزی سبا له به پخپله پښود رشم سبا له ټیک لس بجې ورغلم هغه دبنګلې نه بهر ته
راووتو او زه یې خپل دفتر ته بوتلم . لږ ساعت پس استینټ فارن سکرټرۍ ویلی
هم راودسپاړو . دی ما سره دپر ملاړو . دی په پښور کښې دپټۍ کمشنر هم واو
دبنډوبست مهتمم هم پاتې شوی ؤ . خبرې شروع شوې ما ورته تولې قصې وکړې
هغه مانه ووې چه زمونږ او دپښتنوخو دپرسنه تعلقات وو داځکه چل وشو چه په
مونږ او تاسو کښې نفاق چا پیدا کړو ؟ ما مستر ویلی نه وکتل ما ورته وې چه دده نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تپوس وکړه چه دا تولی قصی د مستر ویلی په مخکښی شوي دي یا زما او دهاوا
د تحریک متعلق خبری شروع شولی او په خبرو خبرو کښی هاول صاحب ماته د پر
شښه شښه باغونه وښودل خو ما ورته ووې چه زه په دوه پیسو کوزاره کولی شم. دیو
پیسی دوه دی او په بله پیسه تلپه لی باتینکن مالهخدای هرڅه راکړی دی. زه څانله
څه نه غواړم چه څه غواړم هغه د قوم د پاره غواړم. که څه راکوئ نو هغه زما دی قوم له
راکړئ. حقیقت دادی چه لکه څه رنګ مستر هاول او وئیل د پښتنو او انګریز انو
تعلقات ښه وو خو په انګریزانو کښی دګریفت جیمی سن. میجر کول او کیرو غوندی کسان
راپیدا شول او دا تعلقات یی خراب کړل. په دې کښی د مستر ایمرسن هوم سکرټری
تیلفون راغی ماته ده ووې چه ایمرسن صاحب دی او وایی چه ما سره دی ملاقات
وکړي ما ورته ووې چه ده خو ما سره د ملاقات وخت مقرر کړې نه دی، خو ده ماته
ووې چه له دې ځایه ځي لاره کښی بنګله ده ورسره ووینه مستر هاول د پرشراف
سره ؤ او ما سره یی په د پرشرافت کښی خبری وکړې او ده ټول عمر په ملازمت
کښی په صوبه سرحد کښی پښتنو سره تېر کړی دی چه زمونږ ملاقات ختم شو نو مستر
ویلی ووې چه زه به دې د هوم سکرټری دفتر له بوځم لیکن مستر هاول ما سره
پخپله د هغه دفتره پوری پیاده لاړلو نه په رکشه نه په اس سور شو، اس یی ورپسی
سائیس نیولی راوستلو زما په انتظار کښی د مستر ایمرسن هوم سکرټری اردلی
ولاړو زه اوفادن سکرټری له یو بل نه رخصت شو او اردلی زه د هوم سکرټری
دفتر ته بوتلم. هوم سکرټری یو عجیبه سړی ؤ او ما سره یی عجیبه خبری کولی او
دباد و نه یی هم رابانده ی کول اول خو یی راته داووې چه تاپه مېرټ کښی تقریر کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ه دپیرنګیانو مخونه سپین دی او زړونه تور دي که چیرې زه ستا داخبرې لندن
خبار اتوکښې شایع کړم نو بیا به ستاسو صوبې له هیڅ ورنه کړي او ټول پیرنګیان به مو
خلاف شي . ما ورته ووې چه دا دی خبرې وجوهات خو ما پخپل تقریر کښې څرګند کړي
دی او زه په دې رضایم چه زما هغه قول تقریر ته شایع کړۍ یوازې داخبره مه شایع
کوه چه دولایت خلک په حقیقت خبر شي او زه یې هم خبر ول غواړم .

بیا یې راته ووې چه ته په حکومت دباوونه کوې چه که چیرې دوی مونږ له خپل
حق راته کړو نو مونږ ته به داسې وکړي او مونږ به داوکړو . دپیرنګیانو حکومت داسې
کمزورې شوچه ستاسو دباوونه به یې پرې ما ورته ووې چه زه په چا دباوونه
نه کوم زه خو خدایې خدمتګار یم اوخپه چه زما د قوم خواهش دې په هغه حکومت
خبروم . اختر پټ مهړه نه دې چه که چیرې تاسو مونږ له خپل حق راته کړو نو بیا به
څوکتې شي نو سړې لږ نرم شو اووې ویل چه مونږ خو تاسو له خپل حق د سکوو اخر کښې
راته ووې چه خدایې خدمتګار د عدم تشدد پابند نه دې همیشه تشدد کوې ما
ورته وویل چه مثال خو راته وضبیه ټینګ ټینګی (زنګ) یې وغږ ولو دده سکرټرۍ
راغې ورته یې وویل چه فائل راوړه هغه لاړ او فائل یې راووړ چیرته پکښې تشدد
راوونه وتو راته یې ووې چه سر بند کښې لیږ ان ونیوی شو نو خلک تانې پورې ور
سره لاړل او چغې ووهلې چه انقلاب زنده باد ما ورته وویل چه مانن بستانه واوریدل
چه چغې وهل تشدد دی چه دهغوی لیږ ان مو بګناه ونیول او تانې ته مو بوتلل نو هغوی
به دومره هم نه کول چه دوی سره تانې پورې تلی وای بیا یې ناري وهلې وای . ملاقات
ختم شو او زه دهوم سکرټرۍ نه رخصت شوم . په ایمرسن کښې او په هاول کښې خو مره

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرق دی حقیقت دادی چه ایمرسن په پنجاب کښی لوی شوی و او هاول سرحد کښی
پښتنو سره لوی شوی و. زه چه واپس خپل خای له تلم نو د سبسل هوتل سره هغه زمونږ
د کالج طالب علم او د کلکتی د اخبار هغه خبر لوځی ولاړ وو زه یی په زور هوتل ته بوتلم او د
هغه په کمره کښی چه کښینا ستو نو ماته یی ووې چه نه سباله ضرور والیسرای دوینه او خان
بهادر صاحب هم راغی هغه هم ددې خبری تائید وکړو ما ورته ووې چه زما دلیدی
ویلنګدن ملاقات خواهش و خو هغه ناجوړه ده نو په دی وجه یو ازی والیسرای سره
نه وینم او په یوه بله موقع به دوارو سره ملاقات وکړم زما والیسرای سره د ملاقات
خواهش نه و ولی چه زما ورسره څه کار نه وهسی می د هغه وخت ولی ضایع کوه خو دوی
د پراصرار وکړ نو ما ورته ووې چه سبه ده که هغه ماته ولیکی نو زه به ورسره ملاقات
وکړم دوی ووې چه هغه خو داسی نه کوی نو ما ورته ووې چه ما هم چا ته د ملاقات درخواست
نه دی کړی. دوی ماته ووې چه مهاتما جی هم والیسرای ته د ملاقات د پاره لیکی ما ورته
ووې چه د هغه به د غه اصول دی او زما دا اصول دی. چه زما څه کار ورسره نه وی نو
هسی د ملاقات څه ضرورت دی. زه په شمله کښی د هغه داشنا رای بهادر سره او سیږ
دوی رای بهادر صاحب ته تیلفون وکړو یو بل تجویز یی پیش کړو لیکن ما هغه هم
نامنظور کړو سباله یی رای بهادر صاحب سره په تیلفون خبری وکړی: او هغه یی هم خان
سره ملګری کړو لنډه دا چه هغه ماته ووې چه ته د ملاقات د پاره خط مه لیکه ستا سکرټر
دې ولیکی. زما والیسرای سره څه کار نه و نو دا تولې خبری ما ته بې فایده ښکاریدې خو
دې تولو دوستانو مجبور کړم. والیسرای ته یی خط ولیکلو د لاندی یی د تاج محمد
زما د سکرټری دستخط وکړو د والیسرای سکرټری ته یی تیلفون وکړ چه مونږ د ملاقات

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاره یوخط درلیږ وچه فوراً یې والیسرای ته پیش کړې هغه هم خوشحاله شوا وما
ی بهادر صاحب ته ووې چه تاسو زما د ضمیر خلاف کار ما باندی کوئ او دا می
ته هم ووې چه هر چیری زما د ضمیر خلاف چاپه یو کار مجبوره کړی یم نو دهغه نتیجه
نه نه ده وتلی. ما ژیکر د خط لواب راغی چه د والیسرا صاحب طبیعت سنه نه دی سبا
ملاقات کیدی نه شی او دهغه سکرټر ما له یوه خاصه چیټی ولیکله او په تیلیفون یې
هم دهغوی علته معذرت وکړو چه والیسرا صاحب خفه نه دی هسی نه څه بل خیال
پیدا نه شی. حقیقت دا و چه والیسرا صاحب پټ دی خفه شوی وچه ده ماته پخپله خط
نه دی لیکلی او د سکرټر په ذریعه یې ما له خط راولیږلی دی او زما د هغه ملاقات خبری
هم وته دسپکې ووې. زه داویلی شم چه دا زما غلطی وه دی خلکو سره زما دا قسم خبری او
بحثونه په کار نه دی و او مونږ خلکوته په کار دي چه په داسی خبرو کښی چپ پاتی کیږو
او د پری خبری نه کوو او که مشوره یا څه خبره کوو نو خپلو همخیالو دوستانو سره کوو
هر سری خپل راز او ارادی نه خبروی نه دی په کار.

په شمله کښی دیوی هفتی اړام سره زما صحت سنه شو. زما د پروهند انو، مسلمانانو
سره ډیر خاتو نه رشول او دهغوی په زړه کښی چه د د پره اسماعیل خان د فساد په سلسله کښی
کومی غلطی خبری او شکونه حکومت پیدا کړی وو دهغی دلیری کولو کوششونه می وکړل د
خدایی خدمتګار تحریک د حقیقت نه می خبر کړل او تسلی می وکړه چه د اجاعت د خدای
د مخلوق خدمت او اړام د پاره جوړ شوی دی او د دوی کار د ملک د ازادی او
ترقی د پاره دی. یوه لویه جلسه موشمله کښی هم وکړه او خلکوته می تول حقیقت
د خدایی خدمتګار و د تحریک منکاره کړو. د د پره مسلمانانو او هندوانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دعوتونو کښې شریک شوم او د جمعې په ورځ مې د شملې په جامع مسجد کښ
لمونځ وکړو او یو مختصر تقریر مې هم وکړو چه اسلام دنیا ته څه دپاره راغلی
و؟ هغه وخت د مسلمانانو څه حال و؟ اوس د مسلمانانو څه حال دی؟ نن په غلامی
کښې پراته او خوښ دي حالانکه غلامي په اسلام کښې نشته. اسلام کښې غلامي
د خدای لعنت دی. مسلمان او غلامي دوارې متضاد څیزونه دي. د افغانستان
کونسل جنرل سره مې هم ملاقات وشو. لنډه دا چه په دې خورو ځوړو کښې مې د خدای
خدمتګار رود پاره ښه کار وکړو او خدای دې د پراپیګنډې ښه موقع په لاس راکړه او زما دا امید نه زیات تعارف وشو.

زه د شملې نه امبالې ته لاړم او دلته ما د جیلخانې یو د پرمهربان دوست لاله دونی چند ولید چه د هغه
په بلنه دلته راغلی وم. په امبالې کښې موږ هم د شپې یوه جلسه وکړه او د جلسې نه پس د پرو مسلمانانو او هندوانو
سره مې ولیدل. مسلمانان غریبانان دلیدل، دنه درلود لو په وجه دا سې یې بادي ته ر سیدلي
دي چه د سیاسي ژوند کې نه ادو خبر نه دي او نه یې څه خپل دا سې جماعت شته او نه د بل جماعت سره کار کوي.

د امبالې نه لاهور ته راغلم پنډت سنتانم زما د جیلخانې دوست و هغه سره د هغه کور ته لاړم. د فکري پرس
(ازاد مطبوعات) خبرلوڅې مو راوغوښته او چه څه غلطې خبرې د سوا ینډ ملیټري کړیت هغه ایډیټر چه ما سره د
شملې په هغه دعوت کښې خبرې شوې وې او په اخبار کښې ډ د شهید اکولود پاره شایع کړې وې، د هغې تردید
مې وکړو. د هغې نه پخپل اخبار کښې لیکلي و وچه باچا خان کانګرس نه جدا کیږي. دا خبرې چه سر نواب صاحبزاده صاحب
عبدالقیوم لوستې وې نو ما پسې یې سمدې لاهور ته راولیږه. چه باچا خان ته و وایه د خدای دپاره چه د کانګرس نه
جدا نه شي او که جدا شوې نو بیا پیرنګیان زمونږ ضولې هیڅ نه راکوي. په لاهور کښې راته زما د جیلخانې یو ملګري وویل
چه ته چه هیڅ راشې د هندوانو مېلمه کیږې او مسلمانانو سره نه ډېره کیږې نو ماوته وویل چه په لاهور کښې خو د پر
مسلمانان زما دوستان دي کوم یو راته ووې چه راشه زما مېلمه شه او نه نه یم ورغلی. زه پښتون یم، پښتنه
خوبي سته په کور کښې هم دوډۍ نه خوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپله صوبه کښې کار

د پېړۍ سماعیل خان ته، اتمانزوته واپسی، د احمد شاه معامله،
یاد د پروپه دوره (ښنوں، کوهاټ) د سرحد لویه جرګه
د هزاره دوره (پکلی، بفه، شنکیار، دودیال
مانسهره سپیله، نوښهر، ایبټ اباد، هري پور، سرای صالح، کلابټ، چچ، غرغشتی)
د هزاره نه واپس، ترنګزو حاجی صاحب او خدایی خدمتګاری
د خلیلو مومندو دوره، د مانړ کانو بانډه، اورمړ او
خالصې جلسې، لاټ سره لیدل، نوښار تحصیل
کښې جلسې، صوابۍ تحصیل کښې جلسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پېړۍ اسماعیل خان ته تګ:

بیا د پېړۍ اسماعیل خان ته روان شوم، چه د پېړو ته ورسېدم نو راته معلومه
شوه چه رمضان خان حکومت کو فتار کړی دی او چه د د پېړو د سار هغه تباهی او
بربادی او د هندوا و مسلمان نفرت او د بنمنی می ولیده نو د پېړیات خفه شوم
او د تصفیې د پاره می د کوهاټ او بنو هندوانو او مسلمانانو پسې هوا بونه ولېږل
چه هغوی فوراً راشی او د دی مسئلې د جوړولو کوشش وکړی. هغوی زما په
جواب نوراً راغلل سلا او مشورې مو وکړې او خان خان له هو هندوانو او
مسلمانانو سره ولیدل لیکن یو خو حالت د پېړ خراب و او بل پکښې حکومت کوتی وهلی
او خپل سړي یې په هندوانو او مسلمانانو پسې ټکولي وو او مونږ یې کاهیبانی ته نه
پرېښود و غړیانان هندوان به راضی شوي وو لیکن غټو هندوانو سولی ته نه پرېښودل
او مسلمانان د وکیلانو په لاس کښې لوبدل او هغه یې نه کوله ولې چه هغوی وې چه
زمونږ دکان به سوړشی. په د پېړو کښې چه کوم خلک د سرکار تعلق دار نه وو په دی فساد
کښې هغوی ته د پېړ نقصان رسېدلی و. دا ټوله کاروایی د حکومت وه او شیخ محبوب علی
چه د ملته اسسټنټ کمشنر و او لکه څنګه چه یې د پېړ نګیانو د پاره د امان الله خان په
وخت کښې کابل تباه کړی و د غسی د هغوی د پاره د پېړه اسماعیل خان هم تباه کړو.
زه د خپلو ملګرو سره پنیالې له لاړم او هغه خان بهادر له د غلم او هغه نمایشی
مرخپوش می پخپله ولیدل چه فسادي کړی و خان بهادر راته وې چه ماله شیخ
محبوب علی چه د دی ځای اسسټنټ کمشنر دی دوه لاډی د دې کسانو د رسولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پاره راکړې وې اوصونږ خو د حکومت خلک یو څه چې راته والي هغه کوو ، ماورته وې چې حکومت
به هم وې خو دا دې خپل قوم دی ، خپل قام سره څوک داسې بد نه کوي . دهغه زوی غلام-
سرور خان د عملګر یونیو دستې نه په چوتې راغلی و صونږ سره یې د پرده مینه بنکاره
کړه ، ماورته وې چې بابا دې پوه کړه چې سبا له د دې خپل قام حکومت جوړشی نو دې
به څه څواب ورکړي بیا تې واپس د پروته راغلو د خان بهادر عبدالرحیم خان کنډۍ
په ذریعه کرنل ژل چې د دغه ځای د پښتې کمشنر و ما له د ملاقات دعوت راکړو خو ما دهغه
سنګلی له تلل مناسب و نه ګڼل او عبدالرحیم خان ته مې وې چې که چیرې ستا ځای کښې مو
ملاقات کیدې شې نو ماته پکښې انکار نشته . د پښتې کمشنر هم په دې خبره راضی شو او هغه
صونږ له د چا یو دعوت راکړو لیکن مستر ایلام زمونږ د صوبې د پولیس جرنیل و په دوهه
د پروته راغلی او د پښتې کمشنر یې د اسې ملاقات نه منع کړو خو ده پخپله ما سره د د پرو
د نواب په ځای کښې ملاقات وکړو . د پولیس جرنیل ښه سړی و خو د خبرو چل نه ورته لو په
خبرو کښې یې ماته وې چې د د ې راهې متعلق چې د حکومت خلاف تاکوم تقریر کړې وزه په
هغه کښې تا هډ وخت کړفتار ولې شم ولې چې ستا ذمه دار ملګری په هغوی الزام لګوی
او تا د هغه خلاف په حکومت الزام لګولی دی ما ورته وې زه د ګرفتارئ نه نه یږم
خکه خو حکومت ته د ښتیا وایم او څوک چې یږې د هغوی حکومت ته د ښتیا ویلی نه شی
ته منصف شه چې دا حکومت د توقی نه بوقه جوړه کړې نه ده ؟ او د بچو د توقی د رامی له
اهمیت و ورکول د د اسې حکومت شان شایان دی ؟ بیا یې راته وې چې ستا دا حکومت
خو بس نه دی نو سیا ولې د دی ملک نه بل خوا نه ځي ؟ ما ورته وې چې جرنیل صاحب دا ملک
زمونږ دی اړکه ستا دی ؟ نو د ه راته وې چې ستا سو دی ما وې څنګه د خپل ملک نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل ملک له لارشم او دابه ښه نه وی چه تاسو د ازمونږ ملک مونږ ته پریږدئ چای خته شوه او مونږ خواره شو.

بیا د رمضان خان ملاقات له لارم ملاقات می ورسره وکړ او د حالات ډاته معلوم شو. زه دهند وانو او مسلمانانو په سوله کښی لګیاوم لیکن په څه نتیجه ونه رسیده بلکه دلویو هند وانو داخیال وچه مونږ د خدایی خدمتګارو دلاسه تباه شوی یو ماورته ووې چه داڅنګه؟ دوی راته ووې چه دا داسی چه ددی تحریک په وجه د حکومت رعب وداب پاتی نه شو، حکومت کمزوری شو او امن بی قایم نه کړای شو او مونږ لوټ او برباد شو. مونږ خو مزبوت حکومت غواړو ما ددې په اوریدو د پرو خندل چه ښه ده چه حکومت ته ګناه نشته نو لا له حجی ستاخو مره نقصان شوی دی او ستاسو په دې ښار کښی څومره خدایی خدمتګار دی؟ ځواب ئی راکړو چه زما خو څه نقصان نه دی شوی او نه دې ښار کښی خدایی خدمتګار شته ماورته ووې چه دکومو خلکو چه نقصان شوی هغوی خو ماته لیکلی بیانو نه راکړي دی چه دا فساد د حکومت په شرارت شوی دی او مونږ د حکومت له لاسه برباد شوی یو.

اتمانزو ته واپسی د احمد شاه معامله:

په دې دوران ماته یو خط راغی چه ته فوراً اتمانزو له راشه داسی واقعات پیدا شوی دی چه د مشورې ضرورت دي. زه لا نه ړم او لګیاوم د اکوشش می کولو چه د هندو او مسلمان سوله وشی. لیکن ورځ په ورځ مونږ په ځای ددی چه سولی ته نزدې شو لیرې کیدو چه په دې کښی جرنیل عظمت خان راغی او زما په نوم یې یو دستی خط راوړی و هغه کښی لیکلی وو چه د دی خط په لیدو فوراً راروان شه. د شپې می د عظمت خان نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه وکړه چه خیر خو دی هغه راته ووایی چه نور خو خیر دی لیکن میا احمد شاه زمونږ
مخالفت شروع کړی دی . ددی ځای کار څه دی ونو سحر مونږ ټول د دې برونه روان
شو . اتمانزوته ورسیدو نو معلومه شوه چه میا احمد شاه صاحب زما مخالفت کښی په خدایی
خدمتګار وکښی خاتله یوه دله برابر ولو کښی مصروف دی او دجرګو په ممبرانو کښی هم دنفاق
د پاره تګ و دوو خط وکتابت یی شروع کړی دی . ددی خبری په اوریدو خفه شوم ولی
چه زما د میا صاحب غوندی تعلیمیافته سړی نه دا امید نه وچه دی به په یوه معمولی خبره
په قوم کښی دوهره نفاق پیدا کولو کوشش وکړی اوبل چه ددی نه خبر شوم چه حکومت
زمونږ په دی اختلاف دپږې خوشحالی کړی دی اوخپلو حاکمانو ته یی حکمونه جاری کړی
دی چه د میا صاحب امداد وکړی او د عبدالغفار خان مخالفت وکړی . جعفر شاه او
عبدالله شاه راغلل اوماته یی دا تجویز پیش کړو چه مونږ داغوا روچه ته او میا صاحب د
یوځو ملګرو سره زمونږ کلی کښی جمع شئ اومخامخ خبری وکړی . ما دهغوی دې تجویز
سره اتفاق وکړو اوسبا له زه احمد شاه . عبدالله شاه . تاج محمد خان . حاجی عبدالغفار خان
او عبدالاکبر خان د میا جعفر شاه صاحب کلي ته لاړو . یو ځای شو چه دوه دی موو خوره
نوما سنجتن په یوه کمره کښی کښیناستو او وروسته موبند کړل . خبری شروع شوې . احمد شاه
دی خوا اخوا خبری کولې اوچه په زړه کښی یی څه و هغه یی نه ظاهر ول یا یی نه شو ظاهرولی
شپه دیره تیره شوه ماورته ووې چه میا صاحب خپل مطلب ووایه نو هغه بیا هم شپ
شپ وکړل اووې وې چه ماته دلوی جرګی فیصله منظوره نه ده یوه عامه جلسه دې
وکړی شی اوهغوی ته دې دا معامله پیش کړی شی چه هغوی دا فیصله وکړی . ماورته
ووې چه سبه ده مونږ ته ستا داخبره منظوره ده لیکن که هغې عامی جلسی دا فیصله

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړه چه مونږ دکانګرس نه نه جدا کیږو نو بیا به دغه خبره ومنی؟ نو ځواب یې راکړو چه
بیا به زه استعفا وکړم ماورته وویې چه استعفا خو دی ورکړې ده چه دعامی جلسې مخه
تیار نه یې نو د جلسې څه ضرورت دی؟ بیایې داخبره وکړه چه زما په هند انو باور نشته
هسې نه چه سبا له راسره دوکه وکړې نو بیا به مونږ څه کولی نه شو نو ته مونږ له اجازت راکړه
چه مونږ یو بل جماعت جوړ کړو چه سبا له زمونږ لاس دهند وانو برخلاف ازادوی
ما ځواب ورکړو چه زه منافق نه یم زه دی اجازه درکولی نه شم ولې چه داخیز د خپل
قوم د پاره مفید نه ګڼم پاتی دهند وانو دوکه شوه نو زه دې په باره کښی ستا په خلاصت
کښی داعرض کوم چه ستا داخیال درست نه دی چه ګیني مونږ کانګرس سره یو ځای
شو نو مونږ ورپوری وتړلی شو اوهند وان چه هرڅه کوی مونږ به خپل لاس خو ځولی
نه شو بلکه زه تاسره داوعده کوم چه کله کانګرس مونږ سره دوکه وکړه اهغه ساعت به
کانګرس پریږدو ته به مخکښی یې مونږ به درپسی یو اوچه ته څه وایې هغه به کوو نو کم
از کم ته دهغې پوری وارخو وکړه اخر ستا زما متعلق څه خیال دی زه خو چه هرڅه کوم د
خپل ملک د پاره کوم. عبدالله شاه اوجعفر شاه هم زما د خبری تائید وکړو او ویې ویل
چه کول میز کنفرانس په لندن کښی شروع دی دا د سود او زیان وخت دی مونږ له
انتظار په کار دی او داخبری پریښودل په کار دی او بل یې دیو خاص سرکاری سړی
خبره وکړه، احمد شاه ته یې ووې چه هغه ماته ویلی دی چه احمد شاه دی داخبری
پریږدی په دی حکومت دپری خوشحالی کړی دی او مونږ له یې حکم راکړلی دی
چه د عبدالغفار خان خلاف د احمد شاه مدد وکړئ میا صاحب مو په دې رضا
کړه چه هیڅه ده زه به اختلاف پریږدم او په قلاره به کښینم او د نتیجې انتظار به کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ ټول خو نحاله شو او او ده شو سحر وختی چه لمونځ مو وکړو نو زه عبدالله شاه
عبدالاکبر خان، حاجی عبدالغفار خان او تاج محمد خان د جعفر شاه د باغ لید ولو
لاړو زه تړې او دس ماتی له لاړم، چه واپس راغلم نو حاجی عبدالغفار خان او
تاج محمد خان خفه ولاړو د راتلې وې چه احمد شاه میا په بیکانی فیصلی باندی تینګ
نه شو هغه او س مونږ ته څه نوی قصی وکړې او عبدالاکبر خان یی زمونږ نه بیل کړ.
زه هم ددې په اوریدو خفه شوم په دی کښی سړی راغی چه چای تیار ده نو چه چا یو ته
کښینا ستو نو احمد شاه صاحب بیا هغه قصې شروع کړې چه بیکا فیصله شوې وې ما ورته
وې چه ددی خبرو فیصله خو بیکا شوی ده، اخر احمد شاه میا صاحب دخپل زړه
هغه پته خبره خرګنده کړه اوما ته یی وې چه زه ددې خبری برداشت کولی نه شم چه
ټول خلک دې دیوسړی په خولی پسی روان شي ما ورته وې چه میا صاحب همیشه په
دنیا کښی خلک یوسړی پسی روان وي او دا خو د قوم او ملک د پاره ډیره دفایدی خبره
ده چه ټول قوم په یوسړی متفق شی نو خپل منزل ته ورسی خو دې خبری ته کتل په
کار دی چه هغه سړی چه څه کوی دځان د پاره کوی او که د قوم د پاره؟ په خپله خوښه
کوي که د ملک و په سلا؟ که دځان د پاره کوی او مخپله خوښه یی کوي نو بیا هغه پسی ټلل
نه دي په کار. او دغه ځای ته خلک په خدمت رسېږی نه په مخالفت. ته زمانه زیات
خدمت وکړه هغوی به زمانه زیات ستا خبری منلو ته تیار شی تاچه په ولایت کښی
سیلونه کول هغه وخت زه ددی خپل قام د پاره په جبل خانه کښی پروت وم او میچنی
می اوړولې ددی بحث مباحثو نه دایوه فایده وشوه چه هوښیار دمیا صاحب د اصلی
غرض نه واقف شو. عبدالله شاه او جعفر شاه غیر جانبداری ظاهره کړه عبدالاکبر خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ووی چه زه به پس له دی نه سیاست نه کوم او حاجی عبدالغفار خان او تاج محمد خان سره یې وعده وکړه چه تاسو سره به د سکول په کار کښې مدد کوم مونږ تول خپلو کلوته روان شو. عبدالاکبر خان میا عبدالله شاه خان سره په زور قاضی خیلو ته روان کړه مونږ پوه شوچه عبدالاکبر خان کمزوری سره دی میا صاحب وله دوکه ورنه کړی دعبدالله شاه په احمد شاه چه دده تر بور و سنه ورځ نه پیر زوکړه. عبدالله شاه د پیر له باز او د پیر و جنبو جور ولو ماهر او شوقی سړی و او د اتوله تماشه ده جوړه کړی وه.

مونږ د احمد شاه دوی کلی ته لاړو ولی چه مونږ د عبدالله شاه د رور اکبر جان میلمانه ووچه د دوی نه فارغ شو نو حاجی عبدالغفار خان ماته رانږدې شو او ویې ویل چه عبدالاکبر خان خوبی بالکل بدل کړی دی ماوې ته یې پوه کړه هغه وې ما پرې د هر کوشش وکړه خو پوهیږی نه. سبا له کلی ته راغلو بله ورځ ماولیدل چه عبدالاکبر خان او احمد شاه زما برخلاف یوه لویه پروپه چاپ کړی وه پکښې لیکلی دوچه زمونږ د مصرو په شان په اوبو کښې اوبه نشو اوزمونږ هیڅ هستی پاتی نه شوه. په دې اشتهار د احمد شاه، عبدالله شاه او عبدالاکبر خان دستخطونه وو. مونږ خپل بعضی ممبران را غونډ کړل او دهغوی په مشوره می دهغوی په شان چاپ شده خواب ورکړه او زه دیوخوخدایی خدمتکار وسره بیا د پیرو په دوره روان شوم.

د پیرو دوره:

په دی وخت کښې خبر شوچه زمونږ لات صاحب سره ستوو ر د پیرس چه د پیر سنه اوشریف سړی و دغرنه پریوتو او مړ شو او دهغه په ځای سره یلف کرف لات شو دی یو فوجی سړی و دده خیالات مونږ ته معلومه وو دی ورځی زمونږ په صوبه کښې لوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی دی ، دی چه د وزیرستان ریزیدنت و نوده یو خپل افسر ته د خدایی خدمتګار
متعلق خپل خیالات ظاهر کړی وو چه کله غوندی وینه تویه شی نو سبنه به وي . دلات کېدو
سره یې شملی تنه ویکل چه زه عبدالغفار خان گرفتار وم ولی چه دا د هر سبنه وخت دی د دې
نه فایده اخیستل په کار دی ، په دوی کښی نفاق پیدا شوی دی خو شملی د هره اتفاق
ونه کړو خکه چه کول میز کنفرانس روان و د مرکزی حکومت داخیال وچه مهاتما گاندهی
د ده په گرفتاری لندن کښی څه قدم وچت نه کړی . او ده ته یې ویلکل چه دا اختلاف به
دوی پخپله تباه کړی زمونږ د دخل ضرورت به پاتی نه شی ، هغوی نور هندوستان ته
کنټل او د دی د خبرنه وو چه پښتون د نور هندوستان په شان نه دي ، دا یوځوندی
قام دی اول پوه شو او س پوه شوی دی او سیاسی شعور یې پخپلی راغلی دی نو هغه به
دنا پوهو کار و نه کړی .

مونږ : خپل کار او خپلو دوستانو زور ورکړو ولی چه ما ته معلومه شوه چه حکومت
مونږ د هر زد گرفتار ول غواړی . کلی په کلی وګرځیدو او خلک مو په حقیقت پوه کړل
او د ی خبری له مو د هر زور ورکړو چه زمونږ جنګ د علم تشدد جنګ دی او دې
لاره کښی چه هر ډول تکلیفونه او مصیبتونه راځی نو په صبر یې تیر وو . مونږ به د چا نه بدل
نه اخلو مونږ خدایی خدمتګار یو خدای به زمونږ بدله د ظالم نه اخلی مونږ د پښتونو په
دوره وو نیمه شپه د جلسی نه فارغه شوي وو ایله موسترکی ورغلې وې چه د عمر زوی
عبیدالله خان چه د پولیس کپتان و د لات صاحب یو دستی خط یې راوړو په هغه کښی
یې لیکلی و چه زه تاسره د ډیره اسماعیل خان د تقریرونو متعلق گفتګو کول غواړم ته مهربانی
وکړه پیښور ته راشه ماورته ویلکل چه زه د قانون برخلاف تقریرونه نه کوم اونه می کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي تاته که څه غلط خبر رسيدلی وي دا به ستاد خفيه پوليس والو غلطی وي زه په
وخت کښی د تلی نه شم خکه چه ما د خپل پرو ګرام نه تول خلک خبر کړی دي زه هغه پلي
نه شم څه وخت چه فارغ شوم نو پيښور ته به د رشم نو که تاته ضرورت ښکاريږي زه به ت
سره ووينم چه څه وخت می د اخوا ب ليکلی عبيد الله خان له ورکړو نو زه را روان شو د
ډيره اسماعيل خان په دوره کښی حکومت د پر کوشش وکړو چه زه بعضی علاقوته لا
نه شم او د دی د پاره يی خان بهادر عبد الرحيم خان ما پسی راولېږلو خو زمونږ
مقامی ملګرو د اخبره خوښه نه کړه او مونږ د تولی علاقی دوره وکړه بيا مونږ بنو ت
لاړو جرنيل عظمت خان زمونږ نه مخکښی دکار د پاره دلته راغلی و، د بنو دوره مو
کلی په کلی وکړه.

مونږ چه ډګی نه مرو تونه روان شو نو مونږ له خورشيد جن، سعد الله خ
او د جواهر لال اوښی په موټر کښی مخی له راغلل او راته يی ووې چه جواهر لال د
حکم راليږلی دی چه تاسو فوراً د سرحد لويه جرګه جوړه کړئ او د قواعدی په مطابق
کار شروع کړئ ما ورته ووې نه دی تاسو د جلسی د پاره خلکو پسی خطونه جاری
کړئ او په مقرر تاريخ به زه د رشم مونږ د جلسی د پاره تاريخ مقرر کړو او هغه
نه پس دوی پيښور ته لاړل او زه د بنو نه د کوهاټ دوری له راغلم د کوهاټ
دوره هم په ډير ښه شان وشوه د لته زمونږ په ژړ کونو خدايی خدمتګار وو
جلسی مو وکړی کلی په کلی، تپه په تپه وګرځيدو مونږ چه څه ډګه دوری د پښتون
د اتفاق د پاره شروع کړی وی د غسی دوری ميا احمد شاه د پښتون د نفاق د
پاره شروع کړی وی خو دا يو څيز يی زمونږ نه زيات وچه ده به زمونږ برخلاف

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوپړي هم چاپ کولې اخبار اتو کښې به يې هم زمونږ برخلاف پراپېګنډه کوله د
پنجاب اخبارات هم دده ملګري وو ولې دهغوی مقصد هم دپښتون کور وړانول
دی داحمد شاه دوی مقابله زمونږ خدايي خدمتګار خصوصاً جرنيل انځر کل
او عبدالمالک استاذ دچا دسدی وکړه او احمد شاه دوی پخپل مقصد کښې
کامياب نه شول . مونږ چې دکوهاټ دوره ختمه کړه او دپير شهنشاه صاحب
په ځای کښې موشپه وه نو زمونږ دهغو او ټل بعضی مخلصان ملګري چې دميا-
صاحب دپراپېګنډې نه متاثر شوي وو د تحقيق دپاره دغلته راغلل اوماته يې
ووې چې داتاخه چل وکړو چې دپښتنو يوځان لجماعت دې کانګرس کښې مدغم
کړلو تاخو به اول مونږ ته داخبری کولی چې داجماعت اوتحريک خو دپښتنو دی ما
ورته ووی چې تحريک خو هم هغسی دپښتنو تحريک دی دکانګرس سره خو صرف مونږ
تعاون کړيدی چې هغوی هم دپيرنګيانو نه دهند وستان ازادی غواړی اودا
د تعاون فيصله خوستاسو لويی جرګی کړې ده مونږ خو جيلخانه کښې قيد وو پښتنو
باندی چې څه وخت پيرنګيانو توره شپه جوړه کړه اوخدايي خدمتګاری ګرفتار کړل
نومونږ دګجران په جيلخانه کښې ووچې جعفر شاه اوعبدالله شاه راغلل اومونږ
ته يې وويل چې پيرنګيانو په مونږ توره شپه جوړه کړې ده اوتحريک تباه کول غواړي
مونږ څه وکړو؟ مونږ له چې راغلل نو زما خو ملاقات هم بند و احمد شاه او
عبدالاکبر خان ورسره ملاقات وکړه اومونږ په شريکه دارايی ورکړې چې لاړشئ
ودمسلم ليګ سره نو سره ووينئ چې مونږ سره امداد وکړي . دې لاړل اوبيا
راغلل اووې ويل چې مسلم ليګ زمونږ ملګرتيا ته تيار نه دی اوکانګرس وايي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو هم دملک ازادی غواړئ او دعدم تشدد په اصولو کاربند اوسئ او مونږ هم نو په دې وجه مونږ ستاسو امداد ته تیار یو مونږ ورته ځواب درکړو چه واپس لاړشئ اوخپلې لویې جرګې ته دا مسئله پیش کړئ هغوی راغلل اوجرګې فیصله کړه چه مونږ کانګرس سره ملګرې کېږو او ملګرې شول اوهغوی زمونږ پرایپکټ په اخبارا تو کښې وکړه اودتحقیقاتو دپاره یې جرګه راولیږله . داخو دهغوی دملګرتیا برکت دی چه هر کرښم اوستاسو سره جلسې کوم که دانه وي نو زه به اوس چیلخانه کښې قید وم او داتاسو چه لګیایئ دتحریک کارکوئ داخو دکانګرس برکت دی که نه وی نو پیرنګیانو تاسو کارته پرپښودلئ څه ؟ دهغوی تسلی وشوه اوخپل کلی ته روان شول اومونږ پیښور ته راروان شو .

چه راورسیدو نو معلومه شوه چه حکومت زمونږ کاډې ولاړ خدائی متکار په مخه کړې دی . دوی په پیښور ښار کښې دسامان دیوځای نه بل ځای ته وړلو اورسولو . کارکولو . دا ډېر سخت اومشقتی کار و ، اومقامی خلکو نشه کولی دا دهغه راغلی خلک واو اکثریت یکښې زمونږ دمومندانو وروڼو او قابو سل په سل دخدائی خدمتګارۍ په تحریک کښې شامل و ، اومقدمې پرې جوړې کړې . ي اودباوونه پرې هم کوي چه خدایی خدمتګارۍ نه لاس په سر شئ که نه وی نو دی ملکه ځکه اوچه په دوی کښې کوم دکار خلک وو نو په هغوی یې دامقدمه جوړه کړه چه تاسو ته دې ملک نه ځئ او په فلانی دفعه (قانونی ماده) کښې مونږ تاسو ددی ملکه باسو ، داخلک ډېر دکار اوتکړه خلک اوښه پښتانه وو پلرونه اونیکونه یې دافغانستان نه راغلی وو اوهلته زمونږ په صوبه کښې اوسیدل . دوی ته یې وئیل چه :

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو خپل ملک ته لاړشئ حال دادی چه داغریبانان خو پلار په نیکه دلته اوسیږی. مونږ دمالګو په منډهی کښی دحکومت ددی ظلم برخلاف یوه لویه جلسه وکړه اوپه زرګونو ښځی نر، پکښی شریک شول اودحکومت ددې رویې برخلاف موتقریرونه وکړل. زمونږ دجلسی نتیجه ښه شوه اوپه حکومت یی دومره اثر وکړو چه هغه خلک یی پرلښوول اومقدمې یی واپس کړې.

ددې دوړو اوبی ارامی په وجه زما طبیعت بیاخراب شو دلته می ارام کولی نه شو. دخوودرځو دپاره کوه مري ته لاړم قاضی عطاؤالله اوغلام محمدخان هلته وو. په کاډی کښی کښیناستم اومری ته ورسیدم. شیرښادرخان دبروج لادی کښی ناست و اوخپل کلی ته راتلوچه زه یی ولیدم. دلادی نه راکوز شو اوماسره یوځوورځی پاتی شو. څه ورځی می ارام وکړو چه طبیعت می ښه شو نوزه اوشیرښادرخان واپس راغلو.

دسرحد لویه جرګه:

کانګرس مالهٔ اختیار راکړی وچه ستاځه رنګی خو ښه وی دسرحد لویه جرګه جوړه کړه لیکن ماپه پیښور کښی دتولې صوبې کارکنان راجمع کړل اوددی خبری کوشش می وکړه چه دکانګرس دجرګی سره په یوځای والی کښی څه اختلاف پیدا نه شی. خو زمونږ دپیښور ودرونه په دی رضا نه شو اوبیامی دکوهاټ اوبنو کارکنانو ته ووې چه زه پخپل اختیار دسرحد صدر نه مقرر کوم. تاسو په اتفاق سره یو صدر خوښ کړئ هغوی پیر شهنشاه خوښ کړو اوصدر شو. اوسعدالله خان په اتفاق سره جنرل سکرټری شو اومرکزی دفتر موهم اتمانزو کښی مقرر کړو ولی چه هغه دجرګی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایی خدمتگارو ډومبنی مرکزو . دصوبې جرګه جوړه شوه او کانګرس له موددی
خبری خبرورکړې ، هغه قوم دنیاکښې دپرېدلو قسمته وی چه هغوی کښې داسې خلک
پیدا شی چه پخپله خو قوم او ملک دخدمت دپاره تیار نه وی او چه څوک یکښې د
خدمت دپاره پیدا شی نو هغوی خدمت ته نه پرېږدي . دا خلک چه څه وخت د
پاره جیلخانی ته لاړ شی نو دا خیال کوی چه زه خو اوس لیډر شوم او خپل ځان
دوړاندی کیدو کوسښښونه شروع کړي او خپل غرضونه یې په مخه واخلی او که څوک
دخدای دپاره ددی قام خدمتونه کوی نو دهغوی مخالفت شروع کړي خو هر
څوک چه دخدای دپاره دقام خدمت کوی نو دهغوی مخه څوک نه شی بندولی
او هغوی دچا مخالفتونه نه کوي ځکه چه خپل څه غرض یې نه وی مخالفت خو ذاتیاتو
کښې پیدا کیږی . دښاردي وړونوته هم مونږ دمیا صاحب په شان دپرمنتونه
وکړل چه دی کښې څه شته نه او دقام خدمت دی راځی چه په شهکیه ورته ملا
وتړو ! خو دوی هم خپلو غرضونو په مخه کړي وو او دجرګې او خدایی خدمتګارو
خلاف یې پراپیګنډه شروع کړه او دی ته یې فکر ونه کړو چه په دی طریقه خو مونږ خپل
ځان ته او قوم ته نقصان رسوو او دغلامئ ځنځیر نور مضبوط .

په ډیلی کښې دکانګرس ورکنګ کمیټئ اجلاس وو او دهغه دپاره د ۱۹۳۱ع کال
د اکتوبر میاشت مقرره شوې وه زه دلوند خور غلام محمد خان سره ډیلی ته
لاړم . په ورکنګ کمیټی کښې ما دا خبره پیش کړه چه تر اوسه زمونږ دملکنډ ایجنسی
قیدیان په سوله کښې رها شوی نه دي او هغه شان جیلخانه کښې پراته دي او مونږ ته
حکومت داوایي چه دا علاقه دکانګرهی اړون پیکټ نه بهر ده دورکنګ کمیټئ دا اجلاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې مرکزي حکومت ته سفارش وکړي چې زمونږ د املکري قیدیان پریږدي دوي
وویې چې موږ له دکاندهي جي دراتلو پورې انتظار کول په کار دي.

دهزاري دوره:

د ورنګ کمیټې جلسه ختمه شوه اوزه او غلام محمدخان واپس راغلو نوبیا مادهزاري
دوره شروع کړه ولی چې دې اوسنۍ دوره کښې صرف دا ضلع زمانه پاتې وه. شل پینځه
ویشت خدایي خدمتګار مې دهرې تپې نه یویو راوغوښتل او دهغه سره مې ښه په
شان اوشوکت هزاري په بوتلل دې دوره کښې د ستې جان شاکر د باچاګي چې د پرخوش
اوازه هلک وُموتږ سره وده به دانظم وې: «انګریزه ځه خپل وطن ته کوږیږه». مایو
پوه اوهوښیار خدایي خدمتګار پټ چې له ولیږلو چې دهغه ځای حال معلوم کړي. اوبه پټه
خلکو سره زماد ورتلو مشوره وکړي ولی چې دې علاقې ته حکومت زمونږ خدایي خدمتګار
نه پریښودل اوبه دې بدسلوکۍ سره یې واپس کول نومادا غوښتل چې زه غوروتپه
(اوناځاپه) دې علاقې له لاړشم اوچې حکومت خبر پرې چې زه دغلته رسیدلی یم
مونږ سمدستي په ریل کښې دپیښور نه راروان شو. حکیم عبدالسلام صاحب له مو
مخکې خبر ورکړي وخته وخت چې زمونږ کاډي شاوخوا ته ورسیدو نوحکیم صاحب
په تیسن والاره مونږ کاډي بدل کړه اوبل کاډي کښې سواره شو اوچې هري پور تیسن
ته ورسیدو نوډپټي خلک زمونږ د استقبال دپاره تیسن ته راغلي وو. چونکه زمونږ پروګرام
دپټلي و په دې وجه دکاډي نه کوز نه شوم اودخپلې ډبې په دروازه کښې ودریدلم او
دخلکو شکریه مې ادا کړه یوڅو خبرې مې هم وکړې چې په واپسۍ کښې به ستاسو په خدمت
کښې حاضر یږو. کاډي روان شو مونږ چې مخکښې لاړو نویو موټر موږ په سړک ولیدو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر خپوش پکښی ناست دي اوریل سره يي په منډه پرښی دی ددوی په لیدو ډیر خوش-
حاله شوم چه شکردی دلته هم خدایي خدمتګار جوړ شوي دي . مونږ چه په حویلو ستیشن
کښی دکا ډی نه کوز شو نو هغه موټر هم راورسید . دوی هم راکوز شوا ویې ل ته ودریدل
شو بیا مو یوه لاډی کرایه کړه اوپکلی ته روان شو . زه په لاډی کښی سور شم او باجی والا
مو موټر کښی سواره کړل . هغوی مخکښی اومونږ ورپسی شو . دکوهاټ ډپټی کمشنر
په شان دهزاره ی ډپټی کمشنر اپ کینسن هم چه څه وخت زما د راتلو نه خبر شوی دی
نو لږ پونی شوی دی اوپه دی نه پوهیدو چه څه چل وکړم . په ډیر وکوشښ زما ندی یې
غلام ربانی وکیل په دې خبره راضی کړو چه زه به بیا ستاو رور چه په بنار کښی سب ډویژن
و اوموقوف شوی دی بحال کړم که ته ددوی مخالفت ته ملاوتړې . مونږ چه دحویلو
ستیشن نه روان شو دسړک په غاړه چه کوم کوم کلی راتلل هغوی ته به موخله قصه کوله .
ایبټ اباد ته ورسیدو اوچه دبازار په منځ کښی تللو نو ډیر خلک زمونږ د راتلو نه خبر
شول . څه وخت چه مانسهره ته نزدې شو عبدالقیوم خان سواتی وکیل چه زما د خلافت
ملګری اوما سره یې قید تېر کړی و سپید وکلی سره د څونورو معتبرو مشرانو زمونږ هر کلی
ته ولاړوو دهغه نه معلومه شوه چه غلام ربانی وکیل دحکومت په مشوره مانسهره کښی د څو
کسانو سره ولاړ دی اوهغوی له یې توری جنډی ورکړی دی . مونږ لږ څه توله صوبه کښی
دا تماشه لیدلې نه وه اوچه هغه ځای ته ورسیدو نو داخپل موټرونه موو ودرکړل هغوی کښی
څو کسانو زمونږ د موټرونو دوددولو کوشش هم وکړو خو مونږ موټرونه و نه دروول لیکن
یو عجیبه سړی می په نظر راغی چه په یولاس کښی یې توره جنډه ده او په بل لاس یې مونږ ته
سلامونه کول ورو سته معلومه شوه چه داخلک یې دوکه کړی وو بې خبره یې راوستی وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او تودې جنډې ورکړې وې

پکلی ته ورسید و دلفی خلک تقریباً دوه میله مخی له راغلی وو مونږ ورسره پیاده
لفی ته روان شو ماښام ورسید و مونږ لې دسین په غاړه یو ښه ځای کښی ډیره کړو. دغه
ځای ډیر هوار دی. د تورو جنډو په دی قصه چه دغه خلک خبر شول نو ډیر خپه شو. د
هزاری خلک پښتانه دی خوژبه تری ورکه شوی ده د ډیرو کلو د خلکو د دی تورو جنډو
په وجه مونږ سره همدردی پیدا شوه او مونږ سره خدایی خدمتګار شول. دلفی او د دی
علاقی ټول خلک سبا له په جلسه کښی شریک شول. دلفی جرګی او خدایی خدمتګارو د
جلسی ښه انتظام کړې و. د تورو جنډو په وجه زما زړه ته هم ډیره صدمه رسیدلی
وه حالانکه په داسی څیزونو سیاست کښی خپکان کول په کار نه وی چونکه دا زما اول
ځل و ماچیرته پخپله صوبه کښی توره جنډه لیدلی نه وه ځکه ډیر خفه شوی وم او دا
زما کمزوری وه. ما په جلسه کښی ډیر تیز تقریر وکړو او دی خلکو ته می ووې چه تاسو
خپله ژبه پښتو هیره کړې ده د غسی تاسو کښی پښتو هم نه ده پاتی شوې. د پکلی بعضی
خلکو هم تقریر ونه وکړل او په ډیره کامیابی سره زمونږ جلسه ختمه شوه خلک خواره شو
ماښام حاجی فقیر اخان هم د پیښور نه راورسید و دی زمونږ ډیر زور ور کارکن دی
چې هزاری ضلع کښی ډیر کار کوي. مونږ د هزاری د دوري پروګرام د حاجی فقیر اخان
او نورو کارکنانو په مشوره جوړ کړو. مونږ د پکلی په علاقه کښی ځای په ځای جلسی وکړې
او په هزاره کښی پکلی د اسی علاقه ده چه خپله ژبه پښتو وایی. کوم ځای چه پښتو خپله
ژبه پرې پښتو دی نه ده هلته زمونږ تحریک ډیر کامیاب وي څه وخت چه مونږ د شینکیاری
د جلسی انتظام کړو نو حکومت زمونږ په جلسه کښی د شرارت د پاره خپل څه خلک راولیږل

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خدای فضل وچه هغوی جرئت ونه کړی شو او جلسه په دیره کامیابی ختمه شوه. هزاره کښی حکومت کوشش کولو چه زمونږ په لاره کښی مشکلات پیدا کړی خو خلکو کښی پوهه راغلی وه او د غلام ربانی تورو جنډو مونږ له کافی کار کړی و او خلکو کښی یی پوهه او احساس پیدا کړی و. مونږ اخری جلسه دوه یالوکښی وکړه او د دی ځای د پرتګالی پینا نه دی د دوی اول د جلسی څه خیال نه و او نه یی زمونږ په تحریک کښی د شرکت څه خیال ؤ لیکن د دوی یو سړی غلام ربانی په تورو جنډو کښی شریک کړی و او د دی غیرته یی خپل کلی کښی جلسه وکړه او مونږ سره د خدایی خدمتګارو په تحریک کښی شریک شو. حکومت چه به څومره زمونږ مخالفت کولو نو هغه څیز به زمونږ د پاره مفید او د حکومت د پاره مضر ثابتیدو ولی چه مونږ هر څه کول نو د خدای د مخلوق د خیر د پاره موکول. له دی ځایه مونږ مانسهری له راغلو، په زړ کونو خلک زمونږ استقبال له راغلی وو او زمونږ جلوس په بنار او د بنار په بازارونو کښی کړ شید و او چه د غلام ربانی وکیل کور له راغلو نو د انقلاب زنده باد چغی یی وډهلی او د بعضی خلکو خو دا اراده وه چه دده په کور کانی و وروی خو ما منع کړل چه دا زمونږ اصول نه دی. زه دا په دعوه سره ویلی شم که حکومت دلته دتورو جنډو دا قصه کړی نه وای نو شاید چه دومره خلک به په جلوس کښی شریک شوی نه وو.

مونږ د مانسهری نه سپید وته لاړو او د سبا د پاره مو مانسهره کښی جلسی اعلان وکړه، د سپید وتو خانان زما هربانان وو، خو عبدالقیوم خان او غلام رسول خان می د جبل خانی یاران وو. شپه مو په ارام سره تیره کړه، سبا له نو بجی د علاقی مشرانو سره خبری وشوې او د هغوی په زړونو کښی چه غلطی پرا یښنډی ی زمونږ د تحریک برخلاف غلط فهمی پیدا کړی وې هغه لیری شوی. د چای نه پس مو د تلو انتظام کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه په دې کښې د مانسهرې انسپکټر راغې اومالې يې د ډپټۍ کمشنر خط راوړو اوداخبره يې هم وکړه چه ډپټۍ کمشنر سره د پوليس کپتان مانسهرې ته راغلي دي . ماچه خط پرانستونو هغه کښې ليکلې وو چه په جلسه کښې د غلام ربانی سره ته ددې تحريک مباحثه وکړه اوبل کړه فساد وشونو څوک به يې ذمه وادي او انسپکټر راته ووې چه داتول شرارت ددې ډپټۍ کمشنر دی ماوې چې مشه ته خو سرکاری نوکر يې . ما ډپټۍ کمشنر ته وليکل چه دې معامله کښې دبحث مروت نشته زه دلته د خدايي خدمتګاری د تحريک اشاعت له راغلی يم زما کار اشاعت دی اويا منل الله منل ددی خلکو کار دی . پاتې شو فسادونو زمونږ نظر په دعدم تشدد ده که چيرې څوک مونږ سره فساد کوي هم مونږ وروسره فساد نه کوو نو په دی سبب که چيرې فساد وشونو دهغه ذمه وار به ته يې . تا نه دا رخصت شو اومونږ هم مانسهرې ته روان شو په لاره کښې چه به څوک خبر بدل نو مونږ سره به ملګری کيدل چه مانسهرې ته ورسيدونو د هر خلک مونږ سره ملګری شوي وو اوهلته د جلسې په ځای کښې به زرګونو خلک راجمع شوي وو . د جلسې ځای سره نزدی موځه خلک جمع وليدل د تحقيق نه راته معلومه شوه چه دا د حکومت خلک دي او حکومت په څه چل ول د دوی پيسو په طمعه ، لالچ دا خلک دی علاقی ته زمونږ د مخالفت د پاره راوستلی وو او دلته جلسه کوی اوهغه وکيل ګلياو تقريرې کولو خو په دی پوه نه شوم چه په کومه موضوع تقرير کوي .

ما خو خلوته پخپله جلسه کښې د خدايي خدمتګاری حقيقت بيان کړه اوخلک می په دی پوه کړل چه خدای ته د خدمت ضرورت نشته د هغه خدمت د هغه د مخلوق خدمت دی ، دا ملک خدای مونږ له راکړی دی او د غه شان خدای هر يو قوم له يو ملک ورکړی دی ، د دې د پاره چه هغوی او د هغوی بچی پرې اباد شي ملک خو زمونږ دی خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اختیار یې دبل دی اودغه وجه ده چه زمونږ بچي وږي تږي اوبرښنډ ذي ومړي پرې
نور خلک کوي . غلامي دخدای لعنت دی اومونږ له ددی لعنت نه خان غلا اصول په کار
دی اودا به هله وشي چه مونږ کښې قام ولی ، وروروڼی ، اتفاق اومینه محبت پیدا شي . مونږ دا
دنیا دقاموڼی دنیاده اوتاسو وګورئ چه چاکښې قاموڼی اووروروڼی او اتفاق دی ، نوهغه باد
دي اوچه کومو قومونوکښې پرې ، جنبي تر بکښې راودښمني دي هغه برباده دي ، ډه امید کوم چه
تاسو به زما په دی خبرو غور اوفکر وکړئ که دې کښې یوازی زما فایده وی نومه یې کوئ او
که دې کښې ستاسو دنیا او اخرت گټه وی نوعمل پرې وکړئ چه تاسوا بادئ اوستاسو
بچي اباد شي . په کار دی چه تاسوهم تولو پښتنو سره په دې تحریک کښې شریک شئ . دا جلسه
دهره په کامیابی ختمه شوه ، هر یو کار چه دخدای دپاره وي دهغه مخه څوک نیوی نه شی
حکومت پخپل فریب کښې کامیاب نه شو ، جلسې سره زمونږ دیومهربان حامی وُهغه له د
اوام دپاره لاړو . دعلاقی دپر معززینو جلسې له داغلی وو هغوی سره خبری وشوې د
حاجی فقیر اخان اوحکیم عبدالسلام په تجویز اوتائید ددې خبرې فیصله وشوه چه زه
دې دهغو خدایی خدمتګارو سره یو خای یو تصویر و باسم چه پکښې کښې دحکومت د طرفه
پرې ظلم اوزیاتی شوی دی . جبلخانو کښې یې اچولي دي او په بینتو نوبل وهلي دی . داد
پکښې دمعززینو اومخلصانو یوه ډله وه چه ددوی داخلاقو درته څه ذکر وکړم . علی گوهر خان
چه په دوی کښې یو خان و راته دوی چه پلار می دحکومت دوپرې نه ددی تحریک دپر
مخالف دی زه یې دکورنه شړلی یم خکه چه زه خدایی خدمتګار یم زه ددی پروانه کوم
او دخپل مظلوم قام دبیدار ولو کوشش کوم دیوبل مولانا صاحب نه معلومه شوه چه څه
وخت یې مونږ په بینتو نو وهلو نو ما سپرنټنډنټ ته ووې چه زه عالم یم ما مه برښنډ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوزه یې دپرېښ ښینته وو هلم اوزمانور ملګري یې پنځه لس پنځه لس ښینتونه وهلي وو.
دپکلي د خدایي خدمتګار رویوي بلي خبري په ما پرې اثر وکړو. دراتلو په وخت
کښې می علي ګهرخان اویو څونور وخدایي خدمتګارونه وو چې ستاسو خوښه وي
نوزه به موږ ځان سره پېښور ته دسیل دپاره بوځم نوراته یې وویې چه زه خو مود پر
کښې ی خو زمونږ په سر دپرکار دی دی نه تلی نه شو نوزه ددې په اوږدو
د پر خوشحاله شوم چه د دوی دې تحریک سره خو مره محبت دی.

مونږ دپکلي د مانسهرې نه را رخصت شو حکیم عبد السلام صاحب
د هرې پور زمونږ سره ملګري وهغه د نعمت الله خان دعوت د شپې دپاره
منظور کړې و او مونږ ما ښام دهغه ځای ته ورسیدو. دهغه د کلي نه جدا کور
وحجره وه. شپه مو په ارام سره تیره کړه، سبا له را روان شو، حکیم صاحب زمونږ
راتلو د پاره یوی لاډی سره خبره کړې وه لیکن سبا له هغه را نغله، مونږ پیاده روان
شو لاډه کښې چه به کوم کلي په مخه را تلونو هغه کښې به موخپل تبلیغ کولو زمونږ د پاره
ډاپیاده تلل ښه شو ځکه چه د پرکار وشو کله چه مونږ نوانشهرته نزدې شونو د پر
هندوان او مسلمانان زمونږ په انتظار کښې ولاړوو او چه مونږ یې ولید ونو
انقلاب زنده باد چغې یې وهلې هغوی زمونږ جلوس په ښار کښې وویستو.
مونږ د پر مستري شوی وو، مونږ یې دارام دپاره یوځای ته بوتلو ما ښام نزدې
ارام مو وکړو، د دوی مو وخوړه او د شپې دپاره یو بل ځای ته لاړو سحر
ختی چه څوک زمونږ لیدو له راغلی وو هغوی سره موخبری وکړې. دلته مونږ ته
معلومه شوه چه په هندوانو او مسلمانانو باندې حکومت د پر زور اچولی وچه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ز مونږ بایکاټ وکړي او استقبال ونه کړي خو کامیاب نه شو سبا له چې مونږ جلسې
له ورغلو نو په زرګونو هندوان او مسلمانان جمع وو او جلسه ډېره په کامیابۍ وشوه او
خلک می د خدایي خدمتګارۍ په تحریک پوه کړل او ورته می وویې چې هر چا له چې خدای
ملک ورکړي دی نو دهغه اختیار دهغه قوم دی ، یو مونږ بدقسمته خلک یو چې ملک
زمونږ دی او مزې پرې نور خلک کوي ، په کار دی چې مونږ ټول په شریکه ملا وتو
چې خپل ملک ازاد کړو مونږ به ابادشو او زمونږ بچي به ابادشي ، چې خه وخت ما تقو
ختم کړو نو زمونږ د پښتنو یو قاضی چې د پولیس انسپکټر و مانه را نزدې شو چې تاسو
چې برته ځئ ما ورته وویې چې ایبټ اباد له هغه وویې چې هلته ایکسوچالیس دفعه لګیدلې
ده (د قانون ۱۴۴ ماده نافذه ده) او زه د پولیس کپتان رالیږلی یم چې د خلورو نه زیا
کسان یو ځای ټلی نه شي . ما ورته وویې چې ډېره ښه ده مونږ به خلور خلور ځو لیکن
یقین نه دی چې کپتان صاحب په دی خپل حکم ټینګ پاتی شي ولی چې په دغه طریقه
به زمونږ ډېره پراپګنډه وشي چې مونږ له دې ځایه په مختلفو مرکزونو خلور خلور ډ
شو نو قاضی صاحب زما په خبره پوه شو او کپتان له یې ځواب یوود . مونږ د تلو اننت
کولو چې قاضی صاحب بیا راغی او راته یې وویې چې کپتان صاحب وې چې دوی ته لا
کښې یو ځای د تلو اجازت دی . دکاکول او دنورو کلو خلک راغلی وو چې مونږ س
زمونږ کلو ته لاړشه خو زمونږ پروګرام جوړ شوی و نو دوی سره می وعده وکړه
دوباره راشم نو دې به شم . مونږ لاډی کښې سوار شو او ایبټ اباد له روان شو
خدایي خدمتګار وخپله باچه ورو وروبه لاره کښې غږ وله . چې د ایبټ اباد سنا
نزدې شو نو یو سب انسپکټر ولاړ و هغه زمونږ لاډی ودرولې او ویې ویل چ

(c) ketabton.com: The Digital Library

صه غږ دی ملاتړ ته ووایل چه تاسره لیکلی حکم شته هغه وي نه نو ما ورته ووې چه مونږ
بغیر د لیکلی حکم نه باجه نه بندوو نو هغه ووې چه سبه ده نوزه موده پټی کمشنر له بیایم مونږ
ورته ووې چه نه مو هر چیرته بیایي مونږ د تلونه انکار نه کوو خو ته هم زمونږ سره په دی
لاری کښی کښینه و لې چه خلک به جمع شی او دلته خو دفعه ایکسوچوالیس (۱۴۴ ماده) ده نو
د خلکو جمع کیدل خلاف قانون دی خو هغه زمونږ د دی خبری هیڅ پروا و نه کړه هغه زمونږ
د لاری مخکښی روان شو او مونږ ورپسی لاړی وړو وړو روانه کړه او باجه موغږ وله
چه چا به دباجی واز اوریدونو مونږ پسی به راتلو او چه څه وخت د پولیس لاین ته ورسیدونو
نو هر خلک راجمع شوي وو هلته پولیس سره دافسرانو تیار ولاړ وو هغوی مونږ ته ووې
چه دا باجی والا د پټی کمشنر غواړي ما ورته ووې چه دده قصور څه دی؟ او که چیرې
د قصور ده تاسره دوی بیایئ نو بیا مونږ هم ورسره څو، مونږ ټول بوځئ په دی
شمکش کښی د دوساعت تیر شو باجه غږ یې او خلک جمع کیږي او په دی کښی بهادر
خان انسپکټر ماته راغږ دې شو چه د خدای د پاره دا باجه خو بنده کړئ! باجه می
بنده کړه یوه عجیبه نظاره وه د ملر سو هلکان د دفترونو کارکنان او د بنار خلک په
دوساعت کښی په ټولو راجمع شو او که حکومت مونږ سره چیرې چار کړی نه وای نو زمونږ
دومره پراپیګنده شوی نه وای او دومره خلک به زمونږ نه خبر شوي نه وو. اخر د دې
ټ مباحثې نه پس مونږ ته اجازه وشوه او مونږ دایبټ اباد اسلامیه سکول ته راغلو
چه دا ځای دایبټ اباد خلکو زمونږ دارام د پاره مقرر کړی وسبا له د جمعې ورځ وه
مونږ اعلان وکړو چه سبا له به جامع مسجد کښی وعظ کیږي تاسو ټول هندوان
مسلمانان داوریدو د پاره راشئ! مونږ لږ ارام وکړو بیا مو دایبټ اباد مسلمانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره د تحریک متعلق تبادلهٔ خیالات وکړل او ورته می ووې چه مونږ هم د قوم یو، مونږ
له هم د خپلی آبادی او ترقی د پاره څه جد وجهد په کار دی او که ټول عمر یه دی نیستی
او غلامی کښی پرانه یو نو ورک به شو. زمونږ اصلی مطلب قوم کښی مینه، محبت، اتفاق
و رورولی او اتفاق پیدا کول دی د هر هندوان او مسلمانان به زمونږ الید و کتوله را تلل
او هر چا ته اجازت و. کور کا او نور فوجیان او بنځی او بچی هم زمونږ لید، وله را غلل مونږ
و رسره د مینی محبت خبری وکړې او د خپل تحریک په غرض مو پوه کړل چه مونږ به د
خدای د پاره ستاسو او د ټول قام خدمت کوو. حکومت خو دنعه ایکسو چوالیس پدې
وجه ټکولې وه چه دلته جلسه ونه شی او خلک زمونږ د تحریک نه خبر نه شی. څه وخت چه
حکومت خبر شو چه سبا له د جمعی ورځ ده او جامع مسجد له دا یبت اباد د خلکو نه ډ
نور د بهر خلک هم د لمانځه د پاره راځی نو دا جلسه زمونږ د پاره سبنه ده نو د پټی کښی
د جامع مسجد امام سره د کمیټی د ممبرانو را وغوښتل او هغوی ته ووې چه په هر
طریقه چه کېدی شی باچا خان د تقریر نه منع کړئ. مونږ شپه په آرام تیره کړه ج
چای مو څکله نو امام صاحب د کمیټی ممبرانو سره را غلل او ما سره یې خان له خبر
وکړې ما ورته ووې چه تاسو د پټی کمشنر له ووایئ چه مونږ دا کار کوالی نه شو ولې
جماعت د ټولو مسلمانانو دی او یو مسلمان بل مسلمان د جماعت نه منع کولی نه شی
خو زمونږ مذهب دی او زمونږ خو دومره زور نشته چه یو مسلمان په جماعت کښی
نه منع کړې شو تاسره زور شته ته یې ولی نه منع کوې؟ بیا می ورته دا خبره وکړه چ
د پټی کمشنر په دې کښی بل څه مطلب نشته هغه پوه دی چه جماعت د هر مسلما
خو مونږ مسلمانان په کور کښی جنګوی او بې اتفاقی را کښی پیدا کوی. مونږ مسلما

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولې د دښمن په لسه پخپل کور کښې ناچاقي پیدا کوو ؟ زما خبرو په هغوی باندې اثر
وکړو او د پښتې کمشنرله دوان شول . چه د پښتې کمشنر پوه شوچه زما داوونه چلیدونو
قلا دشو . په جماعت کښې دومره هندوان او مسلمانان جمع شوچه د پښې اینبودو
ځای نه و . دماښخه نه پس زه پاخیدم او تقریر موشروع کړو . د قرآن شریف خلورایاتونه
می ولوستل او ترجمه می خلکو ته وکړه چه خدای پاک وایي چه زمانه امداد په صبر او اتفاق
سره غواړئ او خدای وایي چه څوک زما په لاره کښې مرشي نو دا مړه نه دی ژوندی
دی خو تاسو یې نه پوهیږئ او خدای پاک وایي چه زه د صابرانو ملګری یم بیا وایي
چه زه پخپلو بندګانو ازمیښت کوم د مالونو، او ځانونو، او اولاد، او فصلونو هرکله چه دوی
ته زما په لاره کښې څه نقصان ورسی نو دوی ووایي چه مونږ هم د خدای یو او هغه له
به ورځو، د هغه خلک زما د رحمت حقدار دي او دوی په سمه لاره روان دي او بل ځای
خدای پاک وایي چه په تاسو کښې دې داسې یوه ډله وي چه خپل کار ونه پرېږدي او
ځی او خلک د بدی نه منع کوی او نیکی ته یې رابولي . زما وروڼو ! مونږ د خدای د پاره
د خدای د مخلوق خدمت ته ملا ترلې ده که تاسو هم د خدای د مخلوق خدمت کول
غواړئ او خدای رضا کوئ نو مونږ سره په خدایي خدمتګارئ کښې ملاوتړئ چه
دا دنیا موهم جنت شی او اخرت کښې هم د جنت حقدار شو .

جلسه په دې ډول کامیابي ختمه شوه د تلوا انتظام موکولو چه په دې کښې زمونږ د کلی
دیوخان زوی چه هلته سب انسپکټر وو راغی او راته یې وویې چه بهادر خان انسپکټر زه
غاله راالیږلی یم چه څه وخت دوی روانیږی نو باجه دې نه غږ وي ما ورته وویې چه بهادر
خان خو زمونږ ډیر دی خوزه نه پوهیږم چه ده ته په باجه غږ ولو کښې څه تکلیف دی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما د طرفه د سلام نه پس ورته ووایه چه کچیری تاته زمونږ په باجه ذاتی څه تکلیف وي نو
مونږ به باجه بنده کړو اوکه تاته څه نقصان نه وي نو ته زمونږ باجه څه کوې؛ زمونږ په ملک
کښی دیسی افسران خپل فرض نه پټرنی اونه یې پوره کوي بلکه همیشه د خپلو انګریزانو افسرانو
د پاره هغه کارونه کوي چه هغه د دوی فرض نه وي .

لادی ته یاده وه ، مونږ لادی کښی هر پیور ته روان شو ، په لاره کښی د حویلو په
تیسن خلک جمع وو هغوی ته می هم یو مختصر تقریر وکړو . په سرای صالح کښی خلک زمونږ
په انتظار کښی وو خو په مونږ ناوخته شو نو خواره شوي وو . د هر پیور خلک عریبانان د
سبا د نه بهر زمونږ په انتظار کښی ناست وو مونږ ما سختن ورورسیدو او دوی د
انقلاب زنده باد ، فخر افغان زنده باد چغې وهلې او زمونږ جلوس په یاز اړو نو کښی
وګرځید و بیا لاړو د دوی د مو وخوړه او بیا اوده شو ، د بخشالی کجران شهزاده صاحب
می د حالات معلومولو د پاره چې ته لیږلی و هغه هر پیور ته راغی او ما نه یې د چې حال
ووې چه خلک د پرزیات په شوق کښی دي ستاسو د ورتلل د پرضرورۍ دی ماده سره
وخت مقرر کړه ، د دی خبری می پری د پرتاکید وکړه چه د اخبره عامو خلکو ته زما د
تلو نه وروسته معلومه نه شی ولې چه بیا به حکومت زمونږ لاره کښی رکاوټونه واچوی
مبالغه چه مونږ د چا مسلمانه وو ، د غلو او چه هلته ورسیدو نو یو مولوی صاحب چه مالګه راته
خدایی خدمتګار و منع کولو خو ما ورته ووی چه راپریږدی . نو ماله راغی ، ما خان
سره کښینولو چه د دوی د وخت راغی نو خلکو لیږکولو خو هغه په زوره د دوی کښی خان شریک
کړه . زما مهربان محمد اکبر قریشی راته ووې چه بیکایو خوتنه د تورو جنګ وسره راغلو
وو په سړک والاړ وو خو چه د خلکو زوږی ولیدو نو غریبانان ګډ وډ شوا و خبری تری پاتی

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې ما ورته وې چه دومره خلک ووچه ماتودی جنډی هیڅ لیدلی نه دي . چه د
جلسې ځای ته ورسیږ و نو د پر پولیس لاټی په لاس ولاړ وو او چه زه تقریر ته پاڅیدم
نو هغه مولانا می ولیدو چه په زوره زوره تقریر کوی او څه کسان ورته ولاړ وو . خلکو وې
چه د اخلک حکومت راغونډ کړې دي ، خانان ، ملکان دی او زمونږ بر خلاف جلسه کوی .
مونږ اول فیصله کړې وه چه د دی ځای نه به شپې له کلابټ ته ځو او سبا له به هلته
جلسه کوو . په جلسه کښې می د دی اعلان وکړو . کلابټ دا باسین نه دي غاړه دی او
صوابی په بله غاړه ده دا یوسف زی دی او دهغه ځای خان زمانخان زما د پر واقف و
دا یوځل دی د صاحبزاده فضل رحمان په ځای کښې لیدلی و ، ما او قاضی عطاء الله خان
ته یې د پر کلک ست د میلمستیا کړې و ، زه خبر نه وم چه د حکومت په لمسه به مونږ د
خپل کلی نه منع کوي مونږ چه څه وخت کلابټ ته نږدې شو نو د کلابټ دخان تره د خپلو
سړو سره کوتک په لاس ولاړ دی او مونږ خپل کلی ته نه پریږ دي حالانکه چه په هغه کلی
کښې دهغوی یوور ور عزیز مهدی زمانخان د غلته زمونږ د جلسې انتظام کړې و
او مونږ یې میلمانه کړې و ، زمونږ لادی والا د پر تکره سړی وچه مونږ د اخلک ولیدل
نو ما دې لادی والا ته ووی چه ته دا لادی لږه ودروه ، دې خان سره زه لږه خبره
کوم ده ماته ووې چه ته د اخلک نه پیژنې ، د اهزاره وال پښتانه دي او ده خپله لادی
پرې ور تېزه کړه خان مخامخ زمونږ لادی له راغی او سوتی پکړې یې زمونږ نه چا پیره
شو د ا یوور په دوی لادی نیغه ورودسته او زمونږ لادی ترې تېره شوه دوی ما پسی
منډی ووهلی خو ورودسته پاتی شو او مونږ کلی ته ورسیدو . په هزاره کښې خو دفعه
ایک چوالیس (۱۴۴ ماده) لګیدلی وه نو په سبا له موجماعت کښې خلک جمع کړل . د جماعت

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه بهر اسستهنت کمشنر سره د دغو تولو خانانو او پولیسو ناست وو زمونږ تقریر یې
اوریدلو ما پخپل تقریر کښې داخبره وکړه چه ای د هزاره ی پښتنو د سینډ نه دې غاړه
او هغه غاړه تول یوسف زی دي تاسو خو لږ هغې غاړې ته وګورئ چه هلته څه حال دی
او دلته ستاسو څه حال دی؟ بله داچه ما د تولې صوبې دوره وکړه او په هر ځای کښې حکومت
زمونږ مخالفت ته خلک لمسولي دي خو مونږ بل ځای تورې جنډه لیدلی نه ده، دا موږ په
هزاره کښې ولیدله او نه په مونږ پسې چا کوتکې را اخیستی دي چه زمونږ کې ته مه راځئ او
نه یې زمونږ د جلسې مقابله کښې چیرته جلسې جوړې کړې دي دا هر څه مونږ د الته په هزاره
کښې ولیدل هغه هم پښتانه دی او تاسو هم پښتانه یئ راځئ چه د دې وجه معلومه کړو ما
چه په دی مسئله څومره غور او فکر کړی دی نو دجه یې دا ده چه تاسو خپله ژبه هیره کړې
ده او ټشه ژبه د رنه ورکه شوی نه ده بلکه و هره هغه پښتو د رنه هم ورکه شوی ده. د
هزاری پښتنو! زما داخبره یاده ولرئ چه د چا نه ژبه ورکه شوی ده هغه ورک شوی
دي او چاته چه خپله ژبه سپکه شوی ده هغه سپک شوي دي. جلسه ختمه شوه مونږ سره
چه کوم لاری والا راغلی وو نو د واپسی په وخت کښې هغه پولیس منبه وهلی وو او ورته یې
ویلی دی چه پام کوه چه سبا له دوی پسې رانه شی.

چه ادې له راغلو نو لاری نه وه تمتمونه و لاروو لیکن پولیس منع کړی وو چه
دوی سره لار نه شي یو تمتم والا ووې چه زه د پولیس هیڅ پروا نه کوم او تاسو سره څم
مونږ د هغه په تمتم کښې خپل اسباب و نه کښې بند ول او ده سره پیاده روان شو تو له لار
په غره کښې وه د پر دمزی سړک را ترایی وه، چرایی وه لاره کښې چه کوم کلی
په مخه را تلل هلته به خپل کار کولو. حکیم صاحب او زمونږ د هر پور کرنیل صاحب محمد حسین خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکښې دا انتظام د پاره تلې وو ولې چې د کلابت دواقعې نه پس مونږ په دې نتیجه ورسیدو
چې زمونږ مقامي ملکري مخکښې لېږل په کار دي چې هغوی خپل کار وکړي د دغه ځای
يو ځلمي خان زمونږ د مېلمستيا انتظام کړي و د اکلي دا باسيند په غاړه اباد دي مخکه
يې لږه ډډه خوا باده ده جلسې لارو په جلسه کښې د علاقې خلک راجمع شوي وو د پوري
اباسيندل دغاړې خلک هم راغلي وو. د دې علاقې خلک په پښتو پوهېدل او د پښتو
نظمونو پرې د پېر اثر کړي و شپه هم مونږ دغه زلمي خان سره تېره کړه د پېر مخلص
او شهيف هلک و پوليس پرې د باوونه کړي وو چې د اخلک مېلمانه نه کړي خو ده
يې څه پروانه وه کړې افسوس دي چې دده نوم زمانه هېر دي. سبا له د دوي کلي
ته نږدې يو بل کلي د دغه کلي خان مونږ مېلمانه کړو چې هلته لارو نو دغه خان راته
ووې چې د اسمېلا وکيل مياعلي حيدر شاه چې د دغې علاقې د پښتې او د پېر پايې بهادر
خان چې هلته د پوليس انسپکټر وو په مادېرکو ششونه وکړل چې زه تاسو مېلمانه نه کړم
خو ما د دلته ځواب ورکړ چې تاسو مې مېلمانه يئ نو هغوی هم مېلمانه کوم ولې چې تاسو
حاکمان يئ او هغه مې مېلمانه دي هغه خان ما ته په خندا شو چې د اخوستا پښتو پان
دي او ځان له پښتانه هم وايي. د هر پور په علاقه کښې چې څومره مشکلات مونږ ته
پېدا شوي وو د اددي دوو سره برکت و او دوي پېدا کړي وو د الاځه کوې چې مونږ
کوم ځای ته د خپلو ورتلو او جلسې کولو خبر لېږلی و هغه ځای د دي ځای نه دولس
دياولس مېله لېرې و مونږ يوه لاري کړې وه. چې د روانېدو وخت راغې نو معلومه
شوه چې علي حيدر شاه او بهادر خان زمونږ هغه لاري د پوليس تانې ته بوتلې وه هغه
د رايور ورته چې د هلې چې هغوی سره مې وعده کړې وه او کرايه مې تري اخيستې ده ولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ پښتودیان ورونه، سرکاری افسران ورته وایی هغوی پر پرده مونږ بوځه او چه د سرکاری کار د پاره دلادی ضرورت وی نو ته څنګه بل څوک بوتلی شې. علی حیدر شاه د پټمی او بهادر خان انسپکټر چه مونږ سره کومه لوبه هزاره کښی کړې وه راسی مونږ سره په ټوله صوبه کښی چا کړې نه وه او دریم سړی چه د دوی نه هم دوه کوتی د پاسه ډوخوشدل کپتان ډو۔

مونږ چه خبر شو نو حکیم صاحب عبد السلام غریب د پرپوښانه شو هغه سوالی پیدا کولو پسی اډې ته روان شو او مونږ پیاده روان شو مونږ شپږ میله پیاده تلی وو چه حکیم صاحب د دوو موټرونو سره راورسیده مونږ په دوو موټرو کښی نه ځائیدل و لیکن هغه موټر والا د پرښنه سړی و او په زوره یی پکښی ځای کړو مونږ تکره وو او مونږ به اکثر ټولی دوری پیاده کولی خو وخت به راسره دو دلته خو را سره د هغو خلکو فکر وچه زمونږ انتظار به کوی، جلسی نه چه مأیوسه شی خواره به شی زمونږ په دی پیاده تلو کښی دومره فایده خو شوه چه په لاره کښی به موکوم کلی مخی ته راتلونو په هغه کښی به موکار وکړو. چه مونږ د جلسی ځای ته نزدې شو نو خلک غریبانان په انتظار کښی ولاړ وو د اکلی هم د هغه مخکښی کلی په شان دا باسیند په غاړه او د تاتمی په خوا کښی و. جلسه په ډیره کامیابی ختم شوه او خلک مو د خدایی خدمتګاری تحریک نه خبر کړل. د غرونو نه مشوانی قوم راغلی و دوی مونږ سره خدایی خدمتګاری کښی د ملګرتیا وعده وکړه. مونږ چه به هر چیرته تلونو د پټمی میا صاحب او بهادر خان انسپکټر به راپسی وو مونږ د شپی د پاره دې کلی کښی پاتی شو، د شپې د ټول کلی سنجی راجمع شوې ما او حکیم صاحب ورته تقریر ونه کړل چه ترکوی پورې تاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دقام د پاره ملا تړلی نه ده قوم وچتیدی نه شی او د خپل ملک د جامو اغوستو عدی
می تړی واخیستی چه د خپل ملک جامی به اغوندي .

زمونږ دی جلسی له د پوری علاقی د زروبی صدر سره دیو خو خدایی خدمتکار و
هم راغلی وو او مونږ ته یې وویل چه له دی طرفه و زکارستی نو زمونږ کلی ته به راځئ ،
مونږ د خپلو تلوارادې پته ساتلی وه چا ته معلومه نه وه چه مونږ په کوم خواځو سره حل
پولیس هم راغلی وو او د پنجاب پولیس هم راغلی وو هغوی هم تحقیق کولو خو مونږ
د خپلی ارادی نه څوک نه خبرول . چه سحر چای مو وڅکله نو ما حکیم صاحب ته ووې
چه ته زمونږ د پاره د پنځو تمامونو انتظام وکړه او بیا موهم خبره پته و ساتله چه
کوم خوا به خو ؟ چه مونږ ادی له روان شو نو د زروبی صدر صاحب دوی موږ رخصت
کړل او داوعده می ورسره وکړه چه د چچ دوره ختم کړو نو صوابی ته به د رشوا و ضرور
به ستاسو کلي ته د رځو په دغه وخت کښی ما خپله ارادې ظاهره کړه چه زما د اخبره
د چچ یوتانه داد واو د پلاډ نو په منډه مونږ نه مخکښی لاړو او زمونږ یو تمتم لي په
زور روان کړو او زمونږ نه وړاندی ورسیدو . ما حکیم عبد السلام صاحب
او د هغه ډری کارکنان د پیری شکریې نه پس واپس رخصت کړل صرف د هر پیر
هغه کرنیل صاحب راسره چچ ته روان شو تمامونو کښی سوار شو سړک کچه و شکي
وی ، خو پرونه وو او ټیکونه وو ، اسونه په ډیر تکلیف و ، اکثر به ورسره پخپلو پښو تلو
ځای په ځای خلک سړک ته زمونږ د لیدو د پاره راوتلي وو هغوی سره موخبری
وشوې . زه به د عاموخلکو مینی او اخلاص نه حیران شوم او شکر به می کولو چه الله تا
په پښتنو ډیر فضل او کرم کړی دی چه د دوی په زړونو کښی د دقاموئ او وروړلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

احساس پیدا کړی دی، مونږ چې چې ته نزدې شو نو په زړ کونو خلک زمونږ په انتظار
دکلي نه بهر ولاړ وو او جنډې ورسره وې. زمونږ په لید و هغوی نو هم راوراندې
شول او چې راښکته دې شو نو مونږ هم هغوی سره پیاده روان شو، څه وخت چې د پنجاب
په حد کښې داخل شو نو مونږ پولیس اوخانان او ملکان ولیدل چې ولاړ دي توپک ډیر
او تودي جنډې پې په لاس کښې دي سره کچه وه، ډیکونه وو او په هر خلک وو، په دې حصه
وچه دومره دوړې وې چې تیاره یې جوړه کړې وه. مونږ چې دې خلکو ته نزدې شو
نو خدایې خدمتګار او نور خلک و د سردل د طورو خان عبدالرحیم خان مالړ راغی
اوراته یې وویل چې پولیس د ته سره بند کړې دی او یو پیرنګی هم ورسره دی مونږ
مخکښې نه پریږد دي ماورته وویې چې څه حکم ورسره نشته چې اخر په څه وجه مونږ
نه پریږد دي هغه وې نشته پولیس په توپکو سنګینونه جوړ او کړی دي او مونږ ته
یې نیولي دي ماورته وویې چې څه حکم ورسره نشته نو ورځئ پرې مه ودریږئ
هغه پیرنګی د پولیس کپتان و او د هر تریخ او خراب و مخکښې هم چې مونږ خدایي
خدمتګار چې له راغلي وو نو د ولونه یې تړی شلولي وو جنډې یې تړی اخیستې وې
او چې ته یې نه وپریښې. هغه پولیس له د کولی چلولو حکم ورکړی و خو مونږ هجوم
چې یې ورغی نو په هغوی داسې هیبت راغلی وچه توپک یې چلولی نه شو او وروسته
به تلل په دې ټیل کښې پیرنګی هم ټیله شوا وچه څه وخت هغه پوه شو چې پولیس کولی
نه چلوي نو مخپله یې یو توپک واخیست نو امین جان خان ورته سینه برابره کړه
چې وله هغه باندې هم هیبت راغی او امین جان نه یې پوښتنه وکړه چې عبدالغفار خان
چېرته دی؟ امین جان پوه شو چې د کولی نه چلوی نو زه یې ورته وښودم هغه مالړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغی او ماته یی د پره په مشکله داووې چه ما سره حکم دی ما لاس وچت کړو او خدایی
خدمتګار د د پدل ما هغه پیرنکی ته ووې چه د اخوستا د پره بی وقوفی ده چه تا ماته
حکم نه دی سنکاره کړی تاله په کار وچه ماته دې مخکښی حکم سنود لی وای مونږ د
حکومت حکم منلو ته تیار یو اوس که د اکولی چلید لی وای خلک مړه شوی وای نو د
دې به څوک ذمه وار و ؟ هغه و منل چه د ا زما غلطی وه . د خدایی خدمتګار و په ده
دومره رعب پریوتی و چه ټول ډډ پدل او حکمنامه یی اوږه ولی او لوستلی هم نه شوه
ماتړې وا خیسته او ومی لوسته هغه کښنی لیکلی و وچه تاسو دلته جلوس او جلسه
کولی نه شئ ما هغه له د پره تسلی ورکړه او ورته می ووې چه مونږ ته بالکل د احکم
منظور دی د سرحد حد ورته نزدې و ما هغه ته ووې چه مونږ سرحد کښنی خو جلسه کولی
شو ؟ هغه ووې چه بی شکه د احکم د پنجاب د پاره دی مونږ سره هغه ټول خلک سرحد
ته واوړه پدل او یوه لویه جلسه موو کړه . په دی جلسه کښنی د پنجم د لوی علاقی د هر کلی خلک
شریک وو ما جلسه کښنی د خپلو د اتلو مطلب بیان کړو او د خدایی خدمتګاری د تحریک
نه می خلک خبر کړل او ورته می ووې چه تاسو هم پښتانه یئ او مونږ هم پښتانه یو د یو بابا
اولاد یو مونږ غواړو چه تاسو هم مونږ سره په دې نوي و رور ولي خدایی خدمتګاری
کښنی شریک شئ ز مونږ د ټولو پښتنو به یوه جرګه وي قومی مسئلی به هغوی فیصله
کوي او په دې وسیله به د یو بل د غم تکلیف او مصیبت نه خبر یږ و نو مونږ به هم د نورو
قومونو په شان یو قوم شو مونږ به اباد شو او زمونږ بچي به اباد شي .

جلسه ختمه شوه او خلک رخصت شول ، ټول خلک خواره شول ، مونږ ځان ته
په میدان کښنی پاتی شو د روا پدو ، تجویز موکولو چه په دی کښنی د اسمیلا هغه د پټهی میا

(c) ketabton.com: The Digital Library

اودپیر پایی انسپکټر راغلل اوزه یی بیل کړم اوداته یی ووې چه مونږ ستاسره دوږی
ولی یو څوخبری کول غواړو. ددوی ورودولی خو مونږ هزاره کښی لږ لی وه دا غلامان
ورونه یو عجیبه مخلوق دي چه حاجت یی پیښ شی نو دسړی ورونه شی او دپیر نکیانو
دپاره چه ملاوتړی نو دسړی برخلاف هرقسم حربی استعمالولو نه تیاردي. ددوی په
ملک اوقوم باندی هیڅ کار نشته اوهر وخت په دی کوشش اوفکر کښی وي چه مونږ
به څنګه داسی کار وکړو چه صاحبان خوشحاله شی او په هغوی مواحسان وشی اداهر څه دخپل ځان
دپاره کوي دصاحب دخوشحالی دپاره یو ذلیل نه ذلیل کار ته هم تیاردي. مارته ووې چه څه
وایئ دوی داته شروع شوچه تاته معلومه ده چه په دغه علاقه کښی حکومت په تا باندی دوه
ایک سوچوالیس ولکوله په دې کښی ته نه جلسی کولی شی اونه تقریرونه کولی شې نو دغه به
سنه نه وی چه تاسوله مونږ لاډی در کړو اومونږ سره هرهیوړته لاړشی اویاله دغه ځایه
پیښورته لاړشئ! مادوي لیدلي ووچه دپیرنکی سره ناست وو اوخبری کولې داپتئ
وو ته هغه پرې اوکړه وه چه په هرطریقه چه وي چه دوی ددی علاقی نه واپس شی هغه دپنجاب
څخه افسرنه وخو صاحب خوړ او ددوی دپاره د صاحبانو خوشحالول یوه لویه خبره
وي ماورته ووې چه واپس تلی نه شو اونه مونږ دلته نورې دوږې کوونکی مونږ دغرغشتو
خان مېلمانه کړی یو غرغشتو ته ځو اوهغه سره شپه تیروو سبا له به په دی لاره پیښورته
ځو. ماخپل خدایی خدمتګار په څلورو څلورو ټولو کښی تقسیم کړل اوغرغشتو ته روان شو
چه هغوی لاډل نو بیازه هم دسودم دسالاړ صاحب اوعبدالرحیم خان سره غرغشتو له
روان شوم اودخان حجری ته موځان ورسولو مابنام نزدې وچای موو څکله لږ ارام
موو کړو د مابنام دلمونځ نه پس می دکلی خلکو سره ولیدل، خبری موو کړی بیا مونږ ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

دودی نه کښینا ستو چیرته زما دخولې نه داووتل چه دا پیرنکی سبه سړی ونوزمونږ -
خدایی خدمتګار دهرپور کرنیل راته ووې چه سبه سړی چیرته و، داخو بیا ورو سته
سبه سړی شو اول خو چه مونږ ته نزدې شو نو ما سره جنډه وه فوراً یې زما په جنډه حمله
وکړه اوزما نه یې جنډه وښوه اوچه ماچک ورکړو اوجنډه می ترې خلاصه کړه نو بیا
یې په ما حمله کوله چه په دې کښې غوبل جوړ شو. بله داچه هغه خوسپایانو له حکم ورکړی وچه
په دوی کولی وچلوئ خوسپایان وارخطا شوی وو، دی په خدایی خدمتګارو
دمخکښې نه عادت و. زمونږ خدایی خدمتګار چه دلته په دوه راغلی وو دهغوی
نه یې جنډه په زوره اخیستی وه او دولونه یې ورله هم شلولی وو اوبیایی واپس کړی وو
دده داخیال وچه داځل به هم زه هغسی کامیاب شم خو داځل خدای داسی وشړمولو
او داسی بې رعبه شو چه زه یې درته بیان کولی نه شم، دالاڅه کوی چه دخلکو په زړونو
کښې دحکومت رعب پاتی نه شو.

شپیه دپیره په خندا اوخوشالی تیره شوه سحر خدایی خدمتګار وچای څکلی
دهرپور کرنیل صاحب محمد حسین بهر په پیره ولاړو چه ما دده څه خبری واورېدې
ما راوغوښتو اوورته می ووی چه څه خبره ده، هغه اووئیل چه یو خوافسران راغلی وو ما
دننه راپرې نه ښول ځکه چه تاچای څکلی. ماوې راپرېږده چه دننه راشی چه راد ننه
شول نوما وخندل اوورته می ووې چه خیر دی بیا موڅه نادرشاهی حکم راوړی دی؟
نوهغه وخندل ویل چه زمانوم نادردی، دچایو ست می ورته وکړو چه ماچای وڅکلی
هغه یوبل حکم مالته راکړو چه ددفعه ایکسو بیالس (دقانون ۱۴۲ ماده) مطابق تالته حکم
درکېدی شی چه ته فوراً ددی علاقی نه وځه ماورته ووې چه حکم ماته منظور دی چه څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دودی وخورو نو فوراً له دی ځایه روان شوا و ستاسو د حکم تعمیل به وکړو مونږ چه دودی وخوړه نو د تلوانتظام مو وکړو خو معلومه شوه چه لا دوه الا وله او تم تمو نو اپولیس حکم ورکړی دی چه داخلک په سور لی کښی بوتلو ځی مونږ یو تم تم داسباب د پاره هم پیدا نه کړو ماتول خدایی خدمتګار بیا څلور څلور کړل خپل اسبابونه مو واخیستل اوروان شوچه ما سپینبین شو دسړک په غاړه یوکلی و لمانځه له ورو ګرځیدو خلک چه خبر شونو یو ساعت کښی جماعت د کلي د خلکو نه ډک شو د لمانځه نه پس مو خلک د حکومت د زور او زیاتی او د خدایی خدمتګاری نه خبر کړل او په دې مو پوه کړل چه دا حکومت مونږ پښتانه ته څه قسم ترقی او اتفاق ته نه پریږدي تاسو په دې خبره ځان پوه کړئ ۔

دهزارې نه واپسی :

په دی کښی بیا هغه افسران راغلل او راته یې وویې چه تا ایک سو جوالیس ماته کړه ماوې په لمونځ هم دا دفعه ماتیږي ؟ نو نور څه ترې جوړ نه شونو یوه یا دو دفعه یې راته ښکاره کړه چه دنور پریوتو نه اول د پنجاب نه بهر شی او که بهر نه شوی د قانونی کاروایی به درسره وشی ما هغه د پښتی کمشنر ته ولیکل چه لاړی او تم تم تاسو په مونږ بند کړی دی مونږ سره څه داسی ذریعه نشته او نه هوایی جهاز شته چه دنور پریوتو نه وراندې د پنجاب د علاقی نه بهر شو مونږ ته د پنجاب نه بهر کیږو د پاره څه انکار نشته که تاسو اله د بهر کیږو انتظام کولی شئ ددې نه پس افسران مخکښی او مونږ ورپسی په سړک کښی ځای په ځای زمونږ د بند ولو د پاره یې ونی اچولی وې ، مونږ خبر شوچه د پښتی کمشنر او د پولیس کپتان سره د خپلو خانانو او ملکانو راغلي دي او مونږ ته وراندی په سړک ولاړ دي نو زه د خدایی خدمتګارو نه مخکښی شوم او چه څه وخت مونږ هغوی ته نزدی شوا و خلکو مونږ ولیدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو دشاو خواخلک دغلته راغونډ شو او مونږ پسې روان شو، مونږ منع کول چې ایک سوچوا-
پیس دې مونږ سره مه راځئ خو هغه دخدای مخلوق چاپه قبضه کښې راوستی شول
هغه مجسټریټ او د پولیس کپتان ماله راغلل او راته یې ووې چې زمونږ په کوشش سره
د پیټی کمشنر صاحب راضی شو چې ستاسو د پاره د سودلي انتظام وکړي، د پیټی کمشنر
هم زمونږ مخې له راغی، زه ترې شوی وم او به مې وځکلی هغه خلکو ووی مونږ تاسو له
چای پخه کړي دا، مونږ سره چای وځکئ، مایی شکریه ادا کړه او ورته مې ووی چې ستاسو
چای مونږ وځکلی او که ژوندۍ نو بیا به راشو. په خبرو کښې د خدایی خدمتګار و ذکر
راغی نو هغه د پیټی کمشنر راته ووې چې ستاسو نظریه د عدم تشدد نه ده، د اخوچل دی
وس چې ستاسو طاقت نشته نو تاسو تشدد نه کوئ خو چې طاقت پیدا کړئ نو بیا به تشدد
کوئ ماورته ووې چې زمونږ دا تحریک د ریښتیا و تحریک دی، مونږ منافقان نه یو
چې په خوله مو لیوه وي او په زړه مو بله وی. خدایی خدمتګار لاړی نه وختل او زه چې
نو ترته ختم نو هغه د پیټی کمشنر راته ووې چې د خدای د پاره بیا دې علاقی ته راشې
او ورته وې چې چې کښې زمونږ لپښتانه ورونه دي، دوی د پنجاب نه جدا کړئ، نو بیا به
زه راځم. مونږ دوی نه رخصت شو، زه د پولیس کپتان ځان سره خپل موټر کښې کښېنولم
د خدایی خدمتګارې په لاړی کښې کښېنول. تا نه دا رهم ما سره موټر کښې ناست و ما ته
ووې چې ته دې خلکو له څومره تنخوا ورکوې؟ دهغه په دې خبره ما د پرو خندل او
ته مې ووی چې دوی ستاسو په شان د کرایي تتوان نه دي دا هر یو سړی د خپل جایداد
ونډ دی او په دی کار کښې خپلې پیسې لګوي نو هغه راته ووی چې بیا د دې نه فایده څه؟
ورته ووې چې فایده دا ده چې مونږ خپل قوم د غلامۍ نه ازادوو، د پښتنو د غلامۍ نفرت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی اودغلامی ژوندتیرولوته تیارنه دی چه په دی کښی داتک کلاته ورسیدو اوزمونږ
نه لاری دپرووروسته پاتی شوی وه . نو دهغی دپاره داتک په داک بنگله کښی ایسار شو .
داتک داک بنگله دپره په بنگلی ځای کښی ده . مونږ برنده کښی ناست وو اوابا سینداته
موکتل نوهغه راته ووی چه پښتانه بل شان قوم دی دوی دپنجابیانو په شان نه دی
ماورته ووی چه تاخولا اصلی پښتانه لیدلی نه دی ته که چیری یوځل پیښور له راغلی نومونږ
به درته ټول پښتانه وبتیږو . دخدایی خدمتګارو لاری راورسیده مونږ پاځیدو
موټر کښی کښیناستو اولخیرابادته ورسیدو نو دموټر اولاری نه کوز شواوهغه پیرنګی
دپر په مینه محبت زمونږ نه رخصت واخیستو اوزمونږ یو ورپوکی خدایی خدمتګار
باچاګلی یی ځان ته نزدی کړو اومایی شکریه اداکړه اوهغه راته سره دوستانه ملګرو رخصت
شو . دخیرابادپه بازارکښی مونږ دلاری انتظارکولو چه خلک خبرشول په یوساعت
کښی دپر خلک راته چاپیر شول مونږ نوښاره پوری یوه لاری وکړه ومابنام نوښارته
راورسیدو . مونږ به وختی رارسیدلی وو زمونږ لاری چه په لاره راتله نوپوفوجی ډله
اوتوپک په لاس رامنده کړه ، لاری والاته یی ووی چه دریزه مونږ لاری ودریږه
هغه راته توپک نیغ کړو اووی ویل چه که لاری ددانوی اوس موبه توپک ولم ماورته ووی
چه مونږ خوکمزوری خلک یو ستادتوپک دځواب نه یوکه چیری دخدایی خدمتګارو یوځای
ته تلل جایزنه وی نومونږ ته ووایه چه کوز شو . په دی کښی دهغه صوبیدار راغی هغه
هم ووی چه ماسره هم حکم نشته زه صاحب پسی لګم ، صاحب یی هم راغی هغه چه مونږ ته
وکتل نووایس شو . نه رانزدی شواونه یی راسره خبری وکړی . هغوی نه یی ووی چه دا د
پولیس کاردی اخرچه پولیس راغی اودتلو اجازه یی راکړه ماورته ووی چه مونږ په دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه شو چه داود د لی موولی یو او اوس پریږدي موولي نو هغه پولیس والا وخندل اوویي
وي چه دسه کار په دماغ کښې فرق راغلی دی.

نو بیا رکښې می تول خدایي خدمتګار رخصت کړل په دې کښې یو پیرنګی راغی او
هغو خدایي خدمتګار وته یي وویل چه زه اوس عبدالغفار خان لیدی شم؟ ماورته وویي
چه په دیره خوشالی مونږ خو خدایي خدمتګار یو او هر چا سره کوروهغه سره می ولیدل
یازه پیښور ته ران شوم لادی په لاره کښې پنچره شوه ما سختن پیښور ته ورسید و۔
خدایي خدمتګار په دفتر کښې پاتی شول اوزه او باچاګی دواکټر صاحب بنګلی له لاړو.
سانه اول هم یوه ګمنامه چیټی راورسیدلی وه چه په هغه دچا نوم نه وخو مانه یي لیکلی وو
چه زه تاخبر وم چه حکومت دا فیصله کړې ده چه تاسته او دوراوستا تول خاندان ګرفتار کړي
او دی ملکه مولبری کړي. اویوي جزیری ته مو ولیږي خوزه د دې خبرو فکر نه کوم خکه چه
څوک د خدای دارې دقام خدمت کوي نو دا هر څه پکښې وي اوس بیا خپلو دوستانو
خبر کړم چه دسرحد حکومت مرکز ته لیکلی دی چه څه وخت دی ګرفتار کړو داسی یو ملک
ته یي لیږل په کار دی چه هغه ډیر لیرې وي او دسرحد باد پرې نه لګی اول چه د ګجرات
خیلخانه کښې و نو دسرحد تول کاریه یي چلولو داځلی داسی ځای ته یي لیږل په کار دی
چه دی دسرحد د خلکو نه خبر نه شی او که داسی و نه شو نو دی تحریک ختمول مشکل دی.
دسرحد حکومت کوشش کوی چه تاسو زر ګرفتار کړي. ماورته وویي چه څوک هاتیان
راتی نو دروازی لویي پریږدي تاسو دی پروامه کوئ چه خدای شته نو هیڅ
غم نشته حکومت به خپل کار کوی او مونږ به خپل کار کوو.

ما سره فکر وچه حکومت به ما د صوبه سرحد دوړې ته پریږدي که نه؟ ما هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوره په سنبه شان وکړه دهزاره‌ې دوره می هم وکړه کور په کور ، علاقه په علاقه وکړه جد
اوس می هیڅ پروانشته که حکومت می هر څه نیسی نو می دې نیسی .

د ترنکزو حاجی صاحب او خدایی خدمتګار:

د پاچاګل په نوم زمونږ خلاف یوڅه پراپیګنده شروع شوی وه زما پرې یقین نه
کیده ما وې دی خو حاجی صاحب زوی دی او حاجی صاحب زمونږ ملګری دی د
به څنګه زمونږ برخلاف پراپیګنده کوی نو ولې می په ۱۴ جون ۱۹۴۲ د دوهم جنګ دوران و
د پریټ مومند وته ولیږه چه حکومت خبر نه شی ولی لاړو او هغه یې راوبلیده د پرې خبرې
ورسره وشوې ، دغه وخت حاجی صاحب د ترنکزو وفات شوی وو او باچاګل کل اختیا
وو خو چه واپس راغی نو بله ورځ زه صوابۍ له تلم په لاره کښې د هوتی بازار کښې مولانا ګل با
په مخه راغی هغه اشاره وکړه زه ورته ودریدم هغه ښل کړم ده راته وې چه ستا برخلاف
ټوله پراپیګنده قلی خان کوي خو باچاګل په نوم یې کوي زه سبا له مومند وته څم او باچا
سره ددی فیصله کوم چه راچرته خدای مونږ له یو سړی پیدا کړی دی نو ده پسې د پراپیګ
مه کوه او که کوې نو بیا مونږ له ددې خبرې یو بل سړی راکړه .

زه دیوخو ورځو له دحال معلومولو د پاره اتمانزو له لاړم او په دې فکر کښې وم
نن دی که سبا حکومت دې نیسی وخت ضایع کول په کار نه دی او نه کور کښې ناست
او څومره چه کیدی شی کار کول په کار دی . ما خو د صوابۍ ټوله دوره ختم کړې وه . خو
خلیلو مومند وجرګو او خدایی خدمتګارو متعلق راته داسی خبرې نه رسیدلې وې
هلته بعضی داسی خلک شته چه د خپلې ناپوهۍ په وجه خلکو ته دوکې ورکوی او د مر
عالیه د حکم نه بغیر داسی کارونه کوي چه مناسب نه دی او جرګو او خدایی خدمتګار

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم داسی خلک شته چه مذهبی جامه کښی په دله کښی نفاق پیدا کوی. بل داچه دارباب عبدالغفورخان اوعاشق شاه باچا په نیولوخلکوکښی تبزی هم پیدا شوی ده نوماوښي چه دې علاقی له لاړشم چه کلی ته ورسیدم نوراته معلومه شوه چه زما ورارہ عبیدالله خان چه دمالیی په حوالات کښی بهوک هرتال کړی دو هغه حکومت پرلښوا و په مرتر کښی یی دکپتان صاحب بنګلی ته ورسولوزه دهغه دلیدو دپاره واپس منباړته لاړم.

دخلیلو مومندو دوره:

ما دخیلو مومندو دوره شروع کړه چونکه دفعه ایک سوچوالیس ګلیدلی وه نو مونږ یوه لوی جلسه تهکال کښی دشپی په یوجماعت کښی وکړه حکومت ځای په ځای دفعی لګولی وی او زمونږ جلسی یی بندی کړی وی سبا له کلوته روان شوا وکلی په کلی به ګرځیدو او خلک به مو په خدایی خدمتګاری پوهول او دوباره می په جماعتونو کښی وعدی واخیستی چه تشدد به نه کوو صبر به کوو ولی چه خدای د صبرناکو ملګری دی او چه خدای دچا ملګری وی فتح به دهغه وي. رومبی جلسی مودمومندو ټیپي په پاوکی، بادرکلی، بلاه بیره، شیخان، شاب خیل، متنی په جماعتونو کښی وکړی او خلک موپوه کړه دلته می دخدایی خدمتګارونه بیاد عدم تشدد وعدی واخیستی اخری جلسه مولنډی کښی وکړه او خلک می په دی پوه کړل چه داتاسو چه زما د بادشاهی چغی وهئ نوچه داتحریک مونږ شروع کړی دی داخود باچایی دپاره نه دی چه زه دی بادشاه شم او که چیرې تاسو ما بادشاه کړئ نو اول خو په اسلام کښی باچایی نشته او بله داچه ستاسو به خاوری په سرشی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او زما به مزې وي نو تاسو پوه شئ چه نه ما او نه بل خپل باچا کړئ . مونږ باچایان جوړول نه غواړو ، باچایانو نه موضوعات نشته زمونږ به یو مشر وی او دقوم په رایه او مرضا او مشوره به وي او هغه سړی به وی چه دقوم خدمتکار وي ، د خان ، غریب او میا ملا فرق به نه وی بلکه هر هغه سړی به وی چه هغه نیک او ایماندار او دقوم او ملک خیر خواه وی تکلیف نه او قربانی او د هر خدمت یې دقام او ملک کړې وي او چه دغه مشرئ اهلیت او پوهه هم یکښی وي ، زمونږ حکومت به د جماعت تابع وی جماعت به د حکومت تابع نه وي . بادشاهی خراب شی دی او دقوم او ملک یکښی د هر نقصان دی ، او که چیری نن یو باچا سبه هم وی نو سبا به یې زوی باچا وي نو څوک ویلی شی چه کوندی هغه به هم سبه وي او باچایان کله د خپل قوم ترقی غواړی ؟ ولی چه هر وخت دا خیال کوی چه که داخلک پوه شول نو ما به لیرې کړي نو هغه هر وخت دقوم د پوهی لاره کښی خنډ اچوی دا ملک زمونږ د ټولو پینټنو دی نو مونږ یو سړی نه خان کوو زمونږ به کوشش داوی چه قول خانان کړو او داسی حکومت به جوړوو چه هغه کښی مساوات وي او د ټولو خلکو یکښی یو شان خیر او فایده وي ، که پوره وی او که سپوره وی په شریکه به وی . امن وی ، انصاف وي زمونږ به د ټول قوم یو ه جرګه وي او دهغې په خوښه به یو صدر وی .

زمونږ جلسو کښی به ښځې هم شریکیږي . د خلیلو مومندو د دوره چه ختمه شوه نو اخر کښی به زه دا وایم چه د خلیلو مومندو جرګو او خدایی خدمتکارو په سبه انتظام دی هر کلی کښی دفتر دی او په هغه کښی شپه او ورځ د خدایی خدمتکارو پهره وي . په هر دفتر کښی یو کارپرداز دی چه ګټه په ګټه غریبه دی د ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتظام د ارباب عبدالغفور خان اوسید عاشق شاه باچا دی.

ماتړ کانو باندې، اور مړ خالصه:

خبر راغی چه قادی صاحب بخپل کلي ماتکیانو باندې کښی دیوی لوی جلسی انتظام کړې دی او ماته یې لیکلی دي چه مونږ د خپل تحصیل د خدایی خدمتګار و د تربیت د پاره کیمپ کوو دی د پاره ستا د تلل دلته ضروری دی. ما د هغوی دعوت منظور کړو او د اتمانزو نه سحر وختی د سستی جان کلی ته لاړم ولی چه باچا جی راته وې چه زمونږ د کلی په لاره تلل په کار دی، د سحر چای موسستی جان سره وشکله. د پیر انکو صدر او سالار هم را ورسیدل او بیا مونږ نستی ته روان شو، زمونږ د راتلونه چه د نستی خلک خبر شول نو د پیر خلک راجمع شو هغوی ته می یو مختصر تقریر وکړو او د دی ته می ووی چه خپل کور جوړوو، د شمنی، تر بکنی، پری جنبی او نفاق پریږدو د دی د لاسه زمونږ کور بر باد دی، د نستی نه مونږ د سینډ غاړی له لاړو د بیړی انتظام شوی و بیړی تیاره وه صدر صاحب او سالار صاحب واپس شول مونږ په خیریت سره له سینډ نه پورې و توځای په ځای خدایی خدمتګار و لاړو و ماته یې اس راوستی و خوزه پیاده دوی سره روان شوم. د قادی صاحب کلی ته ورسیدو قادی صاحب د پرسنه انتظام کړی و د فتراو د هغه احاطه یې شکلی کړې وه. خلک د فتر کښی ناست و و تبادله خیالات وشول او د پودی وخت شود دودی نه پس جلسی له لاړو جلسه د کلی نه بهر وه، د پیر خلک و او په زرګونو تنو اوښتی راغلی و و جلسه کښی تقریرونه وشو، نظمونه یې وویل، زما د تقریر وخت کښی می اول د دی د پاره چه د قادی صاحب زامن حکومت کړفتار کړي و و همدردی ظاهره کړه او خلکو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

می ووې چه نن دی که سبا په مونږ یو امتحان راځلونکی دی تکلیفونه او مصیبتونه راځلونکی
دي که تاسو په صبر سره دهغو مقابله وکړئ نو امید دی چه مونږ به کامیاب شو او خلکو ته
می داهم ووې چه مونږ خدایي خدمتګار ستاسو د خدای د پاره خدمت کوو ولې چه
تاسو زمونږ قوم یئ او احسان د هر باندی هم نه کوو خکه چه دا زمونږ فرض دی او یوازی
زمونږ نه دی د ټولو پښتنو فرض دی ، مونږ ستاسو ګټلند وی یو او که چیرې داسی
خلک په ملک کښی وي چه د دی خپلی ګټی د پاره ملا تړلی نه شی نو نه یې تړی لیکن
زمونږ پښې دې دشمن ته نه راکاږي ، او که زمونږ ملګرتیا نه کوی هیر دی خوچه د
قوم او ملک د دشمن سره ملګری نه شی . بیا ښځوله د غلم او هغوی تړل ووې چه دا ملک
چه څنګه د سره ودی داسی ستاسو هم دی او داستاسو چه څنګه خیال دی چه سره یې لوی
دي او ښځه وړوکې ده دا په اسلام کښی نشته لویي په عمل ده که ښځه با اخلاقه ، نیکه
او پاکه وي نو هغه لویه ده او که د غه شان یو سړی وي نو هغه هم لوی دی او که د غه شان
یوه ښځه بد عمله ، بد اخلاقه وی نو هغه وړوکی ده او که یو سړی هم د نه شان وی نو
هغه هم وړوکی دی ، په دې ملک کښی ستاسو مونږ سره یو شان حصه ده ، ښځه او
سړی د کاډی دوه پایې دی که یوه پنچر شی نو کاډی مخکښی تلی نه شی . جلسه په کامیابی
ختمه شوه .

زمونږ د اور مړ و صدر صاحب او ورسره د پر خدایي خدمتګار راغلی وو زه
هغوی مجبور کړم او ځان سره یې او ر مړ ونه بوتلم د دوی د دفتر ته چه ورسیدو نو زه
اول د خپل شهید خدایي خدمتګار صوبیدار صاحب د بچو کتوله او د عاله لارم بچي یې ما
له د اغلل او خپله غمبره کښی می کښېنول د عامی ورته وکړه او بیا ما نه کانوله می تسلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړه چه مړک شته اوخلاصی تری نشته او دی خو په داسی مړک مړدی چه خدای
ورته ژوندی یلی دي خو مونږ پری نه پوهیږو اوچه تر څو دا دنیا اباده وي دهغه نوم
به هیر نه شی ، دشپی موجماعت کښی جلسه وکړه دلته هم جلسې بندې دي سباله د
اورمړو منځنی کلی له لاړو دلته زمونږ په خدایی خدمتګارو کښی بی اتفاقی وه دوی
می د خدایی خدمتګاری په مطلب اومقصد پوه کړل اوورته می ووې چه تاسو په دی
تحریک خان نه دی پوه کړی اوتاسو نه هیره شوی ده چه مونږ خدای سره داوعده
کړې ده چه مونږ به پرې جنبی ، دشمنی ، تر بګنی ، مخالفت ، جګړی اوبی اتفاقی نه
کوو نوزه سناسو په خدمت کښی داعرض کوم چه څوک دشمنی ، تر بګنی ، پری جنبی ،
پریښودی نه شی نوهغوی دې خدایی خدمتګاری کښی نه داخلیږي اوچه داخیزونه
کلی پریږدی نوبیا دی خدایی خدمتګار شی اوکه دې کښی هم داخیزونه پری نه
ږدو نو ددی وړاندی ولی فایده څه شوه ؟ دې خیزونوخو مونږ بر باد کړی یو. زما په
تقریر دوی بنه پوه شول اوځه اثر پری وشو. له دی ځایه مونږ دریم کلی ته لاړو ، اودمړ
دړې کلی دي ، هلته موهم په جماعت کښی جلسه وکړه . زمونږ دویرولو د پاره حکومت
دجلسی په رخت کښی دپر باد پر پولیس راوستلی وو چه خلکوی هیڅ پروا ونه کړه
نوبیالاړل . ددی ځایه زما اراده وه چه کیچوری له لاړشم لیکن زما طبیعت خراب شو
اوهغه دسړک نه دوه میله لیری وه اوپیاده مزل و ، نوبیا شپی له میاں کوجرو له لاړواو
بابو فضل الهی سره مو دخوندشپه تیره کړه دشپی موجماعت کښی جلسه وکړه اوچه خلک
زمانه خبر مثل نوښځی ، نر په دیره مینه محبت جلسی له راغلل سباله هزار خانی له
لاړو. ددې ځای د جګړی او خدایی خدمتګارو انتظام می دیر خوښ شو اوبیا په دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

علاقه کښی کلی په کلی وګرځیدو او خلک می په عدم تشدد په ښه شان پوه کړل او په صبر می د پرزور ورکړو او ددی ځی دوره ختم شوه.

لاټ سړه لیدل:

زما طبیعت ښه نه وخکه چه نه دشپی ارام واوته دوه ځی باچاکی دستی جان شاکود وهغه به نظمونه اورول هغه هم ناجوړه شو هغه می هم کلی ته رخصت کړو زه پیښور ته راغلم او د اکټر صاحب سړه پاتی شوم هغه راته د لاټ صاحب د ملاقات په باره کښی ووی چه تاته به یاد وی چه څه وخت ته په ډیره اسماعیل خان کښی یه دوسره وې نو ماته لاټ صاحب یوه چیټی ستاد ملاقات د پاره راولیږلی وه، زمونږ مخکښی لاټ صاحب مړ شوی و او دهغه په ځای سر رائیلف کریفټ لاټ شوی و ما وته ووی چه ماته په ملاقات کښی څه عذر نشته، هغه لاټ صاحب له زما د موجودګی خبر ورکړو او دری بجی ملاقات مقرر شو زه ټیک دری بجی د لاټ صاحب بنګلی له لاړم دهغه سکریټر زما په انتظار کښی ولاړو ماته یې ورلیږې کړو اولاټ صاحب له یې بوتلم، لاټ صاحب ماله مخی له راغی اوزه یې ځان سړه په کرسی کښینولم او سکریټری بهر ته راووت او مونږ لپسی ورپوری شو دروغ جوړ نه پس اول سوال یې په ما داوکړو چه زه تول عمر پیښور کښی پاتی شوی یم خو ته می لیدلی نه یې ما وته ووې چه تاسوله اکثر هغه خلک راځي چه خپل کار ونه لری. بیا د خدایی خدمتګار و خبری شروع شوې، ده راته ووې چه زمونږ او د پښتنو د ښه نښه تعلقات وو خو د بعضی خلکو په ګډو تقریرونو هغه تعلقات خراب شوما وته ووې چه تعلقات په تقریرونو نه خرابیږي تاته به معلوم وی چه جیمسن پښتنو سړه کوم قسم سلوک کړی او ددی په اوږدو سړه لاټ صاحب ستر کی ښکته کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جیمیسن د پلیس کپتان وچه په ۱۹۳۱ع کښې د چارسدې په شراب خانه مونږ پکښې لګولی
و ده د خدایی خدمتګار و مخصوص ځایونو ته د کی کوزی ځورندی کړی او د خسی توب
مشین یې د پسې راوړو او د هر خدایی خدمتګار پرې خسیان شول او دا اواز به یې کولو
چه د پښتنو نوغی ورکوم خدایی خدمتګارونه به یې جامی وشلولې او بربند به یې کړل او چه
په وهلو کښې به یې هوسه شونو د غولو د متیازو یو د ندو کی جوړ کړی ؤ هغه ته به یې کذا ډکوه
دا زمونږ لښتانه د مرګ نه هم بد ګڼری ماورته ووی چه کوری مونږ خدایی خدمتګار
هم ستاسی د عیسټیو نو مونږ سره هم کم از کم هغه سلوک کوئ چه نور د عیت سره یې کوئ
نو هغه ووی چه مونږ یوشان سلوک کوو او خلک بې ګناه نه ګرفتارو و ماورته ووې
چه په دی ستاسره بحث نه کوم لیکن اکثر خدایی خدمتګار بې ګناه ګرفتار وئ او د
د روغو مقدمی پرې جوړ وئ ده ووی چه هغوی څه ناڅه کړی دی ماورته ووې چه
د سودم خلانو څه کړی دی چه تاسو ګرفتار کړي دی ؟ او د مردان په حوالات
کښې پراته دی شاه پسند خان او الله داد خان د جلیل څه تقصیر کړی دی ؟ شیر
بهادر خان او د هغه نور و خورانو څه قصور کړی دی ؟ اخر کښې د ازاد مرحد خبری شوی
ماورته ووی چه تاسو د پولیټیکل ایجنټ په محکمه په کرور و نو روپی لګوئ نو د دی نه
څه فایده وشوه ؟ نو ده ووې چه مونږ خپله علاقه په دې باندی د دی خلکو د شر نه
بچ کړی ده ماورته ووې چه د څومره مودې نه تاسو په دې لګیایئ او تر کومه حده کامیاب
شوي یئ نو ده ووې چه د دیر شو کالو نه زمونږ د اکوشش دی خو تر اوسه پورې
کامیاب شوي نه یو ماورته ووې چه مونږ له پنځه کاله موقع راکړئ او تاسو چه څومره
روپی لګوئ د هغې شلمه حصه مونږ له راکړئ بیا زمونږ او د خپل کار مقابله وکړئ که زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه لاره فایده منده وه نو هغه جاری وساتئ ! ماته یې وویې چه تاسو به څه کوئ ما
ورته وویې چه مونږ به دغه روپۍ د خلکو په تعلیم صنعت او حرفت باندې ولګوو
او د خلکو به دایقین راولو چه مونږ داهر څه د قوم د فایدې دپاره کوو او د قوم خیر غواړو
پښتون داسې قام دی چه دی د زور په نسبت په احسان زر تابع کیږي بیا به نه
پخپله د اکی کوی او نه به بل څوک پریږدی. نو چه دلاټ صاحب نه نور څه جوړ نه شو
نو ماته یې وویې چه دې ملک ته د روس او افغانستان نه د پرو د ره توپه دی
وجه مونږ د اکار کله پریښوی نشو او د افغانستان نه چیرته کمولی شو؟ ما ورته وویې د افغا
غریب خواړو څه خبره مه کوه ولی چه هغه تاته معلومه ده چه خپل خان هم ساتلی نه شی
نو په مونږ به څه حمله وکړی ؟ او بله داچه ستاسو په افغانستان کښې کوم باچا خوښ
نه وی نو هغه باچایی کولی نه شی پاتی روس شو نو که د هغه نه تاسو ته خطره وی نو په
کار دی چه مونږ له د خپل ملک واک او اختیار راکړئ په قول هندوستان کښې ستاسو
دومره فوج نشته لکه چه نن په سرحد کښې زمونږ خدایی خدمتکار دی. چه مونږ
له اختیار راکړئ نو بیا که روس زمونږ په ملک راتلونو مونږ به یې مقابله کوو او زمونږ
ښځې نر به د ملک د حفاظت دپاره تیاروی نو بیا روس حمله نه شی کولی او که دا نه وی
نو مونږ خوستاسو د پاره جنګ نه کوو اوس مونږ پوه شوی یو چه جنګ دې مونږ
کوو او مزی دې ستاسو وی. زما د پردی خبری ده نوټ کړی او راته یې ووی چه
زه سبا له دیلی ته څم او د دی خبرو ذکر به والیسرای سره وکړم بیایی راته ووی چه
زه امید کوم چه اینده به هم دغه شان زما او ستا ملاقات کیږی ما جواب ورکړو
چه لکه د اځل چه دې څه د نکی ما پسی پولیس راپریږلی و دغه شان ما پسی پولیس راپریږه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو زما اوستا ملاقات به کېږي . ده راته وويې ته خو عجيبه سړی يې ته خولږ بهر وکوره څومره خلک زما ملاقات ته راغلي دي زه ورسره ملاقات نه کوم اوتا ته زه وايم چه زما ملاقات ته راځه اوته نه راځې نو ما ورته وويل چه دا بهر خلک چه راغلی دی دا خو خپل غرض نو پسې راغلي دي او زما څه غرض نشته . ملاقات ختم شو او زه د دا کټر صاحب بنګلی له راغلم . په سبا له می د نوښار د تلو انتظام وکړه .

د نوښار په تحصيل کښې جلسې :

د لسم د سمبر سحر وختی زه سړه د خپلو مومندو خدايی خدمتګارو نوښار ته لاړو او دفتر ته ورغلو صدر صاحب سړه د نورو خدايی خدمتګارو دفتر کښې موجود و اولږ ساعت پس د سيند دغاړې د کلو په دوړه روان شو په لاره کښې می د شا هباز کړۍ جرنيل وليدو چه پوليس په لاړی کښې جيلخانې له بوتلو اودوه نيم کاله يې قيد کړې ؤ . مونږ باران کښې دکنډو جلسه وکړه او دهغه نه پس صدر صاحب او د نوښار کارکنان رخصت شو او مونږ د اکوړی جرنيل صاحب سړه پورې وتو او پيرسباک کښې موجلسه وکړه او د پيرسباک نه شپې له زړې مينې له لاړو خلک راته انتظار کښې وو د شپې موهلته هم جلسه وکړه او د سحر لمونځ نه اول د زړې مينې نه روان شو باقی تول د سيند دغاړې کلو کښې موجلسې وکړې او خلک مود تحريک په غرض پوه کړل شپه موخيرا باد ته ورسوله . زما طبيعت داول نه سنه نه ؤ اوازمی ناست و او د دې بې ارامۍ په وجه نورهم ناجوړه شوم . مابه د پرکوشش کوو چه دکار نه پس می ارام ته پريږدي خو دوی نه پريښودم . د شپې مود لته جلسه وکړه . په دولسم د سمبر د ختکو علاقه کښې دا باسيند په غاړه خپرا باد کلی ته نزدی د يوی لوی جلسی انتظام مود کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغی له دصوابی تحصیل په زړکونو خدایی خدمتګار داغلی وو دپنځو خلګ هم په شنارو
راپورې وتی وو اوموتر ولاړو کښی داغلی وو. زه دلږ ارام نه پس جلسی له لاړم،
شاعرانو قومی نظمونه واوړول پرانژلي وکړو اخر کښی ما پخپل تقریر کښی ووې چه
زمونږ دصبر جنګ دی مونږ به دوهلو اوښتګلو بدل نه اخلو مونږ به صبر کوو
اوخان به خدای ته سپارو مونږ خو خدایی خدمتګار یو خدای به زمونږ بدل
اخلی دخپلو زړونو نه خودغرضی اونفاق لیرې کړئ ځکه چه دغه دلاسه برباد
شوی یو خان کښی ښه اخلاق پیدا کړئ ولی چه دښو اخلاقو ته لیر څوک ترقی کولی
نه شی. بله خبره می داوکړه چه ای پښتنو وروڼو زه په دې نه پوهیږم چه تاسو ولې
دپیرنکیانو نه لیرې ږئ دوی خو ستاسو په شان بنیادم دی ستاسو په شان یو
قوم دی تاسو خو پرو جنګو اونفاق تباه کړئ ویره درکښی پیدا نوی ده، دچا
په زړه کښی چه دخدای ویره وی نو دهغه په زړه کښی دبل چا ویره نه راځی اودچا نه
نه لیرې ږی اودچا په زړه کښی چه دخدای ویره نه وی هغه دهر چا نه لیرې ږی. نو په
دې وجه چه مونږ دحکومت افسرانو نه لیرې ږو. ای وروڼو تاسو په زړه کښی دخدای
ویره پیدا کړئ اوبیا می تولوته اپیل وکړو چه کوم کلی کښی جلسه وی. نو هلته دوډی
چای مه کوئ اومه پاتی کیږئ اودکلی خلکوته می هم ووې چه چه له چای، دوډی
هم مه ورکوئ مونږ غریب قام یو خلکو له چای، دوډی نه شو ورکولی بیا می دې
خلکوته ووې چه ای وروڼو! تاسو دخدای دپاره یوه ورځ روژه نیوی نه شئ؟
اوکه څوک دوډی دله پخه هم کړي نو تاسو یې مه خورئ نو چه یو ځل خلکوته دوډی
پاتی شی نو بیا به داسی نه کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صوابی تحصیل کښې جلسې:

زه بیا فردوس خان سره مانیږی ته روان شوم په لاره یو بو پاسې راته
وویې چه باچاخانه زه خونن ایله پوه شوم چه پیرنګی هم زمونږ په شان بنیادم دی.
شپه می فردوس خان سره په ارام تیره کړه سبا له یو خدایی خدمتګار وفات شوئو
دهغه جنازه مړوکړه بیا مودملا صهبی دځای تصفیه وکړه. دوی ملا صهبی له ځای
وسکړی ویوکس یتیم پکښې خفه وهغه موراضی کړو بیاله دی ځایه باچاته روان شولی
چه زمونږ د باچاخانان بی ګناه پولیس ګرفتار کړی وو. دلته موجماعت کښې جلسه وکړه
بیا کلابټ له لاړو دکلابټ په خلکو کښې حکومت څه بی اتفاقی پیدا کړی وه خودغرضو
خلکو پکښې شرارت کولو ماورته هم په هغه معامله تقریر وکړو چه فکر وکړئ دهغه
ښه اثر وشو اردوانیدو په وخت کښې دکلابټ دخان زوی راته وویې چه تسلی
ساته مونږ پوه یو مونږ څوک جنګولی نه شی. له دې ځای نه زروبی ته لاړو هلته
موهم جماعت کښې جلسه وکړه په زرګونو خلک راجمع شول دپره کامیابه جلسه وشوه
زه پوه شوم چه په خلکو کښې سیاسی شعور پیدا شوی دی. له دغه ځای مرغزته
شپې له لاړو په مرغز کښې مودشپې جلسه وکړه، دمرغز جرګه اوخدایی خدمتګار
زیړه مخلصان اوپوه دی. دوی راته دخپل مصیبت ټولی قصی وکړې اوراته یی
وویې چه نیکناه د پولیس هغه پیرنګی ووهلو اوبیایی دکلابټ خلکو ته وویې چه دعوی
هم پری وکړئ خو په مونږ دکلی خلکو دعوی ونه کړه ددوی جرګه قابل اوپوه سړی
دی اودا دهغه قابلیت دی چه دا جذبه یی په خدایی خدمتګارو کښې پیدا کړی
ده. سبا له دمرغز نه قبلې ته یوکلی دی دهغه صدر صاحب مجبورکړو اودسحر چا یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

له هلته لاړو ،خلک چه زمونږ نه خبر شو نو راجمع شو هغوی ته می هم دوړو ولی او قاموليو مختصر تقرير وکړو او بيا له دې خايه کوتې له لاړو او بيا توپې له لاړو ولې چه ددی خای دپر کارکنان حکومت گرفتار کړي وو . توپې کښی پکتنگ گډ لی و. دهغه کتوله لاړو ما پرې بعضی سوالونه وکړل چه تاسو ولی پکتنگ گډولی دی ؟ دوی ووې چه داخلک بد ليشی مالونه خرڅوي ما ورته ووې چه تاسو څه غواړئ ؟ دوی ووې چه دخپل ملک مال دی خرڅوي نو ما ترې تپوس وکړو چه دی کښی ستاسو فايده ده او هغه کښی موڅه نقصان دی ؟ دوی ووې چه دملک مال چه خرڅ ښ ي نو پيسی به زمونږ ملک کښی پاتی کيږی او چه دپردی ملک مال خرڅ ښ ی نو پيسی به پردی ملک ته ځی . زه دپر خوشاله شوم ولې چه داکوم خدايی خدمتکار ولاړ وو نو هغه د يو وړو کی کلی بی تعليمه هلکان وو او نوری چه می ترې پوښتنې وکړې نو دهغوي هم پوره خوابونه راکړل دلته هم پوليسو په خدايی خدمتکارو دپر ظلمونه کړی وو . زه پوه شوم چه زمونږ په قوم کښی يو پوهه راغلی ده بيا می جماعت کښی تقرير وکړو او خلکو ته می ووی چه داخدايی خدمتکار ستاسو گټه وی دی تاسو له ستاسو د پلار نيکه بايللی ملک گټی نو تاسو دسره ولې بد سلوک کوئ ؟ که پيرنگيان مونږ سره هر قسم سلوک کوی نو مونږ ترې گيله نه کوو خکه چه هغه غير قوم دی او هغوی سره غم دی چه که پښتانه راته خپل ملک ازادکړی نو زمونږ به څه حال وي ؟ زمونږ گيله ستاسو نه ده تاسو خو زمونږ قوم يئ او دا ملک زمونږ شريک دی که دا ملک ازاد شی نو دی فايده خو به ټول قوم ته وي . چه جلسه ختمه شوه نود (مينئ) مولانا صاحب راته ووې چه مونږ سره به ضرور ځی او زمونږ د خلکو د پر خواهش دی چه هلته موټر هم جلسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

و ماورته ووې چه مولانا صاحب ته زما حال وینې زه ناجوړه یم پریږده چه زه واپس
شم او چه کله البته ښه شوم نو بیا به ستاسو کلی ته درشم دوی راضی شوا و مونږ صوابی
غلو، په صوابی کښې په زړ کونو ښځې او نر جمع وو او سالار صاحب منیر خان، نجوبای
ردوس خان ډیره ښه انتظام کړی او هغوی ته می تقریر وکړو خدایی خدمتګار رانه
ړه شوه چه سیکاله به مونږ سره شپه کوئ ماورته ووې چه تاسو ماوینئ چه زه ناجوړه
وبه دې ناجوړه وجود لکیا یم شپه او ورځ کار کوم خکه چه نن دی که سبا دی حکومت
ږ نه سی او د خدمت موقع نه راکوي او دا ټول انتظار را ونه تهیل کنفرانس ته دی
ه کوشش کوم چه څومره کیدی شی چه په دې خپل قوم کښې دوری وکړم او دوی
سره څه باندی پوه کړم.

هغوی اجازه راکړه او شپې له تولاندی له لاړو شپه ښه په ارام تیره شوه
نه خبر شوم چه میا احمد شاه صاحب او ډله یې هره میاشت زما برخلاف کتابکی چاپ
ي او خلکو کښې خوروی او دلته یو مولانا صاحب د هغوی دپاره سخته پراپیګنډه شروع
پ ده ما هغوی ته ووې چه مونږ خو د خدای دپاره لکیا یو د دی قوم خدمت کوو
م زمونږ ملګرتیا وکړه نو دوی به ازاد شی او که زمونږ مخالفت یې وکړو نو دوی به
د شی ولی چه بغیر د قوم د امداد نه مونږ خپل منزل ته رسیدی نه شو. غم او فکر هغه
ره وي چه د خان دپاره کار کوي او څوک چه د خدای دپاره کار کوی هغوی هیڅ غم
ر نه کوي. احمد شاه میا به هره ورځ زما برخلاف هغه قصه په اخبارونو کښې لیکله او
ستونه به یې هم چاپ کول، لیکن ما وله چې هم خواب نه ورکولو ولې چه د دی نه بیت
ی جوړیده ما خو خپل کار کولو او په دی خبرو می وخت نه ضایع کولو، بې شکه چه دروغ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دځه وخته پوري په خلکو کښې غلط فهمي پیدا کولی شي خو چه د بښتیا دانښې نو د روغ پا
کیدی نه شي . چه سبا له مونږ په دغه کلي کښې د یو مهربان فاتحې له لارو هلته د هغه چ
کښې می خپل زوړ ملګری او مهربان مولانا سره ملاقات وشو او ورته می وویې چه مولا
صاحب په سیاسیاتو کښې کومو ښو منځ کښې څه اختلاف راغلی وی نو اځه بلده خبره نه
رسول الله صلی الله علیه وسلم هم وایي چه اختلاف دامت رحمت دی او را مونږ ته چه د ر
په ځای زحمت شوی دی دا زمونږ ذاتیات دي ، مونږ له خپل زاړه تعلقات پریښو
په کار نه دي اوزه چه ستاسو کلی ته راشم نو ملاقات خو راسره کوئ . د دغه نه پس مو
جماعت له روان شو ، مولانا صاحب می هم ځان سره روان کړو خلک جمع وو مولانا صا
ته می وویې که ته څه ویل غواړی نو وایه مولانا صاحب وویې وخت تنګ دی زه څه
ته خپل تقریر وکړه ، ما خلکو ته وویې چه ای ورونو ، عزیزانو تاسو خپل ځان پخپل س
اوزیان پوه کړئ زه نه پوهیږم چه خلک زمونږ مخالفت ولې کوي مونږ خو خلکو
یو . تکلیفونه او مصیبتونه په ځان تیر وو او کټه قوم له کوو په کار دی چه دوی هم زمو
په شان د پرنګیانو مخالفت وکړي ولی چه هغوی مونږ غلامان کړي یو . زمونږ د
نیکه ملک یې را نه نیولی دی ، دا ملک خو خدای مونږ له اوزمونږ بچو له راکړی دی خ
د خو غرضئ اوبې اتفاقی په وجه هغوی زمونږ په ملک مزې کوی ، خلک وایي چه زمو
جرګه پاتی نه شوه ، مونږ د مصر په شان په کانګرس کښې او به شوا خدایي خدمتګا
د هغوی رضا کار شول ، دا خبره غلطه ده زمونږ جرګه جرګه ده او زمونږ دا خدایي خدمتګا
دي دا خبره داسی ده چه مونږ کانګرس سره تعاون کړی ، یو خو دا فیصله مانه ده کړې
لوی جرګې کړې ده او د میاصاحب او عبدالاکبر خان په رضایي کړې دا تاسو خو لږ یا د کړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ز کانګرس سره نه وو نو پیرنګی په مونږ توره شپه جوړه کړې وه او په مونږ خدایی خدا-
کار ولي داسې لوبې کړې وې چه په دنیا کښې به په ډیرو کمو خلکو داسې لوبې شوې وي
مونږ یې تول جبلخانو کښې اچولي وو او چه هر کله ستاسو جرګې فیصله وکړه او مونږ کانګرس
سره شو نو دهغوی په کوشش مونږ د جبلخانو نه راباندې شو او دادی ستاسو په جلسه
کې تقریر کوم که دهغوی کوشش او امداد نه وای نو اوس به مونږ تول خدایی-
خدمتګار په جبلخانو کښې پراته وو په دې وخت کښې مونږ پیرنګی له دخپل اتفاق په
ډیو ښکر مات کړې دی او که مونږ اتفاق وکړو نو دابل ښکر به یې هم مات شی او د
ډیر زور او ظلم نه به خلاص شو. او د کانګرس سره خو مونږ هم ډیر ډیر ملګرې شوې
وو چه داخپل ملک ازادۍ تاسو مهربانی وکړئ او په دې خبرو خان پوه کړئ.

وخت لږ دی ماخپل تقریر ختم کړو، کالوخان کښې راته ډیر خلک په انتظار کښې ناست
دی په دې وخت کښې مولانا صاحب ماته ووې چه زه هم څه ویل غواړم نو دی خلکو ته
په ما ورته وئیل چه تا ته خو ما وئیلی وو چه تقریر وکړه، تاونکړو اوس زه دلته زیاتی
انتظار کولی نه شم، ولی چه کالوخان کښې ډیر خلک ماته انتظار کښې ناست دی، ته دوی
ته تقریر وکړه، او ماله اجازه راکړه چه زه کالوخان ته لاړ شم. زما د روانیدو سره
ټول خلک روان شول، په دې وجه مولانا صاحب خه تقریر ونه کړې شو.

مونږ چه کالوخان ته ورسیدو نو خلک جمع وو خلکو ته می ووې چه ای ورونو
او بهرا وایئ چه زه نن تاسو له د کامدار خان د کرفتارئ د غمخواری له پاره راغلی
یم؛ زه غمخواری له راغلی نه یم بلکه تاسو له مبارکی له راغلی یم او تاسو له مبارکی
ورکوم چه ستاسو د اسې یو ننګیالی خان وچه ستاسو د پاره او د تول قوم او ملک

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپاره جبلخانی له لاړو اوزه دهغه مودبی له او خپلو خپلوانو له دخان راسې
نیک کارته جبلخانی له په تلو مبارکی ودکوم. بیامی دی خلکو ته ووې چه ای و
هرڅه چه تاسو سره کیږي په هغه صبر کوئ دازاړنه چا بازار موندلی نه دی اودغ
کاسه نسکوره ده څومره چه پیرنګیان په مونږ ظلم اوزیاتی کړی هغومره به
تباه شی اومونږ به تری خلاص شو.

ددې ځای نه بیا ادینه ته لاړو هلته هم خدایی خدمتګار وته می د
تلقین وکړو او بیا سمیلا ته لاړم. په دې خلکو کښی دپرجوش اوخروش و
چه پیرنګی زور اوظلم شروع کړې و. دوی ته می هم د صبر اوتدم تشدد تلقی
اویا ماښام شهباز کړئ ته ورسیدم دلته یی هم زمونږ جرنیل صاحب نیولی ؤ
هم دپرجوش ؤ خلکوله می تسلی ورکړه اوخدایی خدمتګار وله می دجرنیل ص
دقید مبارکی ودکړه. دلته می دګجرات نجشالی صاحبزاده صاحب ته ووې چه یو
تیاره کړه لیکن دخپلو تلوذکر می هیڅ سره ونه کړو داخبره می پته وساتل چ
ځای له مونږ تلو هغه ودکو تهی کلی و اوداد وصره پولیس چه مونږ سره کړ ځ
دا به په هغو خلکولوی لوج و صاحبزاده صاحب نه به چه چاپو منښته وکړه نو هغه
چه مونږ ګجرات نجشالی ته ځو. مونږ تانکه کښی روان شواو دسرک په غاړه یو
کلی ؤ مونږ چه څه وخت دپولیس موټر ولید و نو کلی له دننه شو پولیس زم
خبر نه شو هغه ګجرات له نجشالی له روان شو. دکلی خلک چه خبر شول نو منځ
زمونږ لید ولې راغلل زما په رانلو دپرخوشحاله شو خدایی خدمتګار وته
چه څه چاکړه تیار وی هغه راوړي اوکه نه وی نو خیر دی شپه به مونږ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تپره کړو خو چه زمونږ د پاره نوی پخلی ونه کړي ! چه دوی موږ خوږه لږ ارام
موږ کړو تو له درخ بی ارامه وو د پر ستړی شوي وو خو تول خلک جماعت کښی را
جمع شوی وو هغوی وویې چه باچا خان دې مونږ ته یو څو خبری وکړي. دلمونځ نه
پس د هغوی د محبت می اول شکریه ادا کړه او بیامی ورته د تحریک متعلق یو څو
خبری وکړې اوبه دې خبره می د پر زور واچولو چه په هر مصیبت به صبر کوئ.

سبا له هوتی له لاړو. چه کلپانی ته ورسیدو نو څه کورو چه پولیس والا په
شکو کښی خر پر ناست دی ماته یې ووې چه تو له شپه د پسی کړ خپل یو اویا
دلته کښې ستاو د مردان نور پولیس هم تو له شپه تا سو پسی منډی وهلي
دي خو تاسو یې مونږ لی نه یې د غه انسپکټر ما له د د فعه ایک سو چوالیس (د قانون
۱۴۴ ماده) حکمنامه راکړه هغه کښی یې لیکلی وو چه ملکنا ایجنسی له به نه څې ما
غلام محمد خان دلوند خوږته ویلی وو چه هلته لاړشی هغه لاړو او دوی گرفتار
کړو نو په مایې د دې د پاره د فعه وګلوله چه دی خبر شی نو خامخا به ملکنا ایجنسی
ته څی او حکومت مونږ نه ایجنسوته پر پښود و او نه قبایلوته مونږ د پر کوشش نه کړي
وو چه مونږ دې د رونوته لاړشو او دوی هم مونږ د پښتنو په دی نوی و رودی
کښی شریک کړو او دایې لاځه کوي چه هغه د خدایی خدمتګار و هغه حکومت هم چه
جوړ شو نو هغوی هم زمونږ دې قبایلی د رونوته په تللو نه خوشا لیدل. ولې چه هغوی
ویل چه پیر نکیان به خپه شی. حقیقت دادی چه حکومت خو زمونږ د خو واک دګورنر
د هوتی نه تو د و له لاړو زمونږ یو د پر زور خدایی خدمتګار او بها د رکاکن
عبدالرحیم خان مړ شوی و ماسره یې د هزاری د ورځ کړې وه او چه څه وخت مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې له تلونو چې پولیس والا راله تهوکونه نیولی وو نو ده ماته وویې چې څه چل وکړو م
ورته وې چې ورځئ پرې نودی پرې دتولونه مخکښې ورغی. دده په مرګ مونږ
ته د پر نقصان ورسیده مونږ خو په دوه وو جنازه موونه کړې شوه، فاتحه می
وکړه دهغه مورا و خپلوانولره می د اډګیرنه وکړه، دهغه قبر له لاړو راما اوتولو خلا یې
خدمتګار وورته د پره دعاوکړه بیا می جماعت کښې یو مختصر تقریر وکړو او دوی ته می
وویې چې د عبدالرحیم خان په مرګ مه خپه کیږئ خدای به هغه وبښی او دهغه په
ځای به د اسلام د خدمت دپاره د پر خلک پیدا کړي. بیا (مایاروو) ته لاړو د
مایاروو صدر صاحب د پر مخلص اودکارسړي دی دغلته د پر خلک جمع شوي وو هلته
لږ ایسار شوا و خلکو ته می هم یو څو خبرې وکړې.

دوی ځامی نه مردان ته راغلو او دلته خبر شوم چې د سودم خانان ډه
شوي دي زما طبیعت د پر خراب و ماغوښتل چې د قاضی صاحب په ځای کښې ل
ارام وکړم خو خلکو ارام ته نه پرلیښودم. قاضی صاحب می پوه کړو چې بیکاله به دلت
راځم خلکو ته می وویې چې ستاسونه رخصت یم مخکښې ځم خو خلکو زه کله پرلیښودم چ
اډی له روان شوم نو خلک رانه رخصت شول مونږ اډی سره نزدی دهغه کلی ل
ورغلو پولیس والا راپسی وو، دهغوی نه چیرته خلاصیږو؟ مونږ المونځ کولو چې
خلک خبر شول او خدایی خدمتګارو زر زر وردئ راغوستې او یو ساعت کښې
کلی خلک راجمع شول دهغوی د محبت شکریه می ادا کړه او بیا می تری اجازت
واخستو او مونږ د قاضی صاحب ځای له لاړو. د قاضی صاحب ځای کښې د سودم
خان ناست و اول می دعایې مبارکې وکړه بیا مو خبرې شروع کړې ده راته وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه ستاد اتلل سودم ته د پرضرورۍ دی ولی چه په غریبو خلکو کښی حکومت یوه غلطه پرا پیکند شروع کړې ده چه په حقیقت یې پوه کړې چه دوی کښی غلط فهمی پیدا نه شی. ما ورته وویې چه زه خو پنچر شوی یم لږ ارام کوم نو په شلم دسمبر به درشم.

مونږ سبا وختی اډې له لاړو یوه تانګه موکرایی کړه او درکې له راغلو بیا پیاده کل اباد له لاړو خلک د پرې په جوش کښی وو. ما ورته د صبر او عدم تشدد تلقین وکړو. د کل اباد نه شپې ته چیل کلي محمد نامې له راغلم دلته مې دمې ته نیت و خو د اتمانزو نه خبر راغی چه په شلم دسمبر باندی د سرحد دلوی جرګې جلسه ده او د خط په لبد و راروان شوم. مونږ یوه شپه دلته وکړه سبا له اتمانزو له لاړو چه هلته و رسیدو څه کوروچه د نو ښار د تحصیل شل، پنځه ویشت افسران خدایی خدمتګار په اډې کښی راغلل زما په لبد و راکوز شو او جرګې له لاړو هغوی راته وویې چه زمونږ د جرګې فیصله وکړه ده زمونږ فیصله وکړه ما وې چه خدایی خدمتګار خو په عهد و جګړې نه کوی، په خدمت کښی جګړه نه وي جګړې خو په ذاتیا تو پیدا کیږی زما د اوینا هغوی د پرې محسوسه کړه او ټول د پر ملامته شو نو بیا می ورته وویې چه سالار اعظم صاحب له لاړشئ هغه به فیصله وکړي. هغوی وې چه هغه میری له تلی دی ما وې میری ته لاړشئ هغوی سالار صاحب پسی لاړل.

دلوی جرګې اجلاس:

د دوی د وخت وچه سالار صاحب را ورسید زمونږ جرګې له راغی زه خوجور نه وم ما تري اجازت واخستو چه ارام وکړم او د دوی فیصله په خوشالی او په رضا سره وشوه. سبا له وختی دوی واپس لاړل د سرحد لوی جرګه را ورسیده

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلسه شروع شوه د ټولونه اول حکیم عبدالسلام صاحب دا تجویز پیش کړو چه یو دیپوټیشن مقرر کول په کار دي چه هغوی میا احمد شاه صاحب او عبدالاکبر خان راضی کړي او ځان سره یې شامل کړو مایی تائید وکړو او ماوویې چه مونږ خو لیږی کړي نه دی ، هغوی جدا شوي دي که هغوی بیا راتلل غواړی نو جرګی ته به هیڅ عذر نه وي . دد واوې شاد محمد خان ددې تجویز مخالفت وکړو چه هغوی خو د جرګی نه بغاوت کړی دی او د جرګی برخلاف کار کوی .

بل تجویز دکانګرس دامداد اخیستو ددی تجویز ما سخت مخالفت وکړو ماوویې چه تر اوسه پورې مونږ دکانګرس نه یوه پیسه هم نه ده اخیستی او خلک رابسی خبری کوی اوکه تاسود کانګرس نه امداد واخیستو نو بیا خو به حلکومت او برخلاف خلک سبه پرا پیګنډه شروع کړي ماورته داهم وویې چه جواهر ال مانه په دی خفه شوی و د ډاکټر انصاری په کور کښی د ورکنګ کمیټئ اجلاس وهغه راته وویې چه مونږ به هغه مخکښی کانګرس له په پیښور کښی څلور، پنځه سوه روپۍ د میاشتی امداد ورکولو ستاسو جماعت د پرلوی دی تاسوله به د پرامداد د کوو ماورته وویې چه دا ملک یوازی ستاسودی که زمونږ هم دی ؟ که ستاسوهم وی او زمونږ هم وی نو بیا تاسونه امداد ولې واخلو هغه مانه په دې خفه شو او د ډاکټر انصاری صاحب ته یې وویې چه دی خو د پرمغرور ډه دی او دا تجویز هم نامنظور شو، بیا سردار رام سنګه زمونږ خدایی خدمتګار یو تجویز پیش کړو چه دانګلستان وزیراعظم چه د سرحد د حقوقو متعلق کوم تقریر کړی دی هغه تسلی بخښ نه دی او مونږ ته منظور نه دی لیکن ټمین جان وکیل دده دتجویز مخالفت وکړو او دا تجویز یې پیش کړچه دا ریفارم

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ له اخیستل په کار دی . قاضی صاحب اوعلی اصغر خان ووی چه څه راکوی دا به واخلو او نور به ګټو . مالوبی جرګی ته ووی چه دی په اخیستو کښی زمونږ قوم اوملک به څه ترقی وکړی پیرنګیان داسی نادانان دي چه مونږ له به هغه حقوق راکړی چه په کوم کښی زمونږ فایده وي ، نو ما وویل چه زه دی هم مخالف نه یم که چاته پکښی فایده سنکاری نو وادی خلی خو دی تجویز هم شاد محمد خان دوا وی سخت مخالفت وکړو چه مونږ مکمله ازادی غوښتله او اوس هغه اصلاحات واخلو چه ټول هندوستان ترې انکار کړی دی ، په دی کښی هیڅ فایده نشته . دثمین جان تجویز وغورزیده اودسردار رام سنګه تجویز پاس شو نوری هم چه څه خبری وې هغه فیصله شوې او جلسه ختمه شوه

اویو څو ممبران شپی ته پاتی شول او نور لاړل .

په دوه ویشتم د سمبر په پینور کښی

یولوی دربار وچه

هغه کښی

هم دریفارمز د خبرو

تجویز و . ډاکټر خانصاحب له اومالیه لاټ صاحب

دعوتنامی راپیژلی وې ، ما او قاضی عطاء الله او ډاکټر

په دی خبری وکړی چه تلل په کار دی که نه زه خو ناجوړه وم لیکن په دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

فیصله وشوه چه په داسی حالت کښی چه حکومت لکیا دی په خدایی
خدمتکار وظلمونه کوی نو تلل په کار نه دی او موږ هغی لاړ نه شو.
زما طبیعت نور هم خراب شو او تبه می هم ورسره
پیدا شوه، په دی وجه ډاکټر صاحب
د علاج د پاره پیښور ته
بوتلم
زه یی په خپله بنګله
کښی د پره کړم او زما علاج یی شروع
کړه او خلک یی راته بند کړل زما علاج خوارام و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه هزاری باغ جیل کښی
باهر عامه گرفتاری

زمونږ گرفتاری، عامه گرفتاری او تشدد
هزاری باغ جیل ته
بهادره ښځه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې کښې د سړه اړتیا تار راغی او خورشید بهن هم راته لیکلی وو چه کاندهی جی به په اووه ولیشتم د سمبر راو د سمبر نوته په شپږ ولیشتم تاریخ راشه. زه ناجوړ وم خو دا تلل هم ضروري، په دې وجه ما اراده وکړه چه پنځه ولیشتم د سمبر به سحر وختی په فرنټیر میل کښې بمبی ته روانیږم. ما سره د تلود پاره قاضی عطاءالله خان امین جان او داکټری جرنیل هم تیار شو او فیصله په دې وشوه چه مونږ به پیښور نه روان شو. قاضی صاحب به په نوښار کښې را سره شی او داکټری جرنیل به په اکوړی را سره مل شی خو انسان ته خپل تقدیر معلوم نه دی، تقدیر په تدبیر پوری خاندي په څلیر ولیشتم د سمبر ما خپل کاغذونه تیار کړل او د تیسن د پاره می تانګی والا ته هم ووې د اکټر صاحب ته ما وویل چه په پنځه ولیشتم سحر وختی راشه، د اکټر صاحب او میم صاحب کلی ته تلل، په دغه وخت کښې د ارباب عبدالغفور پلار ارباب جمعه خان زما پوښتنی ته راغی. ما ښنام د اکټر صاحب یواځی د کلی نه راغی او میم صاحب یی کلی کښې پریښوه.

زمونږ گرفتاری:

چه په دې کښې زمونږ یو مهربان راغی هغه ووې چه ما ته معلومه شوی ده چه تاسو بیګاله گرفتار وی د اکټر صاحب دا نه منل هغه ووې چه دا راز به پټ وي خو ما ورته ووې چه که مونږ گرفتار شو. زمونږ هغه مهربان زمونږ نه رخصت شو، ما سره چه کوم کاغذات وو هغه می خپل نوکر حنیف الله له ورکړل چه دا میم صاحب له ورکړه. د اکټر صاحب راته اواز وکړو چه پولیس راغلل زمونږ د بنګلی نه چا پیر شول او یو پیر نګی ماله راغی او راته یی ووې چه تاګرفتار دوم، ما ورته ووې چه د پیره ښه ده ستا او ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حکومت به شکریه ادا کړم چه ما گرفتار کړی خکه چه زه ناجوړه یم اوارام نه می څوک نه پریږدی اوس به ارام وکړم هغه پسی یوه میمه راغله ماهغی ته د بنګلی ودلیږی کړه او په ارام می کښېښوله .

حکومت ته دمیم صاحب دوی رآتلل معلوم نه دا یی د دې د پاره راليږلی وه چه د اکټر صاحب ښځه میم صاحب به یوازې وي دا به ورسره شپه تېره کړی لږ ساعت ودلیږی بل پیرنګی راغی هغه مونږ په څلیږ ولیشتم د سهر د شپی گرفتار کړو د بنګلی نه بهر راغلو اوزه یی په یو موټر کښی او د اکټر صاحب یی په بل موټر کښی کښېښولو هغوی زمونږ د گرفتاری د پاره د پر پولیس راوستلی وو شاید چه د هغوی به داخیال و چه مونږ به ورسره جنګ کوو . د اکټر صاحب د شپی په جاموکښی راغی ماورته ووې چه جامی بدلی کړه معلومه نه ده چه مونږ چېرته بیایی . د اکټر صاحب جامی بدلی کړی چه د پښو ورنه واوړید و نوزما خیال وچه هر ږیوورته به مو بیایی چه دې کښی د اتک پل ته ورسېد و دلته قول موټرونه و درېدل پل بند و ماسره چه کوم پیرنګی وهغه ورکوز شواو سنټری ته یی اواز وکړو چه فلانی صاحب ته تېلیفون وکړه او ورته ووایه چه مونږ ته ورلیږی کړه لږ ساعت پس ورلیږی شو مونږ چه د پل نه پورې وتو موټرونه ودرېدل او مونږ یی د موټرونه کوز کړو دلته د پولیس په چوکی کښی یوه کمره وه مونږ یی ورننه کړو زما طبیعت د پر خراب و تللی هم نه شوم نومالـه هغه پیرنګی کټ راوړ او زه په هغه کښی څملاستم ، د اکټر صاحب ته یی هم یو کټ راوړ . په دې کښی لږ ساعت پس قاضی صاحب راورسېد ، دهغه نه پس سعد الله خان زما ورارہ هم راورسېد ، قاضی صاحب ماسره او سعد الله خان د اکټر صاحب سره څملاستل اوسنه په ارام موخوب وکړو . سهر وختی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ سره دهغو پیژنګیانو تیسن له لارو هلته د پر پولیس ولاړوو اوزمونږ د پاره یې دیو سپیشل تړین انتظام کړی و مونږ یې هغه کاډی کښی وردننه کړو اوزما په ډبی کښی دننه یې په مونږ توپک په لاس اوسنګین جراو پیره ودروله اوکاډی روان شو تاسوته به یاد وي چه مالاټ صاحب سره ملاقات کولو نوزماخبرې یې نوټ کولی اوده وې چه دا به زه وایسراي سره کوم نونتیجه دا شوه چه د رونډ تیبل کنفرانس فیل شو نو په هند وستان کښی یې د تولونه اول زه ګرفتار کړم اود تولونه یې خطرناک ثابت کړم دغه نوتونه یې د دې غرض د پاره اخیستل. په دې شپه چه زه یې ونیولم هم په دغه شپه په سرحد کښی هم پنځه سوه مشران خدایی خدمتګار ګرفتار شول.

عامه ګرفتاری اوتشدد:

زما د نیولونه پس په توله صوبه کښی عامی ګرفتاری شروع شوی چه د خدایی خدمتګارو قید یانو تعداد چه زرګونو ته ورسیدی نو بیا یې نور نه نیول بیا به پولیس او د نډ مار په کلو ورتللو اوخدایی خدمتګار به یې وهل او تکول په یخو اوبو کښی به یې اچول اوکورونه به یې ورته تالاکول. د چارسدی په تحصیل خدایی خدمتګارو پکښی شروع کړه شل شل کسان به هره ورځ راتللو پولیس والو به په کوتکونو وهل او خلکو به ګرفتاری ورکولی.

دهریپور په جیلخانه کښی دنورو تولو جیلخانونه زیات خدایی خدمتګار قیدیان وو یوازی دی جیلخانه کښی دیارلس زرونه زیات قیدیان وو، حکومت په دوی د پر ظلم شروع کړو چه دوی تنګ شی او معافی وغواړی. په یخ ژمی کښی یې دوی له یو یو کمبل ورکړی وچه د سیږونه ډک ؤ د سیمټو بارکونه ووهغه به یې پرې وو یخل یوه جوړه جامی دی هغه ببلې هم وو یخلی. باران به ورېدو، جامی به یې جنګلو کښی خورلی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ړي اوکمبل ببرې د خان نه تاوکړي و شپه به په ناسته تېره شوه په دويمه اوکله په
ر دريمه ورځ به يې يوه چپاتي وکړه چه يوه نوري به شوه چه سړي به پوهيدونو بيا به ختم
ره . د دې ظلم برخلاف يو بوډا هندو خدايي خدمتګار خبرې بندي کړې وې او چې
ولې روژه يې ويوله چه ترمرګه يې جاري وساتله . شپږ مياشتې پس هغه مړ شو او خپلو
چو د جيلخانې نه مړ بنو ته يوړو . د دې ظلم برخلاف دا تمانزو حيات کل خدايي خدمتګار
خاوليښت ورځې بهوک هرتال وکړه او د سرانجام خان سپرتمنډنت په خوله يې مات کړو
هغه ورسره وعده وکړه چه ستا مطالبې منم . سرانجام خان چه سپرتمنډنت شو نو
يد يا نوله يې تسلي وکړه او زور ظلم يې ختم کړو او قيد يا نو مشقتونه شروع کړل . دده
ا سلوک د پيرنګيانو خوښ نه شو نو دې يې بدل کړو او دده په خاى يې د بهار صوبې
و پيرنګي راوغوښتو چه نوم يې سمتھ و . هغه هم په اول اوله کښې خدايي خدمتګار
سره سنبه جنګ وکړو او خدايي خدمتګارو سنبه په نره دده مقابله وکړه . د تاټ وردې
لاړې اتکړي . بندي چکې ، د نلوه بيړې او نورې سزاګانې يې ورکړې د ريې کاله
ې په خدايي خدمتګارو دغه تکليفونه تېرکړل خو سمتھ کامياب نه شو او دې نه پس
يا خدايي خدمتګارو سره د پرسنبه شو .

زمونږ د کتو زو عبدالله جان او د هغه پلار قلي خان ته پيش شو هغه د چا-
سدې اسستنټ کمشنر و هغه په عبدالله جان رعب واچولو کچرې د خلکو نه د که
ره پوليس والا رو قلي خان ورته ووې چه د پيرنګي حکومت خلاف نظم وايي چه:
« د انقلابه شم خار خار » عبدالله جان ورته وويل چه زه اوس هم داوايم په فخر يې
چغه داسې وويل « د انقلابه شم خار خار - که څوک مې سرکاندې په دار دار » زمونږ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوانانو د جرئت داسی د پری قصی دی چه هیڅ شان دجادو عمل پی اثر نه کوی
داخو د ته ما مثال بیان کړو .

هزاری باغ جیل کښی :

حکومت مونږ سره د سرحد نه یو سره د ارخیل د پولیس انسپکټر له خپله طرفه
لګولی و و ، هر چې صوبی ته چه به زمونږ کاډی روانیږی نو دهغی پولس به زمونږ د
نګرانی او حفاظت انتظام کولو او هغه به راسره کیده . د پنجاب پولیس یو انسپکټر
چه په مونږ لګیدلی و د دی انسپکټر داکار وچه کله به مونږ د ډبی کرکی لپری کړه
نو دی به راغی او هغه به یی بنده کړه اخر ما وته ووې چه انسپکټر صاحب مونږ
خو بنځی نه یو چه مونږ کرکی د هوا د پاره لیری کړو نو ته یی بنده کړه چه د دی څوک
ونه وینی او زمونږ داد صوبه سرحد انسپکټر سره د ارخیل د ډاکټر صاحب او د دغی
صاحب د پر اشنا ؤ او دا به یی هم وې چه زه د ډاکټر صاحب د مرګ نه بچ کړی یم
قاضی صاحب سره د اخبار د پر شوق و ده به د هغه خپل اشنا نه اخبار غوښته خو هغه
دویری نه اخبار نه ورکولو زما خو همیشه دا قاعده ده چه گرفتار شم نو چه کوم پولیس ما سره
وی نه تری تپوس کوم او نه تری څه غواړم . زمونږ د اکاډی چه به د کویلی او او
اخیستو د پاره و د ریدو نو مونږ پسی خو به کرکه او رونه بند وو او که زمونږ به کوم
بل و ته شوق شوی و نو دی پنجابی به نه پریښود و . څه وخت چه زمونږ کاډی یو
ته ودریدو نو زمونږ د چارج اخیستو د پاره یو انګریز افسر او یو کوره ساړجنټ
راغی او چه هغه چارج واخیستو نو زما د ډبی له راغی او د ډبی دروازه یی لیری
کړه او ما ته یی ووې چه راځه راکوز شه تاسو کښی د کرخه پښی آزادی کړه . او س

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه انګریز اوډ پنجاب د دغو مسلمانانو افسرانو د رویې مقابله وکړئ ! انګریز سره
زمونږ جنګ د اومونږ تر یې حکومت اخیستو او دا زمونږ مسلمانان پنجابی
ورور ګو چې مونږ د دوی د پاره حکومت کتلو. دا ورځ د دوی د (برده دن) ډوډۍ
ورځ وه هغه په برده مینه محبت ماته شراب را وړو ماته یې د پر په مینه محبت سره
ویش کړل ماورته وې چې معافی غواړم زه شراب نه څکم هغه زما په دې خبره حیران
شوه زه به د هغه د رواداری او محبت هیڅ پرې نه کړم اوشه وخت چې اله اباد ته
ورسیدو نو د دلته یې زمونږ نه د اکټر صاحب کوز کړو او هغه یې د اله اباد نیني جیل ته
لیږده . بیا یې سعد الله کوز کړ او هغه یې د بنارس جیل ته ولیږده . بیا د بهار صوبه
شروع شوه او دلته یې قاضي عطاء الله صاحب زمانه کوز کړو او د ګیا جیل ته یې
لیږده اوزه یې د هزاري باغ جیل له روان کړم . د هزاري باغ جیل د تیسن نه
ګولینټ میله لیرې دی . زه چې یې موټر کښې کښېنولم نو ماسره دوه پیرنګیان
د پټې کمشنر وو . بل د پولیس کپتان وکښېناستل او دا زمونږ سردار خیل
انسپکټر هغوی سره کښېناستو . کښېناستو سره هغوی ماله یو انګریزي اخبار راکړه
چې سردار خیل انسپکټر خپلو دوستانو او محسنانو له یې نه ورکوو) چې زه یې جیل ته
ننه کړم اوزه یې بارک له بوتلم نو د جیلخانې افسر چې هندوو راته ووې چې دا تا
ره چې د پولیس افسره داڅوک دی ؟ ماورته وې چې ماته ولې دده پوښتنه
یې ؟ نو هغه راته وې چې ماته خو پر رذیل سړی ښکاره شو هغه ماته وویل
دا د پر خطرناک سړی دی فکر ورته کوه . زه یې یو بارک کښې یوازې بند کړم
دوی راته لاړل . ماته لږ ې د لوی صاحب (سپرنټنډنټ) اوورډ کی صاحب

(c) ketabton.com: The Digital Library

(جبلپر) دلید ونه دبل چا د راتلو یا لید و اجازت نه و . زما د بارک ورا ندی
یو سړک چه په هغه به جبل والا تللل راتللل هغه یې بند کړ ماسره د خدایی خدمتګار و
د پرفکرا و غم و . په تنهایی کښی زه نا جوړه کیږم . دلته زه بالکل تنها وم خوب
به می پوره کولی نه شتو او د وډی می هم خوا نه نه کیده چه په دی کښی می یوشپه
خوب ولید وچه یولوی سین دی دهغه په غاړه یو سنبلی کښید دی زه په هغه کښی
ناست یم چه په دی کښی سیلاب راغی او دی کښید ته راننوتو د آکښید یی وجر قوزه
د پرووړپلدم ماوې خدای دی خیر کړی چه زما د پاسه را پری نه وځی خو څه
ساعت پس هغه سیلاب تیر شو او کښید یکښی لاهو نه شو . پاتی شو . چه د خوبه را ویښ
شوم د خوب په لید و د پره تسلی می وشوه . او هغه د پرغمونه او فکر نه می کم شو ځکه
چه زما زړه ته داخبره راغله چه زمونږ په تحریک دهیبت کوم سیلاب راروان و هغه
په خیر تیر شو . او تحریک یکښی لاهو نه شو . بیا می فکر وکړ چه داتوله وخ داسی بی کاره
ناست یی نو صحت خوبه دی . نو خراب شی څه شغل او کار په کار دی چه زه پری مشغول او
داوخت می پری تیر پږی نو سپږ نقلنت صاحب ته می وویل چه زه دلته بیکاره ناست
یم او بیکاری ماته سنبه نه سنبکاری ته ماله یوی . تسکوړه اوږمبی راکړه چه زه چپل بارک
مغلبنی دابنجړه ځمکه ابادوم . په دی کښی به خانله سبزی کوم . هغه ماته دوه قیدیان
راکړل . هلته چه کومه لږه غوندی ځمکه وه هغه می ابادې کړه او سبزی او کالونه می پکښی
وکړل . ددی نه ماته دوه فایدی وشوی ، یو خو راته کار پیدا شو چه زه به پری مشغول
اووخت به می سنبه تیږی . او بله داچه یوازی وم نو د خبرو ملګری ی پیدا شول .
زه د « شاهی قیدی » وم . د پښتی کمشنر به د اله هره میاشت راتلو دهری میاشتی

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اول تاریخ به راغی . دې کښې هغه چې ناغه کړې نه وه هغه هم د دې کلونو اوسبر
کولو د پر شوقیس و ماسره به یې هم پکښې د پر امداد کولو کله نا کله به یې راته ټکوونه هم
راورل . د پر ښه سره یې وکښې د پر انسانیت و دی چه به هره میاشت راغی اوزه به یې
ولیدم زما د اتنهایی به یې محسوسوله او زمانه به یې تپوس کولو چه تا ته څه تکلیف
نشته ؟ ما به ورته ویل چه جیلخانه خو د تکلیفونو خای دی . زما د عادت دی
چه په جیلخانه کښې نه څه غواړم اونه شکایت کوم او نه (complain شکایت)
کوم او تول تکلیف په خان تیروم . شپږ میاشتې تیرې شوی او ده خپله ولیدل
چه صحت می خراب شو او نور هم خرابیږی نو لغیر زما د وینا نه یې د صوبه سرحد حکومت
له ولیکل چه ده له یو ملګری په کار دی او په کیا جیل کښې د ده ملګری دی هغه دې
جیلخانې ته را بدل شی . هلته قاضي عطاء الله خان وهغه غریب هلته یو ازې واوزما
هم زیات په تکلیف کښې و زه به څه ناڅه . و ده کیدم او خوب به راغی او هغې غریب
خوب نه ورته اونه و ده کیدی شو خکه چه د تنهایۍ په وجه یې یو کال هلې وخوب
نه ولګری . د کیا جیلخانه د هندوستان په تولو جیلونو کښې کرمه ده بله داچه زه او قاضي
صاحب په یوه صوبه بهار کښې وو او د اکټر صاحب او سعد الله خان په بله صوبه یعنی
پې کښې وو و لې سره یف کرافټه زما او د قاضي صاحب د پر مخالف و نومونږ د واړه
نه یو خای کولو د هغه په خای یې ماله د اکټر صاحب راولیږلو . چه د اکټر صاحب راغی
نو یو بل ته ورته غاړه وتو او کال پس یې قاضي صاحب سعد الله له ولیږده .

ماسره څنګ په څنګ د بنځو جیلخانه وه په هغې کښې سیاسي قیدیانې وې د
چنډ د پر شاد خو رهم پکښې وه . یوه ورځ چوتهه صاحب د پټې سپر تنډنټ ماله

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغی ، ماله یی ووی چه ښځو د هر ټنګ کړی یم اوراته وایی چه نه مونږ ته دی و ښیه
اوکه راته یی نه ښیی نو مونږ ایجی ټیشن کوو داخوزه کولی نه شم نو ته مهربانی وکړه دو
ته جواب ولیږه اوما ترینه خلاص کړه ماهغوی ته جواب ورولیږلو اوی تری خلاص شو
چه داکټر صاحب راغی اوهغه ولیدل چه ماخو دی همیشه په ادرک کښی ښندس
اوزه خو به نینی چیل کښی جواهرلال سره همیشه بهر کوخپلم نو دهغه ی باغ جیل
سپرنټنډنټ چه هغه یو پنجابی واو داکټر صاحب سره دیورپ په خنک کښی یو خای
پاتی شوی وخو د هر یو زړه دل سره و . داکټر صاحب هغه ته دبهر کوخپل وخبره وکړه
ده ووی چه : « نه بهایی میں ماراجاونگا » یعنی نه ورورو داخبره مه کوه زه ب
اووهلی شم لیکن داکټر صاحب داخبره نه پریښوه نواخر مونږ ته د ادرک نه بهر کوخپل
اجازت وشو . په دې جیلخانه کښی بابو راجندر پرشاد اود بهار ای لوی لیډر را
قید وو . اچاریه کرپلانی هم دلته وهغوی نه زما نه خبر وو اونه زه دهغوی نه خبر
مونږ چه بهر کوخپل ویوه ورځی مودهغوی یو ملګری ولیدو نوهغه د هر حیران ش
تاسو کله راغلي یی ماورته ووې چه زما خو دلته اتمه میاشت ده او داکټر صاحب
خو ورځی کیږي چه راغلی دی . هغه راته ووې چه دلته خو مونږ د بهار د پرسیاس
قیدیان یو بیا به مونږ کله کله دهغوی لیدو له ورتلو . دبهار خلک د پر ښه
خلک دي ، دبهار هغه داروغه صاحب د راجندر پرشاد کلاس فیلو دهمصنف
و د پر ښه سړی واو دقوم پرستو سړی د پره هم دی کوله . مونږ یوه ورځ چه
صاحب سره داخبره وکړه چه ددی خای چه کوم سیاسی قیدی رهاکیږی هغه
ورځ مازیګر مونږ له رهاکیدو نه مخکښی رالیږی . مونږ به هغه له صبلمستیاکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بهار خلک د پرښه خلک دي لیکن داچوت چات پکښې د پرزیات دی مونږ سره
د یو خای په اوسیدو په دې خلکو کښې د پر بدلون راغی او د پره اصلاح یې وشوه ، یوه
د رخ یوسیاسي قیدی زمونږ میلمه وچه چای راغله نو چای سره کرمي پیکوړې
تلیدلی باتینګن هم ورو ما به په پیالې کښې چای درکوله او بیا به مي پیکوړې پخپل لاس
درکولی او داکتر صاحب به تلیدلی باتینګن هم هغه له درکول او هغه چای سره پیکوړې
او باتینګن هم خوړل او چه چای ختمه شوه نو هغه د پرو خندل او بیا یې مونږ ته وویې چه
په مونږ کښې دوه چوت چات دی چه یوه درخي مسلمان ډاکی راغی او هغه ماله زما
خط داکټر نو هغه نه د خط اخیستو په وخت کښې یوه خنده هغه نیولی وه او بله خنده
نا نیولی وه . په دغه وخت کښې زما وروره ما سره ولاړ و هغه په ما او به وا ړولې او راته
یې وویې چه ته خو پلید (بهرشت) شوی .

د بهار د لیدو انو سره زما محبت و د هغوی محبت زه د زړه نه نه شم اونښکلی .
د بهار ښځې نر د پر بهادران دي او هغوی د ملک دازادی د پاره د پرې قربانۍ
ورکړې دي او زه به د ته د یوې ښځې قصه وکړم چه هغه مونږ سره قیده وه .

بهادره ښځه :

یوه درخ چوتا صاحب راغی او خندل یې او ماته یې وویې چه تاته نن د یوې ښځې
قصه کوم چه دلته قیده ده ، نن جیلخانې له د هغې وکیل خاوند ملاقات له راغلی و او هغه
سره پنځه بچي وو د ملاقات په وخت کښې چپلی ښځې ته یې د پر منت وکړو چه دا د وه واړه ته
خله او دا د ې لوی به ما سره دي ښځې ورته وویې چه دا ټول به ته ساتې ما خو دا ټول
ساتل خو تا زما خبره د نه منله نو اوس یې ساته نو چوتا صاحب وویې چه ما هغې ښځې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویې چې دابچی ولې نه ساتې نو هغې خواب راکړو چې څه وخت دکانکرس د جنګ بیکل
وډهل شو نو مادې خاوند ته وویې چې دا د ملک اوتوم جنګ دی ته هم اړ شه خو ده وویې
چې زمایو دوه مقدمې دي چې دا ختمې شی نو بیا به لاړشم . څه وخې پس می ترې پوښتنه
وکړه چې مقدمې ختم شوې که نه ؟ نو ده وویې چې لږ ې غوندې پاتې دی . څه وخې پس
می بیا تری تپوس وکړو نو هغه دغه خواب راکړو چې دې بچو سره څه وکړو ؟ مادې چې د
بچي به زه ساتم ولی دی قید ته تیار نه و اوزه پوه شوم چې جیلخانې له نه خي نوزه پخپله
راغلم پکټینک می وکړ اوقید شوم اوبچي می ده ته پرېښودل . دکوم نوم متهم کښې چې
دومره تومیت او بهادرۍ وي نوهغوی ضرور خپل منزل ته رسی دا دغه وجه وه چې
انګریز مجبوره شو اوزمونږ ملک یې پرلیښو .

د ډاکټر صاحب د راتلونه پس یې بیا مونږ بل بارک ته بدل کړو . دغه بارک سره د پر
مخکه شارډ پرته وه ماچو تا صاحب ته وویې چې زه دا مخکه اباد م ما سره املاد وکړه چې
ماله دوه قیدیان راکړل . ماپه هغه مخکه شروع وکړه اوابادۍ می کړله . په دې مخکه یوارته
هم د ما الو بالو کښې قسم قسم سبزۍ وکړلې . د بهار پیښتې د پرۍ خوږې وې یولوی پټی
می سنبه جوړه کړو اودامې پکښې وکړلې . د پټی کمشنر به میاشت په میاشت راتلو ماسره
په دې کار کښې د پره دلچسپی وه اوکله ناکله به یې د ملو تیپرو تخم هم راکوو اوراته به یې
چې زما هم د زراعت سره د پره شوق دی . دا جیلخانه په ځنګل کښې وه کله ناکله به د مزه
اوازونه مونږ اوریدل اوپه دې جیلخانه کښې به د شپې د پره مارانې راتلل اوهغه
داسې زهریله وو چې سړی به یې وچیچلو اوفوراً به ورته انجکشن ونه شو نو دوه کینټې
کښې به مړ شو . زه به د شپې د دوه دې نه پس کرځیدم . سپرنټنډنټ صاحب خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

منع کولم چه مادیه دی وچپی نوما به ورته وې چه زه ونه کړځم نو نه خوب راځی او نه می
دوډی هضم کیږی نو بیا هغه ماله یوګیس لمپ واخیستو او دشپی به چه کرځیدم نو هغه
به د ملازم سره و هغه به مخکښی واوزه به وړپسی وم اوچه کله به برسات شروع شو
نو دا ماران به د پرزیات شول اوچه مونږ به دشپی کرځیدو نو چه چیرته به د پنډو کی
و نو هغی کښی به بیشماره ماران رپیدل. دا ماران وړوکی وړوکی وو خو د پرخطر
ناک وو. ځه به وختی سحر پاځیدم. یوه ورځ چه پاځیدم نوکر کابی کښی می پښه منډله
خو چه دا کر کابی می په پښه سموله او هغه نسکوره شوه نو یو کریت مار تری روان شو،
خدای تری وساتلم دلته زمونږ یو مشقتی و. داکټر صاحب سره به نی د پرکپ لګوو.
په دې کښی د پرقیدیان د ځنګلی علاقی وو د اکټر صاحب ته یې وې چه مونږ ښځی او
نر لاسونه سره ودکړو او په جمع ګډ پرزو. یوه ورځ تری مونږ پوښتنه وکړه چه په څه
قید شوی یې؟ نو هغه ووې چه سړی می وژلی و اوچه مقدمه را باندی جوړه شوه نو
خپلو ډاله وکیل ونیو وکیل راته بیان اوښو چه دا به کوی. ماوته وئیل چه داخو دروغ
دی اوزه دروغ نه وایم. وکیلانو خلکسره دروغو اموخته کړې دي. حقیقت دا
دی چه دا وکیلان چه دکوم وخت نه پیدا شوي دي نو په دی ملک کښی دروغ او
دروغو مقدمې زیاتی شوی دی. خو ما دروغ ونه وې او د پښتیا می وی، چه د پښتیا و
په برکت له پانسی نه خلاص شوم.

حکومت زما پجوله الاونسی نه ورکولو حالانکه د اکټر صاحب او قاضی صاحب
پجوله یې ورکولو او بله لوبه یې مونږ سره داکړی وه چه زما جاید اد خو پرو، خو
دګودنمنټ په اشاره زمیندارو زما حصه ګډوډه کړه او مالیه یې څه نه راکول

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو زما زوی غنی د پیسو د نشت په وجه د امریکی نه والپس شو او خپل تعلیم لې پوره نکړو ، زما هغه د پیښتو باغ چه پوخ شو او یو دوه مونږ خوږ لی وی چه زمونږ د رهایی حکم راغی مونږ خو د پری پیښتی کړلی وې او هغه ټخی شوی دی اګوچه په دې جیلخانه کښی دننه د پیښتو د کړلو حکم نه نو خو مالـه جرنیل خاص اجازت راکړی و نو چه مونږ خلاصیدو جیلوالا او قیدیان د پرخپه وویل یی چه تاسو د هاشئ او لاړشئ مونږ به دا د بیخه وباسو . پیښتی په پخیدو راغلی وی د پری خوږ پی دی . اول په دی جیلخانه کښی د پیښتو د کړلو اجازه وه خو هغه قیدیانو ایستلی وی دیوال ته اینبی وی او تښتیدلی وو نو خکه د پیښتو کړل بند شوی و .

چه د اکټر صاحب نه ونو زما د خوراک د پر بد حال و د دی خلکو او زمونږ خوراک کښی د پر فرق دی او زه ټخلی باندی نه پوهیدم چه د اکټر صاحب راغی نو بیا کار بنه شو ولی چه هغه به د پر بنه ټخلی کولو او بیا یی زمونږ مشقتی ته چل وښودو هغه بیا مونږ له بنه د ودی ټخوله ما به د اتوار په ورځ روژه نیوه او وی سره به می د خبرو هم روژه وه ولی چه زما د پرو خبرو کولو عادت و او پر قهر یدم به د روژه ماتی د پاره به ماله د اکټر صاحب ټخله ټخلی کولو او به د غږ ورځو کښی چه کاندهی جی بهوک هړتال کړی و نو ما هم ورسره کړی و او ما ته داسی یاد دی چه اته ورځی و . د اکټر صاحب ما ته ووی چه زه چه په نینی جیل کښی وم نو جواهر لال راته ووی چه مونږ غوا ړو چه خدایی خدمتګار و سره مالی امداد کړو نو ده وی چه ما ورته ووې چه د پره بنه ده ، ما ورته ووې چه د اخو دی د پر غلط کار کړی دی مونږ خو د کانګرس نه امداد نا خلو مونږ هم د خپل ملک د پاره جد وجهد کوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کانګرس هم

وی نو مونږ له

دهغوی نه امداد اخیستل

خو ماته مناسب نه ښکاري او

په دې خو مانه جواهر لال خفه شوی و

مونږ دهغوی نه ولې امداد واخلو

مونږ خدایي خدمتګار به دوه،

دوه نیم لکه خلک وی

نو کانګرس

به مونږ له څومره

امداد راکوي بله دا

چه دوی اوس امداد ورکړی

زهغه خوبتولوته رسیدی نه شی

نوپه دوی کښی به بې اتفاقی پیدا شی

خو دا ښه خبره وه چه کرپلانی

رهاکید و نو ما هغه ته ووې

چه مونږ د کانګرس نه

مالی امداد نه غواړو

داکتر صاحب ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

جواهرلال ویلی وو نو ده دامداد خبره منلی ده ته چه لاړ
شی نو دا امداد بند که اوتهولولیدل دانوته ووایه
چه هغه وې چه خدایی خدمتګار د کانګرس
نه امداد نه اخلی. زمونږ باور هم چه
زمونږ دهایی واورېدل
نو په ژړا شو ماورته
ووې چه
زمونږ په رهایی خفه یې؟
نو هغه وې چه نه ستاسو په رهایی
خوشحاله یم خو ماسره دځان غم دی، جیلو الاهم
زمونږ په رهایی خفه وو زه هم په هغو خپلو پیښتو لپی پرخفه وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په صوبه سرحد او پنجاب بندیز

د آل انډیا کانګرس کمیټې اجلاس

واردا، کلکټۍ کښې، بمبئ کښې، قید دوه کاله سابرمتي۔

جیل، بریلي جیل، المورہ جیل، رهایي، وارډ ډي ټه، دجیل اولادسره ملاقات

انتخابات او کانګرس ورکنګ کمیټئ، زه بمبئ کښې، د فیض پور کانګرس

دپښتنو په هکله غلط فهمي، انتخابات، صوبې واړه کښې، د کانګرس۔

وزارتونه، صوبې بنارس، دهلي، ګجرات، کاتیاواړ کښې

د هندوستان د مسلمانانو فکر

د سنډ او بلوچستان دوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

په سرحد نه ما بندیز:

ددی کاله پس مونږ دهزاره ی باغ جبل نه ډهاشو او پتهنې ته راغلو او دهغی سبځی میلمانه شوچه وکیل خاوندی جبل ته نه تلو او د اتللی وه او مونږ سره جیلخانه کښی قید وه. په بهار کښی زمونږ د پر سیاسی قیدیان ملکری وو او زمونږ او دهغوی د پر بنه تعلقات ووچه زمونږ درهایی نه خبر شو او مونږ پتهنی ته راوو سپدو نو راجند رپرشاد او هغه نور لیډران مونږ سره راغلل، زمونږ یو لوی جلوس د پښکو او جلسه وشوه، د جلسی نه پس مونږ له حکومت دا نوتس راکړی وچه پنجاب او سرحد باندی تاسو بندیز. مونږ له کاندهی جی او جمنا لال بجاج د عورت والیبر لی وچه تاسو چه حکومت په سرحد او پنجاب بند کړی ئی نو دلته واردی ته راشئ. بیا مونږ واردی ته روان شو.

آل انډیا کانګرس کمیټئ اجلاس:

مونږ په دسمبر ۱۹۳۴ع کښی ډهاشوی وو. په بمبئ کښی د آل انډیا کانګرس کمیټئ اجلاس وُ نوچه زمونږ درهایی خبر کانګرس ته ورسیدو نو د کانګرس کمیټئ استقبالیه کمیټئ دا فیصله وکړه چه باچاخان دی د دې کانګرس صدر شی او راجند رپرشاد چه د آل انډیا کانګرس صدر مقرر شوی وو د هغه تار راغی چه زه صدر منتخب شوی یم خوستا په حق کښی مستعفی کیږم خو ما دا خبره منظوره نه کړه او د تار په ذریعه می اطلاع ورکړه چه زه سپاهی خدایی خدمتګار یم، زه صدارت نه کوم، خدمت کوم. د دې جلسی پنډال زما په نوم جوړ شوی و او مونږ چه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کومه دروازه ورننوتو هغه لویه او بنکلی دروازه هم زما په نوم جوړه شوی وه ، مونږ په دغه اجلاس کښې شریک شو عبدالخالق خلیق صاحب او زمونږ نور ډیر پښتانه - ورونه چې زما ستړی مه شی له راغلی وو هغوی هم دې جلسه کښې شریک شوی وو. څه وخت پس مونږ دواړه دې نه کلکتې ته لاړو او هلته د کلکتې کارپوریشن مونږ ته استقبالیه ایډریس راکړو او په کلکته کښې زمونږ لوی استقبال وشو .

چې څه وخت کلکتې له تلم نو کاندهي جي سره می سلا او مشوره کړې وه چې پنجاب او سرحد ته خوزه تلی نه شم او هسې کښې پاسنۍ هم نه شم زه خو خدایي خدمتګار یم خدمت به کوم نو اوس په دې باقي هندوستان کښې بنګال اوبل سنده دی چې له ته د مسلمانانو اکثریت دی ستا څنګه خوښه ده چې کومه صوبه کښې شروع کړم ؟ نو په دی فیصله وشوه چې بنګال کښې کار په کار دی ، نو کلکتې ته لاړو ، په کلکته کښې زمونږ ډیر لوی استقبال وشو ، ما د مسلمانانو په علاقه کښې خپلو تقریرونو کښې مسلمانانو ته داخیال ظاهر کړو چې زه ستاسو د خدمت د پاره راغلی یم او زه په کلو کښې کار کول غواړم ولی چې یو خو قوم په کلو کښې اوسی او مصیبت زده او بې خبره خلک هم هلته وی بل بنارونو کښې اخبارونه هم وی ریډیو کان هم او کلو کښې دا څیزونه نه وی . نو زه خو د هغوی د خبرولو د پاره راغلی یم او هغوی ته ورځم .

کلکته بنارکښې د مسلمانانو یو مجلس (انجمن) وا و سهروردی صاحب د دی مجلس مشر و او د ده هسې نور مسلمانان هم دې مجلس کښې وو . دی مسلم مجلس ماله دعوت راکړی و چې مونږ ورغلو د بنګالیانو د رواج مطابق هلته د ټولګو ر انتظام هم شوی و ، چې د سند د واو کانی وخت وشو نو ما خواهش وکړو چې دومره به بس وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس به څه د مطلب خبری هم وکړو او چه کله ما د اخواهش ظاهر کړلو چه زه د مسلمانانو علاقو او کلو ته وتل غواړم چه هلته کار وکړم، نو دی لیډ رانوته می خواست وکړو چه ما سره یو تن داسی په کار دی چه زما د خبرو ترجمه په بنکالی کښی کوی نو هغوی دا معذرت اوکړه چه د مسلمانانو په علاقه کښی د ملیریا د تبو ورځی دی ماشی دی او هلته تک د صحت د پاره مضر دی یعنی هغه پخپله تک او خدمت خو پریږده داسی کوشش وپه ما هم هلته د تللونه منع کړی خکه چه د هغوی په لیډ ری کښی فرق راځی.

زه چه څه وخت د مسلمانانو نه مایوسه شوم نو داکټر پرونو لا چند کهوش چه زما د دوست واود کانګرس دور کنګ کمیټی ممبر هم وهغه می د دې حال نه خبر کړو هغه ته می ووې چه ما سره کلوته لاړشه خکه چه د غه خلک صرف په بنکالی پوهیږی او مالته بنکالی نه راځی هغه راته ووی بنه ده زه دې هر قسم خدمت کوم او دکلو په دوره د سره ځم خو دا د بنکال خلک خومره دي هلته ته څه کوي؟ زه او هغه دکلو په دوره روان شو، مونږ چه به کوم کلی ته لاړو نو مابه پخپله طریقه کار شروع کړو خلکو له به ورته لو خبری به مو د سره کولی او ورته به می ووې چه دا هندوستان د سره زمونږ د ملک دی، هر کور کښی به پی و، غوږی او ووې ووې لیکن اوس څه چل دشو چه د دی څیزونو قات (قحط) دی او زمونږ بچي وږي تږي د بر بنډ خوار وزار دي؟ هغوی عزیبانو نو به زما خبری په غور او فکر او ریدې او په اخر کښی به می ورته ووې چه تر کومی پورې دا ملک ازاد شوی نه دی او د دی ملک واک اختیار د ستاسو په لاس کښی راغلی نه دی نو تاسو او ستاسو بچي ا د یدی نه شی او په کیډه مړیدی نه شی دا ملک خدای مونږ له راکړی دی خو زمونږ د خود غرضۍ او ناپوهۍ بی اتفاقی د په وجه د دی ملک واک اختیار د انګریزانو دی او ستاسو په ملک

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی اباد دي . په دي طریقه مونږ چه خو ورځې په هغه علاقه کښې وګرځېدو نو بیا به مو یوځای د جلسې د پاره خوښ کړه زمونږ په اوله جلسه کښې پنځوس کسان راجمع شوي وو اوخه ورځې پس چه مونږ دویمه جلسه وکړه نو هغې له دوه سوه خلک راغلي وو او دغه شان پرله پسې د خلکو شمېر زیاتېدو . په دي وخت کښې می پرو فولا بابو ته ووې چه تاویل چه د خلک مړه دی تاولیدل د خلک مړه نه دی ، ژوندی دی . د مړه نه دی خو دې غریبانو خلکو غمخوراو همدرد نشته چه خدمت یې وکړې اوراویښ یې کړئ چونکه کانګرس جلسه شروع کېدله نو مونږ په هغې کښې د شاملېدو د پاره بمبئی ته راغلو . د کلکتې زماد هستو کښې په دوران کښې غنی او ولی دوارې ماسره وو .

د بمبئی د کانګرس په اجلاس کښې د عیسا یانو د سوسایټۍ څوکسان مالـه پنډال له راغلل او مالـه یې دعوت راکړو . زه ورسره لاړم نو هغوی زمانه د خدایي خدمتګارۍ په باره کښې پوښتنه وکړه ما ورته د خدایي خدمتګارۍ تولـه قصه بیان کړه چه مونږ څه وخت خدایي خدمتګارۍ کښې داخلېږو او قسم خورو او خدای سره وعده کوو چه د خدای د مخلوق خدمت به کوو . د خدای خدمت د خدای د مخلوق خدمت دی بیا می ورته هغه ټول حالات او ظلمونه بیان کړل چه په مونږ ټپر شوی وو .

ما ته دغه وخت پوره دا معلومه نه وه چه د بنتیا ویل هم د پیرنګیانو په قانون کښې جرم دی ، د کانګرس اجلاس ختم شو او مونږ واپس واردی ته راغلو ، نو ګاندهي جي سره موسلا مشوره وکړله او بنګال ته می د واپس تلو پروګرام جوړ کړو او دا فیصله موو کړه چه تر کومې پورې ما ته د خپلې صوبې د تلو اجازه شوې نه ده نو تر هغه وخته به د غلته کار کوم زما د دغې ارادې پته چه حکومت ته ولګیده نو هغوی وویل چه د بنګال هندو خو دیښ شوی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دا مسلمان که هم راوبین شو نو بیا زمونږ خیر نشته، نو په بمبئ کښې چې هغو عیسایانو ته ما کوم تقریر کړی و پولیس راغی او په هغې کښې یې زه ونیولم او بمبئ ته یې روان کړم چې هلته په تیسن کوز شوم نو د پرې بنځې او سړې زمالیدو له راغلې وو زه یې جیلخانې له بوتلم او زما مقدمه شروع شوه کاندهی جې ماله خواب راولیږه چې دا وخت د قید نه دی د کار دی ته جیل له مه خو معافي وغواړه ماورته ووی، ما ته ښه معلومه ده چې حکومت مانه پرېږدي نو معافي ولې وغواړم؟ خو هغه پخپله خبره د پرتینک واو ما ته یې ووی چې صرف دومره ووایه چې Regret یعنې زه افسوس کوم. زما خو یقین وچې ما حکومت نه پرېږدي خو کاندهی جې هغه خبره می ومنله خو سره دهغې یې هم زه دوه کاله سخت قید کړم.

سابرمتی جیل:

زه یې څه ورځې د بمبئ په جیلخانه کښې وساتلم او بیایې سابرمتی جیل ته احمدآباد ته چالان کړم دهغه ځای یو انګریز سپرنټنډنټ و د پرسخت مزاج یې و او د جیل قانون یې خدایي قانون منلو. زه یې ایکی یوازی په یو وارډ کښې بند کړم او دهغه وارډ نمبردار ته هم دننه دا تلو اجازه نه وه هغه به دوارډ دروازې ته جندره واچوله او پخپله به بهر کښې پناست. د دې ځای په خوراک کښې او زمونږ په خوراک کښې د پرفرق و مالهٔ یې بې کلاس راکړې ولیکن د دې صوبې په بې کلاس او زمونږ د صوبې په سې کلاس کښې هیڅ فرق نه و دلته د بې کلاس د پاره کټ نه و او په محکمه به څملاستو ماسره څوک د خبرونه و دلته د پرېږدو کان وو ما به د وخت د تېرولو د پاره هغوی سره لوبې کولې د دې خراب خوراک په وجه زه ناجوړه شوم او زما انفلوئنزا شوه او بالآخره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددی سختی بیمارۍ زه چا هسپتال ته بوتلم اونه یې ماله په وار په کښی کټ راکړو.
زه دسیمنټو په فرش پروت وم ماله چه یې کوم تر پړی دلاندی اچولو د پاره راکړې و
هغه دومره لنډ وچه ما به پښې وغزولې نو په سیمنټو به پرتې وې او داغوستو د پاره چه
یې کوم کمیل راکړې و دومره لنډ وچه سر به می پټولونو پښې به می بر بنډ پدی او چه پښې
به می پټولې نو سر به می بر بنډ شو. دا ما سره ټول انتقامانه سلوک چه وُ. ددی دوه
وجې وې. یو چه مستر ایمرسن دګجرات په جیلخانه کښی دمعاینې د پاره راغلی و، دی
هغه وخت د پنجاب وزیر وُ نو زه پخپله کلۍ ناست وم، دی دننه چکۍ ته راننغی
او زه ورته داخلاقیانو قیدیانو په شان جنګلی ته نه وم و د سپدلی دی په هغې
خفه شوی و او س دی د مرکز هوم سکرټری دی، او بله خبره دا وه چه شمله
کښی وم د کانګرس د ورکنګ کمیټۍ اجلاس له تلی وم ماته وویلی شوه چه وایسرای
سره ملاقات وکړه، زما ورسره څه کار نه و او هسې هغه سره ملاقات کول د هغه وخت
ضایع کول وو ما وې چه زما ورسره څه کار نشته نو ملاقات دځه د پاره وکړم او که
دوایسرای راسره څه کار وی نو هغه دی راته ولیکی نو زه به ورسره ملاقات وکړم
ماخو سمه خبره کړې وه خو دوی ته ګستاخی ښکاره شوه. څه موده پس صوفیه سوم جی
زما ملاقات له راغله، دا په هغه وخت کښی تول هندوستان د کانګرس د زنانو د رضا
کارو کمانډره وه چه ورو سته یې بیا د سعد الله خان سره واده وشو، او د هغه نه
پس کمانډهی جی هم زما ملاقات له راغی، کمانډهی جی چه زه ولیدم او زما سره د حکومت
د سلوک نه خبر شو نو ډیر خفه شو او د هغه په کوشش سره یې څه موده پس ماله اې
کلاس راکړو. د کمانډهی جی نه و راندی سردار پټیل هم زما ملاقات له راغلی و کمانډهی جی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخپل عادت له مخه د ملاقات په وخت کښې ما سره د ډېرې توقې وکړې اوزه يې د ډېر وخندلم ما سره ملاقات باندې پابندي وه چه به غير د خپلوانو نه بل چا سره ملاقات نه شي کولې او احمد اباد کښې خو زما خپلوان نه وو ، کله ناکله به د سعد الله خان صوفيه بمبئ نه زما ملاقات له راتله هغې له يې هم اول ډېر تکليف ورکړې واجازه يې نه ورکوله هغې په ډېر زور اجازه حاصل کړې وه او دې به ورته ووې چه زه خو دده دوراره سعد الله خان سره يم زه خوې رشته داره يم .

په دې جيلخانو کښې قيد يانو سره د ډېر خراب سلوک کېږي زه به يې تل په هغه خپل وار د کښې بند ساتلم او د هغه نه اخوا دې خوا د کرځيدو اجازت هم نه وو ما ته به يې څوک نه پريښودل يوه ورځ زه اتفاقي د ملاقات نه راتلم ملاقات به زما د دروازې دپاسه د سپر نټنډنټ په دفتر کښې کيدو په دروازه کښې دکښې دينجو قيديان ولاړ وو دروازه کښې د دوی تالاشي کيده بر بنډ وو يولنګوټي به يې وچه وراندې ولاړ به يې پټ و نور به ټول بر بنډ و بس يو مزې شان به يې د ملا نه چاپېره وه په ليدو يې حيران شوم داسې معامله ما په بل جيل کښې ليدلې نه وه د هغه قطار نه به يې يو قيدي را بهر کړو هغه ټوکړه چه د ده فرض به يې پټ کړې وُ هغه به يې پرانيسته قيدي غريب به ټول بر بنډ شو او بيا به يې هغه کښېنولو او پاخولو ماوې داځکه ذليله اوشرمناکه طريقه ده نو هغوی راته ووې چه داقيديان بعضې خيزونه په ځان کښې ومنډي اوجيل ته يې دننه کوي نو ځکه يې مونږ کښېنو و پاخو وچه هغه خيز به تري په کښېنا ستو پاخيدو کښې پريوزي .

ماله خوښ اې کلاس راکړو خو د کجراتيانو اوزمونږ پښتنو په خوراک کښې د ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرق دی دلته داسی باورچي نه وچي زمونږ په شان خوراک يې پخ کړي واى. په دې
دوران کښې د جيلخانو جرنيل په دوره راغى اوخه وخت چه ماله راغى نو ما وته وې
چه دلته زما د پخلى باورچي نشته نو په بمبئ کښې چه زه قيدوم هلته چه يې ماله
کوم باورچي راکړې نو هغه ماله راوغواړه اوبله دا چه د دې خاى د آب وهوا
زما د طبيعت موافق نه ده نو ما د دې جيل نه بلى جيلخانى ته بدل کړه جرنيل صاحب
ښه سړى و په صوبه سرحد کښې پاتى شوى و هغه ماته ووې چه زه تا پنجاب ته بدلوم
اوستاد پاره د پيښور نه پينټون باورچي راغواړم ماهغه ته وې ووې چه پنجاب
زما د اخيستو د پاره تيار نه دى. زه په پنجاب بنديم اونه پينټون باورچي
نه غواړم. ماله خو د بمبئ هغه باورچي راکړه! د هغه خيال خو ښه و. ده وې که دې
پنجاب ته بدل شى نو کوښته به نزدې شى او پينټون به د ده په طبيعت کار کوى خو
هغه د حقيقته خبر نه و هغه کوشش وکړو خو د پنجاب حکومت زما د اخيستو نه
انکار وکړو او د پيښور نه حکومت يو داسى قيدى راولږلو چه پخوله او وو تلل
نه او د تهى بى مريض هم و نو زه يې بيا د دې جيل نه د ستر کټ جيل بريلى ته
بدل کړم.

د غلته لوى جيل هم و او هغه کښې سياسى قيديان هم ووکه زه يې هلته بوتلى
واى نو ماته به ارام ولګيدلى خو ماله تکليف راکولو د غسى زما د قيد وخت تيرېدو.

بريلى جيل:

د بريلى په وړو کى جيل کښې يې زه په يو بارک کښې خان له بند کړم دا نوره
جيلخانه خو اوچته وه اوزما د غه بارک ښکته و زه به د جيلخانې نه هغه ته په پوړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکوز یدم زه یوانړی وم ! زه یوانړی ناجوړه کیږم او اخبار هم نه شم کتی نو سپر نقلنت ته می ووې چه ماله لږه مخکه راکړه ابا ده به هم کړم او سبزی به کړم نو هغه ماله مخکه راکړه او کار می شروع کړو. ډاکټر صیب هم لکه زما په صوبه سرحد او پنجاب بند وو، خو چه کله هلته په صوبه سرحد کښی د مرکزی اسمبلئ دپاره دیو ممبر د انتخاب اعلان وشو نو د دی صوبی جرګی ډاکټر صیب خپل امید وار نامزد کړو. اګرچه ډاکټر صیب ته اجازت نه وو چه هغه د خپل انتخابی مهم په سلسله کښی صوبه سرحد ته لاړشی مګر بیا هم هغه په پرلوی اکثریت د غه انتخاب وګټو او چه کله هغه د مرکزی اسمبلئ ممبر منتخب شو نو هغه صوبه سرحد ته د تللو اجازت ورکړی شو.

د بریلی جیلخانی له سعد الله خان او د هغه ښځه زما ملاقات له هم راغلی وو. سعد الله خان راته ووی چه کور نز راته وې چه د هغه دا رام دپاره مونږ د دې ځای نه باورچی ورلیږلی دی ما وخندل او ما ورته وې چه کور نز صاحب ته ووایه چه کاکا می ستاد پر شکر گذار دی لکه چه تا هغه له زوړ ور باورچی لیږلی دی سعد الله خان ته می ووې چه هغه خو د دق مریض و هغوی د دی دپاره والیږلی وچه دا مرض په ما هم ولګی او باورچی هم نه وما په پږی خواړی د ببرته واپس ولیږه، د ی چې ته ماله غنی او ولی هم ملاقات له راغلی وو چه ډاکټر صاحب د مرکزی اسمبلئ ممبر شو نو هغه ته د صوبه سرحد حکومت د تلو اجازه ورکړه او بیا یوه ورځ سره د خپلی هلئنی زما ملاقات ته راغی.

ډاکټر صاحب سره د هغه لور مریم او زما لور مهر تاج هم وه، د ملاقات نه مخکښی ډاکټر صاحب جیلوالو سره د پره جګړه هم کړې وه، جیلوالو ورته وې چه جیل کښی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دریو کسانو د ملاقات اجازت وی او تاسو څلورلئ ازمونږ د ملاقات اجازه
به زمونږ د صوبه سرحد حکومت ورکوله اجازه دوی له دیوخط په ذریعه ورکړی شوی
وه او څکړه دی جبلوالو جوړه کړه ملاقات وشو. بل څل قاضی عطاء الله خان
اوثمین جان راغلی وو. ثمین جان دنوښاد حلقی نه د صوبائی اسمبلی دپاره
د درپلی وو او دنوښاد حلقی خدایی خدمتګار ددده مخالف وو ځکه چه ده به
هریپور کښی ګډی ودی خبری کولی. ددده خواهش وچه قاری صاحب اود خوشکو
سیف الملوک نه ولیکه چه ددده مخالفت نه کوی مادوی نه ووی چه زه خوقیدیم دا
خو دبهر خلکو کاردی خو دوی نه مجبوره شوم اوخطونه می ولیکل اونه ما دهغوخطونو
په وجه ددده مخالفت هغوی پرلښودو اودی پی منتخب کړو اومبر شولیکن دوزارت جوړ-
ولو په وخت کښی چه دی (ثمین جان) وزیر نه شونو زمونږ نه خفه شو. نوبیا زمونږ نه
لاړو اوهماغه ثمین جان چه ما د قاضی صاحب په سفارش ورنه خط ورکړی واودهغی
په وجه کامیاب شوی و دهماغه قاضی مخالفت شروع کړو. څرنګه چه د خدایی-
خدمتګاری تحریک خدایی او بی غرضه تحریک دی نو کله چه خدایی خدمتګار و یو
زښتینی خدایی خدمتګار اسمبلی ته کامیاب کړی دی هغه د دوی په کار راغلی دی
او کله چه یوسړی دوی د خپلو غرضونو او تعلقاتو په وجه و د رولی دی نو اول خو هغه
نا کامیابه شوی دی اوکه څوک کامیاب شوی دی نوهغه هم د دوی په فایده نه دی راغلی
بلکه د فایدی په ځای یی جماعت ته نقصان رسولی دی. بیرستر عبد الغفور خان
خو اډو د صرف خدایی خدمتګار نه و او نه یی څه قومی خدمت کړی ولیکن د ډاکټر صاحب
د دوستی په وجه نامزد شو. دی هم د وزارت امیدوار و خو څوک څوک به وزیران

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېدل ؟ وزیران خلور وو او امیدوار د پرو وو . د اکتر صاحب بنګله د پارتی بازو یوه
اډه جوړه شوی وه او په اخر کښی دې خو د غږ غو جماعت سره بې وفایی وکړه . د غسی غلام
غوث او جهانګیر خان کوندې اډو د سړه کامیاب نه شو .

ما چه به په هغه پټی کښی کار کوو نو ما سره جوخت یو بارک د هغه کښی به هر وخت
ژړا انکو لاوه یوه ورځ می د قید یانو نه پوښتنه وکړه چه داځه قصه ده ؟ هغوی ویل
چه که شاجی خبر شی نو مونږ ترې څوک خلاصولی شی نو هغوی راته ووی چه شاجی صاحب
د پیسو د پاره دا قیدیان وهی او چکو کښی یې بند وي او که په دی کار ونه شی نو بیا
د سړه د پرد شړم کار کوي جامی ترې وباسی او بیا یې یو بل ته مخامخ کښینوی او هر یو
له نوسی وکړی د یو بل د شړم له ځایونو نه وینښته راوباسي . قیدیان د دی شاجی
دلاسه د پرتنګ وو اخر مستر پامر د جیلخانو جرنیل چه په پښتو لا ډیر د هغه په ځای
کرنل سلامت الله خان د جیلخانو جرنیل شو . پامر د پرېلدی خو رو او جیلرانو و ر له
رشوت کښی حصه ورکوله څوک د پوښتنی نه و د اځکه د قیدیانو ، خوارانو د احال دی او
کرنل سلامت الله خان د پرښه سړی وو . دی په اول ځل بریلی ته راغی نو نا څاپه جیل ته
رانښوت . د هغه د طریقه وه چه هغه به جیلوالا نه خبرول بلدی خو رهم نه و نو جیلوالا ترک
د پرویریدل چه د جیل د سر وازی له راغی او دیلدل چه قیدیان بهر صفایی کوی نو شکمن
شوا و فوراً یې د هغوی تلکتونه راوغوښتل ، سخت و د جاکمان نه وچه جرنیل صاحب با
د ومره وختی راځی شاجی د پر قیدیان د صفایی د پاره وښکلي وو چه زما به نوم وشی
خو خدای کیو کړو او معطل شو قیدیان پری د پر خوشحاله شول . شاجی موقوف شو
د جیلخانی داروغه چه د پر بلدی خو رو ، بد اخلاقه هم و ، ما سره نزدی زنانخانه و

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغی له به هر وخت تلورا تلوز ما چه خومره تجربه ده د اکاډونه همیشه قید یا نو بنسټ
سره کیږي.

یخنی کښی خو دلته ګذاره کیږي له خوګرمی کښی دپره کرانه وه یو خوزما هغه بارک
دپر په په دوغل کښی وتنګ و اولوی لوی دیوالونه تړی چاپیره وو زما وړوکی بارک د
هغه د اوسپنو د جنګلونه ډک و او په هغود پاسنه تهګړی پرانه وو او په هغه کښی ځای په
ځای سوري وو په هغه کښی به نور لګیدو دیو پی د جبلخانو وزیر سرمها راج سنګه د
هغه جبلخانی له راغی او ما سره یې دپری خبری وکړې همدرد اوښه سړی و او زما د پاره
یې ولیکل چه دی دې ددې ځای نه دیخ ځای جبلخانی ته بدل شی. اپریل اومی کښی
یو پی کښی دپره سخته ګرمی وي او جون کښی برسات مات شی څه وخت چه برسات
شروع شی نو موسم ښه شی او ګرمی کمه شی.

د المورې جبل:

حکومت د اپریل اومی هغه سخته ګرمی په ما د غلته ټهره کړه او په جون کښی چه برسات
مات شو نو زه یې د المورې جبل ته بدل کړم ما چغی وهلی چه اوس خو برسات مات
شو اوس خلک د غرونو نه میدانو نو ته راځی او تاسو ما غړه ته لیږئ هغوی به وې دا
د حکومت حکم دی، حکومت خو ماله څه ارام نه راکوو خو خپله پرانیستې یې کوله چه
مونږ سیاسی قید یانو سره ښه سلوک کوو. زه چه د المورې جبل ته لاړم نو هغه خلک
هم حیران شول چه حکومت خو عجیبه توقه وکړه په المورې کښی به اکثر باران نه وو او
کله کله به اته، نهه ورځی شپه او ورځ. باران د زه به یوازی هغه خپل بارک کښی ناست
وم د زول او باران په وجه به اکثر ناجوړه وم زه چه د بریلی په جبلخانه کښی وم نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

جرنیل سلامت الله خان زما کتوله راغی دپرښه سړی و ما ته یی ووې چه څه خبره دې شته ما ورته ووې چه دا زما مشقتی ماله دودی ښځوی او په هغی نه برهیږی او دده تی بی مرض دی نو ما دده نه خلاص کړه نو هغه یی زما نه بدل کړو او وایی پس یی سرحد ته ولیږلو دالموری په جبل کښی داسی سړی نه ووچه ماله یی دودی ښځه کړی وای او زما طبیعت هم ښه نه وو پرځه به می خوږی هم نه شو بیا هم دیو سړی ضرورت خو وسپرنتمنټ نت ښه سړی و او ما سره یی پیره هم ورکړی وه او دهغه د اکوښش وچه ماله دبهر نه یو ښه باورچی راکړي نو چه حکومت ته یی ولیکل نو ما نه یی تپوس وکړو او ما منع کړو خو هغه ولیکل او حکومت دبریلی دجبل نه یو قیدی راولیږه چه دا دده زوړ باورچی دی هغه زما باورچی نه دی بلکه زما جاړو ما رو بله ورځ چه سپرنتمنټ صاحب راغی نو ما ورته ووی چه تاخو زما نه منله زما هغه خبره وشوه که نه؟ دپیرنګیا نو حکومت د هغه چا د پاره دپرروند دی چه دچا زړه کښی دخپل قام مینه محبت وي. څه وخت پس جرنیل صاحب دلته الموری ته په دوره راغی ما سره یی ملاقات وشو هغه ما ته ووی چه دلته بارانونه دپرديي اوستا صحت هم ښه نه دی که ته غواړی نوزه به تا دبریلی سنټر جبل ته بدل کړم ولی چه هلته نور هسیاسی قیدیان هم دی خو ما ته لږه موده پاتی وه نو هغه می دې جبل کښی تیره کړه او په ۱۹۳۶ع کښی د اګست په میاشت کښی رها شوم

رهایی :

دوها کید و په وخت کښی سپرنتمنټ نت دحکومت له طرفه یو نوتس راکړو چه هغه کښی یی لیکلی ووچه سرحد او پنجاب ته تلی نه شی زما په خیال ددی لویه وجه وه چه په دغو ورځو کښی زمونږ د صوبی د اسمبلی ایلکشن کیدونکی و نو ځکه یی نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بند کړم هسې نه چې دده په اثر د خدایي خدمتګار و زیاته کامیابي ونه شي. دغه شان چې په ۱۹۳۲ع کال کښې زه او د اکتر صاحب د هزاره ی باغ جېل نه رها شو نو هغه وخت هم زه او د اکتر صاحب یې په سرحد او پنجاب بند کړي وو خکه چې هغه زمانه کښې د مرکزي اسمبلي انتخابات کېدونکي وو. با وجود دې چې زه یې خپلې صوبې ته پرېښودم نه. خو یا هم مونږ خدایي خدمتګار و په خلوېښتو کښې نولس سیټونه وګټل خکه چې مونږ صوبه کښې کار کړي و او عوام مو د ووټ په اهمیت او حقیقت پوه کړي وو او هغوی کښې شعور پیدا شوی و.

واردي ته تګ:

زه د جېل د دروازې له راغلم نو بهر مې د پرکانګرسیان ولیدل چې زما د رهایي نه خبر شوي وو. زما خو هغه وخت اراده وه چې وارد ي له لاړشم مګر د الموري خلکو پرې نه ښودم یوه شپه مې ورسره وکړه د شپې هغوی یوه لویه جلسه وکړه او ما پکښې مختصر تقریر وکړو او سبا له وارد ي له روان شوم زمونږ کا دې په یوتېښن بدلېدو د پرخلک هغه تېښن له ما له راغلی وو زه ورله راکوز شوم زما اراده وه چې دا وخت زه په تېښن کښې تېر کړم خو هغوی په زور خپل ښار ته روان کړم د دوډۍ د خوراک نه پس راغلم او په بل کا دې کښې سور شوم چې وارد ي ته ورسېدم نو تېښن له جمنا لال بجاج، مهادیو- د یسایي او نور د پرخلک راغلی وو معلومه شوه چې کاندهی جي په وارده کښې نشسته او خلور میله ښه رته سیوا کرام کښې اوسېږي ما ولمبل او جامې مې بدلې کړې شپه مې وارد اکښې وکړه سبا له سیوا کرام ته لاړم په سیوا کرام کښې یوه کوټه وه چې کاندهی جي د خوکسانو سره ملته ناست و زما په لیدو د پرخوشحاله شو او مخې له راغی. زه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان سره کښېښولم او تپوس ونه يې وکړل.

د سيټ جمنالال بجاج زوی ماسره سيوا کرام ته تللی و هغه وېل چه باچا خان دې په وارده کښی په هغه زور ځای کښی چه په ۱۹۳۴ع کال کښی دی او ډاکټر صاحب پکښی ډېره وو واوسي. دکاندهی جی هم داخواهش وخو زما هم داخوښه وه چه زه دی په سيوا کرام کښی پاتی شم خو بيا زما داخيال پيدا شو چه هسی نه دوی ورو په ارام کښی مخل نه شم خکه چه دغلته يوه کوټه وه او هغی کښی دوی څلور شپږ کسان ډېره وو او دکاندهی جی مېرمن او ورسره يو خوښځی هم وې کاندهی جی زما په خيال پوه شو نو ماته يې ووې چه که تاته تکليف نه وی نو مونږ ته ستا په پاتی کېدو کښی هيڅ تکليف نشته. دوی ما کوټه ددې پښځو د پاره وه ماته خوشحاله وم زما ضرورت خو په پرکم وو دکاندهی جی د پوښی سره يې يو بل پوزی واچولو وې دا يو ستا او يو زما! دغه کوټه کښی مونږ ډېر کسان وو خو ماته څه تکليف نه وو چونکه زمونږ مقصد يو و نظريه يوه وه دهغه په وجه مونږ يو وو. پښتانه وايي چه زړه تنګ نه وی نو خای نه تنګېږي.

دخپل اولاد سره ملاقات:

زما د رهايی نه چه خلک خبر شو نو غنی، ولی او مهر تاجه زما ليدو له راغلل د مهر تاجی دوه کاله تعليم ضايع شوی و او دالا شکر وچه ډاکټر صاحب مهر تاجه او د هغه لور (مريم) چه دوارۀ هم زولې وې او يو بلی سره يې ډېره مينه محبت و. دا دوه کاله هغوی سره ډېره وه. ولې بيرته کلی ته لاړ او غنی او مهر تاج ماسره پاتی شول هلته خو تش ايشيدلي شيان وو ولی هغه خو ړی نه شول او مهر تاجه او غنی هغه شان نه وه. زه په دی فکر کښی وم چه مهر تاجه د مسلمانانو په يو بنه سکول کښی داخله

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړم ما داسی سکول نه شو مونډی نو د پروخت تیر شو او اخر مجبوره شوم او د پروفیسر مجیب صاحب په امداد می مهرتاجه په لکنهو کښی د مسلمانانو په یو سکول کښی داخله کړه ، غنی هم کولې (کولا . لوکرن ناتھ) نه لاړو چه هلته لې د تړو په کارخانه کښی کار کولو پاتی لعلی شو هغه په دیره دوان کښی د کرنل براون کیمبرج سکول کښی سبق وې چه دهغه چوتهی وشوه نو هغه هم ماله وار دې نه راغی د غه سکول په انګریزی طریقه و . انګریزی خو ورته له او په اردو باندی نه پوهیدو ماته داخبره فایده منه بنکاره نه شوه فیصله می وکړه چه دی په داسی سکول کښی داخل کړم چه انګریزی سره اردو هم وي د کاندهی جی په صلاح می هغه د پنج کلی په یو کیمبرج سکول کښی داخل کړو . دا پونې سره نزدی د آب وهوا په لحاظ د پرښه غوره ده .

انتخابات او کانګرس ورکنګ کمیټئ :

په دغه ورځو کښی د الیکشن قصی وې نو د کانګرس ورکنګ کمیټئ د دې د پاره راغونډه شوه . په دې بحث وچه د کانګرس په تکټ څنګه خلک ودروو ؟ زمارایه خو داوه چه مونږ له په کار دی چه د کانګرس وفادار ازمایلی شوي غړي ودروو چه دقام د پاره چا څانی او مالی قربانی کړې وي خو د اکثر و ممبرانو خیال داو او دغه فیصله هم وشوه چه که یو سړی د کانګرس په تکټ دستخط کوي او پیسی هم ورسره وي او د کامیابی امید لې وی نو هغه به مونږ و دروو نو د کانګرس به د پر ممبران منتخب شی خو داسی کسانو کانګرس ته کافی نقصان رسولی دی او بیا په هغه وخت چه کله کانګرس د وزارتونو د پرښنود و فیصله وکړه . د ورکنګ کمیټئ په اوله جلسه کښی چه زه کښینا سټم نو معلومه شوه چه د دوی په منځ کښی د پر اختلاف

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی یوطرف ته جواهرلال واوبل طرف ته سردار پتیل اوداځکو پال اچاریه وو
کاندهی جی سره می هم داذکر وکړو هغه هم په دی اختلاف خوشحاله نه وو هرکله
چه زه په دغه پرو جنبو کښی نه وم زما دوارو د لوسره د پرسنه تعلقات وو
اوکوشش می شروع کړه چه ددوی اختلافات کم شی، زه نو په دې حده پورې
هغه کښی کامیاب شوم. په بمبئی کښی د کانګرس جلسه وه، څرنګه چه زه په بمبئی کښی
قید شوی وم نو دهغوی د پرخواهش وچه زه دې دغه جلسه کښی شریک شم.
دکاندهی جی دا خبره خوښه نه وه اوزما د بمبئی د ټلو مخالف وهغه پوهیدو
چه دی به بیا څه تقریر وکړی اوحکومت به ورته بهانه جوړه کړی اوقید به یی کړی
جواهرلال چه خبر شو نو د پرخفه شو کاندهی جی له لاړو اوپخپله ذمه واری اجازت
حاصل کړو اوزه یی ځان سره بمبئی ته بوتلم.

زه بمبئی کښی:

د بمبئی خلکو زما د پرسنه استقبال وکړو، د بمبئی هغه کرمچین ایسوسیشن
چه د چا سره په تقریر زه قید شوی وم، هغوی او د هغوی سره نور د جماعتونو ما
له ایډریسونه راکړل. په ورکنګ کمیټی کښی د قرار دادونو په سلسله کښی چه به اول
څومره بی اتفاقی وه زما د کوشش په وجه هغه اختلافات نه وو اوپه د پرسنه طریقه
هغه جلسه ختمه شوه. ما د جلسی نه پس څو ورځی صوفیی او سعدالله سره تیری کړی
اوبیا سیوا کرام ته راغلم. سیوا کرام ته به هر قسم خلک کاندهی جی له راتلل یوازی
سیاستدان نه. د سیوا کرام ژوند د پرساده او باقاعده و، د غلته د رو د رو
زمونږ شهر زیاتید و. دکاندهی جی خو دا خوښه نه وه چه دلته دې د خلکو تعداد

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیات شی تواخري رخصت ورکړو . د بنځو ، نرو شپږ کافی زیات شوی و ، دهغوی
د اوسیدو د پاره هم هغه دوه کوټی وې هلته د دې خبرې څه باک نه واکثر به
ملکان جنګی په برنده کښی یوځای څملاستل خو زما داخبره خوښه نه وه دغه
ملکان اوجنګی د پرښه اوپاک وو ، خو زما داخیال وچه دوی په دې انمینټ کښی
اچول په کار نه دی ما داخبره غوره وګڼله چه ملکان اوجنګی دې بیله بیله برنده
کښی څملی ، کاندهی جی هم دا تجویز خوښ کړو .

په ۱۹۲۷ع کال د کانګرس د انتخاباتو وخت را نزدې شو او د راج ګوپال
اچاریه نوم د صدارت د پاره تجویز شو او فیصله پرې وشوه لیکن څو ورځې پس
په مدراس کښی دیوی واقعی په بنا هغه خپل نوم بېرته واخیستو مګر دا هغه
یوه بهانه وه حقیقت دا وچه هغه د مدراس اسمبلی د پاره د ډیر بدل غوښتل
او که چیرې هغه د کانګرس صدر شوی وای نو بیا خو د اسمبلی د پاره د ډیر بدلی
نه شو ، نو جواهر لال وویل زه د ډیر بزم ، په سیوا کرام کښی لږې ورځې پس دورکنګ
کمیټئ یو اجلاس وشو سردار پټیل دا تجویز پیش کړو چه جواهر لال دی دوباره
د کانګرس صدارت ته ناست ودریږي . جواهر لال وویل که چیرې باچا خان
ودریږي نو زه نه ودریږم او که چیرې باچا خان نه ودریږي نو بیا زه ودریږم
خو زه دی خبرې ته تیار نه وم ، کله چه هغه په دویم ځل د کانګرس صدر شو نو یو
بیان یې ورکړو چه دهغه نه د بعضی خلکو داخیال پیدا شو چه دهغه د دی بیان
مطلب دادی چه زما کامیابی د سوشلیزم په وجه وشوه او دا د سوشلیزم کامیابی
وه . زمونږ د کانګرس کمیټی بعضی ممبرانو په دې بحث وکړو او دا فیصله یې وکړه چه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددی خواب کښی مونږ هم یو بیان اخبار ولوله ورکړو بابو راجندر پرشاد او پتیل یو بیان تیار کړو او دستخطونه یې پرې وکړل . مالویه مهادیو دیسایي ددستخط دپاره راوړو لیکن ماته هغه خبره دغسی نه بښکاریده نو دستخط می ونه کړو او مهاتما جی ته می ووې چه ښه به داوی چه جواهرلال ته یو تار ورکړئ او پوښتنه ترې وکړئ چه ددی بیان نه ستاخه مطلب دی ؟ ما ورته ووی چه زما داخیال دی چه دهغه دا مطلب دی . تاریې ورکړو جواب راغی چه زما دبیان نه کوم مطلب تاسو اخیستی دی هغه نه دی . دکاندهی جی . جواهرلال سره دپره مینه وه . جواهرلال خو کاندهی جی دلاسه پرې شان کښلو خو بعضی خلکو کوشش کولو چه ددوی په مینځ کښی خفګان پیدا کړی نو ترڅو پورې چه زه هلته وم نو مابه ددې غلط فهمولیږی کولو کوشش کولو او دوی کنګ کیتی د نورو ممبرانو په مینځ کښی به می هم کوشش کاوه خکه ماته بې اتفاقی د متصل په لاره کښی خندونه نه بښکاریدل او هره یوه دله کښی چه بې اتفاقی پیدا شی نو د کامیابۍ پرځای ناکامیابه شی .

د فیض پور کانګرس :

د تول هند دکانګرس کیتی سالانه جلسی دپاره فیض پور خوښ کړی شو . فیض پور د بمبئی په صوبه کښی یو کلی دی مابه هیشه کاندهی جی ته ویل چه قوم خو په کلو کښی اوسیږي او دهغه زما ددی خبری سره اتفاق و ، دغه وجه وه چه دوی زمونږ په شان دکلو دخلکو نه کار اخیستل شروع کړل خکه چه کلو کښی عوام اوسیږي او هر یو تحریک چه عوامو ته ورسی نو کامیاب به شی مونږ خکه د لیښتنو په زلمو او زړو لیسې کلی په کلی کرځیدو او دا زما عقیده وه چه دښار خلک خو تعلیم یافته وی خکه چه هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخبارونه دی، سکولونه او د تعلیم او تربیت د پرخایونه وي او په کلوکښې نه وي او خلک
بې خبره وي.

دکانګرس نګر په دیره لویه پیمانه تیارشوی و د ورکنګ کمیټئ د تولو ممبرانو د
پاره ځان له خانه له خایونه وو زماخای ددی نو رونه لوی و زما هم داخیال و او د
دوی هم چې د صوبه سرحد خلک به راځي او ماسره به دیره وي خو افسوس دی چې
دغه کانګرس له د سرحد نه څوک رانغلل. ماسره مهرتاجه او مریم اولعلی تللی وو
خو هغوی به ماسره نه وو، هغوی صوفیې سره د جنګو په کیمپ کښې وو. صوفیه د سبې
د صوبې د رضاکارو جنګو کمانډره وه او دهغې رضاکارې هم د خدمت د پاره کانګرس
له راغلې وې. مهرتاجه او مریم هم په رضاکارو کښې شاملې وې او تولې ورځ به یې کارکولو.

په دغو ورځو کښې ایم. این. رای رهاشوی و هغه هم دی جلسې له راغلی و
دهغه د پر تعریفونه په اخبارونو کښې شوي وو او کوم خلک چې تاشقند ته تللي وو هغوی
به هم د ده صفتونه کول خو دی چې ما د نزدې نه ولیدو او خبرې می ورسره وکړې نو
ماته داسې سړی ښکاره نه شو. د ورکنګ کمیټئ ممبرانو سره به یې هم کپ لګولو، مهاتما کاندهی
ته به هم نزدې نزدې کیده او خوشامندې به یې کولې. دکانګرس پنډال کښې یې یو
تقریر هم وکړو خو خو ناک نه و خکه چې د سړي په زړه کښې یوخه وي او وایي بل خه نو
په خلکو د هغه د پراثر نه وي زما خو داخیال وچې دی هرخه چې کوی د د د پاره کوی
چې د ورکنګ کمیټئ ممبرشی او چې پوه شو چې دا کار نه کیږي نو ورو ورو یې دکانګرس
مخالفت شروع کړو او خبره دی خای ته ورسیږي چې بیا د هغه نه زیات بل دکانګرس
مخالف نه وو او مهاتما جی پسې به یې هم بلدې ردې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دفیض پور په کالګرس کښې چه به هر کله ماته لږ ډیر فرصت وشو نو چا پیوه کلوته به تلم او دکلو حال یې ډیر خراب و دغریبي او جهالت زور و. د مسلمانانو حالت زیات قابل رحم و. دهغه وجه داوه چه هندوانو کښې داسی خلک ووچه کله کله به یې دهغوی خبر اخیستو او هغوی به یې د دین دنیا د حال نه خبرول. مګر د مسلمانانو خوا نو خوک غمخور نه و دخدای اسره یې ته پراته وو. زه چه څومره د هندوستان په کلو کښې ګرځیدلی یم نو ما لیدلی دی چه د مسلمانانو جذبه د هندوانو نه کمه نه ده، بلکه داچه مسلمانان د چوت چات نه وچت دي او هندوانو کښې دغه مرض ډیر دی اوچه تر کومه مالیدلی دی نو هندوان په نسبت د مسلمانانو (سوشلی بیک ورډ) دي اجتماعی طور ورډ ستر دي. څومره چه مسلمانان زر ترقی کولی شی هندوان هغومره زر نه شی کولی، ولی قومونه خو په دعوو او تشو خبرو ترقی کولی نه شی چه په کومو قومونو کښې نیکان، پاکان او بی غرضه او د خدای د پاره د خدمت خلک پیدا شی نو هغوی ترقی وکړی. خدای دې په مسلمانانو کښې داسی خلک پیدا کړي.

د پښتنو په هکله غلط فهمی:

زه چه په هندوستان کښې وم نو ما به ډیر کوشش کولو چه د پښتنو متعلق چه کوم غلط فهمی پیدا شوي دي د دې صفایي وکړم، ځکه ځکه چه د هندوانو ډیر عالم او باخبر لیدلی، هغه ماته داخبره وکړه چه په سرحد کښې او ازاد قبایلو کښې د هندوانو مال او عزت محفوظ نه دی ماورته ووې چه تاسره حد لیدلی دی؟ هلته تلی یې؟ وې نه! نو ماورته ووې چه دا د ملک د پښتنانو غلطی پراپیګنډه ده دي هلته د هغوی مال خان او عزت د دی خای نه هم محفوظ دی او قبایل خو خپل همسایه هندو سره کولو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیاروي. دپیرنګیانو په علاقه کښې دلته هم اوهلته هم دهند ومسلم دبې اتفاقۍ دپاره
حکومت داسې کارونه کوي چه دوی دیوبل دښمنان کړي، دګلکو په فکر کښې دا
خبره نه راتلله چه دومره سنګلی پیرنګیان هم دومره خراب کارونه کولی شي نو ماورته
دوی چه دلته په ۱۹۲۲ع کښې په ملتان کښې دهندوانو، مسلمانانو فساد چا جوړ کړو؟
کانپور کښې هندوان مسلمانان دچا په لمسه قتل شول؟ اوپرون تاته نزدې بمبئ
کښې دهند ومسلم فساد کښې دچا لاس و؟ لاهور کښې دشهید ګنج جګړه څنګه
پیدا شوه؟ په کوهاټ اوپیښور اسماعیل خان کښې دا دومره لوی فساد دهندواو
مسلمان چا وکه؟ دې ټول هندوستان کښې چه هندواو مسلمان لاس په ګریوان
دی ولې؟ ده د دې ټولو غور اوفکر نه پس وویلی چه تاسوله په کار دی چه په دی باره کښې
کتابونه اورسالې ولیکئ نو ماورته ووې چه زمونږ ذریعې محدود دي دی تاسوله په کار دی
چه تاسو لا رښتیا اودهغه څې حالات پخپله وګورئ اوبیا دهغه متعلق اشاعت وکړئ
تاسو دامریکې نه اویورپ نه خوخبرئ اودخپل ملک دیوی حصې نه ځان نه خبروئ پخپله
تاسو معلومات نه کوئ، نه ورځئ، نه ګورئ خودبل په خوله پسې ځئ.

دپښتنو په باره کښې چه څومره غلط فهمي پیدا شوی وی ددی دلیرۍ کولو دپاره
دکار نبه ځای سیوا کوام وخلکو چه دلته به دهر ملک نه دهر خیال اودهر عقیدې خلک
راټول ما مره به دخبرو دپاره نبه موقع وه بلله داچه کله نا کله به می دهندوستان مختلفو
علاقو دورې کولې اودعامو جلسونه علاوه به می دهغه ځای هندوانو، مسلمانانو سره
تبادله خیالات کول اودکانګرس خلکو سره هم دې ته تیار کړل چه دفیض پور په دی عام
جلاس کښې دسرحد اتو متعلق یو ریزولیوشن پاس کړی. دکانګرس دځینو ذمه دارو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلکو په زړونو کښې داخیال پیدا شوچه دهند وستان دازادی اړامن دپاره داخبره
ضروری ده چه مونږ دی دسرحد خلکو سره تعلقات پیدا کړو مګر هغوی ددی خبری نه
خبر نه ووچه په دی لاره کښې څومره دپر مشکلات دي خکه چه پیرنګیانو داکله غوښتل
چه دهند وستان او دسرحد اتو دخلکو تعلقات دی پیدا شی پیرنګیانو مونږ له موقع
نه راکوله چه ازاد وقبایلو سره خپله وروړی جوړه کړو نو هند وستان له بریتانیه دا
موقع ورکوله چه هغوی سره تعلقات قایم کړی . پیرنګیانو خو مونږ هم قبایلو ته نه پریښودو .
سیوا کړام ته به دیورپ دپاره ښځی اوسړی راتلل لکه فادر الون (FLWON) فادر
سی ایف اینډروز اومیری . دسره په نسبت ښځو کښې هم هلمدی زیاته وه کله کله به
هغوی زمانه دسرحد اتو او دخدایی خدمتګارۍ تحریک تپوسونه کول . یوه ورځ سیوا
کړام ته یوخوتنه پیرنګیان راغلل هغوی سره دنا کپور لوی پادری هم و . هغو پیرنګیانو
دازادو قبایلو تپوسونه کول اومابه خوابونه ورکول چه په دی کښې پادری صاحب ووې
او داسې شروع یې وکړه چه زه په خیبر کښې پاتی شوی یم زه دا پرېږدونه ښه واقف یم هغه
ښه خلک نه دی خکه چه هغوی پیرنګیانو ته برند او نیغ نیغ ګوري ماو خندل اوپادری
صاحب نه می تپوس وکړو چه دوی ولې تاسو ته برند او نیغ ګوري نو هغه دوی چه هغوی
زمونږ نه نفرت کوي ماوې چه ستا داخبره درسته نه ده حقیقت دادی چه هغوی پیرنګیانو
ته خکه بدګوری چه هغوی تاسو وینی نو په زړونو کښې داخیال راپیدا شی چه دا هغه خلک دی
چه په توپو، ماشین ګنونو، بمونو زمونږ کلی، زمونږ کورونه ورانوی، اوزمونږ ښځی، نر-
مالونه اوبچی تباه کوی . زما په دې خبره هغه نورو پیرنګیانو وخندل اوپادری
دپرکچه شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

وزارتونه :

په هلک کښې د اسمبلو الیکشنونو شروع شول او اکثر و صوبو کښې د کانګرس امیدواران کامیاب شول. د صوبې انتخاباتو نتیجو په پښتنیکیان او د هغوی برخې د پرحیران کړل هغوی اولیدل چې د هغوی د پښتنی ستنی را وغورځیدی، بیا د صوبې د وزارتونه لوی نوا ب سر محمد اکبر خان هوتی د امیر محمد خان د لاسه شکست وخوړ. سر صاحبزاده عبد القیوم د یوخدایی خدمتګار عبد العزیز خان د زیدی د لاسه ارباب شیر علی خان د تهکال د ارباب غفور د لاسه، د قیصری نواب د اسلم خان د لاسه، خان بهادر قلی خان د صاحب کل جرنیل خدایی خدمتګار د لاسه، راپریوتل او د غه شان د پښتنیکیانو ملاتړ خان بهادران، د لانی بها دران، خانصاحبان او رای صاحبان وغورځیدل.

د ۱۹۳۵ع د ایکټ د لاندی د صوبایی اسمبلو د پاره د انتخاباتو نتیجو تولی دنیا ته عموماً او پښتنیکیانو ته خصوصاً داخبره په ډاګه ترسره کړه چې کانګرس په حقیقت کښې د عام اولس نماینده دی. ثبوت یې داو وچه په هغه وخت د هندوستان د یوولس صوبو نه په اتو صوبو کښې د کانګرس اکثریت وو. باقی دری د مسلمانانو اکثریتی صوبو کښې مقامی د لی کامیابی شوی. صوبه سرحد چې د مسلمانانو اکثریتی صوبه ده (۹۳) هغه هم د کانګرس سره لاړله.

خلور ورځې پس په دهلی کښې د کنونشن د پاره یوه جلسه مقرره شوه چې هغه کښې د آل انډیا د اسمبلو ممبران راجمع شول او په دې خبره بحث جوړ شو چې دې وخت کښې مونږ له څه قسم قدم اوچتول په کار دي. وزارتونه واخلو که نه؟ د دې جلسې له د سرحد د پښتو کارکنان راغلی وو. د دوی موده پس می هغوی سره ملاقات وشو. په ورکنګ کمیټی کښې څه ورځې تاوده بحثونه وشول. جواهر لال د وزارت جوړولو سخت مخالف و او د ورکنګ-

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمیتئ اکثریت یی په حق کښی وزه هم اول دوزارت مخالف وم خو بیا زما خیال بدل شو
خکه چه کوم کسان چه دوزارت په حق کښی وو هغوی به هم داوې چه مونږ وزارتونه
ددی دپاره نه اخلو چه مونږ دې ډډه «پیرنګی اصلاحات» وچلوو بلکه زمونږ دا اراده ده
چه ددی په ذریعه به مونږ دا «پیرنګی اصلاحات» ناکامه کړو . زمونږ دوزارت
اخیستو فایده داده چه زمونږ پله مضبوطه شی، کدا کار ژر نه کیدل نو فوراً به وزارتونه
پریږدو . دویمه نکته چه په کوم باندی دوزارت داخیستو مخالفینو اصرار کوو، هغه د
صوبایی کورنزانو خصوصی اختیارات وو چه کوم د دغه ایکټ دلاندی هغوی ته حاصل
وو . فیصله په دی وشوه چه ترکومی پورې کورنزان «صوبایی وزارتونو داتسله ونه کړی
چه هغوی به په وزارتی فیصلو کښی مداخلت نه کوی نو تر هغی ډوزارتونه نشی اخیستی .
د پروو رخو بحثونو نه پس ورکنګ کمیتئ دوزارتونو په حق کښی تجویز پاس کړو کنونشن
کښی هم ددې په حق کښی او مخالفت کښی د پرتقریرونه وشول مګر اکثریت دورکنګ
کمیتئ تجویز پاس کړو د پاس کیدونه پس په هغه جلسه کښی صدر دتولو صوبو ممبرانو نه
دوفاداری حلف واخیستو او بیا خلک رخصت شول . زه یوځو رځی د پلی کیشن ایسار وم
او بیا واردی له لاړم .

مونږ وارد اوسیوا کرام کښی :

زه چه تر څو هلته وم نو غنی او مهر تاجه ماسټر واردې کښی وو . دلالي هغه
سکول خوښ نه شو هغه دواردې په سکول کښی داخل شو ددی سکول هیډ ماسټر
نا ایکیم د پرسنه اوقومی سړی و او د پره لږه تنخواه یې اخیستله د هغه ښځه د بل ایم
اې وه د پره سنه اوقوم پرسته ښځه وه هغی به هم د جګو په سکول کښی په لږه تنخو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارکولو ددی دواړو ماشومانو پرښه تعلقات اوهمدردی وه زما داوسپلوخای
سیوا گرام دواړو نه خلور میله لیری و دلالی د پاره تلل راتلل گران وو نو دوی
سره وپوهه شو. گهرتاجه چه به په چوتې راغله نو ماشومان به سیوا گرام کښی وه. ولی، په
وار وار کښی و او په دوهمه، دریمه ورځ سیوا گرام ته راتلو دلالي چه به کومه ورځ چوتی
وه نو دلته به راغی یوه ورځی وختی غنی سیوا گرام ته راغی په دغه ورځ دگاندهی جی د
پیدا کیدو ورځ وه چه ډوډی ته کښینا ستو نو غنی گاندهی جی ته ووې چه نن ستا
د پیدایش ورځ ده ما وختی خان راوړسوه چه نن به قسم قسم شیان خوراکونه وي لیکن
داخو بیا هغه بي خونده ایشیدلی کډوډی چه تل یي زه خورم. هغه غنی ته ووې چه ته
هره ورځ سحر وختی دلته راځه غنی وخندل وې. زه په دی ایشیدلي کډو پسی
هره ورځ دادومره مزل کولی نه شم داګه چیرې اوس پولاووای او وریسره سوریګی
چرګ وای نو زه به دې کار ته تیار شوی وم. داخو دتوقو یوه خبره وه او په خندا تیره
شوه سبا له گاندهی جی ماله ووې چه داهلکان دي دوی باندی جبر په کار نه
دی زما داخیال دی چه ددوی د طبیعت دخوراک انتظام وکړو ما ورته ووې
داخو غنی توقه کوله او زما داخیال دی چه هغه په هیڅ رنګ دې خبرې ته تیار
نه شی گاندهی جی په هغه پرکوشش وکړو خو کامیاب نه شو دغه شان په
مهر تاجه باندی هم پرو سونه کړي وو خو هغی هم داخیزونه نه وومنلي پرې
خوشحاله شوم چه دوی کښی دومره سرپیوب وچه دبل د جذبا تو خیال یي ساتلو
دسیکاون کلی چه سیوا گرام ته نزدی وو د صفایی د پاره گاندهی جی یو تنخوا-
دار ټاپ مقرر کړی و زه ورسره متفق نه وم. زما رایه داوه چه دکلو خلکو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

تربیت ورکول په کاردی چه هغوی دکلی صفایی خپل فرض وګڼی اوخپله یی
کوی بله داچه دهندوستان په لکونو کلی دي که د دومره کلود صفایی دپاره مونږ
یو سړی مقرر کړو نو دهغو دپاره کرورونه روپۍ په کاردي . یوځل دانسی وشوه چه
دسیکاون دغه سړی زیاته تنخواغوښتله دوی ورله تنخواز یاته کړې هم وه مګر
داځل یی زیاته نه کړه هغه کار پریښود اولاړو . خبر داغی چه دصفایی هغه سړی
تبدیل دی . نوګاندهی جی ووی چه داځی چه مونږ ورله لاړ شو مونږ دصفایی
سامان واخیستو اوورروان شو .

په دی ودځوکښی دبهار دصوبی دزلزلې ځپلی علاقی دجوړولو په سلسله
کښی دسویزدلینډ یولوی انجنیر راغلی و اودلته پیښی و دلالی هم چوتهی وه وتلې
می ووی چه هلکه تیا دپنډه هغه وې دځه دپاره ماوې دصفایی دپاره هغه په ژړا
شو چه زه خودخلکو غول غوږځولی نه شم هغه موپریښوا ومونږ ټول روان شو چه
کلی ته ورسیدو نوجوړه جوړه شو هغه انجنیر پریښه سړی وپه ونه ماسره یو
شان وزه اوهغه جوړه شو ګاندهی جی جوړه نه و نوهغه موخپل جمعدار کړه
اوصفایی موشروع کړه خومونږ ته داسی معلومه شوه چه دا دکلی خلک زمونږ
په صفایی خوښحاله نه دي کوم ځایونه چه به مونږ پاک کړل نوزمونږ دلیری
کیدو سره سم ځنځی هلکان اوجنکی به راټلل اوهغه به یی بیا ناولی کول هغه انجنیر
راته ووی چه معلومیږي چه په دی خلکوکښی زمونږ ددی خدمت د
حساس مادې نشته معلومیږی چه زمونږ خلاف مظاهرې کوي ما اوهغه
داخبره دپره محسوسه کړه چه مهاتما جی غوندی سړی یوکلی ته دصفایی دپاره ځی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د خلکو د احال دی. ژه په دی خبره د هر څه وم چه کله واپس راغلو نو یو ملګری
ما له تسلی راکړه چه شکر وباسئ چه تاسو یی په کانو نه یئ ویشتی او صفایی ته یی
پریښودئ . میرا بهن او کنو (کنو دکاندهی جی نمسی و او میرا بهن دیوانګریز
امیرالبحر (Admiral) سلیډ لور وه چه څان یی د هندوستان د غریب ولس
خدمت د پاره کاندهی جی ته وقف کړی و) هغوی هم دوارد دی سره نزدی یو کلی
ته د صفایی د پاره تللی وو نو خلکو صفایی ته نه پریښوول او دوی صفایی کوله نو د
کلی خلکو وړو او لوبو په کانو و ویشتل او بله عجیبه خبره خو لا داده چه مونږ خپل ځای
له راغلو او زمونږ هغه خدمتګار چه سیوا کرام کښی یی خدمت کولو خبر شو چه مونږ
د هغوی کلی له صفایی ته تلي وو هغوی زمونږ کار پریښود او و تښتیدل د هغوی په
خیال او عقیده مونږ اچوت شو، پلید شو او د پلید وخلکو کار کول د هغوی په خیال
ګناه وه . مونږ په سیوا کرام کښی د اوبو د پاره د پر بنګلی کوهی ویستلی و او د هغه
د پری منبی اوبه وی او هغه اوبه مو نخکلی هغوی به هم دی اوبو نه خپل منکی د کول
هغوی د اکوهی پریښود او بل مونږ ته نزدی یو شار کوهی وچه اوبه یی د څکلو نه وی
د هغه نه به یی اوبه د کولی او څکلی . کومو خلکو چه به دلته زمونږ کار کولو نو دا ټول
په هندوانو کښی نیچ ذات وچه و رته اچوت وایی او نور هندوان دوی څان ته
نزدی نه پریږدی او په ځینو ځایونو کښی چه په چا د دوی سوری وشی نو هغه پلید ګڼی .

د کانګرس وزارتونه :

د هندوستان په اکثرو صوبو کښی کانګرس الیکشن وګټه او دوی اکثریت
شو . په صوبه سرحد کښی د حکومت د پیر مخالفت او بی ایمانی سره هم په ځلو پښتو کښی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نولس ممبران خدایی خدمتګار کامیاب شول ، حکومت د خدایی خدمتګارانو خلاف
ټول خپل اثر رسوخ استعمال کړی و او د خدایی خدمتګارانو د مقابلې د پاره یې د
صوبې خانان ، ملکان ، وکیلان یوکړل د دوی د عمرونو د بښمنیو جوړه یې وکړه لیکن
بیا هم زه داویلی شم چې خدایی خدمتګارو به الیکشن ګټلی وای او اکثریت کښې به
راغلی وای که دهغوی نه څینې غلطی نه وای شوی او د پرو جنبو او خود غرضونه یې
کار اخیستی نه وای او اصولی خلک یې منتخب کړی وای ، سره د دې هم اسمبلی
کښې د دوی مضبوط ډله وه د دوی مقابله کښې بله ډله دومره لویه نه وه بیا هم
حکومت بې ایمانی وکړه او د قانون او قاعدې برخلاف سرجاج کنګم د خدایی
خدمتګارو په خای سره صاحبزاده عبدالقیوم ته د وزارت جوړولو دعوت ورکړو
او هغه حکومت جوړ کړو دهغه اړو دسره ډله هم نه وه ، دې ټپلې حلقه کښې فیل شوی
و ، عبدالعزیز خان تړې سیټ ګټلی و دې دهزارې نه کامیاب شوی و . هغه
د پیر ټکیانو سړی و او چې اسمبلی کښې د پیر ټکیانو څومره سړی ووهغوی مجبور اهغه
سره ملګری شول . لیکن بیا هم د اوزارت د شپږو میاشتونه زیات ونه چلیدی
شو او د حکومت د پرو کوششونو باوجود مات شو او د خدایی خدمتګارو حکومت
جوړ شو .

د کانګرس اول کښې چې په کومو صوبو کښې اکثریت وموندو وزارت جوړولو نه
انکار کړی و ځکه چې ګاندهی جی حکومت ته یو شرط وړاندی کړی و هغه دا چې ګورنران
به د وزارت په کار دونو کښې غیر ضروري مداخلت نه کوی . د ۱۹۳۵ء کال ایکټ قول
اختیارات ګورنرانو له ورکړی وو او هغوی د قانون له مخه د وزارت په لویو او د وکارونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښې مداخلت کولی شو. حکومت دکانګرس دغه شرط ونه منلو ولی چې هغوی خو د
اوږدې پیشو جوړه کړې وه. پیرنګیان دی نه تیار نه وو چې هندوستان ته دی طاقت او
اختیار ورکړې. اول کښې کانګرس د وزارتونو جوړولو نه انکار وکړو. حکومت دخپلو خلکو
وزارتونه جوړ کړل خو دغه چیرته چلیدی شول، د ممبرانو اکثریت ورسره نه وخولږه
موده وروسته دکانګرس په ځینو غړو کښې د دی شرط برخلاف کنګوسی شروع شو
او راج کوپال اچاریه دې خبرې ته تیار نه شو چې مونږ له وزارتونه اخیستل په کار نه دی
مونږ ډه پیټل کښې وو دا د سمندر په غاړه یو کلی دی. ګجرات کښې کاندهی جی راجګو-
پال اچاریه راو ځو بښتو. س، دار پټیل هم دلته و کاندهی جی دوه شپې او ورځې هغوی
سره بحث وکړ خو دغه خیال یې بدل نه کړې شو هغوی وې چې مونږ له غیر مشروط
طور وزارتونه اخیستل په کار دي او دغه دا هم خیال وچې دا څومره موده مونږ
وزارت نه دی اخیستی نو دقام او ملک تاوان شوی دی. راجګوپال رخصت شو
او مونږ تول د راجاجی په دی کار خفه وو لیکن د خدای فضل و حکومت دکاندهی جی
شرط منظور کړو. اودسنده، پنجاب او بنګال نه علاوه د هندوستان په ټولو
صوبو کښې دکانګرس وزارتونه جوړ شول.

مونږ دسیګاون دکلی نه لږ ښه ته اوسیدو او د اب وهوا په لحاظ دغه ځای
د پرښه وخو د برسات په زمانه کښې به دګرځیدو تکلیف ولاړه هم کچه وه او مالاریا
یې د پره وه، اکثر به د پرې خپې چې وې او څا دوو او بنیاد موته به د پر تکلیف و
او بل خوا ته به هلته په پټو او د پیرو کښې د پر کاهنی و وچه دا لاړې پرې جوړ یدی شوی
خو د بې اتفاقی او بې تنظیمی په وجه دا کار پاتی و کاندهی جی دا کار شروع کړو او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو کال کښې مویوه لاره پیدا کړه . دلته ماشی د پرو و خو ملیریا کمه وه . یوځل په کاندهی جی
د ملیریا سخته حمله وشوه هغه دارو هم نه خوړل ، څه وخت چه هغه بې هوښه شو نو
مونږ ورله سول سرجن راوغوښتو هغه دا تجویز وکړو چه زه دی هسپتال له ولېږم
مګر هسپتال خو پرېږده هغه دارو نه خوړل په دی وجه د هسپتال نه پاتی شو مونږ
ټولو ورته په اتفاق ووې او اخر مو په دې راضی کړو خکه چه مونږ سره د پرغم و او
دهغه ناجوړتیا مونږ ټول وارخطا کړې وو . مونږ ټول ورښه د هسپتال له لاړو په
خو ورځو کښې دهغه صحت ښه شو . هسپتال له یوه ورځ یوسړی راغی وه ویې ماران
ورسره وو د کاندهی جی په مخ کښې یې پیتار کښې بنوده او سه یې تری اوچت کړه هغه
کښې قسم قسم ماران وو . کاندهی جی ته یې نزدی کول مګر ما تری منع کړو چه په دی
څیز څه اتباء دی بیا دهغه سړی خواهش وچه زه دا ماران د تبرک د پاره د بابا
په غاړه کښې اچوم . کاندهی جی خندل خو ما منع کړو هغه وې . دا ما دم کړې دی د
نقصان یې ذمه وارنیم ، ما ورته ووی که څه نقصان وشو نو زه به ستا ذمه وای څه کړم ښه
داده چه دا کار و نه کړې او هغه می دی کار ته پری نه ښوده . بل خای بیا په سیواګرام کښې
زمونږ بل ملګری ناجوړه شو دهغه محرقه تبه شوه څه ورځی پس میرا بهن هم ناجوړه شوه
او محرقه یې شوه هغې ماته ووی چه معلومیږی داچه زما هم محرقه (تبکی) ده مونږ سره
دهغې زیات فکر و خکه چه پیرنګیان اکثر د محرقې نه مړي اودې ته مونږ نوې ما دوی
دوا ورو په ډېر خدمت کاوه خو دې به راسره د پرفکر و او د میرا بهن به می زیات خدمت کاوه .
په دغه ورځو کښې د ډاکتر جی یو دوست په بنارس کښې یوه عبادتګاه جوړه کړې
وه چه په هغې کښې د هر مذهب خلکو ته اجازه وه چه په کومه طریقه هغوی د خدای عبادت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوی کولی شی ، دهغی دافتتاح دمراسمو دپاره مهاتماجی اوزه بنارس ته لاړو ، مهرتاجه هم ماسره وه او دهندوستان دمختلفو علاقونه دپرنارسیه اوزنانه دغه افتتاح د پاره راغوښتل شوی وو . ددی رسمونو دادا کیدو په وخ د هر مذهب او ملت خلک موجود وو په دغه عبادتخانه کښی دهر مذهب خلکو خپلو طریقو د خپلو مذهبی کتابونو تلاوت او دعاګانی وکړی زما په خیال دپیړنګیانو دا تلونه لپس دهندوستان په تاریخ کښی دا رومبی ځل وچه دهر مذهب پیشوایان په دیره مینه او محبت سره یو ځای راغونډ شوی وو او عبادت یی کولو .

بنارس ، دیلی ، ګجرات ، کاتیاواړ :

مونږ دبنارس نه دیلی ته راغلو ، بیا دګجرات کاتیاواړ ته لاړو ، په کاتیاواړ کښی ما د مهاتماجی کور اوخپل خپلوان ولیدل هغوی دپرسنه خلک وو او دګاندهی جی سره یی دپرمینه محبت وو ، یوه شپه موهلته وکړه ، بیا ګجرات ته راغلو او احمدابادکښی د دیاپت کښی چه دهندوانو یو دپرلوی قومی کالج دی دیره شوو دیاپت په رښتیا یوقومی کالج دی ولی چه ددی شاګردان چه دتعلیم نه فارغ شی نو هغوی کلوته ځی او د خپل قوم او ملک خدمت کوي . دګجرات دمیونیسیپلیټی دخلکو دطرفه سپاسنامه را کړی شوه دا دپرسنه خلک دي مهاتماجی سره یی دپرمحبت دی یوازی محبت نه دی دازادی په جنګ کښی هم دهیڅانه وروسته نه وو ، خو وړځی پس سیوا کرام له راغلو زه چه خومره هندوستان کښی ګرځیدم نو ما به لیدل چه هره صوبه کښی په سیاسی اقتصادی او تعلیمی لحاظ بلکه په هر لحاظ مسلمانان دهندوانو نه دپرورو روسته وو خومره چه به ما په دی خبرو فکر کوو نو دې نتیجی ته ورسیدم چه یوازی ګاندهی جی نه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

جواهرلال نه دی مالویه نه دی ، پتیل نه دی ، راجندر پرشاد نه دی ، سوباش ، را-
ځکوپال اچاری نه دی ، بلکه په سوونو داسی خلک دي چه د اکثران ، انجنیران تعلیمیافته
خلکو مدرسی جوړی کړی دي اوکلیادی ، دخپل قام او ملک خدمت کوي . دې خلک
خان خان له په کلوکښی دیره دي خلک یی کلوته نه پریږدی او ددوی په لاره کښی خنډان
اچوی سره دهغی هغوی په صبر استقلال دخپل قام خدمت کوي او هیڅ قوت هغوی
دخلکو خدمت نه لاری نه اړولی نه شی دهغو خلکو لوی تعریف داوچه ژوندی دې پر ساده
اوبه دې پرلږ څیز به یی گذاره کوله . په وارده کښی یوځل دوارد ی دکلو دکارکنانو جلسه وه
هغوی ټول راغونډ شوی وو زه هم د (ونوبا) هغه نوی اشرم کټوله تلی وم دهغو کار-
کنانو په جلسه کښی مشریک شوم دې پر خوار اوکمزوری وو زما زړه پری وسوجا جوجی چه
ددې تنظیم صلاح و اوینبو باجی یی سکرټری و ورته می ووی چه دا خو قوم ملکیت دی
غریبانو د خوراک څه انتظام په کار دی اوکمزوری سره د قوم او ملک خدمت کولی نه شی
جاجوجي ووی چه قاسره زما پوره اتفاق دی اوس زمونږ جلسه کښی دا تجویز وړاندی
کړه . جلسه کښی چه ما دا تجویز وړاندی کړو چه ددوی تنخواه دې زیاته شی ، نو دهغوی د
کارکنانو نه یوسره پاتی شو هغه وویل چه زمونږ دا ملک دې پر غریب دی اول خو مزدوری
دی نشسته اوچه مزدوری دي نو دری آنی دسره وی اوس پیسی دومره ځی وي او مونږ
خو بیا هم څلور آنی اخلو زمونږ پتیل دا شان دوه دی خوری لکه مونږ یی چه خورو د
تنخواه زیاتو لو ضرورت نشسته ولی چه دا خلک به وایی چه مونږ خو دباجوړي وچه دوی به
نه بیا مو مواوداز مونږ خدمتګار زیږی غوږی خوړی .

بله دا چه دهندوانو امیران ، سوداګر اکثریت دهر یو قومی تحریک سره په زړه کونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکونو روپو امداد کوي بل طرف ته مسلمانان دي تاسو وګورئ هغوی کښی دخدمت څوک دی دهغوی تعلیمیافته امیران، سوداګران، وکیلان دی چه روپی ورکول خو پریږده دقوم اوملک دترقی څه خیال هم په زړه کښی نه لری دغه وجه ده چه مسلمانان زوال سره مخامخ دي. دغه وجه ده چه په هندوستان کښی هندوان وچتیږی اومسلمانان پریوزی دهندوستان دمسلمانانو راته دا تجربه وشوه چه کوم سړی دپیرنګیانو خیرخواه وی، هغه ددوی لپاره وي داسی حالا تو کښی به څنګه ترقی وکړي.

دهندوستان دمسلمانانو دپاره فکر:

زه چه په تول هندوستان کښی ګرځیدلی یم نو مسلمانانو کښی جذبه شته خو غمخوري نشته اوخیرخواه یی نشته. سیواګرام ته به کله ذاکرحسین صاحب راتللو ده سره زما دې برتعلق و دی دجامعه ملی اسلامیه دیلی پرنسیپل وماده ته هندوستان کښی د ګرځیدلو اوپخپل ذهن دحالاتو اوواقعاتو اثر په تفصیل سره بیان کړو اوورته می ووې چه دلته په مسلمانانو کښی رښتینی خدمتګار پیدا شوی نه دی ترقی کولی نه شی په مسلمانانو کښی هم په سره سینه تعمیری کارکول په کار دی اودهندوانو په شان مسلمانانو له په کار دی چه ځای په ځای کارکنان پیدا کړی چه ددوی دترقی دپاره کار وکړی اومرکز قایم جوړ کړي. زه دی نتیجی ته رسیدلی یمه چه په چوف اوکوف باندی قومونه اباد ډیزی نه کار په کار دی! او نه د جلسو دتقریرونو په واسطه په هغوی کښی ژوند پیدا کیدی شی نو ما اراده کړې ده چه دمسلمانانو د پاره کار وکړم اوددوی له د اصلاح دپاره مرکزونه قایم کړم اوچه تر کومی ساته څپلی صوبی ته د تللو اجازت نه دی شوی ددوی څه خدمت ونه کړم مګر ما سره ددی خبری دپر فکر دی چه که چیری ماته دخپلی صوبی د تللو اجازت وشو نو ددوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدمت به بیا څوک کوی؟ خکه چه زه خو بیا دلته پاتی کیدی نه شم او په ما د خلو خلکو د خدمت کولو حق دی نو که چیری په دی کښی زما سره ستاسو اتفاق وی او د مسلمانانو دا کار فایده مند کښئ نو بیا تاسو زما د ملګرتیا د پاره سره پیدا کړئ چه هغوی دې کار ته د خدای د پاره ملاوتړی او که چیری زه لا پرشم نو دوی دلته ناست وی او کوم بوټی چه مونږ کرلی دی هغه له او به ورکوی او وچیږی زه لا پری نه وزی. بل سوال د پیسو دی مسلمانان رسمی خیراتونه خو په زکوی ملګرو خدای د مخلوق دابادی د پاره یوی پیسی ورکولو ته تیار نه دي د غه اخبره چه په دوی کښی نیک او دابادئ تحریک چلیدل ګران دی.

زما خو دا خیال وچه دا کار دې دسنده صوبی نه شروع شی خکه چه هلته د مسلمانانو ابادی په ډیره ده او په ټول هندوستان کښی د سنده خلک په هر لحاظ روسته پاتی دی زمونږ دا ملګری دا رایه وه چه د بنګال نه دی بیا شروع وشی او د سهارنپور هغه پروفیسر صاحب دا خبره وکړه چه که چیری تاسو د دی کار ابتدا د سهارنپور نه وکړه نو د پرزور به ترقی وکړی او د پرزور به ټول هندوستان کښی خورشی خکه چه د یوپی مسلمانان د سنده او بنګال د مسلمانانو نه زیات پوه او مترقی دي او بله دا چه سهارنپور کښی د پوری مذهبی مدرسی دی چه هغو کښی د پردیسی طالبان د سنده او بنګال دي او د هندوستان د هری صوبی خلک پکښی شته دا د هندوستان د مسلمانانو تعلیمی مرکز دی او که دا مرکز د غلته جوړشی نو د غو طالبانو نه به سنده او بنګال کښی او نور د صوبو کښی د پرکار وا خیستی شی مونږ ټولو په دغه ځای اتفاق وکړو چه کار به د دغه ځایه شروع کوو او منتظر د وچه څه وخت به هغه یو خوسری زما سره پیدا شی.

خو د ځی ما په سیوا کرام کښی انتظار وکړو چه څه جواب را نغی نو بیا زه جواهر لال

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره یو. پی ته لاړم. بابو راجندر پرشاد ماته بهارته د تلو او دوری کولو وعدې اخیستې وه
نو زه په الهاباد کښې چې پروفیسر عبدالباری صاحب راغې زه او هغه دواړه پټنې ته لاړو
او په صداقت اشرم کښې دیره شو هغه اشرم دګنګا سین په غاړه و او د پردمزی اشرم
دا اشرم د بهار د صوبې یو مسلمان بیرسټر مظهرالحق جوړ کړې و هغه د کانپور د جماعت په
معامله کښې هم د حکومت برخلاف د مسلمانانو مرسته کړې وه افسوس چې د هغه نه وروسته
په مسلمانانو کښې داسې خوک نه وچې د غه اشرم پې اباد ساتلی وای او په دې وجه
د هغه وراثت کانګرس ته پاتې شو اونن ورځې د غه ځای د بهار د صوبې د بهار کانګرس
کمیټې دفتر دی.

مونږ د دوری دپاره څه پروګرام جوړ وو چې د پنجاب میل د اکسیډنټ خبر
راغې او د خبر په اړه سره سم د کانګرس کارکنان د مدد د پاره هلته ورسیدل. په دې
کښې د پرخلک مړه شوي وو او د مړو پټړندل نه کیدل چې دا هندو که مسلمان دی
چې په چا به د هندو شک کیدی شو نو هغه به پې سوزوو او چې په چا به د مسلمان شبهه
وه نو هغه به پې ښخ کړو او د مړو نه علاوه د پرخلک زخمیان هم وو او هغوی پې د پټنې لوی
هسپتال له راوړل خدای دې چا ته نه ښیي، د مصیبت یو عجیبه منظر وځورځی پس مونږ
د خپلې دورې پروګرام جوړ کړو او کافی ورځې مو د بهار په صوبه کښې دوره وکړه. د بهار په صوبه
کښې د شیرشاه سوری قبر دی چې مونږ هلته جلسه وکړه نو د دعا د پاره د هغه زیارت ته
ورغلم د هغه قبر ساده قسم جوړ دی او ښکلی ګنبد دی او چار چاپیره تری او به دي دا ولو
تالاب د پر ښکلی دی لوی شیرشاه ته می دزړه د اخلاصه دعا وکړه خکه چې هغه د پښتنو ګټندو
سیاستمدان او ښکیالی پښتون وچې مغلوله پې ماتې ورکړې وه او د مغلونه پې د پښتنو هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومت دوباره اخیستی واویایی حکومت په تول هندوستان جوړکړی و د کلکتی نه تر پیښور
پوری سړک ده جوړه کړه دی . دخپل حکومت د تینګولو د پاره یی د بهار په صوبه کښی د پرو
پښتنو له د پرجاکیرونه ورکړی و و مونږ دهغو پښتنو اولاد اوجاکیرونه هم ولیدل . یوکس
دوه ډیلانه کړی هم وو مګر دهغوی اوس هغه خوند نشته خلکو دخپل پلار نیکه ژبه هیره
کړی ده افسوس چه په پښتنو کښی داکمزوری شته چه خپله ژبه هیره کړی . یو پی کښی هم
د پر پښتانه دي دهغوی هم دغه حال دی ذاکرحسین صاحب افریدی پښتون دی د ژبی
په هیریدو د خپلو نه سړی پردی شی . د بهار په صوبه کښی پښتنو سره د پرجایداد ونه وو خو دبدا
عملو په وجه تری تول لاړل اونن د پرخراب ژوند تیروی .

د بهار د دوری پاره وروسته زه بیرته سیوا کرام ته راغلم د پری مودی نه دسنده د
کانګرس ممبران ماپسی وو او دایی خواهش وچه زه دی سنده ته لاړشم او دهغه ځای په
مسلمانانو کښی څه کار وکړم زما هم خوښه وه ولی چه دسنده مسلمانان د پرورسته پاتی
شوی دي او مظلومان دي او مونږ خدایی خدمتګار خو د مظلومانو ملګری یو او مونږ خپل خدای
سره داوعده هم کړی ده نوزه دسیوا کرام نه سنده له لاړم . زما خو داخیال وچه سنده کښی به
کافی ورځی تیروم ، سنده ته چه ورسیدم نو ما د کانګرس دوو کرانو په مشوره د خپلی دوری یو
لوی پروګرام جوړ کړو او د حیدرابادنه موشروع کړه مسلم لیګو خو زما د دوری د خرابولو د پاره د
مشارت پروګرام جوړ کړی و خو دسنده وزیراعلی چه د پرقوم پرست او شریف انسان و خبر شو او
مسلم لیګو ته یی ووې چه عبدالغفارخان دلته زمونږ د قوم خدمت له راغلی دی په کار دی چه مونږ
تول ورسره مدد وکړو او که مدد نه شو کولی نو مشارت خو د شرم خبره ده ، زه خبر شوی یم چه ستاسی
د مشارت څه خیال دی خو که دده په دوره کښی موشارت وکړو نو د پر بد به د رسره وکړم . دده په

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه مسلم لیګ په قلاړشو او ما خپله دوره په اطمینان سره وکړه . په دغو ورځو کښې د سند وزیر
لی خان بهادر الله بخش سومرو د ده زما سره ډیر مینه وه ، په حیدرابادکښې موجلسې وکړې
ډیر هندوانو او مسلمانانو سره موخبرې اتری ومشوې ، د دې ځای نه کراچۍ لاړو ، په
اچۍ کښې موکافی وخت تیرې کړې او ډیر کار موکړو ، د کراچۍ نه سکر ته لاړو او د سکر نه
ید رابادله راغلو ولی چه داخیال موپیدا شو چه په بلوچستان کښې کار کول زیات ضروري دی .

د بلوچستان دوره :

د ډیرې مودې نه زمونږ د بلوچستان درونړو داخواهش وو چه زه د بلوچستان
لاړشم ، ما د پرځله کوشش وکړو خو حکومت نه پرې منبودم ، په دغه ورځو کښې عبدالصمد خان -
کزی چه د بلوچستان د پښتنو رښتینی خدمتګار او رهنمادی په ما زور ولګو وچه ته
چستان ته لاړشه ، په لاره کښې می الله بخش سره ملاقات وشو د هندوستان په سیاست
د ډیرې خبرې وکړې . هغه د پاکستان د جوړیدو په حق کښې نه وو خو ځکه چه د پنجابیانو نه
ډیره ډیره ستړی وو او پنجابیانو سره یو ځای کیدو ته تیار نه وو ، هغه دې خبرې ته تیار وو
د کچرې سنده ، بلوچستان ، سرحد او کشمیر یو ځای شوو نو دا به ډیره ښه وي ، الله بخش
ډیر د سیاسي مخالفت په وجه د مسلم لیګ یو لیډر محمد ایوب کهوړو بیا ورته متوقل کړو .
زه په خیریت سره کویټې ته ورسیدم ، څه وخت چه زمونږ باور کاډي د بلوچستان
سرحد کښې داخل شوو نو تر کویټې پورې په لاره کښې دوا پس کیدو ویره وه خو ځکه چه زه یې
پرځله راوا پس کړې وم ، په هر سټیشن چه به می د پولیس افسر ولیده نو داخیال به می پیدا
و چه د جوړې حکم یې راوړې دی . زه په خیریت کویټې ته ورسیدم ، زما داخیال دی چه
ومت جناح صاحب ته چه د هغه تعلق مسلم لیګ سره وو اجازت ورکړی وو نو ما ته یې هم اجازت

(c) ketabton.com: The Digital Library

راکړه ، ولی چه زما تعلق کانګرس سره وو .

عبدالصمد خان اچکزی ستمیشن ته راغلو ، په ستمیشن کښی نورهم د پیر هندوان ، مسلمانان راغلی وه
مایوخو ورځی کوینه کښی تیری کړی اویاد کوینه نه فوت سند مین ، قلعه عبدالله ، هنه باغ ، کلستان چمن
لوړالی او د بلوچستان نور د ځایونو دوره می وکړه ، د پره د خوشحالی لوکامیابه دوره وه اوزه می په دې
هم د پره خوشحاله شوچه پښتانه او بلوڅ راوینس شوي دی هغوی سره می جلسو اد مجلسو
کښی د لپښتنو او بلوڅو د وروولی خبری وکړی او پای کښی ماسره داکثر د پښتنو او بلوڅو
اتفاق وو ، ځینو لپښتنو زمونږ د پښور د خلکو نه شکایت کولو او د پره کیله من وو د پوښتنی نه
وروستو ماته معلومه شوه چه د دی وجه پښور کی حاکمان وو یعنی د پښور هغه کسان
چه د غلته د پیر نکیانو نوکران وو او پیر نکیانو د خپل کار د چلو لو لپاره د غلته مقرر کړی
دي افسرانو د خپلو د نږو سره شریفانه سلوک نه ووکړی بلکه د سره یتوب نه پریوتی ، د فرعونیت
بد ترین سلوک کوو او د هغوی په زړه کښی د تولو پښتنو رونه نفرت پیدا کړی ؤ ما هغوی ته
تسلی ورکړه او پوهه می کړه چه دیوخو کسانو په ګناه تاخو د پښتنو رتول پښتانه مه نیسئ ا
خدای دی نو راپښتانه داسی بی ننګه نه کړی بلکه داچه د ی حکومت زمونږ نه د ی بلکه
پیر نکیانو د ی ، بله داچه په دوی کښی د د ې حاکمانو اکثریت د هغه خانانو ، میاکانو ا
ملایانو وو چه دانګریز د خوشحاله ولو لپاره دا دلته چه تاسو سره کوم سلوک کړی دی او
یی کوی دایوازی تاسو سره نه کوی بلکه مونږ سره یی هم هلته په هغه خپله صوبه کښی کوی
د پره عجیبه خبره وه چه دلته د دی پښتنو سرکاری افسرانو د پنجابیانو افسرانو سره د
چه په شریکه یی د بلوچستان پښتانه او بلوڅ خوړل . د بلوچستان د دوری نه ورو سته
مونږ جیکب آباد ته راغلو ، په جیکب آباد کښی د اکټر جیت رام چه د کانګرس صدر

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد امین کوسوم مونږ سره یوځای شو په جیکب اباد کښی د هند وانو او مسلمانانو
ډیره لویه جلسه وشوه ، په دی جلسه کښی د سیول اوپولیس د افسرانو دا اراده وه چه څه
ډیر بڼی وکړی خو دوزیر اعظم الله بخش په مداخلت څه کړ پری ونه شوه ، مونږ د
بلوچستان د هغی ټولی علاقی دوره وکړه چه په بریتش بلوچستان کښی د پښتنو اکثریت
پکښی دی ، زما او د عبدالصمد خان اچکزی دا رایه وه چه د بلوچستان هغی برخی ته هم
ورشو چه بلوڅ په کښی اباد دي ، د ډاکټر جیت رام او محمد امین کوسوم دا رای وه
چه مونږ د بلوڅو د غی علاقی ته لاړه شوو ، مونږ هلته لاړو خلک ټول په شوق او په مینه
راغونډ شوي وو چې د جلسی وخت راغی نو زما دا اراده وه چه په هغه جماعت کښی جلسه
کړو چه د بازار په سر کښی وو او د نورو ملګرو د اخیال وو چه هغه ډاک کښی دي وکړو چه
بازار نه هغه طرف ته وو هلته د جلسی انتظام وشو ، جلسه چه شروع شوه نو د بلوڅو یو
لیډر راغی ، د جلسی په خوا کښی ټهر شو او جلسی ته یې سنبه وکتل د هغه نه لږ ساعت
وروس د بلوڅو یو ټولی ټهروونه په لاس جلسی ته راکه شول او بغیر د ټپوس نه یې
خلکو را باندی کړل چه سړی ته به یې د سر نه ورکوو د علی علی چغی به یې وهلی
او سر نا تر سره وې د سر نه یې په بل ځای کوزار نه کوو په یو ساعت کښی میدان خالی
وو زما یوی خوا ته ډاکټر جیت رام او بلی خوا ته محمد امین کوسو په کرسو ناست و
زه وخت چه د جلسی ټول خلک وتښتیدل زه یواځی پاتی شوم نو زما نه چاپیر
ټول سره ورځ یې را باندی جوړه کړه او دا کوشش یې کوه چه زه هم وتښتم خو زه ونه
تښتیدم ، په هغه ورځ ماښام سر خزیلی و او په کرسی سر تور ناست و م زه پوهه
شم چه سنبه کوزار به اخلی خو تښتیدم نه کټل می چه د دی څه کوی زما نه بنی طرف ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد امین کوسو و هغه یې په سر وهلی و او بی هوښه شو او د کرښی نه را پریوت
بل طرف ته د اکتر چیت رام و په هغه یې هم سرمات کړی و هغه هم د کرښی نه په خاوره
کښی را پریوتی و زمانه چاپیره د پرو کړ خپل چه دی به هم د نور و خلکو په شان
وتښتی پوهه شو چه دی نه تښتی او مونږ خپل کار و کړو نو بیخپله وتښتیدل زه پاتی
چه و می کتل نو د کوسو او د اکتر د سر نه وینو داره ې وهلی بل خوک نه و و عجیبه حالت و
معلومیده چه د د اکتر چیت رام او کوسو په باره کښی ورته خاص هدایت شوی
او زما په باره کښی هم ورته هدایت شوی و ، بیا وروسته معلومه شوه چه د غه بلوڅ
رئیس د دوی د پر دوست و او دوی پری احسانونه کړی وو مونږ سیول سرجن
پسی یوسړی په موټر کښی ولیږلو دوی مو یوړل او چه کوم ځای مونږ د پرون هلته
موکتلو نه کښی واچول وینه یې نه وه ودرېدله حالت یې خرابیدلو او عبدالصمد خان
او زمونږ نور ملګری هم خو ږ و و خو د و مره نه د مقامی خلکو نه معلومه شوه چه دوی د د ې
قصی نه خبر و او په تحصیل کښی را پورت هم کړی د ملکر سرکاری افسرانو د د ې کار نه
نه نیولو حقیقت خو دا و چه د اتول کار د سرکار په اشارت شوی و نو افسرانو یې خلق
مخه بند ولو یوازی د الحای نه په تول بلوچستان کښی حکومت کوشش کړی و چه
زمونږ جلسو کښی کړبړی پیدا کړی ولی په پښتنو کښی د و مره پښتولا یاتی وه چه
د خپل مسلمه عزت و کړی ما زنګیر د هغه علاقی پولتیکل افسر چه پوځی کپتان و او هغه
و او د اتولو قصه هغه کړی وه . خپل اسستنټ سره ماته راغی او د د ې واقعی تپوس
یې را نه و کړ او را ته یې و وی کړ چه ږی تاسو پدی خلکو مقدمه چلول غواړئ د عوی
پری کوئ نو زه به د هغی انتظام و کړم د غه اسستنټ د پښتو د علاقی د صوابی تحصیل

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دویانو دکلی وو مادوی ته په خواب کښی ووی چه مونږ خدایی خدمتګار دچا نه
بدل نه اخلو، مونږ مظلومان یو، زمونږ بدل خدای پاک اخلی هغوی چه ماسره خبری
کولی نو د حکومت د طاقت باوجود ملامته اوخړ غوندی ښکاریدل ښه ساعت ماسره
و بیا رخصت شو. تیاره مانښام شو مسول سرجن راورسید هغه وخت زمونږ د
زخمیانو بدحال و او د محمد امین کوسو حالت ډیر خراب و، د زاتلو سره ډاکټر د هغوی
د وینو بندولو کوشش وکړو او مونږ ته یې وویل چه د دوی حالت ډیر خراب دی د دوی
پاره څه انتظام کیدې نه شی ښه به داوی چه د حبیکب اباد هسپتال ته یې ورسوو مونږ
هغوی په موټرونو کښی واچولو او ټهر ما سختن حبیکب اباد ته ورسیدو مسول سرجن
ډیر ښه سړی وو، د رسیدو سره د هغوی لپاره ډیر ډیره انتظام وکړه هغوی یې ځان
ته کمروکښی واچول پټی مرهم وشول اوچه د هغوی انتظام وشو نو بیا مونږ چلو
خایونو ته رخصت شو، چه شپه قبره شوه زه مصاد وختی هسپتال ته لاړم مسول سرجن
مونږ نه مخکښی راغلی و اوپه مایی زیړې وکړه چه د دوی د بچ کیدلو زیات امید پیدا شو
د وخت چه دوی د خطر نه بهر شول او حالت یې ښه شو، نو زه حبیکب اباد نه حیدرا باد ته روان شوم
حیدرا باد ته زما کادی سره وختی ورسیدم کله چه ستیشن ته ورسیدم نو لاتیاره وه او سباختلی نه و
د وفیسر ملکانی صاحب د کانګرس د کارکوونکو سره ستیشن ته راغلی وُ زه ډیر حیران او
خوشحاله شوم په دې چه خان بهادر الله بخش وزیر اعظم د سنده ستیشن کښی حاضر
او حیران په دې شوم چه زمونږ لوی خلک د اسی خلکو مخی له نه ځی او خوشحاله په دې شوم
چه د ملک او قوم خدمتګار د سره دومره مینه لری، زمونږ لویو خلکو کښی دا ماده نشته په حیدرا
باد کښی د سنده د کمیټی د ممبران راغونډ شوی وو او د عامی جلسی نه ورسته زما او د هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترمینځه خبری اتری ومشوی ، د دې ډول مباحثی نه وروستو هغوی ماته
دوه د مطلب خبری وکړی اوراته یې وویل چه کله ته واردی ته وړاسی نو
دا خبره به مهاتما کاندهی اودورکینګ کمیټئ ممبرانو ته وکړې . یوه دا
چه دې صوبه سنده کښی په مسلمانانو کښی د خاکسارانو تحریک
ورځ په ورځ په ترقی کښی دی که چرې د دې صوبې په مسلمانانو کښی
د خدایی خدمتګاری تحریک شروع شی نو نبه به وي ځکه چه
خدایی خدمتګاری یو قومی ملی تحریک دی چه په هندواو مسلمان
کښی د همدردی او وروولی جذبه پیدا کوی اودا بل تحریک
په مسلمانانو کښی تعصب پیدا کوی ، ماورته ځواب ورکړو چه دا کار نه
چه دی داسی خلک کولی شی .

دیو سړی په زړه کښی چه د خپل قوم او د خپل ملک
محبت او همدردی وی بیا به خلک د هغه خبرو منلو لوته تیار وی
که هغه سړی د هر ملت او مذهب وی بله خبره یې داوکړه چه مونږ
د خلکو لپاره څه کولی نه شو او نه مو د هغوی خدمت ته زمونږ د صوبې
د کانګرس مشران جی رام داس ، دولت رام پریږ دی او نه مونږ د هغوی
لپاره په اسمبلی کښی څه کولی شو او نه کلوته د هغوی د خدمت او پوهه
کولو لپاره تللی شو ، ما ترې پوښتنه وکړه چه ددی وجه څه ده هغوی
راته وویل چه د کانګرس د چلولو لپاره جی رام داس ته اکثره چنده او امداد
سرمایه داران ورکوی اوهغه سرمایه دار دانه غواړی چه د عوامو د فایدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی اسمبلی کښی څه قانون پاس کړی شی او یا دی د کانګرس خلک
والو او مزدورانو ته لاړ شی او هغوی دی پوهه اورا ویښ کړی څکه
د هغوی په پوهه کښی د سرمایه دارو تاوان دی ، د دی له پاره مونږ
وله څه کولی نه شو اوکه وکړو بیا هغوی مونږ سره ملګری کیږی
واړه بیا مونږ ته چنده نه راکوی سبه به داوی چه ته زمونږ دا معامله
ننګ کمیټئ ممبر انوته ورسوې . زه د حیدر آباد نه واردی ته روان
شوم کله چه ورسیدم نو په داسی وخت چه جی رام داس
هم حاضر و نو له قصه می د هغه په مخکښی
د ر کینګ کمیټئ ته وکړه . زه چه دی
وخت کښی وارده
کښی وم (رفیع احمد صاحب)
چه د غه وخت د کانګرس ګائډ صدر او ماته وویل چه باچاخان
تاسو پښتنو مونږ پسی ولی را اخیستی ده
چه سرکار ته مشکلات
پیدا کوئ
ما ورته وویل چه هغه کومه
داسی خبره ده چه مونږ په ناجایزه تاسو ته تکلیف درکړی
دی نو ده راته وویل چه عنایت الله مشرقی مونږ کرفتار کړلو
د حکومت نه معافی وغوښته مونږ پریښود نو ستاسو د سرحد نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورپسې پښتانه خاکسار داغلل او تمانچې پرې کښودی چه مونږ دی وژ
تاخو مونږ وشر مولو چه معافی دی وغوښته . هغه ورته منکرشو وی
دا دی وغ دی او قسمونه ورته وخوړل چه تحریک نه پریږدم هغه دی
خلکوله وهړی بیا کار شروع کړو نو مونږ بیا ونیولو هغه بیا
معافی غوښتله خلک تری ویزاره شول او
تحریک کمزوری شو دهر یو تحریک
انحصار په لیډر
وی
چه بهادر اوهوښیار وی
نو تحریک خلک هم زړه ور اوپوهه
وی چه لیډر کمزوری او تنګ نظره وی نو تحریک خلک
هم بې زړه اوتنګ نظره وی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خدایي خدمتګار وزمبی وزارت

د خدایي خدمتګار وزارت ، زمونږ وزیران او پیرنګیان

د جواهر لال دوره ، د پیرنګیانو افسران او زمونږ

حکومت ، پښتانه راوینس شول ، ګاندهي جي دوره

وزارتونه او خدایي خدمتګار

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه اوه کاله پس خپلی صوبی له راغلم . زه په ۱۹۳۱ع کال کښی گرفتار شوی وم او په
۱۹۳۷ کښی راغلم زمونږ په خلکو ډیر زور زیاتی او ظلم شوی ولیکن دهغوی جذبه مړ شوی
نه وه ، د خلکو د مخونو نه ماته معلومیده چه زړونه یی د جذباتونه ډک دی زه چه نه وم نو سړی
جامی هم نه وې حکومت بندی کړې وې زه چه راغلم نو سړی جامی هم راغلی څه وخت چه
خدایی خدمتګار و واورېدل چه زه خپلی صوبی ته راورسیدم نو بیا هغوی بند یزته کتلی
نه دی تولو خپلی سړی جامی واغوستی مګر حکومت د سړه چیرونکړو هغه تولی پابندی
د خدایی خدمتګارونه وچتی شوې .

زما په غیر حاضرۍ کښی حکومت چه څومره ظلمونه کولی شول هغه یی د صوبی په خلکو
او په تېره بیا په خدایی خدمتګارو کړې وو د خدایی خدمتګارۍ د بربادۍ د پاره یی تولی طریقی
استعمال کړې وې خو کامیاب شوی نه و بلکه خدایی خدمتګاری زیاته ترقی کړې وه او خلک
کښی پوهه او سیاسی شعور پیدا شوی و ، څه وخت پس زه د اسمبلی د ممبرانو سره اېبټ
اباد له لاړم چه هلته د اسمبلی د ممبرانو اجلاس و . د هزارې د پر خلک زما هر کلی له راتولو
شوی وو ، د ستری مه شی نه پس یوه جلسه وشوه چه په هغی کښی ما تقریر وکړو او د خلکو
شکریه می ادا کړه بیا خپلو خایلونو له لاړو ، زه د هزارې د خلکو مبلمه وم ، غنی اوولی هم راته
وو هغوی زمونږ د پاره خان له انتظام کړې و . په دی وخت کښی د مسلم لیګ او حزب اختلاف
په مینځ کښی اختلاف و ، د صاحبزاده صاحب د وزارت د کوشش وچه د اوزارت د
مات نه شی او خدایی خدمتګارو زور نکولی وچه مات دې شی . صاحبزاده صاحب لویه
جبی اولوی لوی ملایان ، میاکان راغونډ کړې وو هغوی به هره ورځ جلسی کولی هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروغ اوبهتان جوړولو زما برخلاف یې تقریرونه کول حال داچه زه نه په اسمبلی کښی وم او
نه د پارټی لیډر وم ، دهزاره ی یولوی بزرګ مولانا محمد اسحاق صاحب مانسهروی چه
د خلافت په وخت کښی زما ملګری هم و او په هزاره کښی یې دپرکار کړی و او خلکو به په جوپان
کښی په اوږه اوګرځولو او پیرنګیانو بندۍ کښی نظربند کړی و . هغه بخیل تقریر کښی زما متعلق
دا وویل چه یوه ورځ عبدالغفارخان بندۍ له راغلی وزه ورسره وم لیکن هغه چیرته یولمونځ
هم ونه کړو او د شپې په جلسه کښی چه څه وخت هند وانو او مسلمانانو هغه ته ګیتا او قرآن پیش
کړل هغه قرآن ته د پاڼو توجه ونه کړه په بنی لاس کښی یې ګیتا واخیستو اوکس لاس کښی یې قرآن
واخیستو . زما په باره کښی د مولانا محمد اسحاق صاحب داتولی خبرې دروغ وې زه
یې شکه جلسی له بندۍ له تلی وم لیکن مولانا محمد اسحاق خو یوساعت د پاره راغلی و او هغه وخت
کښی یې ماته وویلی وو چه زه ددی خلکو په جلسو کښی شرکت نه کوم خو چه دا جلسه ستاد پاره ده
نو ته خو د اسلام یو مجاهد یې نو ځکه زه بیکاله د دی جلسی له ضرور راځم په دی جلسه کښی ماله
چا قرآن اوګیتا پیش کړی نه وو بلکه زما په تول عمر کښی ماته په جلسه کښی چا قرآن اوګیتا پیش
کړی نه دی چه په کوم قوم کښی دا قسم خلک د دین سره تنی کنلی شی نو هغه دین کله په داسی سره تنو
ینګیدلی شی په دغو ورځو کښی پیرنګیانو دا غوښتل چه د خدایی خدمتګار وو په مقابله کښی
په دی صوبه کښی دی یوه بله ډله هم جوړه شی نو د صاحبزاده صاحب په ذریعه فوراً مسلم
لیګ جوړشو او د دوی جلسی شروع شوې . د دی نه څه موده مخکښی جناح صاحب د مسلم
لیګ د جوړولو په خیال صوبه سرحد ته راغلی وخو کامیاب شوی نه و او د پرمایو سه تلی وځکه
په هغه وخت کښی د پیرنګیانو دا پالیسی نه وه او هغوی په صوبه سرحد کښی دغه قسم
ملی جوړ بدل نه غوښتل . په دغو جلسو کښی به هم مولانا صاحب محمد اسحاق د کانګرس

(c) ketabton.com: The Digital Library

بر خلاف او د مسلم لیګ په حق کښې تقریر ونه کول . په جلسه کښې توری پوسړی پوښتنه وکړه چه
مولانا صاحب ستا خو ربي پیر کامران د خدایی خدمتګار و په ټکټ ولاړو نو تاد هغه د پاره
پرا پیکنډه کوله او مونږ ته دی وی چه خدایی خدمتګار قومی اوپریښه تحریک دی نن څه چل
وشو او کوم دلیل پیدا شو چه خدایی خدمتګار خراب او د هندوانو جماعت شو د غه شان یوانی
دی نو زهم د پرملایان وو چه مونږ سره یې قید و نه تپر کړی وو په دی ازمېښت کښې کامیابه
شوي وو خو دپیسو په ازمېښت ناکامیابه شول . زمونږ یو قومی کارکن مولوی شاکر الله
صاحب د نوښار د خدایی خدمتګار د امید وار میا جعفر شاه مخالف شو او د تاج محمد خان
خان بهادر ملګری شو . څه وخت پس د عمرزو خان بهادر سعد الله خان مونږ مسلمانانه
کړو . دی د صاحبزاده صاحب دوزارت په وخت کښې وزیرو . دی د عوت ته یې صاحبزاده
صاحب هم را بللی وو . صاحبزاده صاحب چه راغی نو ما سره یو خای کښې ناستو د راشه درشه
نه پس یې راسره داخبره شروع کړه چه څوابه د هندوستان د خلکو ستر کی دی خواته وې او
د دی ملک خلکو چه به څه ویل هغوی به هغه کول لیکن افسوس دی چه د دی ملک د خلکو ستر کی
او س هندوستان ته دي او هغوی چه څه وایي د وی هغه کړی ما ورته وې چه صاحبزاده
صاحب چه ته د حالا تو نه پوره خبر نه یې نو ځکه داسی خبری کوې او س هم هغه حالت دی بدل
شوی نه دی او س هم د هغو خلکو ستر کی دې طرف ته دي او س هم چه د دی طرف خلک څه
وایي هغوی هغه کوی څه وخت چه سول اینډ ملیټری کمیزت اخبار داغلط خبر شایع کړه
چه باچاخان د کانګرس نه جدا کېږی نو دی صاحبزاده صاحب عبد القیوم ما پسې لاهور ته
سړی راولېږلو او خط یې ورکړی و زه د شملی نه لاهور ته راغلی وم نو دلته می هغه سړی ولیدو
هغه راته زبانی هم ووې چه صاحبزاده صاحب وې چه باچاخان ته وایه چه د خدای د پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوری دکانګرس نه جدا شی او که ته دکانګرس نه جدا شوی نو بیا پیرنګیان زمونږ
ولی له هیڅ نه وړکوي . دې پروخبرونه پس ما ده ته دخپلی صوبی خبری شروع کړې
ده ته وویې چې دا کوم حقوق چې حکومت مونږ له راکړی دي زه منم چې دا نیمګړی
اقص دي او دی په ذریعه مونږ دخپل قوم او ملک دپاره هغه کار ونه نه شو کولی
مونږ زړه یې غواړي خو بیا هم په دی کښې دومره څه شته که په اتفاق سره مونږ
سش وکړو نو د پیرنګی په ځای پښتون دی ملک مالک کیدی شی نو اوس زه
انه پوښتنه کوم چې د پیرنګی په مقابل کښې ته مالک کیدی شی ؟ هغه ځواب راکړو
ره نه مالک یم او نه مالک کیدی شم ولی چې زه د پیرنګیا نو مقابلی ته تیار نه یم ما
ووی چې ښه ده ستا په پښتنو دا وخ پیرزو کیږی چې د پیرنګیا نو په ځای دی
نه دی خپل ملک مالکان شی نو هغه ووې چې بی شکه زما زړه هم دغه خیز غواړي
ر ته ووی چې دا خو به هله کیږی چې ته بل چاله موقع ورکړې . نو هغه ووې چې
لکل دی ته تیار یم نو ما ورته ووی چې ښه به دا وي چې ته د وزارت نه استعفا
ځکه چې زه دا مناسب نه ګڼم چې اسمبلی کښې متابر خلاف د عدم اعتماد ووټ پاس
غه ما سره وعده وکړه او په دی خبره راضی شو چې استعفا به وکړم لیکن ما ته چې
ه شوی ده نو سر جارج کننګم ګورنر هغه دی کار ته پری نه ښودو او دا افسوسناکه
رشوه چې ما دهغی مخه نیوه یعنی په اسمبلی کښې دده په خلاف د عدم اعتماد
اد پاس شو او د عدم اعتماد ووټ پاس کیدو سره د خدایی خدمتګار د
ډاکټر خانصاحب ته یې د وزارت د جوړولو دعوت ورکړو او د صاحبزاده صاحب خان
ی خدمتګار د وزارت جوړ شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خدایی خدمتګار وزارت،

دوزارت جوړید لو سلا او مشوری د پاره مولانا ابوالکلام ازاد او بابو راج
پرشاد ایبت اباد ته راغلل د خدایی خدمتګار اسمبلی پارټی په ممبرانو کښې چې څ
دوزارت خواهشمند وهغوی د خدایی خدمتګارانو په ذریعه د خپلو خواهشاتو د پوره
د پاره کار شروع کړو. د دی تولو سرغنه ثمین جان وکیل و، دده د پرشوق وچه وزیر
د قاضی عطاء الله په مقابله کښې د پرخلک دده په طرف وو او ددې وجه هم دغه وه چې
صاحب د خپل وزارت د پاره کوشش نه کولو او هیڅ ته یې ویلی نه وو تر دی پورې چې ما
هم د دی خبری کنایتاً هم ذکر نه وکړی د خدایی خدمتګارو د مشورې نه پس زه، د اکتو
مولانا ابوالکلام ازاد او بابو راجندر پرشاد کښینا ستو او په حالاتو موغور وکړو. ز
رایه وه چې زمونږ صوبه د پره وړه صوبه ده مونږ له د دریو یا زیات نه زیات د خلورو
زیات جوړول په کار نه دی. په دی دوران کښې ثمین جان ماله هم راغی او ماته
چې زه په دې خبره رضا یم که چیرې ما او قاضی صاحب پارلیمنټری سکرټریان کړ
یوازی نه قاضی به هم راسره وي د اهغه ثمین جان خان دی چې قاضی صاحب دده
ماله د بویلی چیلخانی له راغلی و او دده د پاره یې زمانه مجبوراً د نوښار په خدایی
خطونه واخیستل چې دده مخالفت دی نه کوی په دی وجه دی د اسمبلی ممبرشو چې
په دې پوه شو وزارت په دوه تونه دی او د وزیر اعلی په مرضی دی او بله دا چې د
پارلیمنټر سکرټریانو هم مخالف وم خکه چې زمونږ صوبه د پره وړه ده دومره ګنجایش
نشته او نه دومره کار شته نو مونږ د افیصله وکړه چې د اکټر صاحب مره دی، د
وزیران وي او په هغه کښې دی یو هندو وي او دوه مسلمانان چې د هغ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسمبلی ممبران مونږ سره ملګری شوي وو او د صاحبزاده صاحب برخلاف يې
ووټ ورکړی و نو مونږ ورسره داوعده کړې وه چې يووزير به دهزاری وي پاتی
يو وزارت شو نو د اکټر صاحب قاضی عطاءالله صاحب واخيستو او دهزاری نه يې
محمد عباس خان واخيستو. په هندوانو کښی زما رايه وه چې لاله بنجورام د ډيپټی اسما-
عيل خان دې وزيرشی ځکه چې هغه د کانګرس زور کارکن دی او قيدی هم تير کړی و او
د هر بااصوله سړی و، د مولانا صاحب دوی داخيال وچې راى بهادر ايشرداس چې هندوانو
کښی لايق او بارسوخه سړی دی، دی دې وزيرشی ليکن زمونږ د تولولاله بنجورام
خوښ و او هغه وزير مقررشو. حقيقت دادی چې کانګرس په بارسوخو راى بهادرانو
پسی ګرځی او مونږ په خدمتګارو پسی ګرځو. کله چې زمونږ وزارت جوړشو نو زمونږ
دافکر وچې خومره زمونږ نه کيدی شی خلکو ته فايده ورسوو مونږ په اسمبلۍ کښی دډ
تجويزونه پاس کړل. يومومالیه کښی معافی وکړه اوبل د کوهاټ، بنو او مرو ته خلکو ته
داوبو د پر تکليف و دهغوی داوبو دانتظام د پاره موخه روپی منظورې کړې او دامو
اراده وه چې هر کال به چې خومره کيدی شی د دی خلکو د اوبو د پاره روپی منظورې وو تر
هغی پورې چې داخلک په اوبو مارهٔ شی. د کوهاټ د کرک تحصيل داحال وو. چې هلته به
زمونږ مينډ و اوخوړل و د شلو او دوه ويشتو ميلونه د څښکلو اوبه راوړلی دوزارت
دا کوشش وو چې د څښکلو اوبو په هری علاقی ته ورسوی او چې کله وزارت دوه کاله پس
استعفا ورکوله نو هغوی دومره کړې وه چې بيا د دغی علاقی خلک داتو ميلونه لرې اوبو
پسی نه تللل او اکثر د کلوته خراوبه وو ورسولی شوی. د اوبو دا مسئله به بيخی حل شوی
وه خو د پښتنو په پرو جنبو او خودغرضو د اکارتر سره کيدو ته پرې نه ښو، ولی چې هرکلی به ويل

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه او به اول مونږ له راکړی. ددی دپاره مویوه سرکاری کمیټی جوړه کړه او ما پکښی ممبری
ددی دپاره منظوره کړه چه دا دعامو خلکو د فایدی او خیر کار دی خو افسوس دی چه
زمونږ د خپلو خدایی خدمتګارو د بی اتفاقی په وجه خلکو نه چه کوم قسم خیر او فایده
مونږ د رسول غوښتل و نه رسولی شوه او هغه کار نیمګړی پاتی شو. کانګرس د خپلو
وزارتونو دپاره داهم ضروری ګڼله چه د صوبی قانونی مشیر یعنی ایډوکیټ جنرل به
ګورنر په خوښه نه مقرریږی بلکه دده واک دی دوزیرانو سره وی او دهغوی چه
د خپلی خوښی نه کوم قسم سره غواړی هغه دی ګورنر مقرروی. دبهار صوبه کښی ډګورنر
او وزیرانو په مینځ کښی لویه جګړه شوې وه او نوبت د استعفا ورکولو ته رسیدلی و
د غو ورځو کښی سر سلطان احمد د بهار د صوبی ایډوکیټ جنرال و هغه د سرکار
د پر خیر خواه و نو ګورنر نه غوښتل چه هغه دې دغه عهدی نه لیری کړی شی او وزارت
غوښتل چه دده په ځای خپل اعتباری سړی مقرر کړی په دی باندی د وزارت او
ګورنر ترمینځه جګړه وشوه او چه ګورنر پوه شو چه وزیران په دې خبره استعفا ورکولو
ته تیار دی نو یایی د هغوی خبره ومنله، سر سلطان احمد لیری شو او د کانګرس
سړی مقرر شو. د غه شان زما هم د خیال وچه زمونږ وزارت دې هم خپل سړی په
دی عهده مقرر کړی په د غو ورځو کښی سر د بهار راجه سنګه ایډوکیټ جنرل و د اکټر
صاحب په دی مسئله ګورنر سره خبری وکړی خو هغه دده لیری کولو ته تیار نه و نو راجه
سنګه پخپل ځای ایډوکیټ جنرل پاتی شو، نو نتیجه دا شوه چه زمونږ د وراثت څوکلی
د ډاکټر صاحب او زمونږ نه وا خیستل که زمونږ خپل ایډوکیټ جنرل وای نو د پاس
شوی قانونی زراعتی بل مطابق به عمل شوی و زمونږ د صوبی خلکو ته به تاوان نه وی رسیدلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ داوراثت به اخیستی شوی نه‌ؤ اومونږ ته به‌هم تاوان نه‌وی رسیدلی. زما طبیعت
ه نه‌ؤ نوزه د خورد خود پاره هواکلی نه‌لاړم دایو بنکلی دارام ځای و اوما پکښی څورځی
ام وکړو بیا دډی ځای نه فقیراخان سره د اګرور په دوره لاړم. مونږ چه په ۱۹۳۰ع
ل کښی خدایی خدمتګاری جوړه کړه دا تحریک د پښتنو د طبیعت موافق اوډیر زر
پښتنو کښی خورشو خو پیرنګیانو مونږ له موقع رانه کړه دیری نیمی میاشتی پس یې ګرفتار
ه اوزمونږ قوم او خدایی خدمتګارو سره یې بی حده ظلمونه وکړل خوخومره چه دوی
م کولو تحریک زیات خوریدلو پیرنګیانو زمونږ دا تحریک دباونه کړی شو او چه
ونږ عارضی سوله د کاندهی جی او لارډ اروین په مینځ کښی وشوه نو بیا هم مونږ
نګیانو کار ته نه پریښود وځای په ځای به یې راته ایک سو چوالیس (د قانون یوسل
لور څلویښتمه ماده) دفعه لګولی وه اوپه هزاره کښی خویې مونږ ته ډیر مشکلات
اکړی وو نودلته مونږ په تسلی سره کار نه وکړی بل زمونږ نه دمیا احمد شاه له
م جدا شوی وه هغوی هم زمونږ برخلاف ډیری غلطی خبرې کړی وې خو
ری هم پخپلو ذلیلو ارادو کښی کامیاب شوی نه وو اوس چه مونږ اووه کاله پس
ی صوبی ته راغلو او د خدایی خدمتګارو وزارت هم جوړشو نو مونږ دنوی سره د خدایی
متګاری تنظیم شروع کړو، هزاره کښی هم مونږ له دکار کولو موقع په لاس راغله
هغی علاقی دوره می وکړه.

زمونږ وزیران او پیرنګیان:

څه وخت چه اول زمونږ وزارت جوړشو نو په نوکر شاهی خلکو باندی که هغه
یزان وو اوکه دلیسیان وو هیبت او ویره راغله، د شوتونه، ظلمونه بند شول

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکن افسوس چه دا حالت تر دې پرده وخته پاتی نه شو نو کرشاهی زمونږ وزیرانو سره خلط
ملط شو او دهغوی د خوی، بوی نه خبر شول او تعلقات یې ورسره قایم کړل نو بیا پخپله
زړه پالیسی روان شول، رشوت خوړ پرې ده دوزارت او خدایی خدمتګاری تحریک
ته نقصان ورسید و که زما په هغه تجویز عمل شوی وای نو دومره تاوان به مونږ وای
شوی زما دا تجویز وچه وزیرانو له دضرورت نه زیات تعلقات پیرنګیانو سره په کار نه دی
او نه دضرورت نه زیات هغوی سره خلط ملط کېدل په کار دی ځکه چه زما تجربه ده
چه غلام قومونه د پرکمزورۍ وی او حاکم قوم ته ټینګ نه دي. حاکم قوم کښې یو قسم کشش
وی او محکوم قومونه خو په خو د ځان ته راکاږي. دغه وجه وه چه ما به پیرنګیانو سره
نه لیدل هغوی به زما خلاف پراپیګنډه کوله چه دده د پیرنګیانو نه نفرت دی. زه خو خدای
خدمتګار یم او د خدای خدمت خو د خدای د مخلوق خدمت دی ایا پیرنګیان د خدای
مخلوق نه دي؟ او دا نه چه ګوندی په دی کښې یوازی زمونږ وزیران فیل شول، د
امتحان که مونږ کښې په هرچا راغلی وای هغه به پکښې پاتی راغلی د ددی نه هغه سړی بچ
کېدی شی چه ددی قسم موقع پیدا کېدو نه ځان وساتی ما د ډاکټر صاحب د پاره د پیرنګیانو
سره داسی تعلقات د پرخطرناک کنل ځکه چه په هغه د مجلس د پراثر کېږي هغه چه د انګلستان
نه راغلی و نو په هغه د پیرنګیانو د پراثر و پیرنګیان ورته پاک اوریښتونی بنکاریدل
خپل قام خلک ورته دروغجن بنکاریدل. زه دا منم چه پیرنګیان پاک اوریښتینی دی
د خپل قام د پاره، مګر د بل قام د پاره او خصوصاً په سیاست کښې د غه شان نه دی.

د جواهر لال دوره:

په دغو ورځو کښې جواهر لال سر حد ته راغی، پنډت جواهر لال چه زمونږ صوبې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اول ځل راغی نو په ټول ښار کښی مونږ دده جلوس وکړو لو، په زړ کونو خدایی خدمتګار
ورته هرځای ولاړ وو او بیا په شاهی باغ کښی یوه لویه جلسه دده په درناوی وشوه دې جلسې له
سرکاری او قومی د هر مخلوق راغلی وو قومی نظم مونږ پکښی وویلی شو سره ددی چه جواهرلال
په پښتونه پوهیدلو خو ددی نظم نو او ددی نظارې او ماحول نه د هر متأثر شوی و دا نظم
چه پکښی وویل شو چه: (زمونږ سړی جامی زړې کړې د خانانو نوکرانو) نو د هر و خلکو ورته
زړل او چه ټهکال له تلو نو جلوس کښی یو سیکه چه د خدایی خدمتګار و کمانډو باور ډ
مخکښی روان واو د نعرهٔ تکبیر چغې یې وهلی ماجواهرلال ته ووې چه وګوره دا سکه
دی خو دلته د دومره قومیت او اتفاق خدایی خدمتګارۍ پیدا کړې دی چه دی د نعرهٔ
تکبیر نارې وهی. داکټر صاحب ځمروجي ته زما د اشکایت وکړو چه دی مونږ د پیرنګیانو
سره د تعلقاتو ساتلو نه منع کوی، جواهرلال ما سره په دی مسئله د هر بحث وکړو چه دا
خبره د تهذیب نه لرې د پریوتی ښکارې ما ورته ووې چه زه منم ماته هم دا خبره سمه نه ښکا-
ی خو دی کښی د دومره فایده نشته لکه چه څومره پکښی نقصان دی نو مونږ به هغه تهذیب
نه کړو چه په هغه زمونږ قوم او ملک ته نقصان رسیږی لیکن هغه زه په دی خبره مجبوره کړم
چه ماله په دی معاملا تو کښی د خل کول په کار نه دی. نو ما دا خبره غلی کړه چه کله به زه پیښور
ولاړم نو ما به کتل چه یا به د داکټر صاحب د پیرنګیانو مېلمه واو یا به پیرنګیان د ده مېلمانه
شه. د ده او د پیرنګیانو تعلقات د دومره زیات شوچه حکومتی کارونه خو پرې د ده هغوی
مونږ کو نو معاملو کښی هم د خل شروع کړو د پیرنګیانو او د خپل قوم په باره کښی د
داکټر صاحب هم بیا هغه زړه رویه شوه چه په د هر و کو ششو نو بدل کړې شوی وه خبره
وه چه د داکټر صاحب دا رایه وه چه پیرنګیان عموماً او مونږ خصوصاً د وزارت سره د هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعلقات وو او زمونږ سره یې پېره همدردی وه او دده ورور محمد ظفرخان زمونږ
زمه دار خدایی خدمتګار و. ددوی ټول خاندان زمونږ نخریک کښې دهرچا نه ورانړی
وو او دنورو وکیلانو په شان چالاک اودر وغجن نه وه ما داغوره وګڼله چه د محمد نواز
خان نه حقیقت معلوم کړم ماوې چه دی پوه نه شی او حقیقت معلوم شی. خیر زه دده
خای له لاړم ورسره کښینا ستم خبری موشروع کړې اخره کښې می تری ددی خبری
پوښتنه هم وکړه چه تاله خوبی هم دمسلم لیګ دعوت درکړی دی هغه وې هو اخوچه
دوسته یې فکر وکړو نو بیا پښیمانه ؤ خو خبره یې دخولی نه وتلی وه چه لږ فکر یې وکړو
نو راته یې ووې چه ما باندی خو دې چل وکړو زه واپس پښور ته راغلم او د اکټر صاحب
می ددې خبری نه خبر کړو حقیقت داوچه ددی قسم خبرو کښې خدایی خدمتګار و ته
هم قصور و د پردا سی خدایی خدمتګار و وچه وزارت ته یې غلط خبرونه رسول او
په دی وجه د اکټر صاحب عقیده په دی تینګه شوی وه چه ددوی ټول درد غجن دی
مګر په خدایی خدمتګارو کښې رښتینی خلک د پرو و خو د غجن یکښې وو د هغوی په
وجه رښتینی هم د شک نه خلاص نه شو. زمونږ چه حکومت جوړ شو نو مونږ له نو ی
خلک راغلل او مونږ په خدایی خدمتګارۍ کښې واخیستل د اخلک د خدمت د
پاره نه بلکه د اقتدار او دولت د پاره او هم د خدایی خدمتګارۍ د بدنامولو د پاره
په جماعت کښې داخل شوی وو دا زمونږ نه لویه سهوه او غلطی وشوه چه دغه خلک
مونږ پخپل جماعت کښې واخیستل په کار دی چه کله زمونږ جماعت اقتدار ته ورسید
نو دغسی تماشبین خو دغه اوابن الوقت کسان دی پخپل جماعت کښې دخه مودی
د پاره نه اخلی او چه بیا کله یې اخلی هم تحقیق په کار دی چه د اسی خلک واخیستی شی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه هغوی حقیقت کښې د خپل غرض د پاره نه د قام د خدمت د پاره پاڼه نه راځي زمونږ د صوبې ګورنر جارج کنګهم په باره کښې د ډاکټر صاحب عقیده وه چه دی د پرې ښه سړی دی او هغه خپل دوست او مرد کار ګڼلو د هغه دې عقیدې سره زما اتفاق نه وزه منم چه کنګهم د پرې ښه او هوښیار سړی وخو د پرې ښه پیژنګی هم زمونږ د پاره ښه کټه ی نه شو ولی چه زمونږ او د هغوی قامی مفاد بېل وو.

د ګاندهی جی دوره:

او س صوبه سرحد کښې خپل وزارت و، په راتلوځه بندیزنه ؤ نو ګاندهی جی هم په ۱۹۳۸ع کال کښې راغی د هغه هرکلی او استقبال چه په کوم شان وشو هغه یو تاریخي حیثیت لري. کوم څیز چه په ګاندهی جی د پرزیات اثر کړی وهغه د باورد ی خدایی خدمتګارو هغه نظم وضبط ؤ چه هغوی څومره په خاموشۍ حوصله او انتهایي وقار دا دزرکولو، لکونو خلکو جلسی او جلوسونه سمبالول ګاندهی جی ولیدل چه څومره په مینه او اخلاص خدایی خدمتګار خپل جلوسونه او جلسی منظم او قابو ساتی او دایی هم ولیدل چه په جلسو او جلوسونو کښې او لسونه څومره په جوش او بې باکه منښه د خدایی خدمتګارو سره تعاون کوي. ګاندهی جی غوندی ګرځنده او جهان دیده قامی او اولسی مشر هم په دې مجبور شو چه ولي ویل: «د ما پخپل ژوند کښې داسی خاموشه او منظمی جلسی د پرې کمې لیدلی دی» او څکه ګاندهی جی دا امید پیدا شو چه ددی د رنو او تورو زنو پښتنو په ذریعه د خپل ژوند دا مقصد حاصل کړی او لکه والی د زما دعاده چه پښتانه دې نه یوازی د اچه هندوستان له ازادی وګټی بلکه د دغه ازادی په برکت تولې دنیا ته د عدم تشدد د ازدین اصول ور معرفی کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاندھی جی به مونږ سره خندل چه د شپې تولې شپه ما په کاډي کښې تکی خوب نه دی کړی ولی چه د پنجاب په هر تیسن به مخلوقات راغلل د اتیل او دیکی به وې او چغې سوری او کړیکي به وې. کاندھی جی په غوږ ونو مالوچ تومبلی وو، په دی لړکښی ماته د جواهر لال نهرو هغه خبره را یاده شوه چه کله هغوی په اول ځل د صوبه سرحد په دوره راتلل هغه ویل چه د پنجاب په تولو تیسنونو کښی توله شپه خلکو چغې وهلی دی او مونږ یې تکی خوب ته نه پریښولو هغه نهرو جی چپل اند از کښی ویل چه د هغو یوه سړی د اکوشش وچه زما غوږ له خوله راوړی او د انقلاب زنده باد چغه یکښی ښه په زوره ووهی لکه چه د دی خلکو د اخیال وي چه د جواهر لال په غوږ کښی په چغه وهلو به انقلاب راشی خو هغه ویل چه یو تیسن کښی کاډي د د ډبلو او ما بیا دې چغو او کړیکوته خان تیار ولو چه کړیکی نه می سره کړو نو څه کورم چه د تیسن دیوسره تړل سره پوری په پلیټ فارم دیره جامو خدایي خدمتکارو لاړې دي نه تیل شته نه کړیکی نه دیکې شته، نه چغې، نه غوږل شته، نه د اندل یو مشر مالر راغی راته یې ووې: «مونږ ستاسو تری مه شی ته راغلی یو او تاته هر کلی وایو». زه ورکوز شوم هغوی تولو ماته په شریکه د باجوړه سلامی وکړه. جواهر لال وویل چه زه د دومره متاثر شوم چه زما غوني زیک زیک شو او بیا یې میا افتخار الدین ته چه هغه وخت د پنجاب کانګرس صدر و مخ کړو ویې ویل: «هیں کسی کے بتانے کی ضرورت ہی نہ پڑی کہ ہم شریف پٹھانوں کی دیس میں بسنے ہیں» یعنی مونږ ته د دی وینا ضرورت نه شو چه چا راته ویلی وي چه مونږ د شریف پښتنو خاورې ته راوړسیدو.

کاندھی جی چه د سرحد په دوره راغی نو اوله عامه جلسه په چارسده کښی مقرر شوه فدا عبد المالک صدر او انځر کمل سالار و دوی چه څرنګه خدایي خدمتکار و او څرنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدمت یی کړی واویایی چه څرنګه دکار خلک پیدا کړي وو نه داسی کار چاپه صوبه کښی کړی
اونه داسی خلک چاپه صوبه کښی پیدا کړي وکاندهی جی چه جلسی له راغی په جلسه کښی په زړ
کونو خلک ناست وو دهغوی په راتلو یوسړی دخپله ځایه ونه خوزیدو. دکاندهی جی موتر راغی
ستیج سره ودریدو مونږ دموتر نه راکوز شو. موتر لار. مونږ ستیج ته وختو هلته جلسه
شروع شوه. خلک خاموشه ناست وو تقریرونه یی اوریدل. کاندهی جی دی جلسی نه
دپرمتاثره شوا وچه تقریرله پاخیدونو ویی وي چه زه په دپره دنیا کښی گرځیدلی یم. دپری
جلسی می الیدلی دی خو ما داسی دسپلین اوداسی جلسه لیدلی نه ده اویا چه تلونوچه
څرنګی راغلی وو هغسی لاړل موتر ستیج له راغی دی پکښی کښینا ستوچه دی لاړنو جلسه
خوړه شوه نه مخکښی اونه خوک وروسته خوځیدلی دي. زمونږ دچا رهبری یوخان و
هغه به وي چه زه په داسی یوه دله کښی نه شریکیږم چه دکومی دلی مشر چه بنجارهی او
قصاب اوشاخیل وي. زمونږ مشر هی په خانی نه وه په خدمت وه. زمونږ داتمانزو
جرنیل شاخیل و زیاتر ټکل نوم یی وو، ددوی ماتحت دپرخانان، اربابان. میاکان او
ملایان وو، ددوی حکم به یی لکه دتخوا دارونوکرانو په شان منلو اودایوانهی ددوی نه و
دهرافسر چه هغه به هرځوک و، په خدایی خدمتګار ګڼلی وروروی وه محبت و
او هکاړته به چه مقرر شو هغه به یی په مینه محبت کولو. کاندهی جی دتولې صوبې دورې شروع
کړه، دپیښور نه پس مونږ کوهاټ ته روان شو چه دری ته ورسیدو نو دپرافریدی د
هغه استقبال ته راتول شوي وو پکښی څه هندوان وو دا هغه هندوان ووچه دغه ازاده
قبایلی علاقه کښی اوسیدل او دکانونه یی کول ما کاندهی جی تروی چه دوی نه تپوس وکړه
چه په دی ازاده قبایلی علاقه کښی ستاسو مال، ځان اوعزت محفوظ دی؟ دلته هم چیرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تاسو د اکی پریږدی نو کاندهی جی تری تپوس وکړی نو هغوی ورته ووی چه زمونږ هر څه محفوظ دی او چه څوک په مونږ زور زیاتی کوی نو دوی د هغو مقابله کوی ماورته ووی کاندهی جی! هغه ټولی د اکی سیاسی د اکی دی د پیرنګیانو په رعیت کښی او تاسو پری ویروی ولی. زمونږ د رایورو زمونږ کا دی به هغه چلولو. ولی د پرښه د رایورد ی. چه کوهاټ ته ورسیدلو نو د کاندهی جی استقبال ته د پرخلک راغلی وو یا لویه جلسه وشوه بیا ددی خانه بنو ته لاړو بیا د پرو اسماعیل خان ته لاړو. دهغه ځایه پیښور ته راغلو او د پیښور نه مردان ته لاړو او بیا د مردان نه هزاره ی ته لاړو. او بیا د هزاره ی نه کاندهی جی هندوستان ته روان شو. کاندهی جی د خدایی خدمتګارو د د سپلین او عدم تشدد نه د پرخوشحال و.

د سرحد د خلکو سره د کاندهی جی دومره مینه محبت وچه ماسره یی وعده کړی وه چه که ته وایی نو زه به شپږ میاشتی په صوبه سرحد کښی او شپږ میاشتی په سیګوګرام کښی تیروم. سردار پتیل سرحد ته د کاندهی جی په راتلو خفه و او په دی خبره یی و رسره همیشه اختلاف کولو. سردار پتیل دا نه غوښتل چه کاندهی جی سرحد ته لاړشی د پتیل دا کوشش وچه مسلمانان په کانګرس کښی را نه شی. کانګرس کښی یوسی وچه هغه مسلمان وخوړه ته هندو ښکاریدلو نو هغه ته یی ویلی وو چه پام کوه دا مسلمانان د نه کانګرس ته را نه شی.

کاندهی جی ته د صوبه سرحد وکیلانو او بیرسټرانو د اکټر صاحب په بنګله کښی یوه سپاسنامه د سردار عبدالرب نشتر په ذریعه پیښ کړی وه او په هغی کښی یی و رته لیکلی وو چه مونږ په دی فخر کوو چه ته زمونږ هم پیشه یی یعنی وکیل یی. کاندهی جی و رته د پر مزید ارجواب ورکړو چه: زه ستاسو هم پیشه نه یم دا څه ښه پیشه نه ده دکوم وخت نه چه ما د خدای د مخلوق خدمت شروع کړی دی نو دا پیشه می پرښی ده تاسو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم په کار دی چه دا پیشه پریږدئ او دملک خدمت ته ملا وتړئ .

زمونږ د وزارت قایمید ولږه موده شوې وه چه په دې کښې ډګورنر یو سرکاری دعوت (ایټ هوم) راغی څنګه چه په دې کښې د شرکت د پاره نور د خلکو ته لیکل شوی و په دې کښې یې د اکتر صاحب له هم دعوت ورکړی و . په دغو ورځو کښې په کلکته کښې د کانګرس ورکینګ کمیټئ جلسه وه څه هغی له تللم د اکتر صاحب ماسره د اخبرې وکړه چه مونږ ډګورنر په دې ایټ هوم کښې شریک شوکه نه ؟ ما ورته ووې چه د کانګرس وزیران په هیڅ قسم سرکاری دعوتونو کښې شریکیږی نه شی . هغه ووې چه سبه به دا وی چه د کاندهی جی نه تپوس وکړی ! اویا مالته دا راکړی چه چیرې دده اجازه وی نو په هغه تار کښې صرف "هو" ولیکه او که نه وی نو صرف "نه" ولیکه . زه چه کلکتی ته ورسیدم او د کاندهی جی نه می پوښتنه وکړه هغه ووی چه د غه رنګ سرکاری څیزونو کښې مونږ نه شریکیږو نو ما د اکتر صاحب له د "نه" تار ورکړو څه وخت چه د اکتر صاحب ته تار ورسید نو هغه ګورنر د دی خبری نه خبر کړو او ګورنر د اخبرې پته نه کړه او په "ایټ هوم" کښې د د اکتر صاحب خلاف د پره پراپیګنډه وکړه . ملک خدا بخښ ته یې د خلکو په مخکښې وویل چه د اکتر صاحب خو شرکت غوښته خو د بره نه ورله تار د راغی نو ځکه شریک نه شو کله چه زه واپس راغلم او د دی خبری نه خبر شوم نو د اکتر صاحب ته می ووې چه دا سې ستا دوست نه دی او د اخبری د دوستی نه دی بلکه د شرافت نه هم لیری دی مګر د د اکتر صاحب داسی طبیعت وچه د ارنګه خبری به هغه ته لږی وړځی یا د ی وی نیا به تری نه هیری شوې .

په کلکته کښې سوباش چندر بوس او د هغه وروره شرت چندر بوس د ورکینګ کمیټئ د ممبران و د پاره د پرښه انتظام کړی و او د هر یو د ارام او خوشحالی فکر

(c) ketabton.com: The Digital Library

به یې ساته کاندهی جي یې پخپل کور کښې ډیره کړې وه. زه یې دیوډ پرلوی تعلقدار سره ډیره کړې وم او دغه شان دنورو ممبرانو حال وه. دکاندهی جي به یې په هر خدمت کولو. زه کاندهی جي سره ناست وم چه سوباش بابو هم راغی دی دخپلی ناجوړتیا نه پوره جوړ شوی نه وه او کاندهی جي ورته ووې چه ته خو لا پوره جوړ شوی نه یې نو دکانګرس صدارت خو کولی نه شې ده ووې نه جي! زه خو اوس په پرمنډیم اودغه کار کولی شم، زه پوه شوم چه دده دا دومره دارومدار ددی خبری دپاره دی چه په جلسه کښې د ورکینګ کمیټې ټول ممبران دده تجویز پاس کړي. لالی په هغو وخوکښې دانتر نس امتحان نه وو ورکړی او په واړه کښې وُ جمنا لال جي بجاز چه اجلاس لرلو نو لالی یې خان سره راوستی وه. لالی سره یې **ډیره** مینه کوله او په ډیه زوریې ماته ایله دیوی شپې د پاره پریښې وه. دجلسې دختمیدونه پس هغه کاندهی جي سره واړه دی ته لاړو او زه خپلی صوبې ته راواپس شوم.

وزارتونه او خدایی خدمتګار:

مونږ خو وزارت ددی دپاره اخیستی وچه خپل جماعت مضبوط کړو او دپیرنکی دله کمزورې کړو، ددی دپاره په سرحد کښې موهغه ټول انعامونه بند کړل چه دسرکار له طرفه به خلکو له ورکیدی شوولی چه په دی صورت به دی خلکو ډاپی دخلکو له بیت المال نه اخیستی او خدمت او تابعدارې به یې دپیرنکیانو کوله اودغه شان انریزی میجسټریتی موهم ماتې کړې او ضلعدارې موهم ماتی کړې. خکه چه داټول خلک دپیرنکی دله وه. بل کار مودا وکړو چه غریب خلک مود ملکانو دځوکیدارې نه خلاص کړل چه په دی وسیله نه هغوی به خلکو په هر زیاتی او ظلمونه کول. زمونږ دا هم اراده وه چه دکاونمیردار ان

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې هم مات شی ځکه چه داهم د پیرنکی یوه مضبوطه دله وه ، مونږ غوښتل چه دهغوی په ځای دی دمالیی د تولولو د پاره په هر تحصیل کښی نایب تحصیلدار مقرر شی ، مګر په دی کښی کامیاب نه شو ځکه چه زمونږ د اسمبلی ځینی ممبران پخپله نمبرداران وو دا زمونږ د غلط انتخاب نتیجه وه او اینده له پاره مونږ له ددی نه سبق اخیستل په کار دی بله داچه د کوهاټ د تیری ریاست په خلکو دوه ظالمانه ټیکسونه ووچه هغه ته به بوا او تیرنی ویلی شو ، په اسمبلی کښی دهغه د لیری کولو د پاره قرارداد پاس شو .

یوه بله عجیبه خبره د ښه وکړم ، یوه ورځ زه اوقاضی صاحب په ایبټ اباد کښی مازیګر په سړک کړ ځیدو مونږ ولیدل چه زمونږ نه وړاندی جینکی د ي او وړپسی هلکان دی ، دا ماته بده ښکاره شوه ، ما قاضی صاحب ته وویل چه ستاسو د وزیرانو د ومره اختیار شته چه ددی مخنیوی وکړئ ځکه چه داخو زمونږ بچی دی ، د دوی عزت زمونږ عزت او د دوی بی عزتی زمونږ بی عزتی ده قاضی صاحب راته وویې چه مونږ قانوناً د ومره اختیار نه لرو ، ما ورته وویل چه مونږ د خپلو لونو ، خویندو او میاندو د عزت حفاظت نه شو کولی نو د داسی حکومت نه څه فایده . تعلیم کښی هم څه نه څه ترقی وشوه په اخر کښی سکولونه پرانستی شول او هغه کښی کافی برخه د جنکو د پاره وه او څومره چه مونږ غوښتلو هغومره تعلیم خو ریدی نه شو ځکه چه ددی د پاره په بجټ کښی لږ رقم مقرر شوی و ، چه د هغه زیاته برخه به د محکمی په خرڅونو لګیده له مونږ هغه کښی هم څه بچت وکړو ، د انګریز د ایرکټر په ځای موږ دیسی سړی ولګولو او د انسپکټر عهده مو لیری کړه نور هم پکښی ګنجایش ومکړ د هغه اصلاح زمونږ دوسی نه بهر وه . د تعلیم په باره کښی چه کوم زیاتی د پښتنو برخلاف پیرنکیانو کړی دی هغه یې په هندستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښې دبل چا سره کړې نه دی ۰ د پښتنو د ټولو د پاره ددی بی کاره تعلیم بی هم د پر لږ انتظام کړی و او د جنګو د تعلیم طرف ته بی اډوخه توجه نه وه کړې بله د ښمنی د پښتنو سره دا کړې وه چه ابتدایی تعلیم بی په مورنۍ ژبه نه وه او په پردۍ ژبه کښې د پښتنو د ځپلو ټولو د پاره د ځپلو مدرسو د جوړولو کوششونه به وکړل او مدرسې به بی جوړې کړې مګر حکومت ددې په ځای چه هغوی سره امداد کړې وای د هغه مخالفت به بی کولو او د هغو د بندید و کوششش به بی کوو ۰ زمونږ وزارت دا قدم هم او چت کړو چه په ابتدایی مدرسو کښې بی پښتو ژبه لازمی وګرځوله او بل طرف ته زمونږ قوم ټول عمر د بلی د پرق دلاندی تیر کړې و هغوی اختیارات لیدلی نه وو او نه ورته دا معلومه وه چه اخر زمونږ اختیارات څومره دي مونږ دوه اځیز ګټلی و او قوم د د پی غوسټله او د اهم پریږد ده چه د جایز او ناجایز هیڅ قسم تمیز نه و او د هر سړی دا خیال وچه لوټ دی نور د وکړو او زه پاتی شوم نور قوم خولا پریږد ده د د خدایی خدمتګار د هم دا حال وچه هر وخت به د وزیرانو په بنګلو کښې ناست وو تاپې او ټحصیلونه د دوی نه خالی نه وو او هر یو به چه څوی که هغه به و شو خوښه او که هغه به ممکن نه و نو بیا به بی د وزارت برخلاف پرا پیګنډه کوله چه د غریبانو خلکو د پاره څه وشتو او مخالفینو به هم پری مالګه ، مرچکی دوه ول ، بیا به بی کلو کښې پرا پیګنډه کوله چه د خدایی خدمتګارو او غریبانو هیڅ ونه شو په هغه طریقه د غونډو دانانو د وستانو څپل تحریک ته نقصان ورسولو ما چه به د خدایی خدمتګارو دی کار ته کتل نو حیرانیدم به او د ځان سره به می وې چه خدایه دا هغه خلک دي چه د وې خدای سره وعده کړې وه چه مونږ به ستا د پاره د ځپل قام او ملک

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدمت کوو لپاره لالچ نه د پیرافسوس خبره خولا دا وه چه څه وخت به یو ملامت
و یا یوه وظیفه وه نو دهغی د پاره به سلوخدایی خدمتګارو درخواستونه ورکړی وو
څو وظیفه به یوه وه یوسړی له به ورکړیشوه هغه به هم خدایی خدمتګارو دانوریوکم
سل خدایی خدمتګار به قول خفه وو، اودوزارت اودخپل تحریک برخلاف به یې
صرخای پراپګنده کوله اوتشه پراپګنده نه وه. کنځل اوبدویل به هم ورسره و.

کومه ورځ به چه دنوکرودپاره دمقابلی امتحان ونوعجیبه نظاره به وه په
سوونوامیدوار به وو اوهریوامیدوارمنه به د سفارش د پاره جرنیلان، کرنیلان
صدران اوناظمان راغلی وو عجیبه خبره خولادا وه دهغوکسانودزامنودپاره به
ی هم سفارشونه کول چه پلرونویی دحکومت دپاره دوی سپه پولي وو اوشهیدان
و اوپه موجوده وخت کښی هم د پیرنګیانو ملګری وو. ماته به دخدایي خدمتګارو
سی کارونه پریښودل اومګروه سپکاریدل که دامیدوار به څه وشواوکه نه ددوی
ر به وشو په موټرو کښی به وګرځیدل چای، دوډی به یې وخوړل اوپالوده پرې
پاسه. په دی کښی بل لوی نقص داوچه قول کسان خو به نوکران کیدی نه شول نو
غوکسانو اودهغوی خپلوانو به خدایی خدمتګارونه پیغورونه کول چه لجپلخانی
سوټپری کړې اوفایدی دنورو خلکو دی ستاسو پکښی څه وشو؟

زموږ دوزارت نه یوه لویه غلطی داهم وشوه چه دسرحد هغه وحشی اوظالمانه
نون چه موږ ته لو ورسره مخالفت کړی و اوزه قول عمر پیرنګیانو په دی قانون
ی گرفتارکړی اوقید کړی وم، دی وزارت اول دغه سرحدی قانون مات
و. هغه پیرنګیانو زموږ دوزارت په ذریعه بیا واپس جاړی کړو جماعت سره یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه سلا او مشوره څه چه زه یې هم خبر قدری نه کړم. حال هم دا چه په کار دوچه دا سی
نه وای شوی د جماعت نه تپوس شوی وای او که چیری د جماعت رضا نوی نو دوزیر انو
هیڅ حق نه وو چه هغه مروجه قانون یې بیا زاړوندی کړی وای. په دی قانون یو خو د پیښ نګیانو
اقتدار ذیات شوی څکه چه په جرګو کښی د مقرر بدو په طمع خلک ورمات شول او سلامونه
یې شروع کړل اوبل زمونږ د پرخلک د سرحدی قانون په ذریعه حکومت قید کړل او یا
خو مونږ هیڅ ویلی نه شول څکه چه دغه قانون مونږ پخپل وزارت کښی اجرا کړی وای
زه تول عمر پیر نګیانو په دی قانون کښی قید کړی یم اوبل طرف تول سرکاری نوکرانو
زمونږ برخلاف یوه منظمه پراپیګنډه د خپلو افسرانو په لاڅ کښه شروع کړه، دوی
اړه د وزارت څه پروانه کوله او نه یې څه ګنل د پرځله ما سره په خپل ځان په پروسه کار
ملازمانو د خلکو په مخکښی د خدایی خدمتګار و برخلاف قصی کړې دي. دغه شان
زه یوځل سره د عاشق شاه باچا د مومندو د کوه دامان په دوره وو. د هغی علاقی
تاښیدار به مونږ سره وهغه به زمونږ برخلاف پراپیګنډه کوله او خلکو ته به یې ویل
چه باچا خان خو غوا نه حلالوی ان تردی چه په یوه لویه جلسه کښی ځینو کسانو د دده په
لمسه شور جوړ کړو اوزما د تقریر په دوران کښی یې زانه د اسوال وکړو چه ته غوا حلا
لوی ماورته وې چه زه خو قصاب نه یم او مسلمانی خو څه په غوا حلالو باندی نه ده
د افصه د اکټر صاحب اونورو وزیرانو ته ورسیده اول خو د اکټر صاحب د عاشق شاه
باچا په خوله یقین نه کولو او چه یقین یې وشو نو بیا یې هم د هغه تاښیدار څه ونه کړی شته
د اخو پریږده زمونږ کلی کښی د جواری پرو د اکټر صاحب د ری ځله پخپله د دی
پر بند ولو د پاره د اغلی و لیکن بند نه شو څکه چه د اخو د پولیس کا زوا و پولیس ملا

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه کولو هغوی خو به یکښنی حصه اخیستله . داکټر صاحب پخپله یوسړی په رشوت
نیولی و په هغه مقدمه چلید له خواخو مجرمیت بری کړو . حقیقت داوو چه سرکاری افسران
دصوبی دوزارت نه نه وو بدل ولی چه دوی هغوی له سزا نه شوه ورکولی ، چه کوم سرکاری
افسرنه به وزارت نارضا شوا د هغه له دسزا ورکولو اراده به یی وکړه ، نوکونکو اولوی انګریز
افسرانو به دغه افسر سمدستی دصوبی په خواکښنی ایجنسو ته بدل کړو اوپه دی طریقه به هغه
دسزا نه بچ شو . نتیجه داشوه چه سرکاری افسرانو دوزیرانو په ډاکه حکم عدولی کوله اود
هغوی سره یی دهیڅ قسم تعاون نه کوو . د دی تولو خبرو د پاسه داکټر صاحب خیال وو
چه سرکاری افسران د هغوی وزارت سره تعاون کوی . په خوشدل کپتان د ونود تولو
مقدمه جوړه شوه او بد پکښنی راګیر شو نوکورنر راغی اوداکټر صاحب ته یی ووی چه
داسړی به زه ددی ځای نه بدل کړم خودا مقدمه تری واپس کړه داکټر صاحب ته خپلو
ملګرو ویلی ووچه داکپتان ډیر خراب سړی دی ده په خدایی خدمتګار ډیر ظلمونه کړی
دي وهلی یی دي ، شړمولی یی دی ، بیګناه یی قیدکړی دی . خو داکټر صاحب عجیبه سړی
و . د دی تولو خبرو د پاسه هغه یی ګورنر په خوله بدل کړ . د غه خیال زمونږ او زمونږ
د تحریک د پاره ډیر خطرناک و اودغه وجوه وه چه د حکومت ملاز مانو زمونږ تعاون
کړو او انګریزانو به چه څه ورته ویل هغه به یی کول او د دی ملاز مانو دایقین وچه واک
اختیار د دوی نه بلکه د انګریزانو دی د غه شان زمونږ د اسمبلی ممبران او د پستر کټ
بورډ ممبرانو هم د اخبره هیره کړه چه مونږ د قوم په ووټ منتخب شوی یو او هر څه
چه کوو په کار دی چه د قوم د پاره وکړو . عجیبه خبره خولا داوه چه په ډسټرکټ بورډ کښی
ونورو ځایونو کښی چه به کوم سړی دوی مشر مقرر کړو هغه به په دیانتداری سره کار کاوه او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلو اصولو پابند به و او ددوی ناجایز سفارشونه یې نه منل نو دوی به د هغه غوږ ځولو کوشش
کولو. لویه د افسوس خبره دا وه چه د دوی خپل خدایی خدمتګار و ورو دوی سره به یې په
یوه کلی کې قید و نه تهر کړی وو د هغه په ځای به یې هغه سړی له روت ورکولو چه خدایی خدمتګار
به نه و د نلی مار به ژوبله کړه. د هغوی زیږی وهلې او د ده خوشامندی به یې کولی. د
جګړاخان په دوی غوږی زیږی وهلې وې او بله داچه دی خو د پیر نګیانو د نلی مار و، هغه
زمونږ خدایی خدمتګار نه وخوتول د هغه ملګری شول او هغه یې د خپل خدایی خدمتګار په
مقابله کښې کامیاب کړه. وزیرانو به هم چا سره سلا مشوره نه کوله هغوی زمونږ دی و د رونو
داسی وار خطا کړی وو چه خپلو کښې هم د دوی سلا مشوره نه وه او نه د اصولو پابندی وه.
والیسرایی راغی دوی د هغه هر کلی وکړه او بیا د دوی کښې د سره د اکتر صاحب شریک
شو مانه د کانګرس دهای کمانډ نه تار راغی چه د اخه مو وکړل؟ د غه شان زمونږ د اسمبلی
په ممبرانو کښې هم د لې جوړی شوی وی په دستر کت بورډ و نو کښې هم پرې جنبی وې
د خدایی خدمتګارانو هم د غه حال و نو ر خو لا پرې ده چه د د اکتر صاحب او قاضی صاحب
په مینځ کښې د کلی کهړی ارباب عبدالرحمان خان او میا جعفر شاه سخت اختلاف پیدا
کړی و. د اکتر صاحب او قاضی صاحب زمونږ د پر ذمه دار خدایی خدمتګاران وو او
د وزارت نه مخکښې د دوی یو بل سره د پره مینه محبت، د د ر ولی او سنه تعلقات وو.
زمونږ چه به په ملک کښې د ډیره کولو نو زمونږ خلاف به پر نګیانو پراپیګنډه کوله او ملایانو تته به یې
ویل چه دوی بالشویک دی. دوی مذهب ورکوی او تاسو ورکوی او خانانو. ملکانانو تته
به یې ویل چه دوی خو ستاسو نه هر څه اخلی او غریبانانو له یې ورکوی. ملایانو زمونږ سره د ښتینی
ولی نه کوله او د هغوی یې منل. او د هغوی خبرو لپسی تلل. ولی خانان او ملکان یې د اتلل

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ هغه بلې تپوسونه کول، زه د دواوی په دوره وم چې د غلته څه خانان او ملکان راغلل
اوزما نه یې تپوس وکړو چې مونږ څه او روچې تاسو زمونږ نه جاید اد ونه اخلئ، اوغریبانانو له یې
درکوئ، ما ورته اووئیل چې مونږ له خدای داسې ملک راکړې دی چې د دولتو نو او نعمتونو نه ډک
دی، که مونږ ازاد شو او دا ملک زمونږ شی او مونږ ملا وتړو، دا ملک اباد کړو، نو څوک به غریب
پاتې نه شی، مونږ به تول خانان شو زمونږ څه ارادې نه ده چې ستاسو نه جاید اد او ملک واخلو
مونږ خو ستاسو حالت هم سنه کول غواړو او د ورځې مزدوري مارې شی نو
تاسو ته څه تاوان دی، که تاسو د پیرنګیانو ملک ته لاړئ نو هلته نور خلک خو پرې ده د مزدورانو
پې بنګلې او موټر ونه وو او ستاسو نه تپوس کوم چې ستاسو موټر شته، بنګله شته؟ که زمونږ تحریک
کامیاب شو نو د ملا حالت به هم سنه شی او د خان او ملک حالت به هم سنه شی، مونږ دا هر څه چې
کوو نو د خدای د پاره نه کوو، دا د دی قوم او ملک د پاره کوو.

چې مونږ د صفایی کار شروع کړو او کلوته تلو جاروکانی به راسره وې، جماعتونه، حجرې
اولاړې، کوڅې به موجاروکولې، نو د پیرنګیانو ایجنټانو به خانانو، ملکانانو او ملایانو نه وویل
چې دروی د دی جاروونه مطلب دادی چې په تاسو جاروراشی او دا ملک دغه شان ستا-
سونه پاک شی خو زمونږ په کوشش قوم کښې رورولی، عزیزولی، قام ولی او سیاسی شعور پیدا
شوی و، نو چې څومره به دوی زمونږ خلاف پراپیګنډې کولې هومره به په قوم کښې مونږ سره د
خلکو همدردی زیاتیده، ولی چې هغوی به لیدل چې مونږ خو هغوی خدمت کوو او د هغوی د حق
د پاره پیرنګیانو سره په جګړه یو، تکلیفونه، مصیبتونه او جیلخانې تیروو. خلکو به وې چې جیلخانې
دوی تیروی او حق زمونږ د پاره غواړی، دغه وجه وه چې د قوم او خلکو مونږ سره د پوره همدردی
وه، خلکو ته معلومه وه چې د "۱۹۱۹ع اصلاحات" هندوستان نه قبلول، هغوی وئیل چې لږ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولی دصوبه مرچد نوابانو، خانانو، صاحبزادګانو، سیدانو اوزبرګانو دا اصلاحات غوښتل
خو پیرنګیانونه ورکول. ورته یې وئیل چه تاسو لپښتانه په حکومت څه پوهیږئ تاسو خنګلیان
خلک یئ دا اصلاحات څودوی (خدایی خدمتګارو) مونږ له ګټلی دی. بیادی قوم ته معلومه وه چه
دا دوټ خو باچاهی وه. خکه چه حکومت په دوټ جوړیږی او دوټ راله دوی ګټلی دی.

حقیقت دادی چه زمونږ تحریک ته د هر نقصان اقتدار ورسولو. دا خو د غرنه خلک
دا اقتدار په انتظار کښی وو چه اقتدار راغی. نو دوی په مونږ کښی راننوتل. دوی خو خدمت له نه وو
راغلی اقتدار پسی راغلی وو، نو مونږ کښی یې دهغې خپل اقتدار د پاره پری جنبی پیدا کړی.
اقتدار خراب شی نه دی مونږ هم چه کوشش کوو دا اقتدار د پاره کوو. خو اقتدار د حکومت
د پاره نه، د خدمت د پاره زمونږ د خدایی خدمتګارو خو دا قاعده وو چه مونږ به د یو کار د پاره
څوک مقرر ولو، نو مونږ به قول به د اغونډ شو. ما به ورته اوویل چه دا کار دی اوددې کار د پاره
مونږ له یوسړی په کار دی، تاسو یوسړی خوښ کړئ چه ددی کار لایق وی اومانته یې راکړئ
هغوی به یوسړی خوښ کړو اومانه به یې راکړو. داسی به په دی کار کښی نه دچا خفګان وو
نه کیله، نه مخالفت. مونږ به تولاندی کښی د خدایی خدمتګارو صدر انتخاب وو، او بیا
خان صدر منتخب شو. هغه مانه راغی مانه یې اوویل چه باچاخانه زه خو خدایی خدمتګار
زه که صدر یم هم به خدمت کوم او که صدر نه یم هم. زمونږ مولوی صاحب به صدارت خوښ حالیږی
نو خوښ به دی نه وه چه دا صدارت هغه له ورکړم، ما ورته اوویل چه ستا خوښه ده. نو زما هم خوښه
ده. نن تاسو دی سیاسی جماعتونو ته ګورئ، په دوی کښی دا جګړی، مخالفت پارټی بازی
او جدایی داخه څیز پیدا کړی دی دا اقتدار!

زه دی قوم ته وایم چه تاسو تر خوبی غرنه، دیانتدار، ایماندار، په قوم او ملک مین

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلک پیدا کړې نه دی، نو نه دا ملک ازادیږی او نه داقوم.

بیا ووټ دی، نوزه د ووټ مخالف نه یم. دا مونږ چه په کومه طریقه خپلی جماعتی او قامی فیصلی کوو دا ووټ نه دی؟ او دا جمهوریت نه دی؟ او دا ووټ مونږ په قربانو کتلی نه دی؟ خو زه دا وایم چه زمونږ داقوم د ووټ په حقیقت پوهول غواړی او باید چه په دی هم پوه کړو چه ووټ هغه چا له ورکول په کار دی چه څوک یې مستحق دی. د ورور عزیز ته یا په پیسو ووټ خرڅول نه دی په کار. زه خو وایم چه څوک په پیسو ووټ خرڅوی د هغه د ووټ حق خیستل په کار دی. د خود غرضو خلکو په وجه خدایی خدمتګار و کښی هم خود غرضی پیدا شوه. دیوی حلقی نه به یو ممبر کیدو او د هغه خواستونه به سلو کسو ورکړل. چه یوسړی به وشو نو یو کم سل به خفه وو بیا به یې پارلیمنټری بورډ ته بلدرد وئیل. د غه حال د ملا زمتو وو چه ځای به یو وو. او امیدوارانو به سل وو. نو نوکری خو به یوه وه. دیوسړی به ورسیده. یو به خوشحال شو. یو کم سل به خفه وو. نو بیا به یې متعاقه وزیر ته کنځل کول. او مسلم لیګ به دا پراپیګنډه کوله چه د غریبو څه حال شو. بیا به ما له هم راغلل شکایت به یې راته کولو. ما به ورته وئیل چه دا سړی چه مقرر شوی دی دا خدایی خدمتګار دی او که نه؟ دوی به او وئیل چه خدایی خدمتګار دی، ما به ورته او وئیل چه خدایی خدمتګار دی نو بیا خو دا یوه نوکری ده یوسړی ته به رسیده بله دا چه ما به تپوس کړو چه دا کوم خدایی خدمتګار چه مقرر شوی دی دا د وزیرو د ورور عزیز دی. د هغه د ورور د زیر مقرر کړی دی نو وئیل به یې چه نه. نو بیا به ورته ما او وئیل چه دا ښه کار نه دی چه تاسو خپلو وزیرانو لپسی بلدرد وائی.

پیر ګلیانو نه خو دا معلومه وه چه دا یو اصولی جماعت دی چه څه وایی هغه کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ خلکو ته وئیلی وو چه څوک یې کهٔ هغه به یې څښتی او پیرنګیانو ته داهم معلومه وه چه
دوی دنورو سیاسی لیډرانو غوندې نه دی چه قوم سره د انتخاباتو وخت کښې کومې وعدې
وکړی نو یوه هم نه پوره کوی نو چه زمونږ وزارت شونو هغوی سره فکر شوا و زمونږ د بد
نامولو کار ونه یې شروع کړل . یوه ورځ قاضی صاحب ماله راغی چه ډاکټر صاحب خو دګورنر
کنګرس سره د ملاز متونو په باره کښې داوعده وکړه چه دی د باره به کمپی تیشن
(Competition) (د مقابلی امتحان) وی چه څوک لایق او قابل وی هغه به اخیستې
شی که چیرې داسی ونه شی نو ایډمنسټریشن (اداره) به خراب شی داقسم مسئلې د
زمونږ یوه کمیټئ وه ، هغې ته پیش کیدې . زه هم د کمیټئ ممبر وردم ، ما قاضی صاحب ته
اووئیل چه ته هغه کمیټئ راوغواړه ، څه وخت چه د کمیټئ اجلاس شروع شو نو ما د ډاکټر
صاحب نه تپوس وکړو چه ډاکټر صاحب تا ډګورنر سره فیصله کړی ده ؟ ډاکټر صاحب
اووئیل چه کمپی تیشن نه وی نو بیا خو به قابل خلک رانشی ایډمنسټریشن به خراب شی
ما ورته اووئیل ډاکټر صاحب ملا د انګریزانو په حکومت کښې داسی خلک لیدلی دی چه
ملازمان دی او دستخط کولی نشی . بلکه داچه پیرنګیانو ته به څوک د ملازمت دپاره
پیش شونو دوی به تری اول داپوښتنه کوله چه د سرکار دپاره څه خدمت کړی دی
او هغه خلک به یې اخیستل چه د سرکار خدمت به یې کړی وو . نو مونږ ته هم په کار دی
چه هر هغه اخلونو داپوښتنه تری کوو چه تا یا ستا پلار دی ملک او قوم څه خدمت کړی
دی او دا خدایی خدمتګار خوتهول عاجزان دی ، دوی خو پخپل اولاد پیخپل کلی کښې
هم سبق نه شی ویلی او دولتمند خو دلته نه چه په یورپ او امریکا کښې پخپلو بچو سبق ویلی
شی نو دی خو دا مطلب شو چه قربانی خو غریب وکړه او چه څه کلته او شوه نو هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خانانو بچو واخیستہ چہ خوک د ملک او قوم دا زادی جنگ کښی د پیرنکی ملکری دو
زہ د کمپی تیشن (مقابلی دامتحان) خبرہ منم خو بہ دی شرط چہ تاسو دی غریبانانو
بچولہ دغہ شان تعلیم ورکړئ ۔ څنگہ چہ دولت مند خلک خپلو بچولہ ورکوی ما وتہ اوویل
چہ کہ تاسو دی سرہ اتفاق نہ کوئ نو سبہ بہ دا وی چہ استعفا ورکړئ ۔ پاکتر صاحب
را تہ جواب کښی اوویل چہ زہ ددی کمیتی نہ استعفا ورکوم ۔

لنډہ دا چہ زہ پہ دی نتیجہ ورسیدم چہ څومرہ زر کیدی شی مونږ لہ وزارت
پریښودل پہ کار دی ځکہ چہ زمونږ تحریک تہ دفایدی پہ ځای تاوان رسوی زمونږ
دا سمبلی پہ ممبرانو کښی ورځ پہ ورځ اختلافات زیاتیدل ، چا بہ د پاکتر صاحب
نہ شکایت کولو او چا د قاضی صاحب نہ دا اختلاف اصولی نہ وبلکہ ذاتی و اخر نوبت
دی تہ ورسید و چہ د وزارت ماتولو د پارہ د هزاری ضلع د کانگرس اسمبلی
ځینی ممبران د اتک پہ پاک بنکلا کښی مخالفو ممبرانو سرہ د سلا او مشورې د پارہ جمع
شول مگر خدای خبر چہ ولی څہ فیصلی تہ ونہ رسیدل ۔ د بعضی خلکو دا خیال وچہ
خان بہادر سعد اللہ خان او اورنگ زیب خان پہ کور کښی د وزیر اعظمی پہ عہدہ
باندی وران شول ۔ د آل انډیا کانگرس کمیتی پارلیمنټری کمیتی ؤ صدر مولانا ۔
ابوالکلام ازاد پخپلہ سر حد لہ راغی مگر دا مسئلہ حل نہ شوہ ځکہ چہ د ذاتیاتو شخصی
مسئلی حل کیدی نہ شی دا سمبلی بعضی ممبرانو زہ مجبور کړم چہ پہ دی معاملہ کښی
مداخلہ وکړم د هغوی هم دا خیال وچہ سبہ بہ دا وی چہ مونږ د وزارت پریږدو
زما خو دا اول نہ د هغہ خیال و مگر د وزیرانو پہ کار د ونو کښی می مداخلت نہ کولو ځکہ چہ
ذمہ داری د هغوی پہ سر وہ ۔ ما د خدایی خدمتگار و لو یہ جرگہ جمع کړہ او د وزارت دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره می ورته وراندی کړه تولو ممبرانو په دې خبره اتفاق وکړو چه حکومت مونږ سره تعاون نه کوی نو مونږ له په کار دی چه وزارت پریږدو خکه چه ددی نه زمونږ تحریک نه گټه نه رسی بلکه نقصان رسی. اجلاس ختم شو او ما د صوبې د خدایی خدمتگارو لوبې جرګې نه د دریو د ریوکسانو یوه کمیټه جوړه کړه او د اسمبلی ممبرانو نه می ووې چه مسباله به تاسو راځئ او یو یوکس به خان خان له خپله رایه او بیان دی کمیټی له ورکوئ مسباله چه هغی کمیټئ خپل کار شروع کړو نو د امیر محمد خان د هوتی نه علاوه نورو تولو ممبرانو د وزارت په حق کښی رایه ورکړه زه حیران شوم او بهر ته راوتم تولو ممبرانو ته می ووې چه داځکه خبره ده پرون تاسو د وزارت مخالف دئ اوس یې ملګری شوئ پرکتر صاحب ماته ووې که ماته اجازت وی نو دا راز به زه سنبکاره کړم ما اجازت ورکړو هغه ووې چه دوی تول وایی چه وزارت دې وی ملګروی دې هغه څه چه مونږ ورته وایو. لیکن دغه خبره مونږ ته منظوره نه ده نو په مونږ د دباو اچولو د پاره دوی بیا د وزارت دماتېدو تهپه کوي. خیر مونږ خوازه شو ملګرو وزارت د پرلېښودو په باره کښی زما رایه نوره هم تینګه شوه او خو ځله د آل انډیا کانګرس های کمانډر ته می داخبره وراندی کړه چه تاسو مونږ له اجازه راکړئ چه مونږ د سرحد وزارت مستعفی کړو خکه چه مونږ ته د فایدی په ځای نقصان رسیږی هغوی اجازه نه راکوله اوراته به یې ووې چه تول وزارتونه به په یو ځل پریږدو. د کردخدای فضل و چه د یورپ دویم لوی جنګ په (۱۹۳۹ع) کښی شروع شو.

وزارتونه مات شول:

کله چه یورپ کښی د جنګ په شروع کیدو برتانیې د جرمنی خلاف د جنګ اعلان

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړو نو دهغی سره سره یې دهندوستان دطرف نه هم دجرمنی خلاف دجنګ اعلان وکړو
کانګرس په دی اعتراض وکړو چه دټپرو صوبائی انتخاباتو نه دا خبره واضحه ده چه
مونږ دهندوستان داولس نمایندګان یو. نو په کار داوو چه دهندوستان دطرف نه
جنګ دا اعلان کولو نه وړاندی دهندوستان دخلکو رایې معلومه کړي. شوی وی بله
مطالبه یې دا هم پیښ کړه چه که دبرتانیې اودا تحادی طاقتونو دا اعلان صحیح وی
په دوی په دنیا کښی دصلح اوامن اوازادی دپاره جنګ پرې نو کانګرس تیوس کوی چه
آیا په دی که به هندوستان هم شامل وی اوکه نه؟ مخکښی ورته بیا کانګرس دوسیل چه مونږ
ته شکه دد غو اصولو دپاره جد وجهد کوو او حکومت برتانیه له دا تسلی ورکوو چه هندوستان
هم په دی جنګ کښی صفوی سره څنګ په څنګ ودریږی اودهیڅ قسم قربانی نه به غاړه
نه غړوی خو په شرط ددی چه حکومت برتانیه دا اعلان وکړي چه دجنګ په خاتمه به هغوی
هندوستان له ازادی ورکړي. چونګه حکومت برتانیه ددی اعلان کولو نه انکار وکړو نو
ددی خلاف دا حتجاج په طور دکانګرس ټولو صوبای حکومتونو په جمع استعفا وکړه او مونږ
ته دا ددی مصیبت نه خلاص کړو. دوزارت دماتیدو نه وروسته مادتولی صوبی دورې
کړه. دوزارت په وجه چه په صوبه کښی کوم جمود پیدا شوی و دوزارت په پرلپښود واو زمونږ
لوشښتو نو جلسو او تقریرونو په خلکو کښی ورو ورو بیا ژوند راپیدا شو. دیورپ دویم لوی
جنګ شروع شو. دکانګرس دپاره داخبره نه وړی وه چه دجنګ په باره کښی قوم دخپلی پالیسی
خبر کړي. دکانګرس ورکینګ کمیټئ ددی کار دپاره په وارده کښی راجمع شو. پنډت
جواهرلال نهرو چین ته تللی وهغه یې دتار په ذریعه راوغوښتو هغه دهوایی جهاز په ذریعه
ځان راورسولو په دی کښی فیصله وشوه چه بلډمیاشت کښی به بیا راجمع کیږو او ختمی فیصله به کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیرنګیانو ددی نه پس په تول هندوستان کښې د مسلم لیګ وزارتونه جوړ کړل خو زمونږ صوبه کښې یې د مسلم لیګ وزارت قایم نه کړو، ګورنر کنګم به وئیل چه دلته زه د مسلم لیګ حکومت نه جوړوم، که زه چیرې حکومت جوړوم هغه به د ډاکټر خانصاحب وی. نو زمونږ خلک په دی خوشحال وو چه د مسلم لیګ حکومت نه جوړوی خو زما دی سره اتفاق نه وو، او زما د ګورنر داخبره خوښه نه وه ولی چه ما وئیل چه د مسلم لیګ حکومت جوړشی نو چه خلکو ته د خدایی خدمتګار د حکومت او د مسلم لیګ د حکومت فرق او ښه او بد معلوم شی خو اخر هغې ګورنر چه دلته د مسلم لیګ حکومت نه جوړوو، د مسلم لیګ حکومت جوړ کړو زه په جیلخانه کښې چه خبر شوم چه د مسلم لیګ حکومت جوړشو، نو ددی په جوړیدو قوم پرست خلک د پرخفه وو ولی زه خوشحاله وم، خلک حیران ښکاریدل، ما به ورته وئیل چه زمونږ داقوم د پرعجیبه دی، تاسو نه کورئ مونږ دوه اینږ ګتلی دی او دوی روپی غواړی، مونږ سره روپی نشته نو زمونږ نه خفه وو مونږ دوه اینږ ګتلی وو هغه به مو ورکولو او مسلم لیګ به دا هم نه ورکوی او هم دغه شان وشوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خدایی خدمتګار و غړو ی پر زی

انفرادی سول نافرمانی ، زما د قتل سازش ، هزاره کښی د خدایی خدمتګار و کیمپ ، اتمانزو کښی کیمپ ، عالمی جنګ

او کانګرس ، قبایلو ته د خدایی خدمتګارو وفد و نه ، هندوستان پریږدی

تحریک ، د میرولیس واقعه ، زما گرفتاری

او هری پور جیل ، وزارتو نه جوړ یږی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخود ۱۹۴۲ کال په دسمبر کښې ورکنګ کمیټئ د انفرادي سیول نافرمانۍ قرار داد پاس
کړو اودا فیصله یې وکړه چې دا سیول نافرمانۍ به صرف د آل انډیا کانګرس کمیټئ ممبران د
مرکزي اسمبلۍ ممبران اود صوبایي اسمبلۍ ممبران کوي او ددې لپاره هدایات او
قواعد هم خواره کړل چې په دې طریقه به دا کوي . په پیښور کښې مونږ د خدایي خدمتګار و
په دفتر کښې راتول شو یو یو ممبر به مو راغوښتلو ، هغه ټول هدایات او قواعد به مو ورته
بیانول نو بیا به مو دهغو عملي کولو اوپوره کولو وعده تري اخیستله . بیرسټر قیوم
د مرکزي اسمبلۍ ممبرو کله چې ډاکټر خانصاحب د صوبې اسمبلۍ ته ودرید نو هغه
د مرکزي اسمبلۍ د ممبرۍ نه استعفا وکړله اوپخپل ځای د پیښور بنار یو بیرسټر
عبدالقیوم ممبر کړو . زما په ده پرې اعتبار نه وو اودې څه چې ددې ټولو دا سمبلو
ممبرانو نه مې هم امید نه وو چې دوی به په دې پوره عمل وکړي نو ده له مې اجازه نه ورکوله . ډاکټر صاحب راته ډډه وکړه چې ډېر منت وکړو نو اجازه مې ورکړه دا هم د ورکنګ کمیټئ
پاس کړي وه چې شاید د سیول نافرمانۍ سره به داخلک ګرفتارشي ، که ګرفتار شول خو
سبه او که حکومت و نه نیول نو دوی له په کار دي چې کور کښې نه وي په دې قام پسې کلي
په کلي وګرځي او د سیول نافرمانۍ تقریر ونه دې کوي تر هغې پورې به ګرځي څو پورې چې
ګرفتار شوی نه وي . لیکن افسوس دې چې د پرولږ وخلکو ددې پابندي وکړه اکثرو
کسان ورځ دوه اخوا دې خوا وګرځیدل او پخپلو کورونو کښې کښېناستل اوو کیلانو خو
دومره کمال وکړو چې دا کار خو پرېږده خپل وکالت یې شروع کړو او د ټولو نه اول بیرسټر
قیوم په وکالت شروع وکړه . دهزارې دو کیلانو خو دا حال وچې خدایي خدمتګار و په کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلټنک کولو هغوی کچری، بند ولی خدایی خدمتګار به ګرفتار ېدل او په دغو کچرو کښی ستیه-
ګری وکیلا نو په پیسو باندی دخلکو مقدمی کولې اود تولونه عجیبه خبره خولا داوه چه دې
وکیلا نو نه کچری، پرلپښودې اونه تحریک. ما پخپله داوکیلان او بیرسټران راتول کړل او
ودته می وویې چه داتا سود خدایی خدمتګارۍ دا صولونه مخالف کار دی کوئ خپل
ځانونه اوجماعت بدنامولئ نومهربانی وکړئ یاکچری پریږدئ یاجماعت هغوی دې
دوارو ته تیارنه وو ځکه چه په کچرو کښی پیسی وې اوجماعت کښی عزت وقار زمونږ ځینو
خدایی خدمتګارو ملګرو په پرېښه کار وکړو، پخپلو خلکو کښی کلی په کلی وګرځېدل خلک یې
پوه کړل خو حکومت نیول نه، اخر ستړی شول اوکار تړې پاتی شو. زمونږ جماعت کښی
دا قسم خلک په هر کلی وو، زمونږ تعلیمیافته ډلی هغه کسان چه انګریزی تعلیمیافته وو اوکه مذهبی
تعلیمیافته و د قوم او ملک سره یې څه کار نه و اونه یې څه همدردی اود لچسپی لوله بلکه دیو
معمولی غرض د پاره به یې زمونږ تحریک سره مخالفت کولو. په ستمبر ۱۹۴۱ع کښی د هشنغر
په یوکلی شیرپاو کښی زمونږ کیمپ و، دسهک په غاړه نورخانه طرف ته لګیدلی و د هشنغر
خلکو ددی کیمپ انتظام کړی وکوم ځای چه زمونږ کیمپ و د هغه نه چاپیره فصلونه اولوبی
لویې کنډې وې زمونږ د علاقی اسستنټ کمشنر یو پیرنګی واو میجر کول یې نوم و زمونږ د
تحریک د پره مخالف وهسی خو هم هر پیرنګی زمونږ د تحریک مخالف وی اوهر پیرنګی مونږ
خپل دښمنان ګڼی چه په څه طریقه زمونږ تحریک ته نقصان ورسوي بیا هم هغوی هر کار په
یوه مناسبه طریقه باندی کوی لیکن دا پیرنګی لا بل شان و دی خو تحریک خو پریږده زمونږ
په مرګ هم حصار نه و. دی چه زمونږ د کیمپ نه خبر شو نو زمونږ کیمپ ته نږدی دوه
ورونه کاکاخیل میاکان ووچه د پره ظالمان د هغه یې راوغوښتل اوورته یې ووې چه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه وخت هندوستان کښې وو ، هغه لاځه کوې چه زمونږ دهغه چاچې لور چه دمور
میراث یې هغې له ورکړی ومړه شوه نو د شریعت مطابق دهغې میراث ښکر زما رسیدو
اوتر اوسه پورې ماله حکومت راکړې نه دی . دا میجر کول د بړ عجیبه سړی و دا بله عجیبه
یې واوری چه چرې به ده ته د خدایی خدمتګار و مقدمه پیش شوه نو خدایی خدمتګار
به یو قسم بیان کولو اوده به بل قسم لیکلو د خدایی خدمتګارۍ په مقابله کښې دهر قسم بې انصافی
اودروغ ته تیار و د پرنالایقه سړی و هغه به خپله نالایقی پخپله منله یو ځل ما سره یو ځای
شوی و ، په خبرو خبرو کښې یې راته وویې زمانه خلک کیلی کوي مګر حقیقت دا دی چه
دا د حکومت بې وقوفی ده چه زه یې په دی عهدې ګکولی یم زه یو نوجی سړی یم زه په قانون
څه پوهیږم . ددې ټولو خبرو سره بیا هم هغه پیرنګی و ، د پیرنګیا نو په راج کښې د
پیرنګی د پاره دلایق اونالایق سوال دسره نه و . بس دغه کافی دی چه پیرنګی دی د ددې
خدمت په سلسله کښې هغه ترقی وکړه د ده پره اسماعیل خان د پښې کمشنر و لګیدو .

د هشنغر د کیمپ نه وروسته زمونږ بل کیمپ په دولسم ستمبر ۱۹۴۱ کال کښې
په هزاره کښې وشو مونږ به د خدایی خدمتګار و د تعلیم او تربیت د پاره دغه شان
کیمپونه کول او د سره به موجلسې هم کولې . په ایبټ اباد کښې زمونږ جلسه وه تقریرونه
کېدل زه هم په سټیج ناست وم چه په دی کښې خان میر هلالی صاحب په سټیج
د ریدو او تقریر یې شروع کړو چه څه وخت ده د جناح صاحب نوم واخیستو نو د نوم سره
سره سم ما د لمنی نه وینیو او کښې می نولو اوزه پاځیدم جلسې ته مخاطب شوم او د ته
می وویل چه ای خدایی خدمتګارو د رونو مونږ خدایی خدمتګار یو خدای ته د خدمت
ضرورت نشته زمونږ کار د خدای د مخلوق خدمت دی زمونږ کار په چا اعتراض نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او نکته چیینی نه ده او دا زمونږ کار نه دی چه په نورو جماعتونو او دهغوی په مشرانو نکته چینی او اعتراض وکړو زمونږ کار دادی چه مونږ خپل پروګرام خلکوته پیش کړو چه مونږ ستاسو د پاره دا غواړو او دا کار یوازی نه کیږی دا به هله کیږی چه تاسو د اسره ملګری شئ ملک هم ستاسی او زمونږ شریک دی . قوم هم شریک دی او کار هم شریک دی . زه به چه کومه جلسه کښی وم او چا چه به خپل تقریر کښی دیوجماعت یا دیولوی سړی نوم په بده واخیستو نو ما به کښینولو او پوهولو چه ته خدایی خدمتګاری تانه په ډلکس یا جماعت د اعتراض کولو حق نشته ته که خلکوته څه وایی نو د خپل جماعت په باره کښی ورته وایه حقیقت دادی چه زمونږ دغه اصول وو .

په دې کیمپ کښی دا فیصله وشوه چه مونږ به په اتمانزو کښی د قولی صوبی یولوی کیمپ کوو په نهم نومبر ۱۹۴۱ کښی په اتمانزو کښی یولوی کیمپ وشو په دی کښی زمونږ د قولی صوبی دهغې برخی نه خدایی خدمتګار او د جرګی ممبران شریک شوي وو . دری سوه شپیته تنه پکښی خدایی خدمتګار وو او یوسل وپنځوس د خدایی خدمتګار و د جرګو ممبران وو . د دی نه علاوه د کشمیر شیخ عبدالله ، بخشی غلام محمد او افضل بیګ د خپلو ملګرو سره شریک شوی وو ، دغه شان د بلوچستان عبدالصمد خان اچکزی سره د ملګرو راغلی و او دغسی د کیمپونو دا سلسله په ټوله صوبه کښی مونږ جاری وساتله او د خدایی خدمتګارو تربیت پکښی په ښه شان سره وشو او د جلسو په ذریعه موعاً خلکو سره هم تعلقات زیات او پاخه شول او په دې کار خلک پیدا شوچه قام او تحریک ته یې ډېره فایده ورسوله .

په ۱۹۴۱ کال کښی جاپان هم په دویم لوی جنګ کښی شریک شو په فلپاین یی

(c) ketabton.com: The Digital Library

حمله وکړه او چې د بړمانسرحد نه راورسیدنو کانګرس دا مناسب وګڼل چې خپلو فیصلو باندې په دویم ځل غور وکړي ددې دپاره یې بار دولی کښې د کانګرس دورکنګ کمیټۍ جلسه جوړه شوه . دا پرته څمه جلسه وه اولس ورځې جاري وه ، د کانګرس د ورکنګ کمیټۍ د ممبرانو په مینځ کښې یو اصولی اختلاف پیدا شو هغه دا وچه مونږ د عدم تشدد دلارې تلنې اختیار کړو او که د تشدد دلارې اختیار کړو ؟ کانګرس تول عمر د عدم تشدد په لاره تلنې او په دې وخت کښې د اکثر د ممبرانو دا رایه وه که چیرې پیرنګیان مونږ له خپل حق راکوي نو په دې وخت کښې مونږ هغوی سره هر قسم امداد ته تیار یو او د تول عمر د عدم تشدد دا اصول به هم قربان کړو ، مګر ګاندهي جي دې ته تیار نه و او نه زما هغوی سره په دې اتفاق و ، زه او ګاندهي جي یو طرف ته وو او هغوی تول بل طرف ته وو دا خو یې چې د راندې شو پاس شو نو په دې وجه ګاندهي جي او ما د کانګرس ورکنګ کمیټۍ نه استعفا وکړه او په دې فیصله وشوه چې په وارده کښې دې زړ تر زړه دآل انډیا کانګرس کمیټۍ یوه جلسه وشي او دا خبره دې ورو راندې شي . زه په وار دا کښې وم چې ما له دکن حیدرآباد نه دغنی او د هغه سخاوخوابنی د طرف نه خط راغی چې دغنی لور وشوه ، مونږ تاته میاد کلبادی ډیر کوو . زه بیا دکن حیدرآباد ته لاړم د روشن مشرې خور ستیشن ته راغلی وه ، او زه هغې سره هغوی کره لاړم ، د روشن مور او خور او بوډا پلار د پرښه ښکلی خلک وو . د هغې پلار د حیدرآباد سنه ځایونه ماته وښودل ، د ښار نه بهر د دوی د پرښکلی کور وو ، زه د هغې غوښتل چې څو ورځې د سره تیرې کړم ، هغوی هم نه پریښودلم چې نړۍ راشم . خو کله ته راغلم او کار مې شروع کړو .

د ورکنګ کمیټۍ دا میټنګ ختم شو او مونږ تول خپلو ځایونو ته راړو ، څنګله چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

آل انډیا کانګرس کمیټئ جلسه نزدې وه زه بمبئ ته لاړم او د جلسې د پاره ایسار شوم
د جیلخانې دخوراک په وجه زما غاښونه خراب شوي وو هغه مې اوښکې وو او په بمبئ کښې
مې نوی غاښونه اینبودل . سعد الله د بمبئ په کارپوریشن کښې انجنیر وُ ، هغه مې خبر
کړې وُ ، هغه نو تیښته راغلی و او زه د هغه کره لاړم . بمبئ کښې د هغوی د پر بښکلی کور و
صوفیه چه ددې بی بی وه د پیرې ښه جنسي وه ، د پیرې قوم پرسته وه ، زما به یې د پر مدار
کولو ، په دغو ورځو کښې یونس جان هم بمبئ کښې وُ او ما سره د پیرې و او د جناح صاحب سره
یې د پر تګ راتګ و او ما ته یې د جناح صاحب د پر قصې کولې او را ته به یې وې چه جناح
صاحب وایي چه ما نه چا پیره ټول بلد دیا نته او خو د غرضنه خلک دی او که چیرې د عبدالغفار
خان په شان یو سړی را سره ملګری شی نو کوږئ به چه زه به څه څه وکړم . هر سحر چه به د ی
تلو نو ما به پوهولو چه کوره پام وکړه زما ذکر جناح صاحب سره ونه کړې زما د اخیال وُ چه هغه
به ضرور د ده سره زما خبرې کوي چه د ی ورسره بغیر زما د تپوس نه څه وعده نه وي کړې
چه جناح صاحب د مسلم لیګ د خیال سړی د ی او زه د خدایي خدمتګار د خیال سړی یم او
مسلم لیګ ما ته د پیرنګیا نو جوړه شوې ده له بښکاره ده مګر یونس جان زما په نصیحت عمل
ونه کړو او اخرې ورسره زما ذکر وکړو . جناح صاحب ورته وویي چه زما له طرفه ورته
د چا یو دعوت ورکړه . مګر زه هغه شپې له د کانګرس جلسې له واردی ته روان وم ،
نو په دې وجه مې تیلفون په ذریعه د هغه شکریه ادا کړه او معذرت مې ورته پیش کړو
او وا ردی ته روان شوم .

د کانګرس د جلسې د پاره د هندوستان د ټولو صوبو نه خلک راغلي وو خکه چه د اوږده
همه جلسه وه کوم قرارداد چه د ورکنګ کمیټئ بار د ولی کښې پاس کړی و هغه وړاندې شو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پریښودنه پری وشو، زما هم اراده وه چه ممبرانو ته خپل خیال بنکاره کړم، مګر د جلسی صدر مولانا ابوالکلام ازاد ماله اجازت رانکړو او هغه قرارداد په اکثریت سره پاس شو د پاس کیدو نه پس ما د کانګرس نه استعفا ورکړه، مولانا صاحب راته وویې چه د اخبار والا وسره ددی ذکر مه کوه، دا زما کار دی زه به یې اخبارونو کښی د خپل طرف نه شایع کړم مګر شرط به داوی چه ته به د خپل ځان په ځای د خپلی صوبی یو سړی مقرروې او که چیرې ستا د صوبی کارکنانو ته ستا د دایی ضرورت وی نو دا به هم ورکوې. کانګرس هغه د سول نافرمانی انفرادی ستیه ګره هم واپس واخیسته. دوی که د پیرنګیانو د خوشحالولو د پاره خوښره خوشامندي وکړي خو د پیرنګیانو په زړونو کښی زمونږ د پاره د رحم ګنجایش نه وا او د دوی نیوه خبره یې هم ونه منله.

د کانګرس جلسه ختمه شوه زه پیښور ته راروان شوم ما د صوبی جرګه راغونډه کړه او په اتفاق سره مودا کتو صاحب د کانګرس د ورکنګ کمیټی ممبر مقرر کړو، د ممبرانو تسلی می وکړو. دوی ته می د جرګی کار وسپاره او د خدایی خدمتګارو کار ما واخیستو، مولانا بیا هم زما هغه استعفا شایعه نکړه، اخر د پرې مودې پس یې شایع کړه. د غورځوکښی جاپانیان په دې پرې ټینګه مخ په وراندی روان وو، امریکی او پیرنګیانو له یې د پرشکستونه ورکړل جنګ د هندوستان سرحد ته راورسید، برما هغوی قبضه کړه او په مخه راروان وو ملاسره دا فکر پیدا شو چه که دوی د غسی راروان وی نو ممکن دی چه د پرزور د هندوستان نیوه برخه ونیسی او شاید چه ټول ملک کښی ګډبډی پیدا شی.

زما دا یقین ووچه څنګه پیرنګی ته د جاپان د طرفه خطره هندوستان ته اوبیا د یخوا زمونږ ارخ ته رانږدی کیږی نو پیرنګی به ضرور دا کوشش کوی چه په دی ملک

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښی فساد وکړی ، داسی خبرونه هم مونږ ته راورسېدلی وو چه پیرنګی دخپلو ایجنټانو
په ذریعه په قبایلی علاقو کښی ددی قسمه غونډی کړی وی تردی چه یوه غونډه په پیښور
شبقدر کښی دخان بهادر قلی خان په ذریعه دمومندو رابللی وه چه هغی ته دصوبی
ورنر کنټکم ځپلیه هم ورغلی وو . مونږ دا محسوسوله چه دپیرنګی به داکوشش وی
چه مونږ پښتانه سره یخپل منځ کښی ورلاندی باسی . نو مونږ له په کار دی چه ددې د
سره دغو علاقوته خپل خلک ولیږو او دوی پوه کړو چه مونږ دیو بابا اولاد پښتانه یو
پیرنګیانو دوی زمونږ نه بیل ساتلی وو . تاسوته به یاد وی چه کله په ۱۹۲۰ع کښی
پیرنګی په خدایی خدمتګارانو ملک سورتنور کړو نو زمونږ دا ټول قبایل ورسره د
ومندو او اپریډونه واخله تر وزیرستانه پورې دوی خپلو پښتنورونږو په مرسته
پیرنګی مقابل ته وډریدلی وو ، دهغی په نتیجه کښی پیرنګی خپله ټوله توجه دیخوا وکړه
ددی لرا وبر پښتنو شلوون وشی ، اوزمونږ اوددغی قبایل رونږو د تعلقاتو دخرابو
خاطر زمونږ په منځ کښی په هیڅ قسمه فریب دهوکی دروغ اوبی ایمانی یی صرفه ونکړه .
چه دخدایی خدمتګارۍ تحریک شروع کړو نو د پرځله می داکوشش وکړو چه زه د
خپلو دې وروڼو له لاسه داد پښتنو یو تحریک دی ، دوی هم پښتانه دي چه دې تحریک
کی مونږ سره شریک شی ولی پیرنګیانو پرې نه ښودم ولی چه پیرنګیانو وې چه دهغوی
زمونږ په منځ کښی ورورولی جوړه نه شی ، دقبایلو مسئله زمونږ قامی مسئله وه زما
خیال زمونږ دمرګ اوژوند مسئله وه ، ددی کار دپاره ما دخپلی صوبی دوړه مشروع
چه خپلو خلکو سره په دی حق کښی سلا اومشوره وکړم اوددی کار دپاره خدایی خدمتګار
کړم چه هغوی دی دقبایلو علاقی له لاسه شی اوخپلو پښتنو وروڼو کرځی هغوی دی د

(c) ketabton.com: The Digital Library

موجوده حالاتو نه خبر کړې او په هغوی کښی دې وروولی، عزیز داړی، اتفاق پیدا کولو کوشش وکړی.

په دغو ورځو کښی پیرنکیانو یو وزیر هندوستان له رالیږلی وچه دهندوستان او انګلستان په منځ کښی روغه جوړه وکړي دده نوم سر ستیفورډ کرپس و، زه په کوهاټ کښی وم چه ډاکټر صاحب راته تیلیفون وکړو چه دغه شان قصه ده او ما پسی دوه کنګ کمیټی نه خبر راغلی دی چه مشمله کښی حاضر شه، ما ورځه اتفاق وکړو او ورته می ووې چه لاړشه ځکه چه مونږ تولو داغوښتل که پیرنکیان په دوغه جوړه مونږ له خپل حق راکوی نو ددی نه به بله ښه خبره کومه وي، ډاکټر صاحب لاړو دغه وخت په پیرنکیانو پرې سخته وه جاپان دسیلاب په شان راروان و او دهر چا داخیال وچه جوړه به وشی او مونږ له به خپل حق راکړي مګر پیرنکیان دهندوستان پرلښو دوتګ کله تیاروو؟ ددغو خبرو په ناکامی د هندوستان خلک ډیر مایوسه شوا و دا یقین یې وشو چه پیرنکیان مونږ له خپل حق نه راکوی او دا شک یې پیدا شو چه پیرنکیان به هندوستان جاپان ته پرې ږدي او مونږ ته یې نه پرې ږدی دی مایوسی دخلکو عقیده هم کمزوری کړه خلکو به وې چه په عدم تشدد خه کیدی نه شی مونږ له په کار دی چه دخپل ملک دازادی دپاره د تشدد نه کار واخلو او دغه وجه وه چه دهندوستان په مختلفو علاقو کښی د پرتشدد و شو. د یورپ امریکی هم ډیر عجیبه خلک دي، د جنګ نه مخکښی به دوی او ددوی اخبارونو ډکا جی د پرزیات تعریفونه کول او عدم تشدد یې د دنیا دامن، صلح، ابادی او ترقی دپاره د پرښه سیکم ګڼلو مګر کله چه جنګ شروع شونو بیاخو پیرنکیانو او امریکی ته امداد ضرورت واو پخپله یې په تشدد لاس پورې کړی و هغه وخت یې په عدم تش

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښې کښته وه او اوس يې تشدد په کار و نو چه کانګرس يا کاندهي جي به دعدم تشدد نوم واخيستو دا به ددوی په طبيعت بدلکيدو او دکاندهي جي برخلاف به يې په اخبارونو کښې لوی الوی مضمونونه چاپ کول ماچه به دغه مضمونونه ولوستل نو دغوخلکو پوری به ډېر ځنډا راتلله او دغه خلک به هم راته دخپلو خلکو په شان خو دغږنه او بې معوله بنکاريدل.

قيايلوته دخدايي خدمتګارو وفدونه:

ما دتولې صوبې دورې وکړه ، لويې لويې جلسې وشوې او تولو خدايي خدمتګارو سره سلا مشورې وشوه ، تولوماسره داومنله چه په دې نازک وخت کښې په کار دي چه خپلو قبايلي ورونو له لاړشي او هغوی په دې تول حقيقت پوه کړي ، دصوبې دورې مې شروع کړه او دې کار اوخدمت دپاره دصوبې په تولو ضلعو کښې ډېرو کسانو ماته خپل خدمات وړاندې کړل . زه چه ددوری نه بېرته راغلم نو شاد محمد مهبزی مې ملګرې ايجنسی ته ولېږه ، په ملګرې ايجنسی کښې زمونږ ډېر خدايي خدمتګارو وو په ۱۹۳۰ کال کښې چه په نورو ضلعو کښې دخدايي خدمتګارۍ تحريک شروع شوی و نو دغلته هم شروع شوی و او دې ايجنسۍ پښتنو وروڼو ۱۹۳۰ کال په جنګ کښې مونږ سره سمه برخه اخيستې وه شاد محمد خوځه ورځې دغلته کار وکړو خو کله چه پولېټيکل ايجنټ خبر شو نو هغه يې فوراً گرفتار کړو او دری کاله يې سخت قيد کړو .

پېرنګيانو په هيڅ شان نه غوښتل چه مونږ دې دغلته کار وکړو خو مونږ هم فيصله کړې وه چه دې نازک وخت کښې به دقبايلو ورونو علاقه کښې کار کوو ولې چه داخو زمونږ دابادي او بربادي سوال دی مونږ دا فيصله وکړه چه که پېرنګي اجازه کوی که نه خو مونږ به دغلته کار کوو او په پښتنو کښې به پوهه او اتفاق پيدا کوو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ د صوبې ګورنر سر جارج کنګم و دی ډیر نرم، هوښیار او چالاکه سړی و
ما ورته یو خط په دی مضمون ولیکه چه: «د نن په دنیا کښی د انقلاب یو زور ور سیلاب راروان
دی، مونږ ډیوټي وچه چیرته زمونږ په کور کښی کړې ډیوټي نه شی او مونږ ټیلیفون کښی برباد نه شو
نو دا من د قیام د پاره مونږ ته خبره ورکړئ» چه ازاد قبایلو ته وفد ونه لیږو او هغوی دی
حقیقت نه خبر کړو. مونږ تاله تسلی درکوو چه مونږ هلته ستاسو د حکومت برخلاف د هیڅ قسم
کار نه کوو مونږ خپل غم اخیستی یو او هغوی سره به خپله د وروری، همدردی او قامولی
خبره کوو، امید دی چه څومره زر کیدی شی ته به مونږ ته د دغه خیر کار د پاره اجازت
راکړې څه ورځې تیرې شوې، زما د خط څواب را نغی بیا می وته ولیکل که چیرې ستاسو ښه وی
او که دی خوښه نه وی مونږ نو د ستاد اجازت انتظار کولی نه شو، د فلانی تاریخ پورې که ستا
اجازت را نغی مونږ به خپل وفد ونه دې علاقو ته لیږو، مونږ د خپلو وفدونو د لیږلو د پاره
۵ د اګست ۱۹۴۲ کال مقرر کړی دی.» دا لیک می د یونس جان په لاس ګورنر ته ولیږه ګورنر
نته کلی کښی وُ. یونس جان چه نته کلی ته ورسیده نو ورته معلومه شوه چه ګورنر ټیلیفونکله
کښی ټول پولیټیکل ایجنټان او د صوبې ټول د پټې کمشنران راغونښتی وو او هغوی سره
په دی معامله کښی سلاکوی یونس راته داهم ووې چه فیصله یې په دې وکړه چه د صوبه سرحد
علاقه کښی دوی نه منع کوو او په ازاد قبایلو کښی به د پولیټیکل ایجنټانو په ذریعه څومره چه
کیدی شی مونږ ته به مشکلات پیدا کوي او زمونږ د خیر د اکار به ناکامیابه کوي. یونس جان
زما د خط څواب راوړو هغه کښی ګورنر مونږ له یو قسم اجازت راکړې و مونږ سبا له د کاما د اړخان
په مشرۍ کښی یو وفد د ملکنډ په لاره باجوړ ته ولیږه کله چه وفد د ملکنډ ایجنسۍ تنګ ورسید
نو د ملکنډ پولیټیکل ایجنټ رسمی اوسوات را نه یزی، خانان، ملکان را ټول کړی وو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ وفد ته یې لاړه نیولی وه او وراندی یې نه پریښوول. پیرنګیانو مونږ ته لوی شر او فساد جوړ کړی و او مونږ یې کور کښی جنګولو. دوی کامدار خان د وفد مشر ته ووې چه تاسو واپس څئ مونږ لاړنه درکوو هغه درته ووې چه زمونږ کتاب کښی واپس تلل نشته مونږ به یا وراندی څوا ویا به مړ د اوکه باچاخان راته ووې چه واپس شئ نو بیا به علته واپس شو، اګرچه ددی خانانو، ملکانو نیت سبه نه و او د پولیتیکل ایجنټ په بدنیت رالیږلی وو مګر کله چه دوی زمونږ سره د خلکو جوش او هډوډی ولیدله نو د لاړی د بندولو جرئت یې ونه کړی شو او بیا د غو ملکانو، خانانو جرګه مالمه مرکزله راغله او ماته یې د پرمنښت وکړه چه مونږ پولیتیکل شرموي ته داجرګه واپس کړه، ما دوی پوه کړل چه داجرګه خو ستاسو د پښتنو د خیر د پاره ما د رالیږلی ده خو هغوی د پیرنګی نه د پرمجبورو د اخر فیصله په دې وشوه چه په ملکنډ کښی د ملکنډ ایجنسئ کار به مقامی خدمتګار کوی او مونږ به یې نه منع کوو او دا وفد دې د ملکنډ په څای د کوټ اوګری په لاړه باجوړته لاړشی ما ورله دوفد په نوم خط ورکړه چه تاسو د ملکنډ د لاړی په څای د کوټ اوګری، اتما خیلو په لاړه باجوړته لاړشئ. د کوټ کلی کښی کاکاخیل، میاکان وو هغو ظالمانو د پولیتیکل د خوشحالی د پاره زمونږ وفد ووا هه، په کانو یې ووښتل کریوانو نه یې تری وشلول. باجوړ کښی هم پیرنګیانو د وفد درسید ونه منکښی جاسوسان لیږلی وو او پیسی یې خوری کړی وې چه داوفد هندوات دی او د هندوانو ایجنټان دی او د مسلمانانو غلام کولو له هندوانو رالیږلی دی او پرده دا فسوس خبره داده چه باچاګل صاحب د حاجی صاحب د ترنګزو مشر څوی هم زمونږ خلاف د غسی پراپیګنډه په خلکو کښی کړی وه په یو څای کښی هلکان زمونږ د وفد مړک ته تیار شوي وو خو مشرانو منع کړل او ورته یې ووې چه صبر وکړئ چه دوی راشی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مونږ تری پوښتنه وکړو، وفد چه کلی ته ورغی حجره کښی کښیناستل، نوعبدالمالک صاحب
فدا پاخېدو او هغوی ته یې ووې چه زمونږ پښتنو وروڼو مونږ باچاخان تاسوله درلی
پاره رالیږلی یو چه په دنیا کښی د جنګونو یو لوی سیلاب روان دی که مونږ یې خبره پاتی شو
نو لاهو به شو. باچاخان وی چه زما وروڼو ته دوایئ چه پری جنبی پریږدئ نیږی کښیږدئ
روغی جوړی وکړئ چه مونږ دغه وخت کښی ددی قابل شو چه یو بل سره امداد وکړو او د
سیلاب نه ځان وساتو او باچاخان داهم ویلي دي چه تاسو څوخې کوئ هسی نه چه سبا په
جنګ کښی کارخانی بندی شی او تاسو بربنډ پاتی شئ او غلی دانی په کور وکښی وساتئ چه
وزې پاتی نه شئ. اوبل وفد مونږ باچاکل صاحب له مومند وله د فضل رحیم ساقی صاحب په
مشرئ په ۱۹ اګست ۱۹۴۲ کال کښی ولیږلو دوی اول باچاکل صاحب سره ولیدل او ورته یې
ووې چه باچاخان وې چه زمونږ اوستاسو خو پر تعلقات وو داخه چل دی چه په اخبارونو
نوکښی په مونږ ستاد طرفه دکفر فتوې چاپ کیږی او دسیکو د پرئ پولیټیکل ایجنټ قلی خان
پخپل لاس هغه خانانو لپسی ګرځوی او هر چاته وایی چه وګورئ باچاکل صاحب به باچاخان
باندی دکفر فتوا ګلولی ده. زمونږ خو داخیال دی چه داکار پیرنګیان دخلې خاتنه کوی.
باچاکل صاحب زمونږ ساقی صاحب ته اوږده قصه وکړه او دا اقراریې وکړو چه دا ما لیږلی دی
چه اخبارونو کښی داخبرې چاپ شی او خلک دباچاخان نه واوړي. پیرنګیانو د کابل حکومت
سره هم سلاکړې ده چه که مونږ په جاپان جنګ بایلو د نو دا ټول د صوبه سرحد ملک به تاسو
پریږدو او دا پښتانه دا اسلام په نوم دجاپان سره وجنګوئ که جنګ موږ وګټلو نو بیا تاسو
حکومت به پری جوړ شی. باچاکل وې چه زه د دغه دپاره میدان اوارم، نو ساقی
صاحب ورته ووې چه صوبه سرحد کښی خونور تنظیمونه هم شته دهغوی برخلاف ولی قدم

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه اوچتوئ نوهغه وخندل اووایل چه مونږ ته خو باچاخان یولوی خلک په لاره کښی
پروت دی دا تور تنظیمونه خوزه په یو سوک سمولی شم، خوساقی صاحب ته داپته ولګیدله
باچاګل صاحب چه داځه کوی دافغانستان د صدراعظم محمد هاشم خان په اشاره یی کوی.
وفد بیا په تولو مومندو کښی ګلی په ګلی ګرځیدل اوزما د دوردولی او عزیز ولی پیغام
یی هرچا ته ورسولو، مومندو دروغو ورسره هرڅای دعاد خیر وکړه اودمومندو مشران
اوملکان ټول د باچاګل نه برخلاف شوی وو ځکه چه ده په افغانستان کښی خپلو خوشامندان
ګرولې لونګی کړی وی. داوفد پنځوس ورځی پس واپس شو اومرکز ته ماله راغلل اود
خپلی دوری رپوټ یی مفصل راکړو، مایو وفد تیراته، افریدو وروغوله هم لیږلی وو خو
هغه په څه وجوهاتو واپس راغلو، نوساقی صاحب دوردګی ته می ووی چه زه غواړم
چه ته د دوونورو خدایی خدمتګار وسره تیراته لاړشی اوهغوی ته زماله طرفه دوردولی
عزیزداری او اتفاق پیغام ورسوی چه کهیری ددی جنګ مصیبت زمونږ په ملک
راشی نوچه مونږ یوبل سره د تکلیف په وخت کښی امداد وکړی شو اوکه خدای پیژنګیانونه
زمونږ ملک آزاد کړو نوچه د تولو پښتنو قومی جمهوری حکومت جوړ کړی شو، ساقی صاحب
اودزیرو فقیرمحمد اودپښتونو تحصیل د پاوکی ګلی عبدالمجید خان می ورسره ملګری
کړل. دوی په ۳۱ اکتوبر ۱۹۴۲ کال تیراله لاړل، په مختلفو لارو کښی ورته پولیټیکل ایجنټ
یوویشت ځله خاصه دار کښیښتولی وو خو دوی تری خدای په امان کړل اوتیراته ورسیدل.
دوی د افریدو اتو قومونو کښی اودورکزو خوارلسو خیلونو کښی قامی جرګی جوړی کړی، توله
تیراکښی یی دورې وکړی، خلکو ورسره د دوردولی سلوک وکړو. ماله ددې وفد د تلونه
وراندی خوشحال خان ملک دین خیل راغلی وو دې وفد زماڅای له راولیږه، زه به ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کار وکړم ما ورته وویل چه مونږ سره خوپیسی نشته دي زمونږ خو دا کار د خدای دپاره کوو خو ده په اصرار وکړو اووېل یې چه زه خو هم د خدای دپاره کوم نو ملا دوفلد ده ځای له ولېږلو ما دخپله طرفه ساقی صاحب له څه پیسی د دوی د خپل خرڅ دپاره او د جرګې دپاره ورکړې دوی چه لاړل نو هلته یې کار شروع کړو جرګه هم وشوه او خدمت یې هم شروع کړو په تیراکښی یې دوړی شروع کړې شیخ محبوب علی پولیټیکل ایجنټ واو حکومت زمونږ دا کار نه خوښولونو هغه ورپسې لګېدلی و. د غو ورځو کښی عاشق شاه باچا زما د اجازت نه بغیر ورپسې تیراته لاړو اوزه نه پوهېږم چه په کوم خیال یې داسی خبری وکړې چه د خوشحال خان ملک دین خیل د اخیال پیدا شو چه دوی سره خو د پرمال دی او هند وستان د دوی هر قسم خدمت کولو ته تیار دی، نو بیا عاشق شاه باچا واپس راغی او خوشحال خان د ساقی صاحب نه د پیسو مطالبه وکړه ساقی صاحب ورته ووې چه مونږ سره خو پیسی نشته سره د دوی د جولو کښی واچوو او جلسی له ځو اوکه تاسو خپل ملک په چا خرڅول غواړئ نو خپله ورسره خبره وکړئ ده رته ځواب ورکړو چه زما د ځای نه څئ زما فقیران نه دي په کار نو هغوی افضل خان زخه خیل خپل کورته بوتلل او هغه ورسره د وه نیم کاله په تولو تیراکښی د خدای دپاره کار وکړو او د بارو ان د صاحبزادګانو سره دیره و هغوی هم د وفد سره د خدای دپاره د پرکار کړې دی تیراکښی صرف دوه بزرګان داسی ووچه د پیر نګیانو د اثر نه بچ وو یو د څو کنو د انګوری ملا صاحب او بل د بارو ان صاحبزاده صاحب عبدالرزاق، د محمود اخونزاده زوی محمد سعید خو ورته سپین ووې چه زمونږ لنګر او نور کاروبار تول د پیر نګیانو په امداد چلېږی داسی ورله د څو تنو بزرګ صاحب هم ځواب ورکړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوزیرو آزادوقبایلوتہ می یوکسیز وفد میرزا تاج محمد خاموش لہیز لی وهغه
وزیرو تہ وزسپل او فقیر ایپی صاحب سرہ یی ملاقات وشو او زما دورور ولی پیغام یی
ورورسولوخو قام کښی ونہ کړځید و خکہ چہ فقیر صاحب ورتہ ووی چہ دلتہ ستاد کړځید و
حاجت نشتہ داقام جوړشوی دی زہ چہ څہ ورتہ وایم هغه کوي نودی واپس راځی.
بل وفد کښی دپرانکو عبد الحکیم ستی جان او د بهتنو جرنیل عبد الرحمان می مسعود وورو
لہ ولیږل خو هغوی دوارہ حکومت گرفتار کړل، ستی جان یی واپس راولیږه او جرنیل
عبد الرحمان بیتنی دتانک دوه کاله قید شو چہ تہ ولی دهشنغر دسرې سرہ مسعود وله
روان وي. یو وفد می دتل او هنکو د خدایی خدمتگار و کړمي تہ ولیږه هرکله چہ سدې تہ
ورسید ال نویو جومات کښی دیره شول، د کړمی پولیټیکل ایجنټ ورسپی خپل ملکان
او سپین ږیری راولیږل. هغوی دوی تہ ووي چہ سبہ به داوي چہ تاسو واپس شئ
او دلتہ ونہ کړځئ دوی ورتہ ووي چہ داولی مونږ خو تول دیوي علاقی پښتانہ یو تاسو
هلتہ راځئ او مونږ دلتہ راځو. ملکانو ورتہ ووي چہ مونږ د پولیټیکل ایجنټ نہ مجبور یو تاسو
خپلی علاقی لہ نہ پریږدو، د پرېکټ نہ پس هغوی دوفد د غړو پښی لاس و تړل او
ترک کښی یی واچول او تل او هنکولہ یی ورسول. هغوی هم راغلل او مانی داحال ووي.
زمونږ ددي وفد ونو په تلو کړځید و کښی او خلکو سرہ لیدہ کاته او تبادلہ خیالات
کولو په وجہ آزادو قبایلو ورونو کښی لویہ تبدیلی پیدا شوہ او په پښتنو کښی د قامولی
وورورولی احساس او پوهہ پیدا شوہ، زمونږ د باجوړ وفد مشر کامدار خان
وو چہ ورسرہ صدر صاحب محمد اسراد او فدا عبد المالک او ناظم سرفراز خان هم دو
کامدار خان چہ واپس راغی نو دانور ملکری می شاته باجوړ کښی پاتی شول، او میان صاحب

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالحکیم دچینکئ سره دیره شول۔

بچولهٔ یې دتعلیم ورکولو د پاره یوه مدرسه هم پرانسته دهغې هم پرمنیه اثر وشو زمونږ یوخدایی خدمتګار دباجوړنه پیښورته راتلوچه په لاره په مومندوکښې غلو وشوکولو، دباجوړخلک په دې پرخفه شوا وتش خفګان نه هیه یې وکړه اودهغوغلونه یې حساب واپس واخیستوا وهغوی معافی هم وغوښته۔

پیرټکیا نواو دافغانستان حکومت زمونږ ددی وفدونو د ناکامیا به کولو پرکوششونه کړي وو خوخدای کامیاب نه کړل۔ داخبره ما محسوس کړې وه چه هرې تحریک دپاره یومرکز ضروري وي پرځایونه می وکتل خوپه څه وجوهاتو به پاتې شول دسرډرياب دپل نه په قبله دکوړواوسره ډرياب منځ کښې دسیند په غاړه یوه دښته وه یومیل برده سویل غاړې ته یوچمن اومیدان و، دغه ځای ځنګل و تنهایی وه دغه ځای موخونږ شواو دا کړی اوکوړوپښتنو دا مځکه دمرکز د پاره وقف کړه۔

په ۵ اګست ۱۹۴۲ کال مونږ دچارسدی کیمپ نه وروسته مونږ قوالوخدایی خدمتګارو دمنیرخان دباغ نه دخرولوخانګی ورپلی هرچا دځان سره، سره زماچه خوښ خانګی اخیستی شوی هغه موراواخیستی اومچلوپښوسره ډرياب ته روان شو۔ دلګوبندبست ولبست محمد اسرارخان صدر صاحب کړی و، مونږ لاروستنی مونږ کړې لرګی مو پرې سواره کړل، لښتی اولوخه موپرې واچوله اودغلته دیره شوه، شپه او ورځ به لس، اته خدایی خدمتګار به ما سره دغلته وو، دوه دیه به راله وارث خان بخواله اوکتوئ به مونږ پخپله بخوله، ددی ځای نه مونږ دتولی صوبی دخدایی خدمتګارو سره رابطه قایمه کړه، ددوی چه به څه کارو و دلته به ما له راتلل اوزماچه به څه کارو د خدایی خدمتګارو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ذریعه به می خبروال دغه محکمه بنجره وه ، مونږ به د سحر دچای نه پس تشکوری
واخیستلی په کار به مو شروع وکړه ، د ډوډی د وخته پوری به مو محکمه جوړوله بیا به مو په
هغه کښی سبزی کرل شروع کړل ، اتمانزو کښی دغنی بټی وه په هغی کښی مود مرکز د پاره
د خښتو انتظام وکړو او د پرانکو او با بړې خدایی خدمتګار د هغود راوړلو د پاره دوه
د هری ډیرئ راوستی وې چه د هغی یو سر مرکز ته راسیدلی و بل سر یې اتمانزو کښی و
دغه شان په یوه وړځ کښی ټولی خښتی راوچلیدی : د آبادئ د پاره مود سیند په غاړه
ځای خوښ کړو هلته مو یو هال د هغه سره دوه کمری او د واړه طرف ته برنډی
جوړې کړې او د دویم چت په جوړولو موشروع وکړه ، د یوالونه جوړشو او چت پری لانه
جوړشوی ، چه پاکستان جوړشو او مونږ گرفتارشو د دی په ابادئ کښی ټول کار خدایی
خدمتګار و پخپله کړې وو . زه به هم ورسره لګیاوم ګلکار له به می خښتی ورکولی . د هری تپی نه
به لس ، پنځه لس خدایی خدمتګار د اړه وار راټلل او خپل خرڅ ، خوراک به یې هم د ځان سره
راوړل . یوه هفته کار به یې کولو بیا به د بلی تپی خدایی خدمتګار راټلل . زمونږ اراده وه
چه دلته به سکول او هسپتال هم جوړوو او د پردو خلکو د اخیال ظاهر کړې وچه مونږ به
دلته ځان له کورونه جوړوو تردې حده چه مونږ دلته دخپلی مقبری فیصله هم کړې وه .
بیرسټر قیوم چه وزیر اعظم شو نو د مرکز د وزانولو او لیلا مولو فیصله یې وکړه د اګری خانانو
ورته وویې چه دا ځای د وزانوه مه دا خوهسی هم زمونږ جاید اددی ، مونږ به یې لیلام
کښی واخلو او مدرسه یا هسپتال به یې کړو . قیوم وې چه زه به داخامخوا د وزانوم او
د دې خدایی خدمتګار و د مرکز دا نښه ورکوم ځکه چه که دلته یې نښه پاتې وي نو چه
بیا دوی په لاره حتی والی به چه د غه زمونږ مرکز وچا دې لیلام ته غاړه کښی نښوده آخر

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شپږم نمبر کلی یو مومند نور محمد واخیستو او په ۱۹۴۰ یعنی د اینا مینټ باندی یې ورله بنیاد-
ونو پوری والو زول + نور محمد لسپنټون وو. ده فرنګی ده خو شحالوول - او قیوم ته ده منزو

دهندوستان پریږدئ تحریک:

کله چه دکرپس مشن ناکامیاب شو نو دهندوستان په خلکو کښی مایوسی پیدا شوه زنګ
او دافکري پیدا شوچه بغیر دمقابلی نه پیرنګیان مونږ له څه نه راکوي په دغو وختو کښی په بمبئی کښی
کښی دورکنګ کمیټئ اجلاس و، په دی وخت کښی دکانګرس (QUIT INDIA) یعنی «هندوستان
نه ووځئ» تجویز پاس کړو او مهاتما کاندهی او دورکنګ کمیټئ ټول ممبران وینیوی شو
دنیول کهدوسره په ټول هندوستان کښی د پیرنګیانو برخلاف زور ور جد وجهد شروع شو
چه دکانګرس ذمه دارکارکن پیرنګیانو قید کړی وو وروسته خوک ذمه دارکسان او مشران
پاتی نه وو او خلک هم د پیرنګیانو نه مایوسه شوي وو. نو خلک دعدم تشدد په ځای د تشدد
په لاره روان شول. پیرنګیانو د تشدد مقابله په تشدد وکړه او پیرنګیانو هم داغوښتل هغوی
د عدم تشدد د مقابلی چل نه ورتلو او د تشدد څخه هغوی سره دومره سامان ووچه په پرزرلی
د تشدد تحریک ختم کړو او په خلکوي دومره زور ظلم او زیاتی وکړو چه په دنیا کښی به د وحشی
نه وحشی قوم په چاکړی نه وي، سړی خو پریږده چه د نبځو سره یې داسی سلوک وکړو چه
په لیکلوي ماله شرم راځی. دګنهګار، بی ګناه تمیز نه کولو، د نبمنان څه چه د خپلو وفادارو
ملګرو د نبځو سره یې زیات شرمناک سلوک وکړو. داسی واقعات پکښی راغلی دی چیرې د فوج
او پولیس دکارروایی نه علاوه پیرنګیانو په کلوباندی دهوایی جهازونه په میشن ګنونکو ګولی
ورولی دی او کلوباندی یې بمونه غورزولی دی. د سرحد په صوبه کښی زمونږ جرګه اوخدایی
خدمتګارهم راټول شوچه په دې خبره غور او فکر وکړي چه په دې وخت کښی مونږ له څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کول په کار دي، کانګرس دهندوستان په هره صوبه کښې دجدوجهد پاره يو ډيکټيټر مقرر
کړي ودغسې زه يې ددې خپلې صوبې ډکټيټر مقرر کړې وم . ماته دې اجلاس کښې حاجي فقيراخان ووې چه ته خو ددې صوبې ډکټيټر مقر رشوې يې مونږ څه له داغواړې حکم کوه مونږ به
دهغه تعميل کوو . ماورته ووې چه داخبره خو ټيک ده . خوزما په طبيعت کښې ډيکټيټري نشته
زه به هريو کار دملګرو په مشوره باندې کوم . ديو دماغ په ځاى به دوه دماغونو فيصله
غوره وي . په اجلاس کښې دهزارې حاجي فقيراخان ووې چه مونږ له په کار دي چه
تاسو نه پرې کړو او پلونه وران کړو ماورته ووې دانشد ددې خو بيا به هم تاله اجازه درکړم
خو دومره وايم چه کوم سړک تاسو پرې کړې يا پل وران کړې نو نيغ به تانې له ورځې اوربوت
به کوى چه داکارما کړې دى، ځکه چه زه د پيرنګيانو حکومت نه غواړم . ددې فايده به داوي
چه ددې کار په وجه به دغه کلوعاموخلکو باندې تشدد نه کيږي هرڅه سزا چه وي دى به برداشت
کوى اوکه داسې ونه کړئ نو دکلو په خلکو به دپيرتشدد وشي اودهغوى چه مونږ سره کومه
مله دى ددې هغه به ختمه شي نو دغه تجويز په ځاى پاتې شو . بل تجويز ماوراندې کړو چه مونږ له
ټول وفدونه هريو عدالت اوهريو ډيسې افسر له ليږل په کار دي چه دوى ته ووايو چه کويټ
ته يا قرارداد پاس شوى دى نو تاسو له په کار دي چه نوکرې پريږدئ ، بل داتجويز پاس شو چه دپيرنګيانو په
عدالتونو به چپاوونه کوو اودکرسونه به يې پاڅوا وعاموخلکو ته به وايو چه خپلې فيصلې کورکښې پخپله کوئ پيرنګيانو له
نه ځئ داخو زمونږ دقوم اوملک دښمنان دي اوپيرنګيان خپل حکومت په مونږ باندې هم ددې نوکرانو
ذريعه چلوي . خوچه زمونږ وفدونو پوره نتيجه ورنه کړه نومونږ بيا چپاوونه شروع کول .

چپاوونه :

په پيښور، مردان، کوهاټ اوبنوکښې خدايي خدمتګار دضلعو په کچرو باندې چپاوونه شروع سول اول اول خدايي خدمتګار

(c) ketabton.com: The Digital Library

چانه گرفتارول بلکه پیچ دردی سره به یې ووهل داوصل به پولیس کول اودپولیس سره به دخانانو اوربابانو ډنډه مارهم دکومک دپاره ملګری وو اوخه موصندیې هم دخدای خدمتګارو دوهلو اودسرکار دامداد دپاره راغوښتی وو، په مردان کښې هم دغه حال ومګر هلته دخانانو ډنډه مارنه وو. دسوات باچا میاګل صاحب دپرسوانیان ددوی دوهلو دپاره دسرکار په امداد کښې راليږلی وو. دی ظالمانو به په داسی ننګ ترسې وهل کول چه زه یې بیانولی نه شم دچاسره اوپښه به یې نه کتل اواکثر به یې خدای خدمتګار دغوبل د غوایانو په شان په نیغو وهل. اکثر خدای خدمتګار به زخمیان شول، دچاسره مات، دچا لاس اودچاپښې. څوک به په وهلوکښې مړه شول، دپیښور دډپټی کمشنر په دفتر چه خدای خدمتګارو چاپو وکړو نو دنورو کوتک ماردسره ډپټی کمشنر مرزا اسکندر پخپله کوتک په لاس راووتو اوپه خدای خدمتګارویې راباندی کړل. حالانکله پیرنګیا تنو مونږ پسی کوتک دا اخستی نه دی، اونه یې پخپل لاس مونږ وهلی یو، خودی مسلمانان وروڼه پسی کوتک را اخستو اوپه دی وهلو تکولوکښې به خدای خدمتګار یا ایډیشنل پولیس او انتظامی پولیس دایری ماتی کړی اوپه کچهرئ به وسر ننوتل، اوحاکم کسه به پیرنګی وو ورته به یې وویل چه پیرنګیه ته د اووزرو میلونه راغلی یې. دازما ملک دی، دامونږ ته پریږدې اوته خپل ملک ته ځه اوکه دیسی به وونو ورته به یې وویل چه توم فیصله کړی ده چه ته دپیرنګیانو نوکری پریږده. سید اکبر خدای خدمتګار د سکندر مرزا په ګډا اړه په زړه ولګیدو او دغلته شهید شو. پیرنګیانو پخپل لاس وهل نه کول، ددې چاپلوسی کا ندهر دکوجرو کړئ شاکرالله باچا وچه داچاوونه یې دومره په بهادرئ اوهوښیارتیا منتظم کړې وو چه هغه پیرنګیان چه ده سره یې مقابله کوله پرې قایله وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مردان، د چپاو کماندر سالار منیر خان او بیا عبدالعزیز خان و هغه هم د پرله پسې
بهادرئ د هغه چپاوونه چلوي وو. د چپاونو زور په لویه پیمانه یا پښتون کښې و یا مردان کښې و
مردان کښې به د هري کچرئ په وړاندې پولیس او ایډیشنل چاپیره کوتک په لاس
والا وو. خدایي خدمتګار به راغلل. نعرهٔ تکبیر الله اکبر. فخر افغان زنده باد چغه به یې وهله
او د پولیس او ایډیشنل ګیره به یې ماته کړه او په کچرو به د رنګروټ او د پولیس او کوتک ماړه
به پرې را باندې کړل مات کوه به یې کړل بیا به یې لاري کښې واچول او چیرته لیرې به یې
وغورځول هابه ددې چپاو د حالاتو معلومولو او د سلا مشورې د پاره دوې کوپي خو
حکومت ډه نه منع کولم. آخر د حکومت پالیسي بدله شوه او کومو خدایي خدمتګارو چې به
چپاو ونه کول د وهلو نه علاوه د هغوئ نیول یې هم شروع کړل او ددې خبرې تجویز یې هم وکړو
چې زه ترې څه کار درونه کړې شم. زه د کار د پاره مردان ته روان وم، د مردان نه بهر راته
پولیس ناسته وو. هغوی ونیولم او راته یې ووې چې مردان ته ستا د تلو اجازت نشته
په موټر کښې یې کښېنولم او بېرته پېښور ته یې راوستم د ښار نه یې بهر ځنګل پرې پښتوم، بل ځل
کوهاټ ته روان شوم، سپینې تانې سره پولیس ناست وو مونږ یې د لاري نه کوز کړو
تولې ورځ یې را باندې سپینه تانه کښې تېره کړه مازیګر یې په لاري کښې پېښور ته راوستو
او هلته یې پرېښود. د ما د حکومت دا طریقه مناسبه ونه ګڼله د قوم د خبرداري د پاره می د
پېښور په چوک یادګار کښې جلسه جوړه کړه، په دې جلسه کښې ما خلکو ته د هري خبرې وړاندې کړې:
چې دا چې د حکومت دا زما سره کومه طریقه روانه ده، دا ما ته توقه ښکاري ما سره دې دا
توقې نه کوې پادې، ما ونیسې او یا دې ما پرېږدې. بله دا چې کله چې مونږ له خدای ګټه
راکړه او مونږ آزاد شو نو دا خبره زمایاده ولرئ ملک زمونږ د ټول قوم او ټولو پښتنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپکی خبری وکړي زه پخپل ځان وم دومره می ورته ووې چه پښتانه داسی خبری نه کوی ستا مطلب وشو پیرنګیا نو ستا خبری واوربدی ترڅو به دې وشی. همدغه شان وشوه زه یې دهر یپور جیلخانی له بوتلم اوچکی کښی یې بند کړم ډاکټران واو هسپتال هم خو هغه زما د پاره نه وقیدیان خو خوک د خدای بندګان نه کښی. زما به تول وجود دهدونه کول اوشپه د پرسخته تیره شوه سبا له ډاکټر وکتم هغه پریشانه شوخه ملهم عونډی یې زما په پښتو پوهیږل چه سپرنټنډنټ راغی ما نه یې تپوس وکړو چه څنګه یې؟ پښتانه که د پر تکلیف کښی وي چه څوک تری تپوس وکړی نو ورته وایی چه سنه یم ما هم ورته دغسی ووې سپرنټنډنټ حکومت له خبر ورکړو چه سنه دی هغوی اخبار کښی اعلان وکړو چه هغه سنه دی هسپتال کښی یوهندو ډاکټر وهغه مشر ډاکټر ته ووې چه زمه داری یه تا ده، بدنامی به ستاوی تاله په کار دی چه حکومت خبر کړې هغه حکومت ته ولیکل چه دغه خبر غلط دی، دی جوړ نه دی حکومت سول سرجن راولیږه هغه زما معاینه وکړه بیایې ایبټ آباد له فوجی هسپتال له بوتلم ایکسرې وشوه معلومه شوه چه زما د وه پښتی ماتی دي. سول سرجن پخپله زما پښتی وترلی او پلاستر یې پری ولګول، په ترلوسټ زه لږ به ارام شوم، څو ورځی پس می اخبار کښی ولیدل چه د جیلخانی سپرنټنډنټ وایی چه هغه روغ جوړ دی سبا له چه سپرنټنډنټ راغی هغه اخبار می هغه لله وښولو نو هغه راته ووی چه تا راته ووې چه سنه یم ما ورته ووی چه دا خو پښتنوا صطلاح ده ستا خو ستړګی وی تا نه لیدم چه زه څنګه وم؟

څه وخت چه مونږ د پیرنګیا نو خلاف سول نافرمانی شروع کړه هغه وخت کښی هغوی د افغانستان د حکومت په امداد د ملایانو په ذریعه کار شروع کړو، عجیبه خبره خو یې داوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه پیرنګیانو په ما د کفر یوه فتوه تیاره کړه او په هغه باچاګل او مانکی ملا دواړو دستخطونه
وکړل او د دواړو د ملا یانو تائید وعجیبه خبره خو داوه چه مذهبی معاملو کښی د مانکی
ملا او هلو ځلو ملا التعلقات ارچیری متفق شوي نه دي او دیو بل مخالف وو چه یو بل به یې
د کفر فتوې کولې لیکن زما په فتوه د دواړو د یو اتفاق وو لی چه د ا د کفر فتوه پیرنګی ګلولی
وه او بله خبره یې داوکړه چه افغانستان هم پښتانه دي، د صوبه سرحد خلک هم په کار دي
چه د اعلاقه هم افغانستان سره شي او د دې خبرې اشتهارات یې په ملک تقسیم کړل خبره وه.
جلسې یې کولې او په هغو کښې به یې د اتقریرونه کول چه د املک دې افغانستان سره شي مانکی
ولی پیرنګیانو ورته هیڅ نه وې. دریمه خبره یې داوکړه چه حاجی محمد امین چه زمونږ
دوی پښتو رعلاقې نه تللی و او په هغه کښې پیر شوی و، د افغانستان د حکومت
په مصلحت پیرنګیانو د باچاګل په ذریعه پښتو رته راوغوښت، هغه دلته د دې خبرې
کوشش وکړو چه د پښتو سیاسی توجه د پیرنګیانو نه بل خواته واړوي نو د پموپه بازار
باندې د ه پکټنګ ولګاوه د غه وخت خدایی خدمتګار د پیرنګیانو په کچرو چپاوونه
کول او د خدایی خدمتګارو تولو توجه د ملک د ازادۍ او د پیرنګیانو برخلاف وه په دې
کښې حاجی محمد امین خان راغی ملایان د سره ملګری شول او ارباب عبدالغفور
د تهکال هم د سره ملا و تړله او د خلکو توجه یې د پیرنګیانو نه اړوله. دا هغه محمد امین
دی چه په مسجد نبوی کښې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حضور کښې یې ما سره
وعده کړې وه چه نه به تاسره یوځای د خدای د مخلوق خدمت کوم چه دوی به
پکټنګ له ورغلل نو د مې به راووتی او خلکو ته به یې وې چه وګورئ هلته خدایی خدمتګارو
د پیرنګیانو په کچرو پکټنګ ګلولی دی دوی راغلی دی، زمونږ په لاس «دغه» یې پکټنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړم او دا ایبت ابا د جبل له یې بوتلم او یوه تنګه کوته کې کښې یې بند کړم ، دغه کونډۍ به بالکل یوازې د تول جبل نه جدا وه ، ما سره د خبرو اترو قدرې څوک نه و .

کله چه زه د هریپور جیل نه چالان شوم نو جبلوالا ؤ په سیاسي قیدیانو توره اشپه جوړه کړه په دوی یې چای بندي کړې چاچه به ناري وهلې چکو کښې واچول . څه ورځې خو دوی چغې مغې وو هلې خو اخر یې چغې بندي کړې پنچیل کار پښیمانه شول ، دوی مشر انو جبلوالو ته ووې چه مونږ د سره سوله کوو ، جبلوالو ورته ووې چه په سبه ده چغې بندي کړئ نو دوی په منځ کښې سوله وشوه که دوی زما خبره منلې وای نو زه به یې هم تري نه وم چالان کړې او دوی ته به هم دومره تکلیف نه ورسیدلی او نه به د کوزو ستر کو په سوله مجبور شوی وای . مالیې دا ایبت ابا د جبل کښې یو بوډا مشقتي راکړې و ، هغه به مالیه د ودۍ پخوله ، د ری میاشتې قید ؤ چه د هغه به کله ملاقات راغې او دی به ملاقات الله لاړ نو چه به راغې ما به تري تپوس کوو چه د کور او د بال بچ دی څه حال دی ؟ نو ده به راته ووې چه زه ملاقات له لاړشم نو ښځې او واړه می د جنګلي نه اخوا ولاړوی ژاړي او زه د جنګلي نه دی خوځاړم څه خبري ونه کړو ، دی د هغه اړی و د پرسنه سپکاو . یوه ورځ تري ما تپوس وکړو چه زما د دی کوتنې لاندې چه دا بار کونه دي نو چه د نیمې شپې نه شپه واوړي د اقیدیان شور کوي چه داڅه کوي ؟ ما د خوبه و باسي ته ورته ووایه که وظیفې کوي نو د رد و د دی کوي او ما د دی د خوبه نه و باسي نو هغه راته ووې چه دا شور څکه وي چه دا ایبت ابا د دی دلته واوړه پریوځي د دوی یخنی کیږي ، دوی له یې دوه زړي کمبلي درکړي دي نو دا شور په دغه وجه وي . د دی جیلخانې دا روغه عمر بیک یې نوم د مسلمان واو په کوړی چود باندې مشهور ؤ هغه چه سبا له مالیه راغې ما ورته وویل چه د قید یا نوسره کمبلي نشسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

یخنی یې کیږي مادخوبه وباسی مهربانی وکړه کمبلی ورکړه ده راته ووی چه کمبلی نشته
ده به د پرلمونخونه اودسپونه هم کول چه دی بدل شو نو دده په خای یو هند وداروغه
راغی ، دهغه راتلو سره چه قید یا نو ورته شکایت وکړو نو دوه نوی کمبلی یې هریوله
ورکړې . چه زه خبر شوم ماتری تپوس وکړو چه داکمبلی دی راوغوښتې ؟ نو هغه وې
نه داخو په کوداام کښی پرتی وې . ددی خای د پټی کمشنر سکهو او د پرښه سړی و
دی چه جیلخانی ته راغی نو ماته یې داخبره وکړه چه جارج کننګم به داخبره کوله چه زه
د داکټر خانصاحب نه دسرحد وزارت بل چالته نه ورکوم خوځه موده پس یې مسلم لیګ
له ورکړو ، اورنګ زیب خان وزیر اعلی شو ، یوه ورځی د اډپټی کمشنر راغی د پرخپه و
او راته یې ووې چه گورنر خوښ وې چه بغیر د داکټر خانصاحب نه بل سړی وزیر نه مقرروم
ده یو قسم ماسره همدردی کوله ، ماورته ووې چه زه خوشحاله یم چه گورنر مسلم لیګ له
حکومت ورکړو او د داکټر صاحب په خای اورنګ زیب خان یې مقرر کړ ، هغه حیران شو
او پوښتنه یې وکړه چه داولی ؟ نو ماورته ووی چه زه په دی خوشحاله یم چه دې قوم خو
دا زمونږ حکومت ولید و نو دا ښه ده چه د مسلم لیګ حکومت هم وویني او پکښی تمیز
وکړي او بله داچه د دی حکومت اختیارات هم د پرګم دی او زمونږ دی قوم خو حکومت
لید لی نه و او نه د دی حکومت نه خبر دی ، نو یو کار دی چه هغه مونږ کولی نه شو زمونږ
د اختیارده بهر دی ، قوم وایی دا راله وکړه مونږ که د پرورته وایو چه مونږ یې کولی نه شو
دا زمونږ په اختیار کښی نه دی خو دده تسلی نه کیږي او راته خفه شی ، خفه څه چه بیا
زمونږ مخالفت شروع کړي ، او دویمه خبره دا ده چه مونږ دوه انی کتلی دي او دوی
راته روپلی غواړي نو مونږ روپی د کومه راوړو ؟ نو دوی زمونږ حکومت هم لید لی و

(c) ketabton.com: The Digital Library

او اوس به د مسلم لیګ حکومت وویني نو په حقیقت به پوه شي او هغه شان وشوکه چیرې د احکومت مونږ پرلپښو دی نه وای نو د راتلونکی الیکشن ګټل ګران و دوی به کامیاب شوی وو، خلکو ولیدل چه مونږ خو په روپۍ کښې دوه اشیز خو ورکولو او کوم کار چه به زمونږ په اختیار کښې وهغه به مو ورله کولو او مسلم لیګ خو خان ته نزدی هم نه پرلپښو دل او نه یې ورله څه کول یوه ورځ کرنیل سمتمه چه د پښور د چیل سپرنټنډنټ د ایبټ اباد له په دوړه مالګه راغی نو زما ځای یې ولیدو څه وخت چه بهرته ووت نو سپرنټنډنټ ته یې ووې چه تا باچاخان د کوتر و په کوته کې کښې بند کړې دی؟ هغه سمت ته په ډیر ادب او غلی غوندې خواب ورکړو چه د سرحد د حکومت د احکم دی په دی کښې زه څه کولی شم، کرنیل سمت هغه وخت د هغه ځای نه ګورنر ته تیلفون وکړو ورته یې ووې چه سر جارج څوک یوبها در د بنمن سره د اسی سلوک کوی څنګه چه تا باچاخان سره کړې دی! چه په یوه وړه کوته کې کښې دی یوازی اچولی دی؟ ګورنر پخپل کار شرمنده شو او خپل حکم یې واپس وا خیستو او حکم یې وکړه چه ده له بنه ځای او ملګری ورکړئ کله چه سمت صاحب بیا راغی او ماته یې د ملګرو ووې چه څوک غواړې ما ورته ووی چه ستا څوک خوښ وی هغه راکړه هغه وې چه دوی به تا سره وی که ما سره ماورته ووی چه ما سره به وی ده ووی چه بیا خو په کار دی چه ته یې خوښ کړی، نو چه ستا څوک خوښ وی هغه راته ووایه نو ما ورته ولی او شیر دل خان یاد کړل هغه یې مالګه راولیږل چه هغوی راغلل نو دهغوی نه معلومه شوه چه سالار انځر ګل په دیره د اسماعیل خان چیل کښې دی او د پر ناجوړه دی نو ما سپرنټنډنټ ته ووی چه مونږ له د بخلی د پاره چیل سره راکړه هغه وې چه څوک غواړې؟ ما وی انځر ګل غواړم او هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډېرو په چپل کښې دې هغه يې راوغښتو چې انځر کل جرنیل راغې نو دومره ناجوړه وچه
ذکر خبل وهم نه وزمونږ په پورو راختې نه شوخو د خدای فضل و د اکتر انوې علاج
وکړو او مونږ ورله ښه خوراک په اکتر مقرر کړو نو وړځ په وړځ ښه کېده زما په هغه
کوتنۍ کښې په مشکله دوه کتې راتلل او نورځای کښې د ملاستې هم نه و، نو سالار صاحب
به زما د کټ دلاندې څملاستو او شیر دل خان به دولې د کټ دلاندې څملاستو څه وخت
پس حکم راغې او ماته چې نزدې د هسپتال کومه کمره وه هغه يې ولې دوی له ورکړه ځکه چپل
ځای پاتې شوم او دوی د ډېرې واړه هغې کمرې له لاړل.

مونږ جیلخانه کښې ووچې خبر شو چې بنګال کښې قحط دی او ډېر خلک د ولږې
نه مړه شول مونږ له چې حکومت کوم راشن راکولو نو نیم به مونږ خوړلو او نیم به موهغه
مصیبت زده خلکو له چې جمع کولو او چې ډېر جمع شو نو مونږ حکومت ته وویل چې دا بنګال له
ولېږه خو نه حکومت هغه بنګال له ولېږه او نه مونږ ته يې واپس راکړو په دغو وخو کښې
د ولی سترکه خوږه مشوه دغه یوه سترکه يې وه. هغه بله يې په شړۍ کښې خرابه شوې وه
مونږ سره ډېر فکر و سپرنټنډنټ د فوج د سترکو ماهر راوغوښتو خو څه فایده ونه شوه
مونږ دې سپرنټنډنټ ته ووې چې ته حکومت د دې حال نه خبر کړه دې غواړي چې
بمبۍ ته لاړشم او په هغه چپل اکتر علاج وکړم، سرجاج بغیر د څه شرط نه هغه
رها کړو او د علاج اجازه يې ورکړه چې دې تلو نو ما ورته ووې چې ولې ته يې د علاج
د پاره پرېښودې نو که علاج دې وشو نو بیا به هم د حکومت برخلاف څه کار ترهغې
پورې نه کوې چې داد قید میعاد دې پوره شوی نه وي.

زمونږ د ډېر ملګرې چې د قیده رها شو او په هریپور کښې کوم پاتې شونوزه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې یوځای کېږو هغوی اجازه راکړه ، مونږ به هر اتواړ یوځای کلېدو په دې
خپل تحریک او په قومي معاملو باندې به موږ څنګه کول نو زمونږ به تجربه کیدلې زمونږ
یوجرنیل د پرېښه مړي و ، دوی خپل مشر مقرر کړي وخو دوی به ټوله درځ هغه
پسې خبرې کولې نو یوه درځ ما راوغوښتو او درته مې ووې چې جرنیل صاحب ددوی
د مشرۍ نه استعفا ورکړه ، هغه لاړو او دوی له یې استعفا ورکړه ، نو دا تواړ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

درځ چې مونږ یوځای شو نو دوی راته ووې چې باچا خانه ته زمونږ مشر شه او که ته نه کوی نو یو مشر راله خوښ کړه ، ما څه ځواب ورنکړو او خبره می بله خوا واړوله چې بل اتوار به بیا جمع شو ، نو دوی بیا ما پسی شو چې مونږ له یو مشر مقرر کړه نو زه پاڅیدم او دوی کښی می هر سړی ته ښکته پورته وکتل چې تولوته می په غور وکتل نو ورته می ووې چې دوی کښی خو ماته داسی سپک او ذلیل او بی غیرته سړی ښکاره نه شو چې ستا سو مشر یی کړم ، تا سو عجیبه مخلوق یئ او څان ته خدایی خدمتګار هم وایئ ، قید و نه هم تیروئ ، نو چې کوم سړی خپل مشر مقرر کړئ نو بیا هغه ته کنځل کوئ ، هغه سپکوئ ، ډېره دافسوس خبره ده ، دوی چې شول او بیا یی ماته د مشر خبره اونه کړه ، مونږ چې د هر یو پور په جیلخانه کښی وو نو یو قیدی ماله راغی چې ای باچا خانه چې ستا دي خدایي خدمتګار و زه جیلخانی ته د دریو میاشتو د پاره راوستی وم او راته یی وې چې بس میاشت نیمه کښی رهایی ده ، ما شپږ میاشتی تېری کړی اوس زه ورته وایم چې ما پرېږدئ چې زه لاړشم او دوی می نه پرېږدی ما ورته وې زه دی پرېږدم نیغ ځه دفتر ته ، ما هیڅ خدایی خدمتګار دی کار څه منع کړی دی ، چې په زور او چل څوک جیل ته مه راولئ ، دا تحریک ته دفایدی په ځای نقصان رسوی .

خلک په ډیر زور جیلخانی له په تلو مه مجبور وی او په خوشامند و منت دوکه خلک جیلخانی ته مه بیایئ ، ستا سو خو دا خیال دی چې د پر خلک جیلخانی ته لاړشی نو زمونږ به په حکومت رعب قایم شی لیکن دکهزور و خلکو په بوتلو تا سو سپک کېږئ او وروسته تا سو خپل تحریک بدنامویئ ، منم چې د پرو خلکو په تلو په حکومت روب پرې وځی لیکن چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی مضبوط او با اصوله وی. ما په جبلخانه کښی چرکان ساتلی و او هغوی له به ما په خپل لاس خوراک ورکولو. هغوی ما سره داسی اموخته شوی وچه څه به زما غږ نه کښی ناست وځه به زما په اوږو سور بدل، یوه ورځ می اوږه کلک اخکلی و، دوی له می ورکول څوک زما په لاس، څوک زما په غږ کښی او څوک زما په سر ناست و. کرنیل سمت چې ته په دوه راغلی وچه ماله راتلونو دا تماشه یې ولیده نو د چل افسران یې تول واپس کړل او زما د چکو په شا، شا راغی، زه تری خبر نه یم او دی زما شاته ولاړ وی، تماشه یې وکړه بیا یې ماته وویل چه: (good morning) (صحر دی ښه شه). چه ما وکتل سمت صاحب و ما ته یې وویل چه داځه کوی؟ ما ویل چه دا زه چه څه کوم په دی کښی ستا سو د پاره سبق دی، کوره دا معلومه ده چه مونږ دوی حلالوو او خورو، خو چه زه و ر سره محبت کوم او په کښې یې مروم نو دوی زما په غږ ه کښی او څوک زما په اوږه، او څوک زما په سر ناست وی. دوی نه تاسو له سبق اخیستل په کار دی. کوره دا حیوان دی خو چه زه و ر سره مینه کوم نو زه ماد غږ ی نه نه کوزیږی او انسان خو اشرف المخلوقات دی که دهغه سره مینه وشی نو ولی دی دسړی دوست نه شی.

کرنیل سمت یو بهادر سړی و او بهادران یې خوښ و نو ده یخپله اقرار وکه چیه ما جنګ په تاسو بایلود. بیا یې وروسته خدای خدمتګار و سره د پره مینه پیدا شوه او ښه سلوک یې و، او زما خو پری دومره اثر شوی و او زما یې دومره قدر کوو چه په ۱۹۴۱۷ کښی چه زمونږ دسکو د پری کښی جلسه وه، چه کورم چه کرنیل سمت خپل زوی دلاسه نیولی ستیج له راغی، دهر کلی نه پس یې ماته وویل چه زما د دې زوی په سر لاس واکاږه ما هغه ځان ته را نزدی که او ده ته می وویل چه ته ماله جلسی له څله راغلی ته خو سړی کاری

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوکري اوکه پاکستان جوړشي نو تا به د نوکرئ نه مات کړي. ده وخندل اووې ويل چه پاکستان په کومه ورځ جوړشي زه به دلته نه يم . دده مسلم ليګ هم بدی ايشو اوپه پښور په جيلخانه کښې يې سنه دولې و، ځکه چه بيرسټر قيوم پرې دباوکړی وکه چيرې زمونږ حکومت شي بيا به څه کوی؟ رښتيا وه چه پاکستان په کومه ورځ جوړشو، نو دی خوا جنډی اوچتيدی او تو پې خلاصيدی او هغه خواکرنيل سمت سره دخپلی کډی په فرنټيرميل کښې انګلستان ته روان و .

په ۱۹۴۵ کښې زمونږ دلعضی ممبرانو په زړه کښې داخيال پيدا شوچه زمونږ په صوبه کښې وزارت سنبه دی که مونږ وزارت واخيستو نو دنورو کارونو نه علاوه دا سياسی قيديان چه د دری کالونه را په دی خوا په جيلخانه کښې پراته دی هم رهاشی . زمونږ د اسمبلی په ممبرانو کښې لعضی کسان دحکومت اووزارت دپرشوقيان و، دوی سول نافرمانی کوالو ته تيارنه و، دلې ونه يې کولی نه شول، دوی خپل کارونه کول اوخدايی خدمتګار په چپاو ولوکښې خه مړه، څه قيديان اوخه زخميان شول، نوخلکودوی ته سنبه نه کتل ځکه چه دوی پخپله هم کارکولو ته تيارنه و اونورې کار ته نه پريښودل. تردې چه لعلی زمازوی يې هم چپاو کولو ته نه پريښوده . دوی چه دوزارت جوړولو کوشش شروع کړه نو دکيه توت په کيمپ کښتی ساقی صاحب اوکيمپ کمانډر سالار شيرعلی خان ددوی مخالفت شروع کړو او ډاکټر صاحب يې هم دځانه سره هم خيال کړ. دوی دا سمبلی خپل ټول ممبران دصوبې نه يکيه توت کيمپ له داجلاس دپاره راوغوښتل چه دوی دځانه سره دوزارت په جوړولو کښې متفق کړی ،خوهغوی چه به راتلل نو ساقی صاحب به پوهول چه اجلاس هم ناکامياب شو. اخرچه ساقی صاحب تيراته لاړو نو دوی ته صحنه خالی شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مګر په صوبه سرحد کښې چه مونږ څه کول نو هغه مونږ یوازې دخولې په تبلیغ او تشولاسونو کول . ولې چه زمونږ سره هیڅا مالی مرسته نه ده کړې . او بعضې خلکو به لا زیاتی په مونږ دا الزام هم لګولو چه دوی څه تعمیری کار نه دی کړې او د قوم روپۍ یې خوړې هو یحې کالونی په دیلی کښې وه او سیوا کرام په وارده کښې او چه څه وخت به پرانستنا (عبادت) شروع شو . نو د تولونه مخکښې به مادر قرآن شریف تلاوت وکړو . خلکو ته به د هغه ترجمه وکړه . زمانه پس به یو جاپانی د بده مذهب پیرو کار خپل متاجات بیان کړل او بیا به پرانستنا شروع شوه . دکاندهی جی په زړه کښې د تولو مذهبونو یو شان احترام وا او هغه به د تول مذهبونه حق ګنهل او زما عقیده هم دغسې ده . د قرآن شریف او ډکټیا مطالعه خو ما په سنه شان سره کړې ده او څه وخت چه زه په پیره غازی خان جیل کښې سکهانو سره قید وم نو دهغوی نه می ډکر نتم صاحب زیاته حصه اوریدلې وه د بده مذهب مطالعې سره زما د پرشوق وو ولې چه مونږ خلک د اسلام نه مخکښې د بده مذهب پیرو-کار وو لیکن د بده مذهب کتاب ماله په لاس را نغی . انجیل می د طالب علمی په زمانه کښې په مشن های سکول کښې ویلی وو ولې چه زه دهغوی د سکول طالب علم وم تورات می لږ د پیر جبلخانه کښې کتلی و . د زردشت د پارسیانو مذهب ډکتابونو ډکتلو می هم د پرشوق و ولې چه هغه خدای مونږ له د الپږ لی و او په بلخ کښې پیدا شوی دی . "خدای په قرآن کښې وایي چه ما هر قوم ته د هغوی نه یو هادی لپږ لی دی . لیکن تر دی وخته پورې ما د هغه متعلق هیڅ لټریچر بیا نه مونده . خو رشید بهن او نورو پارسی دوستانو ما ته ویلی وو خو هیڅا د هغه یو کتاب ما ته را و نه لپږه . زما مذهب ربنتیا ، مینه محبت او د خدای د مخلوق خدمت دی . "مذهب همیشه د نیاته د اخوټ او محبت پیغام راوړی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکومو خلکو په زړونو کښې چې د بنې نوع انسان د پاره روادارۍ، مینه، محبت نه وي اود کوم سړي په زړه کښې چې نفرت. بغض، کینه وي نو داسې سړي د مذهب نه پرلیري وي.

د الیکشن په وخت کښې مسلم لیګ په صوبه سرحد کښې د پراپیګنډې د پاره یو پنجابي میجر خورشید راالیږلی وُ چې د خپلې بدعملۍ په وجه د فوج نه موقوف شوی وهغه یې ددی غرض د پاره راولیږلو چې هغه پښتنو کښې خانه جنګۍ پیدا کړي اوداسې تقریر ونه به یې کول چې د تشدد نه ډک وو، ده به ویل چې دا یو څو خدایي خدمتګار لیډران دي چې دی قوم کښې ددوی د سوخ او اثر دی، دوی قتلول غواړي اوداسې خلک پیدا کړئ چې هغوی ته مونږ لس لس، شل شل زره روپۍ ورکړو چې هغوی دا لیډران مړه کړي ځکه چې ددوی د مړ ک نه بغیر زمونږ لاره ازادیدی نه شي، داسې ددې د پاره سرحد، ته راغلی وو چې پښتانه په کور کښې د جنګونو اوکړي چې د خدایي خدمتګارو - رهنمایانو قتل کړي شي نو د قوم همدردي خو خدایي خدمتګارو سره ده، نو د بدل اخیستلو به ضرور کوشش کوي اود مسلم لیګ لیډران به قتلوي. او په دی طریقه به پښتانه نه یې کور کښې په جنګ، جګړه اخته شي، اوددوی به بربادشي، میجر خورشید یوازی زمونږ تباه کول نه غوښتل بلکه د پښتنو ټول قوم یې تباه کولو.

زلمی پښتون:

څه وخت چې زمونږ خلک د میجر خورشید ددی ارادې اوسکیم نه خبر شول نو هغوی د خدایي خدمتګارو د حفاظت د پاره نوی جماعت د غنی په مشرۍ کښې جوړ کړو چې نوم یې (خُلمی پښتون) و او په دی کښې هغه خُوانان شریک شول چې د چا اعقیده په عدم تشدد باندی نه وه ولی چې هغوی په دی غرض د غه جماعت

(c) ketabton.com: The Digital Library

الیکشن :

مخکښی الیکشن راروان و نو ما دا فیصله وکړه چې زه په الیکشن کښې په دا سې حالاتو کښې حصه نه اخلم ځکه چې د الیکشن کمیټه خو د وزارت جوړولو د پاره وی، زمونږ د وزارت شته خو دهغه داحال دی چې د دوی برخلاف پراپیګنډې د دوی ماتحت خلک کوی او دوی ورته لاس ترزنی ناست وی.

په کلکته کښې د ورکنګ کمیټې اودپارلیمنټری بورډ شریک جلسه وه زه هم ورله تلی وم او په کښې مشریک وم، دا ټوله جلسه د الیکشن د پاره وه ما دهغوی په مخکښی د صوبه سرحد حال بیان کړو او هغوی ته می ووې چې الیکشن خو د وزارت د پاره وی چې الیکشن وکټو او وزارت جوړ کړو، زمونږ وزارت شته او پیرنګیان او دهغوی ملګري زمونږ د وزارت برخلاف پراپیګنډه کوی او زمونږ دومره اختیار نشته چې دوی نه تپوس قدرې وکړو نوزه تاسو خبروم چې زه په راتلونکی الیکشن کښې حصه نه اخلم. پارلیمنټری بورډ ووې چې په هره طریقه چې دی چې په الیکشن کولو راضی کړو خوزه یې اماده او رضامند نه کړی شوم چې د ورکنګ کمیټې اجلاس ختم شو نو ما کاندهی جی ته ووې چې تاخو زما دا ټوله قصه واوربلده نوزه په دی الیکشن کښې حصه نه اخلم نو هغه هم ما سره اتفاق وکړو.

زه کلی ته راروان شوم کار می کولو زما خو د الیکشن سره اتفاق نه ؤ کار سره می اتفاق وکړو کښې وزکار نه کښې نښا ستم په ملک کښې می دوری شروع کړی حکومت په زور شور زمونږ مخالفت شروع کړی وما ته دا پته ولګیده چې حکومت اسلامیه کالج بند کړو او دغه شان د صوبې ټول کالجونه او سکولونه بند وی او هلکان د مسلم لیګ د پراپیګنډې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پاره کلواو ښارونو ته لیږي دا راته هم معلومه شوه چه د پیرنګیانو ښځې هم په ملک کښې
ګرځي او د خانانو ، ملکانو ، ښځو ته وایي چه مونږ تاسو کره راغلی یو د سر نه لوښته غواړو او
زمونږ لوښته دوټ دی مونږ له به دوټ راکوئ او د پراپګنډې د پاره د سیکم شهنواز لونه
اونوری له پنجاب نه د هری جنګی سرحد له راغلی دي . د پنجاب نه مسلم لیګیان د علیګړ مسلم
یونیورسټی هلکان او د کلکتې اسلامیه کالج طالب علمان او د هندوستان د نورو ځایونو
نه کارکنان لیډران په دې لوی تعداد سره سرحد ته راغلی وو دوی نه علاوه حکومت او
مسلم لیګ د سرحد او پنجاب پیران د کوټو نه راوښکی وو . وي چه دا وخت د کوټو نه دې راځي
میدان ته شئ او مانکی صاحب (د مانکی پیر صاحب امین الحسنات) یې هم راوښکی وو او
مونږ ته یې مقابله کښې د ډیر ولی وو ، دوی ماسره واقف و ، د ده د پلار فاتحې له هم زه تللی
وم ، او کله نا کله چه به زه به دوره لاړم نو د ده سره به مې لیدل ، نو ده ماپسې یوسړی راولیږه
چه زه ستاسره د ملاقات له درځم ، ما ورته وویل چه دوی نه راځي زه به درشم . دی د پښتو
په چونې کښې اوسیده . یوه بنګله ورله حکومت ورکړې وه ، زه ورغلم او دوی مې ولیدل او
د پرې خبرې مو وشولې ، د ده ماله د جیبه یو کاغذ را وایسته او راته یې وویل چه دا ماله جناح
صاحب راکړې دی او په دې کښې یې لیکلی دی چه که پاکستان جوړ شو نو په دې کښې به اسلامي
شریعت وي ، ما ورته وویل چه څنګه یې . دي حیران شو او راته یې وویل چه ولې ؟ ما ورته وویل
چه په اسلامي شریعت کښې د جناح صاحب څای شته ؟ نو ټاله به یې څرنګه جوړ کړي ، ما ورته وویل
چه ته خو باید چه د اسلام نه واقف یې ، نو ته پخپله فکر وکړه چه که سبا له دلته اسلامي شریعت
جاري شي نو چه د دې مسلم لیګ د مشرانو به څه حال وي ؟ ما چه د پیرنګیانو او میمانو زمونږ
په مقابله کښې دا دومره جد وجهد او دلچسپي ولیده نو زما خیال بدل شو ، الیکشن ته صرف

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه میاشت پاتی وه نو ما کار شروع کړو دا د ۱۹۴۶ کال د متحده هندوستان اخری الیکشن و ، دی الیکشن ته مسلم لیګ داسی رنګ ورکړو او خلکو ته به یی ویل چه دا الیکشن په هندوستان او پاکستان دی چه پاکستان غواړئ که متحده هندوستان ؟ په هندو او مسلمان و چه کفر سره ځئ که اسلام سره ځئ ؟ په مندر او په مسجد و چه جماعت له دوټ ورکوئ که د رمسال له.

په دی الیکشن کښی مونږ میا جعفر شاه او دکلی کړئ ارباب عبدالرحمان نه و د دول ځکه چه دوی د ډاکټر صاحب او قاضی صاحب په مینځ کښی اختلافات پیدا کولو او ډاکټر صاحب ته به یی زما په سر هم لمسون کولو چه باچا خان داخل تا نه وزیر اعظم کوی او قاضی صاحب وزیر اعظم کوي. د دوی دا تولی خبری دروغ وی. مونږ ډاکټر صاحب وزیر اعلی کوو، مونږ صرف دومره ویل چه ډاکټر صاحب د (لا اینډ آرډر) نه اخلی، دا د قاضی صاحب له ورکړی ځکه چه ډاکټر صاحب له سرکاری افسران دوکه ورکولی شی او قاضی صاحب له یی نه شی ورکولی، خو ډاکټر صاحب ووې چه که جعفر شاه او ارباب عبدالرحمان نه و د دوی نوزه هم نه و د پښتم مونږ د ډاکټر صاحب نه مجبوره شوا و دوی موو د رول جعفر شاه او ارباب عبدالرحمان تش په نامه خدایی خدمتګار و و خو چه څه وخت پاکستان جوړ شوا و د قیوم وزارت راغی نو د تولو نه اول دکلی کړئ ارباب عبدالرحمان را اوګډه د قیوم پی خپل ځای کښی میلمه کړو، جعفر شاه پی هم را وغوښت او دوی مسلم لیګ کښی شامل شول او ورته پی ویل چه مونږ به کوشش کوو چه نور خدایی خدمتګار هم په مسلم لیګ کښی شامل کړو.

د هندوستان دنور و مسلمانانو په شان پښتانه جذباتیان نه و و مونږ په دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښې د پرکار کړې وې په دوی کښې سیاسی شعور راغلی وکړلې په کور، کلی په کلی ورپسی
کرځیلی لی وو دوی موږه کړی وو او په دوی کښې پوهه او بیداری راغلی وو د اسلام
نه واقف شوي وو دوی د اسلام په نوم چا دوکه کولی نه شوه، دلته خدایی خدمتګار د
د پرکار کړی وهندوستان کښې مسلمان غریب د اسلام نه چا خبر کړی و؟ په اسلام
چا پوه کړی و؟ سیاسی شعور او پوهه یکښې چیرته وه؟ دهغوی د پوهی څوک و؟
او د اختیزو نه خو په یو قوم کښې پخپله نه پیدا کیږي او د اخوچه یکښې څوک په قام او ملک
او اسلام مین خلک پیدا شی نو یکښې کار وکړي. هندوستان کښې د اسی خلک تر
اوسه مسلمانانو کښې نه دی پیدا شوي نو ځکه د اسلام په نوم دوکه کیږي او خود
غرضه خلک د اسلام په نوم تری فایدی اخلی. بله د اچه د هندوستان د مسلمانانو
لیډرانه هغه سړي وو چه د پیرنګیانو خاص الخاص وو. یا به سر وو، یا نواب، یا خان بهادر
خدایی خدمتګار و شپه او ورځ په دی یوه میاشت کښې چه کار وکړو نو سره د دی چه
پیرنګیا نو او مسلم لیګ د پره مودې د غړی وهلی وې، مسلم لیګ په دی الیکشن
کښې شکست وخوړ او خدایی خدمتګار په یو لوی اکثریت سره کامیاب شو، پنځو سو
کښې یو دیرش خدایی خدمتګار وو، دوه سیټه جمعیة العلماء هند وکنټل، باقی اوو نس
سیټه مسلم لیګ وکنټل.

په صوبه سرحد کښې شپږ ضلع دي په پنځو ضلعو کښې کوهاټ، بنو، د ډیرهٔ
اسماعیل خان، مردان، پیښور کښې مونږ کامیاب شو او په هزاره کښې هم تول پښتانه
دی خوا ژبه یې پرلیښی ده هلته چه په کومو علاقو کښې چه پښتو وه نو هلته پښتانه کامیاب
شو او چیرته چه ژبه هیره کړې وه او هلته کولی وې هلته مسلم لیګ کامیاب شو حکومت

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د حکومت پر زور زمونږ بر خلاف چې څومره کار کړی وُ دومره مسلم لیګ نه وکړی
د حکومت دا کار مونږ ته ډیر مکروه اود ائین خلاف ښکاره دیده نو مونږ کښینلا استواو
دا فیصله مو وکړه چې وزارت نه اخلو او د وزارت د جوړولو نه موانکار وکړو او وسوډیل
مونږ ترهغه وخته پورې د وزارت اخیستو ته تیار نه یو چې تر کومه پورې حکومت مونږ له
دا اجازه رانه کړي چې الیکشن کښې کومو ملازمانو زمونږ خلاف حصه اخیستې ده او
د قواعدو اوضوابطو خلاف ورزۍ یې کړې ده چې د هغوی بر خلاف مقدمې جوړې
کړو او مجرمانو له مناسب سزا ورکړو. زمونږ د دې فیصلې سره د اکثر خانصاحب اتفاق
نه وُ. سعد الله، سردار پټیل د دې فیصلې نه خبر کله سردار پټیل چې خبر شو نو هغه
مولانا ابوالکلام ازاد د دې مسئلې د حل کولو د پاره سرحد ته راولیږه او پیښور کښې
زمونږ اجلاس وشو.

ماموالانا صاحب ته صافه اوپاکه خبره وکړه چې کومو سرکاري ملازمانو زمونږ بر خلاف
قدم وچت کړې دی که مونږ ته دا اختیار نه وی چې مونږ هغوی له سزا ورکړې مشو نو مونږ
داسې وزارت نه اخلو. مولانا صاحب واپس دیلی ته لاړو او هلته یې دوا یسرا نه لیوخط
واخیستو او بیا راغې، په دې خط کښې دا یسرا په څه کول مول طریقه زمونږ شرط منلی و
نو مونږ وزارت خو واخیستو خو په دې شرط چې د وزارت اختیارات به یوې مرکزي
کمیټې سره وي. زما دا رایه وه چې د هرې ضلعې د خدایي خدمتګارو نه دې، د دوه دوه
کسان واخیستې شي او د هغوی نه دې دغه کمیټې جوړه شي خو شرط به دا وي چې
دغه کسان به د حکومت ملازمانو سره لیدل کتل نه کوي او نه به د وزارت سره تګ
راتګ کوی نه به د چا سفارش نه کوی بلکه د وی به د وزارت د پاره د کار کوالو پیرو کړام

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړوي اووزارت به ددوی د منظور شوی پروګرام نه خلاف کار نه کوي ددی کار
د پاره مادتولی صوبی دوره وکړه اودغسی کسان می هم پیدا کړل کمیټه می تړی
جوړه کړه خو افسوس دی چه هغوی دغه کار ونه کړو ولی چه هغوی خپل غرضونه
نه پریښوول نودغه سکیم کامیاب نه شو. حقیقت دادی چه مونږ کښی لا داسی خلک
پیدا نشوی نه دی اوهغه چه مونږ وئیل چه کومو سرکاری افسرانو د قانون، اخلاقو او
سرپیتوب خلاف په الیکشن کښی د خدایی خدمتګارو خلاف کار کړی دی. هغوی لره
سزا ورکوو، هغه کار هم ونه شو.

د آئین ساز اسمبلی ممبران:

اوس د دستور ساز (قانون ساز) اسمبلی د پاره د انتخاب مسئله راځی. دغه په پاره کښی
دا فیصله وشوه چه د هری صوبی څومره ممبران په حصه کښی راځی نو هغه به د صوبایی اسمبلو ممبرانو په ووټ جوړ
یږي، زمونږ د ری ممبران د سپیشل یونټ شوم، یو مولانا ابوالکلام آزاد مقرر
کړو. مسلم لیګ د هندوستان د مسلمانانو ذهنونه دومره بدل کړي ووچه د دغه په
شان بې عمله عالم مسلمان او د قربانی مړني سیاستدان په ټول هندوستان کښی په
مسلمانانو کښی نه وخوړه له چا ځای ورنکړو نو مونږ د خپلی صوبی نه منتخب کړو یود
مسلم لیګ رسپیټ و نو هغه د هزاری د ضلعی نه سردار بهادر منتخب شو، دا مرکزی
اسمبلی هم وه اوآئین سازه اسمبلی هم وه، مسلم لیګ د دی بایکاټ وکړو مادې
د مسلم لیګ مسلمانانو ممبرانو ته د هر منت وکړو چه راځئ چه په دی کښی شریک شو
مونږ به هندوانو ته ووایو چه تاسو که « سوشلست جمهوریت » جوړوئ نو مونږ
د هر ډګر کښی شریکیږو، په دی کښی د مسلمانانو ډیره فایده ده ولی چه مسلمانان

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هندوستان کښې غړیانان دي اوهندوان امیران دي. په دې آئین کښې دا
داخبره شته چه څوخت دا آئین جاري شو اومرکزي حکومت جوړشو نوهره صوبه
چه په اکثریت سره فیصله وکړي چه زه ددې حکومت نه جلا کیږم نوجدا کیدی
شي. که چیرې مونږ پوه شوچه زمونږ داخبره نه منې نوبیا زمونږ په صوبه سره حد
کښې اکثریت دی اوستاسو په پنجاب، بنګال اوسنده کښې اکثریت دی، زمونږ
ټولې خپلې خپلې اسمبلۍ به قرارداد پاس کړي چه مونږ مرکز سره نه اوسیږو، بیا به
مونږ ټول په شریکه یو حکومت جوړ کړو. که چیرې مسلم لیګ زما داخبره ومنلې وی
نو نه به پنجاب تقسیم شوی وی نه بنګال. خو مسلم لیګ مسلمانان داسې لیونی وو
چه څوک به مسلم لیګ کښې نه وو. هغه به یې د سره مسلمان نه ګڼلو.

کرپس مشن:

چه دویم جنګ عظیم شروع شو نو د امریکې سیاسي مشران وویل چه تر څو د
هندوستان سیاسي مسئله حل شوی نه وی نو هندوستان جنګ کښې زمونږ تائید
کولی نه شي. نو هغوی د برتانیې په حکومت دباو اچول شروع کړل چه هندوستان
ته ازادي ورکړي. پرزیدنټ روزویلټ داخبره بیا بیا مستر چرچل ته وړاندې
کړه، نو انګریزانو هم محسوس کړه چه د امریکیانو په دې مطالبه غور وکړي. انګریزانو
ددې د پاره کرپس مشن هندوستان ته ولیږلو، خو دا مشن ناکام شو، د جنګ حالت
روښ تر روښ خرابیدو نو امریکیانو بیا پیرټکیانو له مخ را واړولو. نو لارډ ویول اللند
ته لاړ او د وزیر هند سره یې مشوره وکړه چه د هندوستان د سیاسي مسئلې د حل
د پاره یو ګول میز کنفرانس راوبلي. په دې ګول میز کنفرانس کښې مستر جناح ویل چه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مسلمانانو نمایندګان به صرف مسلم لیګ مقرروي او د هندوانو نمایندګان به
کانګرس . مولانا ازاد چه د کانګرس صدر و ددې سره اتفاق نه کولو، هغه به ویل
چه کانګرس به د هندوستانی قومیت په حیثیت کنفرانس کښې شاملیږي . په دې
اختلاف دا کنفرانس هم فیل شو . دا به ډیره دتعجب خبره ده چه پیرنګی په دې خبره
ټینګ ولاړ وو ، چه کانګرس دې مسلم لیګ د ټول هندوستان د ټولو مسلمانانو
واحد نماینده جماعت تسلیم کړي ، ولی حقیقت دا وو چه کله په ۱۹۳۷ع کښې هم دې پیرنګی
په هندوستان کښې انتخابات وکړل ، نو هغې کښې دیوولسو صوبو نه په اتو کښې قطعی
اکثریت کانګرس حاصل کړو ، باقی د مسلمانانو د ډیرۍ اکثریتی صوبې وې چه هغه مقامی
پارټو سره وې او مسلم لیګ سره یوه صوبه هم نه وه ، سنده کښې د الهی بخش سومرو
حکومت وو چه هغه یو قوم پرست سړی وو او د کانګرس د ممبرانو حمایت هغه ته حاصل وو
پنجاب کښې دیونینسټو حکومت وو چه هغې وزارت کښې د مسلمانانو سره هندوان او
سکهان هم شامل وو ، هم داشان بنګال کښې حکومت د مولوی فضل الحق وو چه هغه هم
د غیر مسلمو په مرسته خپل حکومت چلولو ، مګر د دې هرڅه با وجود پیرنګی ستړی کیدو
کړي وي او په دې نښتی وو چه کانګرس دې مسلم لیګ د مسلمانانو واحد نماینده جماعت
ومنی او تر دې حده پورې لاړ چه پورته شمله کنفرانس یې هم په دې یوه مسئله باندې ناکامیا به
اوختم کړو ، د دلچسپۍ خبره دا ده چه کله موجوده پاکستان مونږ د اخلو او د ۱۹۳۷ع
د انتخاباتو نتیجې وړاندې کیږي دو ، نو د پیرنګی او د مسلم لیګ حقیقت به معلوم شي ، په دغه
انتخاباتو کښې د سنده او سرحد نه یو ممبر هم د مسلم لیګ نه وو منتخب شوی او د پنجاب
د ټولې صوبې په مسلمانانو کښې صرف یو ممبر د مسلم لیګ وو ، یعنی د دې د ډیرۍ وارو صوبو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مسلمانانو دیوسل وپنځه پنځوس ممبرانونه د مسلم لیګ صرف یو ممبر او دغه یې دعوه، وه.

شمله کنفرانس:

برتانوی حکومت په دغه وخت کښې مجبور وچه هندوستان تخیل حق ورکړي د دې دپاره یې دغه کال د مارچ په ۲۳ نېټه راوربل چه هغوی هم دغه کال د مارچ په ۲۳ نېټه راورسېدل.

دې مشن د آل انډیا کانګرس او مسلم لیګ جماعتونو سره خبرې اترې شروع کړې، د دې مقصد دپاره یې خلور خلور تنه نمایندګان د هر جماعت نه وغوښتل، دا اخبرې اترې په ۲ مې ۱۹۴۶ په شمله کښې شروع شوې د کانګرس له خوانه دا کسان مقرر شول:

۱- مولانا ابوالکلام ازاد د کانګرس صدر،

۲- جواهرلال نهرو.

۳- سردار پټیل.

۴- زه (عبدالغفارخان).

د مسلم لیګ له خوانه دا کسان راغلل:

۱- محمد علی جناح چه د مسلم لیګ صدر،

۲- لیاقت علی خان. جنرل سکرټری

۳- راجه محمود آباد.

۴- عبدالرب نشتر.

د برتانیې دلیبر حکومت نه دا وزیران راغلی وو:

۱- لارډ پیتک لارنس وزیر هند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- سر ستیفرد کرپس .

۳- مستر الکزاندر .

۴- لارډ ویول دهند وایسرای .

د پورته ذکر شوو نمایندګانو ترمنځ خبرې شروع شوې . په اول ملاقات کښې چې څه خبرې وشوې دهغې نه پس مونږ د کانګرس څلور واړه ملګري مهاتما کاندهي ته لارو هغه مونږ ته وویل انګریزان د پرچالاک اوهوښیار دي تاسو په خبرو اخته کړي او په هغه اودغه به موتهر باسي . تاسو دهرڅه نه مخکښې دوی نه پوښتنه وکړئ چې ایا دوی هندوستان پریږدي اوکه نه ؟ بله داورته ووایئ چې تاسو انګریزي فوځ ددې ملک نه وباسئ اوکه نه ؟ په سبا چې مونږ جرګې ته لارو نو جواهرلال نهرو دوی ته داخبرې وکړي چې تاسو هندوستان پریږدئ اوکه نه ؟ اوتاسو دا انګریزي فوځونه ددې خاورې نه وباسئ اوکه نه ؟

لارډ ویول ورته په ځواب کښې ووې چا ته یې پریږدو ؟ تاسو (کانګرس او مسلم لیګ) جوړه نه کوئ نو مونږ به دا ملک چا ته پریږدو ؟ جواهرلال نهرو ورته وویل : که مونږ ته یې نه پریږدئ نو دوی (مسلم لیګ) ته یې پریږدئ خو تاسو ووځئ .

ددې خبرې په جناح صاحب ښه اثر وشو اوهغه وویل چې مونږ جوړه کوو . ددې نه پس مونږ ټول راوو تو اوجناح صاحب اوجواهرلال نهرو یوې بلې کوټې ته ننوتل اولږ ساعت پس راووتل اوبیا ټول دجرګې په ځای سره کښېناستو او فیصله داسې وشوه : یوو فلاڼې مقرر شي چې یو تن د کانګرس او یو تن د مسلم لیګ نماینده پکښې وي او دریم سړی پنج به یې داسې څوک وي چې د دواړو جماعتونو په اتفاق انتخاب شي کومې خبرې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کانګرس او مسلم لیګ له خوا فیصله شی هغه به د ملی شی او کومی چه په هغی کښی اختلاف او لانجه وي هغه به د غه وفد فیصله کوی.

لارډ پیتک لارنس مونږ ته نمایندګانو ته ووېل چه تاسو به په دربار د خپلو درځوکیو دننه د غه درې کسیز وفد انتخابوئ او مونږ ته به یې نومونه راولیږی. مونږ لارډ او کاندهی جی ته موده خبره وکړله مونږ چه درې ورځې پس اجلاس ته راتلونکاندهی جی مونږ ته ووېل چه " مسلم لیګ څه غواړی " هغه ورته وکړئ خو چه خبره وړاندې نه شی!

چه مونږ راغلو او کښېناستلو نو لارډ پیتک لارنس د جناح صاحب نه پوښتنه وکړه چه هغه قصه موخنګله کړه؟ جناح صاحب ورته وویل د څه قصه؟ ما چه د جناح صاحب دا لفظونه واورېدل نو عبدالرب نشتر صاحب ته می اشاره وکړه چه دلته راشه: هغه ما ته راغی نو ما ورته وویل ای هلکه ورانوئ یې مه! مونږ چه نن اجلاس ته راتلونکاندهی جی مونږ ته ووېل چه مسلم لیګ چه څه غواړی هغه ورته ورکوئ نو تاسو چه څه غواړئ هغه یې (درکوی) ددی خبری ضمانت زه کوم. نشتر صاحب لاړ او د جناح صاحب شا ته ودرېدلو. د پېړه د وخته پوری ولاړو خو هغه ورته هیڅ توجه ونه کړه نو بیا لاړ پخپل ځای کښېناست او خپره وړاندې شوه پیتک لارنس ورته ووېل چه: ای جناح صاحب تاخو وعده کړې وه؟ مګر هغه هیڅ ونه ویل او جګړه ناکامه اوخوره شوه.

کیبنټ مشن:

څه وخت چه د شملی کنفرانس ناکام شو اوله هغه نه وروسته په انګلستان کښی نوی انتخابات وشو او لیبر پارټی کامیابه شوه نو اعلان یې وکړ چه هند وستان په بلا ره کښی موچه څه اول ویلی وو هغه به سرته رسوو او عمل به پرې کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوروسته واقعاتونه داخبره ثابته شوه چه دهغوی خبری دزړه داخلاصه وې. البته دکرپس مشن دناکامۍ نه وروسته دچرچل حکومت دا فیصله کړې وه چه د جنګ تر ختمیدو پورې دې د هندوستان مسئله تاخ کښې کښېودلی شی.

کله چه صونږ پوه شو چه پیرنګیان هندوستان نه ازادی ورکولو باندې مجبور شول نو ماکانندهی جی ته وویل چه داخل حکومت راشی نو تاته پخپله اخیستل په کار دی، حکه چه تا خو ولیدل، ال چه دا معمولی بی اختیاره حکومت راغلی ؤ نو وزیرانو به دچا نه منل، اوس خو پوره اختیارات را دروان دی نو په کار دی چه دا حکومت ته پخپل لاس کښې واخلې. که چیرې ته یې وانه خلی نو دا درته وایم چه که داخپل خوی دیوی داس پرې کښېنوې نو دا حکومت داسی یوه څیز دی چه دانسان دماغ بدل کړی، نودی به هم بیاستا خبره نه منی، بلکه به داوی چه ته لکه دلیستن په شان حکومت پخپله واخلې. که کاندهی جی حکومت اخیستی وی مکمل کړې یې وی که بیا یې خوښ نه ؤ نو دماؤ په شان به یې پرلښې وی.

خوته پوهیږم چه هغه زمادوی خبری سره په څه وجه اتفاق ونه کړو، که چیرې ده حکومت اخیستی وی نو دهندوستان به دومره تباهی اوبربادی شوې نه وه. دلیبر حکومت داختیار حاصلولو نه پس دپرزړیو پارلمانی هیئت هندوستان ته راولیږه.

دفروری په ۷-۱۹۴۶ع لارډ پیتک لارنس وزیرهند په پارلیمنټ کښې دا اعلان وکړچه برتانوی حکومت هندوستان ته یو کیبنټ مشن لیږی چه د هندوستان دغه ګانو سره دملک دازادی په باره کښې خبری وکړی.

دغه وفد د ۱۹۴۵ - ۴۶ په ژمی کښې هندوستان ته راغی اومعلومه شوه چه دامشن به په لارډ پیتک لارنس وزیرهند، د تجارتی بورډ پریزیدنټ سر ستیفورډ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړلپس او دبحری محکمی اول لارډ ای . وی الکزنډر باندی مشتمل وی . دکیبنټ مشن د پلان مطابق به صرف دری محکمی د مرکزی حکومت تر اختیار لاندې وی، دادری محکمې د دفاع، امور خارجه او مواصلاتو محکمی وې . مګر دې مشن بخپل پلان کښی یو نوی تجویز وړاندی کړچه هندوستان یی په دری حصو تقسیم کړی و (C . B . A) ددې دپاره چه د مشن د ممبرانو دا خیال وچه د اقلیتونو په زړه کښی به اطمینان پیدا شی په B برخه کښی پنجاب سنده ، صوبه سرحد اوبرتانوی بلوچستان چه دا د مسلم اکثریت علاقی وې، په C برخه کښی بنګال او اسام شامل وو . په C برخه کښی د مسلمانانو په لږ اکثریت او په A برخه کښی د پورته ذکر شوو نه علاوه د هند نوری ټولی صوبی شاملې وی. په دی دول د مسلم اکثریت صوبوته تقریباً پوره خود مختاری حاصله وه په دی لحاظ په B او C برخو کښی د مسلمانانو اکثریت یقینی و او هغوته داحق ورکړشوی وچه خپل ټول اختیارات تر لاسه کړی ، ترکوم خایه پورې چه د مرکز سوال و د هغه سره صرف هماغه دری محکمی وې. په دې پلان کښی داهم وه چه په یوزون کښی کومه صوبه او سیدل نه غواړی او په اکثریت سره فیصله وکړی نو دهغی زون نه وتلی شی . دکیبنټ مشن پلان کانګرس او مسلم لیګ دواړو ومانه . په اول سر کښی جناح صاحب د دی سکیم مخالف وخو څه وخت چه مشن په صفا الفاظو کښی وویل چه نه مونږ د ملک تقسیم منو اونه دازاد ریاست سفارش کوو نو بیا جناح صاحب د مشن سکیم ومانه او پکښی شریک شو . په اخری ورځ جناح صاحب داخبره تسلیم کړه چه د اقلیتونو د مسئلی د حل دپاره چه دکیبنټ مشن پلان کوم حل پیش کړی دی ، د دی نه زیات کومه بله منصفانه فیصله نه شی کیدلی ، په هرحال هغه د دی نه زیات مشن باندی نور شرطونه نه شو منلی هغه کونسل ته وویل چه کیبنټ مشن چه کوم سکیم وړاندی کړی دی هغه د زیات نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیات ددی. په دې وجه هغه مسلم لیګ ته مشوره ورکړه چه دا سکیم ومنی او کونسل په اتفاق سره ددې په حق کښی رایه ورکړه.

د کانګرس او مسلم لیګ له طرفه ددی پلان منل د هندوستان د تاریخ یوه روښانه واقعه وه له دی نه دا ثابتیده چه د هندوستان د ازادی سخته معامله د خبرو او مفاهمت له لارې فیصله شوه نه د تشدد او جنګ له لارې.

د کانګرس صدارت:

تر دغه اوخته مولانا ابوالکلام ازاد د ۱۹۳۹ عیسوی کال نه مسلسل صدر راغلی وځکه چه د دویم عالمی جنګ، او ملک کښی دهغه په نتیجه کښی د جد وجهد په وجه د نوی صدر انتخاب نه شوکیدی. هر کله چه جنګ ختم شو نو د کانګرس د نوی صدر د انتخاب سوال پیدا شو په دغه وخت کښی عام خیال دا وچه مولانا ابوالکلام ازاد دې صدر پاتی شی خکه چه دده په صدارت کښی د برتانیې لیبر حکومت او د هندوستان د مشرانو خبری اترې شوی وی او هم دده د صدارت په وخت کښی د شملی کنفرانس وشو، رایه داوه چه ښه به داوی د نوموړی په صدارت کښی د هندوستان د ازادی کار تر سره شی ولی د صدارت په مسئله د کانګرس په مشرانو کښی اختلاف و د سردار پټیل او دهغه د طرفدارو د اخواهش وچه دی (پټیل) دې صدر شی.

مولانا ابوالکلام ازاد نه د اتولی خبری معلومی وې هغه ددی په زنا کښی د صدارت نه د استعفا ورکولو او اینده صدارت نه کولو فیصله وکړه خو دهغه د اخیال وُچه دهغه نه پس دې یو داسی سړی صدر شی چه په هغو نازکو اوهمو حالاتو کښی د مولانا صاحب د نقطه نظر مطابق کار وچلولی شی، ددې د پاره هغه ته جواهر لال نهرو موزون سړی ښکاریدو او هغه خپله رایه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دجواهرلال نهرو دصدارت په حق کښې په یو اخباري بیان کښې څرګنده کړه، کاندهی جی هم د سردار پټیل په صدارت خوشحاله وو خو مولانا صاحب ددې بیان نه پس هغه خښه ونه ویل او جواهرلال نهرو صدر شو.

دجواهرلال بیان:

د «کیبنټ مشن پلان» د قبلولو نه پس په هندوستان کښې دیره ښه فضا پیدا شوه خو ددې نه وروسته جواهرلال نهرو په بمبئ کښې په یو پریس کنفرانس کښې داسې بیان ورکړو چه دافضایی ګډوډه کړه.

د ۱۹۴۶ کال د جنورۍ په لسمه نیټه جواهرلال نهرو نه په بمبئ کښې په دغه پریس کنفرانس کښې دا پوښتنه وشوه چه ایا آل انډیا کانګرس چه دغه تجویز منظور کړو نو ددې دا معنا شوه چه کانګرس دغه پلان په پوره ډول تسلیم کړو؟ نو ددې په ځواب کښې ده ووېل چه «کانګرس چه په دستور ساز اسمبلی کښې کښېنی نو ځان به د دې معاهدو پابند نه ګڼی او هغه وخت چه څنګه حالات پیدا کیږی دهغو مطابق به په آزادۍ سره فیصلی کوی.» ددې وضاحت نه پس د پریس نمایندګانو تپوس وکړو چه ایا د دې مطلب دا شو چه کیبنټ مشن پلان کښې ترمیم کیدی شی. جواهرلال نهرو ددې جواب کښې اووېل چه کانګرس صرف په دستور ساز اسمبلی کښې دشاملیدو وعده کړې ده او هغه ځان په کیبنټ مشن پلان کښې د بدلون او کمی زیاتی کولو مجاز ګڼی.

د مولانا ابوالکلام آزاد دا رایه وه چه دا د هر غلط کار وشو هغه پخپل کتاب کښې وایی: زه په وضاحت سره ددې لیکلو ضرورت محسوسوم چه دجواهرلال نهرو بیان غلط ؤ دا وینا صحیح نه وه چه کانګرس د خپلې مرضی مطابق په پلان کښې څنګه چه وغواړی ترمیم کولی شی

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصل خبره داوه چه مونږ دامنلی وو چه مرکز کښی به وفاقی حکومت وي او د مرکز سره به صرف دری محکمی وی نوری تولی محکمی به د صوبو سره وی او دهغو په اختیار کښی به وي مونږ دا هم منلي وو چه صوبی به په دری گروپونو A، B، C کښی ویشلی کیږي په دی شرط نو کښی کانگرس د خپلې طرفه د معاهدی د نورو جماعتونو (فریقینو) د رضا نه بغیر د هیڅ تبدیلی کولو حق نه لري.

د جواهر لال په بیان عکس العمل:

په مسټر جناح د جواهر لال نهرو د غه بیان د هر خواب تاثیر وکړو. د غه بیان داسی و چه په هر چا باندی سنبه اثر نه شو کولی. جناح صاحب دا موقف اختیار کړو چه د جواهر لال نهرو بیان د کانگرس د ذهن ترجمانی کوی. د ده دلیل داوو چه کانگرس د ډیرو زړ خپلې رایه بدلوی او حال دا دی چه انګریز لا دلته موجود دی او د ده (کانگرس) لاسونه اختیار نه دی را غلی نو اقلیتونه په کوم اعتماد یقین کولی شی چه د انګریز انو د تلو نه پس به کانگرس بدل نه شی او د کانگرس نظر به د غه شان نه شی دا کوم څه چه د جواهر لال په بیان کښی سنکاره شوی دی، د دی سره صمد ستی مسټر جناح یو اخباری بیان جاری کړو په هغه وخت کښی یی وویل: «د کانگرس د صدر د دی بیان سره هر څه بدل شول او اوس په هر څه د نوی سره د غور کولو ضرورت پیدا شو.»

جناح صاحب لیاقت علی خان ته وویل چه د مسلم لیګ د کونسل اجلاس راوبلە ل خوا. له یی بیان ورکړو چه مسلم لیګ کونسل په دیلی کښی د کیبنټ مشن پلان څکه منلی وو چه مونږ ته یقین راکړی شوی وو چه کانگرس د اسکیم منلی دی او د هندوستان د پاره چه به کوم دستور جوړیږي د اسکیم به د هغی بنیاد وی هر کله چه اوس د کانگرس صدر اعلان کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه کانګرس په دستور ساز اسمبلی کښې د خپل اکثریت په زور په دغه پلان کښې بدلون راوستی شی ددی دا معنا شوه چه اقلیتونه به د اکثریت رحم وکرم ته پاتی وي. جناح صاحب، په دغه بیان کښې وویل چه د جواهر لال ددی بیان مطلب دا دی چه کانګرس دکیبنټ مشن پلان مسترد کړی دی نو خکه وایسرای ته په کار دی چه مسلم لیګ دغه پلان منلی دی نوده ته دی د وزارت جوړولو دعوت ورکړی.

انترم حکومت:

دغه شان په ستمبر ۱۹۴۶ کښې عبوري حکومت جوړشو، جناح صاحب خو اول ددی نه انکار وکړ خو بیا وروسته د لاړو پول سره د خبرواترو نه پس، پی په ۱۵ اکتوبر ۱۹۴۶ کښې عبوري حکومت ومانه او په هغې کښې شریک شو. لاړو پول غوښتل چه زور تر زوره انترم حکومت جوړشی.

په دې وخت کښې زه ناجوړه وم نو کاندهی جی وویل چه تر څو چه دی راغلی نه وی او د ده رأیه مو معلومه کړی نه وی مونږ عبوري حکومت نه جوړوو. لاړو پول زما مونږ د صوبې چیف منسټر ډاکټر خانصاحب ته تیلفون وکړچه زه خپل هوایي جهاز درلیږم، باچا خان په دې کښې دیلی ته راولیږه. زه ناجوړه وم، ما ورته وویل زه په هوایي جهاز کښې نه څم او بیا په ریل کاډی کښې دیلی ته لاړم.

هلته په کانګرس کښې په دوو مسئلو بحث وُ. یوه داوه چه جواهر لال نهرو ویل چه زه سردار عبدالرب نشتر په کابینه کښې نه اخلم خکه چه دی په انتخاباتو کښې په خپله صوبه کښې ناکام شوی دی او دی د قوم نماینده نه دی، د جواهر لال دا اعتراض معقول وُ، چه کوم یوسړی په خپله کورنۍ حلقه کښې د صوبې انتخاب نه شی کټلی نو هغه د ټول هندوستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مرکزی حکومت کښی د کومی جمهوری نمایندگی حق لرلی شی .

کانګرس داخبره هم وایسرای ته کړی وه چه په داسی حالاتو کښی که باچاخان وغواړی نو داسی دار عبدالرب نشتر عبوری حکومت کښی اخیستی شی ، کنی نونه ، بله داخبره وه چه کانګرس وې چه د مسلمانانو کوم حق چه د هغه مسلم لیګ ته ورکړشو او کانګرس دهندوانو حق دی او دهغوی دارایه وه چه مونږ د کانګرس د برخی نه مسلمان ته حصه نه ورکوو . ماورته ووېل چه زمونږ په عبدالرب نشتر هیڅ اعتراض نشته ، زما خیال دی چه دی خوپه پښتون دی که دی راانه شی نو بل پښتون ته خو دا موقع نشته ، ماوی اخر پښتون خو دی ، دی به داسی لوبه ونه کړی لکه چه یی وکړه . د ده په بارهٔ کښی جواهرلال نهرو ماته ډاکیله وکړه چه داسی مونږ ستاپه خوله مقرر کړی دی خو داسی منډه سړی نه دی . مادام وې چه مسلمانانو په کانګرس کښی د ډېری قربانی ورکړی دی او دا به منډه وي چه دوی ته د کانګرس له خوا یووه برخه ورکړی شی . د دې به په مسلمانانو نه منډه اثر وی . زما دا دواړه خبری کانګرس ومنلی . لارډ ویول ووېل چه مسلم لیګ ته داخله وزارت ورکړی . خو سردار پټیل په دی تینګ وو چه دا بل چا ته نه ورکوم ، نو بیا جناح صاحب ووېل چه ماله یو بل داسی د ذمه واری وزارت راکړی ، نو کانګرس ورله فینانس منسټری ورکړه . سردار پټیل دا تجویز غنیمت وګنه او هغه یی د هندو ذیات تائید وکه . نو کانګرس لارډ ویول ته ووېل چه لیګ له فینانس منسټری ورکړه لارډ ویول جناح صاحب ته ووېل چه وزارت مالیه واخله ، هغه ورته ووېل چه دوه وځی پس به جواب درکوم . غلام محمد چه د ورستو بیا د پاکستان گورنر جنرل شو) محمد علی چودری او نورو مسلمانانو چه دی محکمی کښی کار کولو مسلم لیګ ته راغلل د په ډېره خوشحالی وکړه او ورته یی ووېل چه دا د په ډېره اهمه محکمه وه په دی تاسو ته مبارکباد درکوو . او لیاقت علی خان ته یی ووېل

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه ته هیڅ فکر مه کوه مونږ به په دی کښې تاسره د پرامداد وکړو، په دی خبره جناح صاحب
وزارت اخیستلو ته تیار شو او لیاقت علی خان د مالیې وزیر شو.

اخر کانګرس عبوري حکومت جوړ کړو او چه څه وخت دا حکومت جوړ شو نو پیرزو نکیانو
د کانګرس د حکومت د بد نامولو د پاره په وزیرستان بمباري وکړه چه زه خبر شوم نو زه
لاړم او جواهر لال می د دی قصې نه خبر کړه چه ته وزیر اعظم یې او دا استاد وزارت، د قلمدان
کار دی او ته تری خبر نه یې او نه تری چا خبر کړې یې دی نه قبایلو ته ستاسو د حکومت
متعلق د پرې غلط فهمی پیدا کیږي بلکه داچه په سرحدی قبایلو د حکومت په کرورونو
روپۍ لګی او هغه روپۍ پولیټیکل اود قبایلو ملکان اخلی او خوادی خو اخرڅ شی
او قبایلو له څوک هیڅ نه ورکوی او باوجود دومره خرڅ هغو خلکو ته هیڅ فایده نه رسیږي
او اوس چه د غه اختیارات ستاپه لاس کښې راغلل تاله په کار دی او ستا فرض دی چه
د دغې علاقې خلک پخپله وویني او هغو خلکو سره یو خای شی، د غه خلک د پرې سنبه خلک دی
او د پرې عاجزان او مظلومان دی او د هغوی اکثر ملک غرونه دی او که د غو خلکو سره لږ
احسان وشی او د هغوی د قوت لایموت د پاره څه ذریعه پیدا شی نو د اګر پرې چه کله چه پیدا
کیږي دا به هم ختم شی، ماجواهر لال په دی خبره رضا کړو او هغه ماسره وعده او کړه
چه هغه به ضرور د دغې علاقې دورې کوی او د غه علاقه او خلک به ګوری، او دا یې هم دی
چه څومره زمانه کیږي شو نو زه به یې د دغو خلکو د پاره کوم.

لیکن چه څه وخت جواهر لال سرحد ته د تلو اراده وکړه نو چه د صوبه سرحد ګورنر
لنکیږو خبر شو نو هغه د یلی ته لاړ اول یې جواهر لال په خپله ولید و ورته یې وویلی چه سرحد
ته مه راځه، او چه هغه ونه منله نو بیا یې والیسرای خبر کړ چه پنډت تهرو یا ید صوبه سرحد ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

رانه شی . والیسرای نهرو نه وویل چه ته سرحد ته مه خه . نوهغه ورته وویل چه ضرور قبایلو
له خپله اوسرحد نه راغی . چه غه وخت کیږو د ډیلی نه واپس پیښور ته راغی نو ټول پولټیکل
ایجنټان یې راوغوښتل اوهغوی یې دهغه د دوری مخالفت ته تیار کړل اودپولټیکل
ایجنټانو نه علاوه مسلم لیګ یې هم په شاو تپاوه . جواهرلال چه پیښور له هوایی جهاز کښې
راغی اوبیا چه د ډاکټر صاحب چه د صوبه سرحد وزیراعلی وو بنګلی ته تلو نو په چونې کښې
مسلم لیګ چیغې وډهلی حال آنکه په چونې کښې سیاسی سرګرمۍ بندی وې چا جلوس
ویستی نه شوا و نه چا چیغې وډهلی شوې . تاسولږ فکر وکړئ چه ډاکټر صاحب د صوبې
وزیراعلی ؤ اوجواهرلال دهندوستان وزیراعظم اوپه سرکاری دوره راغلی وو
دا ټول دکیږو شرارت ؤ . اوافسرانو اوپولیس اومسلم لیګ چه څه کړی دی نو دده په
ډاډه یې کړی دی . دا ټول مشکلات چه زمونږ په لاره کښې حایل و دا ټول کورنو کیږو
پیدا کړی وو .

قبایلی علاقې اوجواهرلال :

مونږ اول دوره د وزیرستان نه شروع کړه اوچه په دوره روانه ونو کیږو په
جواهرلال د هر زور اچولو چه باچاخان خان سره مه بیایه چه ډاکټر صاحب راسره دی
نو دده څه ضرورت دی ، خو جواهرلال راضی نه شو ، اوزه یې هم خان سره روان کړم . د
وزیرستان پولټیکل ایجنټان انګریزان وو هغوی زمونږ مقابله په شریفانه توګه وکړه
مونږ اول صیرانشاه له لاړو د قبایلو جرګه د مخکښې نه راغونډه وه اوپه محکه ناست وو
اود پولیټیکل اوزمونږ د پاره کرسۍ وې زه جرګې سره په محکه کښې ناستم څنګه چه دوی
پولټیکل پوه کړی وو ، څه وخت چه جواهرلال جرګې ته تقریر شروع کړو نو داخلک ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاخپل اودایی ووې چې مونږ دهند وانو حکومت نه منو. دا زمونږ قبایل و ورته عجیبه خلک دي، جواهرلال خو دوی دخیبر پاره راغلی وُ او تقریر کښې هم ورته دا خبره وکړه چې زه خو ستاسو دخیبر پاره راغلی یم ددی خای نه بیا مونږ ورزملک ته لاړو په ورزملک کښې هم دغه ډوډۍ خوړو مره زیاته وه چې یو ملک جهانګیر چې د اکثر صاحب ورله لاس ورکولو نو هغه لاس ورنه کړو او ویلې ویل چې ته دهند وانو ملګری یې، تا له لاس نه درکوم. د ورزمک نه چې روانیدو نو زمونږ سره د حفاظت دپاره چې اکوم فوج ؤو هغه دهند وانو ؤ. دوی جواهرلال ته وویل چې مونږ ته یو تقریر وکړه نو جواهرلال ورته تقریر وکړو او دهغې نه پس هغوی دګاندهي جی زنده باد او جواهرلال زنده باد او باچاخان زنده باد ناری وډهلې. چونکه په وزیرستان کښې زمونږ د دوړی انتظام د فوج په لاس کښې ؤ او هغه هندوان وو، نو دلته هیڅ قسم کړبړی ونه شو.

مونږ چې بیرته میرانشاه ته راغلو نو دا ټول پولیټیکل ایجنټان او ریزیډنټ موجود وو، نو جواهرلال ترې دا تپوس وکړه چې دا په کوروونو ډله په قبایلو باندې ګڼیږی نو تاسو ددې خلکو دپاره څه کړې دی؟ هغوی ورته ددی خبرې ځواب نه ؤ ولی چې هغوی دخلکو دپاره څه کړې نه وو. نو ما پکښې مداخلت وکړ چې دوی خو پښتنو دپاره دېر څه کړې دی. انګریزان زما په خبره خوشحاله شول خو چې ما او ریسې دا خبره وکړه چې دوی په دې پیسو په پښتنو کښې داسې بد عادتونه او دې پیسې محبت پیدا کړې دی چې پیسې ورته ونیسی نو بیا هر څه کوی او جایز ناجایز نه ګوري. په دې خبره پیرنګیان خپه شول.

بیا مونږ له میرانشاه نه وا نې ته لاړو چې دا هم وزیرستان ؤ دلته پولیټیکل ایجنټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هنډ ورځ ، دهغه نوم دیوان شیوسرن لال ډ ، دلته زمونږ د پرلوی استقبال وشو. زمونږ د پلمستیا دپاره قبایلو والګډان راوستلی وو . دجواهرلال نهرو تقریر دلته خلکو په درښنه شان واوریدا و دهغه تائید یی وکړ.

تورخم :

د دغه ځای نه واپس پښور ته راغلو په سبا له مود تورخم دورې شروع کړه د خیبر پولیټیکل ایجنټ مسلمان و، صاحبزاده خورشید یی تو م وچه جمرود ته ورسیدو نو سه بجې ته په لږه فاصله باندی افریدی ناست وو او وچه مونږ یی ولیدو نو په لاسونو کښی یی چیټری وی هغه یی مونږ ته وخولې او مونږ ښیغ تورخم ته لاړو دغه د افغانستان او هنډ وستان سرحد و . اوشه وخت چه مونږ دغلته چای څکله ، یوزلمی افریدی راغی او پولیټیکل ایجنټ ته یی ووی چه دوی خو زمونږ مسلمانه دی ، دوی سره داسی سلوک په کار نه دی چه مونږ راروان شو اولنډی کوتل ته را نزدی شونو پولیټیکل تحصیلدار په منډه منډه راغی او ورته یی وویل چه دلته خوشنواری راجمع شوی دی ، مونږ چه هلته ورسیدو نو هغو خلکو په مونږ کانی راوډول ، پولیټیکل ایجنټ زمونږ نه مخکښی وهغه کوزشو ، هغه سره چه کوم سپاهیان وو هغوی ته یی ووې چه په ډډې ډزې وکړی نو هغه خلک چه یو خو ډزې پرې وشوی وتښتیدل . زمونږ د موټرو شیشې مات شوی خو مونږ بچ شو او په کافورنه لګیدلې صاحبزاده صاحب یوشریف سړی و زمونږ د حفاظت دپاره یې زمونږ نه مخکښی و . دډوډی انتظام صاحبزاده صاحب زمونږ دپاره کړی و مونږ ډډوډی وخوړه هلته څه خلک موجود وو هغوی سره موخبرې اترې وشوی او واپس پښور ته راغلو.

د ملکنډ ایجنسی :

بله ورځ زمونږ دوره د ملکنډ ایجنسی وه دغلته هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پولیټیکل ایجنټ مسلمان وُ شیخ محبوب علی یې نوم و، دی د شیخانو د کلی و، د هر خراب انسان وُ، د خیبر په دوره کښې چه مونږ تلونو د دوری انتظام د پولیس په ذریعه و د اکټر صاحب ته ماووی چه د ملکنډ د دوری انتظام د فوج په ذریعه کول په کار دی لکه څنګه چه په وزیرستان کښې شوی و او که نه د فوج انتظام نه شی کولی نو بیا به مونږ د خدایی خدمتګارو په ذریعه د خپل حفاظت انتظام وکړو. ولی چه هلته پولیټیکل ایجنټ شیخ محبوب علی دی. مونږ خبر شو چه شیخ محبوب علی د راغلی دی او د کوډنو کیرو سره یې ملاقات کړی دی. دا سړی د انګریزانو د هر وفادار او بې ضمیره ایجنټ و، دی د هر کمینه سړی وُ او د ده د لاسه د پښتون قوم د هیر تباه شوی وُ. په افغانستان کښې د برتانوی سفیر هیمفری په چاکرۍ کښې د امان الله خان حکومت تخته د ده په ذریعه اوړېدلی وه او (بچه سقاو) یې د کابل په تخت کښېنولی و د هیره اسماعیل خان کښې د هغه وانو خلاف فساد هم ده کړی وُ ولی چه دی د هغه وخت کښې هلته اسسټنټ کمشنر وُ، لیکن د اکټر صاحب یو عجیبه سړی وُ چه مونږ د هوایی جهاز نه په رسالپور کښې کوز شو، نو زمونږ د انتظام د پاره د ضرب پولیس وو لاړ وو. زه د هر خفه شوم، نو ماووې چه زه دې د دوره کښې د دوی سره هیڅ هم نه ولی جواهر لال می یوازی پرېښوی نه شو، مونږ د رسالپور نه په موټرونو کښې روان شو چه مونږ سخاکوټ ته ورسېدو، نو راحت خان د دوی زمونږ د استقبال ته ولاړ و نو مونږ ورته کوز شو او هغوی سره کښېناستو چه په دې کښې شیخ محبوب علی هم راغی. یو ساعت پس له دې نه رخصت شو، شیخ زمونږ خلاف انتظام کړی وو لیکن چه ده کوم وخت مقرر کړی وُ مونږ د هغه وخت نه مخکښې ورسېدو، مونږ د ده په

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنګله کښې نا است وو او چای موڅکلی چه په دی کښې مود خلکو چغی واوربدې د
شپې یې د. ډاکټر صاحب ډیری خوشامندی کولې، زمونږ نه هم چاپیر کړ خو د
ډیر خفه شا منلګرسرې ؤ دده بنګلی سره جوخت، دوه کمري وې معلومیږی داسی
چه هغه د میلمنو د پاره وی، زه او جواهرلال هغه کښې څملاستو او ډاکټر صاحب یې
ځان، سره پخپله بنګله کښې اوده کړو. ده مونږ له دجرګی راغونډ ولو څه انتظام نه
وکړی، زمونږ د سخاکوټ راحت خان خدایی خدمتګار راغی، نو مونږ ورته وویل
چه د دې علاقی خلک خبر کړه چه سحر له مونږ له راشی چه شیخ خبر شو نو موټرې ورله مات
کړو. او هغه چپل خلک خبر نه کړی شول او که څوک خبر شو هغه چا مونږ له را پرې نه ښودل
سحر وختی راحت خان راغی او مونږ یې خبر کړو چه شیخ محبوب علی د پر خلک را
غونښتې دي، تاسو چپل د بچاو انتظام وکړئ مونږ سره دوه لاډی وې چه هغه کښې
پولیس وو او په هره لاړه کښې پولیس سره یو یو پیرنګی و مونږ خبر شو چه هغوی شپې
تیر ولو ته د دی ځای نه د رګی له تلی دي نو چه راحت خان زه د دې قصې نه خبر کړم نو
ما ډاکټر صاحب ښبل کړو او ورته می وویل چه دې شیخ داسی قصه جوړه کړه. شیخ مونږ
ته مخامخ ولاړ ؤ او ما چه ډاکټر صاحب سره خبری کولی نو شیخ مونږ ته غوږ ایښی و
زمونږ خبری یې واوربدې نو ډاکټر صاحب له راغی او مونږ ته یې وویل چه زه به داسی
سحر امی یم؟ ااو ولی پینټون نه یم؟ او ته خو زما پلار یې نو زه به د چپل پلار لحاظ هم نه کوم؟
ډاکټر صاحب کښې ډاکمزوری وه چه هغه به د خوشامندو نه د پر متاثره کیدو ما ورته
وویل، چه ترکومه پورې زمونږ کار د راغلی نه دی مونږ نه څو زمونږ د پولیس کار د او
د ده یوه مشوره وه او هغه څکه د شپې د پاره دلته نه وپاتی شوی او د دغه وخته پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلی نه وو. خوده ډاکټر صاحب ته ووې چه راځئ چه څو! که مونږ شو اوکه ډاکټر صاحب شو خو روان شوو، د شیخ موټر مخکښی و او زمونږ موټر وروسې وُ، چه قلا له راوړسیدو نو دهغی نه یوځوا انګریزان راوتی وو مونږ ته ولاړ وو. ده موټر وډرولو مونږ هم ودریدلو مونږ د موټر نه کوز شو او دهغه انګریز انو سره قلا ته ننوتلو، شیخ صاحب لاړ، مونږ یې یواځی پرلښتو، څه ساعت پس مونږ د قلا نه راووتلو، مونږ چه لږ مخکښی شوو نو په سړک یوه لاډۍ ولاړه وه، سړک یې بند کړی وُ او د پرخلک دغږ ډپاسه ولاړ وو، د موډۍ باد د چغو سره یې په مونږ کانی راوړول شروع کړل ډاکټر صاحب موټر کښی مخکښی تاست وُ او زه او جواهر لال وروسته ناست وو. زه خو په یو کانی ولګیدم ستر کی را باندی توری شوې په جواهر لال ورپریوتم. دی په ما راپریوتو، ډاکټر صاحب سره مخکښی د شیخ یوسړی ناست وهغه هم د کانو نه سر تیت کړی وُ دهغه په ملا تماچه وه هغه ډاکټر صاحب ولیدله هغه یې دهغه د قاش نه را وایسته او د موټر نه یې لاس راوښکو او خلکو ته یې ووې چه لیږی شئ که نه ګولۍ د رغله خلک وروسته شوو اولاړی وه الا ته یې هم ووې چه لیږی شه کنی ګولۍ د رغله لاړی هم لیږی شوه ډاهر څه د قلا خواکښی وشو او قلا د سړک په خواکښی وه او دا د هند وستان وزیر اعظم وُ خو زمونږ مدد له نه هغه پیرنګیان او نه څوک سرکاری خلک راغلل.

مونږ چه د ملکنډ د غابنی نه راکوز شو نو زمونږ هغه پولیس کارډ او هغه دوه پیرنګیان مخی له راغلل بیا چه مونږ هلته کوز شو تول کنډ وکپر وو د غو پیرنګیانو نه می ووې چه تاسو زمونږ سره کارډ یئ وکوری مونږ په څه حال یو؟ زما خیال اُوُ چه محبوب علی به مخکښی هم مونږ ته د مظاهرو د پاره خلک کښینولی وی. نو تاسو خو زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حفاظت دپاره یې چه څه وشو هغه خو وشو خو اوس دومره مهربانی وکړئ چه تاسو دا یوه لاره ئې زمونږ د موټر نه مخکښې کړئ او یوه ورو سته کړئ او چه په لاره سړک سره نزدی خلک وویني نو لاړئ و در وئ او دا د مخکښې لاړئ . خلک دې لاړ شه نه کوز شی هغه خلکو ته دې ووایی چه لیږی شئ . که نه لیږی کېدل نو بیا دی پرې لاتې چارج وکړی . که په لاتې چارج لیږی نه شو نو بیا دې پرې د ورو ستو لاړ شه خلک هوایی پرې وکړی بیا مونږ روان شو چه د رکی ته راورسیدو د غلته د پر خلک جمع وو . شیخ محبوب علی هم ولاړو او بیا په مونږ د کانو باران شروع شو یو سړی خو په جواهر لال یوه ګټه راخلاصه کړه خو ما او رته لاس مخکښې کړو . زما لاس مات شو خو جواهر لال می بچ کړو یو بل سړی و چه د غولو لوکښتوئ راخیستی وه او چه هغه یې په مونږ راخلاصه کړه نو زه او جواهر لال خو بچ شو خو د ډاکټر صاحب مخ سر او تول وجود په غولو لګنده شو . دلته شیخ محبوب علی پولیټیکل ایجنټ ولاړو او مونږ ته یې ووې چه په دی پوخ سړک مه ځئ چه کوم ځای تاسو له کچه سړک مخې له راشی . هغه نیغ چا رسدی ته وتی دی په هغه لاړ شئ مخکښې تاسو ته د پر خلک ولاړ دي او سړک یې بند کړی دی هسی نه چه لوی فساد وشی زه خو دې مخالف وم ما وې هم په دی پوخ سړک ځو خو زمونږ هغه کار د نه تلونو په هغه کچه سړک راروان شو او پینور ته راورسیدو .

سر دریاب :

سبا له زمونږ دوره د خدائی خدمتګار و مرکز عالیه سر دریاب ته وه . ما د اکټر صاحب ته ووې چه ستا پولیس او ستا پوځ هیڅوک مونږ ځان سره نه بیا یو ستا انتظام مو په کار نه دی مونږ خپل انتظام پخپله کوو . مونږ د تلو د پاره د اسی انتظام وکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه د پښتونو نه ترس د یاب پوری د سړک پیدوار د غارو خدایی خدمتګار په وردی
کښی قطار ولاړ و او د دواړه غاړی محفوظ شوی . زمونږ نظر یه خو د علدم تشد د وه خوچه
خلک زمونږ د ملګرو واقعی نه خبر شوی وو نو هغوی د خپلو خدایی خدمتګارو د مدد او
حفاظت د پاره سره د وسلی راغلل او د خدایی خدمتګار و شاته په ډیر کم تعداد کښی په
دی تولله لاړه ولاړ و . کیرو مانکی صاحب ته ویلی وو چه د متری سړک چه کوم خای کښی د
چار سلی پوخ سړک سره یو خای شوی دی . دغلته دې ملا ګورو شیخان تیار کړی
چه د دوی په موټرو نو حمله وکړی . خوچه هغوی دغلته د خدایی خدمتګارو زور ولیده نو د
حملی جرئت یی و نه کړ شو . دغه شیخان د خلیلو سره په پوله د خیبر پایجستی کښی او سیږی
د سړ د یاب مرکز عالیه ته نزدې کل بلی سره هم مسلم لیګیان په کم تعداد کښی را
جمع شوی و ، خو دوی هم جرئت و نه کړ شو . د هشنغر پښتانه سره د لویو لویو ډلو با وسله
زمونږ د امداد د پاره مرکز عالیه الله راغلل او لیګیانو چه د دی خلکو زور او طاقت والید و نو
وتښتیدل .

سحر چه مونږ مرکز له د تللو انتظام کولو زه د کمری نه بهر راووتم نو څه کورم چه
د پیر پیر لیګیان په انګن کښی ناست دی او فوج هم په سړک کښی ولاړ دی ما هغو پیر لیګیانو
ته ووی چه تاسو تکلیف مه کوئ موټرونو خپل انتظام پخپله کړی دی سبه به داوی چه تاسو
لاړ شئ او خپل فوج هم بوځئ او مونږ پسی راشئ .

مونږ مرکز ته روان شو . د خدایی خدمتګارو نه علاوه د وسره هجوم جمع شوی
وچه د ته یی بیان کولی نه شم مونږ په خیریت سره مرکز ته ورسیدو ، مرکز کښی د پر
مخلوق راجمع شوی وو . جلسه شروع شوه ، نظمونه وویلی شول ، جواهر لال د پر بنګلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقریر وکړو او ده وویی چه زه نن د پرخوشحالیم چه د پښتنو په مخکه زما د بدن یوځو څاخکلی وینه توی شوه اوزه امید کوم چه دا د مکر فریب او ظلم نه د یک نظام به د پرزور بدل شی.. د جواهرلال نهرو صاحب د تقریر نه پس ما هم خپلو پښتنو وروڼو سره یوځ خبری وکړی او دا می ورته وویی چه دنیا کښی مشهوره ده چه پښتانه د پرمهمان نوازدي خو ګورنر کیږو په لمسون هغه روایات پاتی نه شول دلته دوی خپل منلمه سره د ومره سپک سلوک وکړو چه د نیا به تری پوزه پټه کړی.. دا هرڅه کیږو د یو پښتون شیخ محبوب علی په ذریعه وکړل شیخ تول پښتانه په دنیا کښی بد نام کړل. د جواهرلال ګناه دا وه چه ده وی چه زه د پښتنو قبایلو د خیبر د پاره په دوره ورځم او کیږو ورته وی چه مه راځه زمونږ پولیټیکل نظام کښی د دخل مه کوه نو ده ورته وویی چه زه به خامخا د رځم. زه د دی ذمه وارم دا زما مخکه ده اوودی صوبه سرحد ته زمونږ د پښتنو دا بادی. ترقی او د خیبر د پاره راغلی و. په سبا له پنډت جواهرلال نهرو زمونږ نه د پلی ته رخصت شو.

مولانا صاحب په خپل کتاب کښی دا لیکلی دی: چه په پښتنو کښی مهمان نوازی لوی اخلاقی صفت دی د لی دوی کښی دا صفت نه ؤ اودوی بخل کولو، په دې ترڅنه پښتانه بیزار وو- دی وایی چه یو خل د دوی ملګری زما میلمانه و وچه ما ورته چا یو سره بسکټ راوړل نو هغوی د پرخوشحاله شول او ما ته یې وویل چه د دې څه نوم دی؟ دا خو د پاکټر صاحب بنګله کښنی مونږ لیدلی وو خو هغه مونږ ته نه وو راکړی.

مولانا صاحب د دې خبری تحقیق نه دی کړی اودا یی لیکلی ده. زمونږ خو دا تهذیب نه دی، چه یو یی خوری اوبل له یی نه ورکوی. مونږ خو دا سی یو چه اوس هم څه مونږ خورو هغه خپلو میلمنو اونوکرانو ته هم ورکوو او د سره یو ځای یی خورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ مرکز کښې هم زمونږ داقاعده وه چه دوه ډی ته به کښېنا ستو او مونږ به السبو کیسو نو

خوراک پخ کړی ؤ، دپاسه به شل نور راغلل نومونږ به کښېنا ستو هغه یې موتور کړه خپلو

کښې تقسیم کړه او په شا یکه به مو وخوړه اواوس هم دغه شان کوو.

زه حیران یم چه مولانا صاحب داخبره دډاکټر صاحب په هکله کوی، هغه خو زمونږ

مهمان نواز ؤ چه داقصه یې افراط ته رسولی وه. زه په دې نه پوهیږم چه دمولانا صاحب

ته کلکتی ته کوم کسان ورغلی وو؟

دغه شان دی داخبره هم لیکی چه دانتخاباتو وخت کښې دکانګرس ډوډی، ته په

رقم ورکړی ؤ خودوی په پرلږ خرڅ کړو نوځکه په پراميد واران دخرڅ دکمې په وجه فیل

شول. مونږ خدایی خدمتګار دخوهیڅ پرې دکانګرس نه یوه پیسه هم اخیستی نه ده.

بلکه په دې خبره خوجواهرلال زمانه خفه شوی ؤ اودډاکټر انصاری صاحب یې شکایت

کړی ؤ چه دی په مغرور دی. زه چه به دکانګرس دورکنګ کمیټی د اجلاس نه تلم. نوتولو

ممبرانو به چه دډیل دسیکند کلاس کوم خرڅ اخیستو، ماهیڅکله هغه هم اخیستی نه ؤ.

البته که پارلیمنټری بورډ له دوی نه څه اخیستی وی نوهغه به پارلیمنټری بورډ اخیستی

وی. هغه ټول په ځای خرڅ شوی دی اوخومره کسان چه دوی ودډاولی وو، دهغه ټول

کامیاب شوی دی اوپه لوی اکثریت مونږ الیکشن ګټلی دی. نوبیا داسوال څنګله پیدا

کیږی؟ دحیرانتیا خبره داده چه مولانا صاحب داعتراض کوی چه دصوبه سرحد والو

په انتخاباتو پیسې کمې ولګولې. عام عقل خو داوایی چه کصوبه سرحد کښې خدایی خدمتګار

مکمله کامیابی حاصله کړه اودقم یې هم کم ولګولو، نو دا دهغوی یوه سیاسی کامیابی

وه. مولانا صاحب په دې هم اعتراض ضروری وګڼلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بجټ پیښ کول:

هونږ ته یونوی مشکل هغه وخت پیدا شو چه لیاقت علی خان دنوی کال بجټ پیښ کړو. دا ښکاره ده کانګرس پالیسی وه چه معاشی ښکته پورته والی ختم کړی او وږو ورو د سرمایه دارانه نظام په ځای سوشلسټ نظام قایم کړی. د کانګرس دا الیکشن په مینځنی فیسټو کښی هم دا رنګ ویل شوی وو. د جنګ دوران کښی چه مختلف قسم سرمایه دارانو کروړه نفعه کړی وه، د هغی په هکله جواهر لال بیانات جاری کړی وو. د اخبره عامو خلکو ته معلومه وه چه ددی رقم د پره زیاته حصه پته کړی شوی وه او په هغی اټکل تکس نه دی اداشوی، د هغی مطلب داؤ چه حکومت ددی څخه رقم نه محروم شوی دی. زمونږ خیال داؤ چه د هندوستان حکومت ته ددی تکس د حاصلولو د پاره سخته کارروایی پکار ده، ولی چه د انکس (مالیه) واجب ؤ خو دا شوی نه ؤ. لیاقت علی خان یو داسی بجټ جوړ کړی وو چه په ظاهره د کانګرس د اعلاناتو مطابق وو لیکن د ر اصل د هغی مطلب د کانګرس د نامعمول وو.. داسی چه د کانګرس مطالبی په ناقابل عمل شکل کښی پیښ شوی وی. د هغه د تکس تجویزونو د ملک د دولت منی طبقی نه مفلس جوړول او صنعت او حرفت ته نقصان رسول، وو. د سرمایه دارانو هغه د تجویز هم کړی ؤ چه یو کمیشن دی مقرر شی چه د هغه تکسونو په هکله چه ادا شوی نه دی. تحقیقات وکړی او د هغو د حاصلولو انتظام وکړی. دا خو مونږ ته ولو غټو ښتل چه د دولت تقسیم کښی زیات نه زیات مساوات پیدا کړی شی او د هغه خلکو سره محاسبه وشی، چا چه تکس نه دی ادا کړی. د دی د پاره مونږ اصولی، دول د لیاقت علی خان د بجټ مخالف نه وو. د کابینی مجلس کښی لیاقت علی خان د ویل چه د هغه تجویز د کانګرس د ذمه وارو لیډرانو په بیاناتو مبنی دی. هغه د خبری

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعتراف وکړو چې که جواهرلال بیانات نه وی ورکړی نو دهغه ذهن نیه دی الوړی ته نه ووتلی. دیجټ په هکله قاعده داده چه وزیر خزانه تول بجټ دخپلی کابینې د ملګرو وزیرانو په رأی اومشوره جوړوی. ولی دلته نوابزاده لیاقت علی خان خپلو ملګرو ته صرف هغه یوه سرسری جایزه پیش کړه او دمفصل بجټ دپاڼې معنوی په اعتماد کښی وانه خیستل.

ترکومه چه دعاموامورو تعلق دُ. کابینې دهغه اتفاق وکړو، دغه شان یې دکابینې نه منظوری حاصله کړه اویایې بجټ داسی جوړ کړو چه صرف انتهاپسندانه نه وه بلکه دقوم معاشی نظام ته دنقصان رسولو نیت هم دُ. مونږ په دې پوه وو چه دا بجټ اصولی طور دکانګرس دسیاست اوپالیسی مطابق دُ. کانګرس تول عمر دا ویلی وو چه مونږ به د سرمایه دارانه نظام مخالفت کوو اوغریبو له به دملک په دولت کښی خپله برخه ورکړو، نو ددې وجهې نه اصولی طور مونږ ددې بجټ مخالفت نه شو کولی.

دمونټ بیټن مشن:

لارډ مونټ بیټن دلارډ ویول دبرطرفی نه وروسته دهند وستان گورنر جنرل مقرر شو. دهند وستان دراتلونه مخکښی دلیبر وزارت دی دخپلو تولو مسائلو نه او خواهشاتو نه خبر کړی وه مسټر اټلی هغه ته هدایت ورکړی وچه د ۳۰ جون ۱۹۴۸ نه مخکښی باید هند وستان ته اقتدار ورکړی شی.

دمارچ په ۲۲ باندی ډیلی ته راورسید او دمارچ په ۲۴ یې د وایسرای او گورنر جنرل په حیث سوګند وکه. دسوګند نه وروسته هغه یو لنډ تقریر وکه، په دې تقریر کښی هغه په دې ضرورت زور واچوه چه خومیاشتو کښی دنه به دمسائلو دحل څخه لاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوویستلی شی ، دغه وخت دکانګرس او مسلم لیګ اختلافات داسی ځای ته رسیدلی وو چیه ددیم ګری دوساطت نه بغیر یې جوړه نا ممکنه وه . په دی وخت کښی حالات خرابیدل دکلکتی دفساد دونو روسته بهار او نواکلی کښی فرقه دارانه فساد ونه شروع شوی دو بیا وورو سته په بمبئی کښی ګربروشو ، پنجاب تر دغه وخته پوری خاموش و ، لیکن معلته هم د دنا ارامی اوګډوډی اثار ښکاره کیدل ، ملک خضر حیات خان د مارچ په دویم د پنجاب دچیف منسټری نه استعفا ورکړی وه . د مارچ د ۴ تاریخ په مظاهرو کښی ۱۳ کسان مړه شو او ډیر زخمیان شو او ددې فرقه دارانه فساد و نو اورد صوبې په نورو و برخو کښی هم خور شو . امرتسر ، راولپنډی او تکسیلا کښی په لویه پیمانه فسادونه وشول . یو طرفته فرقه دارانه جذبات زیاتیدل او بل طرف ته دحکومت انتظام سست کیده . مرکزی کابینه کښی دکانګرس او لیګ په مینځ کښی د عدم تعاون په وجه حالات نور هم خرابیده ، د مرکزی حکومت ارکان هر وخت دیو بل مقابلی ته ولاړ وو . دا حکومت بالکل معطل شوی و د مسلم لیګ سره د مالیاتو محکمه وه چه هغه د حکومت بنیاد ګڼلی شی یا د ولرئ چیه ددې ټوله ذمه واری د سردار پټیل په سر باندی ده چه هغه وزارت داخله د ځلمان سره د سا تلو په فکر کښی ، د مالیاتو محکمه لیګ ته ورکړی وه . په مالیاتو کښی د پردا سی قابل افسران مسلمانان ووچه چا د لیاقت علی خان سره په هره ممکنه طریقه مرسته کوله .

د پیرټنګیا نو زړه لوبه کامیابه شوه ، هغوی په ملک کښی د دا سی حالاتو پیدا کولو کښی کامیاب شول چه کانګرس او مسلم لیګ په کور کښی سره پرې نه شو جوړیدی ، او اخر هغوی پیرټنګی ته کښینا ستل چه هغه اوس ددې لاښې څه حل را وباسی چنانچه مونټ بیټن د پیرټنګیا نو د طرفه خپله د تقسیم هند منصوبه ورووړه د کانګرس مشرانو ته وړاندی کوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

اودا تاثری ورکووچه اوس په موجوده حالا تو کښی بی ددی نه بل هیڅ علاج نشته .

مونټ بیټن د پرزهین او ځیرک سړی دی ، هغه به دخپلو تولو هندوستانی ملګرو د زړونو حال معلومولو . هغه چه ولیدل چه سردار پټیل دده د نظریې منلو ته تیار دی نو دده د په لاس راوړلو د پاره یې د خپل شخصیت او د لفریبی ټول طاقت په کار واچولو . په خپلو خبرو کښی به هغه سردار پټیل د غوږ سره مشابه کولو چه د هغه پوتکی کلک دی خو چه مات یې کړی نو د هغه یې چغږی به راوځی . د سردار پټیل د تسخیرنه او روسته د هغه جواهر لال نه متوجه شو . اول کښی جواهر لال د تقسیم خبره نه اوریدله او عکس العمل به یې ډیر سخت و . لیکن مونټ بیټن ورپسی دی تردی چه ورو ورو د جواهر لال د مخالفت قوت هم مات شو ، څنګه چه د احالت معلومیدل چه د سردار پټیل سره جواهر لال نهمرومړ د مونټ بیټن دوی منصوبی سره منی . نوزه ډیر زهیر شوم ، ولی چه مونږ دا ډهنډ تقسیم نه بلکه د مسلمان تقسیم کړلو . زما د پخوانه هم دا فکر و او اوس هم دا فکر دی چه د کیبینټ مشن پلان په هرلحاظ زمونږ د مسایلو د حل ډیره ښه لاره ده . ددی نه د هندوستان یووالی او هری فرقی نه دا زاد او باعزته ژوند موقع په لاس ورتله ، صرف د مسلمان د مفاد د خیال چه یې په نظر کښی وساتو نو ددې نه د بل بهتر صورت امید نه شوکیدی . په کومو صوبو کښی چه د دوی اکثریت دی ، هلته دوی ته په داخلی چارو کښی پوره واک اختیار په لاس ورته . که د وفاقی هندوستان صوبو ته نظر وکړو نو که مونږ بلوچستان له یو صوبایی حیثیت ورکړو نو بیا به په مرکزی حکومت کښی هم د صوبو په تناسب مسلمانان د غیر مسلمو سره قریباً مساوی حیثیت حاصل کړی .

مولانا ازاد وایی چه "ما په دې تولو مسئلو ډیر غور وکه . ما سوچ وکړو چه کا ندهی جی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره (زد خپلله رأیه څنګه بدله کړه . زما خیال دی چه دا د سردار پټیل د اثر نتیجه ده پټیل
به بنګکاړه ویل چه بی د تقسیم نه بله چاره نشته . د تجربی نه ثابته شوه چه د مسلم لیګ سره
یو ځای کار کوال ممکن نه دی . کېدی شی سردار پټیل یوی بلی خبری ته هم اهمیت ورکړی وی
چه لاړ ورته لویی، مونټ بیټن ویل چه کانګرس د مرکزی حکومت په کمزورو ساتلو صرف د مسلم لیګ
د اعتراض د جواب ورکولو د پاره راضی شوی و او ددی په وجه صوبو ته د پوره داخلی خود مختاری
حق ورکړل شوی و . مګر په یو داسی ملک کښی چه هلته د ژبی ، مذهب او تهذیب دومره
اختلاف وی ، د مرکز کمزوری اتحاد د ښه نظر یو ته قوت ورکوی . دلیګ نه چه ځان جدا
کړی شتی نو بیا دیو مزبوت مرکزی حکومت انتظام کېدی شی او داسی قانون جوړېدی شی
چه د هند وستان د متحد ساتلو د پاره به فایده من وی . مونټ بیټن دا مشوره ورکړه
چه په شمال مشرق او شمال مغرب کښی چه یو خو وړی تو کړی مسلم لیګ له ورکړی شی نو د باقی
هند وستان به یو مزبوت او مستحکم ریاست جوړ کړی شی . په سردار پټیل باندی ددی
دلیل زیاد اثر وشو چه د مسلم لیګ سره د اتحاد په وجه به د هند وستان اتحاد او استحکام
په خطر کښی پریږدی . زما خیال دادی چه یوازی سردار پټیل نه بلکه په جواهر لال نهرو هم
ددی دلیل اثر شوی و . دغه دلیل نه چه سردار پټیل او مونټ بیټن دوباره وویل نو د تقسیم
په مخالفت کښی د کانګرس جی په نظر یه کښی هم کمزوری راغله . څنګه چه دوی ولیدل چه خلک
د کیبنټ پلان سخت مخالف دی نو دغه په ځای یی د تقسیم د پلان د پیش کولو چه دده
د خیال سره برابر وو تیاری وکړه . هرکله چه د تقسیم مسئله په بنګاړه وویل منځ ته راغله ، نو
د پنجاب ، او بنګال مسئلی لوی اهمیت پیدا کړ مونټ بیټن وویل څکه چه د تقسیم بنیاد د مسلمانانو
د اکثریت علاقی وی او د پنجاب او بنګال په ځینو برخو کښی د مسلمانانو اکثریت دی ، په دی وجه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې دوارو صوبو کښې هم تقسیم کول په کار دی . خو دکانګرس لیډرانو ته یې مشوره ورکړه چه دغه سوال اوس مه پورته کوئ او دوی ته یې یقین ورکړ چه په یو راتلونکی مناسب وخت کښې به زه په خپله دغه سوال پورته کړم . په دی وخت کښې مونږ بیټن د تقسیم په بارهٔ کښې خپل تجویز تیار کړی ؤ نو د برتانوی حکومت سره د خبرو اترو او د تجویز د منظورۍ د حاصلولو د پاره یې د لندن د تلو فیصله وکړه . ما دمی په ۱۴ د مونږ بیټن سره په شمله کښې ولیدل ، یو ورځ یې ما سره خبری وکړی ، بیا می ورته اپیل وکړ چه دکیبنټ مشن پلان په خاورو کښې مه ښخوئ . مونږ باید د صبر نه کار واخلو ولی چه د دې پلان د کامیابۍ امید اوس هم شته دی . که مونږ تقسیم په تلوار و منلو نو هند وستان ته به دیر نقصان ورسیږی . ما بیټن ته داهم وویل چه تاله د تقسیم ممکنه نتایج هم په ذهن کښې ساتل په کار دی . د تقسیم نه مخکښې هم په کلکته ، نواکالی ، بهار او بمبئی او پنجاب کښې فسادونه وشول . هندوانو په مسلمانانو او مسلمانانو په هندوانو حملې وکړی ، په داسې حال کښې که ملک تقسیم شی نو د دوینو البښتی به وبهیږی او د دې خونریزۍ ذمه واری به د انګریزانو په غاړه وی . خو مونږ بیټن راته فوری جواب راکړ چه زه تاته پوره یقین درکوم چه زه به هیڅوک فساد او وینو بهیدلو نه پریږدم .

یو وار چه تقسیم اصولاً ومنل شی نو بیا به زه حکومونه جاری کړم چه په ملک کښې هیڅوک فرقه وارانه فسادونه کړی شی . خو بیا تولې دنیا ته معلومه شوه چه د تقسیم د اعلان نه وروسته د ملک په تولو برخو کښې د وینو لبښتی و بهیدل او بیګناه ښځې او ماشومان قتل شول او د مسلمانانو او هندوانو د قتل عام د مخنیوی د پاره هیڅ سود مند تدبیر ونه کړی شو .

د ایرکټ اکشن او مساوات :

پنجاب کښې د هندوانو او مسلمانانو جګړه شروع شوی وه ، د اخبرونه چه به به پلپه خبارونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښنی راتللل نو ددی په وجه به دهند و او مسلمان نفرت اوکشیدګی زیاتیده لیکن چه په ۱۹۴۴ کال کښنی په هندوستان کښنی کوم فساد ونه شروع وو نو په کلکته کښنی چه د مسلم لیګ له طرفه د ډایرکټ اکشن وشو نو دغه اورته یې دتیلو کار ورکړو. دکلکتی په بنار کښنی خو خود مسلم لیګ دلاسه د پرلږ هندوان مړه اوتالاشو. خو هندوانو ددی بدله په بهار کښنی واخیسته مسلمانان منظم نه دي اوهندوان منظم دي، دوی په کلکته کښنی دومره خلک مړه اولوټ کړه چه څومره په بهار کښنی مړه کړل، لوټ یې کړل اویوه لویه تباهی یې وکړه. زه پخپله دغلته د مسلمانانو د امداد پاره تللی وم، مونږ به کله ناکله سهروردی صاحب ته ویلی چه دا به په بهار کښنی چه د مسلمانانو دومره بربادی وشوه، د مسلم لیګ د ډایرکټ اکشن په وجه وشوه اوتاوکړه نوهغه به وې چه ماسره لیکلی خط شته که د ډینټیاو نهرو خیټ راغی نوهغه به بنکاره کړم. دکلکتی په بنار کښنی دبهار خلک مړه شوی وو، بیا دبهار د بدل داخیستو په بانه په نواکلی کښنی په هندوانو پرزور اوظلم وشو د پیرنګیانو د پالیسی کامیابه شوه چه: (پوټ پالوا اور حکومت کړو.) انګریزان د مسلم لیګ په دغه کار په پرله خوشحاله وو خکه چه دهندوستان په دې خرمستو باندی انګریز «نوکرشاهی» د انګلستان د مزدور پارټی حکومت باندی داوا ضحه کول اوثابتول غوښتل چه د هندوستان، خلک دځنا وروپه شان دیوبل وینو څکلو ته تږی ناست دي او دیوبل غوښو خوړلو او خرمن و بنکلوسپی دی اوداچه د بنیاد موپه شان داوسپل و شعور خو په دوی کښنی ورک دی ددی دپاره په دوی کښنی د انګریزانو حکومت ضروری دی، اودوی له خپل حکومت، مه ورکوئ اوکه داسی ونه شوه نو دوی به پخپلو کښنی یوبل تباه اوبرباد کړی.

د بهار کښنی: مسلم لیګ د انګریزانو پیدا وار وو، ددې دپاره هغوی د صورت

(c) ketabton.com: The Digital Library

حال نه ناجایزه فایده اخیستل خوښ کړل او دامن اوسلامتی ۀ دخرابولو دپاره مسلم لیګ اوپیرنکیان په یوه سلا وو .

ددوی په دومره تباهی د مسلم لیګ زړه یخ شوی نه وهغوی په فرقه دارانه سازشونو کښی لګیاوو دهغو فسادزپلو مظلومانو نه یی سیاسی فایدی اوچتولی اوهغوی له یی داترغیب ودرکولوچه بنګال ته هجرت وکړي . زه ددی مظلومانو په فکرکښی ډوب وم چه دوی به بیا څنګه پخپلو کلواوکورونو کښی اباد کړم ، لیکن هغوی مسلم لیګ داسی تار باندې خبر ولی ووچه زماخبری په هغوی سبی نه لګیدې ، ددی دپاره زه د مسلم لیګ لیډرانو له ورغلم داخلک د محمد یونس بیرسټر په یوعالیشان مکان کښی لیډره وو چه کله زه هغوی له ورغلی یم نودوی په خوږلو اوخکلو کښی اخته وو اوماته به یی اوویل چه مونږ تاسره خبری نه کوو اوچه بیا ناظم الدین ودته وویل چه مونږ له په کار دی چه ورسره خبری وکړو نودوی زماخبرو اوریدو ته تیارشول ماهغوی ته وویل چه تاسوله داغلی یم اوتاسوته داعرض کوم چه ددی خلکو دپره تباهی شوی ده اواوس به سبنه داوي چه دوی معاف کړی نوریی منه تباه کوئ اوداخومره تباهی چه ددوی دشوه دالبته ده څه ؟ داتاسوچه دوی ته د بنګال د هجرت مشوره اوترغیب ودرکوئ نوکه په حقیقی معنو کښی دوی هلته اباد وی نوزما په دی هیڅ اعتراض نشته اوکه دوی دخپلو سیاسی غرضونو سبنګارکول غواړئ اوکه دوی نه سیاسی فایده اوچتول غواړئ نودا مناسب نه دی دوی دپره تباه اوبرباد شوی دی . لیکن ددی مسلم لیګو په زړه وکښی رحم نه ماخپل زور مهربان فیروزخان نون هم دلته شپارسن کاله پس ولیدو . ماتنری نه پوښتنه وکړه چه تاخوږی چه مونږ به مشوره وکړو ، نوتاله به خواب درکړو نوتنراوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوری خوږ ی مالـه هغه خواب نه دی راکړی ؟ دی حیاناک سړی و. ستر کی یی بنکته کړی
او څه خوږ اب یی راکړو، حال دادی چه د شملی په دعوت کښی ده زمانه شکایت کړی وچه تاسو
کانګرس سړه شوئ، ماورته ویلی وو. مونږ خو تاسوته درغلی وو، خو تاسو زمونږ امداد
اوکړو، اوس مونږ خو په یولوی مصیبت کښی وو. نو ځکه کانګرس ته لاړلو. که تاسو پنجاب اوس
هم مونږ سړه ملګری کیږئ نو زه اوس کانګرس نه استعفا ورکوم، ده ووی چه مونږ
مشوره ووکړو نو خواب به درکړم.

مسلم لیګیان دیونس بیرستر په بنګله کښی ناست وو، خوږل، ټخل یی کول اوډ پټی
دښار نه زمبروتی نه شول اود بهار مسلمانان چه کلونه راتلښتپدلی وو اوپه کیمپونو کښی وو
دالکشرونه رخیل مال پخپلو کورونو کښی بنخ پاتی شوی وو، هغوی غوښتل چه مونږ سړه څوک لاړ
شی اوددغه مال راوښکلو کښی مونږ سړه مدد وکړی. خو مسلم لیګ خو دویړی نه دښاره
وتی نه مشوه. دوی چه د مسلم لیګ نه مایوسه شو نو بیایی ماته ووی چه ته به مونږ سړه
لاړنه شی؟؟ مونږ پخپلو کورونو کښی مالونه بنخ کړی دی چه هغه راوباسو ماورته ووی چه
زه خو دلته رستاسو د خدمت د پاره راغلی یم څه وخت چه وایی د سړه څم نو هغوی به ما
روزانه څخه راکسان پخپل موټر کښی خپلو کلوته بوتلل اوهغه خپل مالونه به یی راوښکل، هغه نو
به ورته وبلل بلکتل خو زما په وجه به یی څه ویل نه. زه دوی پسی کیمپونو ته لاړم اوورته می
وویل چه د برسات شروع کیدونکی دی راځئ چه زه موباد کړم خو دوی زما دا خبره ونه
منله ځکه چه دوی خو مسلم لیګ بنکال ته روان کړی وو خو چه د بنکال د تللو په لاره کښی
ورته د پوږ تکلیفونه او مصیبتونه پیښ شو نو بیا مالـه راغلل، بیا زه د بهار حکومت ته ورغلم
او هغه تول، وتیران خو ماسړه د هزاری باغ په جیلخانه کښی پاتی شوی وو، هغوی د

(c) ketabton.com: The Digital Library

زر ددوی دابادولو انتظام وکړو او کاندهی جی چه په نواکلی کښی ؤ هلته چونکه دهنډوانو
برخلاف فساد ونه شوی وو نو کاندهی جی هلته په دوړه ؤ . ماچه ورته خبر وکړو نو هغه
دنواکلی دوړه پریښوده او دلته بهار ته دمسلمانانو د امداد پاره راغی . مهاتما جی زما
دخط په لیدو دلته راغی او هغه کار نورهم په تیزی روان شو ماته پیاری لال ویل چه
کاندهی جی څه وخت نواکلی ته راغی نو مونږ ته ډیر وویل چه تاسو دلته دغه شان ناست
یئ او چیله هغه کښی نه ناستو او چه په کومو ځایونو زور زیاتی او ظلم شوی ؤ دی به هلته
تللو او دهغه ځای خلکو ته به یی داډکیر نه ورکوله او خدمت به یی کولو دهغه په لیدو د
مونږ کښی هم جرئت او همت پیدا شو بیا مونږ هم دهغه په شان په هغو مظلومانو
کرځیدو او سړی څه کوی چه ښځی به هم کرځیدی او نه به وېریدی ، په دی بیا ندی
هغو خلکو کښی د ډیر ښه اثر وشو ولی دلته پټنه (بهار) کښی دا حال ؤ چه مسلم لیګیک
لیډران دویری نه د پټنی بنار کښی نه کرځیدی نه شو چه دکوم قوم لیډران زده وو دوی
هغه قوم کښی هم زړه ورتیا پیدا شی . او چه دکوم قوم لیډران بزدل وی هغه قوم کښی
بزدلی پیدا شی . ماته پیاری لال بله خبره داهم کړی وه چه پټیل په بهار کښی زما کی ډیر ځیدو
مخالف وو خو کاندهی جی ورته وویل چه دا مناسب نه دی .

مردولا بجن هم کاندهی جی سره ملګری وه او هغه دغه وخت دکاندهی جی سکرټری
وه دهغې هم مسلمانانو سره ډیره همدردی وه چه څومره مسلمانان به راغلل نو مردولا بجن به هغوی کاندهی جی ته بوتلل او هغه ته به یی خپل مصیبتونه او تکلیفونه بیان
کړل . داخبره دکانګرس دمشرانو خوښه نه وه هغوی کوشش وکړو چه دا (مردولا بجن)
کاندهی جی نه لیری کړي او لیری کوله یی . نو هغه ماله راغله او ماته یی دا قصه بیان کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوداته یې دوې چه اوس خو ماسته سونه جدا کوی . ماور ته دویل ته هیڅ پروا مه کوه، تا
هیڅوک دکاکاندهی جی نه لیری کولی نه شی . نوزه لاړم اوکاکاندهی جی ته می دویل اوهغه پاتی
شوه . زه به بهار کښی وم . ما غوښتل چه بهاریان سره دوباره اباد کړم اودی دپاره ملته
دیره وم .. خو چه څه وخت په پنجاب کښی فسادات شروع شو نو ماسره فکر شو . بیا
کاکاندهی جی ماته ووېل چه دا کار به زه کوم ، څه ته مرحله ته لاړشه ، نوزه مرحله ته راغلم . په
صوبه سرحد کښی دخدایی خدمتګارو تحریک په وجه دمسلمانانو ، هندوانو اوسیکهانو
تعلقات ، ډېر ښه وو ، ښه څه چه دوه ونو په شان وو . دا تحریک دخدای دمخلوق دخدمت
اوانسانانو نیت تحریک وُ . دې تحریک په مسلمانانو ، هندوانو ، سیکهانو کښی دمینې محبت
اوخدمت جذبه پیدا کړې وه چه بخوا یې مثال نه وُ . دا تحریک کلیوال تحریک وُ ، مرکزي
هم په کلاکی کښی وُ . ځکه چه اکثریت قوم په کلو کښی اوسی . ددی تحریک فرق دنورو تحریکونو
داوُ چه نورو تحریکونه دښارونو نه شروع کیږی اوبه کلو کښی خوریږی . مګر دا تحریک کلونه
شروع ششو اوبه ښارونو کښی خورشو .

تاتاریخ دا ښیی چه د ښارونو تحریکونه دحکومتونو دلاسه خراب شوی اوله منځه
تللی دی . مګر کلیوال تحریک څوک په آسانۍ ختمولی نه شی لکه زمونږ دخدایی خدمتګارۍ
تحریک ، چه څه د پرو ظلمونو ، کړاوونو ، مصیبتونو باوجود چا ختم نه کړی شو اوتر اوسه
پوری دجاړی دی ، په بهار کښی چه کوم فسادونه وشول نوزمونږ دصوبې نه دمسلم
لیګ رضاکاران بهار ته لاړل . دوی خدمت له تللی نه وو . دوی په هندوانو مسلمانانو
کښی نفرت زیاتولو له تللی وو اوچه دهغې څای نه واپس راتلل نو په هغه وخت کې یې له خانه
سره راوړل ، اوبه سرحد کښی کلی په کلی وګرځول اوزمونږ په خلاف یې لویه پراپیګنډا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړه او مطلب یې داؤ چې په صوبه سرحد کښې هم دهندو او مسلمان اوسکهان ښه منځ دنفاق اوفساد اوربل کړي . ولې فسادي ونه کړي شو او په خپل مطلب کښې کامیاب نه شول . ولې چې دلته دخدایي خدمتګارو دتحریک به برکت دفساد او دښمنۍ جوړې ایستلې شوې وې .

خو چې لارډ مونټ بیټن دهندوستان دتقسیم اعلان وکړ او دا ایې هم وویل چې په صوبه سرحد کښې به ریفرنډم کیږي ، ددې زمونږ په صوبه دپرخراب اثر وشو او دلته هم فسادونه شروع شول . نو بیا مسلم لیګیانو دپیښور په بازارونو اولارو ، کوڅو کښې بیګناه خلک قتلول شروع کړل . دپیښور نبا ر بازارونه بند شو ، هندوان ، سکهان په خپلو کورونو کښې قید وو ، بهرته راوتی نه شول . په کورونو کښې هم ددوی عزت ، دولت او سرونه محفوظ نه وو .

چې مونږ پوه شو چې سرکاري افسران زمونږ سره هیڅ قسم امداد نه تیاروي نه دی بلکه هرڅه زمونږ دوزارت دبدنامولو دپاره کوي ، حکومت زمونږ ډاځو افسرانو- زمونږ خبره نه منله نو مونږ فیصله وکړه او امین جان سالار اعظم ته موږ حکم وکړو چې لس زره باوردی خدایي خدمتګار پیښور ته راولیږي . دحکم درسیدو سره لس زره خدایي خدمتګار پیښور ته راغلل او دا تاسو سره یې هندوان اوسکهان ددې خپلو کورونو نه بهر راوښکل ، دکانونه یې پرانیستل او کار ونه یې شروع کړل . ددوی په دکانونو دخدایي خدمتګارو پیرې ولګیدې ، چې مسلم لیګیان ورته مزاحمت نه کړي او د هندوانو ، سکهانو مال ، ځان اوعزت محفوظ شو . دغه شان په ټوله صوبه کښې چې کوم کوم ځای خدایي خدمتګارو وهلته دهندوانو ، سکهانو مال ، ځان عزت په

(c) ketabton.com: The Digital Library

امن وُو، په دووی کښی بعضی انګریز پرست هندوان هم ووچه د پیرنګیانو اولیګیانو په اشاره وګډ، بدل او دامطالبه یی کوله چه د خدایی خدمتګار و حکومت دی لیږی شی او صوبه کښلښی دی ګورنر راج قایم شی، په دې نه پوهیدل چه دا ټوله قصه چاجوړه کړې وه داخو ګولوړنر جوړه کړې وه خوچه څه وخت دلا د ډلوی مونټ بیټن اوکانګرس د مشرانو په مینځ کښی زمونږ په سر سودا وشوه. سودا په دی وشوه چه لارډ مونټ بیټن ورته وویل چه پنجاب او بنګال به زه درته تقسیم کړم خوتا سو ددې په بدل کښی صوبه سرحد پریږده ددی اوریفرنډم ومنئ. بیایی په درېیم جون ۱۹۴۷ د هندوستان د تقسیم اعلان وکړو اودایی هم وویل چه په سرحد کښی به د خلکونه تپوس کیږی. نوتا سو خو دې پیرنګی د دې ظلم او بې انصافۍ ته وګورئ چه پنجاب تقسیمیږی، بنګال تقسیمیږی هلته د خلکونه تپوس نه کیږی بلکه د اسمبلی نه کیږی او دلته زمونږ په صوبه کښی د اسمبلۍ نه څوک تپوس نه کوی او د خلکونه تپوس کیږی. حال دا دی چه زمونږ الیکشن خو خو په هندوستان او پاکستان څو میاشتی مخکښی شوی وُ. خلکو خو ډاډه ورکړی وه دوباره دې څه ضرورت وُ؟ که د کانګرس مشرانو زمونږ سره بې وفایی کړې نه وی او د تقسیم هم مسئله یی منلی نه وی نو په صوبه سرحد کښی به د هندوانو، سیکهانو او مونږ ته دومره د دسړو مال زیان نه وی رسیدلی او نه به سیکهان او هندوان دومره تباه او برباد شوی وی.

د دغه وخت مسلم لیګیانو حکومت نیولی وو او جیلونو کښی یی اچولی وو د لنډی د څخونه نه دی» دوی خو د جیلخانو تیرولونه دی، د دوی هغه قید او جیلخانې خو نه قید وو نه جیلخانی، د دوی د پاره ریسټورانټ وو، څه عجیبه لوبه وه. د شپی

(c) ketabton.com: The Digital Library

به کورته تلل ، د ورځې به بازارونو کښې ګرځېدل ، خپلو خپلوانو او دوستانو سره به ډيلي مجلسونه کول ددې وجه داوه چه کورنۍ زمونږ د وزارت سره تعاون نه کولو او زمونږ مخالف وو .

دوی چه بيا د جبل نه راووتل او ډيلي ته راغلل زه هم په ډيلي کښې وم ، هلته مادوی ولیدل او ټمين جانخان ته مې وويل چه يه : هلکه دا پاکستان چه جوړوې ، نو لږ خو فکر وکړئ . دی کښې به د پښتون څه حال وی ، اکثريت خو د پنجاب دی نو اقتدار به هم د پنجاب وی ، نو ده راته وويل چه اوس يې جوړوو اوکه بيا پکښې زمونږ خفيه نه وو نو بيا به يې وران کړو . افسوس دی چه ټمين جانخان اوس نشته کنې ما به ترې تپوس کړی وی چه راشه وګوره چه اوس پاکستان کښې د پښتنو څه حال دی ..

د تقسيم اعلان :

خه وخت چه مونږ بيتن دی په ۳۰ ډيلي ته واپس راغی نو د جون په ۳ يې د هندوستان د تقسيم په باب د برتانوی حکومت له خوا د منظور شوی منصوبې اعلان وکړو ، د دې منصوبې په اعلان کيدو سره د هندوستان د متحد پاتی کيدو قوی اميدونه ختم شول ، برتانوی حکومت د تقسيم د مسئلې په دومره زړه منلو کښې د هندوستان نه ځانونه ډيلو مفاد خيال ساتلی وو ، ولی چه يو داسی رياست چه اقتداريې د مسلم ليګ په لاس کښې وی د برتانوی اثر په حلقه کښې زيات پاتی کيدی شی .

د ورکنګ کميټی اجلاس :

بيا په دغه تاريخ په دی نوی حال باندی د غور کولو د پاره د کانګرس د ورکنګ کميټی غونډه وشوه ، سردار پټيل او راج ګوپال اچاريه خوله پخوانه د تقسيم طرز فداد

(c) ketabton.com: The Digital Library

اودکیبینټ امشن مخالف وو ، مګر په غونډه کښې چې کاندهي جي هم د تقسیم طرفداري وکړه ، نو موږ نور ټول حیران پاتې شو . بله مسئله په سرحد کښې د ریفرنډم مسئله وه دا مسئله هم دلاره مونټ بیټن په منصوبه کښې راغلې وه په دغه خبره هم د پرېکټ مباحثه وشوه لکه اودلایل پیښ شول ، سردار پټیل اوراج ګوپال اچاریه دلته هم په ورکنګ کمیټي د پرزورد واچولو او اخر ورکنګ کمیټي دا خبره هم ومنله او د ملک د تقسیم او صوبه سرحد کښې د ریفرنډم خبره د واړه ومنلې شوې .

زه حیران شوم چې دوی دا ټولې فیصلې کړې وې نو دا ماسره یې بیا جرګې او مشورې ولې کولې .

په دې وخت کښې ما ورکنګ کمیټي ته یو اپیل ورپاندې کړو او دا می ورته اووېل چې مونږ هیڅکله دکانګرس ملګرتیا کړې ده اولاس موورکړې دی اوس که کانګرس مونږ یواځې پرېږدي اوله مونږ سره امداد ونه کړي نو په صوبه سرحد به ددې د پرخواب اثر پرېوځي که کانګرس خدایي خدمتګار د شرمخانو خولې ته هم داسې پرېږدي نو دا به د صوبه سرحد سره غفلت برابر وي ، دکاندهي جي په زړه باندې د دې اپیل زیات اثر وشو او وېل چې زه به د مونټ بیټن سره په دې مسئله خبرې وکړم .

په سبا له زه او کاندهي جي او یسرای لارډ مونټ بیټن ته ورغلو هغه سره مو خبرې وکړې هغه په دې کښې د جناح صاحب شرکت هم ضروري وګڼلو ، څه وخت چې جناح صاحب کاندهي جي او زه یوځای شو ، نو جناح صاحب وویل چې دې زما مسلمان درور دې زړه ده سره څان له خبرکوم ، نو ما کاندهي جي ته وویل چې ده دا سې خوښه ده ، نو که ستا اجازه ده وي ، نو زه به ورسره څان له خبرو کړم ، هغه ما ته وویل د پرښه . جناح صاحب ما ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل چه تاسوته د

شو. اصل کښی ما

لیک ترمنځ تولی فیه

ما ولوستو نوزه دده

چه داخبری خو فیصله

هغه څنګه ډکاندهی چ

چه که ددی فیصلی نه و

په دې باره کښ

"د پاره د کانګرس ورکړ

"سره حد د مستقبل په

"عجیبو مشکلاتو کښی غو

"کړی وه او دلیک یې مخ

"لیک د سخت مخالفت په موجودلی لښی هم په دې سوبه سښی دوی د کانګرس حکومت

"په جوړولو کښی کامیاب شوي وو او داحکومت یې اس هم برسر اقتدار او د تقسیم په

"وجه دوی او کانګرس دوارو ته یو تکلیف ورکوونکی حالت پیدا شوی او، په اصل کښی

"د تقسیم مطلب داوچه دوی او د دوی پارټی یعنی خدایی خدمتګار د مسلم لیګ رحم

"وکرم ته پریښودل شی."

"مونږ پوهیدو چه په عبدالغفارخان به ددې فیصلی څنګه اثر شوی وی، دا سی

"ښکاریده چه دغه وخت دوی خپل هوش او حواس بالکل بایللی وُ، خو د قیقی د ده د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خولې نه نه، یو لفظ هم راونه وتو، بیا دوي ورکنګ کمیټی ته اپیل وکړو او ورته یې وویاده کړه
چې دوه وی تل، د کانګرس ملګرتیا کړې ده او اوس که کانګرس دوی یوازې پریږدي نو په
صوبه سرحد، به ددی پرخراب اثر پریوځي، ددوی دښمنان به په دوی پورې خاندي
او ددوی دوستان به وایي چې ترڅو کانګرس ته د صوبه سرحد ضرورت و نو د خدایي
خدمتګارو حمایت یې کاوه خو کله چې دمسلم لیګ سره دمصالحت خواهش پیدا شو
نو بیا یې د صوبه سرحد اوددوی دلیډرانو سره مشوره قدري هم ونه کړه او د تقسیم
مخالفت یې پرلپنود. خان عبدالغفارخان خوځلی داخبره بیا بیا وکړه چې که چیرې
کانګرس خدایي خدمتګار دشرمسبنانو خولوته وغورځول نو دا به د صوبه سرحد سره
غداري وی...

موږ نیز د ورکنګ کمیټی د دغه غونډې نه پس واپس خپلې صوبې ته راغلو، حکومت ته
مو وئیل چې چونکه کانګرس تقسیم هند منلی دی نو په داسې حالا توکښې دلته د ریفرنډم ضرورت
نشته. د اولې چې ددی په ذریعه به دلته په خلکو کښې یوه د دښمنۍ او تریګنې فضا پیدا شي.
چونکه والیا ایسرای داخبره ونه منله، ددی وجې نه مونږ بیا د صوبې جرګې راوبللې او داحالات
موتول د دهغه جرګې په وړاندې کښې ودل، د صوبې جرګې فیصله وکړه چې که سرکار دلته خامخا
ریفرنډم کم کووی نو بیا په کاردی چې پښتنو له پوره حق خو د ارادیت ورکړی او د هندوستان
او د پاکستان نه علاوه د پښتنو په خپلې ازادې صوبې پښتونستان باندې هم ووټ واخلي.
خو خو چې کله پیرنګیا نو ددی مطالبې د منلو نه انکار وکړو او د ازاد پښتونستان مطالبه یې
د ریفرنډم کمیټی شاملې نه کړه، نو بیا جرګې دا فیصله وکړه چې چونکه کانګرس تقسیم هند منلی دی
ددی وجې نه دلته ریفرنډم ته هیڅ ضرورت پاتې نه شو. اوکه حکومت خامخا ریفرنډم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوی نومونږ به په هغی کښی حصه نه اخلو.

دکانګرس اومونټ بیټن سازش:

اصله خبره داوه چه دالویه واقعه چه څنګه وشوه هم دغسی کیدونکی وه،، ولی چه ددې دپاره دیخوانه تیاری روشوی وې. هغه وخت چه مونټ بیټن دتقسیم داعلان په منځ کښی دسرحد په دوره راغلی و په سرحد کښی دفعه (۱۴۴-۱۴۴) لګیدلی وه او په جلسو باندی وه. دصوبه سرحد ګورنر سراولف کیرو چه زمونږ سخت مخالف ؤ او دمسلم لیګ لولوی حامی ؤ هغه په لاردمونټ بیټن داثر اچولو دپاره دسرحدی قبایلو نه په دپرزیات شمیر کرکښی د دپولیټیکل ایجنټ ټولو خپلو ملکانو په ذریعه خلک راجمع کړل، لاردمونټ بیټن ته ډیډیو وه لویه تماشه جوړه کړه، اود تللو په وخت کښی یې لاردمونټ بیټن ته داوویل: چه دډې پیښنولو داسی سزا ورکول په کاردی چه ددوی بچی یې یادولری. ولی چه په هندوستان کښی لس کروړه مسلمانان وو هغوی زمونږ مخالفت ونه کړو اودوی زمونږ مخالفت کړکښی د دکانګرس سره ملګری شول. لاردمونټ بیټن داټولی خبری په زړه کښی واچولولی او دیلی ته روان شو. هلته خو پټیل دهندوستان تقسیم غوښتو. اوده داغوښتل چه پیښنوته سزاورکړی او دمسلم لیګ په حواله یې کړی، ددی دوارو اتفاق په دی وشو چه کانګرس غوښتل چه بنګال اوپنجاب دې تقسیم شی اولاردمونټ بیټن غوښتل چه سرحد کښی دې ریفرنډم وشی. نولاردمونټ بیټن دوی ته داوویل چه زه ستاسو داخبره منم، او پنجاب اوبنګال به درته تقسیم کړم خو دې په بدله کښی تاسی زما دا ومنئ چه په په صوبه سرحد کښی دې ریفرنډم وشی. نو کانګرس په صوبه سرحد کښی ریفرنډم وشلولو او مونټ بیټن ورته پنجاب او بنګال تقسیم کړل او دی دواړو سودا زمونږ په سر وشوه مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایی یی، خدمشکار و خومره خواری وکړه چه هند واو مسلمان سره نزدی شی اوزه که په
کور کښوښی وم، که په صوبه سرحد کښی وم، که په هندوستان کښی ما ددې دپاره د هرکوشش
کړې دی چه دهندو او مسلمان ترمنځه مینه محبت، اتحاد او اتفاق پیدا کړم او نفرت
او دښمنۍ تری لیری کړم. دا کار تر دې وخته پورې وشو مګر د تقسیم نه پس تاسی
وګورئ چه اوس څه حال دی؟ هغه مونږ چه څه کړې وو هغه په سینه لاهو کړې شو. په
پاکستتان کښی په هندوانو اوسکهانو څه تیر شول او په هندوستان کښی په مسلمانانو
څه تیرېږي؟ دا سی نفرت او دومره نفاق پیدا شوچه د اصلاح امید یی هم له منځه لاړ
او د پرېږي لا نجی تری راپیدا شوی.

د کانګرس بی وفایی:

کانګرس خو د پیرنګیانو سره د شپیتو کالو راسی دازادی اخیستلو دپاره په
جدوجهد لګیاؤ خو انګریزانو ورته پوره ازادی څه چه نیمګړی ازادی هم نه ورکوله، مګر کله
چه پرېښتانه ورسره په دغه جنګ کښی ملګری شول او پښتنو په قصه خوانی، تګر، اتمانزو
کوهاټ، هاتی خیلو او میروس کښی قربانی ورکړې او دغه شان زمونږ د قبایلی علاقی
غیر د ترلی پښتنو دې پښتنو سره د هندوستان دازادی په لاره کښی غږ اکانی وکړې. د
انګریزانو تو پونو او تانکونو نه یی خپلی سینی ډال کړې او د دوی مخی ته لکه غرو د ریدل
نو دا د انګریزانو هله د هندوستان ازادی ته غاړه کښېښوده. مونږ خو کانګرس سره
په دې وعده د ازادی په جنګ کښی ملګری شوی و چه وطن نه په ګډه ازاد وواو
او د دوی د غلامی نه به خانونه خلاصوو، مګر چه وخت راغی نو بیا مونږ سره دشوو وعدو
صیح څه خیال ونه ساتلی شو، زمونږ نه زمونږ د مستقبل په هکله هیڅ پوښتنه ونه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلکه د پاکستان او هندوستان دیوځای کیدو ریفرنډم را باندی په زور راوپتلی شوا او د زمونږ په سر دغه لویه سودا وشوه. قربانۍ مونږ وکړې، وینې زمونږ توې شوې. مالونه، جایداد او د زمونږ تباه شول او کلته یې نو روته ورسیده. د کانګرس مشران خو به په ټولو معاملو کښې زمونږ نه ناپوهه کولو، زما د سلا مشورې نه بغیر به یې هیڅ نه کول. مګر په دې لویه اهمه مسئله کښې زما سره مشوره خه چه خبر هم نه کړې شوم. زما خپګان په دې خبره دی چه د کانګرس ورکنګ کمیټی هم زمونږ سره امداد او همدردی بنکاره نه کړه. دوی مونږ له پښتو، لاسونو وتړلو او مسلم لیګ ته یې حواله کړو. مونږ خو د مسلم لیګ نه الیکشن ګټلی وُ نو بیا بل الیکشن ته خه ضرورت وُ. که چاز مونږ سره دښمنۍ د ریفرنډم کولی نو په کار وو چه زمونږ په مطالبه یې د پاکستان او پښتونستان په سوال یې کړی وی. دا ریفرنډم خو په پاکستان او هندوستان وُ او مونږ د کانګرس دبې وفایۍ په وجه د هندوستان سره نه تلو، نو ځکه مو په دې ریفرنډم کښې شریک دل نه غوښتل او بایکاټ مو وکړو. مونږ ته به پیرنګیا نو ویل چه د کانګرس ملګرتیا پریږده، نو مونږ به چه هندوستان له خه وکړو. دهغې نه زیات تاسوله د رکړو. لیکن مونږ کانګرس پرې نه ښود خو دوی مونږ پرې ښود و. د دې پرفیسوس خبره خو داده چه مونږ دوی سره خه وکړل او دوی را سره خه وکړل؟

د سردار پټیل او راجه ګوپال اچاریه نه خو زما کیله نشته. زما کیله د جواهر لال نهرو او د کانګرسي جی نه کیږی چه هغوی هم په دې معامله کښې د سره اتفاق وکړو. د کانګرس لیډر انو ویل چه اوس داسی حالات را پیدا شوی دی چه بله لار نشته. نو زه وایم چه دا حالات چا را پیدا کړل؟ دا حالات خو دوی را پیدا کړل. که دوی هندوستان تقسیم کړی نه وای نو هندوستان او هندو مسلمان دا دومره تباهی او بربادی به نه وی شوی.

خه چه د شول هغه د شول او د مولانا ازاد خبره خه چه می دلیدل دا یو خوب وُ. چه خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷۳۹

خوزه واوایم چه دایو سازش ؤ ، دایوه بی وفایی وه ، اودایوه غداری وه چه

سره وشیشووه .

ز زمونږ په ملک کښی خینی کسان شته چه زمونږ د بد خواهانو په لمسه زمونږ

خلاف ، داسی پراپیګنده کوی چه خدایی خدمتګار وخه وکړل ؟ اوداهم وایی چه

عدم تم تشد وخه وکړل ؟ اوزمونږ په برساده کان وروښه د خودغرضو کسانو ددې

خبرو ښه متاثره کیږی . نوزه دوی ته وایم چه د خدایی خدمتګار ی دوه مقصده

وو : یو بود ملک ازادی اوبل په پښتنو کښی د قامولی ، وروولی ، مینی محبت

اتفاق ا، اواجتماعی ژوند احساس پیدا کول .

تاتاسو خوږکوری . دا احساس خو پیدا شو ، اوملک هم ازاد شو اوبیا دمې څه

وکوری ، چه دا هر څه د عدم تشدد په ذریعه وشو ، تشدد خو نه دی شوی . تاسو

وکوری ، خدایی خدمتګار ی په خلکو کښی د مسلمان ، هندو اوسکه په زړونو

کښی دا داسی مینه محبت پیدا کړو اوداسی د وروری جذبه یی راوښه کړی وه

چه تر اوسه پوری هغه هندوان اوسکهان چه د صوبه سرحد نه په زوره ایشل

شوی دی ددی ، اوهند ته تللی دی خان ته اوس هم خدایی خدمتګار وایی . هرکله

چه زه د هند وستان ته تللی یم نو هغه مینه اومحبت د هغو هندوانو اوسکهانو

په زړونو کښی محسوسوم . تاسو کوری چه څه وخت په هندوستان کښی د تقسیم

په وخت کښی فسادات شروع شول . نو خدایی خدمتګارو دلته د خپلو هندوانو

اوسکهانو د حفاظت د پاره څومره تکلیفونه تیر کړی دی اوکوم ځای کښی چه

خدایی یی ، هلته مټکاسو وو نو هلته یی دوی بچ کړی اوددوی د مال اوځان حفاظت یی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا کتاب ہر خوردارم مشتاق الرحمن څراده
مطالعه ده پاره ده او ده یې هر چا
نه بغیر ده اجازت نه یوسئ - او یا ئے په اجازت
ور - او واپس ئے نکړه - نو خیانت په اوکړی
څاښ یچله دے - ده عائم دین یادگیرنه نه پتوس اوکړی
مورخه 28 جنوری 92ء عنایت الرحمٰن عفی عنه

ما نه غوښتل چه زه خپله بیوګرافی ولیکم، ځکه چه زه د ویلو او لیکلو نه زیات د کار او عمل ملګری یم. مګر اجمل ختک، فضل الرحیم ساقی، عبدالله خدمتګار، بختانی، صدیق الله ریښتین او فقیر محمد بایزی څو څو ځله راته وویل چه په دا یوه ضروری خبره ده او زه یې باید ولیکم. ځکه نو دهغو یادداشتونه له مخه رچه ما سره وو او د خپل یاد د ښت نه ما دا کتاب ولیکلو.

د دی کتاب د لیکلو په وخت، د هغه په تنظیمولو او چاپ نه د تیارولو په چارو کښې هم دې ذکر شوو کسانو ما سره زیات کومک وکړو. نو ځکه زه د دوی نه شکر ګزار یم او د قوم او وطن په خدمت کښې د هغه توفیق غواړم.

عبدالغفار

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوده خانانی تهانه سره محمد نازی یوه قصبه ده ده الا انزی ده
جلاله شیدلا ده شیخ نه نور خان چه حاجی خان مرحوم ښاړه داری یو
بنښنه وه - ده تر نګرو ده بابا جی صاحب مدیر یو ټو. ده ده یو نا
وه - ده شیخ خان یو ځوی وو جعفر خان ټ نوم وو. د جعف
دده ماشومتا سکه تره په نامه کښ مصروف وو. قتل کړو. حرف
چه خپلا پلار سره په جائیداد کښ شریک ده په یو نوخت
ریاست وو. جعفر خان پلته مفرور شو. مانه معلومه
چه جعفر خان پلته وفات شو. او کړه - او

محمد تاړه تهه راغل - دا عمله متعلقه ۲۹۲

خواجه الدین صاحب مرحوم مانه ده کا
او خلافت کمیټی ده اتحاد یو
کړه ده - چه به ویلو راصوبه مدرا
جلسه وه مولانا محمد علی صاحب او چک
خان او کماندهی یه یو شیخ ناست وو
والا صاحب به وئیل چه خه هم یه شیخ
گړمی وه اډه به مه او شونتلا یه خلاص
خو چوته ولاړ به پاتې شوې کماندهی او وئیل چ
پاتې شوې او به راکړه ده مولانا صاحب چوته

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

مولانا عبید اللہ سندھی حضرت شیخ الہند
متاثر کرد و خیر نگیان بر خلاف
دشمن بہ بیرحمت او تکلیف بردا
کہ یوہ افغانستان او ترک
او روسیہ تہ ئے تگ کی یوہ بیا
روس کښ مقیم وہ د آزادی
بیا ھندوستان تہ راغلے وہ
ھیلہ ئے چی بیرحنیف وہ
دلتہ وفات شو رحمہ اللہ

عبدالقیوم خان ۱۲ کلہ چراغ حسین شاہ پہ قول
پہ آخر کښ حرف ڈبلی بیرل خان پاتے شو
(د حقہ کتابہ سیاسی یادونہ)

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library